# د افغانستان پخوانی تاریخ

دوهم جلد



ACKU

مؤلف: احمد علی کهزاد

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032563 8
PROPERTY OF ACKU
00032563
ACKU

a02

دتاریخ دټولنی دخپرونو نمبر (٦٦)

# دافغانستان پخوانی تاریخ

دوهم ټوک

دیونانو باختری خپلواک سلطنت د شروع کېدو څخه

د اسلام تر ظهوره پوری

مؤلف

احمد علی کهزاد

مهتمم : محمد یونس مراد

د ۱۳۳۹ کال د میزان میاشت په دولتی مطبعه کښی چاپ شو

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

لکه چه په فارسي د افغانستان تاریخ د اومړي ټوک په مقدمه کښي او په پښتو د دغه اثر د دوهم ټوک* په مقدمه کښي مو ویلي د ۱۳۱۰ کال له انشاؤ څخه یعنی د (۲۷) کالو نه را ایسته مو د تاریخي مقالو لیکل شروع کړي او د موضوع په تعقیب او د تتبعاتو په تدریجي دوام سره د خدای تعالی په مرسته بریالی شوم چه د افغانستان د پخوانیو او د اسلام نه پخوا دورو تاریخ د څو میاشتو په فاصله په ۱۳۲۵ کال کي په بوزرمخونو او په دوو مسترو ټوکونو کښي خپور کړم.

په دی طریقه هغه آرزو چه له ډیری مودی را ایسته د افغانستان د تاریخ د تدوین په باب کښي د وطن د حساسو خلکو په زړونو کښي پیدا شوی وه تر زیاتی اندازی پوری عملي شوه. د مملکت په تاریخ کښي تیاره افق روښانه لو د افتخار سلسله پرانستل شوه.

هرکله چه زموږ مملکت افغانستان د منځنۍ اسیا په څلور لاریزه کښي پروت دی او د شرقي او اسیائي تاریخ او تهذیب په عالم کښي له ډېرو پخوانیو زمانو نه را ایسته مهم مقام، موقف او موقعیت لري هر څومره چه د دغه مملکت تاریخ روښانه او څرګندېږي د هغه د ګاونډو ملکونو په سوابقو باندی نوره رڼا او روښنائي هم لوېږي او د اسیا او شرق د دې څنډی عمومي تاریخ لا پسی روښانه کېږي او د تاریخ او ثقافت نړی سور څخی مستنیده ګرځي.

افغانستان د هند د نیمي قاری او ایران او د مرکزي اسیا د نیمي قاری په منځ کښي یو داسی کانون او مرکز دی چه یا پخپله د بیلو بیلو مدنیتو منبع ده او یا د نورو ملکونو نه ورته د ولي دول مدنیتونه راغلي دي. دغه ټول خپل او پردي مدنیتونه او تهذیبي مراتب په دغه کانون کښي سره ګډ او مخلوط شوي دي او له هغه څخه وخت په وخت او عصر

ACKU

په عصر نوي نوي افكار او مشخص ادبي ، فكري ، مذهبي او هنري مدرسې ميدان ته را وتلې دي چه زړلو محلي ، افغاني ، او افغانستاني رنګ او صبغه لرلې ده.

هغه كسان چه د تاريخ په بېلو بېلو دورو كښې او د پخوا نيو ، او منځنيو پېړ يو او دنوو دورو په متنو نو او مدار كو كښې د دې ځورو او پخوا ني مملكت او د دغه مملكت د ايالا تو او ښارونو پخواني نومونه ئې او ريدلي دي . او زمونږ د لرغونوا ثارو او د تېرو زمانو د شوا هدو او متروكا تو مجموعې ئې د مملكت په بېلو بېلو ځا يو كښې ليدلي دي . دې ته ښه ملتفت دي چه د افغانستان خاوره د تېرو د پخوا نيو دورو ځخه را ايسته تل آباده او استو ګنه ځكښې شوې ده او مېړنيو نكو ئې په غارونو كښې د استو ګنې له دورو ځخه نيولې د ( برنجو ، مفرغو ) تر دورو پورې او د هغو نه پر اوږسته دورو كښې د اجتماعي ژوند ونو مراتب په مرتب ډول تېر كړي دي او د قبيلو ، او د ( مند يګك ) د غو نډې شوا هد په دغه مملكت كښې د ژوندانه دوروستيو ښځو ز رو كلونو مراتب ښكاره كوي .

د افغانستان پخواني تاريخ پنځلس كاله پخوا په فارسي په دو و ټو كو كښې خپور شوا و په هغو پسې دريم ، ټو كئ ، او سلسله نور كتابو نه او رسالې چه شمېر ئې تر او سه پورې شپږ شپېتو ته رسېدلي دي د تاريخ د ټولنې د داخلي او افتخاري غړو او دنورو محترمو همكارانو له خوا يو په بل پسې نشر شوي دي . لو نن ورځ تقريباً د افغانستان د تاريخ د ټولو دورو په باب كښې تاريخي كتا بونه او آثار په لاس كښې لرو .

د دې د پاره چه د افادې او استفادې ساحه ډېره پراخه شي او د وطن ټول او سېدونكي د خپل مملكت له پخوانيو سوابقو نه خبر شي او په ښتا نه د ننه په مملكت كې او د باندې د دغه مملكت د تاريخي آثارو په باب كې معلومات و لري او په پښتو ژبه د تاريخي كتابونو په لر او سر ه ډېر د تقو يه شي ته په نظر كښې مو نيولي ده چه كرار كرار د تاريخ د ټولنې له خوا خپاره شوې آثار او كتابونه په پښتو ژبه هم ترجمه او نشر كړو .

په پښتو سره د افغانستان د پخواني تاريخ د اومړي ټوكئ د خپرو او افتخار څلور كاله پخوا د بنده په نصيب شو او د ۱۳۳٤ د دلو د مياشتې نه را ايسته د دې سلسلې د دوهم ټوكئ په ترجمه او چاپ مو پيل وكړ او د ښو ښمير محترمو ليكوالو

لکه ښاغلو: رښتین، خادم، جلالي، مرحوم زهير، ثابت، معروف، باغوانیوال په مرسته او ښه همکاري چه په جلالخانی کی به د هغوی نوم دو نه سره د ترجمه کړی مضمون د حدودو د ټاکلو ونښود ل شی په تیره بیا د تاریخ د ټولنی د غړی ښاغلی محمد یونس (مراد) د زیار او زحمت په نتیجه کی چه د پښتو آثارو او دد غو دوو جلدونو د ترجمو په مراقبت او تصحیح کښی ئی پر له پسی کوښښ کړی او کوی ئی د نیکمرغه دغه ستر کار سر ته ورسید.

خوشاله او خوښ یم چه د هغی وعدی له مخی چه شوی وه د افغانستان د پخوانی تاریخ دویم ټوک په پښتو ژبه خپریږی هیله لرم چه دغه تاریخی اثر چه په افغانستان کی د پېر ناتو یا ختری مستقل او خپلواک سلطنت د شروع کیدو څخه د اسلام د مقدس او بختور دین د خپریدلو تر زمانی پوری زموږ د مملکت په زرکلن تاریخ شامل دی، د گرانو لوستونکو د توجه وړ وګرځی او د تاریخ ټولنه په راتلونکی وخت کښی په تدریج سره بریالی شی چه په پښتو ژبه د خپلو آثارو په ترجمه او خپرولو سره ملی ژبی په غنی کولو کی خپله برخه سرته ورسوی

د ۱۳۳۹ کال د میزان شلم

ومن الله التوفیق

احمد علی کهزاد

## دافغانستان دپخوانی تاریخ ددوهم ټوک دمضامینو لنډ فهرست

### شپږم فصل


| مضمون | مخ |
|---|---|
| ددیو دوت کورنۍ | ۱ |
| دایو تیډیم کورنۍ | ۵ |
| دایوکراتیډکو رنۍ | ۵۵ |
| اجتماعی او تهذیبی ژوندون | ۸۸ |


### اووم فصل


| | |
|---|---|
| پارتیان | ۱۲۰ |
| اسکائیان | ۱۳۲ |
| دسیتیا نو ځینی مشهور قومونه | ۱۳۸ |
| پهلوایان | ۱۶۵ |


### اتم فصل


| | |
|---|---|
| لوی کوشانیان | ۱۸۵ |
| دکدفیزس کورنۍ | ۲۰۰ |
| د کنیشکا کورنی | ۲۳۰ |
| جامعه او تهذیب | ۲۸۶ |


### نهم فصل


| | |
|---|---|
| دګریکو بودیک صنعت | ۳۲۳ |
| دافغانستان په جلا جلا ځایوکښې دګریکو بودیک دمدرسی تطبیق | ۳۷۵ |


### لسم فصل


| | |
|---|---|
| کیداریان یا کوچنی کوشانیان | ۴۱۹ |


ACKU

## یوولسم فصل


یفتلیا ن ۴۵۲

د اریانا یفتلی دولت او هندی گوپتا ۴۸۱


## دولسم فصل


توکیو یان یالو یا یزترکان او په تخارستان باندی دهغوی تسلط ۴۹۴


## دیارلسم فصل


دکو ښانو یفتلی یادرتبیل شاهانو کورنی ۵۱۳


## څوارلسم فصل


کابلی را یان یادکابل برهمن شاهان ۵۴۸


ACKU

۹۵۶

# شپږم فصل

## دیونان او باختری سلطنت

### د دیودوت کورنۍ

<u>لومړی دیودوت</u>: د ۲۵۰ ق، م په شاوخوا کښې وروسته تر دې چه د اسکندر د امپراطورۍ ارکان سره تیت و پرک شول او هغه ځمکې چه ده نیولې او فتح کړې وې تجزیه شوې نو (سلوکوس) دیونان دبېلو بېلو جنرالانو سره دیوې سلسلې جنګونو وروسته په شام کښې د پاچائۍ او سلطنت په جوړولو بریالی شو او ددې نقشې دعملي کولو په فکر کښې شو چه هغه ټولې آسیائي ځمکې په خپل سلطنت پورې وتړي او دهغه جزئي وګرځوي چه د اسکندر په لاس فتحه شوې وې؛ د ده د زمامدارۍ دوره په دغو اوږدو اوږدو آرزوګانو تیره شوه خو هغه خیالات چه په سر کښې ئې لرل هغه ټول عملي نه شول. باختر او د آریانا نور ځایونه او د هند له خاورې څخه یوه برخه سره د هغه لیرې موقعیت چه درلود، ئې تقریباً په خپل حال او د هغو ملي او یوناني رئیسانو په لاس کښې پاتې شوه چه په دغه ځای کښې پاتې شوي وو. لومړی (انتیوکوس) دیونانی شامي سلوکوس زوی هم په دغه باب کښې تغیر ونه ... را نه وستلی شو او هغه وروستی کار چه ده وکړ داؤ چه باختر باختري نورو یونانیانو ته پرېږدي او یوازې په ظاهري سلطه اکتفا وکړي چه په حقیقت کښې بیله نوم نه بل شی نه ؤ په دغه اساس ئې (دیودوت) چه یو نفوذ لرونکی او مقتدر سړی ؤ او د باختر په فضا کښې روزل شوی ؤ د باختر او سغدیانو حکمران مقرر کړ، لومړی (انتیوکوس) غوښتل چه په دغې مقررۍ سره خپله او د خپل پلار نقشه عملي کړي. او د (دیودوت) له وجود څخه استفاده وکړي. خو (دیودوت) له هغه څخه د ځان او د باختری یونانیانو او دوطن غوښتونکو باختریانو دپاره استفاده وکړه او د شامي سلوسي دولت له تمائل نه ئې د خپل اساسي مقصد دپاره کار واخیست چه دیونان او باختري خپلواک او مستقل سلطنت جوړول وو او زمینه ئې ورته برابره کړه. په دغه ترتیب هم د شام سلوسیان سمدستي او ظاهراً په دې خبره باندې خوشاله

ACKU

شول چه په باختر او سغدیانا کښې ئې حکمران مقرر کړی ؛ دی او دهم باختری یونانیانو آرامی او مساعده موقع ومونده چه خپلې نظریې عملی کړی همدغه وو چه د (۲۵۰ ق، م) په شاوخوا کښې ناڅاپه (دیودوت) دخپلواکۍ او استقلال اعلان وکړ او د یونان او باختری خپلواك سلطنت ئې جوړ کړ .

(جوستن) وائی چه (دیودوت) دشاهی عنوان په ځان باندی کیښود دهسر بیره په دی ځان ئې (منجی) هم وباله، لهدغه معقول او مناسب لقب څخه واضحه معلومیږی چه (دیودوت) د یونان او باختری خپلواك او مستقل سلطنت موسس له نورو یونانیانو په تیره بیا دشامی (سلوسی) دولت له سلطې څخه دباختر په نجات او آزادی کښې ډیرې کوششونه وکړل، او دهمدغه کت دنجات او موفقیت موندلو نه وروسته ئې دغه لقب دځان دپاره خوښ او ټاکلی دی؛ او دوفاتیدونه وروسته په باختری جامعه کښې له پخوا نه زیات د(منجی) په عنوان مشهور شوی او دخارجیانو په خاطرو کښې ئې هم په همدغه لقب شهرت موندلی دی. (رونه گروسه) لیکی چه: (داسکندر دامپراطوری د تقسیم په وخت کښې ځینی ولایتونه دسلوسیانو له سلطې څخه وتل د ۵۰؛ ق: م په شاوخوا کښې دباختر حکمران (دیودوت) یالوهری (تهاودوت) دسلوسیانو له گرفتاریو څخه استفاده وکړه او ځان ئې مستقل کړ؛ په عین زمان کښې دپارتی ارساس رئیس دخپلواکۍ او استقلال اعلان وکړ.) (۱)

د (دیودوت) دپاچاهۍ سیمه او حوزه همدغه دباختر او سغدیان ولایتونه دیونان او باختری مستقل سلطنت موسس غوښتل چه دباختر ددولت د نفوذ لمن دآریانا نورو ولایاتو ته خپره کړی خو دوره فرصت ئې ونه موند چه د هندوکش جنوب ته را ښکته شی؛ او دغه مفکوره وروسته بیا عملی شوه .

دمسکوکاتو له مخې معلومیږی چه (دیودوت) هغه وخت چه دده و هم شامی (انتیوکوس) لهخوا دباختر او سغدیان حکمران و ددغه وخت دعمومی قانون په

---

(۱) دشرق اقصی دتاریخ داومړی جلد ۵۳ مخ .

موجب ئې داسې سکې ضرب کړې دي چه په يو طرف باندې ئې ددوهم (انتيوکوش) تصوير ايدل کيږي او په بل مخ باندې ئې د (ديو دوت) د کورنۍ مشا تونکي رب النوع Zeuspromare os نقش شوی ده، او له دې نه هم معلوميږي چه (ديودوت) د خپلې حکمرانۍ په زمانه کښې په هره وسيله چه وو د خپلې آزادۍ او دباختر د سلطنت دخپلواکۍ دپاره ئې مقدمه برابره وله، په خپله د (ديودوت) په نامه سکې هم په لاس راغلې دي خو سکه پيژندونکي ئې زيا تره د هغه زوی ته منسوبوي.

دوهم ديودوت (د ۲۴۵-۲۳۰ ق.م په شاوخوا کښې): د ديودوت له کورنۍ څخه دوهم

تنه پاچاهي ته رسيدلې دی چه يو پلار او ئې زوی دي چه داول اود وهم ديودوت په نامه مشهور شوی دی. ددوهم ديودوت دسلطنت دګذارشاتو په باب کښې ډير معلومات په لاس کښې نشته. دده د زمانې له مهمو پيښو څخه دادي چه دباختر ددولت په سياسي خط مشي کښې ئې داستقلال غوښتنې روح ډير تقويه کړ او دپارتي دولت سره ئې چه مؤسس ئې هم دباختري (يکتي) رئيسانو څخه يو تن ؤ دوستي بنا کړه او ډير مخالفت ئې دشامي سلوسيا نو يوناني دولت سره ښکاره کړ. دوهم ديودوت دباختر پاچاد (سلوکوس) داولادې دحرصنا کو نظريا تو نه ښه خبرو او په دې پوهيده چه دوی هيڅکله دشرقي ممالکو آزادی نه غواړي نو له دې کبله ئې و غوښتل چه دشامي سلوسيانو په ضد دپارت او باختر دخپلواک سلطنت ترمنځ يو والي او ملګرتيا ټينګه کړي. ښه پوهيده چه دده پلار او (ارساس) دبلخ د يکت دقبائلو رئيس په يو فکر او په يو وخت کښې د يوې ګډې او شريکې ساطې په مقابل کښې دخپلواکۍ اعلان وکړ. ځکه چه په دغه کار کښې يو والي او هم آهنګي موجود ده وه. نو کيدی شو چه دخپلو او د (تري داتس) (تيرداد) دباختي ارساس دپارت د پاچا دورو ر داتدامانو په منځ کښې هم يو والي پيدا کړي، او دغه کار يو اسان کار ؤ ځکه چه تري داتس په دغه وخت کښې ددوهم شامي (سلوکوس) سره په جګړه بوخت ؤ او بيله دې نه ئې بل انتظار نه درلود چه د باختر دولت د ده ملاتړ او طرفداري وکړي.

د دوهم دیودوت د سلطنت په زمانه کښې که څه هم د هندوکش په شمال کښې
د باختر د دولت نفوذ زیات او محدود و، خو بیا هم د غرب خوا ته د هغه په خپرولو کښې ئې زیاتوالی
وکړ او د هریرود (هری رود) حوزه او د (هری) هرات ولایت د هغه جزء وګرځید
یعنې نږدې د هندوکش د شمال ټول ځایونه د باختري دولت د قلمرو جزو ګرځیدل:
د هندوکش جنوب، کاپیسا، ګندهارا، اراکوزي لا تر دغه وخته پورې د (موریا)
د کورنۍ د امر او تر نفوذ لاندې وو؛ د (جوستن) د لیکنو څخه هم معلومیږي چه
د (دیودوت) له کورنۍ څخه دوه تنه (پلار او زوی) پاچاهۍ
ته رسیدلي دي.

دغه مورخ لیکي چه: (د پارت درات په اول وخت کښې د (سلوسي) دولت
او د باختر د خپلواک سلطنت ترمنځ ځان په خطر او تهلکه کښې حس کاوه خو،
د (اول دیودوت) د وفات نه وروسته (ارساس) او د باختر د پاچا د زوی ترمنځ
د دوستۍ تړون وشو، او له دغې خوا نه د پارت د دولت زړه بیغمه او جمعه شو)
دغه بیانات د باختر او پارت د دولتو ترمنځ د دوستۍ تړون څرګند او ثابتوي او دا هم
معلومیږي چه دوهم دیودوت د پارتي دولت د موسس سره د دوستۍ د تړون په نسبت
کینه ود او د هغه د زړور (ترنی داتس) سره ئې دوام ورته ورکړی دی؛ د باختر په مسکوکاتو
کښې د دیودوت په نامه سکې موجودې دي چه د ده او د ده د پلار ترمنځ واضح فرق او تمیز
نه کیږي خو معمولا د هغو نسبت دوهم دیودوت ته کیږي. د دیودوت د کورنۍ د سلطنت
په زمانه کښې د سغدیان د ولایت کارونه د داسې حاکمانو له خوا اداره کیدل چه د باختر
د دولت له خوا به ټاکل کیدل او مقرریدل به.

ACKU

## دایوتیدم کورنۍ

### د ۲۲۷ ق م په شاوخوا کښې

دیونان او باختري او مرتۍ خپلواکه شاهي کورنۍ ددوهم دیودوت د سلطنت
نه ورو وسته پای ته ورسیده او هغه دوهمه کورنۍ چه دهغې دمؤسس (ایوتیدم) په نامه یادیږي
میدان ته راووته لکه چه په دغه بحث کښې به په مفصل ډول ولیدل شي. دیونان او باختري
خپلواکه سلطنت بنسبت په دغې کورنۍ سره ټینګ او قائم شوی دی. نه یوازې ټولي آریانا ته یو
خاپو اکه او مقتدره مملکت حیثیت پیدا کړ او دشام دسلوسي دولت له خوا دهغه پوره
خپلواکي و پیژندله شوه بلکه له پخوانه زیات دباختر دولت دباختر دامپراطورۍ شکل
پیدا کړ او په هند او چیني ترکستان کښې دمتصرفاتو خاوند شو او د مملکت په پخوا نیو کښې
داسي امیران او والیان مقرر شول چه پوره اختیارات او دمسکوکاتو دضرب پوره حق
ئې درلود، او ددې دپاره چه دغه مطلب نښه واضح او څرګندشي ددغې کورنۍ
دپادشاهانو دسلطنت دجریاناتو په آخر کښې به بیا په دغه باب کښې بحث وکړو.

ایوتیدم : «ایوتیدم» ددوهم دیودوت دسلطنت په زمانه کښې دسغد یان حکمران ؤ

---

او دیونان او باختري مستقل سلطنت موئسس دغه عهده هغه ته سپارلې وه. مخصوصو
وليدل چه شامي سلوسیانو دخپل مقصد دپاره لومړی دیودوت د باختر او سغدیان حکمران
مقرر کړ او ده دخپلې نقشې داجرا دپاره له دغه کار نه څه استفاده و کړه او ز وی ئې
دشامي ساوسیانو سره خپل او دباختر ددولت مخالفت کوم حدته ورساوه او څرنګه ئې
دهغوی دنظریاتو دشنډولو او ناکامولو دپاره باختر او پار تیا پوره تنه کړل
سلوسیانو چه دسیاست په جبهه کښې ماتې وخوړله، له دسیسې او توطیې نه ئې کار واخیست
او ایوتیدم ئې ولمساوه چه دیونان او باختري دولت په مخالفت پورته شي چه ددوه په
واسطه خپلې پخوانۍ نقشې ته سرو صورت ورکړي که څه هم ایوتیدم په مخالفت
لاس پورې کړ او دوهم (دیودوت) دباختر پاچائي وواژه خو بیا هم دشامي ساوسیانو
اصلي او اساسي مقصد په لاس ورنه رغی او (ایوتیدم) دیونان او باختري دولت مستقل
پاچا شو. شامي یونانیانو ګمان کاوه چه بنائي دیوناني وینې په ګډون سره به دباختر

ACKU

دولت خپل محکوم وګرځوي خو په دغه لار کښې ئې اشتباه کړې وه ، ځکه چه د باختر یونانیانو د اسکندر د زمانې نه وروسته د خپلو وینو روابطو هم کرار کرار د لاسه ورکړي او تر ډېر اندازې پورې باختري شوي وو چه د یونانیت له نامه نه پکښې لږ څه نه وو پاتې شوی . باختري یونانیان د باختر په آزاده فضا کښې پوالئې ددې د پاره روزل شوي وو چه آزاد او خپلواك حکومت وکړي ؛ او دغه هغه پوا ئېنې لاره وه چه د هندوکش آزاده اولاده هم د هغوی سره پوه والی ښکاره کړی لکه چه ښکاره ئې کړه .

ایوتیدم هغه وخت چه په باختر کښې پاچاشو ځان ئې خپلواك پاچا اعلان کړ د باختر په تخت باندې دده کیناستل او جلوس د دریم شامي (انتیوکوش) د لښکر ایستلو د زمانې سره یو ځای د (۲۱۲ - ۲۰٤ ق م) کلونو او د (تیری داتس) او (ارتبان) د پارتیا د پادشاهانو سره دده د جنګونو د زمانې سره برابر دي . د دغه فصل په اول کښې موو ویل چه د اسکندر د امپراطورۍ د تجزیه کیدو نه وروسته شامي سلوسیانو تر آسیائي خاوره خپل میراث باله ، او ددې غلطې مفکورې پر اساس ئې چه دنو رو په ځایو قوباندې د تیری او تجاوز او له حرصونه پیداشوی ده ، غوښتل چه مدام د اسیا په شرقي برخو باندې سلطه او نظارت ټینګ لري ؛ خو نه باختر او نه پارتیا هیڅ یو تر دغه بار لاندې ورانه غاړه ایښوده او نه د هغوی نقشې سرته ورسیدلې . نو د رکله چه ئې ولیدل چه په سیاسي او اداري اقداماتو د هغوی نقشې سرته نه رسیږي او په تحریکاتو او توطئو او په امید او ویرې سره د دوی مقصد سرته نه رسیږي او هر هغه پلانونه او نقشه چه جوړوی ئې باختر او پارتیا د خپلې خپلواکۍ د بنسټ د ټینګولو د پاره ورځنی استفاده کوي نو په جنګي اقداماتو ئې لاس پورې کړ او دریم شامي انتیوکوش غوښتل چه په خپله د یو ځل عسکرو سره د شرق خواته ورشي او پارتیا او باختر عملاً محکوم کړي . د رکله چه پارتیا د شرق خواته دده د خطر په مخکښې پرته وه نو طبعاً لومړی تر حملې لاندې راغله . باختر او پارتیا په کمال خون سره د اوسر ه سینه پیښو ته منتظر وو . دریم انتیوکوش د هغوی د اتحاد د خرابو لو او د ځان د ننوتلو د پاره د باختر نه پاچا (ایوتیدم) څخه وغوښتل چه د (پارتیا) پر ضد ورسره

ACKU

مرسته وکړه ، خو (ایوتیدم) دغربي ګاونډي سره د روابطو شلولو ته حاضر نه شو او پخپل ځای باندې شو تر دې چه دغه انتیوکوش په پارتي (تري داتس) باندې غالب شو او وروسته بیا شامي یوناني عسکر دخپل پاچا تر اداري لاندې په (۲۰۸ ق م) کښې په باختر باندې دحملې په نیت لمر خاته خوا ته روان شول .

هر کله چه دباختر پاچا او ریدل چه د ریم انتیوکوش دده دمملکت خوا ته راروان دی نو تیاری ئې وکړ او دلسو زرو تنو بلخي سپرو سره دغربي سرحد و خوا ته روان شو . یو خه موده ئې د (اریوس) هري رود دسیند په غاره ددښمن سره مقابله وکړه ، خو هر کله چه دسیند په غاره له دې نه زیات نور مقاومت محال و ، نو تصمیم ئې ونیو چه بلخ ته بیرته راشي او په دغه ځای کښې مقاومت ته پسې دوام ورکړي (۱) د بلخ د زوړ ښار استحکام له قدیمو زمانو څخه زیات شهرت درلود ، او (ایوتیدم) هم پخپل وار هغه نور پسې مستحکم او ټینګ کړی ؤ (۲) سیرنکس ynx i دپارتیا دشرقي ښار و نو داستحکاماتو په باب کښې دیرشیان لیکلي دي او دکوزني (اریوس) نه وروسته ډیر و کلکو او مستحکمو ښارو نو څخه بحث کړي هر کله چه دغه شیان ترنظر لاندې ونیول شي نو معلومیږي چه ولې دباختر پاچا (ایوتیدم) بلخ ته بیرته راغی او په دغه ځای کښې ئې مقاومت ورته مناسب وباله . دریم شامي (انتیوکوش) دوه کاله کامله دبلخ په ښار خوا کښې وځنډید خو ښار ئې فتح نه کړی شو . دوبري زماني له حیثه دبلخ مقاومت په دریمه مسیحي پیړۍ کښې درومنیانو په ضد د(سیراکوس)Syracuse دښار مقاومت ته ورته دی . (۳)

وائي چه په آخر کښې دریم شامي انتیوکوش او دباختر پاچا (ایوتیدم) دواړه متړي

---

(۱) دمقدوني امپریالیزم او د شرق دیونانی کولو د کتاب د (ژوګه) د تالیف ۱۳۴ مخ

(۲) وائي چه دنینوس او سمیرامیس د نینوا او بابل پاچا او ملکې بوره په دیرو کلو نو کښې هغه فتحه نه کړی شو .

(۳) په باختر او هند کښې یونانیان ، د (تارن) د تالیف ۸۲ مخ

ACKU

زوی او دواړه خواوې حاضرې شوې وې چه په خپل منځ کښې سره صلح وکړي . د ډېر بونه د لسي معلومېږي چه د دواړو خواو د صلحې موضوع په مفاهمې او منځګړتوب سره تیاره کړې وه . سره د دې چه ایوتیدم په محاصره کښې و خو د شامي انتیوکوش د پاره کار ورته ښکاره شو څکه چه له خپل مملکت نه دومره کاله غیب او لیرې و او خامخا باید هر څنګه چه وای بیرته تللی وای څکه چه دغه ویره ئې درلوده چه په شام کښې د ده د حکومت بنسټ خراب نه شي ؛ د باختر پاچا هم نه په دې پوه کړی و چه که چیرې دده او د یونانو باختري دولت خپلواکي په رسمیت و نه پېژني او خپل عسکر بیرته ونه کاږي نو محاصره به قبوله کړي او د باندې به راونه وځي . په دغه ترتیب مرکله چه د دواړو خواو تر منځ د مفاهمې زمینه تیاره او برابره شوه ایوتیدم خپل زوی دمتریوس چه یو زړور ځوان و د خپل نماینده په حیث دریم شامي انتیوکوش ته واستاوه ؛ انتیوکوش د پخوانیو مذاکرو له کبله په ډېره خوشالۍ او احترام د باختر د پاچا د زوی او نماینده هرکلی وکړ ؛ او د مفاهمې او صلحې په باره کښې ئې د دغه پیشنهاد و نه د خپل ضعف او کمزورتیا د څرګولو د پاره یو ښه تربېرې او ښه وسیله وګڼله ، د محاصرې ته ئې لاس واخست او ځان او خپل عسکر ئې له مشقت نه خلاص کړل . د ایوتیدم پادشاهي او د باختر د دولت خپلواکي ئې په رسمیت و پېژندله او خپله لور ئې ځوان قاصد یعنې دمتریوس د باختر د پاچا زوی ته ورکړه او لکه چه عهد شوی و د کابل او اراکوزی د لارې بیرته لاړ .

**د هندوکش د جنوب وضعیت**

د کابل دره او د موریاو روستني عناصر :

---

اسکندر که څه هم په هند کښې فتوحات وکړل او پنجاب ئې و نیو خو یونانی سلطې هند ته ډېره ګټه ونه رسوله چه هغه د دغه ځای د راجاګانو په منځ کښې د نظریاتو اتفاق او د آرزوګانو یووالی او اتحاد دی . پخوا له دې چه د هند په خاوره باندې یونانی حمله وشي په دغو ځایو کښې بې اتفاقي انتهائې درجې ته رسیدلې وه ؛ لکه چه په هند کښې د اسکندر د کامیابۍ مهم عامل د پنجاب او تاکزیلا د راجاګانو مخالفت و . او پخوا له دې چه اسکندر وروستی یو د بل د مضمحل او خرابولو د پاره د تحفو او سوغاتو او تعارف سره د آریانا شرقي ښارونو ته د هغه

ACKU

د هرکلي او استقبال دپاره را تلل . په هر حال د یونانیانو فتوحاتو په هندوی کښی دیو والی او وحدت روح پوکړ ؛ او هغه وخت چه اسکندر په بابل کښی وفات شو ، او دده جنرالان دده دمملکتو حصی او نیولو ځمکو د ویشلو په فکر کښی شول هندیانو له دی موقع نه استفاده وکړه او (موریا) نومی کورنیی دهند د لومړی لویی تاریخی پاچاهۍ او سلطنت دتشکیلو اراده وکړه ، ددی کورنیی مؤسس (چندرا گوپتا) او دهغی له مشهورو پاچاهانو څخه چه په آریانا کښی دبودیزم دخپرولو او دود انیوپه لحاظ ئی مهم رول لوبولی دی ( اشوکا ) ددغی کورنیی د مؤسس نمسی دی لکه چه مربوط تفصیلات دپنځم فصل په دوهمه برخه کښی ورکړی شوی دی . موریا یانو هغه وخت چه سلطنت ته ورسیدل هرکله چه یونانیانو ته ئی زړه د لته دهند په خاوره کښی د هندوی له فتوحاتو څخه دانتقام اخستلو په نیت ئی د آریانا په هغو شرقی برخو تیری وکړ چه دیونانی حکمرانانو په لاس کښی وی او تر دغه برخه پوری لا د یونان او باختری مستقل دولت میدان ته راوتلی نه ؤ ، او هرکله چه محلی او یونانی جنرالان او حکمرانان ئی پخپل منځ کښی سره په جنګ و جګړه کښی و وخوځ د آریانا شرقی برخو او ځمکوته ملتفت نه شول او موریایان چه اصلا ئی مرکز په « پتالی پوترا » (نننی پټنه) کښی ؤ دغرب خواته مخ په وړاندی راغلل او له اند وس یعنی دهند او آریانا له طبیعی او تاریخی سرحد نه هم تیر شول او « پوشکالاواتی » (چارسده) « ... شاورا » ( پیښور ) « گنده هارا » (اوسنی سمت مشرقی ) ، « نگارا هارا » ( ننګرهار ) لمپاکا (لغمان) تګاو ، نجراو ، کابل حتی د اراکوزی او دهند وکش دجنوب ځینی نوری برخی ئی هم ونیولی او دحکمرانانو په ذریعه ئی هغه اداره کړای . او هغه وخت چه دباختر دپاچا ( ایوتیدم ) او دشامی سلوسی پاچا ( دریم انتیوکوش ) تر منځ دصلحی او دوستیی تړونا ومعاهده په بلخ کښی وشوه ( سوفاگازنوس . s sopagasc نومی حاکم د کابل په دره کښی دموریایانو په نامه حکمرانی کوله ؛

په هغه ترتیب چه بیان شو د بحر ... چه یوتیدم د یونان او باختری سلطنت

ACKU

دلو مړ یه ګورنیږ دپاد شا هانو په شان د ومره فرصت ا وقدرت ونه موند چه سمدستي د هندوکش جنوب ته متوجه شي ، ددریم انتیوکوش په ظهور سره دغه نظریه وځنډ ېدله، وروسته تر دې چه دشا هی سلوسیا نو له خوا د (ا یو تیدم ) زره جمع شو او پخپله انتیوکوش هم اراده وکړه چه دا را کوزی او د هند وکشن دجنوب دلاري شام ته بیرته لاړشي ، دباختر دپاچا دپاره له دې نه ښه موقع بله نهٔ وه چه دموریا وروستي حکمران دکابل له درې څخه لیرې کړی ، نو له دې کبله ئي یو ئ لګی عسکرد ( آنتیوکوش ) سره ملګری کړل چه په عین زمان کښي د هندوکش په دروا وجنوبي منطقو کښي له هغهٔ سرهٔ مشایعت وکړی او دموریا وروستي نفوذ او سلطه هم له منځه لیرې کړی . (سوفا ګازنوس ) چه ځینې خلګ دی پخپله دکابل ددرې له اوسید ونکو نه بولي جنګ او مقابله ونه کړهٔ او دبا ختر دپاچا په فرمان ا و دهغه په ا راده تسلیم شو (۱) او په دغه ترتیب بیله کوم غیر مترقبې پېښي دهند وکش له جنوب او د آریا نا له شرقي غاړی نه یعنی دکا پیسا ، دکابل له پاسنې درې او ګند ها را او غربي پنجاب څخه د موریا یانو موقتي نفوذ لیرې شو . انتیوکوش دکاپیسا او کابل څخه دمتر او غزنی له اوسنۍ لارې نه یاغالباً د هغې جنو بي لارې نه د تیر ېدلو نه وروسته چه دسپین غر په بیخ کښي تیر ېدله په (۲۰۵ ق م ) کال کښي ئي ځان ا را کوزی (دار غندا و حوزې )ته ورساوه او له دغه ځای نه دکرمانیان ( کرمان) د لارې نه یعنی د هماغې لارې نه بیرته لاړ چه داسکندر دبیر ته تګ په وخت کښي دده یو جنرال (کرا تروس ) تعقیب کړی وه :

په دغه ترتیب، کهځه هم شامي یوناني دریم انتیوکوش دباختریا نو دآ زادۍ او خپلوا کۍ دروح دخپه کولو او دیو نان او باختری دولت دموجودیت دمحو کولو په قصد واو تلی و او دنو رو اقداماتو دنا کامیدو نه وروسته خپل محض راتګ ئي یو ه آخرنی

(۱) (راو لنسن) دبکتریا » نومی کتاب په ۷۲ مخ کښي لیکی چه سوفا ګازنا په اسانۍ سره تسلیم شو او خراج او فیلان ئي ور کړل .

چاره ګټله مګر پخپل مقصد هیڅ موفق نه شو بلکه مادي او معنوي زیانونه ورته هم ورسیدل او بیا له دغه حالت نه هره فائده چه متصوره وه هغه د باختري دولت په نصیب شوه. کوم وخت چه انتیوکوس باختر ته راغی او له نژدې څخه ئې د باختر د قوا او عظمت او د آزادۍ غوښتنې روحیات او خپل ضعف او کمزوري ولیدله او پوه شو چه د ده د نیکونو استعماري سیاست کوم معنی نه لري چه یو اځې د اسکندر د موقتي فتوحاتو په اساس بنا شوي وو او په هر ترتیب چه وي قهراً باید د یونانو او باختر د سلطنت خپلواکي او د ایوتیدم پادشاهي په رسمیت وپیژني. او که چیري حقیقتاً غواړي چه یوه ورځ د غربي پارتیانو په ضد د هغوي له وجود نه استفاده وکړي باید د دوستۍ او خپلوۍ لاره ونیسي او پرېږدي چه د یونانو او باختري دولت هر څومره چه کولی شي معناً او مادتاً د خپلې خاورې، قوا، او اقتدار په پراخولو کښې زیاتوالی وکړي. په دغه صورت د دریم انتیوکوس د مراجعت نه وروسته (۱) د باختر دولت د ایوتیدم په زمامدارۍ کښې یو اساسي او متین شکل پیدا کړ، له یوې خوا د سلوسیانو د حرص او استعمار طمعه یې غځې زمونږ له مملکت نه وشکېدله، او له بلې خوا د موریانو سلطه پخپله له منځه ووتله او په هغه ترتیب چه وروسته به ئې بیان کړو هغه قول ولایتونه چه د آریانا په طبیعي او تاریخي سرحدو کښې داخل وو د باختر د دولت جزو ګرځیدل او یو قوي دولت ورڅخه جوړ شو.

ایوتیدم، د آریانا نایو والی: په دوهم فصل کښې د آریانا جغرافیائي، نژادي، او سیاسي موضوع او مفهوم او معنا بیان شوه په دریم فصل کښې د دغه مفهوم څخه د اوستا له نقطې نظره څخه هم تعبیر شوی دی، او ولایتونه ئې د لاتین او یونان د کلاسیکي جغرافیه لیکونکو او مورخینو له نقطې نظره څخه وپېژندل شول، څرګند او توضیح شول؛ د دغو یوناني مدارکو په استناد وپېژندل شو پخوا له دې چه د یونانو او باختري خپلواک سلطنت منځ ته راشي؛ هغو یونانیانو ته چه زمونږ د مملکت سره ئې تماس

---

(۱) واله دویوسن هند د موریانو، برېرمانو، یونانیانو، پارتیانو، او د پوچیا و په عصر کښې د کتاب په ۱۳۲ مخ کښې لیکي چه د دریم انتیوکوس څپاوونو او ګردشونو له ۲۰۴ ق م نه تر ۲۱۲ کال پورې یعني (۱۹) کاله دوام وکړ.

درلودونکي دمملکت پښتواني نوم او تاريخي چوکاټ ورته معلوم و، لکه چه (ارانوستنس) ددريمي ق، م، پېړۍ په اول نيمائي کښي له دغه مقصده بحث کوي، هغه يونانيان چه په باختر کښي زيږيدلي وو، او باختر ئي مسقط الراس او وطن ګرځيدلي و او ددغه ځاي په فضااو عنعناتو کښي روزل شوي وو، دنورو يونانيانو نه د آريانا په طبيعي او تاريخي حدودو او چوکاټ باندي ښه پوهيدل او په ړه ور معلوم وو، او له دوي نه هر يو کوم وخت چه فرصت موندلي دي بلخ او باختر ئي چه (د آريانا ملغلري او افتخار ئي) بالهء دمملکت دمرکز په حيث ګڼل او نورو لايتونه ئي يو په بل پسي سره نښلولي او يو ځاي کړي دي.

## دشمال شرق خواته ديونان او باختري دولت نفوذ:

دمخه موو کتل چه سغديان او فرغانه ديونان او باختري خپلواکو پادشاهانو دلومړني کورني په زمانه کښي دباختر ددولت دحکمرانانو له خوا اداره کيدل لکه چه ايوتيدم پخواله دي چه په بلخ کښي دسلطنت په تخت باندي کيناست د خپلو پخوانيو پادشاهانو له خوائي په سغديان کښي حکمراني کوله، دغه منطقه دايوتيدم په زمانه کښي مطيعه پاتي شوه او هيڅ تغير پکښي رانغي نه و پخپله ايوتيدم دهندوکش دشمال شرقي برخو يعني تخارستان او حتي دپامير نه هغي خوا منطقوته ډېره توجه درلوده او دغي خواته ئي خپل نفوذ ډېر خپور کړ لکه چه (اپولودوروس) Apollodorus وائي ديونان او باختري دولت نفوذ او حاکميت د(سرس Seres) او (فريني Paryni) تر قومونو پوري رسيدلي و. (پايني) خومودمورسته (فرينيان) د(فوني Phuni) په نامه په (تخاريانو) پوري مربوط يادکړي او احتمال لري چه دتخاري قومونه يو قوم يادهنوي له ګاونډيانو نه وي چه په تخارستان او د آريانا په شمال شرقي برخو کښي ئي ژوندونه کاوه، (سران) چينيان دي او احتمال لري چه په دغه ځاي کښي مقصد د چيني ترکستان چينيان وي. نود(اپولودوروس) له بيانانو ښه نه واضح معلوميږي چه ايوتيدم دقطغن او بدخشان ټولي برخي او دننني پامير منطقي چه د آريانا په چوکاټ کښي داخلي وي دخپل سلطنت دقلمرو جزء ګرځولي وي، او دپاميرنه هغي خواته په چيني ترکستان کښي ئي

ACKU

ځینې ځایونه لکه کاشغر، یارکند او ختن فتح کړل چه د یونان او باختری دولت د متصرفاتو جز شمېرل کېدل.

په (خروشتی) لیکنو کښې چه په ختن او د چینی ترکستان په نورو ځایو کښې کشف او موندل شوی دی، یونانی کلمې لیدل شوی دی، او انګلیسی (تارن) د هغو د څېړید و علت دا بولی چه د اوتیدم د باختر د پاچا فتوحاتو ته منسوبوی (۱) د چین په ترکستان کښې د اوتیدم د فتحو له کبله هغه مراو داتی لاره لا پسې پراخه او پرانیستل شوه چه له پخوا زمانو څخه د باختر او تخارستان او د پامیر د هغې خوا ځمکو تر منځ پرانیستل شوې وه او له هغه شیانو څخه چه په محسوس ډول یونانیانو ځانه په باختر کښې په دغه وخت کښې پیدا اشول نیکل ؤ چه چینیانو له ډېرو پخوا نیو زمانو څخه هغه پېژانده او هغه ته به ئې (سپین مس) ویل، اوتیدم دغه نوی فلز له ختن او د نورو نیولوا و فتح کړو ځایو څخه باختر ته راووړه او له هغه څخه به ئې سکه ضربوله، او لومړی ځل نیکلی سکه د باختر د پاچا له ضرابخانې څخه را ووتله، د اوتیدم نه وروسته ده زوی (دمتریوس) او ده وی دا ولادې څخه ځینو نورو د نیکل د سکې په ضربولو شروع کړی ده، د شیمیائی تجزیې له مخې ثابته شوی ده چه د ختن او باختر نیکل یو دی او تر هغه وخته پورې چه ختن د یونان او باختری دولت د متصرفاتو جز ؤ له دغه ځای څخه به (سپین مس) په زیاته اندازه باختر ته راوړل کېدل او په بلخ او نورو دولتی ضرابخانو کښې به سکه ور ځنې ضربیدله.

---

(۱) په باختر او هند کښې د یونانیانو د کتاب ۸۳ مخ. باید وویل شی چه خروشتی رسم الخط د یونان او باختری پادشاهانو په عصر او په افغانستان کښې په کوشانی دوره کښې رواج درلود، او زمونږ د مملکت محلی رسم الخط شمېرل کېده، او د ثقل مرکز ئې زیاتره د هند و کش جنوب ؤ په دغه وخت کښې طبعاً یونانی کلمې په محلی پراکرېت کښې او بالواسطه زمونږ د مملکت په رسم الخط کښې داخلې شوی وی دغه رنګه زمونږ د ځینو ډېرې کلمې په یونانی ژبه او رسم الخط کښې ئې داخلې شوی وې.

ACKU

اوتیدم او غرب: دمخه وویل شول چه په آریانا باندې د دریم شامي انتیوکوس
د حملې په وخت کښې د باختر پاچا اوتیدم لښکر وایست او داریوس (هریرود)
د سیند ترسوا حاو پورې د شامي سلوسي لښکر و د مقابلې دپاره مخ په وړاندې لاړ. له دې
کبله د هریرود د سیند حوزه د سلطنت له ابتدا څخه دده د قلمرو جزوه، وروسته تر دې
چه د آریانا حدود ئې د هندوکش د شمال په شرقي منطقو کښې د هغه تر تاریخي سرحدونو
پورې ورسول او د مملکت په اصلي خاوره کښې ئې فتح کړی نقاط هم زیات کړل نو بیا د غرب
خواته متوجه شو، هر کله چه اوتیدم پوهیده چه د (پارتیا) دی خواته برخې د آریانا
د جغرافیائي او تاریخي ولایتو جز دی او د آریانا د خاورې یو والی دده د اداري اساسي
پروګرام جزو، نو سمدستي ئې د کار اجرا کولو ته مخه وکړه، هر کله چه دریم
انتیوکوس د شرق خواته د حربي مبارزې په وخت کښې پارتي دولت مضمحل کړی و
او خاص بیا په دغه وخت کښې ئې ښکاره موجودیت نه درلود؛ نو اوتیدم موقع ډېره
برابره وموندله په ۲۰٦ ق، م کال کښې داریوس (هریرود) له سیند څخه پوریوت او
د پارتیا خاورې ته داخل شو، او د (استوئن Astauene) او د (اپاوارتي کن Apavartikene)
علاقې ئې د پارتیا له خاورې نه جلا کړې او له هغو څخه ئې د پاسني اترك په حوزه کښې
د (تپوریا Tapuria) په نامه او د کشف رود په حوزه کښې د (تراکزیان Traxiane) په نامه
دوه ایالتونه تشکیل کړل. (سرپرسي سایکس) په دغه باب کښې لیکي چه: اوتیدم په ۲۰٦
ق، م کښې په پارتیا باندې یرغل وروړ او د (استوئن) له علاقې او شاوخوا او منطقو څخه
ئې د (تپوریا) او (تراکزیان) په نوم دوه باختري ولایتونه جوړ کړل، او مرکز ئې
(سوزیانا Susia) یا د (طوس) ښار و (۱) اوتیدم د توري او اداري خاوند و، یو الحې دیوی
علاقې په نیولو نه خوشحالیده بلکه ښې اداري ته ئې ډېر اهمیت ورکاوه. او هر کله
چه د غرب خواته د آریانا د قلمرو لمن خپلو تاریخي حدودو ته ورسیدله د (استوئن) او
(تراکزیان) او د مارجیان (مرو) او له هغو څخه چه د مارګوس (مرغاب)
د کوزني اریوس (هریرود) تر منځ پرتې وې او ډېره پراخه او سمسوره او حاصل ناکه

(۱) د افغانستان تاریخ د اومړي جلد په (۹۰) مخ کښې.

ACKU

علاقه ئی تشکیلوله یو دنائب السلطنه‌ګی یا یو امارت ئی تشکیل کړ. (تارن) او سرپرسي سایکس) د واړه په دې عقیده متفق دي او لیکي چه ایوتیدم دباختر پاچا خپل زوی (انتی ماکوس Antimacus) په دغه قلمرو کښې امیر مقرر کړ. ددغه امارت مرکز د احتمال له مخې اوسنی (مارو شاق) و چه هغه به ئی (کوچنی مرو) بلله او لویدیځ خرابې ئې دننې دبالامرغاب په شمال کښې پرتې وې او دموقعیت په لحاظ داسې مساعده نقطه وه چه دمخکښې ذکر شوې پراخې قلمرو د حکمرانۍ په منځ کښې واقع وه. دیونانو باختري دولت په اداري تشکیلاتو کښې دغه ډول امارتونه ډیر و چه دښې اداري دپاره به دننه په مملکت کښې تشکیلیدل. دمنطقې امیر به د آریانا دپاچا او دباختر دمرکز له خوا ټاکل کیده او دهغه وخت په اصطلاح ورته (تابع پاچا) ویل کیده او ډیر ډول مقتدر نائب الحکومه چه په عین حال کښې دسلطنت دمرکز تابع و، دسکې دوهلو او ضرب او حق ئی هم درلود.

او کله به ئی دمرکزي پاچا او پخپل نامه او کله به ئی حتی یوازې پخپل نامه هم سکه وهله مګر هر وخت به دپاچا او دمرکزي دولت د امر او نظام تابع و. ددغو تشکیلاتو مثال به په آینده کښې ډیر وګورو.

دهندوکش دجنوب او جنوب غرب منطقې: دهندوکش دجنوب او جنوب غرب منطقې چه دپاروپامیزادې، اراکوزی او درانجیانا لویو ولایتونو او نورې خاورې ئې وې لکه ګندهارا، پاکتیا او داسې نور، د آریانا دخاورې دیووالي په مسئله کښې ایوتیدم ته کوم جزئي مشکل هم پیدا نه کړ ځکه لکه چه دمخه مو ولیدل هغه وخت چه شاهي دربار انتیوکوس ناخته ت پاچا سره د روغې نه روسته دبیرته تګ اراده وکړه، یو ټولګی باختري عسکر دایوتیدم په امر دهغه سره له باختر نه روان شول او بیا ئې چه کوم جنګ او جګړه پېښه شي موریایانو ځانونه د سند نه هغې خوا برخوته وایستل او ددغو ټولو ولایتو حاکمان ټول تابع او مطیع شول. او دمملکت ذاتي اکثر دلیل هم دغه دی چه دغه انتیوکوس بیله دې چه کوم جزئي زیان ورته ورسیږي دکابل او اراکوزی د لارې تیر شو او دکرمان د لارې شام ته ورخوځید.

ACKU

په دغه ترتیب هغه مقصد چه ایو تیدم د لو دپه لاس ورغی که په شرق کښې واوکه په غرب کښې ، شمال کښې و او که په جنوب کښې (بیله د جدورزیا نه چه دده دزوی په زمانه کښې د آریانا د نورو ولایتو جز گرځیږی) تقریباً د پخوانی آریانا ټول خاوره ئې دیو مرکز او دیوی اداری تابع کړه :

آریانا او باختر وضعیت دایو تیدم دسلطنت په زمانه کښې عیناً هغه شی دی چه (استرابو) او د (بطلیموس) بیان کړی دی ، که څه هم دوی په تیره بیا لومړی ذکر شوی جغرافیه لیکونکی د (اراتوستنس) په نظریاتو استناد کوی ، او ده د دریمې ق ، م پیړۍ په اوله نیمائی کښې د یونان او باختری سلطنت د پیدا کیدو نه پخوا ژوند کاوه ؛ او د آریانا د ولایتو تشکیلات زمونږ داوستائی زمانې دلویو پاد شاهانو دسلطنت له نظام څخه یو یاد گار دی ؛ بیا هم دایو تیدم په عصر کښې بل ځل بیا هغه مجسم وینو ، څرنګه چه په اوستائی زمانه کښې با ختر زمونږ دلویو پاد شاهانو مرکزو ، زمونږ د یونا ن او باختری پاد شاهانو هم د دغه زوړ او پخوانی بنا رله معنوی مقام او عنعنې څخه استفاده کړی او هغه ئې دسلطنت مرکز وگرځاوه ، او هغه وخت چه (استرابو) هغه د (آریانا ملغلری او افتخار) باله د آریانا په ولایتو نو کښې د هغه مرکزیت او اهمیت ته اشاره کوی . ایو تیدم په هغو اقداماتو سره چه د آریانا د خاورې دیو والی په لاره کښې ئې وکړل یو ځل بیا د آریانا د دولت سیاسی حرکات نوی کړ ، او دده دغه لوی کار دیر شمیر آینده جغرافیه لیکونکو او مؤرخینو په خاطر او لیکنو کښې دیر تا ثیرونه وکړل :

د داخلی امارتونو تاسیس : ایوتیدم یوازې تورزن او جنگیالی سړی نه ؤ بلکه تدبیر او اداره ئې هم درلوده ، یوازې دیوی منطقی په نیولو او فتح کولو ئې زړه نه ښه کیده دهغی منطقی اداری ته به ئې دیره توجه کوله او دغه جنبه دمملکت په تاریخ کښې د ده شخصیت دیر مهم ښکاره کوی ، هر کله چه د آریانا دخاورې دیو کولو په لاره کښې دده لومړی اقدام سرته ورسید ، نو د دوهم اقدام په فکر کښې شو چه

د آریانا اداره کول وو، آریانا پخپل اه لي او تاریخي چوکاټ کښې یو لوی مملکت ؤ، او ایوتیدم نیولي ځایونه او متصرفات هم ورباندی زیات کړل او په دغه فکر کښې لاؤ چه نور ځایونه هم ورباندی علاوه کړی. نو له دې جهته په دغه فکر کښې شوچه د مملکت یو یا څو ولا یتونه د جغرا فیا ئی مقتضیا تو او داداری چارو داسانتیا په لحاظ د یو یو امیر یا دهغه وخت په اصطلاح د یو یو (تابع پاچا) په واسطه اداره کړی. د یونان او باختری پادشاهانو دغه رویه وسائله او امیران او حکمرانان عموماً د باختر د پاد شا ها نو زامن او یا دهغوی نژدې خپلوان وو. دغو امیرانو دخپل حکومت دمنطقې داهمیت او پراختیا له کبله کله به ئې د مرکزی پاچا او پخپل نامه او کله به ئې هم یوا ځې پخپل نامه سکه ضربوله، که څه هم ددوی سکې معمولاً دخپلې علاقې دسودا گرۍ او معاملاتو داسانتیا دپاره وې خو د مملکت په ټول قلمرو کښې ئې چلښت درلود. هر کله چه سکه ددغې زمانې د معلوماتو له مهمو منابعو څخه یوه منبع ده هغه کسان چه د یونان او باختری د دولت دا داری تقسیماتو او څرنګوالی او د داخلی اما رتونو د تقسیماتو او خارجی متصرفاتو څخه پوره خبر نه لری دډېرو اشتباهاتو سره مخامخ شوی دی. او دهغوی مسکوکات ئې غلط کړی دی ځکه هغه وخت چه په یوه زمانه او یوه وخت کښې ئې څوسکې او څو پادشاهان لیدلی دی نو ډول ډول نتیجې او بیل بیل تعبیرونه ئې ورځنې ایستلی دی. په دغه مناسبت ددغه مطلب په بیانولو شروع وشوه چه موضوع په ذهن کښې مغشوشه نشی او په آینده کښې هم دیونان او باختری دولت په اداری نظام کښې ددغې رویې وجود معلوم شی.

د پارو پامیزوس شمال غربی امارت: له هغو امارتونو نه چه ایو تیدم پخپله جوړ کړل د وه ئې مونږ ته معلوم دی او زیاتر و معاصرو مدققینو هم هغه قبول او تائید کړی دی. له دغې جملې نه یو امارت دپاروپامیزوس شمال غربی امارت دی. د مخه مو و کتل ایو تیدم په ۲۰٦ ق، م کښې داریوس (هریرود) له سیندنه پوری یوت او دشرقی پارتیا دنیولو او فتح کولو نه وروسته په دغه ځای کښې ئې

ACKU

دوه نوی ولایتونه تشکیل او میدان ته را وایستل. ددغو دوو ولایتونو خاوره ئې چه (استونس) او (تراگزیان) ئې بلل او دکشف رودا وا ترك پاسنۍ حوزه ئې را نیوله دمارگیان (مرو) او دمارگوس (مرغاب) دحوزې او دا زیوس (هری رود) اوددغو ځایواو کوزنی هریرو ددبر خو ترمنځ علاقې سره چه ډېره پراخه سمسوره اوحاصلناکه علاقه وه. دغه ټول ځایونه ئې تــریوې اداری لاندې را وستل او خپل زوی (انتی ما کوس Antimachus) ئې په دغه ځای کښې امیر مقرر کړ. (تارن) او (سرپرسی سایکس) دواړه په دغه نظریه موافقت لری او په دغه منطقه کښې د (انتی ما کوس) امارت تائیدوی (۱) ددغه امارت مرکز داحتمال له مخې او سنی (ماروشاق) ؤ چه هغه ته به ئې (کوچنی مرو) ویل او باعظمته خرابې ئې د بالا مرغاب شمال ته پرتې دی او ډېره مساعده نقطه وه چه ددغه پاسنې پراخې علاقې په مرکز کښې واقع وه.

دارا کوزی یاد پاروپامیزوس دجنوب امارت: ایوتیدم د باختر ددولت په

اداری ویش او تقسیماتو کښې دهندوکش دجنوبی ځمکو دپاره یو واضح او په دقیق ډول وو او دهندوکش دجنوب غربی منطقو دپاره ئې جلا بل امارت جوړ کړ. هر کله چه ارا کوزی او درانجیان (سیستان) دمملکت یعنې باختر له مرکز نه لیری پراته وو او دهندوکش داو ږ وغرونو سلسله هم په منځ کښې حائله وه تو دده فکر د ډېر اساسی او پوخ ؤ چه دغه ځایونه دې هم دیو امیر له خوا اداره شی. نو له دې کبله ئې خپل بل زوی (دمتریوس) چه یو ځوان او ډېر زړه ور، مدبر او غښتلی زلمی و، او ددرېم شامی (انتیوکوس) سره ئې په روغه او جوړه کولو کښې دمملکت په گټه لوی او مهم رول لوبولی ؤ، لومړی ئې دارا کوزی دنائب الحکومه په حیث او څو موده وروسته ئې په دغه ځای کښې دامیر په صفت مقرر کړ، دمتریوس په ډېر جدیت سره دخپلو چارو په اداره کولو بوخت شو او دآریانا په نورو ولایاتو کښې یعنې په اراکوزی او درانجیان کښې ئې دباختر ددولت نفوذ ټینګ کړ

(۱) دافغانستان تاریخ دوهم جلد د (سر پرسی سایکس) د تالیف ۹۰ مخ

ACKU

او دخپل پلار په اجازه د ځجد ورز یا (بلوچستان) او سند خوا ته ئې لښکر وایست او دغه علاقې چه تر دغه وخته پورې دخپل اصلي او تاریخي چوکاټ څخه دباندې پاتې وې او دآریانا د تاریخي ولایتو جزشمېرل کېدلې دیونان او باختري دولت په خاوره پورې ئې وتړلې وروسته بیا ئې آبادیو او ودانیو ته مخه وکړه او په اراکوزی کښې ئې بود اسي ښار بنا او جوړ کړ چه تولو کلاسیکي مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو هغه د (دمتریا س) په نامه یاد کړی دی.

دمملکت دآبادۍ څخه یو مثال:

دباختر یو زړ ښار ونه: ایو تیدم دیونان او په باختري پادشاهانو کښې نه یوازې فاتح او

........................................

دمملکت مختلفو علاقو او منطقو ته دوحدت رنګ ورکوونکي او دیونان او باختري دولت داداري اصولو باني شمېرل کېږي بلکه دآبادیو او ودانیو په لحاظ هم پوره شهرت لري، دمملکت د خاورو د یوکولو او اداري نقشو د طرح کولو نه وروسته ددغه زیم اولو ی کار دښار ونو ودانول او دلارو او سړ کونو جوړول او دزراعت خپرول او زیاتول او داو به کولو داصولو رواج او نشرول وو چه پخپل ځای داقتصاد: زراعت، او تجارت په لحاظ دباختر دخپلو اکۍ او استقلال دمبا دیو په ټینګولو کښې ډېر مؤثر ثابت شول او د باختر په آبادۍ کښې یو ضرب المثل وګرځېده یونا نی کلاسیکي لیکوالو که جغرافیه لیکونکي وو او که مؤرخین د(زر و ښا ر ونو) اصطلاح دباختر په باب کښې استعمال کړی ده. دغه لنډه او کوتا جمله دخاورې په حاصلناکۍ؛ دنفوسو په تمرکز، دښار ونو په ډېر والي او دآبادیو په وسعت او ډېر والي باندې یو لوی دلیل دی. ځکه تر څو چه خاوره حاصلخیزه نه وي ډېر و نفوسو ته غذا نشي برابرولی، او دنفوسو زیاتوالی دآبادیو دخپرېدو او دښار ونو دزیاتېدو باعث ګرځي او دښار ونو وجود د خلکو داجتماعي ژوندون دسویې په لوړېدو دلالت کوي ځکه چه ښار دمدنیت مرکز او داسي کانون دی چه اجتماعي ژوندون پکښې زیاتېږي او انبساط مومي.

باختر له هغې پخوانۍ زماني څخه چه دبشر خاطره ئې مونډلی شي هر وخت حاصلخیزه او ودانه او مستعده ځمکه او مملکت و، او دغه استعداد دیونان او باختري پادشاهانو خاص بیا د ایو تیدم په ښه تدبیر او دآبادۍ او ودانۍ په هڅه یو ځل بیا ددو همې

ACKU

ق، مپیړۍ په آخر کښې ښکاره شو (اندره برتلو) په هغه تبصره کښې چه د بطلیموس په جغرافیه ئي لیکلې ده(۱) د بلخ دآبادۍ او ودانۍ د شهرت لومړی دلیل پخپله د دغې پراخې جلګې دخاورې طبیعي استعداد بولي اولیکي چه دهغو حدودو له مخې چه بطلیموس دغې علاقې ته ورکړي دي دهغې دخاورې سطح ( ۲۹۰۰۰۰ ) مربعه کیلو متره اټکلیدلی شي ، او یوائې باختر چه بدخشان پکښې حساب نشي د میمنې دناوې سره د یو لک مربعه کیلو مترو نه زیاته مساحه لري خو که چیرې د قره قرم دښته یا هغه ناڅه هغه برخه چه دا کسوس د پخوانې مجرۍ او د زراعتي منطقې ترمنځ پرته ده ور باندې زیاته شي نو هغه پراختیا چه بطلیموس باختر ته ورکړې ده په نظر کښې مجسمه کیږي ، دباختر داستوګنې وړ او حاصلنا که برخه دتاریخ په ټولو دورو کښې لسو ملیونو هکتارو ته رسیدله او د (پو po ) د حوزې په شان ئې څو ملیونو خلکو ته په آسانۍ سره غذا ورکولی شوه ، او دباختر دآبادۍ اهمیت دمغلو دقتل وقتال ترزمانې پورې دتاریخ په ۲۰ پیړیو کښې له دغه ځای نه معلومیږي دغه آبادي دا کسوس او دهغه دکیڼو غاړو او سواحلو دمرستونکو ( معاونینو) دجریان په اصولو پورې اړه درلوده او لري ئي . (وی کف Woeikof) لیکي چه(۲) (دځمکې په سر په ټولو سیندو کښې اکسوس او دهغه دکیڼو سواحلو معاونان هغه یو ائېنې سیند دی چه دغرونو دواورو او کنګر کونو او یخچالونو د ویلې کیدو څخه ډیری اوبه اخلي ) (۳) سره د دې چه دباختر په برخو کښې بارانونه نسبتاً ډیر نه کیږي او اندازه ئې په کال کښې له ۱٦۰ نه تر ۱۲۰ میلیمتر و پورې فرق کوي د اکسوس مخصوصاً دهغه دکیڼې خوا دمعاونینو اوبو دغه نقیصه تلافي

---

(۱) زبطلیموس دنظریې په اساس دمرکزي او جنوب شرقي پخوانۍ آسیا ۱۸۲ مخ دغه کتاب په ۱۹۳۰ کال په پاریس کښې چاپ شوی دی

(۲) د ۹۱٤ پاریس د ترکستان روس ۷۸ مخ (ددغه کتاب د(۱۸۲ مخ پاورقي ) اندازه برتلو )

(۳) لکه چه په شلورو ویالو (چار جوی) کښې په ۱۹۰۱- ۱۸۸۷ کالو نو کښې اندازه واخستل شوه په هره ثانیه کښې دوه زره مربعه متره او به له اکسوس نه تیریدلې .

ړی کاو دکانااو ئو او ویالو کیندلو چه همیشه دباختر دپادشاهانو دپاره وګړ او جنګ شمېرل کېدل ددغې قطعې په اوبه کولو او حاصلناکۍ کښې د زړه خل درلود.
په دې کښې شک او شبهه نشته چه د دغو زرو ښارونو په جمله کښې ځینې ټینګې او مستحکمې جنګی کلاګانې هم راغلې دي خو نور ټول لوی لوی او وړه ښارونه او آبادۍ ګڼې وې چه دا کسوس د کیڼې خوا ته او نیوپه او زد وکښې او ددغې پراخې جلګې په بیلو بیلو ځایو کښې واقع وې. یونانی جغرافیه لیکونکي ددې همې ق م پېړۍ له آخره چه دیوتیدم دسلطنت زمانه ده تر بطلیموس پورې چه د دوهمې مسیحي پېړۍ په اوله نیمائی کښې ئې ژوندون کاوه نږدې د څلورسو و کلاونو په موده کښې او حتی له هغې نه وروسته دباختر آبادۍ او د ښارونو په بیل بیل یاد کړی دی. دباختر د زرو ښارونو اصطلاح که څه هم چرې زیاته د ایوتیدم او د دوی دمتریوس دیونان او باختري مقتدرو پادشاهانو په زمانې پورې مربوطه وي د بطلیموس یاد نه دکوشانیانو دعروج تر زمانې پورې دغه مقصد تائیدوي او په دغه بحث پورې مربوط په لنډ صورت د بطلیموس د جغرافیې په استناد دباختر ځینې قومونه او ښارونه یادوو که څه هم د بطلیموس معلومات دایوتیدم د زمانې نه نژدې دری نیم سوه کاله وروسته دي خو اساساً د ځینو قومونو او ښارونو موقعیت په باره کښې زیات رڼا نه لري (۱).
یوناني جغرافیه لیکونکو د باختر اوسیدونکي په دوو ټولګیو تقسیم کړي دي:
(۱) غربي ټولګي (۲) شرقي ټولګي:
دغربي ټولګي قومونه دادي: (۱) سالاتاریان Salatars دا کسوس د سواحلو په غاړو کښې (۲) کومارا Chomares یا کومیان Comes (۳) اکی ناکیان A'kina Kes (٤) تماروزیان Tamaruses

---

(۱) د آریانا ۹۱-۹۲-۹۳ مخ دې وکتل شي.

دشرقي ترلګي قومونه : ۱ - زریسپیان ، او هغه خاسک چه د دغه پخوانی ښار د ( ارسنیر شاهجوی ) په شاوخوا کښي بلخ ته نژدی اوسیدل ( ۲ ) تخاریان - ( ۳ ) ( مارو کیان ) Marukees - چه د تخارجنوب خواته پراته وو ( ٤ ) خوردیان Khordes ( ٥ ) ورنیان Ournes ( ٦ ) اوادریان Avadrs ( ۷ ) سبادی یان ( ۸ ) اورفسپتیان Orefs t s ( ۹ ) اماری یان Amareis هغه ښار و نه چه بطلیموس په باختر کښي بنودلی او نوم و نه ئي اخستی دی په دغه ډول دی :

دا کسوس په شاوخوا کښي :

| | |
|---|---|
| خره خرته | Khara Kharta |
| زری اسپه | Zari(a)spa |
| سوروګانا | Sourougana |
| پرتو | Partou |

داوروسندو نو په شاوخوا کښي :

| | |
|---|---|
| الی خوردا | Ali Khorda |
| خوماړا | Khomara |
| کوریاندرا | Kourinandra |
| کواریس | Kauaris |
| استاکنه | Asta Kana |
| توسموآناسا | Tosmouanassa |
| باکترا | Bactra |
| استوبارا | Estobara |
| منا پیسا | Menapia |
| ایوکراتیدیا | Eukratidia |
| ماراکندا | Marakanda |
| ماراکودرا | Marakodra |

بطلیموس د زړو ښارونو له جملې نه دي ځینو نومونه اخلي چه د دغو د صحیح موقعیت ټاکل کوم آسان کار نه دی، هغه شواهد چه د یوتیډم او د یونان او باختري دولت د دورې پادشاهانو په زمانه کښې د باختر د ښار د آبادۍ او ودانۍ رونق او د زړو ښارونو مفهوم په ذهن کښې کښېنوي په خپله دغه خرابو کنډوالو دي چه نن ورځ د باختر په ټولو برخو کښې موجودې دي، د پلخمرۍ څخه نیولې د خان آباد خواته او له دغه ځای نه د اوسني لارې په اوږدو و او د آمو د جریان په اوږدو کښې ترخام (تاشقرغان) او شهر بانو، بلخ، اندخوی او میمنې پورې، او د جنوب خواته تر سرپل پورې د ولیار و په اوږدو کښې او له هغه دیاندې هر طرف ته چه وکتل شي مصنوعي غونډۍ د پخوانیو آبادیو ګانو او ودانیو بقایا لیدل کیږي، د دغو غونډیو مساحت سره فرق لري چه ځینې وړې، او ځینې لویې او بعضي ډیرې لویې دي، او یوازې د مساحت له مخې هم کیدلی شي چه د هغوی د آبادیو د زمانې اهمیت او د کوچنیوالي او لوی والي مراتب وټاکل شي، هغه وخت چه د دغه غونډیو شمیر او موقعیت ته وکتل شي د زړو ښارونو یا حتی د هغو پخوانیو ښارونو مفهوم چه باختر ته به ئې منسوبول په تصور کښې د حقیقت شکل پیدا کوي. دغه غونډۍ په هر ځای کښې چه پرتې دي تر لیننه ورځ نومونه لري او محلي اوسیدونکي د ټولو نومونه ژبي او دغه مسئلې ډیر اهمیت لري ځکه چه اول خو طبیعي غونډۍ عموماً نومونه لري او له بلې خوا لکه چه پخواني ماخذ اشاره کوي د باختر ښارونه چه یوناني نومونو او زیاتره په محلي نومونو یادیدل، د هغو ښارونو په جمله کښې چه د یوتیډم په زمانه کښې یوناني نومونه درلودل یو به سغد کښې (ترا Tiera او بل په باختر کښې د روتیا Rhottea) ؤ د غو ښارونو په دغه وخت کښې عموماً ګرد چاپیره کلاګانې او برجونه درلودل او د جلګې د ښارونو په اصطلاح به په دیوالونو او کلاګانو سره ساتل کیدل. چیني (چانګ کین Cheng-Kien) چه په ۱۰۶ ق، م کښې د یو هیئت سره باختر ته راغلی او د آریانا شمالي برخې ئې د سر په سترګو کتلي دي لیکي چه: (د باختر خلک په دیوال او کلالرونکو ښارونو کښې ژوند وند کوي.)

د باختر د دولت نظامي سیاست هر وخت غوښتل چه د هندوکش د شمال په آرا او

برخو کښې تېنګې و دانۍ، ښارونه او مستحکمې کلاګانې حتی المقدور یوه دبلې نه لیرې او د جګړې په تسولسه خصاورو کښې تیت و پرکټ جوړې کړې چه تولنه په یوه نقطه کښې تمرکز و نه مومي او غورځنه شي، او ځینې نورې برخې خالي او بې دفاعه پاتې نه شي. باختر د تاریخ د پیدا کیدو او طلوع له ابتدانه دا کسوس او سر دریا د شمال د منځنیو جمینو په مقابل کښې چه کله د دوریا پنامه او کله د (سیت) پنامه یاد شوي دي د آریانا د دفاع عهده په غاړه درلوده او تل ئې ددغې وظیفې بوه برخه د خپلو اوبواوړمد برو پاد شاهانو دعمراني سیاست سره سرته رسولې ده.

د ایو تیدم مسکوکات: ایوتیدم پهاوزده پادشاهي او په پراخ مملکت کښې چه بیله آریانا نه دده دمتصرفاتو جزؤ، ډیرې زیاتې سکې ضرب کړې او په ډمډغه جوړت دده مسکوکات نه یوازې له باختر نه بلکه دمملکت له نورو ځایونه لکه ډپارو پامیزوس، اراکوزیا، درانجیانا، مارجیانا او آریا ځخه هم پیدا شوي دي (۱) او دهند په خاوره کښې دیونان او باختري دولت له متصرفاتو نه هم په لاس راغلي دي. دده په مسکوکاتو کښې دوه ډوله ئې ډیرې مشهورې دي.

اومړی د سپینو زرو ګرده سکه ده چه په مخ باندې ئې یوازې دپاچا سربیا نوشتې نه نقش دی او په کین مخ باندې ئې (هرکول) په یوه ډبره باندې ناست دی چه مخ ئې کینې خواته دی او خپل کین لاس ئې په تیزه باندې تکیه کړی او په ښي لاس کښې ئې تیاقې نیولې ده د هرکول شاته د(بازیلوس) یعني د(پاچا) کلمه او په مخکښې ئې د(ایو تیدموس) پاچا نوم ثبت او لیکل شوی دی.

دوهمه د سرو زرو ګرده سکه ده چه دسکې په مخ باندې د هرکول سر په ښي نیم مخ بیله کومې نوشتې نقش دی. دسکې په کین مخ باندې آس ښي خواته په ځغاسته کښې دی په سکه باندې د(بازیلوس) یعني (دپاچا) کلمه، او د آس تر پښو لاندې دایو تیدم دپاچا نوم لیکل شوی دی.

(۱) د باکتریا د (اچ، جي، راولنسن) د تالیف (۷۳) مخ.

**دایوتیدم دعمر په آخر کښې دیونان او باختری سلطنت :** دهغه ټکو له مخې چه وهل کیږی ایوتیدم د ۲۳۰ ق ، م نه تر ۲۹۰ ق ، م پورې نژدې شلو پنځه کاله پاچاهي وکړه ـ ده عزم ، اراده ، سیاست او دادارې قوه ټول په کار اچولي وه ، او دیونان او باختری خپلواك دولت ئې چه اساس ئې د(دیودوت) له خوا کیښودل شوی ؤ لا پسې محکم او ډیر ټینګ او قائم کړ ، هغه وخت چه ایوتیدم دباختر په تخت باندې کیناست دیرې مسئلې په مخکښې وې چه باید دباختر ددولت په ګټه حل شي ، دهندوکش په جنوب کښې لا دموریایانو نفوذ حاکمیت درلود او شامې سلوسی دولت دباختر داستقلال اعلان اوریدلی ؤ او چاره ئې سنجوله چه څرنګه او په کومه حیله د آریانا داوسیدونکو دآزادۍ غوښتنې احساسات مړه او له منځه ئې ایری کړی . ایوتیدم په وسله او خبرو دشامې سلوسی دولت د استعماری یا استثماری اقداماتو سره مقابله وکړه او په دې بریالي شو چه دباختری دولت خپلواکي او خپل سلطنت په هغه باندې په رسمیت وپېژني ، موریایانو ، نه یوازې بیله جنګه نه او دناوانو او پیلانو په ورکولو سره دکابل اعلاقه او دکابل او اندوس ترمنځ ځمکې خالي او پرېښودې بلکه دایوتیدم داقداماتو له کبله داندوس شرقي ځمکې هم دباختر ددولت د متصرفاتو جزو ګرځیدلې ، او د هند په خاوره کښې ددغه دولت د اثره د ایوتیدم دزوی (دمتریوس) په زمانه کښې چه وروسته ئې په بیانولو شروع کوو ډیره پراخه شوه او دموریا ددولت موجودیت حتی دهند په خاوره کښې هم له منځه ووت او د هغه په ځای د(سونګا) کوچنی حکومت پیدا شو ، استرابو هغه وخت چه وائي (هغو یونانیانو چه د مخالفت بیرغ ئې پورته کړ د باختر دخاورې دحاصلناکۍ او مساعدت له کبله په آریانا او هند باندې ئې حاکمیت پیدا کړ .) ددې متصه دایوتیدم دباختر پاچا او ده کورنۍ ده (۱) او دهغې نقشې له مخې چه ایوتیدم په نظر کښې نیولې وه لکه چه وموایدل لومړی ئې د آریانا منطقې دباختر په مرکز راټولې کړې او بیا داندوس او پامیر نه هغې خوا ته د متصرفاتو په تشکیلولو بوخت شو . ( اپولودوروس ارتمیس ) وائي چه یونانیانو

---

(۱) وبکتریا نومې کتاب ۷۵ مخ ـ دغه کتاب د (اچ . جې . ر . او . لندن) تالیف دی .

آریانا فتح او و نیوله. دغه یونانیان لکه چه (راولنسن)(۱) د هغو په مخکښی د باختر کلمه په قوسینو کښی نیولی ده له باختری یونانیانو نه مقصد دی او بیا که چیری ښه غور شو او په دقت سره و وایم همدغه ایوتیدم ته اشاره ده چه د آریانا د خاوری د یو کولو او وحدت په لاره کښی ئی کوښښونه کړی دی.

## دایوتیدم په زمانه کښی د هند او چینی ترکستان سره د یونان او باختری دولت تهذیبی او تجارتی تعلقات او روابط :

له هغو مهمو شیانو څخه یو موضوع چه دایوتیدم د عمرار سلطنت په آخر کښی د یونان او باختری دولت په نصیب شوه هغه په شمال شرق او جنوب شرق کښی محیطی متصرفات ئی چه د مخه مو و رځنی مفصل بحث وکړ او په دغو متصرفاتو سره د آریانا او د هغی د متصرفاتو ترمنځ او بالواسطه د آریانا او چین او هند ترمنځ د تجارتی او تهذیبی مراودو او روابطو د پاره دوه لویی لاری پرانیستل شوی.

هغه لاره چه د آریانا او د هغی د متصرفاتو ترمنځ د سنکیانګ او پامیر په شرق کښی خلاصه شوه کوم نوی او تازه لاره نه وه د دغو منطقو سره د آریانا د روابطو د موجود والی تاریخ یو داسی شی دی چه په تاریخ کښی د هغه د پاره کوم حد نه کیدای شی او نورو تحقیقات غواړی. هغه رول چه آریانا نا په سنکیانګ او چینی ترکستان کښی د دیانت او تهذیب د خپرولو په لحاظ لوبولی دی یو داسی شی دی چه په خپل ځای په راتلونکو فصلونو کښی به و رځنی بحث وکړو. هغه شی چه سمدستی دا یوتیدم په زمانی پوری مربوط دی په دغه باره کښی څو کلمی ویل کیدلی شی نیکل او ورېښم دی چه په باختر کښی پیدا شول. دلوړی نه مو د مسکوکاتو په باب کښی بیان وکړ. او دوهم یعنی ورېښم یو نفیس او قیمتی مال التجارت وچه یوه اندازه د باختر د سلیقه او رونکو خلکو په مصرف رسیدل او یوه برخه به هم د غرب خوا ته وړل کیدله. لکه چه دغې روابطو مه تر وله کوشانی زمانه کښی هم دوام در لود، او د ورېښمو د کاروانو د تګ او راتګ له کبله چه د آریانا له شمال نه تیریدل

---

(۱) ماډیکتریا نومی کتاب ۷۳ مخ ـ دغه کتاب د (اچ، جی، راولنسن) تالیف دی.

او بلخ د هغو مهمه قرارګاه او کاروان رای ؤ د (ورېښمو لاره) په نامه او دیله شوه او د دې په باب به په کوشانی فصل کښې مفصل بحث وکړو د باختر د دولت د هندی متصرفاتو سره د آریانا روابط د پر مهم دی ځکه چه هم هندی خاوره د اسکندر د حملې نه وروسته یونانیانو ته پر انتقال شوه خو له هغه نه بیله جنګ ؤ جګړی او د وینو تویېدلو نه د هند دا پاره یاد کومه فائده ونه رسیده له او ایو تیدم هغه لوړی سړی دی چه پخپلو فتحو سره ئی خپلو هندی متصرفاتو ته او له دغو ځایونه هغې خوا شرقی برخو ته ئی د یونانو او باختری صنعت او تهذیب د خپرېدلو لپاره پرانیستله یونانی کارګران ، صنعت ګران ، او د هنر خاوندان په دغه وخت کښې له باختری او د هندوکش له جنوبی علاقو څخه هند ته خپاره شول او د یونانو او باختر صنعت او د تهذیب روح ئی هند ته سوغات یووړ (راولنسن) وائی چه د هغې لیکنې (کتیبې) د متن له مخې چه پر خروشتی رسم الخط پیدا شوې ده یونانی اخری هنرپیشه خلک د باختر د پادشاهانو د سلطنت په زمانه کښې د کار د پاره هند ته تلل او د دوی د هنرونو یه آثاروتر زیاتی اندازی پوری د هند په ولسی او بومی کارګرانو باندی تاثیر وکړ ، د دغی لیکنی په شهادت او پخپله د مستر (راولنسن) د نظریاتو له مخې په دې کښې څه شک او شبهه نه پاتی کېږی چه باختری یونانیانو د یونان او باختر د ګډ تهذیب د خپرولو په لاره کښې په هند کښې څه رول لوبولی دی ، او د دې کار ابتدا ابو تیدم له زمانې نه شروع شوی ده .

د یونان او باختری دولت د هندی متصرفاتو او د آریانا د خاوری تر منځ تجارتی روابط له پخوانه د پر خپاره او زیات شول ، که څېری لېږی خوا د سنکیانګ او له هغې خوا نه ئی د ورېښمو کاروانونه باختر ته رسیدل له هندی متصرفاتو له شرقی نقاطو نه ئی عطر باب ، د واګانې او نور هندی محصولات د کابل د درې

د لاري نه‌د باختر ا نه‌تیلې (راولنسن) په‌دغه عصر کښې د بلخ د بازار وضعیت د (مناندر) د سلطنت په دوره کښې ده ایوتید میاه بعنې د (ساگالا Sagala (۱) د بازار مره مقایسه کړی او وائي چه: په دغه عصر کښې د بکتریا فورم د (مناندر په زمانه کښې د (ساگالا) د بازار مره مشابه ؤ او بازارونه له‌دیندارو سره دا گرونه ډک وو، او مختلفې ژبې به پکښې ویل کیدلې، او په دکانونو کښې به مختلف شیان لکه ململ او وریښمین ټوکران، شیرینی باب، دواگانې، فلزی، مسی شیان او د سپینوزرو گانې او د ول د ول جواهرات او نور شیان پیدا کیدل (۲).

دمتریوس د ۱۶۰-۲۰۰ ق م په شاؤ خوا کښې: د مخه په (ایوتیدم پورې د مربوطو پیښو د بیانولو په ضمن کښې د (دمتریوس) په باب کښې هم بحث او خبری وشوې، دمتریوس د (ایوتیدم) زوی دی چه د خپل پلار د جنگونو په وخت کښې چه د ریم شاه انتیوکوس سره ئې کول ښه پوره زلمی ؤ، وروسته تر دې چه دغه سلوسی پاچا په خپل وار دیونان او باختری دولت خپلواکی او د (ایوتیدم) پاچاهي په رسمیت وپیژندله او د آریانا نه ووت، او د هندوکش د جنوب محمکی د یونان او باختری دولت جزو گرځیدلې (ایوتیدم) خپل زوی چه یولائق او په‌کار پوه ځوان ؤ لومړی دا راکوزی د نائب الحکومه په حیث او بیا ئې د هندوکش د جنوبی منطقو د اداره په‌حیث مقرر کړ لکه‌چه د دې موضوع ته‌دمخه اشاره وشوه او ځینو چه د یونان او باختری دولت له اداری ترتیباتو څخه خبر ندی دی ئې داراکوزی نائب السلطنه هم بللی دی دمتریوس دخپل پلار پا ژوند کښې د عمرانی نقطی نظر څخه په‌تیره بیا د هند په‌خاوره کښې د محکو نیولو او اداری جنبې په‌لحاظ د یر مهم رول لو باوه دارا کوزی په‌ولایت کښې ئې د خپل نوم (دمتریوس) سره یو ښار

(۱) پا یدغه و ویل شی چه ځینو د (ایوتیدیم) نه په (سیالکوټ) سره تعبیر کړی دی.
(۲) د بکتریا ۷٤ مخ.

جو ړ کړ او داردو دقړ ماندان په حیث ئې دخپل پلار دژ وند په وخت کښې دهند په فتوحاتو کښې جدی او ثمره لرونکی کار و نه وکړ لتر دی چه د ۱۹۰ ق م په شاوخوا کښې د ده پلار دآریاناو دنیولو حکمکو امپراطور و فات شو او دمتریوس دخپل پلار دمشرزوی په حیث دسلطنت په تخت باندی کینا ست

دهندفتوحات:

هر کله چه دمتریوس یو جدی او فعال ځوان وُ او دحکمکو دنیولو او دیونانو باختری دولت دمتصرفاتو دقلمرو دپراخولو دپاره ئې ډیر شوق در لود مجرد چه دباختر په تخت باندی کیناست په دغه فکر کښې شو چه دخپل پلار لوړ افکار او خپلې دحکمکو نیولو نقشې عملی کړی، ددغه مقصد دپاره ئې خپل مشرزوی دوهم ایوتیدم په باختر او سغدیاد کښې پخپل نیابت امیر مقرر کړ او پخپله دخپل کشرزوی دوهم دمتریوس او دخپل دیو مشهور جنرال (مناندر) سره دهندوکښې جنوب ته راغی او په هغه اساس سره چه خپل پلار ئې دیونانو باختری دولت دادارې دپاره ایښی وُ خپل کشرزوی دوهم دمتریوس دجنوبی منطقو دامیر په حیث مقرر کړ چه دهندوکش دغره دسلسلې جنوبی او شمالی برخې په زړه پوری او په مطلوب ډول اداره شی او پخپله په آزادۍ سره دخپلو فتوحاتو نقشه عملی کړی (۱) استرابو - که څه هم دد متریوس د متصرفاتو د لمن دپراختیا په باب کښې مبهم بحث کوی بیا هم معلومیږی چه د (پاتالنه - Pattalene) علاقه چه ده فتح کړی وه دسند دعلاقې نه مقصد وُ - و روسته بیا په شرقی گندهارا کښې د (تا کزیلا) ښار چه دحربی نقطی نظره څخه ئې ډیر اهمیت در لود او یوه زمانه د موریایانو مرکز شمیرل کیده ددمتریوس په لاس و رغی دیونانو باختری پاچا چه هر کله دغه برخې ونیولې او فتح ئې، کړی د (تا کزیلا) په شاوخوا کښې ئې څینی ښار و نه ودان کړل چه موقعیت ئې په

---

(۱) انگلیسی تارن (په باختر او هندکښې یونانیان) د کتاب په ۱۳٤ مخ کښې لیکی چه هر کله دمتریوس دهند دفتح کولو او نیولو په فکر کښې شو دباختر دحکومت دادارې دپاره ئې ترتیبات ونیول او خپل مشرزوی دوهم دمتریوس ئې په باختر او سغدیان کښې خپل جانشین مقرر کړ.

(بهیر Bhir)او (شیر کپ Sirkap)نومی مقام کښې تا کی ( راولنسن )وائی چه: (دمتریوس داندوس دشرقی خزانه خپلو فتحو ته پسې دوام ورکړاو دسیند دلتا ځمکی ئې و نیولې او د( کتیاوار )یاد(سوراشترا Surashtra) گاونډی سطلنت ئې چه دیونانیانو د(ساراوستس Saraostos )نه عبارت دی تابع او مطیع کړ ،سربیره په دی د (سیجردیس Sigerdos )سلطنت ئې چه قا کل ئې یو مشکل کار دی په لاس راوو ړ ـ ښائی چه د(پتالی) Pattala)او د(سوراشترا) تر منځ یو کوچنی سلطنت وی (۱)

(راولنسن)په دغه باب کښې ډیر توضیحات هم ورکړی دی او دهغه بیان په تعقیب چه دمخه وشو وائی چه: (سربیره په دی دسو احلو دغاړ و دسلطنتو نو په باره کښې حقائق په لاس

کښې شته او ښکاره کوی چه د پنجاب زیا ته برخه هم دد متریوس په لاس ور غله) دمتریوس هغه وخت چه داندوس شرقی منطقی ئې په لاس راوړی نو په دغه ځای کښې ئې یو ښار جوړ کړ او هغه ئې د خپل پلار دنوم په احترام په ( ایو تیدمیا)سره و باله ،ځینو د دغه ښار دو دااو نو ّنسبت پخپله(ایوتیدم )ته هم کړی دی خو لو مړ ی نظریه ډیره صحیحه ده.

د(ایو تید میا)دښار په تـا کلو کښې نظریات مختلف دی چه ځینی خلک ئې (سا گالا Sagala) بولی او ځینې ئې (جهنگ ـ Jhang)ته نزدې(شار کوت Shorkot)او ځینې ئې لاهورته نـزدې (سیا لـکوت) بولی ،او وروسته به له هغو ښارو نو نه مفصل بحث وکړو چه د دمتریوس له خوا دان شوي دی ، د لته مونږ له هغو فتوحا تو څخه بحث کوو چه دمتریوس دهند په خاورو کښې کړی دی ډتارن وایـی(۲): هغه وخت چه د تا کزیلا ښار د دمتریوس په لاس ورغی دهند دصحری په دواړو خوا و په دوو خطو نو کښې دده پرمخ تگ ممکن شو : یو جنوب شرقی خوا ته د هغې لوېې لاری په اوږدو کښې چه د پنجاب داوسنی د هلی له لارې نه تیرېدله شوی او دگنگا دحوزې او دموریا یانو دپای تخت یعنی د(پاتـلی پاتـرا Patliput ra ) دښار خوا ته

(۱)د( باکترا ) داچ ،جی (راولنسن )دتالیف (۷٦)مخ

(۲)په باختر او هند کښې د یونانیانو د کتاب ۱٤۱ــ۱٤۰ مخ

تلله، اوبل د جنوب غرب او جنوب ختو اته دانه وس دسيند د توئیدو ترڅای (مصب) او دهغه نه ترهغې خوا برخې پورې تالي ؤ. اسکندر هم په دغو د وو خطو نو کښې د پرمخ تګ قصد کړی ؤ خو دمتر یوس د دوو لائقو جنرالانو په لرلو سره چه یو (اپولو دوتوس Apollodotus) او بل (منانډر Me Nandre) دی، موفقیت حاصل کړ. دوه یوناني پخواني منابع چه (تروګ ـ ث Trogu) او (اپولودوروس) دی د شمال غرب دعلاقې دنیولو او فتح کولو نسبت دریو تنو ته کوی چه (دمتریوس) (اپولودوتوس) (او مناندر) دی او زمونږ دغه نظریه کښاماه تائید وی، اوله دغه ځای نه هم واضحه معلومیږی چه د باختر پاچا د خپلو دوو جنرالانو په ملګرتیا دهند دنیولو پاره څرنګه نقشه جوړه کړې وه.

ددې د پاره چه ددوی کارونه او اقدامات په ښه شان سره معلوم شی ددریو حالت جلاجلا. ترکتنې او څیړنې لاندې نیسو.

د د متریوس خط: لکه چه د ځینو قرینونه معلومیږی پخپله د آریانا پاچا دنظامی قوماندان په حیث د سند خط او د هغه مـر بوطـه علاقـه نغتیبولـه، د (پـتا نجـالـی Patanjali) د صرف ونحو د یوتفسیر (۱٤٦ مخ کښې «سوویرایانو» «Sauviras» (دسندشا ؤ خوا او سيد ونکو) (د اتامیتر Dattamitra) نومی یونیارود ان کړ. د غه (داتا میترا) (په مهابـاراتـه) کښې د (یـاوانـا) او (سـوویـر ایـان) د سند دخلکوا ویونانیانو دپـاچا پـه حیـث یـاد شـوی دی، او بیله شك او شبهې نه له دمتریوس دباختر دپاچانه مقصد دی.(۱) وروسته بیا دمتریوس دوچې دلارې او یاد اندوس دسیندداوبو دلارې نه ښکته شو او که چیرې داو بو دلارې نه ښکته شوی وی نو معلومیږی چه د آریانا فاتح پاچاڅښتې بیړۍ هم درلودې لکه چه (تارن) دغه عقیده لری دباختر پادشاهانو په اکـوس کښې یو شمیر بیړۍ درلودلی، او په مسکوکاتو باندې د ریغاخیزه نیزه د وی دبحری قوا ؤ ممیزه نښه شمیرل کیدله په دغه ډول پخپله د باختر پاچا

(۱) په باختر او هندکښې دیونانیانو دکتاب ۱٤۲ مخ. د غه کتاب د تارن تالیف دی

د متریوس هغه خط چه دځان دپاره ئې ټاکلی ؤ تر او قیانوس پورې طی کړ او ددغو علاقو دنیولو څخه وروسته بیر ته تاکزیلا ته راغی په دغه وخت کښې (اپولودوتوس) چه دی هم دآریانا د پاچاورور او همنئې جنرال بولی دا اکوزی د (دمتریاس) له ښارنه شرقی جګدروزیا فتح اوونیوله.

### د (پستا لی پوترا) خواته د منا ندر د حرکت خط.

منا ندر د باختر د پا چا (د متریوس) په زمانه کښې د یولوی اوستر جنرال په حیث شهرت موندلی ؤ د غه سړی په اصل کښې د اوسنی (خواجه سیاران) په لمن کښې د (اوپیان) په ښار کښې زیږیدلی دی او دهمدغه جهت نه (تارن) دی د پا روپا میزا دی له یونانیانو څخه بولی او وائی چه په یوکلی کښې د دهٔ زیږیدل ښکاره کوی چه دده پلار یو لوی زمیندار ؤ او په یوه محکمه ټینګه کلاکښې زیږیدلی دی او په هغه رشادت او مهارت سره چه حاصل کړی ئې ؤ د جنرالۍ مقام ته ورسید (۱)

دمخه موا شاره وکړه چه تا کزیلا ته دآریانا د پاچاد رسیدلونه وروسته د یونان او باختری د دولت د عسکرو د پاره په دوا ړو خوا وکښې د حرکت امکان پیدا شو، یوه د اندوس په اوږدو کښې چه پخپله د متریوس هغه پخپله غاړه واخستله او وروسته ئې ورسره له، او بله (پتالی پوترا) خوا ته شرقی لاره وه.

جنوب شرقی خواته د مناندر پرمخ تګ له یونانی او هندی دواړو منابعو نه معلومیږی او ځینی هغه کسان چه د یونان او باختری عسکرو د حرکت له خطوطوا و پلان څخه پوره خبر ندی نو ئې ولی هندی فتحی مناندر ته منسوبوی حال دا چه د آریانا پاچا او دده جنرالان د یوی نقشې له مخی په جلا جلا خطوطو مخ په وړاندی تلل. (اپولودوروس) وائی چه یونانیانو (یعنی د باختر یونانیانو) دمتدونیانو یعنی دا (اسکندر) په نسبت په هند کښې ډیری فتحی وکړی او د هندیانو څښتنان او ما لکان شول، د اسکندر په نسبت ئې ډیر قومونه شا ته وو هل

---

(۱) په باختر او هند کښې یونانیان دکتاب ۱٤۱ مخ.

او وئي شړل، دغه کارونه زیاتره د (مناندر) په لاس او یو څه لږ د دمتریوس له خوا وشول (تارن) دغه جملې تجزیه کړي او لیکي: له دغه جملې نه چه (د وی ئي شاته وهل) معلومیږي چه دمتریوس او مناندر دواړو په ګډه او په شریکه کار کاوه؛ او مناندر له دمتریوس نه مخکښې لاړ او زمونږ د دغه نظریه ذ هغه شي په باب کښې تائید وي چه د مخه مو ولیکل، ځکه چه دمتریوس پخپله د اند وس خط بې تعقیب کړ او مناندر مؤظف و چه د (پتالي پوترا) خواته مخ په وړاندې لاړ شي، مناندر په دغه لاره مخ په وړاندې لاړ او د (هیپانیس Hypanis) په آس د «ایومانس» Iomanes (جمنا) له سیندو نږنه پورې پورې تاو دګنګا په حوزه کښې د (پتالي پوترا) ترښار پورې ورسید.

په دغه ترتیب او بیاني فاتح جنرال د هغې نقشې له مخې چه د آریا ناد پاچا دمتریوس له خوا ئي کښل شوې وه تر آخري نقطې پورې مخکښې لاړ او حتی دموریا دامپراطورۍ پای تخت ئي ونیو.

او داندوس له کیښو سواحلو نه د ګنګا ترغاړې پورې ټول شمالي هند د یونان او باختري شهنشاهي متصرفاتو جزو ګرځید.

د (پتالي پوترا) خواته دیونان او باختري دولت دقوماندانانو پرمخ تګ له هندي منابعو نه هم معلومیږي، لکه چه (تارن) د دغه مطلب د ثابتولو د پاره د یوګا پورانا Yuga - Purana (۱۳۲ مخ) شاهد راوړی او وائي چه یو ائحی د مناندر د حرکت دخط تعقیب زمونږ مقصد ښکاره کوي.

په دې کښې هیڅ شک اوشبهه نشته چه د آریانا پاچا دمتریوس د خپل جنرال (مناندر) سره لومړی په (تاکزیلا) کښې ځند او توقف وکړ او د خپل حرکت دغه نقشې ئي په دغه ځای کښې جوړې او ترتیب کړې. مناندر لومړی (ساګالا) یعنې د (چناب) او (راوی) ترمنځ سیالکوټ ونیو؛ او وروسته بیا چه د دغو علاقو امارت دیونان او باختري دولت له خوا ده ته وسپارل شو او دغه ځای ئي خپل مرکز وګرځاوه نو دده په نامه (میلنداپانا Milindapana) سره مشهور شو.

ACKU

و روستەبیاد(اپو لو دو ر و س)پەشپادت د(بەآس)لەسیندنەپو ر یو وت (١) پەس لەهغە (یو گاپور اناه Yuga-purana )لە(یاو انا)یعني یو نانیانو نەدداتو ر االوجمناپەعلا فەکبني بحث کوی .بیاهمدغەهند ی ماخلپە(ساکتا Saketa )دراو د)بەعلا قەاو د( پنچا لــی Panchala)پەعلا قەیعني دگنگاالوجمناپەدوباو بو کني لە(ناو انایانو )نەبحث اوخبری اتر ی کو ی .از پەآخرە کني (اپو لو دو ر و س)او دغەهندی ماخذدو اره دەو ر یایانو دپا ی تخت یعنی (پتا لی پوترا) او داو سنیر (پتنی )دنیو لو پەباب کني بحث کو ی .لنلەداچە(منادر ) لا مور تەنژدی لەسیالکوټ نەتر (پتالی پوترا)دگنگاتر غار ی پو ری دعەتو لەپو احەمنطقە دآر یاناد پاچاپەفرمانو نیو لەاو دیو نان او باختری دولت دەتصـر فا تو جز ئی و گر ځو لـه .

پەاستعماری اقداماتو کني داپو لو دو ت سهم(برخه) : دمخه مور و یل چە(اپو لــــو

دو ت )دار اکوزی دومتر یاس لەښار نەدجنو ز یادلا ر ی دسندخر اتەر اغی او پەتنگەزیـلا کبني دآر یانادپاچاسر ەیو ځای شو (اپولو د وت )لو مړ ی دبحر ی قو اؤ پەمرستـه هـغه ولا یتو نەو نیول چەدانډوس پەسو احلو باندی سوار ه وه اوحاکمیت ئی د ر لو دا و بیا ئی (راجبو تانی ) تەمخەو کړ ه.دەد(کچ )( Kutch )علا قەو نیو لەاو دسو احلو پەاو ږدو کبنـی دجنوب غر ب خو اتەمتو جەشو .بطلیموس پەدغو ر خو کبني لەیو نانی ښار ځخـه چـه (تە او فیلا Theophila) نو میږ ی بحث کوی . اودغە ښار دانډ وس د د لتا پە غر بی منطـقـوکبني وُ اوموقعیت ئی د( پتالی Patala ) دلا ر ی پە سر پەاو جن Ujjain کبني بو لی ؛ نا رن وا ئی چە دغە ښا ر پەاصل کني هندی وُاو داپو ل دوت دفعالیتو لەکبلەدو هم ځل و د انشو او دباختر ددغەپاچادمور پەنامە(تەاو فیلیا)سر ەمشهو ر شو.

دمخەمو ددمتر یو س دپلار ایو تیدم دفتو حاتو پەبیانو لو کبني سو احاو تەنژ دي او دسند دځینو علاقودنیو لو ځخه بحث و کر (تار ن)داپو لو دو ر و س پەاستناددە پتالن Patalene دعلاقی دانډو س دلتاه او دهغو ساحلی ځمکو دنیو لو نسبت چە د(سار اوستس Saraostas دسلطنت او دسیگر دیس Sigerdis دسلطنت نەعبار ت دی او د (سور اشترا Surashtra او دکتیاوار دعلاقو دنیو لو او فتح کو لو نسبت داپو لو د و ت تەکو ی.

---

(١) اسکندر ددغە سیندلەغار ی نە بیرتە پە شالا ر .

ACKU

لکه چه د «مسافرت بحر اریتیر» ته «Periplus maris Erythraee» د مؤلف
دا یکنو ښخه معلومیږی «اپولودوت» په گجرات او د کمبی د خلیج په شرقی سواحلو کښی
د «بریگازا Brygaza» یعنی د «براچ Broach» بندر چه د کتیاوار په مقابل کښی
پروت دی هم ونیو. او د دغه کتاب مؤلف وائی چه: د «اپولودوت» او «مناندر»
مسکوکات په دغه بندر کښی په اول مسیحی پیړی کښی مونږ ته لاس کیدل او دغه مسکوکات د هغی
زمانی شواهد دی چه د آریانا د پاچاه «دمتریوس» له خوا «مناندر» او «اپولودوت» فاتحو
جنرالانو د هند په نیولو او فتح کړو برخو کښی د امیرانو په حیث حکومت کړی دی.
په دغه ډول «اپولودوت» د هند د جنوب خوا ته تر کتیاوار پوری ځمکی او د گجرات یوه
برخه یعنی «باریگازا» او «سورت» ونیول «باریگازا» د وچی او بحری مراودو په لحاظ ډیر
اهمیت درلود ځکه چه اموری خوا د غرب له اوری نه د دریاب لاره ورته رسیدله او نه بلی
خوا له دغه ځای نه د «اوجن» او «ویدیسا Vidisa» او «کوزامبی Cosambi» خوا ته د جمنا په
غاړه د گنگا په سواحلو کښی «پتالی پوترا» ته یوه لاره تلله.
دیونانانو باختری دولت په لاس کښی د موریا خاوری. د پنځم فصل په دوهمه برخه
کښی د موریا په بحث کښی په مفصل ډول او د دغه فصل په اول کی مو په لنډه ډول ویل چه
موریایانو په آریانا کښی د مرکزی سلطنت د ښتوالی نه استفاده وکړه او د هندوکش شرقی
منطقی او ځینی نوری جنوبی برخی ئی ونیولی میدان ته دا یو تیدم پهر او تلو سره د آریانا
اصلی خاوره د اندوس تر سواحلو پوری په خپله د هغوی له وجوده خالی شوه، او په تخت
باندی د «دمتریوس» په کیناستلو سره د هغوی ترولی حیاتی منطقی د دوی د سلطنت تر مرکز
«پتالی پوترا» پوری د باختر د متصرفاتو جز شوی.
د فتوحاتو د دغی نقشی له مخی چه د «دمتریوس» په هند کښی جوړه کړی وه او بیان ئی پخو
وشو، واضحه معلومیږی چه د آریانا د پاچا مقصد د «موریا» د کورنۍ د ټولی اصلی خاوری
نیول وو (۱) د «پتالی پوترا» د موریا د امپراطوری د پای تخت، تاکزیلا په شمال غربی علاقه کښی

(۱) تاریخ ددی عقیدی سره موافق دی په باختر او هند کښی یونانیان د کتاب ب ۱۵۲ مخ دی
وکتل شی.

د هغوی دنیا بت ساطنت مرکز ، او ایو جن دغرب خوا ته د هغوی دنیابت سلطنت مرکز تول د آریانا دپاچا او د ده د قوماندانانو له خوا ونیول شول «تارن» ، اتی چه اوس په «پتالی پوترا» کښی د متاندرسره ، او په ایوجن کښی د اپولو دوت سره او پخپله دمتر یوس په ټاکزیلاکښی د هغو ریاد امیراطوری دری اساسی نقطی ، دری واړه د اریی مرکزونه د دمتر یوس په لاس ورغلل .

آریانانه د دمتر یوس بیرته را تګ او نوی مقرری : دمتر یوس د ډیری موډی غیاب

او دخپلو فتوحاتو دنقشی د عملی کولو ، نه وروسته له ټاکزیلا نه آریانا او دخپل سلطنت مرکز باختر ته بیرته راغی .

لکه چه معلومیږی له ټاکزیلا نه د ده بیرته راتګ په عوری او په غیر مترقب ډول شوی دی یعنی احتمالا تر دغه وخته پوری د متصرفاتو په اداری نقشو بوخت وچه کرمی غیر مترقبی پیښی په فوری صورت په باختر کښی د ده حضور غوښتی او ایجاب کړی دی .

څینو د دی پیښی نه د دوهم ایوتیدم نزوی په مرګ سره تعبیر کړی دی چه په باختر کښی ئی امیر په حیث پری ایښی و او یا دغه واقعه د شمال د باندنیو اوسیدونکو (یا دیه نشینانو) د حملو له کبله تشویش او یا دغه دواړه صورتونه وو .

په هر حال علت چه هرشی و ، و به د تارن د نظر یی له مخی په هند کښی د آریانا د پاچا د مخ تګونه د ده ۱۷۵ ق ، م په شاوخوا کښی پای ته ورسیدل او د آریانا او بیا باختر خوا ته بیرته راغلی دی .

د سلطنت له مرکز نه څو کالنی غیاب او لیری والی طبعاً غوښتل چه د داخلی امراو او حاکمانو په مغزو او لولو او پرینبو دلو او په اداری تشکیلاتو کښی بیا غور وکړی .

په آریاناکښی د دمتر یوس له مړی کاردا وچه د خپل کشرورور (اپولو دوت) په ځای چه د هند د نیولو د حمکو په اداره بوخت و خپل دریم زوی (پانتالئون Pantaleon) د سیستان او اراکوزی د امیر په حیث مقرر کړی ، پانتالئون په سیستان کښی دخپل نیکه (ایوتیدم) دیر مسکوکات خپاره کړل او تر دی چه د هغه د سکی ضرب لو ته ئی پسی دوام ورکړ :

دمتر یوس هغه وخت چه د هند په خاوره کښی د ځمکو د نیولو په نیت ، وانید ، د هند و کش په

جنوب کښې ئې دپار و پامیز ادی په علاقه کښې خپل پلار زوی (د وهم دمتریوس) د میر په حیث پریښود، هغه وخت چه له هندنه بیرته راغی او دخپل زوی دوهم ایوتیدم دباختر دامیر دمرګ خبر ئې واوریده، نو دوهم دمتریوس ئې په باختر کښې مقرر کړ او دپار و پامیزادی ولایت ئې هم د سیستان اواراکوزی امیر (پانتالئون) ته ورکړ؛ عین همدغه کار د دوی دنیکه ایوتیدم په زمانه کښې هم شوی ؤ ځکه چه پخپل دمتریوس دباختر پاچاد شهزادګۍ په زمانه کښې لومړی دار اکوزی او سیستان امیر ؤ او دمور پا بانو د نفوذ دخلاصیدو او لیری کیدونه وروسته ئې د پار وپا میزادی په ولایت کښې هم نظارت او پا مارنه حاصله کړه. ځینې کسان دغه عقیده لری چه د متریوس په دغو ترتیباتو او مقرر ریو سره عزم د رلود چه بیرته هندته لاړ شی.

دده زوی دوهم دمتریوس تر هغه وخته پوری چه دپار وپا میزادی امیر ؤ دخپل پلار په نامه او تصویر ئې سکه وهلې ده: خو په باختر کښې دنه زامنو دوهم ایوتیدم او دوهم دمتریوس چه یو په بل پسې ددغه ځای امارت ته رسیدلی دی پخپل نامه او تصویر ئې سکه ضرب کړه (پانتالئون) ددمتریوس دزیم زوی دسیستان، اراکوزی او دپار و پامیزادی امیر ده سکه نه لری او وائی چه دیره وده ئې لا حکومت او امارت نه ؤ کړی چه مړ شو او ځای ئې دده خلورم ورور (اګاتوکلس Agathocles) ونیو؛ ددی دپار دچه وضعیت پټ او په تیاره کښې پاتی نه شی نو لاندی د آریانا له داخلی امارتو نو او دهغه دنیول شوو ځا یو د امارتونو او دیونان او باختری امپراطوری ځخه بحث کوو:

دپار و پامیزادی امارت: دیونان او باختری دولت په اداری تشکیلاتو کښې دغه امارت لا دایوتیدم له زمانو ځخه موجود ؤ خو هر کله چه په دغه وخت کښې د وریاپانو نفوذ نوی له دغه ځای نه ورک او لیری شوی ؤ نو زیاتره پخپله دپاچا له خوا اداره ید زمانه هم دده دزوی دار اکوزی د امیر له خوا اداره کیده.

ددمتریوس دزمامداری په زمانه کښې دپار و پامیز ادی دامارت رضعیت، وښانه شوی دی او دآریانا ناله مرکزی کوهستانو ځخه تر له کاپیسا او ګنده هارا دانه وس تر غازی پوری ددغه امارت جزؤ او امیر ئې له کاپیسانه دغه تر له پراخه سیمه او خطه اداره کوله

ACKU

لکه چه و روسته د چینی زائر (هیو ان - تسنګ) د تیر یدلو په وخت کښی هم اداری وضعیت دغسی ؤ.

دمتریوس هغه وخت چه هند ته روانیده خپل یو زوی دو هم دمتریوس ئی د دغی لویی علاقی امیر مقرر کړ او ده ته ئی د پر اهمیت ورکړ او ځکه چه هغه غوښتل چه د تاکز یلا نه د باختر سره ئی ارتباط د ډیره ذریعه قائم وساتی. د پارو پامیزادی امارت د هغه موقعیت نه کبله چه دراو ده ئی په رښتیا چه ډیر اهمیت خاوند ؤ. د هند وکش هغه تولی لویی لاری چه باختر ئی د جنوب سره نښلاوه په دغه امارت کښی واقع شوی وی، او داراکوزی او سیستان د امارت او دانډوس نه هغی خوا ته د نیول شوی ځمکو (متصرفاتو) لاری تولی له دغه ځای نه تیری شوی.

دو هم دمتریوس په کاپیسا کښی یا لکه چه (تارن) وائی د کاپیسا (پروان) د اسکندریه په ښار کښی سکه ضرب کړی ده خو د خپل پلار د پاره ئی سکه ضرب کړی. د نه دغه د پاره. ځکه چه دده په خاور درهمی (تترادراکم) دراوسکو کښی دده د پلار عنوان (دمتریوس نه مغلوبیدونکی یا چا) ثبت دی. په دی سربیره (خلورکونجو) سکو کښی ئی هم دده د پلار صورت د فیل د سر د شهوری خولی سره او هم ئی د دغه عنوان نقش کړی دی. هر کله چه د پراکریت ژبه او خروشتی رسم الخط د هند وکش په جنوب کښی مروج وو او عمومیت ئی در لود نو هغه ئی هم پخپلو مسکوکاتو کښی په کار کړی او لیکلی ئی دی او په دغه لاره کښی ئی هم د خپل پلار سیاست تعقیب کړی او نیولی دی

هغه وخت چه لومړی دمتریوس د آریاناپاچا له هند نه بیر ته راغی د وهم ابوتیدم دده زوی د باختر امیر وفات شوی ؤ، له دی کبله د کاپیسا او پار و پامیزادی امیر یعنی د و هم دمتریوس ئی باختر ته واستاوه او د پار و پامیز ادی امارت ئی هم سمد ستی پدار اکوزی او سیستان پوری مربوط کړ او له دی جهته دی چه پانتالئون به دغه برخه کښی هم نفوذ او آمریت مرندلی دی.

د پانتالئون نه وروسته د دغو رمورور (اګاتوکلس) دامیر په حیث په کاپیسا او پارو پامیزادی کښی امارت کړی دی.

درکله چه د پارو پامیرادی ولایت او مرکزي کاپیسا په دغه دوره کښې ډیر اهمیت درلود او د باختر دیونانیانو له سقوط نه پس چه دوروسته په ئې بیان وشي د کاپیسی او یونان د دولت کانون شمیرل کیده او د دغه ځای د ام اوو مسکوکات د کاپیسا د فارقه او جلاکونکي علامي په باب کښې مونږ ته ډیر معلومات راکوي : دغه په تفصیل بیل کوو ځکه چه ددې ډیرئي اهمیت او مقام ددې زماني او ددې روسته عصر په تاریخ کښې د بیان او توضیح خوا ډي.

دپارو پامیرادی په امارت کښې دیونانانو ناواګانو کلس د مسکوکاتو په شو ځرا کښې څینې کتنې او ملاحظات : دیونان او باختری پاچا (دمتریوس) د نورو ځانو په شان د غراو راوو په مسي ګرد وسکو کښې د ځان د پاره مشخص عنوانونه غوره نه کړل او یو الحی خیال تصویر او شاهي عنوانئي د (زوس (Zeus) دناست تصویر سره چه په خپل لاس کښې ئې د ډیري سرپ چسمه نیولي ده ، ضرب کړي دی . زوس په دغه ځای کښې له هغه قبیل نه عبارت دی چه د (کاپیسا) رب النوع ده ، او د (پارو پامیزادی) د علاقې پاچا چه مرکز ئې د (کاپیسی) ښار ؤ باید چه د ښار فارقه علامه په خپلو سکو کښې استعمال کړي ؛ که څه هم د لیسري احتمالاتو نه معلومیږي خو د مسکو کاتو له مشابهت نه دا سې څرګندیږي چه د سیسان او اراکوزي علاقه هم په دغه زمانه کښې هم دغه د پارو پامیرادی امیر ادا ره کوله.

هغه خاص شي چه په دغو سکو کښې د توجه وړ دی د هکات ( Hecate ) د رب النوع د ډیري سره شکل دی چه تراوسه پوري په معنی ئې څوك پوره پوه شوی نه دی او زیاتره دپای تخت محلی موقعیت او جغرافیائي وضعیت ته ئې اشاره کوي . هکات هغه رب النوعه وه چه په هغو ځایو کښې به ئې ستاینه او پرستش کیده چه دد ری لاریزي په سر کښې به واقع وو . دپارو پامیزاد په علاقه کښې هغه ځای چه دد ری یو مهمو لاروپه سر کښې پروت ؤ بیله کاپیسانه بل ځای نه دی ځکه چه د کابل دلا ری نه دباختر ، هند او دا راکوزي لاری پکښې یو ځای کیږي . سربیره په دې هغه بل شي چه : د ( هکات ) له وجود دنه د (زوس) په لا س کښې معلومیږي دادی چه (زوس) دیونانیانو په زمانه کښې دکاپیسا رب النوع وو او په همدغه مناسبت په هغو مسکوکاتو باندې نقش ده

چه په دغه ځای کښې ضرب شوي دي، نو پانتالئون او اګاتوکلس به په بل پسې د ښار و پېرزادي د علاقې لپاره او ورادوي د قلمرو مرکز هم دغه کاپیسا وه.

سربېره په دې د (مسکوکات) د رب النوع وجود د (پانتالئون) او (اګاتوکلس) په مسي مسکوکاتو باندې ځینې نورې روښنانې ګانې هم اچوي، د مسي ګرد و مسکوکاتو او د نیکلي مسکوکاتو په مخ باندې د «دیونیزوس» (د انګورو او شرابو رب النوع) د تیم تنه ځوان په قیافه او صورت او په کین مخ باندې د پړانګ هیکل نقش شوی دی.

هر کله چه د دغو سکو مضمون په یوه ژبه دی نو معلومېږي چه د آریانا په یونانیانو پورې مخصوص دي، او د (دیونیزوس) شکل ئې لکه چه ځینې ګمان کوي د هندي (شیوا) سره رابطه لري او یوناني (دیونیزوس) سل په سلو کښې د انګورو او شرابو رب النوع ده (۱) د دې په عکس مسي مربع مسکوکات چه په دوو ژبو سره ضرب شوي او په هند پورې مخصوص دي، و پښتو یو مخ باندې هندي نڅېدونکې (رقاصه) نجلۍ په هندي لباس کښې ښيي چه په خپل لاس کښې ئې یو ګل نیولی دی او په کین مخ باندې ئې هماغه پړانګ نقش دی که څه هم زمری عموماً د تاکزیلا په سکو کښې ایدل شوی دی او ځینو خلکو ګمان کړی دی چه د دغو سکو پړانګ هم په حقیقت کښې هم دغه زمری دی، او په نتیجه کښې ئې د سکې ضرب ځای تاکزیلا ته منسوب کړی دی، خو څرنګه چه (زروس ـ مسکوکات) ځانته مخصوص ښار درلود چه په کاپیسا کښې ؤ. د (دیونیزوس) تصویر هم په یو ټاکلي ښار باندې دلالت کوي چه (نګار اهارا) یا ننګرهار (هاره) د چه (بطلیموس) هغه (نګارا Nagara) بولي او په عین زمان کښې (د یونیزوپولس Dionysopolis) یعنې د (د یونیزوس) ښار هم یاد شوی دی. او هر کله چه (نګارا هارا) چه نن ورځ هم په هماغه پخواني لهجه ورته (ننګهار) وائي

(۱) مدام نیله کرک امریکائی. دغه عقیده لري چه (دیونیزوس) د «نیسا» یا (نیسه) د ښار رب النوع وه او دغه یوناني نوم له هغو ښارو نه د یو ښار نوم دی چه په ازمنت بګرام کښې وو.

دپار و پامیزادی په‌شرقی قلمرو کښې پروت ؤ او د پخوانۍ آریانا له‌پیرو مهمو ښارونو څخه یو ښار شمیرل کیږي، ډیر احتمال لري چه د (پانتالیون) او د (اګاتوکلس) مسي څلورکونجه (مربع) مسکوکات په دغه ځای کښې ضرب شوي وي، او هر کله چه (نګارا هارا) د آریاناد شرقي سرحداتو څخه پروت ؤ نو دغه ځای په‌مسکوکاتو کښې د آریانا د یونان او باختري او هندي جامعی مشترک عوامل دي یعنې په انګ د (دیونیزوس) دښار فارقه‌علامه باختري‌جنبه او هندي رقاصه دهند د فضا سره د هغې د نژدیکت او قرابت جنبه ښکاره کوي.

باید دا وویل شي چه (اګاتوکلس) یوه سلسله مسي مربعي سکې هم لري چه په هغو کښې بیخي یوناني ژبه‌استعمال‌شوې نه‌ده دسکې دواړه‌خواوې په‌محلي (پراکریت) ژبه‌ضرب شوې دي دسکې په‌یو مخ باندې د (اګاتوکلس) نوم‌او په بله خوا باندې ئې یوه داسې کلمه ثبت شوې ده چه هغه ئې (دیډیاسام Hidiyasame) بللي ده‌او په بیلو بیلو صورتونو ئې ترجمه کړې ده او په ټولو کښې مناسب ئې (دیکایوس dikaios) دی چه‌معنی ئې (د هندیانو په نسبت عادل) دی‌بایدو ویلی شي چه‌دا ګاتوکلس دمسکوکاتو او د تاکزیلا دبودي سکو ترمنځ ډېره نژدیکتونه او قرابتونه موجود دي، لکه چه‌ځینو همدغه‌موضوع دلیل‌ګڼولی او وائي چه‌بایدا ګاتوکلس په‌تاکزیلا باندې حکومت کړی‌وي خو حقیقت داسې نه دی ځکه چه د متریوس دګندهارا حکومت چه‌د تاکزیلاد علاقې او دا ګاتوکلاس دحکومت د قلمرو ترمنځ پروت ؤ (اپولودوتس) ته پری ایښی ؤ، په بل عبارت دا ګاتوکلس مخصوص قلمرو دقفقاز له‌اسکندریې نه د سیستان خواته خپور شوی ؤ نه دهند خواته. دتاکزیلا د بودي سکو او د اګاتوکلس د سکو ترمنځ دځینو مشابهتو علت په‌دې پوری مربوط دی چه‌په‌دغه‌ښار کښې ځینو تجارتخانو دتجارت دپاره سکه‌ضربولې چه یوه برخه ئې په غرب پوری مخصوصه وه او دکاپیسا (پروان) داسکندریې ښار د دغه رخت د غربي عالم دروازه شمیرل کیدله.

د «اګاتوکلس» دځینو نورو سکو له‌خصوصیاتو څخه‌یو دادی چه په‌پراکریت لیکنو کښې ئې د آریانا دمحلي خروشتي رسم‌الخط په‌ځای (برهمني) رسم‌الخط لیکل‌شوی دی،

ACKU

پانتالئون او اګاتوکلس چه اشی دپاره او پامیز ادی دو امیرانو د دیمتریوس دیوتان او باختری
پاچا په ځامنو او ا... او د کښې د غه کار ته اقدام کړی دی او علت ئې دا دی چه دپاره او پامیز ادی
دامارت شرقی حدود د دوی په زمانه کښې د اندوس تر غاړو پورې وو او د خپل پلار
د سیاست په تعقیب د هند سرحدونو ته د ننوتلو د خطر دپاره ئې د وی په رسم الخط
هم سکه ضرب کړی ده .

دارا کوزی او سیستان امارت : د مخه وویل چه دیوتان او اختری سترا او مدبر پاچا
(اپولو دوتس) د مملکت د ښې اداری دپاره څینی امارتونه میدان ته راو ایستل او د هغو دا دا ری
واګی ئې د سکی د ... بو او د نور د وپور د اختیاراتو سره خپلو زامنو ته
په لاس کښې ورکړی .

د دیمتریوس د وی او جانشین ئې هم د غه رویه پسر ونیوله ، او حتی د هند نیول شوی او
فتح شوی ځمکی ئې هم په همدغو اصولو اداره کړی ، د ارا کوزی او سیستان امارت
د دیمتریوس په زمانه کښې د هغو په شان په خپل حال پاتې و ، د آریانانو پاچا او مری خپل
ورور (اپولو دوت) په دغه ځای کښې دامیر په حیث مقرر کړی و ترڅو چه ملکت نیولو
نقشه ئې طرح کړه او پښتونخوا تاکز یلا ته لاړ او (اپولو دوت) ته ئې امر وکړ چه (جدوزیا)
فتح او ... او په تاکزیلا کښې د دیمتریوس ځای شی .

له هغه نه وروسته د اتګث او له هغو مشاغلو نه ورو سته چه خپل ورور (اپولو دوت) ته ئې په دغه
ځای کښې ور کړی وو ، خپل د ... (پانتالئون) ئې د سیستان او
ارا کوزی امیر مقرر کړ .

د (پانتالئون) مسکوکات ډیر کمیاب دی او په سیستان کښې ئې زیاتره د خپل نیکه اپولو تیدم په
نامه سکه ضرب کړی ده ، داسی معلومیږی چه څینی وختونه به د دغه امارت احاطه لوبه
شوی وی او تر پار و پامیز اداو د هغه تر مرکز (کاپیسا) پورې به هم خپره او رسیدلی وی ، لکه
چه څینو اشتباه کړی ده او وئی ئې دپاره پامیز ادی امیر او د ده د امارت مرکز ئې کاپیسا بللی دی ،
د ده دوله مت تاریخ د ۱۹۰ ق ، م کال شاوخوا ته منسوبیږی .

پانتالئون د دیمتریوس د نیور د ځامنو په شان په هسې ترڅو سکو کښې د خپل ځان دپاره کو مشخصی

عنوان ئې نادى ناكملى او دوې اخي خپل ځان ئې امير بللى دى ، پاچاهانو ئې زياتره په سره و باندې سکه ضرب کړې ده او د دوی او مسکوکاتو په بل مخ باندې ئې يوناني ژبه او په بل مخ باندې ئې د پراکريت ژبه ليکلې او استعمال کړې ده .

دباختر امارت : دمخه ووېل شول چه او مړى دمتريوس هغه وخت چه دباختر په تخت باندې کيناست سمدستي په هند کښې دملکتيو لو په فکر کښې شو ، خو هر کله ئې چه د ځان سره پوه لو په نقشه سنجولي او جوړه کړې وه دار په دې باندې پوه هيله چه دغې نقشې عملي کول ده خو کلن غياب غواړي نو دننه ده مملکت دننه اداري او دآريانا له ادارې مشاو ځخه دزړه د جمع کولو دپاره ده يو نان او باختر د دولت په مرکز يعني باختر کښې ئې هم يو امارت تشکيل کړ او يو زوى دوهم اپوتيدم ئې په دغه ځاى کښې امير مقرر کړ .

دغه امارت لو مړى ځل ده په زمانه کښې او په هند کښې ده د چپاو او نوار ده موده غياب له کبله ميدان ته راوتلى دى ، دوهم اپوتيدم د ۱۷۵ ق م تر شاو خوا پورې يعني تر هغه کال پورې چه وفات شو په دغه ځاى کښې ئې امارت کاوه . او بيا له شک نه پرته ئې د هندوکش د شمال ، باختر ، تخارستان ، سغديان ، حتى د شرقي ولايت يعني د (هرى) آريانا برخې د خپلو ملحقاتو سره اداره کړي ، دده او دوهم اپوتيدم د وفات نه وروسته هغه وخت چه پلار ئې له هند نه بيرته راغى د آريانا په داخلي امارتونو کښې ئې بيا غور رو کړ او دوهم دمتريوس دپاره ئې پاميزادى اميري په باختر کښې و ټاکه او وروسته ياد شوى شهزاده ځاى ئې پاچاهانو ته ور کړ لکه چه دغه پېښې دمخه بيان شوې.

دهند په نيول شوو ځمکو کښې د نوو امارتونو تشکيل ، دمخه ووېل چه ددمتريوس

---

ديونانو او باختري دولت دپاچاهانو او امرو لاندې دده ورور (اپولودوت) او دده له مشهورو جنرالانو ځخه يو جنرال (منا ندر) دهند په نيولو او فتح کولو کښې لويه برخه واخستله ، د متريوس د نيولو او مفتوحه ځمکو داداري دپاره له دغو قوماندانانو نه په غير ئې بل ځوک ، نه مو ندله دې کې له هغه وخت چه باختر ته ئې بيرته مراجعت کاوه دهند ځمکې ئې ددې په منځ کښې وويشلې : لنډه دا چه (اپولودوت) له اندوس نه تر جيلم او د (باريگاز . تر بندر ...

ACKU

دکامبې دخلیج ترسو احاو پوري او (مناندر) دجیلم او گنګا دعلاقو ترمنځ حکومت او نفوذ در لود او دوار ه د آریاناد پاچا د بیرته راتگ نه وروسته د نیول شو و ځمکو په ولایاتو کښې دامیرانو په حیث مقرر شوي وو.

داپو لو دوت دامارت حوزه: په دې کښې څه شک او شبهه نشته چه (اپو لو دوت) په گندهار اباندې هم امارت کړی دی خو ز یاتره د (باریگاز ا) د امیر په حیث شهرت لري او طبعاً ئې د دغو دو و نقطو تر منځ په ټول ځایو کښې حکومت او امارت کړی دی، په گندهار اباندې د ده امارت د دې مسکوکاتو له مخې معلومېږي ځکه چه دکا پیسا (ز و س) او کو پانلر و نسکې غو ندې دغربي گندهارا د مرکز (پشکلاو اتي) فارقه علامه دده د سپینو زرو په مربعو مسکوکاتو کښې لیدل کیږي خو لکه چه ذمخه مو ویل دده د امارت اصلي حوزه مخصوصاً په هند کښې دیو نان او باختري دولت د نفوذ د ځپر یدو نه وروسته داند وس او جیلم تر منځ وه او له تا کزیلا نه ئې د باختر د دولت په نامه په دغه ټول پراخه ټو ته ځمکه باندې حکومت کاوه په هغو مسکوکاتو کښې چه په تا کزیلا کښې ئې ضرب کړی دي د فیل شکل هم لید ل کیږي او ځینې هغه د تا کزیلا د ښار فارقه علامه بولي، او دا هم ځانته قصه لري چه (پورو) د تا کزیلا پاچا د اسکندر د پیدا کیدو او ظهور په وخت کښې یو مقدس فیل در لود چه د مقد ونیې د فا تح په لاس ورغی او هغه ئې د لمر معبد ته اهدا کړ. اپو لودوت دخپل امارت د مرکز په نیو لو سره هغه وخت چه د هند له جنوب څخه د شمال خوا ته د تا کزیلا ښار ته راغی د (پنتالیه) او (ایو جن) د ولایت دکامبې دخلیج ساحلي ځمکې دده دادارې له نفوذ نه لیرې پاتې شوې، په دغه سبب یاد باختر د سلطنت د مدعي په حیث میدان ته د (ایوکراتید) در او تلو په وخت کښې دغه علاقې د یو نانو باختري دولت له سلطې نه ووتلې.

د مناندر دامارت حوزه: مناندر په هغه دې منابعو کښې د دمتر یوس د جنرال په حیث شهرت لري، د (یوگاپورانا) د متن له مخې معلومېږي چه په (پتالي پوترا) کښې پخپله دمتر یوس د ټولو د پاسه یعنې فو قاني آمر و. په مهابارات کښې هغه وخت چه دمتر یوس او اپولو دوت د (پاو انا) د پادشاهانو په حیث یاد شوي دي د مناندر نوم نه دی اخستل شوی او د غه هم په

ACKU

دې باندې دلیل دی چه دی په اول کښې یو الحی دیونان او باختری پاچا ژنرال ؤ.

دمتریوس چه بیرته باختر ته راغی هغه ئی اول دجیلم او گنگا تر منځ محمکو دحکمران
په حیث مقرر کړا او وروسته بیا د دغی علاقی امیرو تنا کسل شو (تارن) وائی چه د پاچا
دمتعلقینو او مربوطینو نه غیره شخص ته دا امارت د مقام ورکول یو بی سابقه کار
دی په دغه صورت کښې یا هغه محمکی چه مناندر ته سپارل شوې وې د پاچا دوزور
(اپولودوت) تر نظارت لاندی هم وی ، او یا مجبوریت داسی پیښه مینځ ته
راوړی وه خو هر کله چه مناندر په دغو جگړو کښې د برغیتلتوب او میارت
ښکاره کړی ؤ : نو دداسی مقام دنیولو دپاره ئی پوره لیاقت دراود.
اپولودوت او مناندر په هند کښې دیونان او باختری دولت امراوو هر کله
چه په هند یاد کښې ئی ژوند ونکړی او له نژدې څخه ئی د هغوی سره او دهغوی
د عرف او عاداتو سره تماس درلود نو د هند پهادبی او مذهبی آثارو او
منابعو کښې ئی ډیر شهرت پیدا کړی ؤ مهابارات ته سر بیره په دمتریوس دیونان
او باختری فاتح پاچا باندې اپولودوت ئی د (بهگا داتا bhagadatta)
په نامه یاد کړی دی ، مناندر په بودائی مأخذ کښې د(میلا ندا) په نامه فوق العاده شهرت
لری او دیو بودائی عالم او فیلسوف سره ئی ازدې مذاکری وکړی چه دتاریخ
په کتابونو کښې غالباً بحث ور څخه کیږی ، او بنائی چه ونږ هم ددغو مطالبو دبیانولو
دپاره فرصت او موقع په لاس نه لرو.

دد متریوس د سلطنت پای : له تاکزیلانه باختر ته د دمتریوس دبیرته راتګ په
وخت کښې ئی ځینی تبدیلی وکړی چه بیا ئی تیر شو : هر کله چه د ده هندی
متصرفاتو په تیره بیا دداری اصولو ئی ډیره توجه غوښتله باختر ته د بیرته راتګ
په وخت کښې بیا مساعدی موقع ته منتظر ؤ چه بیرته تاکزیلا ته لاړ شی لکه
چه د ده دغه اراده د سلطنت د مرکز یعنی دباختر دپاره دیوا مهمه ده کلوله مخی هم
معلومیږی که څه هم کوم واضح سند په لاس کښې نشته چه په آخره کښې د هند ته بیرته

ACKU

لارا وکه نه ـــ ځینې مدققین وائي چه هند ته بیرته لاړاو پــه جنوب شرقي برخــوکښې د منا ندر د امارت پــه قلمرو کښې د ( ما تورا) پــه شاؤ خواکښې وچه په باختر کښې د ( ایوکراتید ) د سلطنت د مدعي د پیداکیدو خبر ئې واورید.

ځینې‌نور د اسې عقیده لري چه پــه مناندر باندې په هندکښې حمله شوې ده او د باختر پاچا ئې کومک ته ورغلی ؤ ، او په دغوجګړو بوختؤ چه شامي سلوسي څلورم انتیوکوس دیونان اوباختري دولت سره د خپلو پارو نو او نیکو نو دښمنې تعقیب کړه او (ایوکراتید) دیونانی باختر یو مقتدر جنرال ئې دتخت و تاج د نیولو دپاره تحریک کړ، په هر حال لکه چه د ( یوګاپورانا) څخه معلومیږي د(ایوکراتید) دحملې‌په‌اثر دهند‌ه‌نځنی برخکی دیونان اوباختري دولت د لاسه ووتلې او په‌هغه‌ترتیب چه پوره واضح ندی ددمتریوس‌سلطنت پای ته‌ورسید •

د د متریوس مسکوکات : د د متریوس مسکوکات د ده د سلطنت په ګذارشاتو او تاریخ باندې ډیره رڼا اچوي او دتابلو په‌شان د ده د سلطنت د دورې رسم کوي د متریوس دباختر مقتدر پاچا په‌حین‌زمان‌کښې چه‌یوفاتح او ملک‌نیوونکی سړی ؤ دمملکت او امپراطورۍ‌په‌اداره‌کښې ئې داسې عاقلانه‌سیاست تعقیب او چلاوه چه‌دخلکو دروحیاتو سره موافق‌ؤ : دده‌دغه‌رویه‌په‌مسکوکاتوکښې هم‌لیدل کیږي ، د ننه د مملکت‌دپاره‌ئې یو ډول مخصوص سکه‌درلوده ، او په‌هغې کښې ئې دخپل‌پلار په‌شان‌دسکې په‌یوه‌مخ‌باندې د(هرکول)دسلطنتي کورنۍ دساتونکی اوحامي په حیث نقش‌کاوه .

دمخه‌مو وویل‌چه‌دیونان‌اوباختري لومړنۍ سلطنتي کورنۍ(زوس)دخپلې کورنۍ د حامي اوساتونکي په حیث نقاکاوؤ.

(راولنسن(دهغې‌سکې له مخې چه(ګاردنر) ضرب کړې ده وائي چه له هغو تصویرو نو نه یو تصویرچه‌دد متریوس‌په‌سکه‌باندې لیدل کیږي باختري (اناهیتا)یا(ناهید)دی

ACKU

چه تعریف ئې په اونستاکښې راغلی دی(۱) او زه نو هم په دریم فصل کښې د دغې بحث کړی دی.

د هند د نیولو شوو ځمکو د پارهٔ ئې د سپینو زرو یو سلسله مسکوکات ضرب کړی او په هغو کښې د نیول شوی (متصرفی) فضا او د خلکو د عرف او عاداتو د مراعات د پاره هندی لباس او د پیل د سر په شکل خولۍ چه د هند د فتحې علامه ده په سر کړی ده، د دغې سکې جزئیات په دغه ډول دی،

د سکې په مخ باندې: په نیم تنې مخ باندې په هندی لباس کښې پاچا لیدل کیږی، په سر باندې ئې د فیل د سر په شکل خولۍ ده، نوشته نلری.

د سکې په کین مخ باندې: هرکول د یو ځوان په قیافه ولاړ دی په کین لاس کښې ئې تیاق او په کین لاس باندې ئې د زمری یو پوستکی ځوړند دی، او خپل ښی لاس ئې په سر باندې ایښی دی، او عمودی ښی خواته ئې (باز باوس) یعنی پاچا او عمودی کینې خواته ئې (دمتریوس) ثبت دی دده د مسکوکاتو مخصوصه نښه ده د ښی ښپې په مخکښې هرکول نقش دی.

دمتریوس بیله دی نه نور مسکوکات هم لری او د نورو معلوماتو د پاره د دې د مسکوکاتو کتلاکو ته مراجعه وشی، دمتریوس د خپلو ځینو مسکوکاتو په کینه خوا کښې د هندوکش د جنوب محلی رسم الخط یعنی خروشتی رسم الخط استعمال او لیکلی دی.

هغه ښارونه چه دمتریوس ودان او جوړ کړی دی: لومړی دمتریوس د یونانی او باختریا پاچا (د هند فاتح) چه هندی منابعو دی (دهرمه میترا) یعنی (عدل پاچا) هم بللی دی یو هوښیار، پوره، سیاستمدار، دادری خاوند — ملک نیونکی او پر داسی سړی چه د حکومت او حاکمیت رویه او چار چلند ئې ترڅو ئې چه د لاسه کیده د خپل ممالکت او د نیولو ځایو د خلکو د عرف

او عادات او د محیط د روحیات سره مطابق او موافق گرځاوه.

دمتریوس د ننه د خپل ممالکت په قلمرو کښې و او که په نیول شوو ځمکو کښې د ښارونو په آبادولو او ودانولو کښې ډیره توجه کوله چه د دغه ډول احساساتو له مخې ئې یو شمیر ښارونه جوړ کړی دی چه د دوی د پلار او مور په نامه مشهور شوی دی او دلته وروسته تر دې په لنډ صورت له هر یو نه جلا جلا بحث کوو:

(۱) د باکتریا د زړا ولسن د تالیف ۷۸ مخ.

(۱) داراکوزی دمتریاس: دغه ښار دهغو ښارونو له جملې څخه دی چه دمتریوس ودان کړی او تاریخ ددغه ښار جوړول په هغه زمانه کښې ده چه منسوبین چه لا تر دغه وخته پورې پاچاهي ته نه وو رسیدلی او دیوتان او باختری مرکزي دولت له خوا ئې په دغه ځای کښې دیو امیر حیثیت درلود په دې کښې څه شک او شبهه نشته چه دغه ښار داراکوزی په ولایت کښې وو او بطلیموس کلاسیکي جغرافیه لیکونکي داراکوزی دښارونو په فهرست کښې ددغه ښار نوم اخلی ددغه ښار ځای په دقیق صورت معلوم نه دی چه دار غنداب سراحلو ته نژدې دی یا بل ری. او ځینې دغه ځای دغلجیو په اوسنی قلات کښې بولی دغه ښار پخپله د دمتریوس په نامه د ... شهرت لري او ددی دپاره چه د دمتریوس د پلار نه ئې چه دسند په حوزه کښې ئې جوړ کړی وو او دده په نامه یادیده فرق وشی نو دغه ښار ئې د (داراکوزی دمتریاس) په نامه و باله.

(۲) ایوتیدمیا، ساګالا، سیالکوټ: هغه وخت چه اول دمتریوس په هند کښې دخپلو فتوحاتو دنقشې داجرا کار او او سرته رسولو دپاره داندوس له سند نه پورې ووت او تکزیلا ئې خپل مرکز وګرځاوه او له دغه ځای نه دهغو خطوطو په اوږدو کښې چه بیا ئې موکړل په پورمخ تګ لاس پورې کړ او د(اکسین Aks-een) دسیند په شرقي سواحلو کښې ئې یو ښار ودان کړ او هغه ئې د خپل پلار په افتخار په (ایوتیدمیا) سره مسمی کړ. دایوتیدمیا د ښار دځای په باب کښې نظریات مختلف دی چه ځینې هغه د (ساګالا Sagala) ښار بولي د اسکندر د فتوحاتو نه پخوا اهم مرجع وو او دده د چپاو نو له کبله بیخی خراب شو او دمتریوس بیا هغه په خپل ... دخپل ښار بنسټ کیښود او ښار ئې ... ندی ودان کړ (ساګالا) یو ډیر ښتمن او آباد ښار وو او داندوس په شرقي څمکو کښې د یونان او باختری دولت د هندی متصرفاتو له مرکزو څخه یو مرکز شمیرل کیده. ځینې نور د(ایوتیدمیا) موقعیت اوسنی (جهنګ Jeun) ته نژدې په (شارکوټ Sharkct) کښې یا د لاهور شمال ته نژدې په (سیالکوټ) کښې بولي.

مکدونالډکرندل ، (۱) د(ساګالا) یاد(ایوتیدمیا) په نامه وخرا کښې د پرتحقیقات کړی او وائی چه د دغه نوم سانسکریتی لهجه (ساکله) یا (سکله) وه چه بیخی د هغه صورت سره موافقت کوی چه بطلیموس ورباندی یاد کړی دی په (مهابهاراته) کښې په کرا تو ویل شوی دی او داسی پرځنی معلومیږی چه د ( مادرایانو Ma ras ) یعنی دهغه قوم پای تخت وچه له باختر نه ئی دغه ځای ته مهاجرت کړی وه د(مهابهاراته) له مخی د دغه ځای موقعیت درا وی د غرب خواته معلومیږی او (آرین) دغه د دغه سیند په شرقی ځمکو کښې بولی او دغی مسئلی دهغه د صحیح موقعیت په ټاکلو کښې ځینی اشتباګانی پیداکړی دی . اسکندر په (ساګالا) کښې ډیری خرابی پېښې کړی تر دې چه وائی دغه ځای ئی بیخی له خاوروسره برابرکړ جنرال کننګهم دهغو معلوماتو په درسته چه (هیوان تسنګ) چینی زائر په دغه باب کښې کړی دی د(ساګالا) صحیح موقعیت ټاکی او له هغه ځای نه مقصد دی چه : د(سنګلاله غوندی) په نامه یاد یږی او تقریباً د لاهور دښار نه (۶۰) میله فاصله لری او د آرین او کورتیوس د نظریاتو سره هم موافقت کوی ځکه چه دوی وائی ښار په یوه غوندی باندی ودان شوی و او د(ایوتیدمیا) ښار د لومړی دمتریوس دیونانو باختری پاچا په لاس د(ساګالا) په خرابوباندی جوړ شوی او ترآخره پوری دیونانو باختری دولت دهندی متصرفاتو مرکز شمیرل کیده .

(۳)د هند دمتریاس : دار اکوزی په دمتریاس باندی سربیره دیونان او باختری پاچاچه

پخپله ئی تر هغه وخته پوری چه داندوس په خط کښې ئی خپل فتوحات تعقیب او په سند کښې ئی پخپل نوم یو ښار جوړ کړ چه بنائی دسند په ښکتنی برخه یاد دلتاپه شاوخوا کښې به واقع ؤ.

هر کله چه اسکندر په (پتاله Patala) کښې یو بند جوړ کړ او ځینی بیا نانیان ئی په دغه ځای کښې اچولی وو وائی چه دمتریوس په هم دغه ځای کښې آبادی وکړه او د د دسند

(۱) د هند قدیم بطلیموس ، دمکنډونالډد تالیف ۱۲۳-۱۲۲ مخ .

(۲) مکډونالډ کرندل د(هندقدیم بطلیموس) په ۱۲۳-۱۲۲ مخ کښې لیکلی چه مقدونیانو (سګالا) بومی ښار خراب کړ خو دمتریوس دیونان او باختری پاچا هغه بیرته ودان کړ او د خپل پلار په افتخار ئی هغه په (ایوتیدمیا) سره وباله

دمتریاس ښار هماغه پټاله ده؛ لکه چه تارن (په باختر او هند کښي یونانیان) د کتاب د ۱۴۲ مخ په دیرهمه پاورقۍ کښي بیان کړی دی دغه ښار د (ناسیک Nasik) په (۱۹) نمره کتیبه کښي د (داتامیتریا Dattamitriya یاد (داتا میتیا کا Datamitiyakal) په نامه یاد شوی دی.

(٤) د تهاوفیلا ښار: دغه ښار هم په غالب گمان د سند د دلتا په شاوخوا کښي د سند د دمتریاس د ښار په څنگ کښي پروت ؤ. تارن وروسته تردی چه د (سوویرا Sauvira) یا (سوویرا سند هو) له قوم نه بحث کوی او وائی چه ادبی مأخذ دغه ښارونه د ځینو نورو سره د (بهلیکا) یعنی په باختی نامه یاد کړی دی؛ وائی چه د (دمتریاس) او د (تهاوفیلا) ښارونه د همدغو خلکو په وخت کښي آباد او ودان شوی وو؛ (تهاوفیل) د لومړی دمتریوس د مور نوم دی او ښکاره کوی چه دیوتیمانانو او باختری پاچا یو ښار د خپل پلار په نوم (ایوتیدمیا) او بل ښار ئی د خپلې مور په نامه (تهاوفیلیا) سره مسمی کړی ؤ.

دغو او ځایو د خلکو سره د یونان او باختری د دولت ښه گذاره او ښه رویه:

---

تر اوسه پوری موږ په دې دوو ځایو کښي اشاره وکړه چه اول دمتریوس د هند فاتح په حکومتی او مملکتی چارو کښي که دننه په مملکت کښي وو او که په نیولو ځایو کښي د خلکو دروحیاتو، عقائدو، مذهبی، تهذیب، لباس او د عرف او عادتو مراعات کاوه، او دغه سیاست نه یوازی دغه پاچا بلکه د ده زامنو، امراوو، جنرالانو او ده په ځای ناستو پادشاهانو هم نیولی ؤ او د هغه پیروی ئی کوله او په تیره بیا د هند ادبیاتو او مذهبی منابعو هغه هیر کړی ندی. هر کله چه دمتریوس د موریا اصلی حکمی د هند په خاوره کښي ونیولې نو په دې کښي څه شک او شبهه نشته چه تر یوې اندازې پوری ئی داشوکا داداری او انسانیت خواهی د سیاست پیروی کړی او غوښتل ئی چه په عادلانه رویه د نیولو حکمو اداره وکړی. په دې کښي شک نشته چه: بودائی دیانت چه په دغو وختو کښي د هندوکش په جنوب شرقی برخو یعنی پاراوپامیز اتی کښي خپور شوی ؤ په دغه کار کښي بی دخله نه دی؛ او هر کله چه دمتریوس زیاتره د هند په خاوره کښي د بودائیزم د مرکز

ACKU

خواته نژدی کیده نزدې کوښش ئې کاوه چه ځینې اقدامات دغه دیانت دړو حیا تو سره موافق وګرځوي. لهٔ بلې خوا هر کله چه د (سونګا) کورنۍ چه په هند کښې دموریا په عوض کښې روی کار شوې وه په خلکو باندې تعدی کانې او تیری کاوه د هند بومیا نو دا ول دمتریوس دیونان او باختری پاچاو دده دفاتح جنرال (مناندر) رانګ محترم وباله او دنجات او خلاصون لاره ئې وموندله، (مادرایان) چه د (بلهیکا) یعنی باختری قبائلو له جملې څخه وو او هند ته ئې مهاجرت کړی ؤ دتوانو نه زیات دباختر ددولت په نفوذ باندې خوښ او خوشال شول، او دغه شیان ځینې له دهندی منابعو څخه واضحه معلومیږی ځکه چه په (یوګا پورانا) کښې دیونان او باختری پاچا (دمتریوس) د (دهرمامیترا Dharmamitra) په نامه یادشوی دی په دغه نوم کښې د (دهرمه Dharm) کلمه یعنی د (جوړ شوې او درست شوی) او (عادل) په معنی استعمال کیږی لکه چه (تارن) وائی (۱) د (دهرمه راجا) په وزن دغه داستاني او تصوری عادل پاچا چه دده په ادبیاتو کښې شهرت لری هم عادل پاچا بلل شوی دی. دغه نوم او عنوان چه له هندی روح نه نمایندګی کوی ښکاره کوی چه دمتریوس دیونان او باختری پاچا هماغه پاچا چه د (هندفاتح) ئې بولی د هند نیولو ځایو دخلکو سره څرنګه ښه ګذاره او معامله کړ له او ځای لری چه دجګړی په وخت کښې دی د (هندفاتح) وبولو او د اداری په وخت کښې ځینې له دهند یا نو په ژبه دده ته (دهرمه میترا) عادل پاچا وایو.

دد متریوس په زمانه کښې دیونان او باختری امپراطوری د قلمرو پراخیا: دمخه و

وویل چه ایوتیدم دیونان او باختری پاچا ددمتریوس پلار د آریانا ناخاوري دیووالی او وحدت په لاره کښې دپرزیار او کوښښ وکړ، او دمملکت نورل تاریخی او طبیعی ولایتونه ئې د سلطنت په مرکز راټول کړل، او دنبار و نو په آبادولو او دانو لو او دزراعت او تجارت په څرولو او زیاتو لو کښې ئې له ځینې همت او سعیی نه کار واخست او حتی دپامیرا واندوس نه په هغې خوا باندې ئې هم تسلط او قبضه وکړه په حقیقت کښې دآریانا دخاوری په یووالی او وحدت کښې دد غه

(۱) د (په باختر او هند کښې یونانیان) د کتاب ۱۷۸ مخ

ACKU

ضترپا چاتوجه او دننه دمملکت په آبادی او ودانواو اداری صحیحو اصولو په وضع کولو کښې دده سعیو او کوششونو او دخارج سره دعاقلانه سیاست په ذریعه دده دزوی دمتریوس دمملکت نیولو داقداماتو دپاره کامله زمینه برابره او تیاره کړه ځکه هغه وخت چه «ایوتیدم» وفات شو او دمتریوس دباختر په تخت باندی کښناست نو دده دپاره بیله دی نه بل کار نهؤ پاتی چه دیونان او باختری دولت دمتصرفاتو په زیاتوالو او پراخولو کښی کوشش وکړی او لکه چه مو ویلی مجر دچه دی په تخت باندی کښناست دلاغه کارته ئی مخه وکړه او یا داسکندر فتوحاتو یا دموریا دد ولت تر لاندی دهندی اصلی خاوري نیول کیدو دی هندته متوجه کړ او دوا ړه نظر یی ئی عملی کړ ي ځکه چه اسکندر دجیلم په غاړه ځغلیدلی ؤ او دی دگنگا تر سواحلو پورې دشرق خوا نه مخ په وړاندی لاړ ، او په هند کښی ئی د موریا ددولت تر له خاوره ونیوله. د آریانا د اصل تاریخی خاوری نه ، یو اځی دجدروزیا ولایت چه تر دغه وخته پورې دباندی پاتی ؤ دده په زمانه کښی د مملکت په نورو برخو پورې وتړل شو او د هندی متصرفاتو لمن ئې د گنگا د حوضی خواته و ، او که دسند ددلتا او کامبی د خلیج دسواحلو خواته ډیره پر اختیا ییدا کړه پنجاب دبیهار Bihar سند ، کتچ Cutch کتیاوار ، د شمالی گجرات ولایتونه او دراجپوتانی یوه برخه دپتالی پوترا ، ابوجن او دتاکزیلا دریو مهمو مرکز ونو سره تړل دیونان او باختری دولت د هندی متصرفاتو جزشمیرل کیدل. هغه ئی چه یونانی او هندی منابعو دجیلم دسیند نه لیری دهند په خاوره کښی اسکند رته منسوب کړی دی هغه ټول په حقیقت کښی دد متریوس دآریانادپاچا در وښانو کارنامو مد یون دی ، او په هغه کښی د دغو تړ لو فتوحاتو په آخر کښی ئی ځان (دهند فاتح) و باله ، او په پخوانیو زمانو کښی بیله دده نه بل چا په حقه سره دد غه عنوان دعوی نه ده کړی (تارن) لیکي (۱) : (دخو کلونو دپاره د متریوس دا سي سلطنت کاوه چه داندازي او وسعت په لحاظ دساوسیانو دقلمرو څخه تیر شوی ؤ او ددیا گزرت نه دکامبي تر خلیج او دفارس له صحرانه دگنگا تر منځ پورې ځمکی ئی ر انیولې ،

---

(۱) په باختر او هند کښی یونانیان دکتاب ۱۵۵

ACKU

ددمتریوس او دده دجنرالانو اپولودوت او مناندر په فتوحاتو سره دیونان او باختری روح، مفکوره او تهذیب دهند په خاوره کښی له پخوانه ډیر ټینګ او مستحکم شو ددمتریوس اقدامات داستعماری سیاست او دیونان او باختری پادشاهانو دکورنیو دحاکمیت ددوام او په هند کښی د باختر دتهذیب دثقل دتمرکز په لحاظ ډیر فوق العاده اهمیت لری (ساګالا) یا (سیالکوټ) لاهورته نژدی له دغی زمانی نه راوروسته له دوو پیړیو نه زیاته موده دیونان او باختری پادشاهانو داولادی دادار ی، سیاسی او تهذیبی سیادت کانون او مرکز پاتی شو او حتی هغه زمانه چه داسکائیانو او یوچیانو دپیدا کید و او ظهور له کبله دهند وکښ په شمالی برخه کښی دیونان او باختری دولت منقرض شو او حتی وروسته تر دی چه هرمایوس دکاپیسا دیونان او باختری وروستی پاچا هم دمسیح دزمانی دشروع په شاوخوا کښی له منځه ووت (ساګالا) دیونان او باختری پاشاهانو داولادی او ددوی دتهذیب په نسبت وفادار پاتی ؤ، او په دغه سیمه کښی دباختر دتهذیب آخرنی سنګر شمیرل کیده دآریانا په تاریخ کښی ډیر مثالونه موجود دی چه هر وخت زمونږ قوی او مقتدر روپادشاهانو امپراطوری تشکیل کړی او د هند خاوره ئی نیولی ده او بیاد بلی کورنی او سلالی د پیدا کیدو او دنوی دولت د تشکیلید و له کبله د مملکت په اصل چوکاټ کښی پخوانی امپراطوری سقوط کړی دی لمن او بقایا و وئی دهند په خاوره کښی ډیره موده دوام کړی دی او په دغه ترتیب آریانا ډیر حاکمان او حکمفرمایان هندته ورکړی دی او ددغو پادشاهانو او د دوی د فتوحاتو په ذریعه دآریانا دهغه وخت تهذیب داندوس په هغی خوا برخو کښی خپور شوی دی اپولودوت او مناندر ددمتریوس ورور او فاتح جنرال چه وروسته بیا دیونان او باختری دولت په هندی نیول شوی خاوره کښی دامرا و په حیث مقرر شول په دغه ځای کښی ئی خپل اداری نفوذ ټینګ کړ او په دغه ځای کښی د یونان او باختری دولت په نامه سلطنت نژدی دوه پیړی دوام وکړ.

دپامیر نه دهغی خواپه نیول شوو برخو کښی د یونان او باختری دولت نفوذ دپخواپه شان

ACKU

ځای په ځای پاتې ؤ ـ ختن، کاشغر، او د ننني سنکیانګ ټولې ځمکې د یونان او باختري دولت د عملو له خوا اداره کېدلې او د تجارتي روابطو په ټینګېدو سره ـ د باختر او د غوبي ترخو ترمنځ تهذیبي روابط له پخوا نه زیات ټینګ شوي وو او باختري کارګرانو او د هنرمندانو په دغو ځایو کښې په کار بوخت او لګیا شوي وو، د یونان او باختري صنعت او ادبیات په خروښتي رسم الخط سره زیاتره د سنکیانګ د اوسېدونکو په منځ کښې خپاره شوي و، د استرابو د لیکنو نه معلومېږي چه د یونان او باختري د ولت نفوذ د چین د مملکت په غاړو کښې د (سریکه Serike) یعنې د تاشقرغان سرقول (Sarikol) تر آخرني غربي سرحد و پورې رسېدلی ؤ او د باختر د دولت عسکرو د ښه انتظام او تجارتي مراودو او د اطرافي اسکائي قومونو د حملو او یرغلونو نه د دفاع د پاره د دغې لیرې منطقې اداره کوله (۱) د یونان او باختري دولت د دمتریوس د سلطنت په وروستیو کلونو کښې د یوې ډېرې لویې امپراطورۍ شکل پیدا کړی وه او په مراتبو د شام د یونانې سلوسیانو د امپراطورۍ له قلمرو نه لوی شوې وه د باختر پاچا او ځامنو ئي چه هر یو ته د ننه په آریانا او نیولو ځمکو کښې د مرکزي دولت له خوا لوی لوی اماتونه ورکړی شوي وو په ګډه سره ئي د یونان او باختري د دولت دمبا د یو په ټینګولو او په مادي او معنوي لوړتیا او د امپراطورۍ د ارکانو په ساتنه کښې ډېر کوششونه وکړل او په پوهه او عزم او اداره ئي خپله لویه وظیفه سرته ورسوله د ننه په مملکت کښې وو او که په نیولو ځمکو کښې ښارونه په آولو ځایو کښې ودان او آباد شول.

---

(۱) د باکتریا د اچ جی راولنسن د لیکنې ۷۷ مخ

# د یونان او باختري دریمه

## سلطنتي کورنۍ

### د (ایوکراتید) کورنۍ

د اولې او دوهمې کورنۍ یعنې د (دیودوت) او (ایوتیدم) دکورنیو نه وروسته د یونان او باختري د ریمه سلطنتي کورنۍ په (ایوکراتید) سره د ۱۷۵ ق م په شاو خوا کې شروع کېږي د لومړۍ کورنۍ د سلطنت او د ایوتیدم دکورنۍ د پیدا کیدو په باب کښې مو ولیدل چه شامي سلوسي دولت دباختر د آزادۍ د مخه کولو او د یونان او باختري خپلواك سلطنت د نقشې د خرابولو د پاره کوم کار وء چه وئې نه کړا وله هغو وسائلو نه چه په لاس کښې ئې د رلود ل له تولو نه کار وا خست ، ملي رئیسانو او مشرانو ته ئې دا د ورکړ ، او نفوذلرونکو خلکو ته چه دباختر په آزاده فضا کې ژوند ل شوي وو د لوړو مقامونو وعدې ورکړې او تردې چه نائب الحکومه گان او امیران ئې په دوی کښې و تاکل خو ترلو معکوسه نتیجه ور کړه او تولو له هغو منصبونو څخه چه سلوسیانو هغوی ته ورکړل پخپله فائده او دباختر د آزادۍ او دیونان وباختري دولت د خپلواکۍ په گټه استفاده وکړه ، هر کله چه دغه اصول او لیاري کامیابې نشوې نو په توطئه او تحریکاتو ئې پیل وکړ ، تردې چه د یونان او باختري خپلواکو پادشاهانو او لومړۍ کورنۍ سقوط وکړ او دوهمې کورنۍ یعنې ایوتیدم او زوی ئې د یونان او باختري د ولت د ارکانو په ټینگولو او د هغه د خپلواکۍ د بنسټ په محکمولو کښې ډېرې کوششونه وکړل او سربېره د آریانا د خاورې په یوکولو باندې په هند او سنکیانگ کښې ئې ډېرې پراخې ځمکې وربا ندې زیاتې کړې ! ویوه داسې امپراطوري ئې جوړه کړه چه د خاورې او ځمکې د پراختیا له حیثه پخپله د سلوسیانو له امپراطورۍ نه ډېره لویه شوه ، سلوسیانو چه د یونان او باختري خپلواك سلطنت ته ئې کتلې نه شول نو طبعاً د یونان او باختري امپراطورۍ او د هغې د مساعد موقعیت څخه په

ACKU

ویره کښې شول او د گنگا د حوزې او د هند د بحیرې سره تجارتي او حیاتي لارې ئې د باختر د پاچاهانو په لاس کښې وې نو له دې کبله څلورم سلوسي انتیوکوش د باختر په نسبت خپل ارثي مخاصمت کارانه سیاست پسې تعقیب کړ او هر کله چه د دې رژیم انتیوکوش له تجربې نه وروسته وپوهېده چه عسکري اقدامات به کومه نتیجه ور نه کړي نو بیا ئې د (انتریك) او تحریك سیاست و نیو د غه ځل ئې یو تن جنرال چه په باختر کښې ؤ او (ایوکراتید) نومېد واسطه وګرځاوه او دې ئې د باختر د تخت په نیولو سره تشویق کړ.

لکه چه په دې مخني بحث کښې مو بیان وکړ په خپله دیوډوټ او باختري پاچا د متریوس د آریانا په داخلي اماراتو کښې د بیا غور او دقت او په باختر کښې د خپل بو څوی د وهم د متریوس او په اراکوزي او سیستان کښې او وروسته بیا په پاروپامیزادی کښې د بلزوی (پانتالئون) د مقررولو نه وروسته د هند د مفتوحه او نیولو ځمکو د اداري د پاره تاکزیلا ته لاړ او په باختر کښې د ایوکراتید د پیدا کېدلو او ظهور د پاره: مینه برابره او مساعده شوې وه ځکه چه پاچا د منصبدارانو او لوی قوت او طاقت سره د سند په اوږدو کښې تر اوقیانوس پورې او د هند د شرق خوا ته تر پټنا لې پورې تر اپوري په کار بوخت ؤ په باختر کښې د ایوکراتید د پاچائي د اعلان نه وروسته لکه چه وروسته به ئې وګورو د متریوس د خپل تخت ؤ تاج د بېرته اخستلو د پاره ځینې اقدامات وکړل خو بریالی نه شو او د ۱۶۰ ق: م په شاؤ خوا کښې وفات شو.

(ایوکراتید، د باختر په تخت باندې کیناست خو بیا د دې رژیم ځل د پاره د سلوسیانو تحریکاتو کوم ځای و نه نیو او هغه شي چه د دوی ز... غوښت هغه په لاس رانه غی.

د مخه مو د یونان او باختري دوهمې خپلواکۍ کورنۍ په باب کښې وویل چه دوهم (دیودوټ) د هغوی د تحریك په اثر وژل شو او ایوتیدم پاچا شو خو دیونان او باختري خپلواکه دولت له منځه و نه وت بلکه لا پسې قوي شو، د غه ځل بیا لوی او فاتح د متریوس خپل تخت و تاج د لاسه ورکړ او مړ شو.

او ایوکراتید د باختر په تخت باندې کېناست مګر بیا د باختر آزادي د یونان او باختري دولت او د باختر خپلواکي د پښتو اېپه‌شان ځای په ځای پاتې شوه، بو اځې هغه شی چه دغه ځل ئې ځینې تغیرونه پیدا کړل داو چه د دمتریوس او ایوکراتید کورنیو ئې سره جلا کړې او د دوی جدائي د یونان او باختري دولت او د هغه د هندي متصرفاتو په تعلقاتو باندې تاثیر وکړ یعنې ایوکراتید په باختر او آریانا کښې د سلطنت په جوړولو پیل وکړ او د دمتریوس کورنۍ، جنرالان او اولاده په هند کښې پاتې شوه، او (ساګالا) ئې مرکز وګرځاوه او د یونان او باختري دولت په دوامه ئې په دغه ځای کښې یو جلا سلطنت تشکیل کړاو په راتلونکو مخونو کښې به ورځنې بحث وکړو.

ایوکراتید: (د ۱۷۵ ق، م په شاؤخوا کښې): هغه وخت چه لومړی

---

د متریوس د یونان او باختري شهنشاه په هند کښې د نیول شوو ځمکو د چارو په تنظیم او اداره بوخت ؤ او د باختر کارونه د هغه د زوی د وهم ایو تید م یاد د وهم د متریوس په لاس اداره کېدل ناځا په ئې د پاچائي اعلان وکړ او د سلطنت تخت ؤ تاج ئې ونیو. د ایوکراتید د جلوس جزئیات له دې نه زیات معلوم نه دي. په هرحال سم د سلطنت او پاچاهۍ د اعلان سره ئې ځان «سترپاچا» (پادشاه کبیر) و باله او د یره لویه او ښکلې طلائي سکه ئې ضرب کړه چه نمونه ئې په پاریس کښې موجوده ده. په عین زمان کښې د یو د اسې ښارجوړ ولو ته ئې اقدام وکړ چه د (ایوکراتید یا) په نامه شهرت لري. ایوکراتید د یونان او باختري د ریمې سلطنتي کورنۍ سرسلسلي د پښتوانۍ کورنۍ د پادشاهانو په شان د باختر آزادي او د یونان او باختري دولت د خپلواکۍ ساتنه خپل عادت او خوی وګرځاوه: مدققینو د (سترپاچا) د عنوان او د (ایوکراتید یا) د ښار د ودانولو له مخې نتیجه اخستې ده او وائي چه ایوکراتید یو خپلواک او مستقل پاچا ؤ ځکه چه د دغه وخت د عرف او عادت په قرار چا به د کاملې خپلواکۍ او استقلال له لرلو نه پرته خپل نوم یو ښار جوړولو نه شو. د غه رنګه د سرو زرو د لویې سکې

ضربول او د ځان د پاره د (ستړپا چا) د لقب تاکل او نیول هر یو ښکاره ځای په دي باندې د لالت کوي چه ایوکراتید یو ستړپا چا وو او لکه چه وروسته به وګورو د دغه عصر او زمان د یونان او باختري دولت له روښانو دوروڅخه شمیرل کیده. د مسکوکاتو له مخې ایوکراتید تقریباً (۴۰) او (۴۵) کلن معلومیږي، او په دغه اساس د ده پیدا ئښت د (۲۰۵ - ۲۱۰ ق،م) په شاوخوا کښې شوې دی، تر کوم ځایه پورې چه معلومیږي ایوکراتید یو نظامی سړی او د زیاتو او ختما لاتو له مخې یو جنرال وو او په باختر کښې د یونان او باختري دولت په نظامی مسلک کښې په وظیفه بوخت وو (بګنت شمیت) په باختر کښې د ده انقلاب په ۱۷۵ ق م کال کښې بولي، او د غه هغه کال دی چه مهرداد په پارتیا کښې پاچا هی ته رسید لی دی - او د جوستن شمها دت د غه نظریه تائیدوي ځکه چه وائی دغه دوه پادشاهان تقریباً په یوه زمانه کښې د سلطنت په تخت باندې ناست دي، هرکله چه د آریانا او د هند د نیواوځمکو نورځایونه د د متریوس او د ده د زامنو (چه په هره خوا کښې ئې د امیریه حیثیت درلود) او د جنرالانو په لاس کښې وو تر ۱۶۷ ق م کال پورې د هندوکش په شمالي باختر او سغدیان کښې د ایوکراتید نفوذ محدود پاتې شو.

د اخلي او کورنیو جنګونه یا د یونان او باختري سلطنتي کورنیو مقابله:

---

د مخه مووویل چه ایوکراتید په کوم شرطونو او په څرنګه فضا کښې د باختر په تخت باندې کښېنا ست، ایوکراتید پخپله دې چه په تو له آریانا او بیا د هند په متصرفاتو کښې نفوذ او حاکمیت پیدا کړي د یر مشکلات ئې په مخکښې اړل ځکه چه اول د متریوس او وروروستۍ اپولودوتا و ځامنو او امیرانو ئې پاتالئون او اګاتوکلس په پاروپامیزادی، اراکوزی او ګندهارا کښې او مشهور جنرال ئې مناندر په نیولو ځمکو کښې هیڅ یو دې ته حاضرنه وو چه تخت و تاج نفوذ او حاکمیت د دوی له کورنیو نه لاړ او ورک شي، په دغه مناسبت د یونان او باختري سلطنتي کورنیو ترمنځ ځینې جنګونه کیږي چه د داخلي جنګونو جز شمیرل کیږي

پلاد غه ځای کښې لومړی د یونان او باختری دوو پاچاهانو تر منځ له مقابلې نه او وروسته بیا د پښتوانې کور ني دامرا او وسره دا یوکراتیډ له مقابلو نه بحث کوو: «تارن» وائی «که څه هم محققه نه ده خو بیا هم له امکان څخه لیرې نه ده چه دمتریوس پهٔ دغه وخت کښې د هند په (منځنیو ځمکو) کښې وُ او د باختر د پښتوانې پاچاه امر او وسره دایوکراتیډ ۱۶۸ق، م کال جنګونه شوی دی، په هر حال په ځپله دمتریوس په هر ځای کښې چه وُ (مناندر) ته ئې امر وکړ چه (پتالی پوترا) او د (مانورا) د جنوب نه ولي منځنی ځمکې پرېږدی او په چټکۍ سره دایوکراتیډ دمقابلې دپاره باختر ته راشي ځکه چه د (جوستن) دلیکو نو او د (یوګاپورانا) څخه واضحه معلومېږی چه ددوی مقابله د هند و کش دغرب خواته شوی ده، وروسته بیا ایوکراتیډ موقع مونده لی ده چه پهٔ هند باندی حمله وکړی دمتریوس که چیری په ۱۶۸ ق، م کال کښې جګړه کړی وی یائی نه وی کړی خو ۱۶۷ق م کال دده دپاره یو بحرانی کال وُ .

دجوستن دلیکنو نه د ومره هم معلومېږی چه د متریوس د یونان او باختری پښتوانی پاچاه په شپیتو زرو عسکرو سره ایوکراتیډ دری سوو تنو عسکرو سره کلابند کړ؛ ذلبکرو دشمیر او ارقام مقابله مبالغه ناکه ده، او حقیقت په داسی وی چه دمتریوس ایوکراتیډ ته ماتی ورکړه او ایوکراتیډ ذدری سوو تنو سره دباختر خواته وتښتیده او بیائی خپل اقتدار زیات کړ، په دغه وخت کښې د دمتریوس وفات هغه ته موقع ورکړه چه په ځپل تصمیم ټینګ پاتی شی (انتی ماکه ش) د د متریوس ورور چه د شمال غربی بر خوا میر وُ هم مړ شو او زمینه دا یوکراتید دپاره له پخوا نه زیاته برابره شوه، د دمتریوس په مرګ سره بیا هم دایوکراتیدز ړه بیخی جمع نه شو ځکه چه دهغه ورور زامن، او جنرال ئی (مناندر) پاتی وُو. په هغه نوی وضعیت سره چه په آریانا په تیره بیا په باختر کښې پیداشو دوی ټول د دمتریوس دامر له کبله د پنجاب ګندهارا او د پارو پامیزادی خوا ته متوجه شول .

دمخه وویل شول چه د هندو کش په جنوب د پارو پامیزادی په ولایت کښې لومړی پانتالئون او بیا اګاتوکلس امیر مقرر شوی وُ او شرقی ګندهارا هم یو څه موده دا پولودوت دباختر دوفات شوی پاچا دمتریوس دورور په لاس اداره کیده .

ACKU

مانډز هغه محکمي پریښودلي چه د (ماتورا) د جنوب خواته ری او پخپله پنجاب ته راغی.

(اپولودوت) د سند د حوزې له جنوبي محکو څخه د شمال خواته راغی او په ګندهارا کښې ئې استوګنه خوښه کړه.

ایوکراتید بیا له باختر نه د هندوکش په غره باندي رابښکته شو (۱) او په کاپیسا کښې د پار وپامیزادی امیر (اګاتوکلس) سره مخامخ شو هر کله چه (اګاتوکلس) په مسکوکاتو کښې یو ځوان سړی معلوم یږي (تارن) ورځنې نتیجه اخستي او وائي چه دی په دغه وخت کښې مړ شوی او یا د ایوکراتید سره په مقابله کښې وژل شوی دی، د ایوکراتید له خوا د کاپیسا نیول کیدل د ده د مسي څلور کونجو مسکوکاتو څخه معلومیږي چه (زوس) پکښې په تخت باندي ناست دی او په دوو ژبو او خروشتي رسم الخط نوشته لری.

دی د کاپیسا د نیولو نه وروسته (ایوکراتید) د ګندهارا خواته مخه وکړه او تر ولسه ګندهارا یا سمدستي بوه بر خه ئي ورځنې و نیوله او د دی خبرې شاهد دادی چه (اپولودوت) په بر نجي مسکوکاتو باندي د ده محله ضرب وهلی دی.

او معمولاً هغه وخت یو پاچا د بل پاچا په سکه باندي ضرب وهلی شو چه په هغه باندي به غالب شو (اپولودوت) د همدغو جنګونو په زمانه کښې چه د ګندهارا په شرقي بر خو کښې شوی دی د ۱٦۲ـ ۱٦۳ ق م کلونو په شاوخوا کښې وفات شوی دی.

لنډه دا په هغه ترتیب چه وویل شو (ایوکراتید) په د متربوس اود ده په ورور وزراو زامنو نولو باندي بریالی او غالب شوی او تقریباً په اوو کلونو کښې د (ایوتیدم) د کورنۍ په ټولو روتنو پادشاهانو او امراوو باندي غالب شوی دی.

په دغه ډول په اپولودوت باندي د غلبې مو ندلو او د شرقي ګندهارا د نیولو نه وروسته ایوکراتید دآ ریانا په ډېره شرقي سرحدي غاړه باندي حاکم شو. په دی کښې څه شك او شبهه نشته چه ده غوښتل دیونانا او باختري دولت هندی متصرفات هم تر خپلې سلطې لاندي راوړی خو مانډزو رسره مقابله وکړه او د هغه د پرمختګ مانع شو، په دغه

---

(۱) احتمال لری چه په ۱٦٥ ق م کښې له باختر نه کاپیسا ته راغلی وی.

ACKU

لحاظ استر ابووائی چه ایوکراتید هیڅکله د جیلم له سواحلو نه تیر نشو او احتمال لری چه حتی له اندوس نه هم تیر شوی نه وی، دایوکراتید او مناندر ځینی مسی مسکوکات پخپل منځ کښې سره د پر مشابهت لری او د آریانا په شرقی سرحدی ځمکو او په هندی متصرفاتو کښې د هغوی د نفوذ د ګاونډتوب او مجاورت ښکاره کوی. لکه چه د قرینو نه معلومیږی د اندوس په غاړه باندی د ایوکراتید کامیابی پای ته ورسیدلی او د باختر پخوانی متصرفات د مناندر په لاس کښې پاتی شوی دی او د دغه جنرال او دایوکراتید د باختر د پاچا تر منځ یوه معاهده وشوه. ایوکراتید بیرته باختر ته راغی او د اندوس ماورای شرقی ځمکی د مناندر تر اداری لاندی پاتی شوی.

په ټوله آریانا باندی د ایوکراتید حاکمیت: هغه داخلی جنګونه چه بیان یی د مخه وشو که څه هم په اول کښې او په ظاهره د باختر د واکمنو په جدائی او د یونانانو باختری دولت په ضعف تمام شول خو د هندو کش د شمال نه جنوب، پاروپامیزادی، کاپیسا، ګندهارا او نورو ځایو ته د یونان او باختری سلطنتی د ریمی کورنی د سر سلسلی ایوکراتید د نفوذ تدریجی پراختیا بیا د یونان او باختری د ریم دولت وجود تقویه کړ، او د آریانا ولایات یو په بل پسی د باختر په مرکز پوری وتړل شول او د آریا (هرات) او مارګیان (مرو) او د (استوئن) او (تراګزیان) ولایات تړل د پخوا په شان د یونان او باختری د دولت جزو و، که څه هم د درانجیان؛ سیستان، او داراکوزی وضعیت پوره معلوم او واضح ندی بیا هم ویلی شو چه دغه برخی هم کرار کرار دایوتیدم د اولادی د لاس نه ووتلی او د نورو برخو په شان د ایوکراتید تر زمامداری لاندی د یونان او باختری دولت جزو ګرځیدلی ځینی وائی چه ایوکراتید د یونان او باختری د ریمی سلطنتی کورنی مؤسس پخپل وار په هند کښې یا څه نا څه په پنجاب کښې فتحی کړی دی خو دغه نظریه حقیقت نه لری او لکه چه و مو ویل دغه پاچا د اندوس له سیند نه مخکښې تللی ندی، سره له دی د (مهاراجا) هندی عنوان ئی د ځان د پاره تاکلی دی او دغه عنوان ئی په یونانی ژبه په (ملااوس بازیلوس) یعنی په ستر پاچا سره ترجمه کړی دی.

خو له بده مرغه د ايوکراتيد زمامداري ډېره موده دوام و نه کړ او دايوتيدم او
دمتريوس نه وروسته دغه ديونان او باختري دريم پاچا وُ چه دآريانا ولايتونه ئې سره
يو کړل او له باختر نه ئې په ټولو باندې يو رنګه سلطنت او پاچائي کړې ده. دايوکراتيد
دوره دښارونو دودانۍ او آبادۍ په لحاظ په تېره بيا د هنرخاوندانو او صنعت کارانو ته
د توجه له کبله ډېر اهميت لري او لکه چه وروسته به وګورو حکاکي ، مهر
کندلو ، هيکل تراشي ، د دې په زمانه کښې ډېره ترقي کړې وه. د يونان او باختري
دريم دولت په يوه مقتدر او نفوذ لرونکي شخص (ايوکراتيد)
سره په ښه ډول شروع شوی او د ترقۍ معراج ته رسيدلی وُ ، خو اقتصاد هغه
دنورې ترقۍ او دوام د پاره قناعت ور نه کړ او دشمال او شمال غرب او شرق نه
يعنې داسکائيانو او پارتيانو او دايوتيدم دکورنۍ د اولادې او دهغوی د طرفدارانو
لکه دمناندر له خوا تشويشونه دهند له خاورې او نورو ځايو څخه پيداشول دغه
تشويشونه پخپله دايوکراتيد په زمانه کښې مخ په مخامت شول او د ده د ځوی
(هليوکلس) په زمانه کښې داسې عوامل پيداشول چه د هندوکش په شمال کښې
ديونان او باختري دولت دسقوط موجب وګرځيدل .
دپارتيانو قدرت او د شرق خوا ته په تجاوزونو کښې د هغوی تحريک

---

د دغه فصل له اول نه تر دغه ځای پورې مو پارتيانو ته لنډې اشارې وکړې او وليدل
شول چه ديونان او باختري او پارتي دوه دولتونه تقريباً په يوه زمانه کښې دآزادۍ او
خپلواکۍ غوښتنې دیوې منګورې په اثر ديو مملکت دمشرانو او رسيدونکو له خوا
ديوې ګډې سلطې په مقابل کښې چه شامي سلوسيان وو تشکيل شوې او د يو واحد
مرام او مقصد تعقيب ئې کاوه. ارساس او ديودوت د يونان او باختري دولت د پارتيا
آزادي او خپلواکي اعلان کړه ، د دوی زامنو دوهم ديودوت او «تريدات» (تيرداد)
خپل ددوستۍ مناسبات سره ټينګ کړل او ايوتيدم سره د دې چه سلوسي حکومت
ورځنۍ تقاضا او غوښتنه کوله د پارتيا په ضد پورته نه شو او وروسته تر دې چه دريم
شامي انتيوکوس د دوی له خاورې نه تير شو او د دوی قوه ئې ضعيفه کړه د متريوس

په دغه علت چه سلوسیان په دغه ځای کښې ډیر نفوذ پیدا نه کړی او زمونږ مملکت ته را نږدې نه شی نو لومړی والی ئې وکړ او د (استوئن) او (تراکزیان) دوه ولایتونه ئې د خپل حکومت د حوزې جزو وګرځول په دغه ترتیب سره د سلوسی شاهی دولت د تحریکاتو، تر دغه وخته پورې د باختر او پارتیا روابط سره صمیمی وو.

په باختر کښې د سلطنتی کورنۍ تغیر او د ایوکراتید جلوس او هغو مخالفتونو چه ددوو باختری کورنیو د اولادې تر منځ پیدا شول د یونان او باختری دولت په ضعف کښې لاس اوده خل درلود. د مخه مو وویل چه دیونان او باختری دولت او د هغه د لویې امپراطورۍ د ورځ په ورځ زیاتیدونکی قوت د سلوسی دولت د تشویش سبب شوی وو. لکه چه د باختر سلطنتی کورنۍ تغیر هم د هغوی د تحریکونو له کبله پیښ شو. مقصد دادی چه ددوو شرقی مملکتو: د یونان او باختری دولت او د پارتیا په نسبت د سلوسی دولت سیاست فرق وکړ او په اول کښې [illegible] غوښتل چه د باختر سره دوستی او پارتیا له منځه لیری کړی، خو وروسته بیائې د [illegible] نږدیکت ښکاره کړ او د یونان او باختری دولت د غورځولو په فکر کښې شول.

هر کله چه رومیانو په دغه وخت کښې د آسیا په غربی برخو کښې لاس او قدرت پیدا کړی وو نو سلوسیانو غوښتل چه په غرب کښې د لاسه وتلې محمکې د شرق له خوا نه جبیره کړی. څلورم انتیوکوس چه غوښتل د یونان او باختری دولت او پارتیا دواړه له منځه لیری کړی بیا ئې باختر ته نږدیکت ښکاره کړ چه پارتیا دواړو ونو په منځ کښې ونیول شی خو د یونان او باختری دولت موافقت څرګند نه کړ، تر دې چه دوهم شامی د متریوس د هغه وروره پارتیا باندی په یو اځینی ځان حمله وکړه خو په دغه وخت کښې پارتیا قوت او اقتدار پیدا کړی وو.

د ١٦٣ ق.م. کال نه وروسته چه څلورم سلوسی انتیوکوس وفات شو او دده په ځای دده مشر وروردمتریوس چه په رومیا کښې ئې ډیر غمل په دول ژوندون کاوه شام ته وتښتید او د څلورم انتیوکوس له کشری زوی نه ئې تخت وتاج ونیو. دده غوښتل چه د خپل دولت د نفوذ لمن

د ایوکراتید په قلمرو وغوړوی‌خو هرکله چه آزادی او خپلواکی غوښتنه د باختر د دولت له مهمو خواصو څخه وه، نو ایوکراتید د داسی اوضاعو او پېښو ترتاثیرلاندې را نه غی او یو ځل بیا د سلوسیانو او د یونانو او باختری دولت ترمنځ د ښمنی او مخاصمت شروع شوا و وروسته بیا د سلوسی دولت اساس لا پسی ضعیف شو.

د مخه مو وویل چه سلوسیان آخر د غه سیاست ونیو چه د یونانو او باختری د دولت په ضد د پارتی د دولت واکمن ولمسوی او تحریك او تقویه ئی کړی. په سرحد و کښې د ایوکراتید مصروفیت او د شمال څخه د اسکائیانو له خوا تشویش او د سلوسیانو تشویق پارتی د دولت ته طاقت و قوت ورکړا و د شرق خوا ته ئی د ځینو تجاوزونو د پاره تیار کړ. هرکله چه ایوکراتید په دی باندې پوهید ه چه د باختر حقیقی دښمن او د آزادی دښمن سلوسیان دی نو داسی ترتیب ئی ونیو چه شامی سلوسی دولت او پارتیان دواړه تهدید شی. نو بنا په دی سره (تیمارکوس Timarchus) نومی جنرال ئی بغاوت ته ولمساوه او د غه جنرال په ۱۶۲ ق م کښې په مدیا او بابل کښې بغاوت وکړا و د پاچاهی اعلان ئی وکړ او د ایوکراتید د یونانو او باختری پاچا په شان ئی ځان (لوی او ستر پاچا) وبا له د سلوسیانو او پارتیانو د دواړو په مقابل کښې د غه کار مؤثره ځکه چه په دغه ترتیب که: چیری د پارتیا د مخالفت حالت نور هم پسی شدید شوی وای نو دایوکراتید د لاسه کیدل چه د نوی جوړ شوی حکومت سره ملگری شی او پارتیاته یوه ضربه او صدمه ورسوی.

پارتی مهرداد چه د وضعیت ئی له نژدی څخه تعقیباوه په مسئله باندی پوه شوی او په دغه نسبت کښې شوچه د تولو نه لومړ یع د (تیمارکوس) او (ایوکراتید) دباختر د پاچا ترمنځ همکاری قطع کړی او د دغه کار د پاره ئی هغه موقع و تاکله چه ایوکراتید د هند په سرحدونو کښې په جگړه بوخت و ، نو له دی کبله ئی په ناڅاپی صورت په (تیمارکوس) باندی حمله وکړه او له هغو سختو جنگونو نه ور وسته چه تر ۱۶۰

ACKU

–۱٦۱ ق م کلونو پورې ئې دوام وکړ د (زګروس Zagros) د علاقې (مدیا) ئې ونیوله او په نتیجه کښې دده قوه یو په دوه شوه او مقابل طرف (حریف) ئې (تیمارکوس) له پښو نه وغورځید، پس له دې مهرداد سمدستي دیونانو باختري دولت په غربي غاړه باندې حمله په تکل کښې شو او د (تپوریا) او (ترا ګز یان) ولایتونه ئې ونیول چه د (اترك دسیند) له ناوې او کشف رود (او سنې مشهد او طوس له علاقې) نه عبارت دي او د ایوتیدم په زمانه کښې فتح او د باختر د ولایتو جز ګرځیدلي وه.

باید داو وبل شي چه د پارتیانو د تجاوز موضوع په نوروژ بوهم بیانوې ځینو مورخینو قصورا وملامتي خپله د ایوکراتید په غاړه اچولې ده او وائي هغه وخت چه اسکائیانو د سر دریا له هغې خوا نه سغد یا ن تر تهدید لا وتجاوز لاندې را وړ ایوکراتید له پارتیانو نه مرسته او کومک وغوښت، او ل مهرداد دخپلې مداخلې له کبله هغوی شاته وهل او دخپل مساعدت په مقابل کښې ئې د آریا د تپوریا تراکزیان ولایتونه او حتی د باکتریان لمر پریوتیز د بر خه چه له اندخوی او میمنې نه عبارت ده ونیوله، ځینو له دغې موضوع نه هم په بل دول تعبیر کړی دی او وائي هغه وخت چه ایوکراتید په هند کښې یا خو که ښه صحیح و وایو د هند په سرحد ونو کښې بوخت ؤ اسکائیانو په شمال کښې په تهدید او تجاوز لاس پورې کړی ؤ او اول مهرداد د له موقع نه استفاده وکړه او دغه ولایتونه ئې د خپل قلمرو جزو ګرځول په هر حال دغه تعبیر و نه تر هر ځای پورې چه حقیقت ولري خو په دې کښې شك نشته چه پارتیان دایوکراتید د سلطنت په وروستیو دوره کښې ډیر مقتدر پاچاخانان وو چه دغه پاچالو مړي مهرداد دنومید، ده که د هند په فتح کښې دایوکراتید له مشغولیت نه او او که د اسکائیانو له تهاجم نه او که له دواړو نه استفاده وکړه او دایوکراتید د ژوند په زمانه کښې ئې د آریانا د شمال غربي څنډې دغه ځایونه ونیول او دایوکراتید له مرګ او داول د متریوس دوروستني زوی دوهم دمتریوس له قوت مو ندلو، او په باختر کښې پخپله دایوکراتید د زوی هلیوکلس له حکومته آو

ACKU

د هند وکش په شمال کښې د یونانو باختری دولت د قوا و له سقوط او د سکائیانو له ظهور څخه ئې ډیر جرأت وموند او په دړانجیان (سیستان) او اراکوزی حتی د کابل په ناوه ئې لاس او تسلط پیدا کړ او په دغه باب کښې به مفصل بحث وکړو.

د ایوکراتید مسکوکات : په دې کښې شک او شبهه نشته چه د ټولو څنو د پادشاهانو مسکوکات د دید او کتنې وړ دی په تیره بیا په هغه وخت کښې چه نور رباوری منابع هم په لاس کښې نه وی.

ایوکراتید له هغو پادشاهانو څخه دی چه په زیات شمیر او په بیل بیل دول سکې ئې وهلی او ضرب کړی دی او لنډه دا چه دسکې دضرب او دصنعت نفاست پا ثبت او دوام او نوری ښیګڼی او مزایا ئې داسی حد ته رسولی وو چه سره دلازمو وسائلو دنشتوالی د هغی زمانی د ډیرو ښوا و بهترو سکو جز شمیرل کیدی.

هغه لومړی برخه مسکوکات چه په باختر کښې ضرب شوی دی :

دایوکراتید لومړی برخه مسکوکات هغه دی چه د(دیوسکوری Dioscuri) او (ایوکراتیدس پاچا) ساده جمله پکښې نقش شوی ده. (دیوسکوری) د سبا او ماښام ستوری ته وایی چه په یونانی ادبیاتو کښې د(کستور Castori) او (د پولوکس Pollux په نومو مسو په سادا و ښاسال شوی دی او د غه تشبیه دوه ورونه [illegible] (دیوسکوری) په ګډه نوم سره ئې یاد وی او ایوکراتید په لومړی برخه مسکوکاتو کښې په آس باندی سپور دی سربیره په دې دیوسکوری پخپله اصطلاحی معنی هم لری چه له (منجی) نه عبارت دی او له هغه نه په دغه دول تعبیر کیدلی شی چه ایوکراتید د یونانو او باختری سلطنت دشامی یونانیانو او نورو د حرصناك نظر څخه محفوظ وساته او ځان ئې دمملکت منجی (نجات ورکونکی) وباله، او له دی کبله ئې دیوسکوری د خپلو مسکوکاتو په لومړی برخه کښې استعمال کړ.

دوهمه برخه مسکوکات : داسې معلومیږی چه ایوکراتید وروسته تر دی چه په دمتریوس باندی بریالی او غالب شو او بلخ ئې ونیو د خپلو فتوحاتو په نسبت ئې سربیره د (ایوکراتیدیا) د ښار په جوړولو باندی د یوی برخی

نور ومسکوکاتو په ضربولو لاس پورې کړ ؛ دغه مسکوکات تول د سرو زرو (طلائی) وو ، قطر ئې لوی او وزن ئې ډېر زیات دی او د ۵ ، ر ۱٦٨ گرامو په اندازه وو چه په یونانی اصطلاح ورته (تتراد راکم Tetradrachms) یعنې (څلور درهمی) وائی او ډېر ازدی او نه پیدا کیږی . یو اځی یوه نمونه ئې په پاریس کښې موجوده ده په دغه مسکوکاتو کښې (ایوکراتید) د پخوا په شان یوائحی (پاچا) نه بلکه (ستر پاچا) یاد شوی دی او د غه عنوان ئې د ژوند تر آخره پورې وساته . ایوکراتید د څلور درهمی مسکوکاتو په شا مخ با ندی په فولادی خودخولې سره خپل ځان ښودلی دی ، دغه مسکوکات د باختر د پاد شاهانو ایوتیدم ، دمتریوس ، انتی ماکوس د سکو سره هغه ښکولی سکې دی چه په باختر کښې ضرب شوی دی او ښکاره کوی چه د آریانا په شمال کښې ډېر قابل او ماهر رسامان او حکاکان موجود وو چه پخپل فن کښې استاذان او د کار سبک ئې مخصوصه مدرسه جوړه کړې وه چه د دغه ځای دوبار او افتخار اسباب ئې برابرول او تر ننه ورځې پورې دفن متخصص ئې خوښوی .

په کاپیسا کښې ضرب شوی مسکوکات : دایوکراتید د باختر د نیولو او د دغه ځای د تنظیمولو نه وروسته د هند وکش جنوب ته ښکته شو او کاپیسا او د (پاروپا میزاد) نور قلمرو ئې د (اگاتو کلس) نه ونیول او وروسته ئې بیا گندهارا هم .

د (اپولودوتوس Apollodotus) څخه په لاس راوړه او په کاپیسا کښې ئې د نوو مسکوکاتو په ضربولو شروع وکړه ، د هندوکوه جنوب ته ددهٔ راتگ په مسکوکاتو کښې ډېر تاثیر وکړ ، روحیاتو ، ژبې او د ځای او مکان نورو مقتضیاتو نوی شیان میدان ته راوایستل چه په هغو باندی پوهیدل په تاریخي قضایاو کښې لوی لاس لری . د کاپیسا مسکوکات چه زیاتره د هندوکوه د جنوب او د هند د گاونډیو شرقی آیالاتو د خلکو دار تیاو و دلیری کیدو د پاره ضرب شوی وو و اکثره مسی او څلور کنجه دی او لوموړی محل سره بیره په یونانی ژبه او رسم الخط باندی د محلی پراکریت لهجه د خروشتی رسم الخط سره هم تر استعمال لاندی نیول کیږی ، او سکه په دوو ژبو سره ضربیږی او د دغو سکو په مخ باندی (زوس Zeus) لیدل کیږی چه په تخت باندې

ACKU

تاست دي د خرو شتي رسم الخط او پرا کريت د ژبي له استعمال نه ښکاره کيږي چه د هندوکوه دجنوب خلک ټول په يوناني ژبه او رسم الخط باندي ئي نسه پوهيدل او له دي کبله پخپله د آريانا ژبه او رسم الخط ئي هم استعمال کړل او وروسته بيا هغو ټولو پادشاهانو دغه رويه تعقيب کړي ده چه د هندوکوه په جنوب کښي د کابل دولايت، اراکوزي، گندهارا، پاکتيااو دنورو ځايو په علاقو کښي ئي حکومت کړي دي د (زوس) د تصوير د ښودني (نمايش) په باب کښي مسئله داسي ده چه که څه هم زوس په اصل کښي د يوناني اساطيرو د يره لويه رب النوعه ده خو په کاپيسا کښي ئي کاملا محلي مفهوم پيدا کړي دي او د کاپيسا دعلاقي رب النوعه ده چه د (پيل سر Pilusara) دغره په سر باندي اوسيدله او د (دوهم دمتريوس) او (اگاتوکلس) په مسکوکاتو کښي ولاړ ه نقش شوي ده. ايوکراتيد دهغي په ښودنه او نمايش کښي ډير نوي شيان زيات کړل چه دکاپيسا فارقه نښي او علامي شميرل کيږي، سر بيره پدي چه زوس په تخت باندي معلوميږي دهغي په مخکښي ئي دداسي فيل کوچني هيکل پخپله دغره سره پوځاي وښود چه د علاقي محلي رب النوعه ښيي.

په هندکښي ضرب شوي مسکوکات: سر بيره په باختري او کاپيسائي مسکوکاتو باندي ايوکراتيد د يونانا و باختري د ولت په هندي متصرفاتو کښي هم سکي ضرب کړي دي. دده هندي مسکوکات هم زياتره مسي او څلورکونجه دي يعني دشکل په لحاظ کاپيسائي سکوته ورته دي له دغو سکو نه په يوه سکه کښي (دفتح) رب النوعه ښودل شوي ده او د هندي څمکو فتح کېدو ته اشاره کوي په يوناني ليکنو کښي ئي که څه هم تردغه وخته پوري (دستر پاچا) په عنوان يادشوي دي خو په خروشتي مضمون کښي ئي د(راجا دي راجاسا) يعني (دپاچاهانو پاچا) عنوان هم زيات کړي دي او ځان ئي (دپاد شاهانو پاچا) بللي دي.

د فتح د رب النوعي ښودنه او نمايش او د(شهنشاه) دعنوان استعمال هر يو پخپل ځاي ښکاره کوي چه دايوکراتيد دسلطنت په وروستيو کلو نو کښي دده دمملکت داريه او حکومت حوزي ډيره پراختياوموندله او په هندکښي دباختر له پخوا نيو متصرفاتو نه په يوه

برخه کښې ئې هم سلطه او نفوذ پیدا کړی دی، ایوکراتیډ د باختر پاچا د (ستر پاچا) په عنوان سره ځان د آریانا مقتدر پاچا او د (شهنشاه) په عنوان سره یې ځان د هندي متصرفاتو امپراطور ښودلی او معرفي کړی دی.

د ایوکراتیډ مړینه (وقاتیدل) هغه: وخت چه ایوکراتیډ د مټریوس د اولادې د تابع کولو او محکومولو د پاره د هندوکش جنوب ته راښکته کیده خپل مشر زوی (هلیوکلس) ئې د باختر د نائب السلطنه په حیث، و تا که او کار و نه ئې د هغو سپارل او د دې شرح حال به په خپل ځای کښې وکړو، د ایوکراتیډ د مرګ نېټه او د هغه کیفیت دواړه مبهم او په تیاره کښې دي او په دغه باب کښې بېل بېل نظر بې و بل شوی دی او ځینې وایي چه د خپل زوی (هلیو ـ کلس) د لاسه وژل شوی دی، ځینې پدې عقیده دي چه پارتي مهرداد په جنګونو کښې وژل شوی دی، او ځینې نور داوایي چه د دوهم دمټریوس دیونانو او باختري دوهمې سلطنتې کورنۍ آخرنۍ زوی د مهرداد له ظهور نه استفاده وکړه او ایوکراتیډ یې وژلی دی، په هر حال کوم شی چه له دغو ټولو نظریو نه معلومیږي دا دی چه د غه واقعه هغه وخت پېښه شوه چه ایوکراتیډ له ځینو هندي متصرفاتو یا د هند له شرقي سرحد و نو نه بیرته رانه یا په شمال کښې د اسکا ئیانو پیدا کیدو یا په غرب کښې د پارتیانو حملې دی مجبور کړی وُچه بیرته راشي. سره د دې (جوستن) په دغه باب کښې په دو ر بیلو بیلو صورتونو نظریه ښکاره کوي: یو ئې وائي چه د خپل زوی د لاسه و وژل شو، او بله دا ده چه د پارتیانو له خوا وژل شوی دی. د (جوستن) لومړی نظریه یو زیات ور معاصر و آثار و کښې داسې بیان شوې ده: هغه وخت چه ایوکراتیډ له هند نه بیرته راته د خپل زوی د لاسه چه د حکومت په چارو کښې د ده سره شریک وُ، و وژل شو، او ددې دغه زوی ئې طبعاً (هلیوکلس) بللی دی او وائی چه د پلار مړی ئې ښخ نه کړ، او هغه ئې تر عرادو لاندې پایمال کړ. (تارن) (هلیوکلس) ته د دغې وژنې او قتل نسبت کول بېځې له حقیقت نه خالي بولي او د غه نسبت بېځایه او دلائلو او بېځایه د جوستن په دوهمه نظریه زړ ور کوي لومړی دا چه هلیوکلس د سلطنت په چارو کښې د خپل پلار سره شریک نه وُ بلکه د خپل پلار نه وروسته د باختر په تخت کیناست او د پره مودې ئې پاچائي وکړه. له بلې خوا سره د دې چه (جوستن) هلیوکلس د خپل پلار قاتل بللی دی وائي چه ایوکراتیډ د پارتیانو سره په جنګ کښې و وژل شو او زوی ئې په ګاډي کښې

سپو روڼ: دلته دوهمې نظر بې تهراڅې او د جنګ په میدان کښې دایو کراتید نوم اخلی او و روسته بیا هغه و لایتو نه شمیر ی چه ایو کراتیدنیولی او فتح کړی وو، او په آخر کښې وائی چه بکتریانې یعنې ایوکراتیدد ضعیفو پارتیانو له خوا اشاته و وهل شو. (تارن) د جوستن دوا ره نظر بې سره یو ځای کوی او داسې نتیجه وړ ځنی اخلی چه ایوکراتید پارتیا نو په جنګ کښې دیو زوی له خوا او وژل شو؛ دلته په هغه اشتباه چه وروسته بیا د جوستن په اصل متن کښې پیداشوی ده قضیه په دغه ډول کېږی چه دیونانو او باختری پاچا دایوتیدم له زامنو څخه دیو زوی له خوا د پارتیانو په مرسته وژل شوی دی. (۱)

دایوتیدم د کورنۍ د غه زوی له دوهم دمتریوس نه مقصد دی چه یو وخت د خپل پلار له خواد پاروپامیزادی امیر و، او وروسته بیا په باختر کښې دایوکراتید د پیدا کید. و او ظهور په زمانه کښې په دغه ځای کښې ئې دامیر حیثیت در لود؛ او د تخت و تاج د بیر ته نیولو په کار کښې دده د پلار او ورور دنا کامیدو نه وروسته هغه وخت چه په شمال کښې اسکا ئیان پیداشول او او مري مهرداد په ۱۵۹ کال کښې په آریانا باندی حمله وکړه دوهم دمتریوس د ده په مرسته له منا سبې موقع نه استفاده وکړه او خپل اقتد ار ئې زیا ت کړ او مهرداد دده له ملګرتیانه استفاده وکړه او داریوس (هریرود) له سیندنه پورې پروت، او د مهرداد د جملې له کبله ( ایوکراتید) له هندیاد هند له سر حدونه بیر ته راتېر او ددوهم د متریوس له خوا ووژل شو او مړی ئې تر عراده لاندې پا مال کړ.

په دغه تر تیب مهرداد یوه زمانه تر باختر پورې نفوذ پیدا کړ او ترد ی چه دبلخ په ښارو خوا کښې ئې یو ښار جوړ کړ چه د Surog ana of phra ates په نامه یادیده او بطلیموس هغه اکسوس ته نژدې بللی دی.

مهرداد په باختر کښې ډیره موده پاتې نه شو او علت به ئې هم بنائې چه دا شکا ئیانو زیا ت فشار و او وائی چه یو (فرهاتس) نومی حکمران ئې په باختر کښې مقرر کړ او په خپله ده بیستا ن او اراکوزی او دجدر و زیادنیو او دپاره و خوځید خو دده دحکمران موضوع څرګند نه ده (هایوکنس) دیونانو او باختری پاچاد ( ایوکراتید) زوی سغد یا ن، مرګیان او با خته دو هم ځل ونیول او په دغه ځای کښې ئې دپاچائی اعلان وکړ.

---

(۱) په باختراو هند کښې یونانیان د کتاب ۲۲۲ مخ.

ACKU

پلاتو: (تارن) لومړی وارد مسکوکاتو د شباهت له مخې یو بل نفر هم د ایوکراتید د کورنۍ د پادشاهانو په فهرست کښې راوستی دی چه (پلاتو) نومیږی د دغه سړی په مسکوکاتو کښې فرلادی خود (خولۍ) دا یوکراتید په شان په سر کړی ده او په (باختر او هند کښې یونانیان) د کتاب د مؤلف په عقیده د دغو دوه پادشاهانو یعنی ایوکراتید او پلاتو دومره سره مشابه دی، چه فرق ئې مشکل دی، هغه بل شی چه د پلاتو په مسکوکاتو کښې نقش دی څلور آسه گاډی دی چه د لمر رب النوع ده. وائی چه دغې عرادې په یونانی صنائعو کښې ډېر استعمال درلود، په باختر او د آریانا په نورو صنعتی مرکزو کښې ئې نمایش هم ډېر معمول ؤ لکه چه د بامیانو د ۳۵ متری بت د اطاق په چت کښې هم نقش ورځ او اوس هم زیاته برخه ئې موجوده ده او لیدل کیږی. د دغې موضوع د گندهارا په صنعتی مدرسو کښې هم عمومیت درلود او د بودیزم د دین او د گندهارا د صنعت په خپرېدو سره له آریانا نه په مرکزی آسیا کښې هم خپره شوه. پروفیسور (هرز فیلد) د غه عقیده لری چه د لمر اسپه گاډی د لمر د رب النوعی نمایش په یونان او باختری صنعت پوری مخصوص دی او له باختر نه نورو ځایو ته خپور شوی دی.

<u>په باختر کښې د سکې د ضربولو صنعت او حکاکی</u>: د یونان او باختری پادشاهانو عمومآ د ښارونو په آبادیو او ودانیو کښې او د مستظرفه صنائعو لکه د معماری، حجاری، هیکل تراشی او حکاکی په ترقی کښې ډېره توجه درلوده او د هنر او صنعت خاوندانو ته ئې تشویق ورکاوه د دوی په زمانه کښې د سکې ضربول د ظریفو صنائعو له فنونو څخه شمېرل کېدل، او ډېره ترقی ئې کړې وه او لکه چه پخپله مسکوکات شهادت ورکوی د ایوتیدم، دمتریوس. انتی ماکوس او د ایوکراتید د زمانې اداری دوری یعنی د یونان او باختری پادشاهانو د دوهمې او دریمې کورنۍ د سلطنت زمانه داسې عصر و چه دغه فن پکښې ډېر پرمخ تگ او ترقی کړې وه او د ایوکراتید په زمانه کښې د ترقۍ آخری درجې ته رسیدلی و او ددې د زوی (هلیوکلس) د حکومت او زمامداری په دوره کښې مخ په تنزل شو. (تارن) وائی چه: (بیا هم شک او شبهه نه په یکترا کښې صدورت

ACKU

جوړوونکي حکاکان ډېر زيات وو او که څه هم د دوی نومونه هېر شوي دي او دهغو
کسانو نومونه چه د (ډلبزی ماکوس) دپاره ئې کار کړی دی او دنورو ډېرو دهنر دخاوندانو
نومونه له یاده وتلی دی خو که چیرې دهغوی نومونه په منځ کښې نشته ددوی آثارو ددوی
افتخار ژوندی ساتلی دی .)(۱) په دغه ترتیب د مسکوکاتو په ټاپه باندی د یونانانو باختری
پادشاهانو د صورتونو نقشونه او دهغو لیکلو او په بکتریا کښې
دهغو ضرب دیونانانو باختری پادشاهانو په تیره بیا دایوکراتید په وخت کښې په فوق العاده
دول د ترقۍ او زیاتې درجې ته رسیدلی وه. هغه منقوش او نقش شوی مهرونه او غمی
(نگینه ها) چه دبلخ شهر بانو، خلم، قندوز، سرپل، او باختر دنورو برخو په شاوخوا
خرابو کښې ډېر پیداکیږی د مسکوکاتو سره یوځای شوی او درسامۍ، هیکل تراشۍ
حکاکۍ او نورو ډېرو کارو کامله ترقی ثابتوی او واضح معلومیږی چه داریانا خاوره
په دغه زمانه کښې د ظریفو صنائعو د زیاتې ترقۍ د پاره ډېره ښه او مستعده گرځیدلی
وه او د بودیزم په خپریدو سره د یونانانو او باختری صنعتی قریحه او مذهبی اساطیر
او نکلونه سره یوځای شوی او یوه مشهوره مدرسه ورځنې میدان ته راووتله چه (صنعت
گریك او بودیك) نومیدله او مونږ هغه (دباختر صنعت) بولو او ددې دپاره دخپل
مملکت په تاریخ کښې یو جلا فصل لرو چه وروسته به راځی.

هلیوکلس: (ایوکراتید) داریانا دنورو پادشاهانو په شان هغه وخت چه دخپل
سلطنت له مرکز باختر څخه په هند باندی د حملو په نیت روان شو خپل مشر زوی
(هلیوکلس) ئې په باختر کښې نائب الحکومه مقرر کړی ؤ لکه چه د مسکوکاتو او څینو
نورو شیانو له منځې معلومیږی هلیوکلس په باختر کښې دخپلې نائب الحکومه گۍ په زمانه کښې
نږدې شل کلن ؤ. ددې دپلار د وژل کیدو وضعیت، د شمال نه خوانه داسکاثیانو
راپیداکیدل او د لمر لویدیزې خوانه د پارتیانو تیری هغه زمانه چه دی د باختر په تخته
باندی کیناست ډېره مغشوشه او مبهمه کړی ده خو په هر حال د (تارن) د تحقیقاتو له
مخې دومره معلومه شوه لکه چه گمان کیده هلیوکلس دخپل پلار د وژلو په کار کښې

(۱) په باختر او هند کښې یونانیان دکتاب د (تارن) د تالیف ۲۰۹ مخ

لاس نه‌درلود، په‌شمال کښې داسکائیانو دپاچاهۍ آګاهۍ او په وخت کښې مهرداد په ۱۵۹ ق م کښې په‌تېر بو او تجاوز و لاس پورې کړ ایو کراتید سمدستي د هند له سرحدو نه‌پورته را ستون‌شو او په‌هغه‌بیان‌چه‌و شوو او ژل‌شو هلیوکلس‌سمدستي دپاچاهۍ اعلان‌وکړ خو پارتي مهرداددباختر خواته‌راغی او هلیوکلس‌ئې له‌اقتدار او نفوذ څخه‌وغورځاوه‌سره‌ددې هغه وخت چه‌مهرداددرانجیانا او اراکوزی په‌نیولو بریخت شو هلیوکلس‌په‌باختر سلطنت‌یان او مروکښې خپل‌نفوذ ټینګ کړ او بوڅه‌موده‌نور ئې هم حکومت‌وکړ، تردې‌چه اسکائیانو دپرفشار را وړاو دی ئې مجبور کړ چه‌دهندوکش جنوب‌ته راښکته شي په‌دغه ترتیب هلیوکلس دیونانا او باختری روستی پاچادی‌چه په شمالي برخه کښې ئې حکومت کړی او دده‌په‌وخت کښې د ۱۳۵ ق م په‌شاو‌خوا کښې دیونانا او باختری سلطنت مرکز دهندوکش جنوب کاپیساته نقل شوی دی. هرکله‌چه هلیوکلس دشمالي برخې له سقوط نه‌ور رسته دهندوکش په‌جنوب کښې هم سلطنت او پادشاهي کړی ده نو د موضوع دپرله پسې والی دپاره په لنډ صورت په شمال کښې د اسکائیانو پیدا کېدو ته اشاره وشوه او په کاپیساکښې دهلیوکلس دزماني د پېښو په بیانولو پیل کوو:

داسکائیانو پیدا کیدل او ظهور او دآریانا د امپراطورۍ بحران:

---

له‌هغو مهمو پیښو څخه چه په دغه وخت کښې واقع کیږی او په نتیجه کښې دهندوکش په‌شمالي برخو کښې دیونانیانو نفوذ سقوط کوی هغه د(ساکیانو) یاداسکائیانو پیدا کیدل دی چه‌دسیتی قبائلو څخه‌دی او ایګزارت (سردریا) دسیند دهغې خوا برخې له‌اخری شمال شرقي برخې نه‌راپیدا شوی او په‌سغد یان او بکتریان کښې ښکاره کیږی ځا و یونانیانو او باختری د ولت کرار کرار رمخ په زوال‌شوی او له‌منځه وتلی: او هرکله چه لمرپریواته خوا ته داسکائیانو په‌تګ کښې ددوی او دپارتیانو ترمنځ تصادم پېښیږی ددوی تنه پارتي پاچاهان وژل کیږی او خبره دې ته رسیږی یعنی مسئله و خپریږی، او په‌آخر کښې (متری داتس) یالومړی مهرداد مداخله‌کوی لکه‌چه د آریانا په‌ختیځ ویاندی ددې‌د تیر بو بوعات هم‌دغه‌داسکائیانو پیداکیدل بولی، اسکائیانو نه‌دهلیوکلس‌په وخت کښې باکه

دیونان او باختري دوهمې سلطنتي کورنۍ د موسس (ایوتیدم) لمز ماڼۍ څخه په تهدید لاس پورې کړې وه تر دې چه داېوکراتید د غیاب په وخت کښې ئې خپل تهدید زیات کړ؛ او د ده د زوی هلیوکلس د سلطنت په وخت کښې داکس و سن له سیند نه پورې یوو ت، او د باختر برخې ئې ونیولې او هلیوکلس مجبور شو چه د هندوکش جنوب ته راکښته شي.

داسکائیانو پیدا کیدو د یونان او باختري دولت په اداري نظام کښې یو بحران پیدا کړ او سغدیان او باختر داسکائیانو په لاس ورغلل.

پارتیانو د آریانا او لایت ونیو او په (کاپیسی) کښې د یونان او باختري دولت مرکز د هندوکش جنوب ته نقل شو:

د هندوکش په جنوب کښې هلیوکلس: هلیوکلس د هغو واقعاتو له کبله چه د هندوکش په شمال کښې پیښ شول د خپل عزم او ارادې نه لاس وانه خست او دد غه غیره د مسئلې جنوب ته را کښته شو، او په کاپیسا کښې ئې د یونان او باختري دولت د پاره مرکز و ټاکه؛ هلیوکلس د آریانا په مرکزي ولایت کښې یعنې پاروپامیزادې کښې خپل نفوذ ټینګ کړ او بیائې د لمر خاته خوا ته مخه وکړه.

(مناندر) د دمتریوس مشهور جنرال چه د دمتریوس د مرګ نه وروسته ئې د یونان او باختري دولت په هندي متصرفاتو کښې د پاچائي اعلان کړی و تر ګند هارا پورې ئې خپل نفوذ خپور کړی او تر څو چه ژوندی و په دغه برخه کښې ئې حکومت وکړ؛

د مناندر له مرګ نه وروسته د ده ښځې (اګاتوکلیا) ملکې د خپل زوی (استراتو Strato) نه خوا چه کشر و د سلطنت د نیابت عهده په غاړه واخستله.

په دغه وخت کښې هلیوکلس د دغې ملکې له اداري ضعف نه استفاده وکړه او ګندهارائي بیرته د خپل سلطنت د قلمرو جزو ګرځاوه.

د هلیوکلس ځینې مسکوکات د غه وضعیت ښکاره کوي ځکه چه د (اګاتوکلیا) د ملکې سکې ئې دوهم ځل بیا ضرب کړې دي.

او په دغه دول د مسکوکاتو له مخې معلومیږي چه هلیوکلس د هندوکش په جنوب کښې خپل قدرت او نفوذ له پخوانه زیات کړ او د آریانا خاورې ئې تر اند. وس او ټاکزیلا پورې بیرته واخستله او (استراتو) د مناندر زوی ئې د یونان او باختري دولت د هندي متصرفاتو

ACKU

د دوهم امارت سرحد و ته یعنی د جیلم تر سینده پورې رسولی دی (۱).

د هلیوکلس مسکوکات: (هلیوکلس) یوازې په یونانی ژبه او رسم الخط او په یونانی او پراکریت دوو ژبو هم سکه وهلې ده او هغه فلز چه په مسکوکاتو کښې ئې په کار کړی دی سپین زر او مس دی. د ده د پاچائی زمانه که څه هم لنډه وه خو د (نیکایوس) یعنی د ستر او کبیر د عنوان او د یونانی او پراکریت د ژبو له مخې چه د خپلو مسکوکاتو په ضرب کولو کښې ئې استعمال کړی دی د ده عظمت او اقتدار معلومېږی او ښکاره کېږی سره د دې چه د اسکنا تیا نو تهاجم موجود و او سغد یونانیانو ته نیولی وو او د (راګنوس) خاندان ته دوی رسیدلی وو خو بیا هم یو څه موده ئې په باختر کښې اقتدار درلود او په آخر کښې د اسکاتیانو د هجوم او فشار له کبله کاپیسا ته لېږ بدلی دی. د هندوکش په جنوب کښې په کاپیسا (د کوهدامن - کوهستان جوزه) د غوربند په دره، بامیانو، ګندهارا (کابل او سمت مشرقی او پېښور) سمت جنوبی - او دیانا (سوات او بنیر) او په غربی پنجاب او تاکزیلا باندې د ده نفوذ خپور و.

د هغه موږ وړیل چه (هلیوکلس) د سپینو زرو او مسو نه سکه وهلې ده او ځان ئې د هلیوکلس (ستر پاچا) بللی دی. د ده د مسکوکاتو نور تفصیلات په دغه ډول دی:

(۱) — د سپینو زرو ګرده سکه:

د سکې په یوه مخ باندې په نیمتنه ډول د پاچا تصویر

د سکې په بل اړخ باندې: د فیل تصویر نقش دی

(۲) مسی ګرده سکه: د دې سکې یو او کین مخ داو مرنی (سپینو زرو) سکې په شان دی، یوازې د هغې وزن کم دی.

---

(۱) باید داو وړیل شی چه ځینی مدققین د مسکوکاتو د پیدا کیدو له مخې د دوهم ایوکراتید د هلیوکلس د زوی په وجود هم قائل شوی دی او وائی چه هلیوکلس هغه وخت چه په هند باندې حمله کوله هغه ئې په باختر کښې امیر مقرر کړی و، د غه رنګه دد وهم هلیوکلس په وجود باندې هم نظریه ورکوی چه د پلار له خوا د پارو پا میزادی امیر و. دغه مسئله په راتلونکی تدقیقات روښانه کړی.

د هلیو کلس په ځای ناست خلک (جانشینان) : له دې ګبله چه په واضح او یقینی ډول تاریخي اسناد نشته نو په ډا ډه زړه و یلی نه شو چه د هلیو کلس په ځای ناست کسان به څوک وو ی که څه هم مسکوکات یو شمېر پادشاهانو ته معرفی کوی خو بیله تاریخي سندونه د ده د جانشینانو تاکل مشکل دی ، سره د دې مؤرخین او سکه پېژندونکی چه زموږ د مملکت په پخوانی تاریخ کښې څېړ نه او تتبع لری هر یو د خپلې نظریې له مخې یو شمېر پادشاهان د هلیو کلس د جانشینانو په قطار کښې یادوی .

کمبریج هستری آف انډیا ۵۵۷ او ۵۵۸ مخ او د هغه له مخې فرانسوی و اله د و پوسن (۱) د دغو کسانو نومونه اخلی چه د هلیو کلس نه وروسته په کابل ، پنجاب ، ګندهارا او تا کزیلا کښې ئې سلطنت او باچائی کړی ده ، (۱) دیومدس (Diomedes) (۲) پانتر (pancre) (۳) فیلوګزنوس (philoxenos) (٤) ارتمیدور Artemidore (۵) پوکولاوس (peukolaos) (٦) پان کولاوس (pentoleos) (۷) ارکیبوس Archebios (۸) انتیال کیداس Antialkidas (۹) امین تاس Amyntas (۱۰) هرمایوس Hermaeus که څه هم دغه پادشاهان ټول د هلیو کلس په ځای ناست دی خو که چېری ښه ځیر شو (رپسن) د کمبریج هستری آف انډیا د کتاب مؤلف په دغو پاد شاهانو کښې فرق راوستی دی او شپږ لومړی کسان په (پوشکلاوا تی) کښې د هلیو کلس په ځای ناست کسان ، او دری وروستی کسان یعنی (انتیال کیداس) (امین تاس) او (هرمایوس) د کابل په دره کښې د ده د جانشینانو له جملې څخه بولی .
په هر حال هر کله چه په دغه باب کښې معلومات ډېر تیاره او مبهم دی نو په دی نو په دغو کسانو په باب کښې بحث کوو چه د کابل په دره کښې مستقیماً د هلیو کلس جانشین شوی دی .

انتیال کیداس : د هلیو کلس په ځای ناستو کسانو په جمله کښې چه نوم و نه ئې د مخه یاد شول (انتیال کیداس) له ټولو نه مشهور دی . د ده یو سفیر چه هلیو دوروس (Heliodoros) نومېده او د (دیون Dion) زوی و او د تاکزیلا په ښار کښې اوسیده د (مالوا) راجا ته چه (کاشی پوتر ا بها ګبهدرا) (Kaciputra Bhagabhadra) نومېده .

(۱) د یوو پاڅو یونانی پر یانو ، پارتیانو او چیانو په زمانه کښې هند د کتاب ۲۳۵ مخ .

د سفير په حيث ولېږه او د ( ويشنو Visnu يا د ( کرشنا ) په افتخار ئې د ( ويديکا Vidica ) مشهور منار (سانچي) ته نژدې جوړه کړه او په دغه ترتيب ئې نوم د دغې منارې په ليکنو کښې پاتې شو. د (انتيال کيداس - تاريخ په واضح ډول معلوم نه دی او معمولاً د ده سلطنت د ۱۲۰ ق م په شا و خوا کښې بولي، دده د سپينو زرو په مسکوکاتو کښې يو داسې فيل معلوميږي چه خاتم ئې پورته کړی او (زوس نيکه فور ZeusNiKephore) ته سلام کوي.

( انتيال کيداس ) يو بل قسم مسي سکه هم لري (۱) چه په کيڼ مخ باندې ئې د پيل شکل او په ښي مخ باندې ئې د کاپيسا د ښار ساتونکي رب النوع يعنې (په تخت باندې زوس) سره د دې منطقې د مخصوصې نښې يعنې د ( فيل سر ) ضرب شوی دی

امين تاس : امين تاس هم د اپوکراتيد له اولادې څخه دی او په هغه صلاحيت چه مسکوکات ئې ور کوي د ترتيب له مخې بايد د (انتيال کيداس) نه وروسته سلطنت ته رسېدلی وي، دده د سلطنت د دوره مربوطې پېښې ډېرې تياره دي ( مورګان ) د فرانسې مشهور سکه پېژندونکی ( امين تاس ) د کابل د درې پاچا بولي او د ۱۰۰ ق م سنې نسبت ورته کوي. امين تاس د سپينو زرو او مسو نه سکه وهلې ده او لقبان ئې ( بازيلوس نيکاتوروس امين توس يعنې ستر پاچا امين تاس بالې دي ) د ده د سپينو زرو د سکې جزئيات په دغه ډول دي :

ګرده سکه : دسکې ښي مخ باندې : د پاچا نيم مخ تصوير سره د دغو جملو نقش دی (بازيلوس، نيکاتوروس امين تاس)

دسکې په کيڼ مخ باندې : زوس په تخت باندې ناست دی او د خرما پاڼې او د تالندې (رعد) نښه ئې په لاس کښې نيولې او په پراکريتي ژبه نوشته لري.

هرمايوس : د(۴۲-۲۰ ق م) .- هرمايوس د مسکوکاتو او د هغې فيصلې په شهادت چه په نتيجه کښې ئې ټولو مؤرخينو کړې ده د يونان او باختري

---

(۱) دکمبريج هسترۍ آف انديا ۵۹ مخ

دولت آخرني پاچادی چه په کاپیسا کښې ئې پاچائي او سلطنت کړی دی. د هسره دد ې چه نیوچیانو د تهاجمو او یرغاو تهدید موجود وو چه وروسته یا اسکائیانو د هند وکش په شمال کښې میشت شوي و او د یهاو ایا نو او اسکائیانو د تیری او تجاوز خطر ې د جنوب غرب او جنوب شرق له خوا احس کیدلی تقریبا ۲۵ یا ۳۰ کاله پاچائي وکړه، هرمایوس له سپینو زرو او مسو نه د یری گردی او څلورکونجه (مربعی) سکی ضرب کړی دی او د سپینو زرو په ځینو مسکوکاتو کښې په څپله دی او ښځه ئې ملکه (کلیوپ Calliope)

دواړه د سکی په بنی مخ با ندی معلومیږی او د څېلو مسکوکاتو په ضربولو کښې ئې طبعا دوه محلي ژبو ته اهمیت ورکړی دی. او یونانی او پراکریتی ژبې استعمال کړی دی، او هر کله چه یوازی د معلوماتو منبع د ده مسکوکات دی نو د غه ذ ی د ځینو مسکوکاتو په باب کښې ئې په مفصل ډول بحث کوو.

(۱) — د سپینو زرو گرده سکه: د سکی په بنی مخ باندی: په نیم تنه ډول د پاچا او ملکی تصویر یا ز یاتوس سوتر هس یا رما یوس ... کی کلیه بس یعنی (هرمایوس منجی پاچا او کلیوپ ملکه) د سکی په بل اړخ باندی: پاچا په آس سپور دی او د غه پاسنی مضمون په پراکریتی ژبه او خروشتی رسم الخط لیکل شوی دی.

• • •

(۲) د سپینو زرو گرده سکه: د سکی په بنه مخ باندی: د پاچا نیم مخی تصویر او د پاسنی سکی په شان یونانی مضمون لیکل شوی دی.

د سکی په شا مخ باندی: زوس په تخت باندی ناست دی مهاراجاسا ... تراتر اساهر ما یاسا یعنی (هرمایوس منجی پاچا).

(۳) مسی څلورکونجه سکه: په بنی مخ باندی دیوې رب النوعی نیم تنه تصویر او د پاسنی سکی په شان یونانی مضمون نقش دی.

د سکی په شا مخ باندی: د آس تصویر د پاسنی سکی په شان د پراکریت مضمون

• • •

ACKU

(٤) مسی گر دوسکه : دسکی پەښې مخ باندې : دپاچانیم تنەتصو یر او پەکیښه خو ابانډی
دهرا کلس ولار تصویر :

دغه سکه دنار یخی پېښو پەلحاظ د ډېره مهمەده ځکه چەپه ښی مخ باندې ئی پە یونانی ژ بەدهرمایوس قو ماو پە کیڼ مخ باندې ئی دېرا کریت پەژ بەدکجو لاکدفیزس کوشانی رئیس نوم لیکل شوی دی او دغه دوه شیان ښکاره کوي :

لومړی داچه کوشانیان دیونانی هرمایوس نەور وسته پاچانی ته رسیدلی دی، دوهم داچه کوشانی رئیسانو هرکاله چه سلطنت ته ور سیدل دیونان او باختری پادشاهانو لاره دمسکوکاتو پەضربولو کښی نیولی ده بایدو ویل شی چه په (بریتش موزیم) کښی لو ی او اړه گرد مسی عجیب مسکوکات موجود دی چه په هرمایوس پوری اړه او ارتباط لری او مرگان د (شرقی مسکوکاتو رساله) ددوهم جلد په ۳۶۳ مخ کښی ددغو مسکوکاتو تصویر و نه او تشریحات ورکړی دی .

ددغو مسکوکاتو ښی خوا تەدا سی شکل او گرچاپیره په یرا کریتی ژ بەهرمایوس پاچا، ستر شهنشاه او پەکیڼ مخ باندې ئی په چیناتی ژ بەنو شته اری :

دهرمایوس معاصر عمومی حالات : زن! چه هر کتاب ته مراجعه وشی نوددغه جمله یکښی لیدل کیږی چه (هرمایوس دکابل آخر نی یونانی پاچادی) او وېلی شو چه هیڅ یو مؤ رخ او مستشرق تر اوسه پوری پەدغه باره کښی دنظر یو اختلاف نه لری خو که چیری وغواړو چه دده دسقوط تاریخ او کیفیتونه په دغه صراحت بیان کړو نودا گړ ېده ئی بیانول نشو ځکه چه په دغه باب کښی باوری منبع پەلاس کښی نشته او که چیری ځینی تفصیلات ورکړی هغه هم حدسیات او گمانونه دی ، خو سره ددې هر کله چه ددغه حدسیات دعمومی حالاتو دکتنی او دمسکوکاتو او نورو دشهادت له مخی وضع او بیان شوی دی نو بیاهم لەحقیقت نه خالی او لیری ندی او بیان ئی بی ځایه ندی . آریانا د هرمایوس په زمانه کښی څه وضعیت درلو دسره ددې تر لوالوگو او اوږ ؤدوړ او داسکائی او یوچی متهاجمینو پەراتگ آیادهندوکش شمال دسیاسی سیادت پەلحاظ د چاپەلاس کښی بؤ ، دارا کوزی د دران ژیان او دآری دولایت شمال غربی او غربی غاړی دچا

ACKU

په‌لاس اداره کیدله؟ او دغربي پارتیانو نفوذ تر کوم ځای پوري رسیدلی ؤ؟ هغو اسکائیانو چه د هلیوکلس د سلطنت په زمانه کښي باختر ته راغلل او بیا دپارتیانو دبند او سد په واسطه ئي ونشو کړی چه دغرب خوا ته لاړشي او په (ساکاستانا) یعني سیستان کښي او له دغه ځای نه قندهار ته او دبولان ددري دلاري د سند ناوي ته راښکته شوی وو څه مشغولیتونه درلودل؟ او دشرقي پنجاب په یونانی امراوو ئي څه اغیزي پر کړي، دغه دي یو شمیر هغو پوښتنو ته چه دهرمایوس دزماني دعمو میاتو په موضوع کښي باید ځواب ورکړی شي یا په بل عبارت که چیري دکابل دیونانیاو باختري وروستي پاچاهانو ذله قلمرو څخه شاؤخوا ته نظر و اچول شي نو داسي خطرات لیدل کیږي چه یونان او باختري وروستي پاچائي تهدید او هغه خطرات چه دکا (پیسا) او (ساکالا) دیونان او باختري پادشاهانو ئي دلومړي مسیحي پیړي په اوله نیمائي کښي تهدیدول په حقیقت کښي هماغه مستي څپې او موجونه دي چه دهلیوکلس په زمانه کښي داکسوس له او بو څخه تیر شول او دنیم دائري په دول داسکائي او یوچي تها جما تو او مهاجر تو په لباس دشمال غرب او جنوب د سرحدو غاړو ته راغلل او د باختري یونانیانو داختناق سبب شول او که چیري واضح و و بل شي نو باید چه و گوړو اسکائي کوشان، پارت او پهلو څلور څانگي یا دغه دوه عناصر کوم ځایو ته رسیدلي وو.

اسکا ئیان : اسکائیان سیتي، یوچي، یا کوشانی پیش ترا و لان چه څوموده پخوا

---

داسکائیانو دظهور راو دباختر دامپرا طوري په دبحرانتر عنو انلاندي ئي بیان و شوهر کله چه د پارتي لومړي مهرد اددمقاو مت په واسطه دغرب خوا ته په تگ قادر نه شول نو جنوبي خوا ته راغلل او په سیستان کښي خپاره شول او د پارتیانو سره دهغوی له گډون څخه پهلو ایان منځ ته راغلل چه د(ونونس) سره ئي په سیستان او قندهار کښي دغوی سلطنت بنسټ اواسا س کیښود او د اسکائیا نو مهمه برخه زیاتره دجنوب خوا ته وخوځید له او دبولان ددري دلاري داندوس (سند)په حوزه کښي تیت ؤ پرك شول او دیو سلطنت په شان دهندوکش دجنوب دیونانی او باختر ددولت بقایا یعني دکاپیسا او کابل سلطنت چه دسند دسیند دغرب خوا ته ؤ په ساکالا او تاکزیلا کښي ددوی دامپرا طوری له سلطنت څخه چه دغه دشرق خوا ته موجود ؤ جدا کړ. اود لومړي (ق م) پیړۍ په دوهمه نیمائي کښي

ACKU

د اسکا ئیانو د عروج او ترقی له کبله طبعاً د یونان او باختری دولت امراد سقوط سره مخامخ شول د (ارپسن) په نظر په د (ایوتیادم) و روستنی اولاده یې د لومړي اسکائی از س په زمانه (۵۸ ق م) کی سقوط کړی اود (والهد و یوسن) دلیکنې له مخې تا کز یلاند (۸۰ ق م) په شاؤ خوا کښې سقوط وکړ ، په هر حال په دغه ځای کښې زمونږ مقصد د دغې مسئلې بیول دی چه لومړی خطر د جنوب له خوا شروع شوی او د اسکا ئیا نو له خوا د یونان او باختری دولت دامراو و روستی عناصر په شرقی پنجاب کښې له منځه وړل شوی دی.

پارتیان: د پارتیانو موضوع او د دوی د سلطنت په مؤسس بلخی ارساسز او دی مربوط پښتې تولی د دوی په مخصوص فصل کښې راغلی او بیان شوی دی. هغه شی چه دلته د وینا و اولیکښی وړ دی دادی چه (ساکستانا) یعنی سیستان ته د اسکا ئیانو د راتګ سبب دوی شول ځکه چه د غرب لاره ئې په دوی باندی بنده کړه ، که څه هم د اسکائیانو او پارتیانو په جنګونو کښې دغه وروسته ذکر شوی طائفې په اول کښې ډیر تلفات ورکړل او د دوی د دوه تنه پادشاهان (دوهم فرهاتس) په ۱۲۸ ، او (ارتبان) په ۱۲۳ ق م کښې مړه شول مګر او مړی او دوهم مهرداد چه د (۱۷۱-۱۲۶ ق م) او د (۸۸-۱۲۳ ق م) تر منځ ئې سلطنت درلود د خپلو انو انتقام واخست او په شمال کښې ئې د آری ولایت او د بکتریا تر یوې برخه داوسنی یعنی تر شؤ خوا پوری او په غرب کښې ئې د سیستان غربی غاړی (سبزوار فراه او د اسی نور) او په جنوب غرب کښې ئې اراکوزی یعنی د ارغنداو حوزه او حتی په شرق کښې ئې ګندهارا هم ونیول.

یعنی د نیم دائری په ډول د غرب له خوا نه محکښی راغال او د شمالی او جنوبی غا ړې یوه برخه ئې هم ونیوله او په دغو ځایو کښې داوسیدونکو اسکائیانو سره ګډ شول ، تر دی چه (سیتی) زورور حملی چه ممکن ده د یوچی قبیلو له راتګ نه عبارت وی د دوی قواوې ضعیفه کړی او د دوی نائب الحکومه ګانو (مرګا) یا (مونس) په سیستان او قندهار کښې د خپلواکی اعلان وکړ. نو په هغه وخت کښې چه په کاپیسا، کابل او ګندهارا کښې د یونان او باختری دولت نور ذکر او محدود شوی وؤ پارتیان هم په مستقیم او غیر مستقیم صورت محکښی راغلل او په تیره بیا پهلوایانو چه د سیستان او قندهار د مستقلو پارتیانو نه عبارت دی د هند وکوه په جنوب کښې او د

ACKU

حتی د باختری دولت په هندی متصرفاتو کښی د یونان او باختری دولت د نفوذ په غورځولو او لیری کولو کښی لوی لاس درلود .

پهلوا : دغه پهلوایان په حقیقت کښی لکه چه د مخه مو ویل له پارتیانو نه مقصد دی خو هرکله چه دیر وروسته ذکر شو د دولت د ضعیفیدو نه پس ( وونونس ) نومی په سیستان او قندهار کښی خپلواك سلطنت جوړ کړ او د عرق او نژاد له مخی هم د اسکائیانو سره ډیر نږدیوالی او مخلوط دی نو ددی موضوع د آسانتیا دپاره دوی پهلوا بولی ؛ هغه وخت چه دوی له پارتیانو نه جلا شول طبعاً سر بیره د په سیستان او فراه یا ندی د قندهار په شرقی ځمکو کښی پادشوی او د کابل د ناوی خوا ته ئی هم نفوذ پیدا کړ . او په آخره کښی د دوی له مشهورو پادشاهانو نه یو تن (گندو فارس) د کابل دره و نیوله او په کاپیسا کښی ئی د باختری یونانیانو سلطنی ته خاتمه ورکړه ؛ باید دا هم وویل شی چه د گندو فارس او هرمایوس د مقابلی بیښې مجهولی دی یعنی په دغه موضوع کښی کوم ښکاره سند په لاس کښی نشته خو د کابل د دری د یونان او باختری وروستنی پاچا د عجیبو مسکوکاتو د وضعیت له مخی مؤرخین زیاتره داسی گمان کوی پخوا له دی چه کوشانیان ورسیږی د کابل دره یو څو موده د پهلوایانو په لاس کښی وه . د هغه تقریبی او تخمینی تاریخ له مخی چه د (هرمایوس) او ( گندوفارس) د پاړ دئی دلومړی قرن پیری په آخرو وختوا و د لومړی مسیحی پیړی په آوائلو کښی ؛ کښی معلومیږی چه دواړه سره معاصر او په یوه زمانه کښی ئی ژوندون کاوه او بنائی چه هرمایوس د لومړی ق م پیړی دا ولی نیمائی په آخرو وختوکی د گندو فارس د راتگ په وخت کښی مړ شوی او یا ئی سقوط کړی وی ؛ په دغه وخت کښی (کجولا کدفیزس) کوشانی رئیس را پیدا شو او د (کجولا کدفیزس) د لومړی کوشانی پاچا له مسکوکاتو نه چه تفصیل ئی د کوشان په فصل کښی د( وروسته ذکر شوی پاچا ) تر عنوان لاندی ورکړی شوی دی داسی نتیجه اخلی چه د کابل یونانیانو د پهلوایانو له خوا سقوط کړی دی او بیا وروسته کوشانیانو دهغوی ځای نیولی دی .

سیتیان یا یوچیان : هرکاله چه (سیتی) نوم د اسکائی او کوشانی قبیلو په باب کښی

استعماليږي لوکوشاني ديوچي قبيلو بوه څانګه وه او بايدپه‌عمومي ډول هغه قبيلي چه له اسکائيانو نه ږ روسته باختر ته راغلي دي (يوچي) وبولو ؛ يوچيانو د هندوکش په شمال کښې داسکائيانو ځاي ونيو او دوی ئې سيستان ته په تنګ مجبور کړل . په هغه زمانه کښې چه يونانيان دهندوکوه په جنوب کښې محدود شوي وو ؛ يوچيانو ددغه غره په شمال کښې د خپلو قبيلو په پنځه ګونو تقسيماتو آمريت درلود ، تردې چه د کوشان قبيله په نورو قبيلو باندې لوړه شوه او (کچولو کدفيزس) ددوی رئيس د سلطنت په جوړولو لاس پورې کړ ، دی د (۳۰ ق م) په شاؤ خوا کښې د هندوکوه جنوب ته را ښکته شوی او د يونانيانو سلطنت ته ئې خاتمه ورکړه ، او که په دقت سره وواېو د هرمايوس سلطنت ئې چه (ګندو فارس پهلوا) خاتمه ورکړې وه ونيوا و د يونان او باختري ورستي پاچا په‌تقابله ئې چه د کابل د ورستي يوناني پاچاپه‌نوم هم شهرت لري د مسکوکاتو په ضربولو شروع وکړه ؛

نو په هغه‌تفصيل چه د عمر مياتو په برخه کښې ورکړی شو دهندو کوه په‌جنوب (کابل) کې د يونانا و باختري سلطنت له ختيځ و خواؤ نه‌تر‌تهه پدلاندې راتلی له شمال نه کوشانيان ، د غرب له خوا نه پارتيان او د جنوب غرب له خوا نه پهلوايان او د جنوب شرق له لوري اسکائيان محکښې را غال‌چه دد ری د سقوط اسباب ئې پيدا کړل .

په هند کښې د يونان او باختري سلطنت لمن : د لومړي فصل نه تر دغه ځای پورې وخت په وخت مو بيان او شرح ورکړه چه څرنګه د يونان او باختري پادشاهان د هند په خاوره کې مخ په وړاندې تللي دي او په دغه ځای کې ئې ځمکې نيولي او د ځان د پاره ئې منتشر فتوحات په لاس راوړي دي دغه اقدامات لومړی ځل د ايوتيدم له‌خوا شروع شول او لمن ئې داول د متريوس د سلطنت په زمانه کښې پراخه شوه ، او د (اپولودوت) او (مناندر) د آريانا د پادشاه ورورا و جنرال دمورياپانو د سلطنت ترمرکز يعني تر (پتالي پوترا) پورې دګنګا په سوا حلو کښې خپل نفوذ او آمريت ته رانه‌باور کړه ، د دمتريوس له مرګ او د ايوکراتيد د روی کار کيدلو او د يونان

ACKU

او باختري دريم خپلواك سلطنت د تشکيل نه وروسته دهند نيول شوي او مفتوحه ځمکي ددمتريوس داولادي او جنرالانو په لاس کښي پاتي شوي.

**مناندر په هند کښي د يونان او باختري پاچا**: داول د متريوس د وژل کيدو او دده دوروراپولودوت دوفاتيد راود شرقي سرحدونه د ايوکراتيد د بيرته راتګ نه وروسته د هند نيول شوي ځمکي دمناندر په مقتدر لاس کښي پاتي شوي، منا ندر تر ډيره وخته پوري د پاچاهۍ عنوان نه ؤ غوره کړی خود يونان او باختري عسکرو چه ددهٔ تر آوامر ولاندې وو په خوښۍ سره دی پاچا وټاکه د دمتريوس يا اپولودوت د لور (اګاتوکليا) سره ازدواج وکړ، په هند کښي دمنا ندر دسلطنت لمرختيزي خواته تر (ماتورا) او لمرپريواته خواته تر «باريګاز» (بروچ) پوري رسيدلی ؤ د مناندر پايتخت دراوي او چناب تر منځ (دساګالا) ښار (سيالکوټ) ؤ.

مناندر د پوشيا ميترا (pushyamitra) د (سونګا) دکورنۍ د پاچامعاصر ؤ، دده سره ئې جنګونه کړي دي، او يوځاي ئې چه (ساکتا (Sakita) نوميد لهده څخه نيولی دی. منا ندر د حکومتي چارو په اداره کښي مهم کارونه باختريانو ته سپارلي دي او د آريانۍ مشرانو دفکر په تدبيرا و د ميړونو د توري په قوه په هند کښي خپل د يونان او باختري سلطنت قوي او ټينګ کړی ؤ.

او پيا ئې مناندر هر کله چه د مملکت داري په چارو کښي مستقيماً د محيط او هندي خلکو سره تماس در لود او ديونان او باختري نورو پادشاهانو نه ئې زيات د هند عرف او عاداتو، لباس او قوانينو او داجتماعي ژوندون مراعات کړي وه، هندي کتابونه ئې اغوستل، دهندي علماوو او حکماوو سره ئې بحثونه او مذاکري کولي، په دغه لاره کښي دده رغبت دومره ؤچه ځينو دده دبعضو مسکوکاتو د ځينو علامو له مخي دی د بودائي دين پير وشميرلي دی. ديونان او باختري پادشاهانو په دله کښي چه په هند کښي ئې سلطنت کړي دی (منا ندر) په ټولو کښي مشهور دی؛ دده اقتدار دعسکري روح، لياقت، پوهي او مروت په لحاظ دی يو مشهور پاچا ګرځولی ؤ تر څو چه دی ژوندی و داسکائيانو دلاسه و نشول چه له تاګزيلا او ماتورانه دده قلمرو ته

ACKU

داخل شي . راولنسن دده په باب کښي ليکي (۱) (مناندر د باختر د روستي ستر پاچاو بو اځي هغه يوناني پاچادي چه د هندوکش نه لهتېر ي. لو څخه و روسته ئې اداري قابليت ښکاره کړ مناندر دخپلو نيکونو ايو تيدم او ايوکراتيديو لائق جانشين ؤ او په غرب کښي دده دشهرت و صيت ديونان او روم د کتابو پاڼي ډکي کړي دي) شرقي په تېره بيا هندي مأخذ دده په باب کښي ډېر بحثونه کړي دي او په (پالي) ژبه کښي ئې د (ميليندا Milinda) په نامه شهرت موندلی دی او خاص بيا د بودائي حکيم (نګا سنا Nagasena) سره د (ميليندا د پوښتنو) تر عنوان لاندي دده خبري اتري مشهوري دي ، ځينو دمد غه خبري اتري او دده په مسکوکاتو باندي دده د دهرمه چکره (Dharma Chakra) علامه (يعني د بودائي قانون ع ر اده) دليل راوړي او دده په بودائي کيدو باندي نظريه ورکړي او مسلم سند په لاس کښي نشته چه په دغه باره کښي قطعي حکم وکړي.

ځکه چه د بودائي قانون د عرادې علامه ئې له دې جهة پخپلو مسکوکاتو باندي ضرب کړې ده چه دده دقلمرو زياتره رعيت بودائي ؤ سره له دې هندي منابعو دده عمر په آخر کښي ده ته د (ارهات) يعني ديو تن بودائي متبحر عالم لقب ورکړي ؤ .

د (مناندر) دآخر عمر په باب کښي (پلوتارك) وائي (هغه مناندر نومي چه په باختريانو کښي ئې په عدالت سره پاچائي وکړه د جنګ په ميدان کښي وو ژل شو) هندي منابع د جنګ په ميدان کښي دده د وژل کيدو په باب کښي څه نه وائي خو مسئله و اضحه معلوميږي چه دده دايري (خاکستر) دو يشلو په باب کښي جګړه او نزاع پيښه شوه او په آخر کښي (بودا) او (آشوکا) په شان دده ايره په بيلو ځايو باندي و يشلي ده (راولنسن) د مناندر په باب کښي ليکلي دي (د باختر مقدس عسکر چه په عدالت او ښه اداره او په عسکري نبوغ او په ديني مسئلو کښي په معلوماتو سره ئې شهرت درلود په دغه دوره کښي له منځه لاړ)

دمناندر مسکوکات : دمناندر مسکوکات د کابل دشاؤخوا څخه نيولي د آريانا د شرق

---

(۱) باکتريا د راولنسن تاليف .

خو اتەتر اندوس او دهغه له هغې خوا نه تر (ماتورا) پورې پيدا شوې او پيدا کيږي او په مختلفو نمونو ئې سکه ضرب کړې ده .

د ده دمسکوکاتو عادي نمونه دادې چه په يو مخ باندې ئې (اتنا Athena) ليدل کيږي او دتالندې (رعد) علامه ئې په لاس کښې نيولې ده پخپلو مسکوکاتو کښې ئې د پيل سر دغوائي سر ، او بخدې او نور ول استعمال کړي دي .

راولنسن وائي چه زياتره ئې پخپلو مسکوکاتو کښې د(پالاس Palas) دربالنوعې هيکل استعمال کړي دي خو گمان کوم چه هغه شي چه ده په (پالاس) سره تعبير کړي دي دهماغه اتناوي چه تارن دمناندر په مسکوکاتو کښې نسبت ورکړي دي . درکاله چه مناندر اصلا دآريانادپاچاهانو بوس له زياتو لانوشخه ؤ پخپلو مسکوکاتوکښې پرتيره بيا په هغه ومسکوکاتو کښې چه د پيل سر ور باندې نقش دي ددغه پاچا د پر تقليد کړي دي دده په ځينو مسکوکاتو کښې دد هر ده چکره علامه يعني عراده او بيا دائي قانو ني مميزه علامه ئې ده دغه مسکوکات ئې زياتره دهغو کسانو دزړه د خوشالۍ دپاره ضرب کړي وو چه دده په قلمرو کښې د بودائي دين پيروانو و .

مناندر په مسکوکاتو کښې دځان دپاره دوه لقبونه خوښ او اختيار کړي وو چه يو ئې ديکايوس يعني عادل او بل (سوتر) يعني منجي دي چه دغه دوهم لقب په زياترو مسکوکاتو کښې عموميت لري او لومړی لقب ډير لږ او نادر دی .

دتجارت پراختيا : دمناندر دامارت په زمانه کښې دآريانا دخاورې سره دهندې زول شو او ښه تړ حه ځمکو تجارت او تجارتي روابط پراخ او ډير شوي وو دبار يگاز ابند ر هغه په زماکښې ښه رونق او ډير اهميت درلود .

او هغه لوی بندر ؤ چه دهنداو غرب د تجارت مالونه په دغه ځای کښې به ليدل ، دهند دزول شو ځمکي ډير مالونه ددغه بندر او دسري بحيري دلاري مصرته او دفارس د خليج د لارې بابل ته استول کيدل . دتجارت هغه ډير مالونه چه د شرق او غرب له خوا ورته راوړل کيدل د جدو زيا له سواحلونه راتيريدل او يوه برخه مال به د(پتالنه Pattalene) په بندر کښې په جدوزيا کښې ښکته کيده .

دمناندر په ځای ناست کسان (جا نشينان) : د(۱٤٥–۱۱۵ ق ، م په شاوخوا کښې)

ACKU

د مناندر له وفات نه وروسته دده زوی او مړی (استراتو) په تخت باندی کېناست خو هرکله چه په دغه وخت کښی لا وړکوټی ؤ نو مور ئی ملکی (اگاتوکلیا) دده نیابت وکړ او په خپل نوم ئی هم سکه وهلی ده ، لومړی (استراتو) دیونان او باختری وروستی پاچا دی چه په (ماتورا) کښی ئی پاچائی کړی ده او له دی نه معلومیږی چه (ماتورا) تر ۱۰۰ یا ۹۰ ق م پوری دیونان او باختری پادشاهانو په لاس اداره کېده د (استراتو) نه وروسته ددوو نورو پاچایانو نومونه اخلی چه یو ئی (هی پوستراتوس) (Hippostratus) دی او بل ئی (نیسیاس Nicias) دی خو د دوی په باب کښی ډیر معلومات په لاس کښی نشته او معلومیږی چه هغو اسکائیانو چه په باختر کښی ئی د یونان او باختری سلطنت ته خاتمه ورکړه . او وروسته بیا په پهلوا په نامه ئی چه د (ساك او پارت) له مخلوطو عناصرو نه میدان ته را ووتل په کاپیسا او کابل کښی د (هرمایوس) د سلطنت په سقوط کښی لاس ولاړه ، په هند کښی ئی دیونان او باختری پادشاهانو د اولادی وروستی سلطنت ته هم دلومړۍ ق م پېړۍ په اوله نیمائی کښی خاتمه ورکړه . په دغه ترتیب تقریباً له دوه نیمو سوو کالو نه وروسته دیونان او باختری دولت سلطه کړار کړار لومړی د هندوکش له شمال او بیا له جنوب نه او په آخره کښی له هندی نیول شوی قلمرو نه ووتله د (تارن) دوینا له مخی ترکوم ځای پوری چه په ادبی مأخذ او د مسکوکاتو د شهادت له مخی معلومیږی تر ټال ددیودوت دیونان او باختری سلطنت د مؤسس نه تر (نیسیاس) پوری تقریباً (۳۶) پادشاهانو یو ماکه سلطنت ته رسیدلی دی ، د دغو دوه نیمو پېړیو په موده کښی باختری آریانی تهذیب ، اخلاق ، صنعت او د مدنیت او تهذیب نور مظاهر په زیاته اندازه په هند کښی خپاره شول .

ACKU

# اجتماعي او تهذيبي ژوندون

په شرق کښې داسکندر فتوحاتو او له دغې جملې نه په آریانا کښې چه بیان ئې په‌لومړی جلد کښې تیرشو د منځنۍ او نژدې آسیا د ژوندون او اجتماع په پخواني نظام کښې ئې حرکت او تکان پیدا کړ او په دغه جنبش سره د (مدیترانې) سواحلو د (آسیا دزړه) سره تماس او تهذیبي تعلقات پیدا کړل په شرق کښې د اسکندر په‌فتوحاتو سره د دغو تعلقاتو دروازې پرانیستلې شوې او د یونان او باختري او دلویو کوشانیانو دخپلواکو پاد شاهانو د زمامدارۍ په دوره کښې ئې پراختیا وموندله . دیونان او باختري مستقلو پاد شاهانو د دوو پیړیو سلطنت دوره چه د (۲۵۰ ق م) نه ئې د مسیحي زماني ترشروع کېدو پورې دوام کړی دی له هغو دورو څخه یوه دوره ده چه د اجتماعي ژوندون او دتهذيبي ژوندون د مختلفو اړخو نو کتنه سره د ډېرو تیاروده پر دقت او توجه وړ ده ځکه چه په دغو دوو پیړیو کښې د آریانا (ویدی) او (اوستائي) پخواني تهذیب مبادي د یونان او هندي نویو مفکورو سره گډ او مخلوط شوی او د هغه له گډون څخه د دیانت، صنعت، معمارۍ، ادب، ژبې، رسم الخط او دمادي او معنوي ژوندون نورو مظاهرو په باب کښې ځینې تحولات راغلي دي.

که څه هم موضوع تر یوې اندازې په تیاره کښې ده او مدرکونه هم په زړه پورې دول په لاس کښې نشته خو بیا هم د دغو تحولاتو د اهمیت په لحاظ او د هغو تاثیراتو له کبله چه زموږ د مملکت د تاریخ نه‌ورو روسته دورو په تهذیبي ژوند کښې ئې پیدا کړي دي باید ترممکنې اندازې پورې په دغه فصل کښې چه د همدغې موضوع ځای دی غور نه او کتنه وشي.

د آریانا داجتماعي ژوندانه تشکیلات او تهذیبي رنگ په‌شرق کښې داسکندر دچپاوونه دشروع کیدو نه پخوا پخپلو عمومي خطوطو کښې تقریباً دارستاني دورې په‌شکل وو، داسکندر فتوحاتو او څو کلنو دوامدار وسختو مقابلو زموږ داجتماعي ژوندون په پخواني نظام کښې تکان او جنبش پیدا کړ، د اسکندر ترمرگ او د هغه د فتوحاتو ځمکو په‌سر د ده د جنرالانو جنگړه او د هند نه د هندوکش جنوب شرقي ځمکو ته د موریایانو داخلیدو له‌شرق او غرب نه نویو افکارو پراخیدو ته لاره پرانستله، خو تر دغه وخته پورې لا وخت مساعد شوی نه و چه دآریانا

دپښتو انی تهذیب دمبادیو او دنو و پیداښو و مفکورو له تصادم څخه یوه نوې لاره او رسم پیداشو، تردی چه په ۲۵۰ ق م کښې (دیو د وت) دباختر خپلواکی اعلان کړ او ځان ئې پادشاه وباله، بر یالی شو چه دشام په یونانی سلوسی دولت باندی دغه خپلواکی په رسمیت و پیژنی او دجنوبی هندوکش له شرقی علاقو څخه دموریایانو نفوذ لیری کړی او دامنیت یوه دا ئمی دوره پرانیځی دیونانانو باختری دوه قرنه سلطنت دیرې سلسلی جنګونو نه وروسته چه دشرق او غرب افکارو ته ئې پخپل منځ کښې مستقیم تماس سره ورکړ، یوه داسی دوره دچه طبعاً باید نوی شیان جامعی ته ور اندی کړی دهند له خوا یه هم دغه عصر کښې دبودائی دیانت خپریدل یو بل عامل وُ چه دآریانا په خاوره کښې ئې دیونانی حیاتی او صنعتی مفکورو سره هندی روح مقابل کړ دغه شیان زمونږ مملکت ته دجنګونو دنتیجو په ډول داخل شوی او دپښتوانی مدنی ژوندون دمبادیو سره ئې هغو په ګډون او حل کید لو سره نوی تهذیب منځ ته راغی چه د(یونان او باختری تهذیب په نامه) یاد وی او دهغه بیل بیل مظاهر حتی الامکان په دغه ځای کښې مطالعه او ګورو:

دین ؤ آئین: په لومړی جلد کښې مو دتاریخ دغه سلسله په (ویدی) او (اوستائی) فصلونو کښې بیان کړه چه باختر دآریائی پوخوانیو معتقداتو دپیدا کیدو ځانګړی او سره ددې چه تر دغه وخته پوری په افغانستان کښې د آریائی عقیدو وقبل التاریخي مراحل دلازمو حفریاتو دنشتوالی په علت روښان شوی ندی او په هغه تفصیل چه په لومړی جلد کښې مو ورکړ آریائی دین له باختر نه دمهاجرت دشروع کیدو نه پخوا داسی شکل او صورت نیولی ؤ چه د (ویدی) او (اوستائی) پخوانی تاریخ ددوو دورو تر منځ شباهتونه پاتی شول او ستائی دین دیره موده دوام وکړ چه لومړئی دهند وکش په شمال کښې د(ویدی) معتقداتو ځای ونیو او بیائی په ټول مملکت کښې هخامنشیانو دآریانا په خاوره باندی پخپلو تیریو او تجاوز وسره هغه ومانه او د فارس په ځمکو کښې ئې رواج ورکړ د اسکندر دفتو حاتو په وخت کښې دآریانا دین اوستائی ؤ: اسکندر که څیری دهغه په محرکو او کښې کوشش کړی وی خو بیا هم هغه ئې له منځه وړی نه وړی شو طبعاً د یرضعیف خوشو او دضعیفیدو علت ئې هم نه یوازی عسکری اقدامات او جنګونه و و بلکه دنو وافکارو پیدا کیدل او را تګ ؤ چه د غرب له خوا دیونیانانو په واسطه

او بیا دشرق له خوا نه دهندله پلوه د (اشوکا) دمبلغینو په ذریعه خپور شو ، په دغه ترتیب په دغو دوو پېړیو کښې د آریانا د دین او عقیدې کښته او مطالعه دری د و له افکار او دری آرلنګی ارباب الانوع لری ؟ محلی ، یونانی ، بودائی . چه لاندې دهغه په ښتنه او بیانو لو پیل کوو او لومړی نوی پیدا شوی عوامل مطالعه کوو :

## یونانی میتولوژی ارباب انواع :

و مو و پل چه داسکندر فتوحاتو دغربی افکار و دپاره دشرق لاره پرانیستله ، داسکندر او ده دعسکر و سره صنعت ګر ، مورخ ، ادیب ، روحانی ، موسیقی غږوونکی او داسی نور کسان به مله ګری وو او هر یو به په یوه زمینه کی نوی افکار دراودل ، ددوی په ذریعه دنورو افکار و پیدا کیدل شروع شول او په ځنو یونانیانو سر دئی دوام ورکوند او خپاره شول چه زمونږ په مملکت کښې پاتې شول .

هغه یونانیان چه اسکندر د آریانا په اسکندریو کښې میشت او متوطن کړی وو ، او دیونانی او باختری پادشاهانو دخپلوا کسلطنت ددوری له شروع کېدو نه له یونانیا نو څخه دهغوی رابطه مخ دمخه پریکړی شوی په ددې خاوری داوسیدونکو جزو ګرځید ل او ددغه مستقل دولت په دوه سوه کاله دوام او د آریانا دخلکو سره دازدواج ، استوګنی او استقرار له کبله منحل شول ، دوی که څه هم ځینې وی او که نار بنه یونانی افکار او معتقدات ئی په ټوله کښی تیت و پرک کړل او په دغه ډول یونانی میتولوژی قصی او ددوی دا رباب الانواعو نومونه او داستانونه په عوامو کښې خپاره شول ، دیونانا و باختری پادشاهانو پر خپلو مسکوکاتو کښې دخپلی کورنی د ساتونکو ارباب انواعو نومونه او شکلونه داسې په خلکو کښې خپاره کړل چه هر څوك دهغو دنومونو او تصویر سره اشنا شول ، یونانی صنعتکارانو او باختری شوو یونانیانو او پخپله د آریانا استاذانو دهیکل تراشی او نقاشی او دنفیسو صنائعو نورو بدیعو مظاهرو ددغو نوو مفکورو په خپرولو کښې لویه برخه واخیستله او دیونانا او باختری ذوق لرونکو پادشاهانو او ددوی اسکائی جانشینانو او په تیره بیا کوشانی مقتدرو پادشاهانو پخپل دربار په دغه لاره کښې ښه خدمتونه وکړل لکه چه په بګرام کښې پیداشوی ګنجی مدالونه ښکاره کوی با ختری ذوق لرونکو پادشاهانو دیونانی میتولوژی دپېری ښکولی صحنې دمدیترانی دشرقی سواحلو دهیکل تراشی له کارخانو نه دباختر او کاپیسا دشاهی ماڼی ګانو د ښکلیتوب دپاره راوړلی او

دغو شاهکارو چه د یونانی دیر صاف صنعتی سبک نمایندہ دی پخپل تناسب سره د اسطورو او موضوعات د خلکو په نظر کښی څرګندول او خیالونو د هغو د ستاینی د مملکت د ذوق لرونکو او خبرلرونکو خلکو په ذهن کښی داخلول.

نو په دغه ترتیب له هره حیثه زمینه برابره او مساعده شوی وه چه دیونان او باختری خپلواکو پادشاهانو د سلطنت په دوره کښی یعنی د مسیح د زمانی نه پخوا په دوو پېړیو کښی نوی افکار په تیره بیا یونانی نکلونه، اساطیر او قصص په عامو طبقو کښی او زیاتره د ذوق او قریحی او د دربار د خاوندانو او اهل فن او هنر او صنعتکارانو په منځ کښی خپاره شی؛

لکه چه مسکوکات او نور صنعتی آثار شها دت ورکوی د یونان او باختری سلطنتی کورنی او ربوغره او لاول او دوهم دیودوت پلار او زوی پخپلو مسکوکاتو باندی (زوس پروماکوس) (Zeus promachos) ضرب کړی دی، هغه کلاسیک دیونان او باختری وروستی پاچا چه د هند و کش په شمال کښی ئی پاچائی کړی ده هم دغه کار کړی دی او دوس په داسی حال کښی چه په تخت باندی ناست دی د (ایوکراتید) یونان او باختری د ریمی سلطنتی کورنی د مؤسس د ځینو مسکوکاتو په مخ باندی لیدل کیږی د (اپولون Apollon) د طوفان، طبابت، ادبیاتو او د صنعت د رب النوع تصویر د (ایوکراتید) او (اپولودوت) په زیاتره مسکوکاتو باندی نقش دی د یونان او باختری د وهمی سلطنتی کورنی غړی (ایوتیدم) او زوی ئی (دمتریوس) پخپلو مسکوکاتو کښی د هرکول تصویرته په نورو ارباب انواعو باندی ترجیح ورکړی ده، د دغه رب النوع د دوی د کورنی ساتونکی او حمایت کوونکی وه او د یونانی میتولوژی د نورو ارباب الانواعو په نسبت ئی زیاتره په باختر کښی شخصیت او مقام حاصل کړی ؤ، د سپین زرو د دغه جام په مخ باندی چه د بدخشان نه په لاس راغلی او په (بریتش موزیم) کښی محفوظ ساتل شوی دی د دغی رب النوع او د (دیونیزوس) د انګورو او شرابو د رب النوع تصویر نقش دی. (دیونیزوس) د آریانا په خاورو کښی ډیر شهرت او عمومیت درلود. د اسکندر نه پخوا د استانو دغه د شرق فاتحه بللی ده او په تیره بیا د آریانا د غرو لمنو ته زیاتره د دی د خاطرانو نسبت کړی شوی حتی په دغه فکر کښی دی چه (دیونیزوس) په اصل کښی (دیو نیسه) یعنی د (نیسی)

ACKU

د ښار یا داوسنی بګرام رب النوعه وه په درحال دیونانی میتولوژی ارباب انواعو اصالیت یوه جلا موضوع ده چه د لته ورسره څه کار او غرض نه لرو، او یوا ځی دقیق په اومړیو دوو پېړیو کښی دآریانا په اجتماعی ژوندون کښی دهغوی مداخله او نوم ؤ نښان وینو او مطالعه کوو ئی .

(دیو نیزوس )دهندو کش په شمال او جنوب کښی په (کاپیسا)او (نګاراها را) (ننګرهار)او باختر ، بدخشان او سغدیان کښی مشهور ؤ او خپل پیروان ئی درلودل (نروؤ ر)د ده پر شهرت لیدلی او وائی چه (احتمال لری چه کومه محلی رب النوع چه نوم ئی نه پیژنو او د هغی دپرستش صورت د(دیو نیزوس )سره یو ځای شوی او هغه به ئی دومره مشهوره کړی وی او دهغی صورت دبدخشان دسپینو زرو په قاب کښی نقش دی (اګاتوکلس) هغه خپله حامی تاکلی دواو دهغه ځوا ن شکل چه یو داسې تاج ئی په سر ؤ چه دانګور و دتاکو دشنو ښاخو نه جوړ شوی ؤ د خپلی سکی په مخ باندی او د پړا نګ شکل ئی دخپلی سکی په شا مخ باندی ضرب کړی ؤ ، دوه سوه کاله وروسته (اپولونیوس دو تیان Apolenius de tyano) دپارو پامیز ادی په علاقه کښی په یوه غره باندی د(دیونیزوس)معبد کتلی دی او لکه چه وائی دمعبد نه ګرچا پیره و نی ولاړی وی چه پخپله (دیو نیزوس )کښینولی وی او دانګورو تاکو نه او د عشق پیچانو ځیلی ور باندی ختلی وی او دونو نه لاندی د سپینی ډبری څخه د رب ا لنوع مجسمه دهندی ځوا ن په شکل جوړه شوی وه :

دهندو کش په جنوب کښی د(دیو نیزوس )دمعبد ځای او د غره تاکل کیدل دیر تحقیقات غواړی ، دلته دپاسنیو معلوماتو او د هغو شواهدو په استناد چه د بګرام له حفریاتو نه پیداشوی دی او دځینو هغو معلوماتو له مخی چه (کورتیوس )او (استرابو) او (جوستن)ئی د(نیسا ـ ٢٧ )دښار داټکلی او تقریبی موقعیت په باب کښی ورکوی بیله شک او تردید نه ویلی شو چه (د یو نیز وس ) د هند وکش په جنوب کښی له (کاپیسا) او (ننګاهارا) یعنی کو هستان ، کو هد امن ، او پنجشیر نه نیولی ترنجرو ، تګاو لغمان ، هډی او نورستان پوری دیر شهرت درلود او په دغو علاقو کښی ئی پیروان لرل د(لیسا)ښار چه ځینی ئی (دیو نی ز و پولیس ) یعنی د(دیو نیزو س)ښار بولی ، او ځینی ئی

ACKU

(بگرام) او بعضې ئې (هډه) بولي، او هرکله چه (بگرام) د کوهستان او کوهدامن د لوی (تاکستان) ترمنځ پروت دی او د (دیونیزوس) فلزي تصویرهم د هغه ځای له حفریاتو نه پیدا شوي ؤ نو د غه پر مسا عده د چه د (دیونیزوس) ښار یعنې د شرابو او انگورو د رب النوع ښاروی .

د (دیونیزوس) پرستش او عبادت د آریانا له لمرختیزو برخو نه هندته هم سرایت کړی او خپور شوی ؤ . (مگاستنس) د (موریا) په دربار کښې د سلوسیا نوسفیر وائې چه په هند کښې د (دیونیزوس) ستاینې او پرستش په غرونو کښې او د (هرکول) عبادت په ځلگو کښې رواج درلود .

(هرکول) د ژوبې تر یوناني میتولوژی مشهور پهلوانزوی د نورو اربابانواعو نه زیاتره د هندوکش په دواړو خواؤ کښې مشهور شوی ؤ . او لکه چه د مخه مو اشاره وکړه (ایوتیدم) دیونان او باختري درهمي سلطنتي کورنۍ مؤسس او د ده اولادې د هغه تصویر پخپلو مسکوکاتو کښې نقش کاوه همدغه رنگه (نیکه Nike ملوز MeluSe) او داسې نور هم زیات ؤ کم دیونان او باختري پاچاهانو او د دوی دامراو په مسکوکاتو سره چه د ننه په مملکت او په هندي نیولو ځمکو کښې ئې د سکې د ضربولو حق درلود مشهور شوي وو، یونانیانو خو رنگه چه پخپله د وی د آریانا په خلکو کښې پراله پسې حل کیدل د دوی میتولوژی افسانې هم کرار کرار ژر میزژ د مملکت دیدي او او ستائې پخوانیو د استانو او قصو سره حل او خلطیدلې . ځینې دوی د باختر د محلي پخوانیو اربابانو اعو تر اثر لاندې راغلل ، او ځینو ئې زمونږ د مملکت د اربابانو اعو سره برابر مقام پیدا کاوه ، د پهلوانانو صحنو پرله پسې تغیر کاوه او دغه موضوع په وروسته دباختر د محلي اربابانواعو د تاثیراتو په نتیجه کښې وگوروو ، او په دغه ځای کښې د (زوس) او (پرومته) د قصو او نکلونو مثالونه راوړو چه د ده د بندي کیدو داستان ئې د (هندی ققاز) یعنې د هندوکش یوې مغارې ته منسوب باوه .

دیو دائي افکار او فلسفي خپریدل : په همدغه دول په دغه وخت او زمان کښې د شرق له خوا هندځخه هم ځینې نوي مفکوري پانکاره وو او یو یو خي نوي دین او مذهب

ACKU

د خپلو فلسفي مبادیو او د ژوندانه د طرز او اخلاقو سره آریانانه راغي ، دغه نوی مفکوره بودائی دین او دغه فلسفه ده چه د دې سلسلې د لومړی جلد د پنځم فصل په دوهمه برخه کښې مو د (آشوکا) دموریا دپاچا له خوا د لېږل شوو مبلغینو په ذریعه - دهغې دخپریدو دشروع کیدو تاریخ بیان کړ او په دغه فصل کښې وینو چه د یونان او باختری خپلواکو پادشاهانو د سلطنت په دوره کښې ترکومې اندازې او ترکومه ځای پورې پرمخ تګ او پیشرفت وکړی شو او په دغه زمانه کښې دغه دین په مقابل کښې زموږ د مملکت دپادشاهانو سیاست څرنګه ؤ .

بودائی دین ددریمې ق م پېړۍ په منځنیو وختو کښې یعنی په هغه زمانه کښې چه د یونان او باختری خپلواک دولتونو جوړ شوی ؤ دآریانا له شرقی سرحد ورنه تیر شوا و هرکله چه د هندوکش جنوبی علاقه د موریا نو تراداری لاندې وه نو په دغه ځای کښې په اسانۍ سره ، خپور شوی نو له دې کبله هغه وخت چه لومړی او دوهم (دیودوت) او (ایوتیدم) دهندوکش په شمالی برخو کښې سلطنت کاوه ، بودائی دین له شرقی سرحدونه دګندهارا ، کابل او د کاپیسا خواته مخکښې راتلی ؤ د موسیو (فوشه)(۱) دکتنو او مطالعو له مخې نیمه پېړۍ وروسته یعنی ددوهمې ق م پېړۍ په اولو وختو کښې چه د ( ایوتیدم ) دسلطنت آخر وخت ؤ باختر ته رسیدلی دی ؛ دغه دین دشرق له خوا د هند له خاورې څخه دخان سره یوه سلسله افکار ، قصې او نکلونه ، د امثالونه او میتولوژی راوړل او د یونانی غربی افکارو په نسبت ئې د آریانا داوسیدونکو په روحیاتو کښې ډیرې اوږدې ریښې ښخې او وغځولې ، هرکله چه په پخوانی افغانستان کښې په تیره بیا د لویو کوشانیانو په دوره کښې دبودائی دین د ترقۍ زمانه وه له دې کبله د دغه دین دخپریدو او عروج او ترقۍ بیان او شرح هغه فصل ته پریږدو او دلته دهغه دراتګ مقدمات او دیونان او باختری خپلواکو پادشاهانو د هرکلی او استقبال په شاؤخوا کښې زیات متوجه کیږو ، بودائی دین دآریانا په شرقی برخو کښې په کشمیر او نهاراشاپورا (پیښور) او په پوشکالاواتی (چهار صده) او ګندهارا کښې په چټکۍ سره

---

(۱) صنعت ګریکو بودیک ګندهارا - دموسیو الفرد فوشه تالیف دوهم جلد ٤۰۷ مخ

خپور شو - ننګار ادار ا(ننګرهار) لمپاکا (لغمان، ننګاو او نجراو) او کابل او کاپیسا هم ژ د هنه و مانه او داشو کادلو یو استو یو له مخې چه په هډه او کاپیسا کښې و دانې شوي وې معاو میزې چه دمو ر یادهمدغه پاچاپه ز مانه او دز مامداری په دوره کښې چه دمبلغینو هیئتو نه ئې لیږلي وو دغو علاقو نو ی دین قبول کړی ؤ، په بل عبارت پخوا له دی چه (اوتیدم) دیو نانو باختری دو همی سلطنتی کورنۍ . ؤ سس د هندوکش په جنوب کښې د ابتکته شي او دکابل علاقه دمو ر یادو روستی امیر (سوفاګاز نوس) دلاسه و کاږی چه ځینی خبرالک دغه امیر دکابل له خلکو نه بولی بو دائي دین دهندوکش جنوب شرقي لمنې نیولې وې، او دهندوکش ددوار وخوا ؤ خلکو دیو کو لو په لاره کښې د(ایو تیدم) اقداماتو د شمال خو اته دنو ی دین دخپر یدو زمینه ښه برابره کړه او دهمدغه جهت دی چه د(ایو تیدم) دسلطنت ددو ر ې په آخره کښې بو دائي دین باختر ته ور او رسید، او دهغه دخپر یدلو دلاره خښه بوملیا ره بیله شان و شبهې نه له کاپیسا نه ور او ر و سته دغور بند دره، بامیان، اغربات سرخه چنار، دندان شکن، ایبك (هیباك) او خلم دی او په دغه خبره کښې هم څه شك نشته چه دهندوکش له نورو دروونه هم مبلغینو او راهبینو دغو نو نه رادي خپراته دباختر داوارو برخو غار و ته ځانو نه رسولی دی .

هر کاله چه (ایو تیدم) دیو نان او باختری دو همی شاهی کورنۍ . ؤسس دباختر او موري مقتدر پاچادی چه دآریانا خپلواکی ئې په دری پم سلوسی (انتیوکوس) باندی و منله او دلمر ختیز هند وکش له جنوب خخه ئې دمو ر یادانو نفو ذ لرې کړ او دآریانا خمکی ئې سره یو او متحدې کړې او دهند دفتوحاتو او استعمار اساس ئې کینبو دنو داد اری از سیاسی کتنو او دفتوحاتی نقشې له مخې چه دهندخو اته ئې طرحه کړې وه په خپل او دخپل د ولت په نز د ئې بو دائي دین دخپر یدلو مانع نه ایله بلکه بالعکس ددی دین په خپر یدلو او عدومی کیدلو باندی ر ضائیت ئې دانده س دشر ق نه هغی خو اته دخلکو دز ړو نو د جابولو یو وسیله بلله طبعاً ، په خپله پاچاو دآریانا ددو لت غړ و (ار کانو) لا تر د غه و خته - پوری نوی دین منلی نه ؤ او دغه کار تر (هرمایوس) دکابل دیو نان او باختری وروستی پاچا پورې هیڅ بو ـر نه کړ بیله ځینو امیرانو نه ئې چه په پنجاب کښې ئې د نیولو ځمکو اداره کوله لکه (مناندر)، سره ددی دبو دائي دین دخپر یدلو مانع نه وو بلکه د سیاست او د هغی

ACKU

فتوحاتي نقشې په لحاظ چه د هند خوا ته ئې طرح کړی وه ځینې وختونه به ئې جامې او په تېره بیا خولۍ په هندي شکل په سر کولې او جامې به ئې په دغه ډول اغوستلې لکه (دمتریوس) دباختر دپاچا (ایوتیدم) زوی چه په مسکوکاتو کښې ئې د فیل د سر په شکل خولۍ په سر کړې او د (هند د فاتح) په لقب ملقب او مشهور دی .

نو په دغه ترتیب د یونان او باختری خپلواکو پادشاهانو د زمام داری او واکمنۍ دوه سوه کلنه دوره چه د (۲۵۰ ق م) له شا ؤ خوا نه د مسیح زمانې ته تر نژدې وخته پورې ئې دوام کړی دی په آریانا کښې په غیر رسمي ډول د بودائي دین د خپرېدلو دوره هم کیدلی شي او بیله دی چه د مملکت پادشاهان رسما په دغه دین کښې داخل شي یا رسما د هغه د تعمیم دپاره خلک تشویق کړی ، بېـوي ټولنې د بنه هرکلی وکړ او په هغې آزادی سره چه د یونانو او باختری دولت په دغه مسئله کښې ور باندې قائل شوی ؤ بودائي دین په نیمه شرقي آریانا کښې د هندوکش په شمالي او جنوبي علاقو کښې ریښې وغځولې .

باختری ارباب انواع او دپخواني دیانت بقایا : دغه ورځینی هغه

---

ذری افکار چه له یو طرف نه د شرق لـه خـوا د مدیترانی له سواحلو نـه د اسکندر د فتوحاتو سره ئې زموږ مملکت ته لاره وموندله او د آریانا د اسکندر یو د اوسیدونکو یونانیانو او د آریاني او باختری یونانیانو سره خپور شو او د یوناني او باختری پادشاهانو په دوه سوه کلن خپلواک سلطنت کښې عام شو او له بلې خوا د هند له ښارونو څخه د موریا د مذهبي ساطې او د اشوک کبار د مبلغینو د راتلو سره هم راغی او خپور او نشر شو په دغه وخت کښې هغه شی چه اوس ئې مطالعه کوو او مطالعه ئې هم په دغه ځای کښې ډېر اهمیت ورده ده دغه دی چه آیا پخپله د آریانا د پخوانیو دیانتو له بقایاوو څخه باختری ارباب انواعو او د اوستائي دین څخه کوم شی پاتی ؤ او گمان کوم چه په دی کښې شک او شبهه نه وی چه د اوستائي دین نه یوازی د یونان او باختری خپلواکو پادشاهانو د سلطنت په زمانه کښې

یعنی په دې دوه سوه کلونو کې مو پېژنو چې د اسلام د مقدس دین د پلوا کیانو او د سیستان په اطرافو کې د عربو مبلغینو د راتګ تر زمانې پورې او حتی د دې زمانې نه را وروسته هم زیات وخت دوام درلود او په دغه موضوع مې نظر په ده او تر یو اندازې وروسته شرح او بیان غواړي که څه هم دغه مسئله دځینو له خوا بل ډول ګڼل کیږي او ویل کیږي چه دا سکندري فتوحات د اوستائي دین او د اوستا د کتاب د محوه کېدو سبب شول خو ځینې ګمان نه کوي چه دا سکندري فتوحات به دغه مسئله کښې دومره دخل اولاس ولري البته جنګونه او ویجاړ دې لویو جنګونو چه د ښهرو کلو نو زیاته برخه ئې ونړوله او ملکت و ربانو ډی اخته کړه او هوره د ری کالا ئی د باختر برخې د جنګونو دګرا او مرکز ګرځولی وو. د اوستاد کتاب په تیت وپرک والي او دهغو اوړیدا نو په جدائي او تیتوالي کښې بې تاثیره نه وو خو د پښتو اخیرې پښتو اوآئین دموجودیت ارکان ئې بیخي متزلزل نه کړې شول او د اسکندر چپاو ونو او ځوړیکالو سختو تند افغي جنګونو او ستا ئي دین او دموبدانو قدرتو او اجتماعاتو ته سخت تکان ورکړ خو پیرو انو ئې تر دغه وخته پورې زیات وکم په تول مملکت کښې ژوندون کاوه او دیونان او باختري خپلواکو پادشاهانو چه د عقایدو د آزادۍ احترام ئې کاوه هغوی ته هم وقیع ورکړ چه خپل دین او مذهب پاتې شي لکه چه د ځینو اوستائي ارباب انواعو تومه او تصویر لکه (اناهیتا) د یونان او باختري پادشاهانو له خوا لګه (د متریوس) دوی په سکو باندې ضرب شوي دي. (۱)

او کوشاني پادشاهانو چه د دغو باختري پادشاهانو په ځای ناست وو زیات ره او ستائي ارباب انواع د آتشکو سره په خپلو سکو باندې ضرب کړي دي، او دغه هغه مقصد دی چه دلو یو کوشانیانو په فصل کښې به ئې بیا او په تفصیل سره وګورو، او دلته دغه له یادولو نه مطلب دادی چه اوستائي دین او ارباب انواع ئې نایوځی دارمو یز دووق م پېژنو نه وروسته بلکه له هغو نه وروسته په دریو پیړیو کښې هم د آریانا د پادشاهانو په سکو کانو باندې استعمالیدل، له دې کبله په دې کښې شک او شبهه نشته چه اوستائي دین د یونان او باختري خپلواکو پادشاهانو

---

(۱) د Bactria د کتاب د اچ ، جي (راولنسن) د تالیف ۸۲ مخ.

دسلطنت په زمانه کښې په آریانا کښې لا تر دغه وخته پورې بېخي له منځه نه وو تللي خو په هند دغه عصر کښې له ځینو ځایونه ووت او په ځینو نورو ځایو کښې حرارت ئې نسبتاً سوړ شوی وو مثلاً د مملکت په شرقي علاقو کښې تر کابل او کاپیسا پورې د دریمې ق م پېړۍ په پای او له نیمائي کښې بودائي دین د هغه په ځای ودرېد او دغه نوی دین د اوستائي دین د بر لوی حریف وو او په هغه ځایو کښې ئې چه د اسکندر فتوحاتو پیدا کړي وو بو سخت تزلزل پیدا کړ او د هندوکش د جنوب په شرقي علاقو کښې ئې د هغه ځای ونیو او په باختر کښې ئې د هغه موقعیت تر ټېټ یا لاندې ر او وست او په آخر کښې ئې د دوهمې ق م پېړۍ په اوو ختو کښې په دغه ځای کښې هم خپل پیروان پیدا کړل. په دغه ډول ویلی شو چه له دغه وخته را او روسته اوستائي دیانت کراړ کراړ د آریانا د غرب او جنوب غرب خواته د هریرود او فراه رود او د هیرمند د ناوې طرف ته ځای بدل کړ او د هیرمند د سیند او سیستان په سمسوره او ودانه حوزه کښې د اسلام د مقدس دین د مبلغینو د پیدا کېدو تر زمانې پورې ئې دوام وکړ.

سره له دې چه د ځینو باختري او آریانې پخوانیو ارباب انواعو چه د ځینو قدامت اوستائي دورې ته، او د ځینو ویدي زمانې ته، او د ځینو نورو هم د قبل التاریخ د ژوندانه مرحلو ته رسېږي، د عصر او زمان د غوښتنو او ایجاباتو له مخې ئې په باختر کښې پیروان او معبدونه پیدا کړل او په ټولو کښې مشهوره ئې (انا هیتا Anahita) ده.

(اناهیتا) یا (ناهید) د اوبو او حاصلخیزۍ ربة النوع د قبل التاریخ د دورې د (کلکولي تیك) له زمانې نه نیولې ز موږ د مملکت د تاریخ په ویدي او اوستائي زمانه کښې مشهوره وه لکه چه د هغې د تاریخ دغه برخې موږ د دغې سلسلې د اولې جلد د دوهم فصل په (۳۰۸) مخ او په وروسته مخونو کښې بیان کړې. (اناهیتا) د (اوبو په صفت او په اصطلاحي معنی او مفهوم موجوداتو او د برکت (فراوانی) او د حیاتي دنیا میه قوی او د حاصلخیزۍ منشا په حیث د قبل التاریخ له دوره څخه د منځنۍ او نژدې آسیا په ملتو کښې مشهوره وه او په مختلفو نومونو یادیدله، په اوستا کښې (اړدویسورا اناهیتا [illegible]) یعنې (د اوبو زورې) او زیاتره په صحیح نوم (اناهیتا) سره یاده شوې ده او د اوستائي زمانې نه

وروسته د پری پیری یه په باختر کښی په ښمد غه نوم مشهوره وه ( په با بل ) کښی ورته (ایشتار Ishtar) په عیلام کښی (نانیا Nania) په کوچنی آسیا کښی ورته (ارتمید Artamice) او په هند کښی (دهیشانی Dhisani) په آشوری کښی ورته (می لی تا Mylitta) په یونان کښی (ونوس ابو رانیا Wen-sura-Unial) او فارسیانو ورته (تاناتا Tanata) ویله (۱) (اناهیتا) په باختر کښی بل محلی نوم هم درلود چه هغه (دیتیا Daitia) ؤ، چه د (آمو) دسیند دپاسنی مجری نوم ؤ، او داوستا دتعریف له مخی ځینی محققین (انا هیتا) د آمو دسیند نوم هم بولی:

(انا هیتا) داوستائی دوری نه راوروسته په باختر کښی د آمو دسیند دسو احلو په ښاؤ خوا کښی یو لوی معبد درلود او په هغه کښی د (انا هیتا) مجسمه د مجللی ښځی نجاې په شکل موجوده وه، چه قسماً قسم گانی او جواهرات ور باندی پرانه وه، او داسی معلومیږی چه او ستاد هغی تعریف د همدغی مجسمی له مخی کړی وی (د اوستا تعریف ئې داوری جلد په (۳۱۲) مخ کښی وکتل شی) لکه چه (ترؤر Trever) روسی معاصر محقق په د غه باب کښی وائی. (له دیرو پخوا نیوزمانو څخه په بکتر ا کښی دانا هیتا مجسمه او معبد چه اوستائی تعریف کړی دی موجود وو (۲) د غه معبد تی په د غه باره کښی نور تحقیقات کړی دی او دده له لیکنو نه معلومیږی چه په سغدیان په تیره بیا د (فراسیاب) دښار په خرابو کښی د دغی ربة النوعی د پرتې کوچنی مجسمی له ژیری خټی څخه پیدا شوی او وداسی ښځی په شکل ئی څرگنده کړی ده چه پلاژئی (یو ډول کوټ) چه لستونی نلری) اغوستی او گل یا میوه ئی په لاس کښی نیولې او داسی ښکاره کیږی چه ترلی د غی مجسمی له مخی چه د باختر په معبد کښی وه نقل اوجوړی شوی وی.

---

(۱) دبکتر یادا چ ؛ جی راولنسن د تالیف ۹ مخ

(۴) دیونان او باختری صنعت کتاب د(ترؤر) د تالیف ایطالوی لند یز (خلص) اصل کتاب روسی او په (۱۹٤۰) کښی نوی په مسکو کښی چاپ شوی دی او په کابل کښی دا یطالیا جناب مختار وزیر موسیو (کورونی) دد غه کتاب لند یز په ایطالوی ژبه ترجمه کړی او ما یه ئی راکړه؛

(اناهیتا) په داسې شهرت او قدامت سره چې په باختر کښې ئې د راود د نورو آریائی ارباب انواعو په نسبت زیاته ده د باختر د یونانیانو په ذهنیت کښې تاثیر وکړ او د زانی ایجیا باتو دغه ربة النوع د ښځو باختری پښتانیو ارباب انواعو سره ملګه (میترا Mitra) دلمر د ربالنوع او (ارتمید Artemide) د کوچنی آسیا د حاصل خیزۍ ربالنوع او د داسې نورو سره ئې یوځای کړه د دغې (اناهیتا) هیکل د یونانیانو باختری پاچا (ایوتیدم) د زوی او د هند د فاتح «دمتریوس» په ځینو سکو باندې داسې لیدل کیږي چې لیناده او درې غابنیزه نیزه ئې په لاس کښې نیولې ده او دا یوکوشانیانو په ځینو مسکوکاتو کښې هم ضرب شوی دی.

بیا له «اناهیتا» نه د لمر ربالنوع یعنی ویدی (میتهرا) او دارستائی زمانې «میترا» چه د باختری پښتانیو ارباب انواعو څخه شمیرل کیده له په دغه زمانه کښې د مملکت د پخوانی دین له خاطراتو څخه ئې هم نمایندګی کوله د «میترا» او ددې د تاریخ لومړی مراحل هم په اول جلد کښې بیان شوی دی. دلته د یونانیانو او باختری خپلواکو پادشاهانو د سلطنت په دوری پوری مربوط همه ومره قدر لیکو چه د «اناهیتا» په شان د هغې خاطره په باختر او د آریانا په نورو ځایو کښې د ومره قوی وه چه د تړلنی او جامعی او د هغې د صنعتکارانو په افکارو باندې ئې ډېر تاثیر وکړی د باختر یونانیانو دغه ربالنوع د هر(کول) سره برابره باله او د یونانو او باختری دوهمی سلطنتی کورنی یعنی ایوتیدم او اولادی ئې دمتریوس او دوهم ایوتیدم او هایو کلس چه پخپله د (هرکول) د کورنۍ ځان ئې باله له «میترا» نه هم زیاته خو ښیدله او پخپلو سکو باندې ئې داسې نقش کړی او ووهلی دی چه په کینړلاس کښې ئې د زمری پوستکی او امسا او په ښی لاس کښې ئې تاج او په سر باندې ئې دلمر د وړانګو په شکل یو ځلیدونکی او مجلل تاج ایښی دی. یعنی د یونانی (هرکول) د پهلوانی صفاتو او د باختری (میترا) دلمر د نورانیت او علائمو ئې سره یوځای کړی او له هغه څخه ئې د (میترا هرکول) په شکل یو زړور او شجاع ځوان د یو داسې تاج سره میدان ته راوایست چه دلمر له وړانګو له مرکب ؤ (میترا) دا هم ربالنوع د سپینږیرو او زړوکو آسونو او د عرادې سره ئې له هغوو ځوانو

څخه ده چه آریانی نقاشانو او رسامانو حتی تر روستیو کوشانی دورو پوری ئې هغه هیر نه کړه او په بودائی معبد و کښې ئې هم هغه داخله کړی ده او د (اپتیادم) په مسکوکاتو کښې داسی نمایش هم ددغې موضوع سره بې ارتباطه نه دی.

په (تتراد راخم) (څاور درهمی) مسکوکاتو کښې (انتیال کیداس) چه دکاپیسا په حوزی پوری مخصوص دی دز وس په مخکښې چه په چوکۍ باندی ناست دی د پیل د بدن نیمه مخکښې تنه دکاپیسا د مخصوص شعار په حیث چه د پیل د سر نه عبارت دی نقش شوی دی او دغه هم دهغو تاثیر اتو څخه دی چه آریانی داستانو، عقیدو، او افکارو په یونانی میتو لوژی او موضوعاتو باندی کړی دی، د باختری ارباب انواعو او دو یدی او اوستائی پخوانیو عقیدو دبنسټ «شالودی» تاثیر یو اځې دیونانی میتو لوژی په ځینو پوری منحصر نه دی بلکه په بودائی داستانو او فلسفه کښې هم داخل شوی دی او لکه چه دلو یو کوشانیانو په فصل کښې به وګورو په هغه ځای کښې ئې هم اساسی تغیرونه کړی او د «مها یانا» نوی طریقه یا د «نجات لو یه لاره» ئې دهغې دتفکر او خیال دمدرسی او اصولو سره منځ ته را او ایستله لنډه دا چه د نتیجې په دول ویلی شو چه د یونان او باختری خپلو اکو پادشاهانو د سلطنت په دوره کښې یعنی په دریم او دوهم پیړۍ «ق م» کښې د اوستائی پخوانی دیانت، بقایا له منځه نه و تللی او دځینو باختری ارباب انواعو لکه داناهیتا او میترا عبادت او پرستش کیده په تیره بیا اناهیتا ډیر پیرو ان درلودل بودائی فلسفه او یونانی اساطیری داستانو نه د محلی عقیدو او افکارو سره ګډ شول او د غو ټولو عواملو دخلکو په عقیدو کښې یو تکان پیدا کړ آزاده عقیده او دهر ډول دین او مسلک د روزلو دپاره زمینه برابره او مساعده شوی وه، دغه رویه او فضاء ممالکت د دی زمانی دژوندانه د نورو اړخونو سره بې تاثیره پاتی نه شوه او لنډه دا چه دخپلو او پردیو د افکارو له ګډیدلو او خلطیدو څخه ژوندون او اجتماعیاتو او تهذیب یو محلی شکل پیدا کړ چه هغه په (یونان او باختری) صفت یادیږی،

دیونان او باختری صنعت: د آریانا فضا او محیط په دریم او دوهم پیړۍ (ق م) کښې

---

چه تر یوی اندازی پوری مو دهغه اقتضاآت او ایجابات بیان کړل، د صنعت په باب کښې

په عام مفهوم سره ډېر تاثیر وکړ او د دې سبب وگرځید چې مخصوصه صنعتي مدرسه (د یونان او باختري) مدرسې په نامه منځ ته راشي، په دغه عصر کښې د داسې مدرسې اثبات او کتنه زموږ د مملکت د ذوقي او تهذیبي مسئلو مورد ده، او وروسته بیا د بودائي فلسفې او اساطیرو د الهاماتو سره د هغې له تصادم څخه یو بل صنعتي بنیږ ونځي د (گریکت او بودیکت) یا د (یونان او بودائي) د مدرسې په نامه پیداکیږي چې مطالعه او کتنه ئې بېر جلا بحث دی او یو مفصل او وږه وقف او تکالی دی څرنگه چې د (دین او دیانت) په بحث کښې مو محلي او خارجي بېل بېل او متفرق عوامل او بیا موږ د هغو گډون او اختلاط سره وکوت عین همدغه حالت د صنعت په باب کښې هم ضروري دی ځکه چې د دغو دوو ډېرو هغه اول شیان چې موږ کتلي او مطالعه کړي دي ترکیبي او د محلي او یوناني او بودائي عواملو څخه منځ ته راغلي دي البته د عواملو تاثیر د هرې مسئلې په نسبت متفاوت دی خو بیا هم د (یونان او باختري) مدرسې په تشکیل کښې دواړه عوامل لاس لري او مرکب روح ئې د بودائي فلسفې د الهاماتو په تماس سره د (گریکت او بودیکت) یا د (یونان او بودائي) صنعت منځ ته راوړه.

هر کله چې حفریات لا تر دغه وخته پورې د آریانا په تېر دنیا د باختر د برخو په قبل التاریخ طبقو کښې عملي شوي نه وو نو سمدستي د یونانیانو د راتگ نه پخوا د باختر د صنعتي سویې او شخصیت کتنه او مطالعه مشکله ده او یو مثبت عامل په لاس کښې نشته چې د هغه له مخې بحث او خبرې اثر يې وشي خو لکه چې په تېر بحث کښې مو ووېل ځینې مدققین دغه عقیده لري هغه تعریف چې اوستا د «اناهیتا» په باب کښې کړی دی د دغې ربة النوع د مجسمې له مخې دی چې په باختر کښې د هغې په معبد کښې موجوده وه البته هغه دغه کوچنۍ مجسمې چې یو شمېر ئې د خام (شهربانو) له شاوخوا څخه او یو زیات شمېر ئې له سغدیان څخه پیدا شوي دي او همدغه ربة النوع «ناموسیا» یا د اصطلاح سره سم د ډېر بحث (فراوانۍ) ربة النوع څرگندوي یو بل شی دی چې په ډېرو پخوانیو دورو پورې اړه لري.

همدغه رنگه چې یوه د (اناهیتا) د اکسوس سیند د (آمو دریاب) د ربة النوع په تمثالو.

او سنور و ، تاج ، او غاره کیږي باندې استنادیږي نو ویلی شو چه په باختر کښې له یونانیانو نه پخوا لایق صنعتکاران او دهنر خاوندان موجود و و :

البته په شرق کښې د اسکندر فتوحاتو په تیره بیا د یونان او باختر ی پـادشاهانو د خپلواکۍ سلطنت دوري د صنعتي ذوق په روزنه او د ظریفو صنایعو په خپرولو کښې نوی عصر پیدا کړ په دې کښې شک او شبهه نشته چه پخوانیو یونانیانو د ظریفو صنایعو په بېلو بېلو څانګو کښې پـه تیره بیا په هیکل تراشۍ کښې په نړۍ ټوله باندې فوقیت درلود.

د دوی د بدني روزنې اصول او د بدن تناسب او خاصته د الهي حقیقي مفهوم اعلی حد ته رسولی ؤ ، خصـا ص بیا دغه فن پخپله د اسکندر په عصر کښې د ماهر استادیه ذریعه لکه ( لـی سپ ) چه د اسکندر د دربار هیکل تراش ؤ او د اسکندر د مجسمې د جوړولو اجازه بیا له ده نه ل چا ته نه وه ، د ترقۍ آخري درجې ته رسیدلی ؤ .

د (لی سپ ) د هیکل تراشۍ مدرسې په آریانا کښې ډیر تاثیر وکړ او لکه چه د هغه ی بهترې مجسمې ښکاره کوي ، د افغانستان هیکل تراشو استاذانو دونی او قامت تناسب او لوړ و الی د (لی سپ ) په موضوعه اصو لو جوړ ول سربیره پردې د یونان او باختري خپلواکو پاچاهانو په مسکوکاتو باندې ئې څینې یوناني میتولوژي ارباب انواع لکه (هرکول) د (لی سپ ) د مجسمې له مخې نقل کړي دي .

معلومه نه ده چه پخپله (لی سپ ) یا د ده له همکارانو څخه کوم نفر د اسکندر له عسکرو سره یا ور و سته تر هغه ز مو نږ مملکت ته راغلی او یائې آثار دلته راوړل شوي دي .

(ترور ) په دغه باب کښې داسې نظر په ښکاره کوي :

(غرابت نه لري چه د اسکندر سره د (لی سپ ) د لاس اصل آثار یا ئې نقل مرکزي اسیا ته راوړل شوي وي او باختري صنعتکارانو د ده د مدرسې اصول او دستور ته ترجیح ورکړي او ساتلي ئې وي (۱)

---

(۱) (ترؤر ) د خپل کتاب (دیونان باختري صنعت) په بل ځای کښې وائي چه :

دایو تیدم او د ده داولادې حامي هرکول ؤ . ایو تیدم لومړی د هرکول تصویر د ده د نا ستې مجسمې له مخې چه د(لی سپ ) کار ؤ په خپلو مسکوکاتو کښې ضرب کړی دی دغه مجسمه لومړی په (تارانت) کښې وه او په ۲۰۹ مسیحي سنه کښې ئې هغه یاروم ته ویوړ دوهم ایو تیدم د هرکول تصویر د(لی سپ ) د بلې مجسمې له مخې نقل کړی او په خپلو سکو باندې ئې ضرب کړی دی دغه رنګه دهلیو کلس او ایو کراتیډ د مسکوکاتو د(یو ز یدو ن )او (د یوسکورن ) تصویر و نه دلي سپ له آثارو څخه نقل شوي دي.

د ترجیح علت هم له دی نه معلومیږی چه د (لی سپ) دا درسی کامده (رآلیسټ)
ممیزات دراو دل چه د هخامنشی د صنعت د مصنوعی او غیر طبیعی خوا صو سره چه
تر دغه وخته پوری ئی په باختر کښی رواج پیدا کړی ؤ مغایرت دراود، د لی سپ په هم دغی
(رالیستی) مدرسه کښی باختری استاذانو په مسکوکاتو بانا ی د حقیقی تصویرونو نقش یاد
کوی او په دوه دریو قامه طبیعی او عینی خطوطو سره د یوی څیری نمایښ ورکولی شو.
په مسکوکاتو بانا ی د یونانانو او باختری پادشاهانو تصویرونه د لویو استاذانو د لاس اثر دی
دغه تصویرونه هغو صنعتکارانو جوړ کړی دی چه پخپل کار کښی ئی فوق العاده مهارت
دراود. او تصویرونه ئی په داسی کوچنیو پسرو داسی طبیعی جوړ کړی دی چه نه یوازی
د څیری ممیزه او شخصی خطوط ورڅخه معلومیږی بلکه د هر شخص د روحی خواصو
د جزئیاتو نمایندگی هم کوی.

دا مکان شته لیری نه ده چه په هغو استاذانو کښی چه د مسکوکاتو تصویرونه ارمد الونه ئی
رسم کړی دی یونانیان هم وه خو که څیری دغی مسئلی ته دقت وشی چه:
د (یونان او باختری مسکوکات د فوق العاده دقیقی تیارو په شان د څیری خطونه ښکاره
کوی او مهارت پکښی په کار شوی دی چه حتی د روحی فکر او خیال؛ رأفت، عزم او
ارادی د ممیزاتو نمایندگی هم کوی حال دا چه د هغوی معاصر یونانی مسکوکات له
دغه کیفیت نه خالی دی، هغه وخت پیله دی نه بله نتیجه نه کیږی چه و وایم دغه سکی
د هغه یونانی یا باختری یا محلی استاذ کار ثمره ده چه پادیر ښه شان سره ئی د (لی سپ)
د موضوعه اصولو نه استفاده کړی ده په هغه ځای کښی چه یونانی ارباب انواع ئی دیلان
اوبرتو گټه ره ښودلی دی؛ په دی کښی هیڅ شک او شبهه نه پاتی کیږی چه هیکل
تراش یارسام او نقاش امنا د باختری و څکه چه یونانی الاصل استاذ هیڅکله داسی
فکر کولی نشی" (۱)

په دغه تفصیل سره لیدل کیږی چه د (یونان او باختری) صنعتی مدرسه په کومه

---

(۱) دغه ترجمه او اقتباس د ایطالوی لنایز (خلاصی) دیونان او باختری صنعت د کتاب
څخه شوی دی چه د (ترؤ ر... TPC) تالیف دی او موسیو کوروئی په کابل کښی د ایطالیا
مختار وزیر د دغه کتاب له روسی متن څخه زما د پاره ترجمه کړی ده.

ACKU

اند از ه په دوو لو مړیو ق م پیړیو کښې په باختر کښې د معین او ممتاز شخصیت خاونده شوې وه باختری هیکل تراشو ار نقاشو او رسامو استاذانو له ډېر بهتر یونانی استاذ او مدرسې څخه الهام اخستی دی او لکه چه مسکوکات شهادت ورکوی د (صورت ګرۍ) او حکاکۍ فن ئې دتر قۍ لوړ معراج ته رسولی ؤ لکه چه دد وی په شان پخپله دیونان یونانی استاذان د دغه کار له عهد ی نه وتلی ندی د دغې مدرسې په تشکیل کښې آریانی استاذانو په تیره بیا په اول وخت کښې باختریانو لویه برخه دراوده او لکه چه د(تر ؤر) له کتنو او څیړنو او قضاوت څخه معلومیږی د دغې مدرسې اختصاص او امتیاز د باختری محلی پوهانو او هنرمندانو په قریحې پورې دېر ربط اواره در لوده.

(دیونان او باختری) صنعتی مدرسه زمونږ د مملکت او دګاونډیو مملکتو حتی د ټولې آسیا په تاریخ کښې لوړ مقام او ډېر اهمیت لری او د داسی الهام کانون شمیرل کیږی چه دهندوکش په دواړو خواوو کښې د صنعتی ښوونځیو د پیدا کید و باعث ګرځید لی دی ، او د آسیائی مستظرفه صنائعو په دنیا باندی ئې لوی ځایو او په اوږدو زمانو باندی تاثیر کړی دی لکه چه روسی مدقق چه دمخه مو دهغه نوم یاد کړ په دغه باب کښې دا سې نظریه ښکاره کوی چه : ( دباختر د صنعت اهمیت نوی مونږ ته ښکاره او څرګند شوی دی (می یر Me.er) د ...زدائی صنعت او د مرکزی او شرقی آسیا د صنائعو په خپرولو کښې دهغه اهمیت او ارزښت ښکاره کړی دی ، هرز فلد (Herzfeld) وائی چه ساسانی صنعت دیونان او باختری صنعت د ځانګی جز ندی . که څیړ ی هغه لرل آثار او شواهد چه په لاس راغلی دی ځنګ په ځنګ سره کیږ دو او جزئیات ئی وګوړو نو را ته به معلومه شی چه سره دظاهری عمومی اختلافاتو په شکل ، تخنیک ، تر ئینا تو ، موضوع او سبک کښې سره یو دی . ظاهری اختلاف یادخو اصو اختلاف د(یونان او باختری) سلطنت د قلمرو په خپرید لو او انبساط پورې اړه لری چه دځینو اختلافاتو علت په ځینو موارد و کې عرقی او تهذیبی هم توضیحوی د دریمی ق م پیړۍ په اوله نیمائی کښې هغه وخت چه د صنعت کلاسیکی شکل په مرکزی آسیا کښې لاتر دغه وخته پورې د محلی صنعت په اشکالو کښې پخپل تحصیل موفق شوی نه ؤ داشیا و و له مخې او دا بداتو په سبک کښې

ACKU

دکلاسیک شکل ډیر مشخص دی. په دوهم عصر ق م پېړۍ کښې چه دباختر او یونانی، هندی او چینی محلی تهذیب ډیر خپور شوی و صنعت دوه جانبه خواص پیدا کړل دتهذیب دمختلفو مظاهر اتو یو والی نه داشیاو په ظاهر کښې بلکه همیشه او په تو او مواردو کښې په زیاته اندازه دننه په اشیاو کښې ئې هم تاثیر کړی دی.

په ژیړ خټه او کوشانی مسکوکاتو باندې دتصویر و له مخې هم همدغې نظریې ته رسېږو او وینو چه صنعت نسبتاً خپل کلاسیکي خواص دلاسه ور کړی دی خو بیخي له منځه ندی تللی دکوشان صنعت یو مدرسه ده چه کلاسیکی عوامل ئې د(یونان او باختری) تهذیب په واسطه نیولی دی.

د غه مسئله هم په اساس سره فرض کولی شو چه په هغو منطقو کښې چه د یونان او باختری سلطنت جزوی لکه مارجیانا او درانجیانا (مروه او سیستان) او ورپسې بیا دپارتیانو تر موقتی نفوذ لاندې راغلی تهذیب او صنعت په یوه کلی دوره کښې د پارت دقلمرو د نورو برخو په نسبت تو پیرا و فرق درلود، د (یونان او باختری) صنعت د نورو ګډ و صنائعو په شان چه د مختلف صنعت او تهذیب اشکال پکښې سره یو ځای او ترکیبیږی خاص اهمیت لری. په اسیا کښې د شرقی او غربی تهذیب و د تکر خوړ لو او تصادم په اثر د(یونان او باختری) نوې صنعتی مدرسه منځ ته راغله او دهغې په خپرېدو سره د اسیا ئی صنعت په باب کښې یو انقلاب پیدا شوی دی د سرد ریا له هغې خوا اطرافو نه د کوشانیانو په را تګ او په نوو اشکالو او تصویرو سره او په باختر کښې د هغوی په اوسیدلو او د (یونان او باختری) صنعت سره د هغوی د تماس له کبله د کوشان مدرسه منځ ته راغله تر یوی اندازې پورې ساسانی صنعت د کوشانی مدرسې له رېښو څخه او به ځکلی او څه د یره مود ه نوره تېره شوی چه د قفقاز ی ملتو له صنائعو او د شامی یونانی صنائعو څخه هم مستفید شو. ساسانی صنعت پخپل وار تر زیاتې اندازې پورې د صنائعو اشکال نه یوازې په فارس کښې ټینګ کړل بلکه د بیزانس، روم، روسې او د چین په صنعتي

ACKU

مدرسو کښې ئې هم تاثیر وکړ او د مرکزي آسیا د مانتو د صنائعو د منعکسو څېړو او امو اجوسره مخامخ شول (۱)

هر کله چه د (یونان او بوداڼي) صنعت مدرسه په بېخېل مخصوص فصل کښې وګورو، په ۱۹۳٦ کال کښې د قندوز له مهمو کشفیاتو او د موسیوهاکن له خوا (دباختر او بودائي صنعت) د کوچنې رسالې د خپرېدلو نه وروسته دلته همدو ومره قدر وایو چه د غه مدرسه هم د هغه په خلاف چه پخوا به ئې ګمان کاوه د (یونان او باختري) ګندهارا کښې د پناغوښتو نکو استاذانو په واسطه منځ ته نه ده را غلې بلکه د «یونان او باختري» خپلواکو پادشاهانو په زمانه کښې په باختر د هندوکش په شمالي برخه کښې پیدا شوې ده او د یونانی کلاسیکي صنعت ممیزات پکښې ښکاره دي (۲).

تجارت او لیارې: د آریانا جغرافیائي حالت د مرکزي آسیا په خېر له کښې یو داسې شی دی چه پخپله د هغه اهمیت د نژدې شرق او منځنی شرق ترمنځ ترسیموی.

د لومړي جلد په اول فصل کښې د (کلکولی تیك) د زمانې د مدنیت د شواهدو په تائید او د (سر جان مارشال) او (سراورل استین) او د نورو محققینو د لیکنو په استنا د مو بیا نوکړ چه د قبل التاریخ په دوروکښې هم داندوس د حوزې (د آریانا د شرقي غاړو) او د بین النهرین د حوزې او د سپین بحر د سواحلو ترمنځ ارتباط موجود و، او د هیرمند او سیستان حوزې په دغه لاره کښې ښه رول لوبولی دی په هماغه فصل کښې په ډېر دقیق صورت

(۱) د یونان او باختري صنعت د کتاب د ایطالوي لند یز له مخې ترجمه ، د غه کتاب د (ترؤر) تالیف دی لکه چه د تیرې صفحې په پاورقی کښې و ویل شول .

(۲) ۱۹۳۷ - کابل د یونان او باختري بودائي صنعت د رسالې د موسیو هاکن دلیکنې لسم مخ .

ACKU

(د آریانا په مرا و د اتو کښې لاجورد او د هغه رول) تر عنوان لاندې مو ولیکل چه شپږ زره کاله پخوا د آریانا د غرونو او د آسیا د غربي خاورو تر منځ تجارتي تګ او راتګ او تهذیبي تعلقات د سپین بحر تر سواحلو او د نیل تر حوزې پورې موجود و، او آریانا په هغه مساعد موقعیت چه درلود هغې په هغو لویو سیندو نو چه له غرونو څخه ئې ګرد چاپېره بهېدل او جاري دي او هر یو طبیعي لاره شمېرل کېږي، د مراوداتو، تجارتي او تهذیبي روابطو و تعلقاتو په خپرولو کښې مهم رول لوبولی دی او د غوځلورو لارو د پرمختیتو نه سره یو ځای کړی او په تماس کښې ئې اچولی دی د (پارادا تا) او (کاوی) او د (اسپې) لویو کورنیو د آریانا د مقتدرو او فعالو پادشاهانو سره چه په لمړي جلد کښې د هغو د کارنامو بیان شوی دی د لار و پلوا یستلو او ګرځو چاپېره په څلورو خواؤ کښې د آریانا ئي تهذیب په خپرولو کښې د پرکوششونه کړي دي له د غولیري زمانو نه تیر یږو په هغه دوره کښې چه په کتنه او مطالعه ئې بوخت یو یعنې په دوولسو مې پېړیو کښې چه د یونانو او باختري خپلواکو پادشاهانو د سلطنت زمانې دي زمونږ مملکت هم د تجارت او مراوداتو په باب کښې ټاکلي مقام لري، د یونانو او باختري پادشاهانو فتوحاتو د آریانا د تاریخي چوکاټ نه د باندې د ختن، کاشغر، د تارم د حوزې، اتلانتي او د ګنګا د حوزې لاره پرانیتلې وه او د یونانو او باختري پادشاهانو په دوره کښې په څپله مسکوکاتو او بیا د سپینو زرو مسکوکات په ډاسې ښکلېتوب او ښائسته والي سره د اقتصاد د ترقۍ علامه او د تجارت د خپرېدو یوه نښه ده، همدغه دول طلا یعنې سره زر چه د تجارت د بازار په رونق کښې ډېر تاثیر لري د یونانو او باختري سلطنت له دوري نه پخوا هم ډېر وو، د غه سره زر بیله دې چه د آمو د پا سنیو سواحلو له شګو پر یمنځلو (ریګ شوئي) او بدخشان، زرافشان او سغد یانو څخه په لاس راتلل د التائي له غرونو څخه هم ایستل کېدل د موسیو (تر ؤ ر) په عقیده د پنجشیر سپین زر په دغه زمانه کښې

ACKU

په کار اچول شوي وو. د دغه مدقق د تارم د حوزې څخه را ته دا ثبوتيږي چه ډېر ونو او لښکرا يستلو د علتونو په جمله کښې (د همدغه فصل په ۱۲ او ۱۳ پاڼو) کښې (يوعلت هم له التائي څخه د سرو زرو، نه رسيدل بولي چه د کوچيانو (باديه نشينانو) جنبش او غلا يان د هغه ما نع گرځيدلي وو په هر حال د سرو زرو او سپينو زرو د قيمتي فلزاتو او د ښکلو او خاسته مسکوکاتو شته والي او په تيره بيا په دغه دوره کښې د همو ډېر والي او رنگارنگۍ والي د هغو عوا ملو له جملې څخه دي چه د تجارتي بازار تود والی او گرمو الي ښکاره کوي د يونانو باختري پا د شاهانو د مسکوکو ضربولو ته د ډېر اهميت ورکاوه او هغه ئې د دولت د مالي قدرت او اعتبار مهم عامل بلله، د هندوکش د جنوبي برخو د پاره ئې د مسکوکاتو په يو طرف باندې خروشتي رسم الخط او د براکريت ژبه استعمالوله، د هندي نيو او ځايو د پاره مسي سکې د ډېرې ضربيدلې.

د تجارتي مراوداتو او روابطو په لحاظ که د وچې د لارو څخه ووا و که د سيند و د جريان د لارې په تيره بيا د اکسوس (آمو دريا) او اندوس (سند) د دوو لويو سيندو نو څخه استفاده کيدله، بکترا يعني بلخ په هغه وخت کښې د مملکت پاي تخت د هغه مساعد موقعيت سره چه درلوده ئې دلارو د څانگو ځانگي او بيليدو او يو ځای کيدو مرکز وو او له دغه ځای څخه د شرق خواته د چين په لوري د غرب په طرف د سلوسي دولت د قلمرو خواته او د جنوب او جنوب شرق طرف ته د هند د ډيوونو ځمکو او د هغو نه هغې خواته لاري تللي له بلخ نه د چين خواته دري لاری تللي وي يوه د بدخشان او واخان د دروې د لارې د يارکند خواته او بله د فرغانې د لارې د کاشغر خواته دغه دوه لارې د اکسوس د سيند په شمال او جنوب کښې ايستل شوي وې د باختر او چين تر منځ د تهذيبي روابطو د پيدا کيدو او اوائل د پر يخوانيو او پخوانو د چين داستانو نه هغه څلورو ورځو قبل الميلاد کلونو ته رسوي که څيري تاريخي حقائقو ته نظر وشي او هغه و کتل شي په همدغه دوره کښې چه دلته مونږ د هغې په کتنه او څېړ نه بوخت يو د دوا ړو خواؤ وضعيت غوښتل چه

روابط او تعلقات شروع شي په آريانا کښې ديو نان او باختري دولت او دهغه وخت په چين کښې د(هان‌ها)کورنۍ پاچائي کوله، دباختر او چين ترمنځ دتهذيبي ارتباط شروع ددوهمې ق م پيړۍ اولو وختو ته منسو بيدلی شي(۱) د باختر او چين ترمنځ تجارتي روابط هم ډيره پخواني سابقه لري، ددوارو خواؤ ترمنځ زياتره مراودات د(تارم)دحوزې اوسيد ونکو عملي کول، له باختر نه زياتره ښيښه ئي لوښي او کريمه تيزې او جواهرات او په مقابل کښې له چين څخه وريښم، وريښمين توکران، لاك، پوستکي، او سپينه سره او سپين زر او نيکل راوړل کيدل، دباختر خلك دچينيانو په نظر کښې زياتره تجارت پيشه او سوداگر معرفي شوي و او په تيره بيا د(چيان-تسين (۱۲۸ م)دمسا فرت نه وروسته دغه نظريه قوي شوه څکه چه ده په وېيل باختريان تجارت ډير دوست لري.

غربي لاره دهريرود له حوزې نه دپارتيا دلارې دډا کيتانا»(همدان)خوا ته تلله او له هغه ځای نه دانتيوکيا(Antiochia)سره يو ځاى کيدله، هغه لاره چه دهندوکش دجنوب خوا ته هندی نيول شوی علاقي ته تلله دهند وکش له مشهور و غاښو(کو تلونو)څخه دکاپيسا حوزې ته رسيدله او په دغه ځای کښې ئي عموماً دوې ځانگې د رلو دلې چه يوه ئي دنجراو، تگاو او دلغمان دلارې دکنړ، اسمار درې، چترال او دسوات خوا ته «پوراشاپورا»(پيښور)ته او له دغه ځاى نه(تا کزيلا)ته رسيد له، او بله دډيرې جنوبي لارې څخه داوسني کابل او خوردکابل او دهلې له شاؤخوا څخه برابره د(اندوس) سواحلو ته رسيدله.

دغه رنگه دلويو سيندو نو څخه په تيره بيا له اندوس(سند)او اکسوس (آمو دريا)څخه هم په تجارتي مراود اتو کښې استفاده کيدله د اندوس سيند له ډير و پخوا

---

(۱)دشرق أقصي او منځني شرق ترمنځ دوه سيمې متقابل نفوذ(هانري جارج فارمر) مقاله ددغه کتاب دمولف ترجمه د آريانا دمجلې دد و هم کال دريمه گڼه

زما نو څخه د بیر یو د چلوا او رو اوخا طرات ئی په تا ریخ کښی ثبت د ی ، اسکندر د بیر ته تګ په وخت کښی له د غه سیند نه تر بحر پوری په بیړ ی کښی ښکته شو (تا رن) د غه عقید ه لری چه د یونا ن ا و با ختری پا د شا ها نو د آ مو د ریا او سند په د وو سیند و نـو کښی د ر یا ئی قوا وی در لو د لې ا و وا ئی چه د (د متر یو س) پـه سکه بـا نـد ی د ر ی غـا ښیزه نیزه او د ( انتی ما کو س ) په سکه با ند ی د ( پوز یود ن ) دسیند د ژ نی تصو یر په د ی با ند ی د لیل دی چه د غر یا د شا هانو د ا ندو س ا و ا کسوس په د و سیندو نوکښی دریائی قو اوي در لو دلې(۱) د(استرا بون) دلیکنو له مخی د ا سی معلو میږ ی چه د هند تجار تی ما لو نه د آ مو دریا په اوبو کښی د ( ا یر کا نو Ircar·o) کو چنی سیند د ( خزر بحیر ی) تـه ا و له د غه ځا ی نه د (کو را) Kura او د ګا و نـد یو ځمکو د لاری « اوکسین Euksin) یعنی توری بحیری ته و رل کېد ل ا و را و ړل کېد ل لکه چه (تر وْ ر) وا ئی دغه تجا رتی ما لو نه له «کوفن » یعنی د کا بل له حوزې نه په اوو ونځو کښی با ختر او د آ مودریا سوا حلو ته و رل کـیـد ل ( ۲) نـو پـه دغـه ترتـیـب د هـغـو مـد ر کـو لـه مـخـی چـه پـه لا س کـښی دی واضح مـعـلـو میږی چـه دهند مال ا لتجار ه له هغو لارو څخه چه بیان شو ې د( کوفن )یعنی دکو پیسا حو زی ته دهندوکش د درو څخ لی او مد خل ته را او ړل کیدل ، اوله دغه ځای نه په هره وسیله سره چه وو په دیره چټکی په او وو رځو کښی با ختر ته را و ړ ل کیدل او په بیریو کښی به په آمو دریا کښی دخز ر بحیری ته نقل کیدل په دغه وخت کښی د آمو سیند داو رال په بحیر ه کښی تو ئیده خو طبیعی کانال دغه بحیر ه لهجنوب غربی څنډی نه د خزر په بحیری پو ری نښلولی و ه ، ورو سته بیادغه تجار تی مالونه دخز ر له سو احلو نه دکـار و انو قافلی سره به تو ر ې بحیری ته و ړل کیدل او کوچنی آسیا او حتی دمدیتر ا نی دبحر شـر قـی او شما لی سو احلو ته خپر ید ل .

---

(۱) په با ختر او هند کښی یو نانیان د (تا رن ) د تالیف ۱۴۳ مخ

(۲) د یونا نا او با ختری صنعت د کتاب ایطـالوی لنډ یز

همدغه راز د اندوس د سند له سیند څخه هم تجارتي استفاده کیده لې هر کله چه د دغه سیند له حوزې نه د باندې تر (پتالي پوترا) یعنې (پټنې) دمور یا د دولت ترمرکز پورې د یونان او باختري د دولت نفوذ خپور شوی و (۳۲ – ۳۳ یا د مخه یا وروسته صفحې دې وکتل شي) د اندوس تجارتي مراود ا نو ډیر اهمیت درلود . د دې لویو مهمه لاره دا ده چه په گجرات او د (کامبې) د خلیج په شرقي سواحلو کښې د (بریگازا Brygazal) بروچ Broch بندر د (اپولودوت) د یونانا و باختري مشهور پاچا (دیمتریوس دوروراو جنرال په لاس فتح شو ، او دغه بندر دوچې او دریاب د تجارتي روابطو او مراوداتو په لحاظ ډیر اهمیت درلود بحري او دریائي لاره له دغه ځاې نه د غرب خوا ته خلاصه وه ، او دوچې لارې د (ایوجین) او (ویدیسیا) او (کوزامبې) د لارې (پتالي پوترا) او د گنگا سواحلو ته تللې د یونان او باختري پاد شاهانو عمراني یادگارونه د اندوس په حوزه کښې ډیر دي د (دمتریوس) په نامه او ده دمور (تما وفیلا) په نامه ښارونه په دغه ځاې کښې ودان شوي وو ، وروسته ذکر شوي ښار د اندوس دد لتا په غربي منطقه کښې بو لی .

لنډه دا چه د یونان او باختري دولت او د (ایگزارت) له حوزې نه د (کامبې) تر خلیج پورې او د لوط له صحرانه د گنگا تر خوزې پورې د دغه دولت د قلمرو خپرېدلو چه وچې او سمندري لویې لارې یې په لاس کښې درلودلې په دوو لومړیو (ق م) پېړو کښې د آریانا د تجارتي مراوداتو په پراختیا کښې د پوره اغیزه او تاثیر وکړ ، او په هغه اساس چه بنسټ یې په دغه دوره کښې قائم شو ، د آریانا کوشاني امپراطورۍ د گاونډیانو حتی د چین ، شرقي روم (بیزانس) د لیرې مملکتو سره د مملکت تجارت ته نوره پراختیا هم ورکړه ، او په دغه باب کښې به په خپل ځاې کښې فصل کښې بحث وکړو .

<u>ژبه او رسم الخط</u> : په لومړي جلد کښې د (۱۶۰ پاڼې په شاؤخوا کښې) له ویدي ژبې څخه او د (۳۳۱) مخ په شاؤخوا کښې د (زند) له ژبې څخه مو بحث وکړه

چه د هند او اروپائي د کورنۍ باختري ژبو يوه څانګه د ماوراءالنهر او د دوهم زر کښې د آريانا په خاوره کښې وربانده ئې خبرې کېدلې. د دغو ژبو پخوانو ژبو څانګي د مملکت په غرنيو ځايو کښې معمولې او مروجې وې او د احتمال له لېرې نه ده چه د هغې د ورې ژبو تر زمانې پورې چه موږ ئې په نزدې په ځېرله او کتنه اخته يو، نوې څانګې هم ورځنې پيدا شوې وې. کوم شي چه په دغه باب کښې د يونانيانو باختري خپلواکو پاچاهانو د سلطنت په دوري پورې ډېره اړه لري د يونانۍ ژبې او د رسم الخط خپرېدل او د محلي لهجو سره د هغې ګډون او خلطېدل دي :

هغه وخت چه (استرابون) وائي (د باختر خلک د په بياو بياو لهجو خبرې کولې چه د هر لوئو عيث يو ؤ) د باختري ژبو بيلو بيلو څانګو ته اشاره کوي چه ترڼن ورځې پورې هم اقسام او انواع ئې د مملکت په بياو بيلو ځايو کښې ليدل کېږي لکه چه د مسکوکاتو يعنې د هغې زمانې د رسمي سندو له مخې معلومېږي د يونانيانو او باختري پاچاهانو د يوناني (ژبې) او د محلي (ژبې) د دوام او احترام کاوه او زيات احتمالات پدې بانديې دلالت کوي چه دربارې ژبه څه نا څه په اول کښې يوناني وه خو وروسته بيا د يونانيانو او باختري د دوهمې سلطنتي کورنۍ د دوؤ سمن (ايوتيدم) نه وروسته چه د دې په زمانه کښې د آريانا د خاورې سره ډېر او متحدې شوې دي، محلي ژبې هم په دربار کښې و پالې کېدلې که څېرې په باختر کښې تر يو ې اندازې پورې په يوناني ژبه باندې خلک نه پوهيدل، خو د هند و کش په جنوب کښې بو نوي شي ؤ او خلک ورباندې نه پوهيدل په دغه مناسبت محلي ژبې يا څه نا څه يوه ژبه ئې په دربار او رسميا تو کښې داخله شوې وه د آريانا د خاورې د يو والي مسئلې طبعاً داسې تقاضا کړله او دغه مسئله د مسکوکاتو له مخې واضحه معلومېږي ځکه مجرد چه د يونانيانو باختري دولت د هند وکش په جنوب کښې نفوذ پيدا کړ دېر اکر يت ژبه او خرو شتي رسم الخط د مسکوکاتو په کېن مخ باندې پيدا شو او د دې يو سړي هغه لومړی شخص دی چه خپل مسکوکات ئې په دوو يوناني او پراکر يتې ژبو او په دوو يوناني او خروشتي رسم الخطو نوښتانسته کړي وو، سربېره پر دې د آريانا او سېلونکو سره د يونانيانو د ګډون او اختلاط له کبله يوناني

ACKU

ژبه او آریائی لهجې سره ګډې او مخلوطې شوې او طبعاً له دې اړوونې وروسته ګډه لهجه منځ ته راغلې.
(۱) تر دې چه کم کم څرنګه چه یونانی نژادی عنصر په محلي وینه کښې ګډ او منحل شو
او له منځه لاړ یونانی ژبه هم بیخي په باختري لهجو کښې حل شوه.

لکه چه مسکوکات شهادت ورکوي د یونان او باختري پادشاهانو د سلطنت په دوره کښې په
آریاناکښې دوه رسم الخط ـ ونه معمول او مروج وو چه یو یونانی رسم الخط او بل خروشتي
رسم الخط دی. یونان او باختري او مریه خپلواکي کورنۍ په مسکوکاتو کښې او ړی دیو دوت او د،
د زوی د سلطنت په دوره کښې چه دی هم په همدغه نوم یادیږي د باختر په مسکوکاتو کښې یواځي
یونانی رسم الخط استعمال شوی دی، په هغه واتد اما تو سره چه د یونان او باختري دوهمې
کورنۍ د موسس له خوا د آریانا د خاورې دیو والې په لاره کښې شروع شول (خروشتي)
رسم الخط لومړی ځل د (دمتریوس) د خلو رکو نجو (مربعو) مسکوکاتو په کینې مخ بانـدې
ضرب شو د (ترقور) د تحقیقاتو له مخې (خروشتي) نوم د (کروتهه karottha)
آرامي کلمې څخه مشتق شوی دی چه د (حرف) په معنی دی د دغه رسم الخط دا لفباء بدا
هم (آرامي) ده او له دې څخه به د کوشان په فصل کښې مفصل بحث وکړو، چه د هغه د تر کیبه
زمانه ده دغه رسم الخطله ښۍ خوا نه کیڼې خوا ته لیکل کیده او د الفبا حروف یې د یو د بل
له ترکیب نه په مستقل ډول او جلا جلا لیکل کیدل لکه چه د یونان او باختري پادشاهانو
مسکوکات شهادت ورکوي په دغه عصر کښې د هغه مرکز د هندوکش جنوب یې لمنې وی
د دمتریوس نه وروسته یعنې (د ۲۰۰ ق م) نه راوروسته د یونان او باختري پادشاهانو
د سلطنت تر پای دورې د یونانی رسم الخط سره برابره دوام کړی دی که څه هم لوی کوشانیانو
هم یونانی رسم الخط پخپلو مسکوکاتو کښې استعمال کړی دی خو د دغه استعمال تر له د نقل
او تقلید جنبه لري او د دوی دوره د خروشتي رسم الخط د ترقۍ زمانه بلل کیدلی شي

---

(۱) (ترقور) وائي چه د (مقدونی) ژبې څخه مقصد چه (سنکا c.:eca) ورته اشاره
کړې او وائي چه یونانیانو او هندیانو په دغه ژبه خبرې کوای هماغه ګډه او مخلوطه ژبه ده
او که داسې نه وی نو د یونانیانو اصلي صافه ژبه (یونانی) وائي (د یونان او باختري
صنعت)

ACKU

دیو نانیو باختري پاچاهانو د سلطنت په دوره یې یو کښې هغه مطالب چه د مسکوکاتو په مخ باندې په یونانی ژبه او رسم الخط لیکل کیدل د هغو عین ترجمه د مسکوکاتو په کیڼ مخ باندې په پراکریتی ژبه او خروشتي رسم الخط ضربیدل، له دغې رویې نه دا او میږې چه د دفتر خاوندانو او د دربار منشیانو او منورې طبقې په دواړو ژبو او په دواړو رسم الخطونو پوهیدل او داسې مترجمین او لیکوال موجود وو چه په دواړو ژبو او رسم الخطونو کښې ئې بلدیت درلوداو لوستل لیکل او ترجمه به ئې کول له دغې رویې د وام د راوداو کړار کړار یونانی رسم الخط خپل ممیزات په کوشانی عصر کښې دلاسه ورکړل او د خلکو له پوهې څخه ووت او خروشتي رسم الخط د هغه ځای ونیو.

ارد او جنگي ادوات او آلات : د ویدا او اوستا د ادب په شهادت د تاریخ د پیدا کیدو

---

له ابتداء نه راو روسته د آریانا غرنی ځایونه د ټل د ناميتو پهلوانانو د روزنې ځانګوه او اجتماعي پخوانیو زمانو څخه چه د اجتماعي ژوند بنسټ نوی کیښودل کیده په هر داو جامعه کښې د غښتلوړوح تر ریښو او د تاریخ د پیړو په تیریدلو سره ئې پر له پسې وده او نشو ونما وکړه او توغ ئې وموند، پهلوانی، جګړه ماری، شهامت، سوارکاری آریانی فطری سجیه او د آریانا، خراسان او افغانستان داو سیدونکو مېړنو څخه او خلاصه دوچه او پدی سرو دانو لی ترمیاشار اته او دشاهنامه او د آوېستا تر پښتو نو پورې ټول د هغوی د رزمي داستانو په نقلونو رنگین دی او د دنیا او په حماسي عنعنه ئې تشکیله کړی ده:

دلومړی جلد په دوهم فصل کښې (د جګړه ماریو اوو سلي) تر عنوان لاندې او په دریم فصل کښې (د جنګ او جنګي ادوات) تر عنوان لاندې په ویدی او اوستائی زمانه کښې د آریانا داوسیدونکو د جګړه ماریو ژوندون او رزمي ممیزات بیان شوي دی، له وروسته ذکر شوی دوری څخه تر هغې زمانی پورې چه په دغه ځای کښې د هغې په مخپرنه او کتنه اخته یو د غښتلوړوح تل ژوندی و او د هغه شاهد هم پخپله هغه تاریخی پیښې دی چه په دغه وخت کښې پیښې شوی دی او په تفصیل سره په لومړی جلد کښې بیان شوي دی، د لته د هغه شي په تعقیب چه په دغه باب کښې د لومړی جلد په فصلونو کښې لیکل شوی دی تر اړه چه حتی الامکان د یونان او باختري دولت د نظامي وضعیت او عسکری صنفونو

ACKU

پەباب کښې څو کړنې و لیکو دغه‌نا جمیټو لکه‌دشاهي ساو سیانو او هندي موریایانو په‌شانه وهلو کښې د یونانانو باختري دولت د جنګي اقداماتو له مخې او بیا: هغو استعماري جنګونو له‌مخې چه‌د انډوسس (دسند دسیند) نه په‌هغه خوا شرقي خاورو او د تارم په‌حوزه کښې شوي دي معلومېږي چه‌د آریانا او د یونانانو باختري مقتدرو پادشاهانو په‌دغه‌عصر کښې لویه او مرتبه‌نظامي قوه درلوده او دغه‌قوه دومره مقتدره وه، چه‌ساو سیان ئې د آریانا دخپلو اکثرو پېژندلو ته‌اړ کړل او د ګنګا او د تارم تر حوزې پورې ئې د خپلو فتوحاتو لمن پراخه‌کړه. په‌دې کښې هیڅ شک او شبهه نشته چه‌په‌دغه‌وخت کښې زمونږ د اردو تشکیلاتو مهمه‌برخه‌سواره‌نظامو تشکیله‌کړې وه. آس هماغه‌آس چه‌زمونږ د تاریخ په‌ډېر پخوانیو دورو کښې ئې په‌ډېره‌بیا‌په‌او ستائې د وره کښې (سوارې او سوارکارې) په‌جامعه کښې پیدا کړې وه‌تر دغه‌وخته‌پورې په‌خپل پخوانۍ اهمیت باقي و او د سپرو چټک او لګی دحملې او چپاوونه ډېر مهم او زړور عامل شمېرل کېده. دهند وکش د شمالي برخو او سیانو ټکوا او دباختر او تخارستان خلکو چه‌تر ننه‌پورې په‌سوارکارۍ کښې فوق العاده مهارت لري حتی زمونږ د سواره نظامو خورا بهتر ټولګي ئې تشکیل کړ او د دوی دوری لوړې او مهمې فتحې زیاتره د هغوی د چټک حرکت نتیجه وه. دغه‌سوارکاران په‌غشو او لیندو، او د زغرو بین او نیزو، په‌تورو او پېش قبضو سمبال او مجهز وو او موقع په‌ئې لیدله او د خپلو مهمي وسلو نه په‌ئې کار اخسته (ترږور) روسي معاصر مؤرخ (مي لندا پانا Milinda Panaha) د کتاب له‌مخې چه‌د (مناندر) او پېیانې ژنرال دهند نیولو حمله‌کو د یونانانو او باختري امیر په‌زمانه‌کښې لیکل شوي دي د یونانانو باختري دولت د عسکري وضعیت په‌باب کښې معلومات په‌لاس راوړي او د دغې زمانې د سوار کارانو له‌خولې نه‌لیکي چه (که چېرې دښمن لیرې وي هغه په‌غشو ولئ، او که چېرې نژدې وي هغه‌بیا په‌زوبین سره ولئ، او که چېرې ښه‌نژدې شي هغه‌بیا په‌نیزې سره وهو، او که چېرې نور هم پسې نژدې راشي هغه‌بیا په‌توره وهو، او که چېرې راورسېږي او مستقیم تماس پیدا کړي نو هغه به بیا په خنجر سره وهو.) (۱)

---

(۱) (د یونانانو باختري) صنعت ایطالوي لیکونکي د (ترور) تالیف

دیونانو او باختري دولت نظام، جنګي ګاډۍ هم درلودې په آریانا کښې د آریاپانو
دپیدا کیدو او ظهور له زمانې نه راورسته جنګي ګاډۍ استعمالیدلې. په ویدي زمانه
کښې دآریاقبائلي پادشاهانو دهقانو کش په دواړو خواو کښې له آس نه زیاتره د جنګي ګاډیو
په کش کولو او راښکلو کښې کار اخستل کیده، او دغه رویه او کار په اوستائي زمانه کښې
هم معمول وو او (رتشتر) ترېه ئې (په عرابه سپاره وونکي پهلوان) وایه (۱) په همدغه رو یه
دیونان او باختري پادشاهانو د سلطنت په دوره کښې د آریانا په عسکرو کښې د جنګي ګاډیو
استعمال پاتې وو، د عسکرو ګاډۍ چلوونکي د ناستې ځای خاوړ کونجه او د لرګي یا
داوسپنې نه جوړیده او په دوولو یې عراده مجهز وو د یونان او باختري
دولت د عسکرو په جمله کښې جنګي پیلان هم شامل وو، په تیره بیا په هند کښې د دمتریوس
دفتوحاتو نه وروسته چه دغه کار ته ډیره ضمیمه او مساعده شوې وه، پخپله دمتریوس
د باختر پاچا د هند د فاتح په حیث نقش او د پیل سر ئې پخپله خولۍ نصب کړی وو د (انتیال
کیداس) دیو دیل سکې په مخ باندې چه په کاپیسا کښې ضرب شوې ده د (پیل سر) د (زوس)
په مقابل کښې د کاپیسا د میز ښې او علامې په حیث نقش شوی دی له دغو شیانو نه معلومیږي
چه دیونانو او باختري پادشاهانو په زمانه کښې پیل په تیره بیا د هندوکش په جنوبي علاقو کښې
اهمیت درلود او له جنګي پیلانو څخه ئې حتی په عسکري سوقیاتو کښې هم کار
اخست، موسیو (تروڤن) پخپل د (یونانو او باختري صنعت) په کتاب کښې د دوو فلزي دائرو
تصویر لیکلی او ورکړی دی چه د (ارمیتاژ) په موزه کښې ساتل شوي او محفوظ دي، او په
هر یو کښې ئې جنګي پیل د پیلوان او د هغو نظامي کسانو سره لیدل کیږي چه د پاسه ور باندې
ناست دي، د پیل په اوږو باندې هم دوه زغره وونکي داوسپنو کلاګانو په شکل د برجونو او کنګرو
سره کیښودل شوي او په کنګرو باندې د دوو تنو عسکرو سرونه د خپلو نیزو د سرونو
سره معلومیږي په دواړو تصویرونو کښې دغه عسکر هر یو یوه لاړه د خپل دیونانو او باختري
پادشاهانو د خول په شکل په سر اړی، پیلوان د کلا په شان هم دجنه د باندې د خپل جنګک سره
د پیل د دواړو غوږو په منځ کښې ناست دی د دغه هم دج (کیجاوی) خاتمه او ښکلو لیتوب
د کتلو ور دی څکه چه ترڼ ورځی پوري د هغې نقشو نه زموږ د کلاګانو په برجونو دیوالونو کښې

(۱) په اوستائي زمانه کښې د آریانا د پهلوانانو وسله د آریانا د مجاهد دلومړي کال اتمه ګڼه.

ACKU

ساتل شوي دي، د یونانو باختري دولت د عسکرو په جمله کښې پلي ترلاکي هم موجود وو چه د ملت له افرادو څخه به را ټولیدل او وسله به ئې غشی، لنده، نیزه او سپر و، او غالباً ټمانن دادي چه په غشو، لیندو او په هغو نورو کې چنیو پیش قبض و مجهز وو چه تراوسه پورې په نورستان کښې موجود دي دې هغه صنعتي آثار مجسمې او رنګه تابلوګانې چه د حفریاتو په نتیجه کښې دافغانستان د بیلو بیلو ځایو څخه لکه هډه، بګرام، او فندقستان (د غوربند دره) پیدا شوي دي که څه هم په دوره د زیورو وسلیو پیریو پوري اړه لري خو بیا هم ددې دوره د نظام، او سپرو د لباس او د تعرضي او دفاعي وسلو د څیزو اقسام پر اب کښې چه په دوره موده کښې ئې چندانی فرق نه ئ کړی معلومات ورکوي: د دغه د څیزو مجسمو له مخې معلومیږي چه سپرو او پلیو به زره اغوستله او دغه زره زیاتره د دړي کونجي (مثلث نما) فلزي ټوټو څخه جوړه شوې وه او د پیادو او سپرو د زرو د فلزي ټوټو وضعیت فرق درلود: د پلیو د زرې د دري کونجو ټوټې سرونه به ښکته او د سپرو به پورته وو چه هغه نیزه چه له پورته خوا نه یا د ښکته خوا نه په مقابل طرف باندې وهل کیدله غوڅه و نه کړي او کارګر واقع نه شي. ګرد سپرا و د وه سري خنجرونه هم درلود وواو وږدې سمې تورې هم استعمالیدلې؛

موسیقي او ننداري (نمایشات): په یو مملکت کښې لکه افغانستان او په یوه

---

دوره کښې لکه د یونانو باختري پادشاهانو د سلطنت دوره چه د صنائعو آرت او د نقاشي صنائعو د بیلابیلو څانګو د پاره د ډیرې ښې زمینې نشر و نما کړې وه طبعاً موسیقي هم پوخوالي ته رسیدلې وه؛

د چینایانو د تذکرو او تواریخو له مخې شاوزرزره کاله پخوا د تولي یعني هښتیا ید د نوری (لي) د پیدا کولو د پاره (لنګ لن) نومې سړی باختر ته

را لیږلي وو (۱) له هغې څخه پیدا شوي هیکلونه او د بابا نورنګه تبلونګانې به دغه باب کښې هم رباب، چارۍ، شپیلۍ، رباب، بربط، سه تارا وتنبور داسې آلات، و چه زیاتره ګانونئ آریانا وه، او د دوهمې مسیحي پېړۍ په نیمه کښې ور وسته د سنکیانګ او د تارم د حوزې د لارې د چین خاورو ته خپاره شوي دي (ټرور) روسي مدققین دغه عقیده لري چه د یونان او باختري د شاهانو او په هند کښې د دوی د امر او وینه د دربار کښې د تیاتر نندارې او تماشات ورکول کېدل ځکه چه (پلوتارك) دومره هم ویلي دي چه د اسکندر سره یوناني ممثلین هم ملګري وو، په دغو لحاظو دغه مدقق عرض کوي چه هغه تیاترا و ننداري چه د یونانیانو د اصولو سره ئې د پوره مشابهت درلود په باختر کښې پیدا شوي وې.

---

(۱) (د شرق اقصی او منځني شرق تر منځ د موسیقي متقابل) نفوذ (د جورنال انجمن شاهي آسیائي بریطانیا و ایرلانډ) د (۱۹۳٤) کال د اپریل په ګڼه کښې د (جارج فارمر) لیکنه دې وکتل شي. د دې مقالې فارسي ترجمه د آریانا د مجلې په ۱۵ ګڼه کښې خپره شوې ده.

# اووم فصل

## لومړۍ برخه

### پارتیان

(هیرکانیا) او (پارتیا) د آریانا د شمال غربي ولایتو څخه دوه ولایته دي چه ځینې وختونه په جلا جلا نومونو (هیرکانیا) او (پارتیا) او ځینې وختونه په یو لوی نوم (پارتیا) سره یادشوي دي او د هریرود له حوزې څخه نیز د بحیرې تر سواحلو پورې په منطقو باندې مشتمل و چه له دغه ځای څخه د (مدیا) سرحد شروع کیده، په بل عبارت (پارتیا) د دامغان، شاهرود، جوین، سبزوار، نیشاپور، طوس، نوی بهار، ترشیز له سیمو او د اترك او هریرود له حوزې نه مرکبه وه:

لکه چه د لومړي جلد په دوهم فصل کښې د آریانا حدود بیان شوي دي (اراتوستنس) او (استرابو) چه د هغه د خولې نه خپل نظریات بیانوي د آریانا حدود د غرب خواته داسې ټاکلي دي چه (پارتیا) او (پارتاکنه) د آریانا جز شمېرل کیدل او (مدیا) او (فارس) ورڅخه د باندې پاتې کیدل له دې کبله د دغو اساسي او صحیحو تقسیماتو له مخې ویلی شو چه پارتیا د آریانا په شمال غرب کښې یو آخرني ولایت و چه د (مدیا) د خاورې سره ئې تماس درلود، د همدې کبله هرودوت په دریم کتاب (۹۳) او (۱۱۷) بند کښې پارتیان د خوارزمیانو، سغدیانو، آریانو (د هریرود د حوزې د خلکو) هیرکانیانو د (گرگان د خلکو) سرنگیانو (زرنجیانو) او د تهامنیانو (تیمنیانو) سره چه دغه ټول د آریانا د اوسیدونکو جز دي یو ځای یاد کړي دي، او (داریوش) هم د فارس د خاورې نه د باندې د خپلو فتوحاتو نه وروسته په هغه رویه چه د آریانا د بیلو بیلو ځایو د اوسیدونکو د نومو په یادولو او ذکر کولو کښې ئې درلوده او جلا جلا د هغوی نومونه یادوي پارتیائي په سرنجیا، آریا، سگرتیا او هیرکانیې پورې تړلي او یو ځای ئې د هغوی نومونه یاد کړي دي او له دغو بیاناتو نه واضحه معلومیږي چه پارتیا د زرنج د ولایت او د هامون د علاقې او

ACKU

دهریرود او هرکانیا دحوزې په شان دآریانا دخاورې جز او دمدیا او فارس دحدودو نه دباندې پرته وه (۱)

پارت او پارتیا یعنې دغه قوم او ځای نوم چه دغو په نومو نو شهرت لري د یوې لویې دلې مدققینو توجه ئې اوګرځولې او دغه په باب کښې ئې په مختلف او متنافض صورت نظریې ښکاره کړې دي خو عموماً په دغه عقیده دي چه دوی د باختر له خلکو څخه او د باختر د آریائي کتلې له جملې څخه دي. پارتیان لکه چه د نوم نه ئې او د دغې خاورې له نوم څخه چه د دوی په نامه مشهوره شوې ده، واضحه معلومېږي چه د آریائي باختري (پکت) یا (پخت) قوم یوه څانګه ده. (پکتیان یا (پختیان) یعنې (پختی) چه نوم ئې په اوستائي کلمه (بخدي باندي) د بلخ ډېر پخواني نوم دي تاثیر کړی دی، هماغه مشهور قوم دی چه د ویدي سرود له پخواني کتاب یعنې (ریګوید) څخه ترننه پورې په تول آریائي مأخذ کښې دغه نوم او نښان او موقعیت څرګند او بیان شوی دی، پښتیان د باختري کتلې د آریائي نورو لویو قبیلو په شان هغه وخت چه لوی مهاجرتونه د ۲۰۰۰ ق م کلو نو په شاوخوا کښې شروع شول دوې څانګې شوې دي چه یوه څانګه ئې د هندوکش جنوب ته راښکته شوه او بله څانګه په بخدي کښې پاتې شوه.

هغه څانګه چه د هندوکش جنوب ته راښکته شوه د یو تولګي نورو قبائلو سره چه په تولو ویدي دوره کښې د دغې سره ملګري او متفق وو د سپین غر د دواړو خواؤ په لمنو کښې د آریانا په جنوب شرقي علاقه کښې مېشت شوه او د ریګوید سرود په بېلو بېلو ځایو کښې له دوی څخه د (پکهت) یا (پښت) په نامه یاد او ذکر کړی دی او د دوی د ځینو پادشاهانو نومونه ئې هم اخستي دي. هغه علاقه چه دوی پکښې واوسېدل یعنې د جنوب شرقي آریانا تول هغه برخه چه د (سپیتا ګوفا ګیري) لوی او ښکولي غر (سپین غر) ئې په منځ کښې پروت دی د دوی په نامه (پکتیا) یا (پښتیا) سره مشهوره شوه. لکه چه (هروت) هم دغه خلک د (پکتویس) په نامه او د دوی د استوګنې خاوره ئې د (پکتیکا) یا د (پکتیا) په نامه یاده

---

(۱) په منځنیو پېړیو کښې افغانستان د خراسان په نامه او ننني ایران د عراق په نامه یادېدی، او په دغو دورو کښې هم د پارتیا علاقه یعنې دا ترک، طوس او د نیشاپور حوزه د خراسان جزء او دننه د عراق په حدودو کښې نه راتله.

کړي ده چه د سند تر برخو او حدودو پوري خپره او پراختیا ئی درلوده، باید داووېل شي چه دغه نومونه که د ویدي زماني په تلفظ کښي وی او که د هرودوت په لیکنو کښي په (ك) سره ئي نوشته او تلفظ نه کیده بلکه د(ش) او (خ) تر منځ په یو حرف سره ئي ادا کیده چه د پښتو (ښ) ئي په ښه شان سره نمایندګي کولی شي. نو له دي کبله ویلی شو او که هرودوت هم دغه نوم صحیح صورت ئي اورېدلی او پښتیاو و پښتیا ورواو لیکنو کښي ئي ثبت او قید کړی دی.

په دغه اساس دغه نوم (پښت) چه په فارسی رسم الخط کښي یو شکل ئي (پښت) او (پښتی) کیږی، او (پکتیا) (پښتیا) هم د همدغی قاعدي لاندی راځی او اوس ښه معلومیږی چه (پښت) او (پښتی) او (پښتیا) د (بخد) او (بخدی) (پارت) او (پارتی) او د (پارتیا) په کلمه باندی تاثیر کړی دی او یا په بل عبارت دغه ټول نومونه او کلمی له یوې کورنۍ او د (پښت) له ریښې څخه مشتق شوی دی.

په هر حال د (پښت) د قوم یوه څانګه د هندوکش جنوب ته راغله او د (سپین غر) د غره شاوخوا علاقه د دغی څانګی په نامه (پښتیا) سره مشهوره شوه. بله څانګه ئي د هندوکش په شمالی برخو کښي دېره موده پاتی شوه او ویدی او اوستائی دوري ئي په دغه ځای کښي تیری کړي او حتی ځینی کورنۍ ئي دیوډات او باختری دولت څپاوا کی تر زمانی پوری (۲۵۰ ق م) په بلخ کښي اوسېدلي، د دوی مهمه برخه اوستائی دوري په آخرو وختو کښي د هریرود د حوزې په شرق کښي خپره شوه. دو (پارتیان) د (پښت) یا (پخت) هماغه د باختری آریائی قوم یوه څانګه ده چه نسبتاً په نوي زمانه کښي له بخدی نه لمر پریواته خوا ته خوځېدلي او د خزر د سواحلو او هریرود تر منځ علاقه کښي ځای و نیو او خپل د استوګنې ځای ئي په بل نوم (پارتیا) سره مسمی کړ لکه چه د (پښتیا) او (پارتیا) د جنوبی او غربی څانګی د استوګنې د ځای نومونه یو اخیږو ژون او یو آهنګ لري بلکه یوه کلمه ده او دیوې کلمی څخه په بوتلی شکل او صورت جوړه شوی ده د (پارت) د کلمی معنی ځینی پوهان (تبعید شوی) وائي دغه هم ښکاره کوي چه د پارتیا خلك په اصل کښي د دي علاقي اوسېدونکی نه وو، بلکه له د باندی

څخه یعنې د باختر له برخو څخه دغه ځای ته راغلي او خپاره شوي دي. د پارت او پارتیا اصلي او پخوانۍ تلفظ د بیستون له لیکنو څخه هم معلومیږي او په هغه ځای کښې د غه کلمات نه په ( ت ) بلکه په (ث) د( پرثو ) او ( پارثیا ) په صورت راغلي دي چه زیاتره د(پښتو )او ( پښتیا) شکل ته ډیر نژدې دي.
لکه چه دارمنې مدارکو څخه معلومیږي دوی به(پارت )ته(پهل)وایه .

او دغه نوم د(بهل(بخل)(باخل)(بخلي )نوموته چه په منځنۍ (متوسطه) دوره کښې بلخ ته ورکول کیدل، نژدې بلکه یو شي دي. او له دې نه هم معلومیږي چه بخدي سربیره پر دې چه دپښت، پښتي، او پارتي د پخوا نیو نومو نوسره ډیر شباهت د رلود پهل، بهل، او پخل د باختر او پارتیا نومو نه د دوی ژبې په منځنۍ دوره کښې هم یو شي ؤ، او د باختر او پارتیا تر منځ ارتباط ډیره پیړۍ دوام وکړ، او روښانه تردې چه د پارتي حکومت د ثقل مرکز له مرو پر یواته خواته د دجلې د سیند شاؤ خواته ورسیدا و د آریانا له حدود و څخه ووت بلې ځانګې د(ونونس) تر زمامدارۍ لاندې د هېرمند او غنداب په حوزه کښې جلا سلطنت جوړکړ. چه د آریانا په تاریخ کښې د ( پهلوا)په نامه یادیږي.

پارتیا په جغرافیائي حدودو کښې چه د مخه موبیان کړل د(۶ ق م) پیړۍ نه پخوا د آریانا د یو غربي ولایت په حیث موجوده وه او له همدغه جهته د هرودوت په لیکنو او د دار یوش د مقتو حه ولایت د نومو نو په فهرست کښې ئې نوم یادشوي دي خو مملکتي او سیاسي موجودیت ئې تر هغه وخته پورې په پرده کښې پټ ؤ چه ( ارساس) له همـا غو پارتي کورنیو څخه چه په بلخ کښې پاتې وې د ( ۲۵۰ ق.م)په شاو خوا کښې د غرب خواته راغئ او د شامي یونانیانو د سلطې پر ضد ئې د خپلواکۍ اعلان وکړ.

د(ارساس) یا(ارشک) د بلخي والي په باب کښې زیاتره پخوانۍ او کلاسیکي مؤرخین په یوه نظریه او په یوه عقیده دي استرابو په ۱۱ کتاب نهم فصل دریم بند کښې وائي چه :
(ارساس )یا(ارشک)یو باختري سړی ؤ. له دغه ځای نه ئې مهاجرت وکړ او پارتیا ته

ACKU

راغی او خلک ئې د سلوسیانو په ضد پورته کړل، اریان وائي چه «ارشک» او «تریداتس» (تیرداد) د (فری پاپت) زامن وو او د «ارشک» نوم ئې نمسي د غه دوه ورو نه له باختر نه پارتیاته راغلل په دغه وخت کښې د پارتیا یونانی حکمران «فرکلس» «Thereceles» نومید . هر کله چه «تری داتس» یو پیغلې، خوش رنګ او خائسته هلک ؤ نو یونانی حکمران غوښتل چه د دغه هلک له جمال او ښکلو لیتو ب نه استفاده وکړي ارشک د «فرکلس» له دغه وضعیت نه بد و یوړل او متنفر شو د پارتیا حکمران ئې وواژه . او د سلوسیانو په ضد پورته شو، ژوستن وائي چه ارشک یو مجهول او بې نام ؤ نشان سړی ؤ وروسته تر دې چه (دیودوت) په باختر کښې چه یوزبرښا رونه ئې لرل د خپلواکۍ اعلان وکړ، نو روشرقي علاقو دده پیروي وکړه، او ارساس هم د خپلو یوشمیر تابعینو سره پارتیا ته راغی او د دغه ځای والي (دروګرس) ئې وواژه او ګرګان ئې ونیوا او د سلطنت د نظام او د قوي ارد و په تشکیل ئې پیل وکړ، لومړی له سلوکوس او د باختر له پاچانه په ویره کښې ؤ خو د (دیودوت) مرګ دې بیغمه او هوساکړ او د باختر د پاچا دزوی سره چه دی هم (دیودوت) نومید متحد شو.

موږ تیز د وخورن (موسی خوري) ارمني مؤرخ چه په پنځمه پیړۍ کښې ئې ژوند ون کاوه . د پارتیاد پیښو او د سلوسیانو سره د دوی د جنګونو د بیانونو په ترڅ کښې ارساس په اصل کښې بلخي بولي نو په دغه ترتیب د ارساس یا ارشك په باختري والي کښې کوم شك او شبهه نشته او د ځینو هغو کسانو په باب کښې چه دی ئې له (داهی) قبیلې نه بللی دی ویلی شو چه (داهی) د باختر د (پارتي) یا (پښتي) د لویې کتلې او ټولنې یوه قبیله او عشیره وه . د ارساس د زمانې د مسکوکاتو او لیکنو نوشته یوا ځې په یونانی ژبه او رسم الخط وه او دده په مسکوکاتو کښې چه د پارتیا په خاوري پوري مخصوص ورا و د هغه ځای د ضرب نښه او علامه اري بله ژبه او رسم الخط لیدل شوی ندی خو په یوه سکه کښې چه په افغانستان کښې پیدا شوې ده او په غالب ګمان د سیستان په غاړو پوري مخصوصه وه . او دغې په مخ باندې د پاچانو م او دسکې لیکنه او نوشته په

ACKU

دوو ژبو لیکل شوی ده چه یو ه ئی خروشتی ژبه او رسم الخط دی چه د هند و کش په نیمه جنوبی برخه کښې معمول و و .

دارساسی کورنی د مسکوکاتو په یو ه خو اکښې بیله کو می نو شتی نه د پاچا سر نقش شوی دی او په بل مخ باندی یو داسی ناست هیکل ل ری چه غشی ئی په لینده کښې ایښی دی او خاور و ار و خو اته ئی په یونانی ژبه او رسم الخط داسی نوشته شوی دی، چه دسکی په مخ باندی یو مر بع تشکیلوی .

پارتی پادشاهانو ارساس نه یوازی د سلطنتی کورنی موسس باله بلکه په یو لوړ مقام و رته قائل وو حتی له ده څخه ئی د خپلی کورنی دپاره یو ه حامی او ساتونکی رب النوع جوړ ه کړی وه او په همدغه رویه چه دپارتو ونو او نیکونو د احترام د مفکوری حکایت کوی تو لو په مسکوکاتو کښې دده نوم تکرار کړی دی او د بازیلوس یعنی (پاچا) او د (بازیلوس باز یلو ن ) یعنی دشهنشاه عنوان ئی داوی او عادل، کبیر مشهور او د نورو مختلفو صفتونو سره پخپلو مسکوکاتو کښې ضرب کړی دی .پارتیان دا فغانستان په پخوانی تاریخ کښې له ډیرو جهتو څخه شامل دی لومړی پدې علت چه د (پارتیا ) علاقه په جغرافیائی لحاظ د آریانا د خاوری جزوه ، د وهم ،پارتیان دپښتیا نو یوه څانګه وه چه له باختر نه ئی هغه ځای ته مهاجرت کړی او هغه علاقه ئی پخپل نوم (پارتیا) سره مشهور ه کړه ،دریم : ارساس د پارتی سلطنت موسس دخپل ورور او کورنی سره د باختر له خلکو څخه و او له د غه ځای نه پارتیا ته تللی او سلطنت ئی جوړکړی دی څلورم : تر هغه وخته پورې چه د پارتیا د حکومت مرکز له هکاتومپی لوس «نه چه (ددامغان د جنوب په اته میلی کښې ؤ )«۱» ددجلی غاړی ته نقل شوی نه و ،پارتی پادشاهانو زیات وکم زمونږ دمملکت په غربی او شمالي غاړو کښې نفوذ او حاکمیت درلود ،پنځم : (وئو نس) یوپارتی حکمران د« ۱۲۰ ق م »په شاوخوا کښې د

(۱) باید وویل شی چه دروسانو دنوو کشفیاتو نه ورو سته دغه نظر یه هم تثبیت شوی ده چه عشق آباد دپارتی دولت پای تخت او مرکز ؤ.

هیرمند'اوارغنداب دحوزی په مځکو کښې بو مستقل اوخپلواک سلطنت جوړ کړاو دپهلو ا د مستقل سلطنت اوکوزنیو په نامه کاملاً د آریانا دتاریخ جز دی ، نو په دغو جهتونو چه ذکر شول د دپارت د سلطنت د تاسیس له زمانی څخه تر هغه وخته پوری چه دهغوی دحکومت مرکزاو دحاکمیت دثقل کانون ئی دغرب خوا ته ورل کیږی په دغه باب کښې په لندصورت بحث کوو او وروسته بیا د پهلوا کوزنیو مطلب ووو :

لومړی ارساس : ( ۲٤۸ – ۲٤۹ ق م) داسړی لکه چه پورته وویل شو باختری او د یکت له قبیلی یاد بلخ د «داهی» له کورنیو څخه و. پس له دې چه (دیو دوت) د(۲۵۰ ق م) په شاوخوا کښې د خپلواکی اعلان وکړ دیو نان او باختری خپلوا ک سلطنت بنسټ ئی کښیښود، د څینو روایتو له رویه یو ازی او دڅینو نورو مدارکو په شهادت د خپل ورور تری دانس (تیرداد )نامی سره د هریرود د حوزې خوا ته ولاړ او له هغه ځای څخه پارتیا ته راغی او د باختریانو دخپلواکی غوښتلو د رویې په تعقیب د خپلواکی غوښتلو په څینو اقداماتو بوخت شو ، لومړی کارئې چه وکړ داو چه دخپل ورورا و د خپلو طرفدارانواو د هغوی ګروپه مرسته چه ده . پر خواوو «فرکلس » (۱) دشام دسلوسی دولت یونانی حکمران ئې په پارتیاکښې وواژه او د شامی سلوسیانو پرضد ودریدد پارتی سلطنت د تاسیس کال ( ۲٤۸ — ۲٤۹ ) یعنې د یونان او باختری دولت د خپلواکی تر اعلان تقریباً یوکال وروسته تاکل شوی دی ، د پارتی سلطنت مرکز د هکاتومپیلوس Heca Tompylus ښار و .

(راولنسن ) د دی ښار و موقعیت «جاجرم Jajorm » ته نږدې ټاکلی دی

(۱) په څینو مدارکو کښې د پارتیا یونانی حکمران داګاتوکلس په نامه هم یاد شوی دی.

دهستری آف پرشیا،دسر پرسی سایکس دتالیف(۳۰۸)مخ

اپولودوروس «ارتمیس» د پارتیا نوپای تخت (۱۲۶۰) استاده یعني ۱٤٤ میله دشرق خواته د خزر په بند رکښې تاکلی دی ځینې نور لکه (ویلیم جکسن) د (هکاتومپی‌لوس) ښار د «کومی Komis » پخوانی ښار کښې او موقعیت ئې داوسنی د امغان د ښار د جنوب په (۸) میلی کښې بولی، ځینې نور هم بیا عشق آباد د پارتیا نولومړنی مرکز بولی.

لومړی دیودوت او لومړی ارساس چه یو په باختر کښې او بل په پارتیا کښې د شامی سلوسیا نو پر ضد تقریباً د یو کال په فاصله د خپلواکۍ اعلان وکړ. د وارہ تر ځوچه ژوندی وو په خپل مقصد بریالی پاتې شول، ارساس لومړی د یونان او باختری دولت او د سلوسی سلطنت تر منځ له خپل موقعیت څخه په ویره کښې ؤ مګر د شرق له خوانه د ده پر پښانی په داد او امید بد له شو. او د باختر او پارتیا د خپلوا کو پادشا ها نو تر منځ موافقه وشوه او سلوسیا نو په هغو بی اتفا قیو سره چه په دی وخت کښې ئې په خپلو منځو کښې درلودلی د وی ته کوم ضرر و نه رسولی شو.

تری‌داتس: د پارتی د وهم پاچا «تری‌داتس» د ارساس ورور ؤ چه معمولاً د د وهم (ارشاک) په نامه هم یادیږی، د پارتی د دولت اساس په تری‌داتس سره نور هم پسی قوی شو، که څه هم په لومړی سرکښې ئې د (سلوکوس کالی نیکوس) له لاسه ماتې وخوړله، مګر سمد ستی د اکسوس او ایګزارت تر منځ علاقی ته نوخوځید او له هغه ځایه ئې د ځان د تقویې د پاره وګړی راو ستل او خپل وضعیت ئې ښه تینګ کړ، دی د دوهم دیود وت د یونان او باختری د وهم خپلو اك پاچا معاصر ؤ او د غو د وو پاد شا ها نو د سلوسی د ولت پرضد پخپلو منځو کی یو اتحاد او تړون وکړ، تری‌داتس د یونان او باختری دولت د تړون او اتحاد څخه خورا خوښ ؤ، ځکه په دی دول ئې زړه د شرق له خوانه هوسا او داده شو او کولی ئې شول چه په آرامۍ سره د شام د سلوسیا نو

د بر يد و ا وحملو مخه ږ نيسي ( ۱ )
ترى د اتس دلوى پا چا عنوان غور ه كړاو ښا ريا كلا ئې هم د (دارا Dara )يا
(د ار يوم Dareium ) په نامه جوړ ه كړ ه چه مو قعيت ئې دګر ګا ن په دره كښې
( ا بيو ر د ) ته نژ د ى تا كل شوى دى.

ار تيا ن ۱۹۶-۲۱٤: تر ده ور وسته زوى ئې ارتيان چه دد ريم ارساس په نامه بلل كيږې پر تخت كښيناست ، ده (ا كبتا ن) يعنى همدان و نيو مګر دو هم انتيو كو ش د ده له قلمر و څخه تير شوا وترهير كانيا پو ر ى و لاړ او هلته ئې په ايو تيد م ديو ټان ا وباختر ى پاچا باندى حمله وكړه ځينو د غه انتيو كوش دريم انتيو كوش بللى دى ا و ر ښتيا هم داده چه دريم انتيو كوش پرپا رتيا با ندى حمله كړ ى ده او دارتيان د قوا وترو هلواوزپلو نه وروسته باختر ته راغى مګر په پا ى كښې ئى دايو تيدم از د يو نا ن اوباختري د ولتخپلوا كى وپيژند له او بيا بير ته شام ته و لاړ.

فري يا تس : ۱۹۸ -۱۹۶ق م: د ا سړ ى يا ځاورم ا شكك تر پلا روړ وسته پر تخت باندى كښيناست ، د ى دايو تيد م او د متريو س چه د يو نا ن او باختر ى خورا مقتد رپا چا هان دى معا صر وؤ په د ى وخت كښې هئو مره چه د يو نا ن او باختر ى د ولت په خپلو فتوحا تو سره د نړ ى په څلو روا ړ و خوا وكښې لو ى ا و غښتلى شو ى وؤ پارتى د ولت د سلوسيا نو د تعر ضا تو او بريد و له كبله ضعيف او بى طا قته شو ى وؤ په د غه سبب لكه چه د با ختر د يو نا نى د و لت په فصل كښې مو و وين ا يو تيد م د يو نا ن او با ختري دو همى خپلوا كى كورنۍ موسس دغرب خو اته متو جه شو او د(تراګزيان) او ( تپو ر يا) ايالتو نه ئې چه دپو رتنى اترك له حوزى او د كشف رود له حوزى څخه عبا رت دى دپا رتياله خا و رو څخه

( ۱ )( كله مان هارت )د فارس په تا ريخ د (بشر يت دتطو رسلسله) كښې په ۱۲۹مخ كښې ليكى چه ترى د ا تس اتحا د ديو نان او با ختر ى پاچا ته دو هم ديو د وت سره د ومره ګټه ورسوله چه سلو سى لښكر و ته ئې ما تى ور كړ ه او دخپلې خپلوا كۍ بنسټ ئې ټينګ كړ او د لوى پا چا نو م يې پر ځا ن با ند ى كښيښود.

ACKU

راجلا کړل او دغه څخه ئې دوه باختري ولایتونه تشکیل کړل د پارت دولت په دې وخت کښې
دیونان او باختري دولت د لوړ تیا ، غښتلوالی او قدرت څخه په ویره کښې وو او پس
له دې چه دایوتیدم او شامي د ریم انتیوکوس تر منځ روغه وشوه ارتبان او (فری پاتس)
هغو ناوړو او ضاعو ته چه وربانديې اخته شوي وو خاره کښیښو دله او تقریباً تر (۲۵) کالو
پوري ئې چه تر (۱۸۱ق م) پوري رسیږي څه ونه ویل او داموده ئې په آرامۍ او چپوالي کې
تیره کړه تر (فری یا تس) وروسته وروروئې فرهاتس (لومړی فرهاد) پاچا شو، وائې
چه ده ماردیان (Mardes) د (تپوریا) په علاقه کښې محکوم کړل.
میتري داتس: (۱۷٤-۱۲٦ق م) د پارتي پادشاهانو په ډله کښې (میتر داتس) یا لومړی
مهرداد خورا مشهور دی ، ده په ځینو جنګي اقداماتو سره پارتي نفوذ او قلمرو د شرق
او غرب خواته پراخ کړ ، دده معاصر په باختر کښې (ایوکراتیدس) وو چه هلته ئې حکومت
کاوه ، که په ځیر سره حقایقو ته وګورو نو څرګندیږي چه مساعد وضعیت ده ته موقع ورکړه
چه د شرق او غرب خواته نفوذ پیدا کړي ځکه چه د شرق خواته دیونان او باختري دولت
په هند کښې د ځمکو په نیولو بوخت وو ، او په غرب کښې سلوسي دولت د روم د جګړو له کبله
خوراستړي او ستومانه شوي وو ، په هر صورت هغه وخت چه ایوکراتید د یونان او
باختري پاچا د هند په سرحداتو کښې یا لکه چه ځیني وائي په پنجاب کښې بوخت وو
(میتري داتس) د یونان او باختري دولت په شرقي ولایتونو باندې حمله وکړه او
د (تپوریا) او (تراګزیان) ولایتونه ئې چه د (ایوتیدم) په وخت کښې نیول شوي وو بیرته
ونیول او د پارتیا جزئي وګرزول ، هرکله چه اسکائیانو هم په دې وخت کښې د شمال له
خوانه دیونان او باختري دولت ته تهدید لاندې نیولی وو او ایوکراتید هم په دغه وخت کښې
ووژل شو ، نو میتري داتس له پخوا نه زیات زړه ور شو او مرو ئې ونیوله ، په دې
وخت کښې هلیوکلس سمدستي د پلار پر ځای د سلطنت او پادشاهۍ اعلان وکړ مګر
میتري داتس د باختر خواته راد مخه شو او دې ئې له نفوذ او اقتدار څخه وغورځاوه او
درانجیان او اراکوزي ته متوجه شو هلیوکلس خپلې قوای را غونډې کړې او د ځومو دې
د پاره لانور هم په باختر کښې پاتې شو او تینګار ئې وکړ مګر اسکائیانو ور باندې راپاسیدل
او دې ئې د هند و کش جنوب ته وشاړه.

وانی چه میتری داتس دیونان او باختری دولت دادارۍ نظام له ډېرو بېځایو تیاو ژغورنه زیاته کړه، واخسته او دا ایکوزی له لاری نی پر کابل او دهند پر خوزه باندې هم نفوذ موند تر دغو پېښو وروسته میتری داتس د پارس او بابل خاورو ته مخه وکړه او هغه ځای یونه ئی هم ونیول او د سلوسی دولت سره ئی په داسې جگړو لاس پوری کړ چه تشرحه ئی ژموتږ د تاریخي چوکاټ څخه د باندې ده.

**دوهم فرهاتس او دوهم ارتبان**: پس له دې چه لومړی مهرداد د سلوسیانو سره د خپلو جگړو لمن پراخه کړه دهٔ او دهٔ جانشینانو یعنې د دوهم فرهاتس او د دوهم ارتبان د دغه اروپا د وړ څخه ځان خلاص نشو کړی هغوئ چه د دوی توجه د غرب خواته خورا زیاته شوه په دې وخت کښې د یونان او باختری دولت د هندوکش په جنوب کښې د خپلو قواو او نفوذ د په ټینگولو بوخت و او د شمال په برخو کښې اسکائیان او تخاریان باختر ته راغلي وو، هر کله چه د یونان او باختری دولت قواو او د هندوکش د بر بن سداو دیوال د جنوب خواته د دوی لاره بنده کړې او نیولی وه نو طبعاً د باختر په غربي خواو کښې دهرې ز و د د حوزې او د دغه ځای هغې نخواغربي مخکو ته متوجه شول او د پارتیانو سره ئي تماس ومو ند د اسکائیانو او پارتیانو تصادف مو لکه چه د یونان او باختری دولت په فصل کښې هم بیان کړ په مختلفو انو اعو تعبیر شوی دی او یو بل تعبیر ئي هم د ادبي چه پارت سره د هغو مشکلا تو چه د غرب خواته ئي د سلوسیانو سره درلود له اسکائیانو څخه چه په دغه وخت کښې باختر ته رسیدلي وو وغوښتل چه د دوی سره مرسته وکړي او د دوی د مرستې په و اسطه راشي په هر صورت د پارتیانو سره د اسکائیانو مرسته په عملي ډول سره نه ده معلومه: مگر هغه شی چه ښکاره دی او تر لومنابعو ویلی دی هغه جنگ او جگړې دی چه د دوی ترمنځ پېښې شوی دی او په پای کښې دوهم فرهاتس د اسکائیانو له لاسه او دوهم ارتبان د تخاریانو له لاسه ووژل شول لکه چه ژوستن په ۴۲ کتاب او دوهم بند کښې د دغو پیښو څخه په ښکاره ډول بحث کوی.

د پازتی دوو پادشاهانو تر وژل کیدو وروسته د پارت د دولت وضعیت ډېر نازک شو او په خلورو کلونو (۱۲۰ -- ۱۲۴ ق م) کښې د آریانا په غربي غاړو او برخو کښې د پارتیانو اهمیت او نفوذ خورا لږ شو.

ACKU

دوهم متري داتس :- متري داتس یا دوهم مهرداد د پارت د لویو پادشاهانو څخه دی ، هرکله چه اسکائیانو د پارت د دولت قلمرو او سیمه د شرق له خوا نه ترسخت تهدید لاندی نیولی وه نو تر ټولو لومړی دی خوا ته متوجه شو او د اسکائیانو سره ئې کلکې جګړې وکړی او هغو ته ئې د اراومو قلع ورنه کړه ، چه پارتیا ته ننوزی نو اسکائیان د هریرود له حوزې څخه د جنوب خوا ته ورخوځېدل او ومخه ئې وکړه او د هیرمند او هامون په حوزه کښې میشت شول .

اولکه چه وروسته به وویل شی دا علاقه د دوی په نامه په (ساکستانا) یا (سیستان) سره مشهوره شوه ، متري داتس څو موده وروسته بیا خپلو غربی سرحداتو ته متوجه شو او د روم د دولت او ارمنستان سره ئې یوه سلسله جګړې وکړې چه بیان ئې دآینده پانو د تاریخ له چوکاټ څخه د باندې دی .

باید چه دومره وویل شی چه د ارمنستان او د روم د دولت جګړو له پخوا نه زیات د پارتی دولت توجه او د عملیاتو د ثقل مرکز د غرب خوا ته یووړ او هغو د وه د ري پادشاهانو چه تر دوهم مهرداد دنه وروسته پاچاهی ته رسیدلی دی زمونږ د مملکت سره ئې کوم تماس او ارتباط نه درلود تر څو چه (اورودس Orodes ) د پارتی دولت پایتخت (استزیفون) د دجلې غاړې ته یووړ ، له دغه وخت نه را وروسته پارتیان د آریانا د تاریخ له چوکاټ څخه ووتل نو ددې فصل لومړی برخه په دغه ځای کښې پای ته رسوو او په دوو نورو برخو کښې د هغو اسکائیانو څخه چه د هغو (سیتی) قبیلو څخه یوه څانګه ده چه په دې وخت کښې زمونږ د مملکت د تاریخ په صحنه کښې را اغلی دی او د ارغنداب او هیرمند حوزې له پارتیانو نه چه د اسکائیانو په ګډون سره ئې د پهلوا کورنۍ په منځ ته راوایستله.

# دوهمه برخه

## اسکائیان

سیتي قومونه: د هند و اروپائي د قبیلو د څانګو څخه یوه څانګه چه د نورو ونه د پیره موده وروسته د تاریخ او صحنې پر مخ راوتلي او ترنورو څانګو وروسته مشهوره او معروفه شوې ده. معمولاً په «سیتي» نامه یادیږي او ځینې هغه قومونه په دې څانګې پورې اړه لري چه په شرق او غرب کښې په مختلفو نومو مشهور شوي دي، هرکله چه سیتي قومونو په ګډه او مجموعي ډول د هند و اروپائي د لوئي کورنۍ یوه څانګه تشکیلوله، نو د (ایریا ناویجه) په لومړنیو زانګوکښې ئې د اکسوس د پورتنیو حوزې او سردریا ترمنځ د نورو څانګو او ښاخوسره یوځای ژوندکاوه، قرائن اکثراً په دې باندې دلالت کوي، هغه وخت چه د هند و اروپائي د لویو څپو لېږد یدل (مهاجرت) په غرب کښې داروپاد خاورو خواته او په جنوب کښې د سر دریا او آمو د حوزو لوري ته یعنې د سغدیان او باختر خواته شروع شول (سیتي) قومونه په لومړنیو زانګو کښې ځای په ځای میشت پاتې شول د لاتین، سلت، جرمني او د اسلاو څانګو او داسې نورو څانګو په دغه وخت کښې د اروپا خاورې ونیولې او جنوبي څانګه په باختر کښې میشته شوه او باختري کتله ئې تشکیله کړه او دغه نوم سره سم چه پخپل پخواني ادبي او دیني مأخذ کښې ئې دځان د پاره غوره کړ د آریانا په نامه مشهور شول او د آریانا څخه د هند وکش په دواړو خواؤ کښې د هند او فارس په ځمکو کښې خپاره شول

(موسیوږونه ګروسه) د سیتي قوم د مهاجرت او لېږد موضوع داسې ترسیموي: (۱) « د هند و اروپائي د لویو مهاجرتو په وخت کښې ځینو آریائي قبیلو چه د یوې خوا ئې د اروپا د سیتیا نوسره او د بلې خوا ئې د هند و ایراني قبیلو د باختري کتلې سره ارتباط او خپلوي درلوده د روسیې جنوبي ځنګلې ئې پرېښودلې او ځینې د اورال د غرو خواته خپرې شوې او بله برخه ئې هم

---

(۱) د آسیا د تاریخ د دوهم جلد ۵۱ مخ د رونه ګروسه تالیف.

ACKU

د سرد ریا خوا ته ولاړه، او د تیان شان د غرونو تر تیر پورې وا و وغځېدلونه وروسته دکاشغر علاقې ته ور ننوتله او له دغه ځای نه ئې تول شرقي ترکستان د کوتچی او قره چار او تورفن هوا ننګ ناوی ترکانو سره پورې او نیولې او دچین د خاورې سره ئې تماس وموند»

دا نظریه په جزوي تحریف سره داسې څرګند ولای شو چه:

یوه سیتي څانګې د نورو هند و اروپائي قومو سره د اکسوس او سرد ریا د پورتنۍ حوزې تر منځ مځکو کښې یو ځای ژوند کاوه، هغه وخت چه لوی مهاجرتونه شروع شول نو څانګې څانګې او ډلې ډلې یوه په بلې پسې د اروپا خاورو ته خپرې شوې او یوه څانګه د جنوب خوا ته په باختر کښې راټنګه شوه او په ځان باندې ئې د (آریا) نوم کښېښود او سیتي قبیلې د لږې مودې د پاره ځای په ځای پاتې شوې، د هند و اروپائي د نورو څانګو له خوځېدلو وځنبېدونو نه وروسته چه ځای نسبتاً پراخ شو نو هغوی خپل د استوګنې ځای او تاتوبی لوی کړ او د سرد ریا د حوزې د شرق خوا ته د تیان شان د غرونو د واړو خواؤ لمنې د سنکیانګ علاقه یعنې شرقي ترکستان ئې و نیوه او د غرب خوا ته ئې د توری بحیرې او د خزر د بحیرې شمالي مځکې و نیولې او د اورال تر غرو پورې مځکې لاړل او د شرقي اروپا د خاورې سره ئې تماس پیدا کړ او د روسیې جنوب د دوی په نامه «سیتیا» سره وبلل شوا و مشهور شو. په دغه پراخه علاقه کښې چه بیان ئې وشو د هند و اروپائي قبیلو د وروستیو خوځېدنو آخري برخه ده. دوی د پراخ محیط او دخپل دځایو د اغیزو لامله سوارکاره او پوونده قومونه شول او هغه وخت چه د باختر آریائي کتلو د هندوکش په شمال کښې آریائي لومړنی سلطنتي نظام او تهذیب او مدني مرکز میدان ته راوایست او بیا نسبتاً تر تازه زمانو پورې چه اشوریانو په بین النهرین او د فارس په غرب کښې سلطنت درلود حتی په هغو زمانو کښې چه مادیان او پارسیان هر یو په خپل وار د آشوریانو له سلطې او واکه خلاص شول او د حکومتو په تشکیل ئې لاس

پوری کړ، سیتي قومونه په ګرځېدل او په لوټ او داړه ماري په بوخت وو او د پرونده وو ژوندونه ئې کاوه او ثابت مرکز او لوی ښارونه ئې نه درلودل، د سیتي پوونده قوم وجود او ددوی د غلا او داړه ماري انګاز د باختري کتلې د آریائیانو د مذهبي او ادبي منابعو نه او د آشوري، امادي، پارسوا او یوناني مأخذو څخه په مستقیم او غیر مستقیم ډول معلومیږي. اوستا که څه هم د نسبت په صورت ددوی نوم نه اخلي خو سره له دې هم د اوستا د متن او د بخدي د یعني د پاراداتا د پیشدادي د سلالې د او مربوطو پادشاهانو د جنګي اقداماتو له بیان څخه په ښکاره ډول څرګندیږي چه دوی به دغه پوونده قوم په مقابل کښې چه معنوي هم اصلاً[۲] آریائي وو تل ترتیبات نیول، د پاراداتا (کواني) او د اسپه د سلالې پادشاهانو په مادي او معنوي قوتو سره ډیری او پر له پسې پیر په د باختر آریائي تهذیب ددوی د حملو او برغلو څخه وساته او تر لوی باختري حکمرانانو او د آریانا لوی پادشاهانو دارویه دایوتیدم او هلیوکلس تر زمانې پوري د خپل مرام او مقصد جز ګرځولې وه، دغه رنګه د آریانا او آسیا په غربي منطقو کښې پارسوا، آمادي، آشوري او یوناني هر یو په هغو نقطو کښې چه د شمال له خوا د سیتي امواجو سره مخامخ او مصادف وو د بخدي د هو ښارو او پوهو پادشاهانو رویه تعقیبوله او په دغه ډول (سیتیان) د روسیې د جنوب په چمنو او وښو لرونکې منطقه کښې او همدغسې د (آمو) او د خزر د بحیرې او د تورې بحیرې په شمال کښې پاتې شول. یوناني تاریخي منابع لومړی وار د ۷۰۰ ـ ۷۵۰ ق م په شا وخوا کښې د (سیتیانو) څخه بحث کوي او آشوري منابع ئې تکمیلوي. دا لومړی یادونه په دې باب کښې ده چه د (سیمیریانو Cimmeriens) ځای د جنوبي روسیې په چمنی منطقه کښې (سیتیانو) ونیو. د دې خبرې څخه په ښکاره ډول څرګندیږي چه (سیتیان) لومړی وار د روسیې په جنوب کښې نه وو بلکه لکه چه ویل شول د سر دریا او آمو د پورتني حوزې څخه یوه ځانګه د غرب خواته لاړه او د سیمیریانو ځای ئې ونیو (۱) تقریباً تر دې تاریخ وروسته سیتیان تاریخي صحنې ته داخلیږي

---

(۱) د Empiredes Steppes ـ چمنی امپراطوری درونه ګروسه د تالیف (۳٤) مخ د طبعې کال ئې (۱۹۳۹)

او هغه ملتونه چه د هغوی سره ئې تماس درلود د هغوی نوم اخلي. آشوری منابعو دوی د (اشکوزی Ashkuzai) په نامه یاد کړی دی او یونانیانو هغوی (سکوتو Skuthoi) بللی دی، د هخامنشی د لومړی داریوش په کتیبو کښې د (ساکا Saka) په نامه یاد شوی دی او چینی ماخذو ی ذ (سی Sai) او د داسی نورو شکلو په نوم بللی دی.

لکه چه د (یونانا و سیتی) (قل او به Koul-oba) او د ورونیژ Voronej د تصویرو له مخې څرګندیږی (سیتیان) زیږه ور وو ګیری وو او داسکائیانو په شان بله ځانګه ئې چه د (پرسه پولیس) په صحنو کښې لیدل کیږی داسی خولی به ئې په سر کولی چه غوږونه به ئې ور باندی پټ او تیری څوکی به ئې درلودی او دغه خولۍ به ئې ددی دپاره استعمالولی چه د شمال د چمنی ځایو د سختو بادونو او سیلیو څخه په امان وی. د وی یعنی ساکیانو او سیتیانو اولو پراخی جامی اغوستلی چه د پراخو کمیسو او شلوارو څخه عبارت وې آس چه د چمنی پراخو میدانو او جنګلو مخصوص حیوان دی د دوی د انس ملګری ؤ ار تل به ئې غشی او لیندی ګرځولی او تش او خالی به نه ګرځیدل لکه چه (روستوفسیف) د خپل (امپیر دستپ) (د چمنی امپراطوری) د کتاب په ۳۶ مخ کښې لیکی د غوښه آس سپر ولیند. و الا و ښار به درلود او که به ئې درلوده هغه به متحرك ښار و نه و چه کراچۍ به ئې درلودلی چه خپلی ښځی او شتمنی او ماشومانو به ئې پکښې له یو ځای نه بل ځای ته وړل، د دوی شتمنی او بډائی د سپرلۍ لوازم او څینی ګاڼې او قالینی وې، چه په دې ترتیب ئې د (۱) پیریمه څخه تر دریمی قم پیریمه پورې د هغې پراخی علاقې په جنوب کښې ژوندون کاوه چه د تیان شان څخه ئې تر اورال پورې پراخوالی درلود.

لکه چه د مخه مو ووېل په دې کښې شك نشته چه (سیتی) قومونه اول د آریائی عناصرو څانګه و او د باختر د آریائی کتلی سره د ډیر نزدی یکت له کبله ددې کتلې جزهم ګڼل کېدله، یوازی دومره خبره وه چه دوی د غلا او لوټ او ددې ماده ماتو او مالداری په ژوندون عادت او امزخته شوی وو او د باختر د تهذیب دا غیزو او تاثیراتو څخه

د باندی پاتې شول، لکه چه روښانه ګروسه په دغه باب کښې وائي دوی د تاریخي مزدئیزم له آئین راوده زوراتستري ی درفو رم څخه بې برخې پاتې شول.

د چمنی منطقو د ژوندانه اغیزوا و د توکیو Tou kiue د (هیوانګ نو ـ Hiong - nou) او مغلو سره د شرق له خوا تصادم د دغو لوسیتی قومو د ژوند اته پرسبك، دود دستور، عرف او عادت او کالو باندی اغیزې وکړې او همدغه ظاهری اغېزې وې چه خومو ده د مخه ئې څینی مؤرخین د دوی د نژاد عرق او اصلیت په موضوع کښې مشتبه کړی و او مګر د نژاد او ژبې تیب مسلم حقایق میدان ته راوایستل، نن هیڅوك د دوی په اصلیت کښې خوړ را جزوی او کوچنی شبهه او شك نه لری د کالو او جامو له رویه سیتیان هنیانو ته ورته وو په تیره بیاد سپرلی ګډ ژوند دوی ته یو ډول ساوارا و موزې ور کړی وې، وائي چه لومړنی رکاب یعنی هغه رکاب چه دباړې (تسمې) څخه جوړ شوی وو د سیتیانو له اختراعاتو څخه و.

په دغه ډول د سیتی قوم یوی برخې چه د آسیا د غرب خواته رارسید لی و ه د (۷۰۰ ـ ۷۵۰ ق، م) کلو نو ترمنځ (سمیریان) د روسیې له جنوب څخه وایستل او د هغو ځا یو نه ئې ونیول، (هرودوت) هغه وخت چه په خپل څلورم کتاب په (۱۳۰) فقره کښی دار وپا خواته د سیتیا نو له مهاجرت څخه بحث کوی د دوی د بیځایه کید لو سبب هغه فشار و نه بولی چه د شمال یا د شمال شرق له خوا دا یسید ونز Issedons او (اریما سپس) (ArimasPes) د قومو له خوا پر دوی باندی راغلی وو، دغه سیمر یا ن چه د سیتیا نو د راتګ له کبله بیځا یه شوی وو، یوه برخه ئې د هنګری خواته او بله برخه ئې د (تراس Thrace) له لاری کوچنی آسیاته راغله، دسیتیا نو یوه ځانګه په دوی پسې د کوچنی آسیالاره ونیوله، مګر د هرودوت د اشارې له مخې دوی لاره ور که کړه او پس له دې چه له قفقاز څخه تیره شوه د (دربند) له لاری د آشور یا نو سره یو ځای شوه (د ق م د ۷۰۰ ـ ۷۲۰ په شاوخوا کښی) هر کله چه آشوریانو هم د (سیمر یانو) سره د ښمنی د راوده نو دسیتی کوچنیو پادشاهانو یار ئیسانو او د هغوی د قبیلو څخه ئې کار وا خیست او دوی ئې د (کاپادوسیا) په سرحدا تو کښی د (سیمیریانو) په ضد استعمال کړل، او ورو ستنی پاد شوی قوم ئې د ۶۳۸ کال په شاو خوا کښې په (پونت Pont) کښې مقهو راو

ACKU

ورك كړ . تقريباً لس كاله وروسته دسبت د پادشا ها نو يو پاچه هر و دوت هغه ماديس Mayaes بللي دی دآ شوريانو سره دما ديانو دير غلو او بريد و په ضد مرسته وكړه او په پای كښی ئې پخپله په مد يا باندی حمله وكړه او سيا گزار Cyaxare ماد ی پا چاد وی دقفقاز دغرو ترشا دجنو بی روسيې خواته په شا و شړل ، دلته او په دغه وخت كښی تقريباً (۷۰) كاله سيتيا نو بيا ځينی خطر ې دآ سيا دجنوب او دار و پادغرب دمد نيتو دپاره چمتو اوسره را غونډ ې كړ ې .

هغه وخت چه دپارسو اقبيلې دآ شوريانو ، بابليانو ، اوآ ماديا نو ځای و نيو دسيتيانو خطر محسوس كيده ، نو له دې كبله (سيروس) دفارس دسلطنت موسس د (مساجتيانو ) يعنی دشرقی سيتيا نو په ضد چه دخيو ې په شاؤ خوا كښی و ولښكر ې چمتو او بريد و نه ئې وكړ ل ؛ او دځينو نظريا تو له مخی ددوی له خوا و وژل شو (دق م د ۵۲۹ كال په شا و خوا كښی) همد غسی دار يوش (د ۵۱۲ــ۵۱٤ ق ، م كال په شا ؤ خوا كښی) دار و پا دسيتيانو په ضد حملې وكړ ی مگر بريالی نه شو ؛ ددغه ار و دوړ او ډيرو جگړ و نه وروسته سيتيا نو لكه چه ددوی منظوروؤ دهغې اوږ دې منطقی څخه چه دچين سرحد اتو نه نږ دې د (كان سو ) څخه د (تراس) او ( پرونت) تر علاقې پورې ئې نيولی وې د جنوب خوا ته چندا نی نفوذ حاصل نه كړ ی شـو او تقريباً دری نوری پېړ ی هم ځای په ځای پاتې شول .

ACKU

# د سیتیا نو ځینې مشهورقو مونه

سرمتیان Sarmata: د پرغربی سیتی قوم هغه سرمتیا ن د ی چه په څلو، مه ق م پیړ یه کښې دا و رال دغرو په لمنو کښې داو رانبو رگ Orenbuorgاو پرو خو رو کا Prokhorovokaپه علاقه کښې ئې شهرت در لو ډاو ددو ی دژ وند ځینې نښې ، د سرو ز رو گانې اواوښې او نیزې په دغه ځای کښې کشف او لاس ته راغلي دی .نیزه د دوی ممیز ه وسله وه ددر یمې ق م پیړ یه په نیما ئې کښې سر متیان د(ولگا)له سیند څخه پور پر تل او نوری سیتی ځا نگی ئې دکړ یمه خوا ته و شړ لې ، ( پو لیب Polybe )لو مړ ی و ار ددو ی او ددو ی داقتد ار په باب کښې د۱۷۹؛ ق م کال په شاؤخو ا کښې بحث کو ی سر متیان دسیتی عامو خلکو په شان سو ارکار قو مو نه و و او دغو او لیند وپه ځای ئې ز یاتر ه نیزې استعمالولې او دغو خولیو پرځای ئې چه ترغو ز و پو ر ی ر ارسید لی او تیری څوکی به ئې در لو دی مخر و طی خو لو نه(خو د) په سر کول او ز غر ې به ئې اغو ستلې ددغه قو م صنعتی آ ثار لکه نیزې ، کمربند و نه او دسر و ز ر و او سپینو ز ر و نو ر اسبابو نه د غر بی سا ئبیریا څخه پیدا شوی دی او دپطر کبیر په خزا نه کښې خو ند ی او محفو ظ دی او څر گند یز ی چه دجگړ و په صحنو او دحیو انا تو په نما یش کښې ئې مخصو ص ذو ق در لو داو دهغو جمجمې او ک کر بو څ خه چه نوی په مر کزی سائبیر یا کښې پیداشو ی دی د نسو روسیستیانو او اسکا ئیا نو سر ه ددوی نژ ادی نز دیکت او قر ابت ثابت او بر قر ار شوی د ی .

مسا جتیان: دسیتی نو ر و قو مو څخه یو قو م(مسا جتیان) وو چه هر و دو ت ددوی او ددو ی دجگړ و څخه چه دهخامنشی سیروس سر ه ئې کړ ی وی په مفصل ډو ل بحث کړ ی دی . هـرو د و ت : و ی (مساجـتی )بو لی او و ائی چه دعرف اوعاداتو ، کالیو او جامو په لحاظ سیتیانو ته ور ته و و (۱) دهغو تشر یحاتو سر ه سم چه هر و دوت و رکړ ی دی دمساجتیانو بو ه بر خه سپار ه او بله بر خه ئې پلی جنگیدل ، ځینو ئې غشی او لیندی او ځینو ئې نیز ی او ځینو ئې

---

(۱ )دهر و دوت دتار یخ دلو مړ ی جلـد ۱۰۵ مخ ، ۲۱۵ فقره ، لو مړ ی کتا ب دسی ، سی مکولی C'C'macaulay ترجمه

تېرو نه استعمالول، سره زرا و مفرغ ئې په خپلو آلاتو کښې ځورازیات
په کار کړي دي او د سرو زرو ګاڼې ئې لکه باز و بند و نه لوسینه بند و نه
استعمالولې.

مساجتيانو د آمو د سيند په شمال کښې د سر درياله حوزې څخه نيولې بيا د خزر تر شما له
پورې د غه لوېه او پراخه ساحه نيولې وه د مخه تر دې چه سيروس د هخامنشي د سلطنت
بنسټ کښېږدي د دوی د خپلې رو بيا او د و ده سره سم اداري نظام او حيثيت پا د شاهان
درلود او سيروس د دوی د ملکې توميريس (Tomyris) نامې سره وجنګيد او په يو
روايت د هغې د نظاميانو له لاسه و وژل شو مساجتيانو د هغو تشر يحاتو له مخې چه ويل
شول د سرامتيانو يعنې د سيتيانو د غربي څانګې سره چه بيان ئې پخوا وشو
ډېر شباهت درلود.

ساکيان يا اسکائيان: د نورو سيتي معروفو قومو څخه يو قوم ساکيان يا اسکائيان دي د غه
قوم په مختلفو تلفظو کښې په چيني او يوناني منابعو کښې ذومره شهرت لري چه کله کله د عام
قوم مرادف ګرزېدلی او په ټولو (سيتي) قومو باندې ئې اطلاق کېږي.

ساکيان يا اسکائيان د (مساجتيانو) نه زيات د شرق خواته ميشت شوي و او له دې سببه چيني
منابع د نورو ماخذ و په نسبت د دوی په باب کښې زيات معلومات را کوي چيني منابعو
دوی د سی Sse (Sai) (يا سيک Sik) او (سي وانګ Sai-Wang) او په داسې نورو نومو
بللي دي لکه چه (رو نه ګروسه) وائې (۱) ساکا (Sakas) يا ساسيان (Saces) د کاشغر په
منطقه کښې د تيان شان او فرغاني په پای او د ايکزار تس (سردريا) د ښي غاړې په آخر ني
برخه کښې داوړال د کوچنی سيند تر شاو خوا پورې پراته و او که په ځير سره و ګورو د ساکا
د ثقل مرکز په شرقي ترکستان د سنکيانګ په منطقه او د سر دريا د سيند په حوزه کښې وُ
د دارېوش د کتيبو څخه څرګندېږي چه هخامنشيانو ساکيان ښه پېژندل او په مختلفو قطعو
او ځايو کښې خپا ره شوي وو ځکه چه په دريو مختلفو تعبيرو نو د دوی نومونه ياد شوي
دي لکه لومړی: ساکاهوماوارکه Saka Haumavarka چه هماغه ساکيان دي چه مونږ

(۱) د آسيا تاريخ دوهم جلد ۵۳ مخ.

دهغو څخه بحث کوو او په دغو و ختوکښې دفرغانې او کاشغر په شاوخوا کښې ئې ژوندکاوه. د وهم ساکا تیگرا خودا Saka Tigrakhauda یاد مخروطي خولو ساکیان چه هغوی داورال دسیند په شاوخوا کښې دسردریا په کښتنۍ حوزه کښې بولي

دریم ساکاتارادرایا Saka Taradraya یا دبحر نه هغې خوا ساکیان چه دوی درووسي په جنوب کښې تاکي او هغه سیلتیانو و چه په دغو بر خو کښې اوسیدل.

لکه چه دا پورته لوستل شو وس او تروگوس لیکنو څخه ښکاره کیږي د یونان او باختري سلطنت د هندوکش په شمال کښې دخاورو مالدارو او پوونده قومونو په لاس اکوا او تهاجمو له کبله منقرض شو داخلو رقومونه دیونان دلوړني پادشوی مورخ په عقیده (ازی ئې Asii) پازیاني Paslani- تخاري Tochari-او- ساکارولي Sacarauli نومیدل. تروگوس که څه هم دتخاري نوم ضمناً یادوی مگر دیونان او باختري سلطنت سقوط Asiani او ساروکي Saruacae دوو قومونو ته منسوبوي.

دلته پیله دی چه په تشریحاتو لاس پورې کړو و پلاوی شو چه دغه قومونه تر ل د سیتي قبیلو جز دی او په دوی کښې تخاري له تخاري یانو نه او ساکارولي په احتمالي ډول دساکا نه یا ساکانه له نژدی څانگو څخه عبارت دی.

یوچي، یوچي ـ اندتولو سیتي قوم و څخه خوراشرقي قوم دی چه دشرقي ترکستان او د تارم له حوزې څخه هم تیرشوی او د کونچي او قره چار او کان سوپه نا وو کښې اوسیدل او دسیتي قومو څخه خورا شرقي قوم او د هند و اروپا ئې څانگو څخه گڼل کیږي چه د چین او د ژیړ پوستو خلکو سره په تماس کښې و. دوی له کوچیدوا و بې ځایه کیدوا و د غرب خواته له خوځیدلو نه ور وسته تر هغې زماني پورې چه دوی د آمودریا په شمال کښې او سیدل همدغه د یوچي په نامه یادیدل، پس له دې چه د آمو دریا څخه پوریو تل او سلطنت ئې تشکیل کړ اوده تا هیاله د باختر د اوسیدونکو سره گډ شول نو بیا دکوشان په نامه مشهور شول، په راتلونکي فصل کښې به چه د دوی دپاره مخصوص دی په د غه باب کښې مفصله څیړنه او بحث وکړو.

آریانا ته د سیتي قومو درا تگ علت: دفصل په لومړي سر کښې مو وویل سره

ACKU

له دې چه د آریا نا پښتنی مذهبی او ادبی مآخذ لکه اوستا په مستقیم ډول او د سیت په نامه د سیتی قوموا و قبیلو نومونه نه داخلی مگر د مختلفو برخو څخه ئې په ښیره بیاد ښکاري د پښتنو کورنیو د جنگي چار وله یا د ونډو څخه په ښکاره ډول څرگندېږي چه په شمالی منطقو کښې د سر دریا د حوزې په شاؤ خوا کښې د هغو آریائی نژاد و قومو سره ئې تل مقابله او تصادم درلود چه مالدار پیوندو او داره ماروونکي او د (توریا) نوم ئې لهشک اوشبهې نههمد غو سیتی قومونه اشاره کوی، په هر صورت د دغه مطلب له ویلو څخه زموږ مقصد دا دی:

دمخه تر دې چه تاریخ په ښکاره ډول او د نوم په اخیستلو و د تهدید او تهاجم او په پای کښې باختر ته د سیتی قومونو د راتگ تاریخ او کال ووائی تر هغه ځای پورې چه په یاد مو دی د باختر دولت د سردریا او آمو په اوږدو کښې تل د ډېرنگرکلا نگانوا و سنو په جوړولو سره د سیتی قبیلو د راتگ مخه نیولې ده او د شمال د پیوندو او کوچی قومو او د باختر د حاصلخیز و مځکو او سیدونکو ترمنځ مقابلو او جگړو زمونږ د مملکت په ادبیاتو او رزمی داستانو باندې ډېر تأثیر او انعکاس کړی دی، هرکله چه سیتی قومونه لکه چه وویل شول سوارکار خلک وو نو د آمو د شمال داوړال د بحیرې او د خزر د بحیرې په جلگو کښې په چټکۍ سره هرې خواته گرزېدل، ځینې مدققین داسې وائی چه د سیتی یا اسکائی قومو یوه څانگه دیونان او باختری دولت تر سقوط نه پخوا د هندوکش په جنوب کښې د درانجیان علاقې ته راغله او په دغه ځای کښې د امورجیزی Amuregise په نامه مېشت شول موسیو فوشه او ځینې نورکسان د دغه نظر به تصدیقوی مگر د وی تاریخ او د راتگ لاره ئې نه ده څرگنده شوی او غالب گمان دادی چه د اکسوس (امو دریا) د کښتنۍ حوزې د روا و هرات له شاؤ خوا څخه به د جنوب خواته راغلی او د درانجیان په منطقه کښې به او سید لی وی.

په هر صورت شمیرئی دومره زیات نه ؤ او د دوی په باب کښې تر دې زیات

ACKU

معلومات هم نه لرو ، آریانا ته دسیتي قومو د وهم ځل را ننګ یوه ډېره لویه پېښه ده چه د هندوکش په شمال کښې د یونان او باختري د دولت د سقوط سبب ګرځي او په اسکائي ، تخاري او کوشاني قومو د آریانا د نورو داوسیدونکو آریائي څانګو سره ګډ شوي دي چه علت ئې په یو شمېر لویو خوځېدنو او جنبشو کښې باید و پلټو چه له یوی خوا د چین له مرکزنه د اروپا ترمنځه پوری او له بلی خوا د آریانا له لاری داندوس د کښتني حوزې د جنوب خواته د مرکزي آسیا قومونه ئې په خوځېدو او جوش راوستل .

هغه قوم چه د دغه لوی جنبش او خوځېدو سبب شو (هوا ننګ - نو یان) یا هنیان دي چه د چین امپراتورانو د دوی د مخې ته د چین خورا لوی دیوال جوړ کړی وچه خپل مملکت د دوی د حملو او یرغلو څخه وساتي ، د دغه لوی دیوال او دهغو غرو تر شاچه «کانسي» د ولایت یوه برخه ئې تشکیلوله لکه چه پخوا و ویل شول د (سیتي) قبایلو خورا شرقي څانګې یعنې یوچیانو ژوند کاوه هنیانو په ١٦٥ق م کال په یوچیانو باندی حملې وکړې او هغو ته ئې ماتې ورکړه او له ځایه ئې بېځایه کړل ، یوچیان په پای کښې د خپلو بومي کورو او ښارو څخه د غرب خواته وکوچېدل او خپل ناټوبی او د استوګنې ځای ئې الیش کړ ، هر کله چه شمېر ئې تقریباً یو ملیون یا تر دې زیاتو خلکو ته رسیده نو د دوی د بېځایه کېدو ، خوځېدنو او جنبشو له کبله طبعاً د شرقي ترکستان یا (سنکیانګ) د اوسیدونکو ترمنځ مهمی بې نظمی پېښې شوې او نورو سیتي عناصرو چه د سیر دریا او آمو په حوزه کښې ئې ژوند کاوه ئو لیو د بل د فشار له کبله د ځای بدلولو ته مجبور شول ، د دغو جنبشو څېړنې او ورنی پېښې د ٢٠ ق م څخه تر ٤٠ کال پوری د چینی مؤرخینو له خوا داسی بیان شوی دي لکه چه لیکي د (ایلي Ili) سیند په حوزه کښې چه اوس (کولجا) (Kulja) نومېږي یوچیان د یوی بلی قبیلې سره چه (ویوزون Wu - sun) نومېدله مخامخ شول ، دوی ته ئې ماتې ورکړه او پاچا ئې ورته ووژه او بیا ئې د غرب خواته مخه وکړه او د (ایسیك کول Iss kul) د دریاچې شاوخوا ته ورسیدل په دغه ځای کښې نوی راغلی میاو پرد و وبرخوو ویشلي شوی :

بوه هغه قبیله ده چه وروسته (د کوچنیو یوچیانو) په نامه وبلله شوه او د جنوب خواته لاړه او د تبت په شاؤ خوا کښې میشته شوه، او بله ئې د لویو یوچیانو په نامه وبلله شوه او تربوی اندازې د غرب خواته راغله چه د بلې سیتی ځانګی سره مخامخ شوه چه چینیانو هغه سی «Sse» (Sai) یا «سیك» (Sik) بللی ده او له هغو سا کیانو یا اسکائیانو ځخه عبارت دی چه په (سنکیانګ) او دایګزارت (سرد ریا) په حوزه کښې ئې استوګنه درلوده.

هرکله چه یوچیانو د اسکائیانو ځای او تاتوبی ونیو نو دوی هم طبعاً خپل تاتوبی بدل کړ او د آمو له سیند ځخه راپورې وتل او تخارستان او باختر ته راغلل لکه چه چینی منابع په مجموعی ډول او یونانی مؤرخین لکه (اپولودورس) او (تروګوس) د دوی د قبیلو د نومونو یاد ولو سره لکه (ازیئی) «پازیانی» «تخاری» او «ساکاروکی» یا ختر او تخارستان ته د دوی په راتګ باندې شهادت ورکوی.

په ۱۳۸ ق م کال چه (ووتی Wou-Ti دچین امپراطور (۸۷ - ۱۴۰ ق م) د «هیوانګ نو یانو» د پرله پسی جګړو او حملو له لاسه په تنګ راغی نو ئې غوښتل چه د دوی له دښمنانو یوچیانو ځخه چه په دغه وخت کښې د آمو شمال تاراسیدلی وو مرسته وغواړی په دغه عزم ئې یو ایلچی د (چانګ کین) په نامه د ق م په ۱۳۸ کال یوچیانو ته واستاوه هغه وخت چه ایلچی یوچیانو ته ورغی د یوچیانو وضعیت لا هماغسې ؤ لکه چه د مخه وویل شو یعنی یوچیان د سرد ریا په حوزه کښې د اسکائیانو په ځای کښې او د (وی) یا آمو د سیند په جنوب کښې بیل بیل اسکائی قبایل خپل واکداره شوی وو. د مخه موو ویل چه د (ووزونیانو) پاچا د یوچیانو په جګړه کښې ووژل شو د دغه پاچا زوی لکه چه (ریسن) په کمبریج هستری آف اندیا کښې وائی د هن قبیلو د ځانو سره وساتل او هغه وخت چه لوی شو پخپلو قبیلو کښې ئې پاچا کړ دغه پاچا د خپلو مرستونکو او ساتونکو هنیانو په مرسته په یوچیانو باندې حمله وکړه او هغوی ئې د (وی) یا اکسوس یا آمو دریا د سیند جنوبی ملکونو ته وشړل.

تاهیا: د مخه‌تردی چه اسکائیان او دیوچی لوبه تولنه د چینیانو په اصطلاح د (وی) له سیند څخه پورې غاړې ته لاړه، او وروسته د هندوکش د شمالي برخو او د هغه ځای د اوسیدونکو ډیوې برخې په شاوخوا کښې ځینې معلومات ورکړو.

څنګه لکه چه مو وویل په دغه وخت کښې د چین ایلچي «چانګ کین» د ق م په ۱۳۸ کال د آمو د سیند تر غاړې پورې یوچیانو ته راغی او د جغرافیا او تاریخ په باب کښې ئې ښه معلومات ورکړی دی (چانګ کین) د چین لومړی مسافر دی چه پخپله دده په اصطلاح ځینی معلومات ئې د (غربی مملکتو) په باب کښې چین ته وړی دی او دده یادونې او یادداشتونه تر ډېره وخته مودې وروسته د چین په دوو مأخذو کښې بیول، د ق م په ۹۱ کال کښې د چین د (سوما - تسین Seu- ma-Tsien) نومی مؤرخ په لیکنو کښې او بله پلاد (هان) دکورنۍ په سالنامو کښې اخیستل شوی دی چه لیکنه ئې په مسیحی ۲٤ کال پای ته رسیدلی ده، دده (غربی مملکتونه) تر ډېره اندازې پورې د آریانا پر خاوره باندې مشتمل و او دلته به لمړی درتاهیا) یعنی باختر او د (کی - پن) له قلمرو یعنی دارغنداب او څخه لږ څه کښته اراکوزی له حوزی چه د اسکائیانو د مسافرت د سیر سره زیات ارتباط لری لږ څه بحث کوو.

د چین پورتنی پادشوی مآخذ د اکسوس یا آمو دریاب سیند د (وی) په مخصوص نوم یاد کړی دی او لکه چه موسیو (کریشمن) ما ته ویلی دی د داشت راکړی دی: (وی) نوم په تیره بیا له سرچینی څخه د سند د جریان تر هغې برخې پورې منطقه رانیوله او اطلاقیږی ور باندی کیده چه دافغانستان او سنی شمالی سرحد ئې تشکیل کړی دی.

د (وی) د رود ځانی جنوبی ځمکې د چینیانو په نزد د (تاهیا) په نامه یادیږی

شوی دی، او دغه تاهیا د رودخانې د سرچینې له حدودو څخه تر هغه ځایه پورې چې د افغانستان او سني شمالي سرحد تشکیلوی د باختر په نامه یادیده. پورتني منابع څرگندوي چې «تاهیا» له دوو زرو (لی) نه زیات د تاپوان (پامیر) د جنوب غرب خوا ته د (وی) د رودخانې جنوب ته پرته وه، د تاهیا په جنوب شرق کښې د (سن تو ځ) (یعنی سند) رودخانه بهیده او په دغه دول د هندوکش د جنوب ځینې علاقې هم پکښې شاملې شوې دي.

(چانگ کین) چې د (وی) د رودخانې غاړې ته ورسید د تاهیا د خلکو سره ئې وکتل او داسې څرگندیږي چې د تاهیا په باب کښې ئې ځینې معلومات په خورا زیاته مینه په لاس راوړي وي.

لکه چې وائي: «... د دې ځای وگړي د بامبو (نی) د لرگي او د شو Chuo د تونو څخه لکړي او امساگاني لري.

او هر کله چې پوښتنه مې وکړه چې دا مواد له کوم ځای څخه په لاس راوړي؟ ځواب ئې راکړ چې زموږ سوداگران ئې د «شن - تو» Chen-Tou (سند هو، اندو، هند) څخه راوړي «شن – تو» یا (سند تو) د هند د سند د علاقې څخه عبارت دی چې د تاهیا په جنوب شرق کښې د زرو (لی) په واټن (فاصله) پرته وه او د هغه ځای وگړي د (تاهیا) د وگړو په شان بزرگران او د مځکې خاوندان او ځای په ځای پراته وو او عسکري قواوې ئې ضعیفې دي او په ښارو او کلیو کښې په خپلو ملي قوانینو او د دود د دستور سره ژوند کوي.

اسکائي مختلفې قبیلې: د مخه مو وویل چې یوناني مؤرخینو هغه کسان چې په اسکائي نامه باختر ته راغلي وو په جلا جلا نومو بللي دي، اپولودوروس د (ازیئي – پازیاني، تخاري، ساکارولي) نومونه یادوي او بحث ورځنې کوي او تروگوس د (آزیاني) او (ساروکي) د دوو قبیلو یا قومو نوم اخلي د دغو قومو د نومو او د هغوی د هویت د ټاکلو په شاؤخوا کښې ډیرې څیړنې او بحثونه شوي دي چې دلته به ځینې لوی او مهم نکات ووایو.

ACKU

ازی Asii او ازیانی Asiani : ازی ئې هغه قوم دی چه اپولودوروس یاد کړی دی او (آزیانی) هغه قبیله ده چه (ترو گوس) ئې نوم اخستی دی. تارن وائی چه دغه دواړه بڼې دی او آزیانی) صنعتی شکل پیدا کړی دی. دی څرگندوی چه د۱۹۱۸ څخه تر ۱۹۳۶ پورې په عمومی دول داعقیده وه چه دمرکزی آسیامنابعو د (ازی Ari) په نامه دیو قوم نوم اخستی دی چه په (تخری) یا تخاری خبری کوې او دهمدغه ازی ئې څخه عبارت دی چه پرنا نی منابعو ویلی دی، ځینو ازی ئیا ن پوچی هم بللی دی مگر حقیقت نه نژدی نه ده.

تخاری: په لومړی سرکښی هرو مرو دسیتی قومونو څخه یو قوم سنکیانگ ؤ چه دغه قوم په خپل پرمخ تگ او اهمیت سره ئې لوی مفهوم پیدا کړ لکه چه ځینو هغه د (سیت) او (سیتی) کلمی مرادف بللی دی او سیتی قومونه ئې تخاری قومونه هم ویلی دی. همدغسی دسیتی ژبو یا څه ناڅه دهغی دڅانگی د ۱۱ کلو په باب کښی ئې دتخاری کلمه استعمال کړې ده او دهغی څخه ئې ځینې څانگې د(الف) او (ب) تخاری په نامه منځ ته رایستلی دی (۱)، په دغه دول یو لوی مدنیت او تهذیب ئې دتخاری په نامه یادکړی دی چه دایگزارت دحوزی او آمو دحوزې نه ل سنکیانگ پکښی شامل ؤ. مقصد دادی چه دتخار کلمی چه دومره لوی مفهوم ئې پیدا کړ په لومړی سرکښی د یوه قوم یا دیوې قبیلې نوم ؤ بطلیموس دتگور و ا Thagouroi دقوم نوم یادوی او دده دمعلوماتو سره سم دوړ بینمنو دلوئی لارې په سر ئې یو ښار د ه توگارا (Thogara) په نامه درلود، چینی منابعو د (توگارا) Togara قوم دبقایاو څخه په دوهمه ق م پیړ ئی کښی د (کان سو) په علاقه کښی بحث کړی دی. همدغسی تبتی مضامین داسی نوم د (کان سو) په شاؤ خوا کښی یادوی بلکه اسکا ئې سند ونه چه د ۸۰۰ کال په شاؤ خوا کښی

(۱) څو موده پخوا هغه دوې ژبې چه دچین دترکستان په شمال کښی په [کارا چار] او [کوتچه] کښی ویلی کیدې دتخاری په نامه به ئې یادولی او د [الف] او [ب] په نایه ئې سره جلا کولې مگر نن دې ژبو ته تخاری نه وائی بلکه دخپلو علاقو په نامه ئې بولی او [تخاری] یا [تخری] چه دمرکزی آسیا په سندو کښی یادشوی دی دتخارستان دکوشانیانو یا اسکا ئیانو ژبه وه [په باختر او هند کی دیونانیانو دکتاب ۲۹ مخ دتارن تالیف]

ACKU

دختن څخه پید اشوی دی په کان سو کښې یوښا ر د توګارا - Thogara په نامه‌یادوی
د د خوبیا نا تو څخه څر ګند یږی چه تخاریان دسیتی‌قو مو بله ځا نګه تر (کان سو )
یعنی تر هغو د پرو شر قی نقا طو پو ر ی‌چه سیتی‌قو مو نه‌ور رسید لی‌و وخپره شوی‌وه
او دمر کزی آسیا دقو مو دجنبشو او خوځید نولــه کبله‌دیو چیانو سره یو ځای‌دغرب
خواته راغلی‌وه‌تر څو چه‌دیو نانی‌مو رخینو په‌شهادت د( و ی )(امودریا) دسیند جنوب‌ته
راغلل او دآ مو د پورتنۍ حوزی څمــکی د د وی په نامه تخارستان و بلل شوی او
دمنځنیوپیړیو ، تراخره پو ر ی‌داونوم‌باب ؤ ، تخاری‌قبیلی د پخوانی قا قو بــی په لحاظ
وی‌اوکه‌د عرف او عا دت او دو ددستو راو حتی د ژبی له نقطی نظره څخه یوچیانو
ته ورته وی او د هغوسره یو ځا ی‌دآ مو دریاد حوزی‌خوا ته راوکښېد لی او داسی
سره یو ځای‌او همر نګه‌وی چه دیر ومنا بعو،خاص بیا هند ی‌ما خذ یوچیا ن که لوی
و و او که واړه د(تخا را)یا د(تخاری)په‌نامه یادی‌کړ ی دی‌بطلیموس د( ماریتوس)
دیادداشتو له رویه‌د( کان‌سو)اوباختر ترمنځ په‌څو مختلفو ځایو او نقطو کښی دتخار یانـو
پــه بـاب‌کښې بــحث کـړ ی دی او داځایو نه‌هغه نقطی دی‌چه یایوچیا نوپکښې استو ګنه
درلو د ه او یا یوچیا ن و رځنی تیر شوی دی داونوم‌که څه‌هم په مختلفو نقطو کښی
دتلفظ په‌لحاظ جزئی اختلا ف لری مګر تسلسل ئی د تخا ریا نو دحرکت پر خط باندی
ښه رڼا اچوی‌په‌هرحال بطلیموس د( کان سو )په‌علاقه کښی دتا ګورو Tahgaurai
نوم او د(ایما اوس)په شمال کښی د ( تا ګوری وا )Tahgoraiai او د ا سیك کول
دریاچی‌ته‌نژدی‌له(تا ګوری وا ،Tagwuroioiاو په‌سغدیان کښی له‌تاخو ر وا Tachoroi
څخه او په با ختر کښی له تخا رو Tochar oil څخه بحث کړ ی اونومونه ئی یا دوی
هر کله‌چه‌یوچیان‌کت‌مت د کا ن‌سو څخه تر با ختره‌پو ری په‌همد غو ځایوکښی ګر ځیدلی
ا وطی کړی ئی دی‌ځینی چینی منا بعو یوچیا ناو دیونا نی منابعو تخاریا ن‌دواړه یوشی
ګڼی لکه چه هند ی‌ما خذ په د غه باره کښی کوم تو پیر نــه وینی ؛ بلکه د یو چی
دکلمی‌پر ځا ی‌ئی یوا ځی تخا ر ی په هر ځا ی‌کښی استعمال کړی‌دی •

په هرحال‌که چیری‌تخاریا ن همدغه یوچیا ن وی یا نه وی، خو یو، ځا نګه ئی

ACKU

ګڼل کېده او د پیش قراول تولګی په شان د دوو دریو نورو سیتی قبیلو یعنې ازي‌ئي، پازیانی او ساکارولی سره باختر ته را غلل او زیاته برخه ئې د هغو سیند و په پورتنیو حوزو کښې چه د پامیر څخه را کښته کېږي په ننني قطغن او بدخشان کښې خپره او میشته شوله، ورو ورو د اعلاقه د دوی په نامه تخارستان (دتخاریانو د استوګنې ځای او تاتوبی) سره مشهور شوه او دانوم د څلورمې قرن پیړۍ څخه را تمی مسیحی پیړۍ پورې مشهور و همدغسې د (توخري) یا (تخاري) کلمه په هغو سندو کښې چه په دې وروستنیو وختو کښې په مرکزي آسیا کښې پیدا شوي دي د تخارستان د کوشانی یا اسکائي ژبې د نامه په حیث استعمال له شوي ده او هیوان تسنګ د خپل راتګ په وخت کښې د مسیح په اوومه پیړۍ کښې د (توخري) څخه ئې (تو- هو، لو) جوړ کړی دی.

<u>ساکارولی یا ساروکی</u>: د هغو قومو په منځ کښې چه د تخاریانو او د سیتی نورو عناصرو سره د قم په دوهمه پیړۍ کښې باختر ته راغلی او خپاره شوي دي ساکارولی یا (ساروکی) هم شامل دي چه (اپولودوروس) لومړی نوم او (تروګوس) د وهم نوم یاد کړی دی. دانه زرابه نوموړو ته پوښي دی په لومړي نوم کښې په ښکاره د و ل د ساکـا کلمـه موجوده ده چه هغوی د (ساکا هوماورګا) یا (د اکسوس نه هغی خوا ته ساکیان) بلل چه د لومړی ذاریوش په وخت کښې ئې د «ایګزارت» په جنوب کښې ژوند کاوه، بطلیموس دغه اسکائیان د ساکاروکی Sacaraucae په نامه یاد کړي او د استوګنې ځای ئې دایګزارت په جنوب کښې ټاکلی دی.

په دې کښې شک نشته چه د چین د «هان های» د کورنۍ سالنامې وائی چه په لومړي سر کښې د اسکائیانو د استوګنې ځای د (ووسون) علاقه وه. د اعلاقه په خپله ددوی د مأخذ وله معنی د «تایوان» په شمال شرق یعنی پامیر کښې کښې او د دې څخه معلومېږي چه چینیانو هم داسکائیانو د استوګنې لومړنی ځای او مسکن د ایګزارت په حوزه کښې ټاکی، دا هم باید وویل شي چه د چینی د سی‌وانګ Sai-weng تسمیه هم د وی ته منسوبېږي، «ساکارولیان» د تخاري او یوچی او د نورو قومو د فشار له کبله د ایګزارت له حوزې څخه وروورو

ACKU

دجنوب غرب خواته دآمو دسیند په شمالي اوږدو الي کښي فرغاني ته را کښیوتل او له دغه ځای نه یوه برخه ئې باختر ته راغله او بله برخه ئې د آمو د سیند غاړي په اوږدو کښي د آمو د کښتني حوزي خواته مروی ته لاړه او د روډخا نی له دواړو خواو څخه د پارتیانو سره مخامخ شوه اسکائیانو فرغانی ته دیو څو چیانو د راتگ له کبله بیا خپل ځای ته تغیر ورکړ او په باختر رامات شول او هر کله چه د باختر یونانیانو د هندوکش په جنوب کښي سلطنت درلود او د هندوکش د غرو طبیعي سداو د یو ال د جنوب خواته ددوی د راتگ مخه بنده وله، نو په باختر کښي د غرب خواته پرمخ ولاړل او هر کله چه د (هلیوکلس) د سلطنت په اخره دوره کښي پارتیا نو د هند په فتوحاتو د یونان او باختری دولت له ډیر بوختو الي او گرفتاری څخه چه د هند په فتوحاتو اخته و استفاده وکړه او داریا (دهرات ولایت) منطقه ئی د ۱٤۰ ق م کال په شاوخوا کښي و نیوله او دمیمني تر شاوخوا پوري لاڅه چه نو رهم مخ په وړاندي راغلی وو نو اسکائیان د غرب خواته په خپل حرکت کښي ددوی سره مخامخ شول لکه چه یونانی مؤرخین وائی د ساکیانو او پارتیانو ترمنځ سختی جگړي پیښی شوي لکه چه د وهم فرهاتس (phraathas) د استرابو نه په قول د تخاري قبیلو له لاسه د ق م ۱۲۸ کال او د ارتبانArtaban لاخوا د ق م په ۱۲۳ کال کښي و وژل شو د تخاري قبیلو څخه مقصد دغه اسکائیان دي چه ددوی سره یو ځای باختر ته راغلي وو. په دی دول اسکائیان دمیمني له حوزي څخه دهري رود تر حوزي پوري مخ په وړاندي لاړل او متریدات یا (دوهم مهرداد) زیاتره د غرب خواته ددوی د تګ مخه بنده او ونیوله نو اسکائیان مجبور شول چه د خپلو خپریدو او خوځیدو سمت واړوي او د هری رود دناوي جنوبي خواته متوجه شول او د هتومنت (هیرمند) او ارغنداب د حوزو خواته را غلل.

دمخه مو وویل چه (امورجیزیان Amurgisi) دد پرو پخو انیو اسکائی قبیلو یوه څانگه چه ددوي دراتگ وخت او صورت نه دی معلوم د هیرمند په حوزه کښي خپره او هلته میشته شوه، تازه راغلي اسکائیان هم ددوی سره یو ځای شول او څرنگه چه د آمو پوري تنی حوزی د تخاریانو په نامه په تخارستان سره مشهوري شوي د هیرمند حوزه او دهامون علاقه چه تر دی وخته پوري (درانجیان) نو مېدله د اسکا ئیانو په نامه

ACKU

(ساکاستانا Sakasthana) یعنی «د اسکائیانو ټاټوبی» و بالله‌شو او له دغه نوم څخه دعربو مؤرخینو په منځنیو پیړیو کښی «سجستان» جوړ کړ او له دی کلمی څخه «سیستان» او سنی نوم منځ ته راووت. اسکائیان دهیرمند او ارغنداب په حوزو او دهامون په شاوخوا مځکو کی اودرو دخانی په غاړو باندی خپاره او دمحلی عنا صرو سره گډ شول او سکزی قوم ئی جماعه دپخوانیو ساکیانو جزدی.. او س چه په عمومی صورت د اسکائیانو او مرنیو ژ انگو او د آریانا په بیاوبیلو ځایو کښی ددوی د مهاجرت علت او له باختر نه تر سیستان پوری ددوی دحرکت شرح بیان شوه نو بیر موضوع باندی په لنډه ډول دعقلی سنجش له رویه غیږ نه کوو:

لکه چه مو سیو هاکن په هغه کتاب چه (په افغانستان کښی دفرانسی دحفریاتو دلسی کالو نتیجه) نومیږی وائی «تر لویو تهاجماتو یا دعمومی مهاجرتو نه دمخه یوو نده اسکائیان ورو ورو باختر ته راغلل او دیونانیانو تر لاس لاندی به دسرباز په ډول نوکران کیدل هرکله چه دیونان او باختری پادشاهانو د«سلوسی» کورنی په ضد دخان دتقویه کولواوغښتلی کولو د پاره او روبو دوی په استخدام خوږ راخو ښی وو، په دغه ډول اسکائیان ورو ورو باختر ته را غلل او د یونان او باختری دولت په نظام کښی داخل شول او ځینی مشران او رئیسان ئی د ښه خدمت له کبله عسکری او ملکی لوړو مقاماتو او رتبو ته و رسیدل لکه چه یو د هغو څخه «هرایوس Heraius» و چه د یونان او باختری وروستنیو پادشاهانو په تقلیدئی سکه و وهله (۱) او مو سیو هاکن دده سکه په تاشقرغان کښی مو ندلی ده چه په حقیقت کښی د اسکه د (شهر بانو) له گنډو الو څخه چه د تاشقرغان د شمال او دپخوانی خلم د شمال غرب په ۱۸ کیلو متری کښی پرتی دی پیداشوی ده د اسکائیانو د کوچی قبیلو دوای دغه رئیس به هرو مرو دیونان او باختری دولت له خوا کوم امارت ته رسیدلی وی، اسکائیانو ته پس له دی چه باختر ئی ونیو دیوچی قبیلو د زاتگ په سبب دومره کافی وخت د هندوکش

---

(۱) «تارن» دهغه کتاب په ۳۰۵ مخ کښی چه «یونانی په باختر او هند کښی» نومیږی وائی چه دکوشانیانو لومړی رئیس او پاچا (میاوس Miaos یا هراوس Heraos) نومیده دباختر دیونانی پادشاهانو په تقلیدئی سکه وهلی ده

ACKU

په شمال کښې پيدا نه شو چه سلطنت جوړ کړي نو وله دي کېله دغه بيان له مخې چه و شو د يو چيانو د ر اتنگ او فشار له کبله د غرب خو اته لاړل او پس له دې چه پارتيانو سره ئې جګړې و کړې د هريرو د له حوزې څخه د جنوب خو اته د هير منداو ارغنداب حوزو ته راغلل او هر کله چه د اعلاقې د هندوکش د يونانيو او باختري پادشاهانو او د غربي پارتيانو دا داري نفوذ څخه نسبتاً ليرې او گوښې پرتې وې نو د سلطنت په تشکيل ئې لاس پورې کړ .

کی — پن Ki - Pin : د چينې ماخذ و نو يو څخه يو نوم چه زموږ د مملکت د خاورې پر يو ې برخې باندې ئې اطلاق کيده او ډير شهرت او اهميت ئې درلود همدغه د کی پن کلمه ده ؛ «چانگ - کين» د چين ايلچي چه په ق م ۱۲۸ کال تا هيا (باختر) ته راغلی و دا کلمه ئې نه پيژندله - سوماتسين چينې مورخ چه د ده مولفه ليکنې شي کی Shi-Ki نوميږي او د ق م د ۹۰ کال په شا و خو اکې پای ته رسيدلې دی هم د دې نامه څخه نه و ا ئې نو و يلای شو چه د ۱۰۰ ق م کال نه د مخه چينيانو د انوم نه پيژانده او (پانکو Pen-Ku) لومړی و ار د انوم د مسيح په لومړۍ پيړۍ کښې استعمال کړی دی .

هغو مدققينو چه د دې کلمې په شاوخوا کښې ئې تحقيقات کړي دي د هغه ماخذ له مخې چه د غه نوم پکښې استعمال شوی او مربوط نشريحات ئې د هغه موقعيت په کشمير ، نورستان کاپيسا او ارا کوزي کښې بللې دی او لکه چه و د و يل د مختلفی زماني او ماخذ و له مخې د يو رتنيو نقطو څخه هر يو پر (کی پن) باندې شامل و مگر سره له دې کشمير او نورستان

د لو و مدققينو په ليکنو کښې د کی پن د جغرافيايي مفهوم څخه راوتلی او کاپيسا او ارا کوزي عموميت مونډلی دی په دغه باب کښې که لږ څه زيات ځير شو څرگند يږي چه د غه دو اړه ځايونه د کی پن په نامه ياد شوي دي مگر په دو و معينو او تاکلو عصرو کښې د چين د زاير هيوان تسنگ (کی پن ) چه ياد داشتونه ئې د مسيح په ۷ پيړۍ پورې اړه لري بيله شک او ترديده همدغه د (کاپيسا) يعنې د کوهستان او کوهدامن علاقه ده مگر هغه کی پن چه په پخوانی ماخذ کښې ياد شوی دی او د ساکا ئيانو د سلطنت د تشکيل ځای ئې بللی دی د هير منداو ارغنداب د حوزې څخه عبارت دی .

ACKU

ځینې هغه معلومات چه نوموړی ماخذ د(کی پن) په باب کښې ورکړي دي دادي، (دالیری
علاقه اوارده او تو ده آب و هوا ئې ځینې هندي وني پکښې روزلی کیږي او حاصل
ورکوي د غنمو او وریجو کښتونه او میوه لرونکي باغونه زیات لري، کښتونه او بوټي
د باران او ویالو په اوبو اوبېږي ددې ځای وګړي په هیکل تو ږلو او په فلزاتو باندې
په کنده کاری کښې ماهر وو، د معمارۍ په سبک د توکرانو او تو تو په اوبدلو
په خامکدوزۍ. په دوړې پخولو او په فلزي لاسي چارو کښې ئې مخصوص ذوق درلود
د دوی د مسکوکاتو پر یو مخ د انسان تصویر
او پر چپه او کښې خواباندئې بوسپور سړی لیدل کیږي، د هغه ځای حیوانات او
مرغان. کوپان (کوهان) لرونکي غوائې، بیزو، فیل، طاؤس او دداسې نورو
حیواناتو څخه عبارت و، جواهرات او قیمتي ډبرې ډېر لري) ...
شک نشته چه د پورتني تعریف سره سم داندوس د کښتني حوزې د خاورې یوه برخه هم
په (کی پن) کښې راغلې ده او هر کله چه اسکائي پادشاهانو د ارغنداب له حوزې
څخه هغه ځای نه و نیول نو ځینې دا نظریه هم څرګندوي چه (کی پن) د اسکائي
پادشاهانو د سلطنت پر ټوله حوزه باندې مشتمل و، اسکائي پادشاهانو پس له دې چه
د ارغنداب په حوزه کښې ئې د سلطنت په تشکیل لاس پورې کړ د خپل نفوذ او سلطې
لمن ئې د جنوب خواته داندوس تر کښتنۍ حوزې پورې پراخه کړه او له دغه سببه
داعلاقه د دوی په نامه په یوناني مأخذ کښې د(هندوسیتا) Indoscythia په نامه او د هند
په ادبیاتو کښې د(ساکادراپا) Caka-arapa په نامه یعني داسکائیانو د رود خانې په ځکه
مشهوره شوې ده (کی پن) د جغرافیائي مفهوم روښانه کیدل داسکائیانو د راتګ او
ځای په ځای کیدو په وخت کښې د افغانستان په پخواني تاریخ کښې څو را مبهم دی ځکه
چه په بیلو بیلو دورو کښې د چین د ډېرو زائرینو په یادداشتو کښې د (کی پن) نوم
راغلی او په هر وار جغرافیائي مفهوم ئې د زائرینو د نه معلوماتو یادښتو روایاتو له کبله
توپیر کړی دی، هغه مهم شی چه ددې عصر د(کی پن) روښانه کیدل ایجابوي دادی لکه
چه وویل شول اسکائیانو تر یوې اوږدې مودې ګرځیدو نه وروسته د تخارستان او
باختر څخه د ارغنداب تر حوزې پورې خپل حرکت ته د نیم دایره ئې خط په شکل پایښت

او دوام ورکړ او دغه ځای ئې دخپلې استوګنې دپاره مونا کړ او ځای په ځای شول او یو سلطنت ئې تشکیل کړ چه ددوی دسلطنت کانون او مرکز اصلاً دارغنداب حوزه وه او دسلطنت تر تشکیل وروسته دا ندوس دښکتنی حوزی خوا ته ددوی نورو اقدا ما تو د کشور کشائی یعنې د ملك نیولو جنبه درلوده چه په هغې سره ددوی نفوذ او قلمرو او د (کې پښ) جغرافیایی مفهوم پراخوالی وموند او ددی وخت (کی پښ) دآریانا په چوکات کښې دار اکوزی پر ولایت او د (جدو وزیا) پر نیمائی برخه داندوس تر کښتنۍ حوزې پوری مشتمل شو.

دمخه موو ویل چه اسکائیان دخپل حرکت په وخت کښې دتخارستان او باختر څخه دغرب خوا ته دخپل حرکت په وخت کښې دهری رود په حوزه کښې دپارتی پادشاهانو سره مخامخ شول او په پای کښې ئې دجنوب لاره ونیوله څو چه د هیرمند کښتنۍ حوزې ته ورسیدل او دلته پخپل نوم (ساکستانا) سره مشهور شول(۱)

په دغه وخت کښې دآریانا په غربی څنډه کښې دهغو پارتیانو څخه چه شرحه ئې ددې فصل په اول برخه کښې تیره شوه: دیروو ګړ و ژوند کاوه او په دې منطقو کښې دپارتی حکمرانانو حکومت کاوه اسکائیان دهیرمند او ساکستانا د حوزې دپارتیانو سره ګډ شول او ددوی دغو ګډېدلو دمملکت داری په چارو او ددوی په نژاد او عرق کښې زیاتی اغیزې وکړې پارتی رئیسانو او حکمرانانو دهغې ورځې څخه چه دپارت دولایت مرکز ددجلې څنډې ته منتقل شو دمستقل سلطنت د تشکیلو په فکر کښې شول. دسیتی قوم په تیره بیا د اسکائیانو په راتګ او یو دبل سره ددوی په ګډېدلو ددوی عزم دجلا او مستقل سلطنت دتشکیلولو په باب کښې تینګ کړ، لکه چه د پرمد ققین د پخوانی افغانستان د تاریخ د دی عصر پیښی او ګډ ارشات د مشترك عصر او د (سیت او پارت) د سلطنت د زمانی په نامه یادوی څیړنو نو رود هیرمند او اراکوزی د پارتیانو مستقل سلطنت د (پهلوا) کورنۍ بللی دی. کښه څه هم

---

(۱) دغه نوم دعربود مورخینو په لیکنو کښې دسجستان شکل نیولی دی او ترننه پوری دسیستان په دول موجود دی

ACKU

اسکائیان او پهلوایان د ځانه جلا کوو نېو او پادشاهان او سلالې لري او مونږ هم د دغه فصل په دوهم او دریمه برخه کښې ترهغو چه مو د لاسه کېده هڅوې مو سره جلا کړل سره له دې وایو چه ګډ والی او حتی د ممالکت دارې د چارو خلطیدل د ومره او په دې اندازه موجود وو چه جلاکولئی آسانه کار نه دی مدققینو د (سیت او پارت) یا د (اسکائی او پهلوا) دهغو پادشاهانو د جلاکولو په باب کښې ډیر کوښښ کړی او بیلې بیلې نظریئی میدان ته را ایستلی دی چه تقریباً دلږی زمانی او مودی په اختلاف دهیرمند اراکوزی، سیستان او د اندوس د ښکتنی حوزی په علاقو کښې ئی سلطنت کړی دی په تیره بیا «ر پسن» (په کمبریج هستری آف اندیا) کښې په دی لاره کښې ډیر زیار ونه ګاللی دی مګر هر کاله چه دد غو مقصدو د روښانه کولو دپاره بیله مسکوکاتو او ځینو کوچنیو لیکنو او کتیبو نه بل مدرك په لاس کښې نشته. سره له ډیرو کوښښو نو چه په دغه باب کښې شوی دی بیاهم د(سیت او پارت) دپادشاهانو موضوع او ددوی روابط ترا وسه لا تیاره او نا معلوم دی او په ډیرو نو مدرکو کښې ترا وسه لا دوی د یوی شاهی کورنۍ جز ګڼل شوی دی مګر هغه شی چه څرګند دی دادی چه اسکائیان او پهلوایان تقریباً یو د بل معاصر او یا یو په بل پسې، د آریانا د جنوب غرب په دوو غاړو او څنډو کښې د سیستان د هیرمند په حوزه کښې او د ارغنداب او کښتنی اندوس په حوزو کښې سلطنت ته رسیدلي او دکابل پرځ وه ئی هم نفوذ وموند په پای کښې ئی په هند کښې هم فتوحات وکړل او تر یوی مودې پوری، دوی په خپله په مستقیم ډول او تر یوی ختمه پوری د دوی حکمرانانو د هند په مختلفو نقطو کښې حکمرانی کړی ده، په هر حال د دی د پاره چه مطالب د لوستونکو په ذهن کښې مغشوش نشی پاته نه شی د پارتیانو تر ذکر او یا دولونه وروسته به ترهغه ځایه پوری چه د آریانا په تاریخ پوری ئی اړه درلوده دا دی دلته د اسکائی پادشاهانو په یادو لو بیل کوو او د سیستان او اراکوزی مستقل پارتیان او پهلوایان به هم د دغه فصل په دریمه برخه کښې بیان کړو:

موئس (د(ق م ۷۲. کال ) هغه لومړنی اسکائي پاچا چه دارغنداب او کیتنی اندوس د حوزې په (کی پن ) کښې سلطنت ته رسید لی دی هغه پاچا دی چه مسکوکات د ی د (موئس ) په نامه یاد کړی دی د هغه مسی قاب په لیکنه کښې چه په تاګزیلا کښې پیدا شوی دی د (موګا دستر پاچا) په نامه یاد شوی دی .(۱)

د دې کتیبې تاریخ د پارتي د یوې میاشتي د نوم په یاد و لوسره (۷۸)کال دی ، مد قنینو د غه کال په شاؤ خوا کښې تحقیقات اوڅیړنې کړی دی چه ځینو هغه د (پارتي) کوم عهد او ځینو کوم (سیتی) عهد بللی او وائي چه مبدائي د ق م ۱۵۰ یعنې هغه کال دی چه دسیستان پارتیانو یادسیستا نا او قندهار پهلوا یا نود غربي پارتیا نو څخه ځان جلا کړا و د پهلوا مستقل سلطنت ئې جوړ کړ اوهر کله چه (۷۸ ) د ۱۵۰ څخه وباسونو ۷۲ پاتې کیږی چه د موئس دسلطنت له کالونو څخه یو کال دی .نو د هغه مسي پښتاب د کتیبې له رویه چه د تاګزیلا څخه لاس ته را غلی دی او د «موګا » « موئس » د نامه په یادولو سره یو مسنه هم لری او ددغې سنې دبیا نولو له مخې په پورتنی ترتیب سره معلو میږی چه موئس د اسکا ئیا ن لومړنی پاچا د ق م د ۷۲ کلونو په شاؤ خوا کښې سلطنت کاوه .

د فرانسې مشهورا و معروف سکه پیژندونکي (موګا ن ) نامي د( شرقي مسکوکاتو) دکتاب په ۳۷۴ مخ کښې(۲) پخپله موئس په هغه صورت کښې د تاګزیلاپارتي پاچا بولي چه د دې جماي په مقابل کښې سوالیه نخښه

---

(۱) ځینې لکه «ونسنت سامیت » موئس د پارتي مشراوا او رئیسا نوڅخه گڼي چه د و نونس معاصراود ق م د ۱۲۰ کال په شاؤ خوا کښې ئې په غربي پنجاب کښې د سلطنت بنسټ کښېښود

(۲)د شرقي مسکوکاتو رساله Manuel de numismatique Orientale

دوهم جلد دپاریس چاپ Fasciculell

اینبي وي ، نو په خپله نظر په کښي متر دد دی : هغه مطالب چه لومړی ورو یل شول د موئس په باب کښي صحیح ښکاره کیږي او اصلاً اسکا ئی پاچاؤ او دق م ۷۲ کال د دوه د سلطنت د کلاو نوښخه یو کال ؤ . هرکله چه موئس د مسکوکاتو په ضربولو کښي د ګندهارا د یونانی پادشاهانو د سکو تقلید کړی دی نو د دی مسئلې له رویه او د تاکزیلا د مسی پشقاب د کتیبې له مخی څرګندیږي چه موئس د (کی پن) څخه داند وس په اوږدو کښي د شرق خواته هم فتوحات کړی او په شرقي آریانا کښي ئی ګندهارا تر تاکزیلا پوری نیولی ده او په دغه دول د یونان او باختری پاچاهانو داولادی او احفادو ارتباط چه په کابل کښي ئې سلطنت داو د ذهنوی سره چه په شرقي پنجاب کښي ئی حکمرانی کوله پری کړی دی لکه چه د دی مسئلې حقیقت د ورئ (ازس Azes) او د (ازیلیزس Azilises) دده د جانشینانو د مسکوکاتو امر و په هم معلومیږي ځکه چه دوی نه یوازی د موئس د مسکوکاتو تقلید کړی دی چه پخپله ددی علاقی د یونان او باختری اولادی د مسکوکاتو له رویه تقلید شوی ؤ بلکه د هغو یونانی او باختری پادشاهانو د مسکوکاتو له رویه ئی هم ځینی شیان اخستی دی چه هلته ئې تر موئس د مخه سلطنت درلود او په تیره بیا هغه سکه زیات تقلید شوی ده چه کینی خواته ئې «اتنه پرومکوس Athene promachos » ضرب او وهل شوی ؤ او په شرقي پنجاب کښي د (اپولودوتس) او (مناندر) په کورنی پوری ئې اړه درلوده .

موئس تر هغه وخته پوری چه په (کی پن) دارغنداب او داند وس په منځ کښي حوزه کښي ئې سلطنت درلود د پاچا په نامه یادیده او پس له دی چه په پورتنیو فتوحاتو بریالی شو نو ځان ئې لوی پاچا بلکه (شهنشاه و باله دده مسکوکات په عمومی ډول د یونان او باختری پادشاهانو د مسکوکاتو له رویه په تیره د بیا د مناندر او اپولودوتس د مسکوکاتو له رویه تقلید او اخستل شوی دی چه نو موړی د باختر د مقتدر پاچا د متریوس له نامتو امیرانو څخه و او په شرقي پنجاب کښي ئی دیونان او باختری دولت له خوا ئې آمریت درلود (۱) فرانسوی واله دو پوسن دا نظر یه لری چه د شرقي پنجاب د یونانی پادشاهانو یعنی دد ی

---

(۱) هندمور یایانو ، بربریانو ، یونانیانو ، سیتیانو ، پارتیانو ، یوچیانو په عصر کښي د واله د وپوسن د تالیف ۶۷ ۲ مخ .

ACKU

علاقې دیونانانو باختری دوو دولتو دامیر انو دنفوذ لمن دموئس په لاس پای ته رسیدلې او ددوی داقتدارکمبله تولمشوی ده.

پروفیسرو یلسن تریوی موډی پوری فقط دموئس او هد وله مختلفی سکی پیژندلی او رومته بیاکپطان کننگهم دوه دولهنوری سکی هم وښودلی، مورگان (دشرق دمسکوکاتو درسالی) ددوهم جلدپه ۳۷٤ مخ کښی اوه دوله معروفی سکی سره له جزئیا تواو بوناني او خروشتی لیکنو بیانوی اوتعریف ئی کوی او ددوو دواو سکو تصویرئی چه یوئی مربع او بل ئی گردشکل لری ښودلی دی دکمبریج هستری آف انډیا لومړی جلد په آخرکښی د (۹) شکل په شپږمه او حه کی دمورگان دشرق دمسکوکاتو درسالی کت مټ همماغه مربعه سکه او په (۲) او (۱۲) شکل کښی دده ددوو نورو گردو سکو تصویرونه څرگند کړی دی او (وبت هد) دلاهور دپنجاب دموزیم دمسکوکاتو په کتلاگ کښی دده د۳۵ دو او سکو شرحه ورکړی ده چه خود وله به ئی د نمونی په ډول بیان کړو (۱)

(۱) د سپینوزرو گرد ه سکه: په ښی مخ ئی زوس په کین لاس کښی اوږده لکره ئی په کین لاس کښی نیولی او ښی خواته ئی د بانډ یدار تلی دی. په یونانی رسم الخط او ژبه دده نوم او لقب دسکی په گرچاپیره غاړو باند یداسی لیکل شوی دی: «بـازیلاو س بازیلون ملاوس مایوس» یعنی او ی شهنشاه موئس پاده ورآ»

د سکی تر شا د فتحی رب النوع «نیکه Nike» ښی خوا ته ولاړه ده او پورتنی مضمون د پراکریت په لهجه د را جا تی را جا سا مها تاسا موآ سا» او په خروشتی رسم الخط دریو خواؤ ته لیکل شوی دی

«۲» مسی گرد ه سکه: د سکی په یو مخ په گرچا پیره غاړو گرد او بیضوی شکارنه نقش شوی او په منځ کښی ئی د پیل سر په ښی نیم مخ داسی معلومیږی چه خلتم ئی هوا ته پورته کړی او نوشته نه لری

د سکی تر شا (کد وسس Caudeeus) یعنی د وو ما را نو یودبله سره یوه کړی جوړه

---

(۱) ۹۸ مخ Catalogue of coins in the panjab museum Lahore by. R.B Whitehead

کړی او حلقه شوی دی او په عمومی صورت په یونانی ژبه او رسم الخط (بازیلوس ما یوس) یعنی «موئس» لیکل شوی دی

«۳» مسی گرده سکه: د سکی پر مخ ارتمیس Artemis په ښی لاس کې غشی او ګینی لاس ته لیندۍ ولاړ دی چه د صورت شا وخوا ته ئی د ربړا شپول معلومیږی د یونانی نوشتی او لیک مضمون ئی داوی چه سکی په شا ندی د سکی ترشا کو پان (کوهان) لرونکی غوئی مخ په کینی خوا ولاړ دی او خروشتی لیکل شوی مضمون ئی د لومړی لمبر سکی په شان دی

(٤) څلور کونجه « مربعه» مسی سکه: د سکی پر مخ د سپو ږمی ربة النوع د هغو د وو ستورو د شکاو تر منځ مخامخ ولاړه ده چه د تز ئینا تو او وښیا یست په ډول استعمال شوی دی او یونانی مضمون په دریو خواو یعنی د سکی په کینه او ښی خوا او په سکه پاندی لیکل شوی دی چه عبارت ئی دادی: (باز یلو س بازیلیو ن ملاا و س ما یو س) یعنی خو را لوی شهنشاه موئس.

د سکی ترشا (نیکه) یعنی د فتح د رب النوع تصویر د څپاو زر ونو سره په کینه او ښی لاس کیږی هغه خروشتی نوشته چه د سکی په دری راړو خوا و کښی لیکل شوی ده داسی ده: (زا جسا تی را جسا سا مهانا سا سو آ سا) یعنی لوی شهنشاه (موئس)

. لکه چه د مسکوکا تو ذکر شو لنډه ویل کیږی چه موئس لومړنی کوم دی چه ورو سته به ئی د ګورو بوازی د سپینو زرو او مسو سکه ضرب کړی ده او د سرو زرو مسکوکات ئی سکی نه لری.

ازس Azes (د ۵۸ ق م کال په شاوخوا کښی): ازس داسکائیا نو دوهم مشهور پاچو چه د نامه له رویه د (ازی Asi) یا ازی یونی Asioni) قبیلی ته ورته دی او د داسکائی قبیلو څخه یو قبیله ده چه دباختر نه د یونانو او باختری پاد شاهانو په لاس کښی د نورو سیتی قبیلو سره متحده او لاس ئی سره یو و.

ازس د اسکائیا نو د خو ا نو یو شهنشا ها نو لو یا د شا ها نو څخه دی چه د (کنی پمن) څخه تر شرقی پنجاب او گند هارا پوری ئی حکومت کړی دی. په عمومی

د دول د مدققینو دا نظریه ده چه د اسکائی سلطنت ساحه او قلمرو د موئس د عصر په نسبت د ازس د زمامدارۍ په عصر کښې خورا پراخ شوی و ده په خپلو مسکوکاتو کښې د موئس او د یونانو باختری امیرانو لکه مناندر او (اپولودوتس) د باختر د پاچا د دمتریوس د اولادو څخه چه په شرقی پنجاب کښې ئې سلطنت کاوه پیروی او تقلید کړی دی په تیره بیا د (اتنه پروهاکوس) هیکل ئې چه د دی کورنۍ خاصی او ستاونکی رب النوع وه پخپلو مسکوکاتو باندی ضرب کړی دی، نو په دی کښې هیڅ شک نشته چه د خپل د مخنی او پخوانی پاچا موئس نامی په شان ده هم په شرقی پنجاب نفوذ او حاکمیت درلود.

د ازس د مسکوکاتو شمیر او انواع ډېره زیات دی چه مدققین ئې په راز راز تبصرو مجبور کړی دی، ځینی وائی چه دوه (ازس) یعنی اومړی او دوهم ازس ؤ او ځینی نور وائی چه دوه ازس نومی تقریباً سره معاصر و چه یو د ارغنداب او اراکوزی په حوزه کښې د پهلوا د کورنۍ (اسپالر یزس) د نائب السلطنه په حیث او بل (ازس) چه تر موئس وروسته پاچا شوی او د سلطنت حوزه ئې زیاتره شرقی پنجاب او گندهارا و سره بیره په دی یو بل شی چه د دوو ازس نومو په وجود باندی دلالت کوی د (ازس) او (ازیلزس) د نومو اشتراک او گډون دی چه به یو شمیر مسکوکاتو کښې په لاندی ډول لیدل شوی دی:

اومړی یو ډول مسکوکات دی چه د (ازس) نوم په یونانی لیکنه او د ازیلیزس نوم په خروشتی لیکنه د سکی پرمخ او کینی خوا باندی ضرب شوی دی دوهم یو بل ډول سکه شته چه په هغی کښې د نومو ترتیب معکوس دی یعنی د (ازیلزوس) نوم په یونانی لیکنه کښې د سکی پرمخ او د (آیاسا) یعنی ازس په خروشتی رسم الخط کښې د سکی پرشا باندی ضرب شوی دی، مستر (و نسنت سمیت) د دغو مسکوکاتو له رویه وائی چه ازیلزس د مخه تر دی چه په مستقل ډول پر شاهی تخت باندی

کښېنې د ازس نامی مطبع نائب السلطنه ؤ او ازس نامی هم د (ازیلیزس) مطبع نایب السلطنه و چه په دې ډول داد وه ازس پوسرې نه وا و هرومرود غه دوه تنه ازس نومی پاچاهي ته رسېدلی دی، مستر ونسنت سمیت دا هم وائی هغه مسکوکات چه یوازی د ازس په نامه ضرب شوي دي او شمیر ئی خورا ډېر دی په دوو ژبو لګیو مشتمل دي، یوه هغه ده چه د هغو په ضرب کښې کوښښ شوی دی او د یونانی رسم الخط مضمون ئی ښه دی، او بله هغه ده چه یونانی ایك ئی ښه نه دی او بلکه په مضمون کښې ئی ځینې تغیرات پیښ شوی دی نود و هم ازس چه د مخه مو د دوه وجود ته اشاره وکړه، د لومړی ازس نمسی او د ازیلیزس زوی ؤ چه تر لومړی ازس وروسته پاچا شوی دی او وروسته به ورځنی بحثاو څېړنه وکړو، دا هم باید وویل شی چه ځینې د دوو ازس نومو پرځای دوه لومړی او دوهم ازیلزس منی، مګر د دی نظریـــی طرفداران لږ دی، د ازس د مسکوکاتو انواع خورا زیات دی او (وایتهد) د لاهور د پنجاب د موزیم د مسکوکاتو په کتاب کښې د ۲۷ ډوله مسکوکاتو شرحاو بیان کړی دی، نوموړی د موږ ته په شان طلائی (د سرو زرو) سکه نه لری او څه چه دی هغه ټول د سپینو زرو او مسو څخه دی، د ده مسکوکات په یونانی پراکریتی د دوو ژبو او په یونانی او خروشتی د دوو رسم الخطو لیك او نوښته لری او لیك ئی عموماً په ښه، شان سره لوستل کیږی، د ازس تقریباً په ټولو مسکوکاتو کښې یو ډول عنوان ځان ته غوره کړی دی چه د (بازیلوس بازیلون ملا اوس ازوه) څخه عبارت دی او معنی ئی (د ازس لوی شهنشاه) دی د دی عنوان مرادف او د ده د مسکوکو تر شا مضمون په پراکریتاو خروشتی رسم الخط داسی لیکل شوی دی (بهارا جاسا راجارا جاسا مهاتاسا ایاسا) چه معنی ئی په پورتنی شرحی سره ده، د مخه مو وویل چه د ازس نوم په مسکوکاتو کښې یو د پهلوا دکورنی د (اسپالیریزس) سره ضرب شوی دی او بل د (ازیلیزس) سره چه ښائی د ده زوی او جانشین او یا څه ناڅه یوازی جانشین ئی وی، دا مسئله بیله ده چه د وړه وویل شی تر اوسه لا ثابته شوی نه ده چه دوه ازس یو د ارغنداب په حوزه کښې

دا سپسا لیسریز س نائب السلطنه ؤ او بل په غربی پنجاب او گندهارا کښی د موئس جانشین ؤ. هغه شی چه دلته ئی د نتیجی په ډول را ایستلای شو دادی چه (ازس) د مدغه اسکائی ازس د موئس جانشین یا داز یلیزس جانشین ؤ چه ورو سته بیا پاچا شو د مملکت په چارو کښی شریك ؤ او دا موضوع د ځینو هغو مسکوکاتو له رویه ځرګندیږی چه د دری د وارو له خوا په ګډه ضرب شوی دی او د وارو په هغو کښی د لوی شهنشاه عنوان غوره کړی دی مګر سره له دی په خپل شاهانه شریك یا ندی دازس د مقام لوړوالی او اهمیت معلومیږی ځکه چه د سکی په مخ باندی ئی خپل یونانی لیك نوشته کړی دی او د سکې پر شا مخ باندی داز یلیزس نوم په پراکریت او خروشتی رسم الخط ضرب شوی دی طبیعی ده چه دا نتیجه لوړی ازس ته راجع ده ځکه چه د دوهم ازس په باب کښی مسئله معکوسه ده یعنی د سکی مخ او یونانی رسم الخط «از یلیزس» نیولی دی او داز س نوم چه «دوهم ازس» بلل کیږی د سکی تر شا لیکل شوی دی، داز س د مسکوکاتو د ځینو نمونو شرحه دا ده:

(۱) سپینو زرو ګرده سکه: د سکی پر مخ پاچا په داسی حالت معلومیږی چه تاج ئی په سر او په آس باندی سپور دی او ښی نیم مخ ئی ښکاره کیږی. چه یو نیزه هم په لاس کښی لری یونانی مضمون ئی دادی «بازیلوس بازیلون ملااوس ازوس» (ازس لوی شهنشاه) د سکی تر شا زوس مخ ترکیبی خوا ولاړ دی او اوږده امسائی په لاس کښی نیولی او ښی مټ ئی د باندی را وتلی دی پراکریتی مضمون ئی په خروشتی رسم الخط سره دادی:

( مهاراجاسا، راجا، راجاسا، مهاتاسا؛ ایاسا) یعنی ( ازس لوی شهنشاه

(۲) مسی ګرده سکه: د سکی پر مخ پاچا پر توشك یا قالینچې باندی چارزانو ناست دی او مخ ئی کینی خواته ګرز ولی دی او توره یا ګرز ئی پر زنګنو باندی ایښی ده، ښی مټ ئی د باندی را وتلی دی د یونانی لیك مضمون ئی د لوړی سکی په شان دی.

د سکی تر شا هرمس Hermes کینی خوا ته د تنګ په حال کښی دی او هغه لکړه چه د دوو مارانو د تاوراتاو کیدو څخه جوړه شوی ده په لاس کښی لری د پراکریت

ACKU

د لیک مضمون په خروشتي رسم الخط دا ول مېری نمري په شان دی

ازیلیزس (دق م د ۴۰ ـ څخه تر ۴۵ کلونو په شاوخوا کښي):

ازیلیزس لکه چه په پورتنیو کرښو او څېړنو کښي وویل شو د مخه تر دي چه د سلطنت په تخت کښېني دا زس سره په مملکتي چارو کښي شریك ؤ، مورګان دی د سوالیني په علاوه د لومړی ازس زوی بللی دی او د لومړی ازس په ځای د ده په جلوس کښي کوم تر دېره نه لري او د ده د سلطنت عصر د ق م د ۴۰ څخه تر ۴۵ کلو په شاوخوا کښي ګڼي (۱)

ریپسن لیکي (۲): د مسکوکاتو د شهادت له رویه معلومېږي چه (ازیلیزس) پس له دی چه خپلواك شهنشاه په ډول هم وپېژندل شو، پوازس نامي سړی سره د مملکت د چارو په اداره کښي شریك ؤ په دی ډول د سلطنت تر اعلان د مخه او وروسته دا زس نام سره د مملکت په چارو کښي شریك ؤ پوازي دومره توپیر لري چه د شهنشاهي تر اعلان د مخه د مسکوکاتو ترشا او د شهنشاهي د اعلان تر تاریخ نه وروسته د مسکوکاتو پرمخ ئي نوم لیکل شوی دی او ښائي چه لومړی ازس پلار او دوهم ازس ئي زوی وی او هرکله چه دا زس په نامه مسکوکات د شمېر او اقسامو په لحاظ ډېر زیات دی نو هرومرو مغه بل ازس چه دوهم ازس ئي بایدو بولو هم دد ې کورني څخه پیدا شوی دی لکه چه دغه مطالب دا زس تر عنوان لاندي هم وویل شول نو څرنګه چه مسکوکات شاهدی وائی دا زیلیزس څه دده نود و و پاچاها نو د زمامداری د دوری تر منځ پیښ شوی دی چه دواړه (ازس) نومېدل او ښائي چه یو ئي پلار او بل ئي زوی وی د یو ازس سره پخپله د سکي ترشا یاد شوی او د بل ازس سره دا زس نوم د سکي ترشا راغلی وی، د ده مسکوکات د ده د کورني د پخوانیو پاد شاهانو په شان ټول مسی او د سپینو زرو دی او د سرو زرو مسکوکات نه لري د ده د مسکوکاتو انواع ډېر زیات او ترڅو پښتو د واوبوري د لاهور د پنجاب د موزیم په کتلاك کښي شرح او بیان شوی دی.

ACKU

---

(۱) د شرقي مسکوکاتو رسالہ ۷۷۳ مخ (۲) د کمبرېج هستری آف انډیا لومړی جلد د ی وکتل شي

او هر کله چه لومړی د ازس سره مشترك او وروسته یې بیا یوازې سکه وهلې وه نو څو مختلفې نمونې به ئې وخیړو.

۱) د ازس او ازیلیزس مشترکه سکه د سپینو زرو ګرده سکه: د سکې پر مخ پادشاه په بنې نیم مخ باندې پر آس سپور او نیزه ئې په لاس کښې نیولې ده د یوناني لیك مضمون ئې داد ی:

(بازیلوس بازیلون ملالاوس ازوس) یعنې (ازس لوی شهنشاه) د سکې پر شا یوه رب النوع مخ پر کیڼې خوا ولاړه ده او په ښې لاس کښې ئې شعله او په کیڼ لاس کښې ئې د خرما د پاڼې یو ښاخ نیولی دی چه په نوار سره تړل شوی دی د خروشتي لیك مضمون داد ی:

(مها راجاسا راجاسا مها تاسا اأ ئي لي زاسا) یعنې (ازیلیزس لوی شهنشاه) لکه چه لیدل کیږي د دې سکې تر شا په خروشتي رسم الخط د (ازیلیزس) نوم لیکل شوی دی مګر عنوان ئې د ازس پاچا په شان (لوی شهنشاه) دی چه د سکې پر مخ لیدل کیږي.

د اسې سکې هم لیدلې شوې دي چه د هغو په مخ باندې په یوناني لیك کښې د (ازوس) یعنې د ازس په ځای (ازیلیزوس) یعنې ازیلیزس لیکل شوی دی او د سکې تر شا په خروشتي رسم الخط (ایاسا) یعنې د ازس په عوض (ائي لي زاسا) یعنې ازیلیزس یاد شوی دی او د دغو مونو د محل د ترتیب له رویه د یورتي یادې شوې سکې برعکس ده (۱)

۲) د ازیلیزس سکه چه یوازې د سپینو زرو ګرده ده:

د سکې پر مخ پاچا پر آس سپور او مخ ئې پر ښې خوا معلومیږي؛ په ښې لاس کښې ئې نیزه او تر شا ئې یوه لینده ښکاریږي، د یوناني لیك مضمون داد ی (بازیلوس بازیلون ملالاوس ازیلیزوس) یعنې (ازیلیزس لوی شهنشاه) د سکې تر شا زوس په ښې نیم

(۱) د پنجاب، لاهور او اکسفورد موزیم د مسکوکاتو د کتاب ۱۳۲ مخ ۱۹۱٤ کال د کلارندون طبع دې وکتله شي.

ACKU

مخ ولاړ دی او په کښې لاس کښې ئې جگه امسا نیولی او ښی لاس ئې د باندی را وتلی دی ، د خروشتی لیك مضمون ئې دا دی (مهارا جا سا را جـا تی را جاسا مها تا سا ائی لی زا سا ) یعنی ( از یلزس لوی شهنشاه .

( ۳ـمسی مربعه سکه : دسکې پر مخ پا چا پر آس سپور او په ښی لاس کښې ئې نیزه نیولی ده ، پورتا نی لیك ئې د (۲) نمبر سکی په شان دی دسکې تر شا یو غړ یی په کېن نیم مخ لیدل کیږی دسکې په څو ورو ا ړو غاړ و کښی د پراکریت مضمون د ( ۲) نمری د شرحی سره سم ضرب شوی دی .

## د دریمه برخه

### پهلوایان:

د دغه فصل په لومړي برخه کښې مونږ پارتیا او پارتیانو د دوی اصلیت ، د پارتي سلطنت ، مؤسس ، او د دوی پادشاهانو هغه وخته پوري چه د تاریخ او جغرافیا له نقطې نظره څخه د آریانا د جغرافیائي او تاریخي څو کاټ جز و بیان کړل په دو همه برخه کښې مو یو څه لږ په پښه چه د افغانستان د هغه وخت په تاریخ کښې ئې خورا زیات اهمیت درلود او د آریانا د تاریخ په صحنه کښې د اسکائي تو او د ځرگندیدو څخه عبارت دي سره له هغه رو له چه د سیاسي او سلطنتي نظام د تشکیلاتو او عرق له نقطې نظره څخه د غربي پارتیانو او دیونانو او باختري دولت په مقابل کښې ئې د هندوکش په شمالي برخو او کاپیسا او د اندوس نه په هغې خوا منحصر فاتحو کښې لوبولي ولکه چه په دو همه برخه کښې و ویل شول او س غواړو چه څو کلمې د پهلوایانو په شاو خوا کښې ووایو.

پهلوایان په حقیقت کښې بیله پارتیانو نه بل څوک نه دي دا هغه پارتیان دي چه د آریانا په غربي څنډه کښې د هیرمند په حوزه او زرنج سیستان کښې خپاره شوي وو او هغه وخت چه اسکائیان سکستانا (سجستان یا سیستان) ته را غلل د هغوی سره یې گډ شول او هم د غه گډ عنصر ته څینې سیت او پارت او څینې پهلوا وائي لکه چه د دې فصل په لومړي برخه کښې و لیدل شول هر کله چه ارمنیانو په عمومي ډول پارتیانو ته پهل ویل نو له دې سببه هم د (پهلوا) د کلمې استعمال د دوی په باب کښې بې مناسبه نه دی مگر مدققینو دا کلمه د سیستان او د هیرمند او ارکوزي د هغه ځای پارتیانو په باب کښې د هغه وخته څخه استعمال کړې ده چه د پارت د دولت مرکز د دجلې غاړې ته منتقل شوي و او دا فغانستان د جنوب غربي برخو پارتیانو د تازه راغلو اسکائیانو په گډون د یوه مستقل سلطنت په جوړولو لاس پورې کړ د اسکائیانو سره د غه گډون او یو ځای کیدو لکه چه د دې فصل په دو همه برخه کښې هم و ویل شول د مملکت داري او سلطنت په چارو او عرق او ژبه کښې دوه مرموزیات و چه تر ننه پوري په صحیح او قناعت بښونکي صورت د پهلوایانو سره د سیستان او ارکوزي د پهلوا کو اسکائیانو او پارتیانو موضوع حل شوې نه ده څینو له دوی څخه یو اسکائي سلطنتي کورنۍ او د پارتي یا پهلوا یوه سلطنتي کورنۍ مینځ ته را ایستلې ده چه د هند په خاوره کښې د فتوحاتو او نفوذ له کبله مدققینو دوی د هندو سیت او هندو پارت په نامه هم

ACKU

بالي دي او څېنو بيا هندو پارتيان يا پهلو ايان پر دوو برخو ويشلي دي چه يوه برخه ئې د (وندو فرنس) جانشينان او اولادونه او بله برخه ئې د (گندوفارس) جانشينان او اولادونه څېنو ددوی داولادي دادوی سلسلې د هندو پارت يا پهلوايانو د پاچاهانو په ډله کښې شمېرلي دي او څېنو نورو د هندو سيت يا داسکائيانو او هندو پارت يا پهلوايانو ترل پادشاهان سره گډ کړي او يوه سلطنتي کورنۍ ئې ورڅخه تشکيله کړي ده لکه چه موسيو سياون لوی (۱) وائي که څه هم ددوی پادشاهانو نومونه څېر شونو د (وندو فرنس، ازس، ازيليزس، گندوفارس، پاکوريس) او داسې نور په عمومي ډول د هغو د تشکل او جوړښت صورت او هغه ل پارتي دي او نومونه ئې داسې جوړ شوي دي چه خپل هم نژاد پاچاهانو د هغوی د تمام ارتباط يادخپلوی درجه ورڅخه معلومېږي لکه اسپالاهورس Sbalahores چه څان په يوناني او پراکريت کښې د (ادلفوتو بازيلوس او (مهاراجابراتا) په عنوان يادي او معني ئې د دلوی پاچا ورور »کېږي؛ سپالاگاداميس (Spalagadames) ځان د (سپالاهورس) زوی گڼلی دی، او (ابداگازس Abdagases) په يوناني او پراکريت کښې ځان د (اندی فرو ادلفي دوس) او (گدافارا براتا پوترا سا) په لقب يعني (دگند وفارنس ورار ه) يادکړی دی (۲)

په هر حال هغه شی چه په ښکاره ډول ئې ويلای شو دادی چه داسکائيانو او پهلوايانو د سلطنتي او سياسي تشکيلاتو مبدأ او د جنبش او غليان کانون هم دغه سکستانا يعني سيستان او اراکوزی (دارغنداب حوزه) وه او له دغه ځای څخه دهغوی دننو ذلمن او مری داندوس کښتني حوزی ته او بيا داندوس په ارز دو کښې شرقي گندهارا او غربي پنجاب ته خپاره شوه او دکاپيسا ديونان او باختري کوچني سلطنت دگوتي دغمي په شان د غرو په منځ کښې محدود شوی دی مدره له دی چه داسکائيانو یاد (هند وسيتيانو) او پهلوايانو یاد (هند وپارتيانو) موضوع دومره سره گډه ده چه عموماً د دقيقو تمايل دي خوانه دی چه د ماوس داسکائي کورنۍ ، ؤسس او وندو فرنس دپهلو اد کورنۍ سرحلقه دوه

---

(۱) مدنيت بخشه هند ۱۹۳۳ پاريس Linde Civilisatrice

(۲) د رليهاد سيدې ليزاتر پس د کتاب د پهلوی لوی دناليف ۱۱٦ مخ.

جلا جلا کسان دي چې موئس او ونونس د اسکائيانو او پهلوايانو دوه مشران او پاچاهان ګڼل شوي دي، تقريباً په دې وخت (د ۱۲۰ ق م کال په شاوخوا کښې) يو په پنجاب کښې او بل په سکستان او اراکوزي (سيستان او قندهار) کښې پاچا شوي دي مګر د مدققينو د بيانات تمايل دې خوا ته دی چې د اسکائيانو او پهلوايانو د سلطنتي تشکيلاتو لومړنی مرکز د آريانا په جنوب غربي خاوره کښې وو او لکه چې ديو تاريخي طبيعي سير په شان څېنې دولتونه د آريانا په خاوره کښې تشکيل او د هند په خاوره کښې د دې ځايو سره د افغاني دولتو د کشورداري مرکز هغې خوا ته انتقال وکړ، اسکائيانو هم په (کي پن) د ارغنداب په حوزه او د غربي جدروزيا په يوه برخه کښې د سلطنت په تشکيل پيل وکړ او په فتوحاتو سره آخر د دوی د مملکت داري مرکز پنجاب ته نقل شوی دی او پهلوا په هغوی پسې په سيستان او اراکوزي کښې د حکومت بنسټ کښېښود لکه چې وائي پس له دې چې په موئس او ازس او ازيليزس سلطنت ته ورسيدل سره له دې چې په پنجاب کښې ئې سلطنت کاوه او (ونونس) د پارتيانو يو رئيس په سيستان او اراکوزي کښې د يوه مستقل سلطنت په تشکيل او لاس پورې کړ چه څېنې هغه د هند و پارت د دولت بولي او څېنې ئې پهلوايان دي او موږ ئې د خپل مملکت په تاريخ کښې د پهلوا د مستقل دولت په نامه بولو، د مخه مو وويل چې څېنو همدغه پهلوايان پر دوو برخو ويشلي دي. يعنې د ونونس او د ده د څو کسو جانشينانو نه وروسته ګندوفارنس ئې د يوې جلا سلطنتي کورنۍ موسس او سرحلقه ګڼلی دی، بلکه همدغه ګندوفارنس او جانشينان ئې لکه ابداګارنس، اورتاګنس، پاکورس او داسې نور تر موئس او ازس او ازيليزس نه وروسته يعنې اسکائي کورنۍ ئې بولي (۱) مګر هرکله چې د ګندوفارنس لومړی سکه په ۱۸۳٤ کال کې لومړی وار د افغانستان په خاوره کښې پيدا شوه (۲) د ده او د ده د جانشينانو سکې عموماً د ارغنداب له حوزې څخه پيدا کېږي، نو هيڅ شک نشته چه د ګندوفارنس

---

(۱) د لاهور پنجاب د موزيم د مسکوکاتو د کتلاک ٤۹ مخ د غ، کتاب د (وايت هډ) تاليف دی، د کپتان کننګهم نظر په هم دغسې ده. (۲) دا سکه د مسن نامي انګليس له خوا پيدا شوې ده.

او دده دجالشینانو دمملکت دارمهٔ کانون ارا کوزی ؤاوو روسته داسکائیا نو په شان له دغه ځای څخه ئې دسند په حوزه کې فتوحات وکړل او داوسنی کابل او غزنی له لاری ئې دکابیسا خوا ته پرمخ تګونه او پیشرفت کړی دی. او دکاپیسا د یونان او باختری دولت دوروستنی پاچا یعنی هرمایوس سلطنت ته ئې هم خاتمه ورکړې ده:

په هرحال لکه چه لیدل کیږی هغه تیارې چه مونږ دمملکت دهغې زمانی تاریخ ئې پټ کړی دی او ژور نه دی نو له دی هیله لرو په هغه ویش سره چه په دی فصل کښی شوی دی مهم مطالب او اساسی خطوط داوستونکو په ذهن کښی مغشوش پاتی نه شی د اراکوزی او سیستان دپهلوانو ورنی مستقل پادشاهان داسکائی پادشاهانو په شان دهسو او سپینو زرو سکی لری او دسرو زرو سکی نه لری، یونانی ژبه او رسم الخط چه دیونان او باختری پادشاهانو سره په ټول مملکت او دهند په منصرفه خاورو کښی خپور شوی ؤ دهغوی په مسکوکاتو دار التحریر او دربار کښی باب او مروج ؤ او دخپلو سکو تر شائی محلی رسم الخط یعنی خروشتی رسم الخط او دپراکریت ژبه استعمالوله، دمخه موو ویل چه اسکائیانو او بیا پهلوایانو هم بو دهند په خاورو کښی فتوحات وکړل او ځینی حکمرانان ئې وټاکل چه: هغوی څخه به ددی برخی په آخر کښی وغږیږو سمدستی دمخه تردی چه دپهلو او پادشاهانو دنومو په یادولو پیل وکړو دشامدو وکړو یونانیانو په چشم دیدلند بیان شروع کړو چه دغه نومونه (اپولونیوس Apollenius) او د امی Damis نومیدل او دمسیحی (٤٠) کال په شاوخوا کښی زمونږ مملکت ته راغلی او له دی ځای څخه هند ته تللی وو او داپیښه په هغه وخت کښی شوی وه چه په هند کښی (فراوتس) یعنی (فرهاد) نامی دپارتی پهلو اپاچا یا امیر سلطنت درلود. موسیو سیلون لوی لیکی چه اپولونیوس دمسیحی ٤٠ کال په شاوخوا کښی د برهمنیانو د مملکت دسیاحت په عزم راووت او (وردانس Vardanes) دبابل پاچا دده دسپرلی او حمل و نقل دپاره ځینی آسونه ورکړل. اپولونیوس لیکی چه (د بابله څخه تر دریوو ر ځو لاری پوری او به نه شته بیانو او به او چینی او داسی ځایونه چه چینی پکښی دی زیاتیږی او تر دی وروسته دقفقاز دغرو له منځه (یعنی هندی قفقاز څخه چه دهندوکش څخه عبارت دی)

ACKU

تیرشو ، دامملـکت دژوند انه تول لو ازم لوز موند سره دوستانه روابط لری )سیلون لوی په داسی حال کښی چه داپولو نیوس دلیکنی د متن دابرخه ورکوی پخپله وائی چه: په بله ژبه دپارت(غربی پارتیان )له خاوری څخه د هند وپارت( پهلوآیانو) خاوروته ننوتل چه دهند او ایران ترمنځ غربی منطقی ئی نیولی وی د هندی قفقاز یعنی پاروپامیزیادهندوکشه څخه تیرشول او دکوفن له سیند(دکابل سیند)څخه دتیریدلو نه وروسته داند وس سیندته ورسیدل(۱) یونانی سیاحان هغه وخت چه تاکشاسیلا (تاکزیلا)ته ورسیدل یوامیر دفراالوتس (فرهاد)په نامه هلته حکومت کاوه او (۲۱) کلن زلمی وُاو دشام دیونانیانو سره ئی په یونانی ژبه خبری کولی دفلسفی اوسپورتی لوبو سره ئی مینه درلوده . داسی ی دسیستان او اراکوزی د پهلوادمستقلو پادشاهانو دپارتی امیرنو انموِ نه وه.

ونونس Vonones : (د۱۲۰ ق م کال په شا وخوا کښی )معمولاً داراکوزی او سیستان یاپهلوادپارتیانودمستقلی کورنی موسس هغه څوک کښی چه ونونس یا(وزون) نومیده ، نوموړی دعرق له رویه یاخالص پارتی او یاد(ساك او پارت )له ګډعنصرڅخه وُ اودغرب دیو پارتی پاچا له خوائی دسیستان په علاقه کښی حکمرانی کوله ، هرکله چه پارتی (اورودس Orodes) دپارت ددولت پای تخت ددجلی غاړی(استیزیفون)ته منتقل کړ د پارتیا نو نفوذدهغوخاوروڅخه چه دآریاناپوری ئی اړه درلوده لږشو او په دی سبب څوموده وروسته «ونونس» او محلی پاوتی نورزئیسان دیو مستقل سلطنت د تشکیل په فکر کښی شول او دا کارد « ونونس » په اقتدا ماتو عملی شو (رپسن) په کمبریج هستری آف اندیا کښی لیکی په هما غه زمانه کښی چه د اسکائیانو دریو لسو مشریو پاچاهانو خپله امپراطوری په هند کښی تینګوله«ونونس»دلوی شهنشاه په نامه په سیستان اوقندهارکښی سلطنت کاوه ، او هرکله چه لومړی مهر دادپه خپلو فتوحاتو سره داعلاقی په دخپل قلمرو جزګرز ولی وی رپسن داعقیده لری چه ونونس تردو هم مهر دادنه وروسته په(۸۸–۱۲۳ق م)کښی پاچاشوی وُ

(۱)مدنیت بخشه هند دکتاب ۱۱۱ مخ دغه کتاب د L'ndeci Vilisatrices سیاون لوی تالیف دی

پسله دی مسئله کښی ځینې حقایق پټ دی ، د متری داتس یا د دوهم مهرداد په وخت کښی دیوی خوا اسکا ثیان د هری رود له حوزی څخه د جنوب خواته ساکستانا (سیستان) ته راغلل او دبلی خوا خو د دوه وروسته پارتیانو خپل مرکز د د جاپی غاړی ته یووړ ، سیستان ته دا تګ ثیاو راتګ او د محلی پارتیانو سره د مغو یی ګډون او خلطیدل د د جلی غاړی ته دغربی پارنی دولت د انتقال په سلسله کښی بی تاثیره نه و او په هر حال ترمتری داتس (دوهم مهرداد) نه وروسته د پارتی دوه دری نور پادشاهان دومره شهرت نه لری او ویلای شو چه د دوهم متری داتس نه وروسته د چار وجریان دیو نوی دولت په تشکیل په ساکستانا او اراکوزی کښی مساعد کړی ؤ څو موده وروسته د ۱۲۰ ق م کال په شا ؤ خوا کښی دغه کاردونونس په لاس سرته ورسید. په سکوکښی د (وونونس) نوم دیوه شمیر نورو شهزادګانو او امیرانو سره یو ځای د ی یعنی د ده د سکو تر شاد ځینو نورو امیرانو نومونه لیکل شوی د ی لکه (اسپا لاهورا Spalahora) او اسپالا ګاداما (spalagadama) او داسی نور د وونونس د سکوکانو په مخ ربکښی د وه خروشتی او یونانی رسم الخط ونه استعمال شوی د ی ، د ده د نوم تلفظ په خروشتی رسم الخط کښی (وونونس) دی د سکو د کینی خواپه خروشتی رسم الخط کښی دد ه ځینو وروڼو او خپلوانو نومونه لکه اسپا لاهورا (اسپالا هورس) او اسپا لا ګادا ما Spalagadames هم ا خیستل شوی د ی

هغه تحقیقات او څیړ نی چه په دغو سکو کښی شوی دی حکم کوی چه دغه دوه وروستنی یاد شوی سړی دده تابعین و واو دا مسئله د سکی په مخ دیو نانی لیک له مخی معلومیږی څکه چه (وونونس) د (بازیلوس بازیلوان ملااو س و ونونس) په عنوان یعنی د (لوی شهنشاه) په نامه یاد شوی دی . حال دا چه اسپا لاهورا یو اځی د با چا ورور او (اسپا لاګادا ما) د وروستنی سړی زوی یاد شوی د ی ، په یوه مسی څلورکونجه یونانی مربع شکله سکه کښی د (اسپا لاهورا سا) نوم د (اسپا لی ریوس) په ډول راغلی د ی .

پرته له دی ځینی نوری سکی هم شته چه په هغو کښی (اسپالی ریزا Spalirisa) نامی د (باچاد ورور) په حیث سکه وهلی او په یونانی رسم الخط کښی ئی خپله سکه د با زیلوس اد لفوس اسپا لی ریزوس) یعنی (د اسپا لی ریزوس ورور) پا چا بلل شوی دی او کټ مټ دغه مضمون په خروشتی رسم الخط کښی (مهاراجا برا تا ذهر امیا اسپالی ریزاما)

ACKU

واغـلي دي چه تر جمه ئې (داسپالي ري ز وس پاچاه وروړ سکه) کیږي ۰ سر بيره په دې ځيني نور مسکوکات هم شته چه دهغو له مخې ( اسپالي ري ز Spalirisal) بيا ده دی چه دچاسره دخپلوی مدار تباط و تاکی پاچا و۰

د(اسپالي ري زا) سکي په تيره بيالو مري ډياده شوی دله دکتاب او ليدلو، ړد ه ځکه هغه پاچا چه په هغو کښې ځا ن دهغه و رو ر او ډ ته منسو بوی بيله ، ونو نس ، نه چه دهغه په باب کښې ځير نه کوو بل ځو ك نه دی او معلو ميږ ی چه (اسپالي ر ی زا) د(اسپالا هو ر ا) ځخه جلا د( ونو نس) بـل وروړ دی او ددغ ـو د وو ورو نو تر وفات وروسته ژ وند ی وا و تر ونو نس نه وروسته پاچا شوی د ی۰

لـکه چه مو پورته وو بل ، ونو نس ، د (پار تی )پا د شاها نـو پر خـلاف چه د د ی فـضـل پـــه لـــو ـــړ ی ډبـــر خـــه کـــښې بـيا ن شـــو د افغا نستان پر ا کریتي ا ويونا ني ژبو او په خروشتي او يو نا ني رسم الخط ئي سکه و هلي ده ... ددهه او لا دې او خپلوانو دا ر و یه تعقیب کړ ی ده او داهغه با رزه ر و یه ده چه د ا ر ا کوزی ا و سیستان د پهلوا یا نو مستقله کور نی ړ دغر بـی پـار تیا نو لـه کو رنیو ځخه جلا کو ی.

لکه چه و کتل شول ، ونو نس ، خپل ځا ن ، شا هنشا ، وبا له او خپلو ورونو او وز یر و نو ته ئې نوی مقامو نه د مـملکت د اره په چارو کښې ور کول ؛ لوئی ځمکې ئې د تیول (تیول هغو ځمکو ته وا ئي چه مالیات او عائدات ئې بل چا ته ور کړی شوی وی) پـه ډ ول دوی ته تسلیمولې او دسکې دوهلو حق ئې دوی ته ور کاوه ؛ لکه چه وو لیدل دسلطان ښوو ورو نو په منکا ر ه ډول دپاچا سره دخپلي وروره ذنسبت دمتکاره کولو له کبله سکې ضرب کړ ی د ی :

دده مسکوکات د ، د متر یوص ، ا و ، غدلیتو کـلنس ، دیو ټان او باختر ی پـا ډشا ها نو د مسکو کا تو نمونې ته ډیر و رته د ی ، ځکه چه پـه هغو کښې د ، هر ا کـلس ، یا ، زوص ، تصویر په ولا ړ ه ضرب شوی دی او د ننه د آریا نا په خاو ر ه کښې او په ډيروا حتما لا تو په آ را کوزی کښې د هغو پـه ضـر ب کښې شك نشته ، ر پسن ، وا ئي چه په تقریبي ډ ول د ، ونو نس ، د سلطنت د تا ریخ ددوری

د معلوماتو د پاره خورا مونږ ته او تیه‌ګګ سند دده دوروره «اسپالي ریزس» Spa ilises نامی سکه ده. دده د دغه تر دی چه د خپل و زوزجا نشین شي ځینی سکې ئی ضرب کړی دی او دغو نه دوه ډوله په لاس راغلي دی او دواړه ئی د آریانا په هغه منطقه کښی ضرب کړی دی چه په دغه ځای کښی په ولاړه د هرکول نمایش باب او مروج ؤ باید دی ته ملتفت شو چه د(اسپالی ریزوس) د مسکوکاتو یوه بله نمونه ډیره دکتلو وړ ده او هغه یوه نمونه ده چه په سپینو زرو او مسو کښی ضرب شوی ده په یونانی رسم الخط کښی «بازیلوس ملاؤس اسپالی ریزوس» لیکل شوي چه معنی ئی «اسپالی ریزوس ستر پاچا کیږی او د سکی په چپه خوا په خروشتی رسم الخط د «ایاسا Ayasa» نوم یاد شوی دی، ځینی د «وایت‌هد» په شان د «آیا Aya» کلمه د سلطنت د نیابت عنوان یا بل عنوان بولی چه «اسپالی ریزوس» غوره او تاکلی ؤ او ځینی نور ولکه مورګان (١)

«ایا Aia» ئی «ازس Azes» بللی او نمره ئی ورکړی ده او لومړی ازس ئی د «اسپالی ریزا» زوی بللی دی، «ونست سمیت» هم دغه رویه نیولی ده او لومړی «ازس» د سیستان او اراکوزی د پهلوادو او له خوا د غربی پنجاب او تاکزیلا نایب الحکومه ګڼی ځینی د دغه «ازس» د دغه اسکائی «ازس» سره یو ګڼی چه بیان ئی د دی فصل په دوهمه برخه کښی وشو او ځینی نور ئی دوه جلاجلا کسان بولی او سره له دی چه اسکائی او د پهلوا پادشاهان عموماً نسبتی او تقریبی تاریخونه لری خو بیا هم د د غو تاریخو له رویه هم تر یوی اندازی پوری معلومیږی چه دغه «ازس» بیا ن دوه جلاجلا کسان وو.

په دغه ځای کښی ددی مطلب دویلو څخه مقصد دادی چه که «اسپالي ریزس» او «آیا» هم چه په ازس سره ئی تعبیر شوی دی او د یوې سکې پرمخ او شابا ندې ئی نوم لیکل شوی دی دوه کسه وي نو په دی صورت کښي د واړه د «ونوس»

(١) د شرقی مسکوکاتو رساله دوهم جلد ٣٧٦ مخ د هند پخوانی تاریخ د اسکندر د لښکر کښیو سره ٢٤٤ مخ

ACKU

«لوی شهنشاه» د امیرانو او حکمرانانو څخه وو ځکه چه د وی د وار ه په کوچنی عنوان «لوی امیر» سره یاد شوی دی د «اسپالیریزس» سره د «ازس» ارتباط د سکې په خروشتی لیکث کښې ښکاره شوی نه دی او دا سې معلومیږی چه «ازس» د «اسپالیریزس» زوی وی ځکه څرنګه چه د دی کورنۍ په دو داو عرف کښې باب وو که چیرې ورور یا ئی وراره وای نو ذکر ئی کیده نو ویلای شو چه «ازس» د «اسپالیریزس» زوی او د «ونونس» وراره ؤ او داغیر له هغه ازس څخه دی چه د ۵۸ ق م کلو نو په شاوخوا کښی په غربی پنجاب کښی پاچا شوی دی.

نو (ونونس) دار اکوزی او سیستان د پهلو ایانو د خپلو اکی کورنۍ موسس تقریبا له هغه څخه یو ه پیړۍ پخواژوندی ؤ ، مگر هر کله چه د پهلو الو اسکائی سلالی د پادشاهانو تاریخ اول تثریبی دی نو د (ونونس) او (ازس) د سلطنت او جلوس د کلو نو او سنو په وړ اندی او وروسته کولو سره کولای شو چه دوی سره نژ دې او یو د بل معاصر وګڼو لکه چه ځینو دغه کار کړی دی او په دغه صورت موضوع ئی داسی تحلیله کړی ده چه په اراکوزی او سیستان کښی د پهلو ادمستقل دولت تر تشکیل وروسته چه د (ونونس) په لاس جوړ شو ، ازس د غربی پنجاب په علاقه کی د نایب الحکومه ګانو یا نایب السلطنه ګانو له دلی څخه ؤ چه وروسته بیا امیر شوی دی ، تر څو چه د ارو یه د نو وکشفیاتو په رڼا کښی یو طرفه فیصله شی نو داسی لاره غوره کوو چه په عمومی ډول غوره شوی ده یعنی لکه چه د دی فصل په نو همه برخه کښی مو وویل ازس به د اسکائیا نو په سلسله کښی پریږدو او دلته به له (ونونس) چه دار اکوزی او سیستان د پهلو ایانو د مستقلی سلالې موسس دی او دغه رنګه د ده له جانشینانو څخه بحث وکړو .(۱)

---

(۱) باید و ویل شی چه د (ونونس) او (ازس) د اشتراک نظر یه د مملکت داری په چارو کښی د هغی سکی د تعبیر له کبله چه د (توماس ادوارد) او کننګهم له خوا شوی ؤ ، مگر د دوی تعبیر تر یوی اشتباه زیات شی نه ؤ او معلومه شوه چه اصلا؟ نو موړی سکې په (مونس) چه اسکائی پاچا ؤ اړه در لوده او ارتباط د مسی او د سپینو زرو په مسکوکاتو کښی د (ازس) او (ازیلیزس) د پلار و الی اوزوی و الی ترمنځ قائم دی چه په اسکائی کورنۍ پوری اړه لری نه د پهلوا په کورنۍ پوری .

د(ونونس) د مسکوکاتو دخواصو څخه یو خاصیت د مملکت داري د اشتراک او گډون روح دی چه لوی شهنشاه دخپلو امیرانو او لویو امیرانو او نایب الحکومه گانو سره د زړو دلسکه چه دا روح او رابطه کلکه کاهده. د مسکوکاتو ترشا په پراکریتی مضامینو کښی لیکل کیږی او لکه چه پورته موویل (ونونس) په گډه دخپل ورور (اسپالا هورس) او د اسپالیریزس او دخپل وراره (اسپالا گاداس) سره یو ځای سکه ر هلی ده او سلطنت ئی کړی دی.

په دې رو بی سره د ده مسکوکات څو مختلف ډولونه لری چه په هره دله کښی دده خپل نوم دسکی پر مخ او د ورور زیاتی دخپلو انو نوم دسکی ترشا لیکل شوی دی د ده دمسکوکاتو څینی قسمو ته دادی: لومړی دسپینو زرو سکه چه ترشائی دده د ورور نوم (سپالا هورا) لیکل شوی دی، په دی سکه کښی ونونس پاچا پر سر تاج لری او پر آس سپور دی او لاس ئی پاتش او بائی نیزه په کښی نیولی ده او دیونانی لیک مضمون ئی «باز یلوس باز یلو ن ملاؤس» یعنی (لوی شهنشاه) دی او دده نامه په پای کښی (ونونس) لیکل شوی دی، دسکې ترشا (ژوپی تر) په ولاړ • لیدل کیږی او د پراکریت مضمون ئی په خروشتی رسم الخط داسی دی:

«مهاراجاد ربراتا درامی آساسپالا هور اسامه چه معنی ئی (اسپالا هورس دپاچا ورور) کیږی ددی ډول سکی لو یه نمونه هم لیدل شوې ده(۱) ددی ډول سکی دسپینو زرو یوه بله گرده نمونه هم شته چه دپراکریت او یونانی لیکنو مضامین ئی په پورتنی دول دی مگر په تصویر و کښی تو پیر سره لری. په دې ډول چه (هراکلس) دسکی مخ ته او (پلاس) د سکې کینی خواته لیدل کیږی، پورته مو ویل چه (ونونس) دخپل وراره سره هم ځینی سکې و هلی او ضرب کړ ی ئی دی چه یو • د هغو څخه د سپینو زرو گرده سکه ده دسکی پرمخ پاچا پر آس سپور دی او په چپه خواکښی ئی (زوس) لیدل کیږی دیونانی لیکنی مضمون ئی دادی: (باز یاوس باز یلو ن ملاوس ونونس) یعنی (لوی شهنشاه

(۲) دشرقی مسکوکاتو درسالی ددوهم جلد ۳۷۵ مخ دژ اکدو مورگان تالیف.
پاریس ۱۹۲٤

ACKU

ونونس )په‌پراکریت او خروشتی رسم‌الخط کښی داسی لیکنی لری :
(سپالاهو پیوتر اسا ، درامیا ماسپالاگاداماسا) یعنی دسپالاهو راز وی ؛ سپالاگا دامس
مسی مربعه سکه د(هرا کلس)او«پلاس»دتصویر او د پور تنی مضمون سره
او س‌هم شته (۱)

نو په هغه‌ترتیب چه وویل شو (ونونس) پس له دیچه داستقلال اعلان ئی وکړ
او دپهلو اسلطنت ئی دار اکوزی او سیستان په‌حوزه‌کښی جوړ کړدخپلی مملکت داریه‌دچارو
دڅنګولواوتحکیم‌دپاره دخپلو رونو او ورېرو تولوتوی څخه‌کار واخست. په‌داسی حال‌کښی
چه نوی ئی دخپل‌مملکت (قلمرو )په‌مختلفوولایتوکښی لکه‌غربی پنجاب اوداسی نورو ځایو
کښی په‌بیلو بیلو عنوانو نوداميرانو نائب‌السلطنه په‌حیث مقرر کړی دی ؛ ددوی دمقام او نوم
دلوړ ولو او ددوی دننوذدپراخیالی او دسلطنتی کورنی‌دارکانو دمقام دلوړ تیاد پاره
ئی ددوی سره یوځای او په‌ګډه سکه ووهله لکه چه مسکوکات په‌دغه زمینه‌کښی په‌ښه‌ډول
دامسئله څرګندوی او رهاو رباندی اچوی .

اسپالاهوریا اسپالی ریس : لکه چه‌ولیدل‌شوه د(ونونس) دورېرو څخه‌یو ورور دی چه د۱۰۱ ق م
کال په‌شاؤخواکښی دده نائب‌السلطنه‌ؤاو په‌ګډه‌سره ئی سکه‌وهلی ده‌اسپالی ریس‌جلاځانته
هم‌سکه‌درلوده چه دده‌شاهی مقام ئی ښکاره‌کاوه‌دده‌پریوډول مسی مربعه‌سکه‌باندی به‌څېرنه
وکړو : دسکی پرراسته او ښی‌خواباندی پاچاپرآس سپور او په‌سر باندی تاج لری دپاچا
دآس‌دتصویر په شاؤ خوا باندی دمرغلرو له دانو څخه‌یو مربعه‌ترسیم شوی او‌یونانی
مضمون‌ئی ددی مربعی په‌څلورو خواوکښی په‌لاندی ډول‌دی : (اسپالیو دیو س ، ویکایوس
ادلفوس‌بازیلوس) یعنی (داسپالی ریس‌دپاچاورور)

دسکی ترشا(هرکولس)پریوی‌لوئی ډبری باندی ناست‌دی او په پراکریت
خروشتی رسم‌الخط کی داسی لیک لری (سپالاهوراپوتر اسادمامیا سا سپالاګاداماسا)
یعنی د«سپالاهو رازوی «سپالاګادامس» لکه‌چه‌لیدل‌کیږی په‌دی سکه‌کښی «اسپالی ریس»

---

(۱) دپنجاب لاهور موزیم دمسکوکاتو دکتلاک ۱۴۲ مخ د(وایت هد )تالیف

ACKU

د پهلو ادګورنیز د موسس (ونونس) ورور د خپل زوی (اسپالاګادامس) سره په ګډه او یو ځای سکه وهلی ده. څرنګه چه د سلطنتی کورنۍ موسس خپل ورور په خپلو مسکوکاتو کښی معرفی او مقام او نفوذ ئی ساتلی دی نو اسپالیریس هم پخپل وار د خپل زوی شخصیت معرفی او حقوق ئی ترجمان او روسته د مملکت دارۍ په مسئله کښی ساتلی او تامین کړی ئی او دا هغه رویه ده چه په دې کورنۍ پورې مخصوصه ده.

اسپالی ریزایا (اسپالی ریزس): دغه دوهم د ونونس بل ورور د ۱۰۰-او ۹۰ ق م کلونو په شاوخوا کښی سلطنت کړی دی. دا سړی د خپل ورور د ژوند په اولو وختو کښی کوچنی ؤ او له دغه ورور نه وروسته په اراکوزی کښی پاچا شوی دی ده په یوې مسی مربعی سکی باندې خپر نه کړو :

د سکې په راسته او مخ کښی د فتحی رب النوع چه وزر ورته لری او کین لاس ئی نیم مخ ته نیکاره کیږی او په لاس کښی ئی یو ګل دی د یونانی لیک مضمون ئی دادی (با زیاوس بازیلون ملاؤس اسپالی ریزوس) یعنی (لوی شهنشاه اسپالی ریزس) د سکې په چپه او کینه خوا کښی چه نیم مخ ئی ښکاره کیږی پر تخت باندی ناست دی او د صورت په شاو خوا کښی ئی د نقاب و رانګی معلومیږی د پراکریت مضمون ئی په خروشتی رسم الخط داسی دی «مهاراجاسا مهاتاساکا، اسپالی ری زی سا» یعنی لوی شهنشاه اسپالی ریزس (۱) ګند وفارنس :

[ ۱۹ ـ ۸ ٤ م ] د پهلو ادګورنیز په پادشاهانو کښی هغه سړی چه نوم ئی په دې استانو او کتیبو او داسی نورو شیانو کښی ډیر مشهور دی «ګند وفارنس» دی لکه چه [ ـ پسن ] و ائی د هغې کتیبې له رویه چه د پښور په منطقه کښی د [ تخت باهی ] څخه پیدا شوی ده په صحت سره ددې د سلطنت نیټه او تاریخ معلومیږی، ځکه چه دغه کتیبه ده د سلطنت په ۲۱ کال د ۱۰۳ کال د ویسا کا [۲] [ Vaisa kha ] د میاشتی په پنځمه ورځ لیکلی شوی ده

(۱) ځینی وائی چه ځینی مسکوکات هم لری چه په هغو کښی یوازی د پاچا ورور اسپالی ریزس په نامه یادشوی دی که داسی سکې وی نو په هغې زمانی پورې اړه لری چه د خپل ورور (ونونس) یا (اسپالی ریس) سره په ګډه او په مشترکه ډول ئی سکې وهلی دی.
( ۲ ) د ویسا ک کلمه تر اوسه لا د کابل د هند وانو په نزد معروفه ده چه د پسرلی د لومړیو وختو او د بهار انو د شروع کیدو څخه عبارت دی.

نوشلك نشته چه دا کال د ویکرامادیتیه) له زمانې څخه عبارت دی چه په (۵۸) ق م کال کې شروع کیږي نو گندوفارنس په (۱۹) مسیحي کال پاچاشوی او په (۴۵) مسیحي کال لاپاچاؤ، د (گندوفارنس) نوم د (ویندافارنا ViNdapharn) ترکیبي کلمې څخه مشتق شوی او معنی ئې د «افتخار گټونکي» ده، چه د فر کلمه د پخوا د «افتخار» په معنی ده دده په نامه کیږي په یونانۍ ژبه ډېر لید له کیږي د کلمه د مسکوکاتو په یونانی رسم الخط کښې په مختلفو ولو لکه اند و فرس Undopheres فارو Pharou اندوفرن Induphrn گوندا Gonda اندوفرو Undopherrou او په پراکریت او خروشتي رسم الخط کښې د گندوفار او گودافار او گودوفار نا په دول یاده شوې ده سربیره د (شاهنشاهان) یا (شهنشاه) په عنوان ئې دمتجی په عنوان په یونانی کښې د (سوترس) او په پراکریت کې د (تراتار اسا) په عنوان بللی دی همدغسې ئې په سکو نه ئې لکه (نه مغلوب کیدونکی) او (دین دار) هم ځان ته غوره کړی دی فرانسوي مستشرق موسیو (سیلوان لوی) وائي چه دغه پاچاهي د (اوتوکراتو) عنوان چه لیوری وار (سناترو ا کس) (۶۹-۷۶ ق م) په بارنی مسکوکاتو کښې داخل کړی ؤ ددی کتابتو ر په معادل استعمال کړی دی.

ددې تو لو او بو او مختلفو عنوانو او لقبو له رویه څرگند یږي چه گندوفارس یو لوی او مقتدر پاچا پاشهنشاه ؤ او د تو لو مدققینو د نظر پاتو سره سم د خپل سلطنت په آخر کښې ئې له سیستان څخه تر پنجاب او سنده پورې او د آریانا په ټولو جنوبي برخو کښې سلطنت درلود دځینې داعقیده لري چه د گندوفارس د نوي کورنۍ د ساسلی مشر دی دامسئله که په ښیاوې او که نه وي گندوفارس د پهلوانو د خورالو یو، مقتدر وا و نوميالیو پادشاهانو څخه دی دده مرکز د نږرو احتمالاتو له رویه دارغنداب په حوزه کښې ؤ او هم بدائي چه د (قند هار) نوم د ده د نامه (گندوفار) څخه منځ ته را غلی وي په دی دول ډیر احتمال لري چه (گندوفارس) دارغنداب په حوزه کښې یو ښار جوړ کړی او هغه ئې په خپل نامه (گندوفار) سره بللی وی چه ورو ورو او د زمانې په تېرېدو (قندهار) شوی دی، هغو کسانو چه د (قندهار) په کلمه کښې د «گند هار» او «گند هارا» کلمه وینې

ACKU

ګویا اشتباه ئي کړي ده او داسي ګمان دي چه زمونږ د مملکت د جغرافيائي وضعيت څخه نه دي خبر او بي خبره نظر ئي ځرګند وي ؛ ځکه ګندهارا د کابل د دري څخه عبارت دي چه تر پېښور پوري علاقي ئي رانيولي او د کابل دره غير د ارغنداب له حوزي څخه ده . هغه وخت چه ګند و فارس د ارغنداب له حوزي څخه پر ټول سيستان ، جدروزيا ؛ و د سند پر حوزي باندي حکمراني درلوده ، د يونان او باختري دولت چه پخوا تردي د هندوکش په جنوب د کابل او کاپيسا په علاقه کښي محدود شوی و : د [هرما يوس ] سره د ژوندانه وروستي ورځي تېرولي د هندوکش د سلسلي په شمال کښي ( کجو لا کد فيزس ) يا نومړي کد فيزس په باختر کښي کوشانيانو د دولت بنسټ کښېښود او د جنوب خواته ئي سوقيات درلودل د شرق له خوا نه هم اسکائيان هغه اسکائيان چه د دي فصل په دوهمه برخه کښي مو د دوي د سلطنت په وضعيت او تشکيل باندي څېړنه وکړه ، د کابل د يونان او باختري دولت ئي تهديد او ډېر احتمالات پر دي باندي دلالت کوي چه ( ګند وفارس ) د پهلوا مقتدر پاچا (هرمايوس) کوچني او ضعيف دولت له منځه ليري کړ او د کابل دره ئي هم څو کاله د خپل سلطنت د قلمرو جز وګرځو ، له دغو پېښو څخه چه د « ګند وفارس » يا « ګند وفارو » نوم ئي زيات مشهور کړي دي د مسيحي حواريونو نه د يو حواري ( سنت توماس ) نامي قصه ده ؛ دا قصه داسي بيانوي چه حواريونو غوښته د نړۍ په مختلفو برخو کښي د مسيحيت دين او آئين تبليغ کړي هند د( توماس) په برخه شوی و ، مګر ( توماس) د خپل قسمت او نصيب څخه خوښ نه و ، په دي ترڅ کښي د يو تاجر سره مخامخ شو چه هابان HabbaN يا اباتس AbbaNes نوميده او ګند وفارس د هند پاچا نوموړي د معمار د پيدائي د پاره ليږلی و چه د ده په واسطه يوه ماڼۍ جوړه کړي ، په دي ترڅ کښي حضرت مسيح را ښکاره او توماس ئي د مربي په حيث او د معمار په صفت د ګندوفارس په نماينده باندي خرڅ کړ هغه وخت چه (هابان) د نوموړي

مریی څخه پوښتنه کوله چه ستا د لاسه څه کار ونه کېږی (توماس) وویل چه د لرګو څخه قلبه او بیړی ئې او د اسی نور شیان جوړوم او د ډبرو څخه لوحی (تختی) او معبد ونه توزم ها بان د یرخوښ شو او په بیړی کښې د (اند ر پولیس) (اندرینو پل) ترېند ر پورې راغلل او له دغه ځای څخه ئې د (ګندوفارس) پاچاد پایتخت لاره ونیوله پاچاپس له دی چه د توماس د مهارت او کارو څخه خبر شو نو ډېر هغه ځای ته لاړ چه پر هغه باندې د ماڼۍ ودانی ئې کلی شوی وه توماس په ځمکه باندې د ودانۍ د پلان نقشه او خطونه وایستل ګندوفارس نقشه ومنله او څه سره زر او سپین زر ئې معمارته ورکړل توماس هغه په خوار انو باندی وویشل خو مو ده وروسته تاجر (هابان) د پاچانماینده دودانۍ د چار و د کتلو دپاره راغی مګر د ماڼۍ او ودانۍ کومه نښه او اثر ئې ونه لید معمار (توماس) د پاچانماینده ته وویل چه پاچابه ماڼۍ هغه وخت وویني چه مړ شی او بلی نړی ته ولاړ شی ګند وفارس له دی خبری څخه په قهر شو تاجر او معمار ئې دواړه بند یان کړل چه ژوندی ئې په اور کښې واچوی؛ په دی ترځ کښې یوی خارقی دده سترګی د حقایقو خوا ته خلاصې کړې او د خپلی رویی څخه پښیمانه شو او په مسیحی دین او آئین کښې داخل شو داقصه په یونانی، سریانی، لاتینی، ارمنی مختلفو منابعو کښې شته؛ موسیو (سیلوان اوی) پس له دی چه د اقصه په پوره تنی شرحی سره لیکی وائی چه د هند د جنوب د مسیحیو تولنه د خپل تشکیل مبدأ (سنت توماس) ته رسوی او دده د وژلو ځای د مدراس په شاو خوا کښې ټاکی داقصه په مختلفو صورتونقل کوی چه دلته ئې د جزئیاتو سره څه کار او غرض نه لرو مګر اتکلولای شی چه کننګهم لومړی سکه پیژندونکی په ډېره حیرانۍ او اضطراب سره د [ګندوفوروس] نوم او د سنت توماس قصه په ۱۸٥٤ کال د هند او پښاورت د پیا د شا هانو پېسه مسکوکاتو باندې چه د پنجاب او د کابل نه د ری څخه کشف شوی وو موندلی دی (۱).

(۱) د هند د کتاب د سیوبلیزا تریسس ۱۲۳ - ۱۲۲ - ۱۲۱ مخونه، د موسیو سیلون لوی تالیف

ACKU

د سنت توماس په قصه کښې نه يوازې د ګندوفارس نوم د (ګندوفوروس) په ډول بلکه د ده يا چا د ورور او ورارهٔ نوم هم قيد دی، مثلاً د ګندوفارس ورور چه (ګودا) نوميږه د «ګاد» په نامه ياد شوی دی، د پاچا ورارهٔ «ابدګازس» چه نوم ئې په مسکوکاتو کښې هم شته د پاچا د خور زوی په ډول او د (لبداڼس Labdanes) په نامه ياد شوی دی، نو په دې ډول د مسکوکاتو د ګندوفارس او د (سنت توماس) د قصو د (ګندوفوروس) د نومو ترمنځ مشابهت کوم اتفاقي شی نه دی او قضيه د نومو د جزئياتو تر بريده تاريخي جنبه لري د اهم يادونې وړ شی چه «ګندوفوروس» د سنت توماس په قصو کښې «د مزدی Mazdai» پاچا په صفت هم ياد شوی دی.

«ګندوفارس» د پهلوا دکورنۍ د معروفو پاچايانو څخه او د آريانا د خورا نوميالیو حکمدارانو څخه دی او د خپلې کورنۍ د ټولو غړو څخه زيات شهرت لري، د مخه وويل چه په مسکوکاتو کښې ئې خپل ځان د «دواوراتا Devavratas» په صفت يعنې «د پند آر» ياد کړی دی.

د دې صفت څخه البته دا نتيجه نه اخيستله کيږي چه «ګندوفارس» هرومرو د مسيح د دين پيرو شوی و مګر د دې مشهور پاچا د «پند آر» جنبه په ښه والی سره څرګندوي او تر هغه ځايه پورې چه قرائن حکم کوي، د برتوی احتمال کيږي چه پاچا او دده کورنۍ به مسيحي آئين خوښ کړی وي مګر د «مزدی» له لقبه څخه چه په دې قصو کښې ئې هغه ته ورکړی دی معلوميږي چه ګندوفارس څه ناڅه د مخه تر دې چه د «سنت توماس» سره ملاقات وکړي د اوستا ئې آئين پېرزو.

مساقيږو «ګندوفارس» د پنجاب او سند په علاقو کښې د اسکائي «دوهم ازس» ځای ناستی هم بللی دی. دا نظريه له حقيقته څخه خالي نه ده ځکه د ګندوفارس د سلطنت قلمرو لکه چه مو ليدل تل دارغنداب، هرمند او سيستان په حوزه کښې محدود نه و بلکه د کابل، سند او پنجاب پر علاقو باندې هم مشتمل و؛ په دې کښې شک نشته چه «ګندوفارس» د سيستان او اراکوزي د پهلوا پاچا په

ACKU

هخوا سکا ئیانو پسی چه دا رغنداب له حوزې څخه دسند حوزې ته منتقل شوي وو تللي او د سند او پنجاب حوزه ئې د خپل سلطنت د قلمرو جز گرځولې وه، دا چه په دې ورو ستنيو يا د پښتو وعلاقو کښې تر اسکائې دوهم از س نه وروسته پاچا شوی دی، تر احتمال او امکان څخه د باندی او وتلې خبره نه ده او له دې څخه معلو ميږي چه د پهلوا يا گندو فار س د ولت خپل لوړ مقام او برم ته رسيدلی ؤ او دغه پاچا د پېره نتورذا واقتدار د رلود چه تر د و هم ازس نه وروسته حتی په سند او پنجاب کښې هم د اسکا ئیا نو ځای و نیسی.

گندوفارس د ضرب مخصوصه علامه او نخښه په خپله مسکوکا تو کښې لري چه تر ده د مخه ئې سابقه نه د رلوده او تر ده وروسته هغو کسا نو هغه استعمال کړی ده چه د ده سره ئې د خپلوی ارتباط او پیوند د رلود، دده د مسکوکا تو ځينې انواع دا دي.

(۱) مسی گرد ه سکه: چه لږ څه سپين زر هم لري او په را سته او ښي مخ کښې ئې پاچا په آس سپور دی او د سکې پر بل مخ زوس مخ په سرښي خوا ولاړ او وزده امسا ئې په کين لاس کښې نیولې ده:

د سکې په مخ يونا نی مضمون دا سی دی: ( بازيلوس بازيلون ملا ؤ س گندو فروس ) يعني لوی شهنشاه گندوفار س: په پرا کريت او خروشتی رسم الخط کښې دا سی ليکل شوی دی (مها رلجا را جا تي را جا ترا تا را د وا وراد اگود و فا رسا ( يعنی منجی د پندار ه شهنشاه گند وفارس :

(۲) مسی گرده سکه چه لږ څه سپين زر لري، د سکې په يو مخ شهنشاه پر آس سپور دی او د سکې بلې خواته زوس په هغې شرحې سره چه په لومړی نمره سکه کښې ويل شوی ده ولاړ دی، د دی او د لومړی سکې فرق د ومره دی چه د دی سکې تر شا په خرو شتی رسم الخط د (سا سا سا ) کلمه ليکله شوی ده د دی کلمې په شا و خوا کښې مدققينو مختلف نظريات څرگند کړی دی چه ځينو کوم صفت بالقب

او ځینو خاص اسم ګڼلی دی: د انظار به چه ساساسا یو خاص نوم دی. زیاته تائید شوی ده او د سیتی قومو ترمنځ زیاته تعلید له شوی ده. باید دا وویل شي چه (د ګندوفارس) نوی بل دول مسی ګردی سکې پرمخ هم یو بل نوم په خروشتی رسم الخط یاد شوی دی چه د (اسپه وارما Aspavarma) څخه عبارت دی او د لته واضح ده «استراتګاسا» یا (استراتګوس) یعنی د سپه سالار په صفت یاد شوی دی او (وایت هد) د (پنجاب لاهور) د موزی د مسکوکاتو په کتلاک کښی، دی د (ګندوفارس) حکمران بللی دی. همدغسی د مستر (رپسن) عقیده ده. چه د پهلوا پادشاهانو، د خپلو نظامی حکمرانانو یا د سپه سالارانو نومونه کله ناکله پخپلو سکو کښی ضربولو (ساساس) او (اسپاوارما) د ګندوفارس د نظامی حکمرانانو یا سپه سالارانو څخه وو. د رپسن نظریه تر زیاتی اندازی پوری معقوله او ځینی نور ئی هم منی او ورسره یو دی، د آریانا د پهلوا او د اسکائی پاچایانو د مسکوکاتو په شهادت دغه دواړه دلی په دی زور په منصفی وی چه د خپلو حکمرانانو او نایب السلطنه ګانو د اعتبار د زیاتوالی د پاره به ئی د وی نومونه په خپلو مسکوکاتو کښی ضربول او د خپلوی د پیوند په څرګندولو به ئی د سلطنتی کورنی د غړو اهمیت وګړو ته څرګند او لوړاوه.

سره بیره په پورتنیو اشکالو باندی ګندوفارس نوری سکې هم لری چه زیاتره مختلفو اربابانواعو په نمایش سره ولګه (پالاس Pallas) (د جګړی ربة النوع) نیکه Nike د فتحی ربة النوع شبیه ایو. د بلی څخه توپیر لری. د ګندوفارس تمقدر یعنیاً ... ولی سکې مسی او یا د مسو او سپینو زرو څخه ګډی او مخلوطی دی.

ابداګازس یا ابداګاسا: تر ګندوفارس وروسته ده. د خپلو انو څخه

---

اورتن پاچا شو چه د (ابداګازس) د مسکوکاتو په یونانی رسم الخط کښی او د (اواداګاماسا) په خروشتی رسم الخط کښی او د (سنت توماس) په قصو کښی

د ر لبدانس ) په نامه یاد شوی او د پهلوا د شهنشاه ګند وفارس وراره و.
سکې ئې مسی او د سپینو زرو سره ګډې او ګردې وې. پاچا پر آس سپور
ښودل شوی دی او د سکې پر بل مخ باندې پخپله (زیوس) او (نیکه) ضرب شوی دی،
په یونانی رسم الخط کښې (باز یلئو ن تس بازیلون ابد اګا زوس (یعنی
د (ابد اګا زوس پاچا ) په صفت بلل شوی دی، د ده د سکې د پراکریت
مضمون په خروشتی رسم الخط خوراښه او په زړه پورې دی چه د ګند وفارس
د وراره په صفت یاد شوی دی. د ده د یوې سکې د پراکریت عین مضمون دادی
(دګند وفارا ، برا تا پوترا ، ساهها راجا ، راسا، ترا تراسا، اواداګا شاسا )
یعنی (د ګند وفارس وراره منجی پاچا ابداګازس ) د ګند وفارس د سکو
د ضرب مخصوصه نخښه دده په سکو کښې تکرار شوی ده.

اورتاګنس: د دغو ذکر شوو پادشاهانو سره د ده د خپلوۍ پیوند پوره نه
معلومېږي مګر زیات احتمال دادی چه ښه ئې د (ګند وفارس) ورور زوی
یو. ده وله ګردې مسی سکې لری چه په هغو کښې ئې خپل ځان په نیم تنه ای او په
داسې ډول چه تاج پر سر لری ښودلی دی، دلوی شاهنشاه د سکې په یونانی لیک کښې
(اورتاګنس) بلل شوی دی، دده د سکو په پراکریت او خروشتی رسم الخط کښې
په یوه ډول کښې (ګندوفارس) او «ګودا» او په بل کښې یوازې د [ګودرانا] نوم اخستل
شوی دی ځینې د [ګودا] کلمه هماغه [ګاد] ولی چه په سریانی او لاتینی منابعو کښې ذکر
شوی دی چه: ګندوفارس دورور ورځخه عبارت دی او ځینې نورو دګندوفارس دقبیلې
نوم ګڼلی دی.

د[ګاداسا] کلمه په ځینو هغو خروشتی کتیبو کښې هم لیدله شوی ده چه د څلرم صدی
په شاوخوا کښې پیدا شوي دی(۱)

په هر صورت اورتاګنس دپهلوا کورنۍ دپادشاهانو څخه یو پاچا و چه: مسیح داو ړیمه
پیړۍ په دوهمه نیمائی کښې یې سلطنت کړی او معمولاً دده سلطنت تر ( ابداګزس)
وروسته ګڼی

---

[۱] دپنجاب[لاهور] دموزیم دکتاب ۱۵۵ مخ د[وایت هد]تالیف

ACKU

پاکورس یا پاکورا: دغه پاچا د مسیح د۷۵ـ۷۰ کال په شا وخوا کښې د (اورنا گنس) نه وروسته پاچا شوی دی دده مسکوکات تر اوله ځایوزیات په قند هار کښې پیدا کیږی پاچا دسکی پرمخ په نیم تنه ای د ل مخ پر کیڼه خواپه داسی حال کښې لیدل کیږي چه یو نول داسی جامی ئی اغوستی دی چه غاړه ئی خلاصه وه او په سرباندی تاج لري د سکی پر بل مخ باندي «نیکه» دفتحی د بة النوع په داسی حال کی لیدل کیږي چه تاج وروړاندې کوی پاکورس هم گر دي مسی سکی ضرب کړي دي اوخروښتي او یونانی دواړه رسم الخطونه ئی استعمال کړی دی، په یونانی رسم الخط کښې (بازیلئوس بازیلئون مگاس پاکورس) او په پراکریت کښې په خروشتی رسم الخط (مهاراجاسار اجاتی راجاسامها تاسا پاکوراسا) لیکل شوی دی چه ددواړو مضمون معنی [لوی شهنشاه] پاکورس کیږي

انگلیسی سرجان مارشال په بوخاوربن منگی کښې دتاگزیلا د ښار خواپه [شیرتوپ] نومی ځای کښې [۲۱] سکی موندلی دی چه ډیری ئی دسپینوزر و دی او په هغو کښې د [گندوفارس] پاکورس [و یما کدفیزس] داو مړي کوشانی پاچاهانی سکی هم موجودي وي په یو ځای کښې د دغو مسکوکاتو وجود دد گندوفارس او پاکورس دسلطنت دوخت او زمانی څنر دي والی مراتب ښکاره کوی او حتی د پهلوااله کوزنی رخحه کوشانیانو ته دسلطنت نقلید ل هم تائیدوی «رپسن» ددغو مسکوکاتو له کشفه څخه نتیجه اخیستی او وائی [هر کله چه گندوفارس تر مسیح وروسته په ۴۵ کال کښې لاسلطنت در اوداو [ویما کدفیزس] په ۷۸ مسیحی کښې سلطنت کاوه نو دغه [۳۳] کاله دگندوفارس دسلطنت وروستنی برخه او دپاکورس دسلطنت دوره او دویما کدفیزس دسلطنت یوه لومړی برخه ده .

ACKU

# اتم فصل - کوشانیان

عمومیات: مخکی له دی څخه چه په اصل موضوع کښی داخل شو او د کوشانیانو د واکوالی
د دوره وجدائی او تفلیک سلطنتی تشکیلات د پادشاهانو نومونه په هر یو پوری مربوط
واقعات، او نور هغه تحولات او گذارشات چه په عمومی دول د کوشانیانو په دوری
پوری اړه لری ذکر کړو باید دا و وایو چه کوشان څوک ؤ، کوم قوم ؤ، له کومه ځایه ئی
نشئت وکړ او راپیدا شو، څنګه سلطنت ته ورسید، طبعاً باید دا خبری د تمهید په صورت
مخکښی ذکر او حل شی چه د لوستونکی مخی ته لاره هواره او روښانه شی. لیکن هر کله
چه موضوع دیره مهمه او کړکیچنه ده او تر اوسه د مرکزی ایشیا د تاریخ د لاینحلو مسئلو
څخه شمیرل شویده او هغه تحقیقات چه په دی باب کښی شوی دی متضاد هم دی نو د دغو
متضادو نظریو له منځه اصل حقیقت او موثوقه لار پیدا کول له مشکلاتو نه خالی نه دی
او بله لا دا ده چه هغه اصل تاریخی منابع چه له هغو څخه ضمناً د کوشانیانو په باب کښی
معلومات لاس ته راځی په چینی، تبتی، یونانی او د سانسکریت او په نورو مشکلو ژبو
کښی لیکل شوی دی نو متتبع ته لازم دی چه دغه تول اصل منابع مطالعه کاندی تر څو چه په
صحیح دول د موضوع حق ادا کړی شی بیا هم هر کله چه اروپائی مدققینو دغه منابع په زیاته
اندازه مطالعه کړی او د تور کشفیاتو په کومک ئی د موضوع په مختلفو اطرافو باندی دیره
رڼا چولی ده چه تر یوه حده چه د دی فصل موضوع غواړی، کیدی شی چه پوره
سوالونه جواب و ویل شی مخکښی تردی داوم فصل په دویمه برخه کښی د (یوچی) د عنوان
لاندی د «سیتی» قوم د دغه ښاخ په باب کښی لند معلومات او د همدغه فصل د دویمی
برخی په مقدمه کښی د «سیتی جامعی» د تولو اقوامو په باب پوره معلومات لیکل شوی دی
. هر کله چه کوشانیان همدغه «یوچیان» دی او د دوی په باب د دوی په مخصوص
فصل کښی د مفصلو معلوماتو وعده شوی وه دادی د دغه فصل د مقدمی په صورت
ورباندی لاس پوری کوو: [مستر کنو] لیکی[۱] د قرائنو له رویه چینیانو یوچیان تقریباً
دق، م دد ریمی پیړۍ په آخر ته نیمه برخه کښی پیژندل او د دوی او د هغو نورو قومونو

[۱] د خروشتی لیکنو د مقدمی ۴۳ مخ دی وکتل شی

په منځکښې چه دهیو انګ نو یا ن«نومید ل زیات مخا لفت موجود وٌ"او د د وی په منځکښې یو «سلسله خو نړی جنګو نه او حوادث پیښ شوی دی د چین له منا بعو څخه معاو میږی چه یو چی قبیلو دخپل ژوندپه لمړ نیومړ احاوکښې د[تو ئن هو انګ] [کی لین ] په منځکښې استو ګنه د رلود له او د یوی سلسلې جنګونو او فشا ر و نو په سبب ئې چه پر له پسې هیو انګ نویا نو په د وی باندی ر اوستی وو او دلته مو نږ د د غو حالاتو له مفصل بیان څخه ځان ژغور و؟ ځا ی بدل کړی او د[ایلی]ا و[تار م]« سیندله حو ضې څخه تیر شوی د سر دریاا و آ مو دسیند تر منځ منطقه کښې میشت شول.

ا و د آ مو د شمال د سو احلو او فرغانې دهغه ږ خت او سیدو نکې یعنې اسکا یان ئې د آمو دسیند جنو بی غا ړو ته له خپلی مخی څخه و شړ ل ،

لکه چه دد و ی در اتلو او د سلطنت دجو ړ ولو تفصیل ئی په ا و و م فصل کښې تیر شو. هر کله چه دچین[و و تی Wou-ti ]نامی امپراطو ر[۱]دهو انګ نویانو د اضرارو او حملو له لاسه تنګ شوی وٌ په ۱۳۸ ق م کښې ئې چانګ کین[Tcahangkien] نا می دایلچی په صورت یو چیا نو ته ورو لیږ ه او خوا هش ئی و رڅخې وکا وه چه د د ه سره د هو ا نګ نویا نو په مقا بل کښې کمک و کړ ی. که څه هم دی لس کا له د هن یا نو په لاس کښې بند ی پا تې شو د خو سره د د ې ئې ځا ن په فرغا نه ا و سغد یا نـه کښې یو چیا نو ته ور سا و ه .

و لی نه د وی ا و نه ( تا هیا ) د آ مو د کینې غا ړ ی ا و سید و نـکې یو هم د چین د ا مپرا طو ر کو ملګ ته حا ضر نه شول . د ی هغه لو ړ نی چینې د ی چه د چـینیانو په ا صطلا ح ئې د غربې مملـکتو یعنې د آ ریا نا ا و ځینو ګا و ند یو بر خو پـه بـا ب کښې معاو مات ر اغو ند کړی د ی . ا و ز مو نږ د پا ره هم د د ه لیکنې د ډیری فا ئد ه منې د ی ځکه علاوه پر د ی چه یو چیا ن ئی د آمو دسیند په شما ل کښـې لید لی د ی ا و د هغوی پـه منځکښې خو مـو د ه ا و سید لی د ی. د آ مو د جنو بـی غـا ړ و ( سو ا حلو ) دهغه وخت د او سیدنکو یعنې د بد خشا ن ا و بکتر یان دخلکو په باب کښې

---

[۱]دغه امپراطور د [۸۷-۱٤۰ق م] کلو په منځکښې ژوند ی وٌ .

هم معلو ما ت ورکوی .لکه چه د وی(تاهیا ن )او د وی مرکز د لا ن شی Lan-Shi ښا ر بو لی .ا و پر وفیسر[ کنو ] د هغوی موقعیت په ا وسنی بد خشا ن کښې ښیی :

دچین د تا ریخ لیکو نکو د یو بل نفر سو ما تسین « Sau-mat-Sien» په شها د ت چه د(۹۱ ق م)کا ل نه مخکښې واقعا ت ئې بیان کړی د ی معلو میږ چه تر (۱۲۵ ق م) پورې یوچیا ن لاد ا کسو س ا و تا هیا په شما ل کښې ا و د با ختر ا و تخا ر ستا ن محلی خلك د د غه سیند په جنو بی ډ د و کښې پر اته وو .

د غه مور خ د « تا هیا » په با ب کښې یوڅو نورې نکتې هم بیا نـو ی ا و هر کله چه د و ی د آ ریا نا د شما لی خوا ؤ د پخوا نیو ا وسید و نـکو په حیث دیو چیا نو په منر بو ط و مسئلو کښې څو ځا یه ذ کـر شوی دی ، که د د و ی په با ب کښې لږ په تفصیل بحث وشی ، بی ځا یه به نه و ی :

د غه ستا یل شو ی چینی تا ریخ لیکو نکی پر ته لـه د ی چـه « تا هیا» د آ مو سیند د جنو بـی څنډ وله ا وسیند و نکو څخه ګڼی .د اهم وا ئی چه د غه قوم سود ا ګر ا و شمیر ئې هم د یرزیا تؤ . چه یو ملیون ته رسید ه به خپل منځکښې ئې پا د شا ه نه د ر لو د . بلکه هر ښا ر بـه خپل مخصو ص مشر د رلـود ه . سره د د ی چه شمیر ئې ز یات ؤ ، عسکر ی قوت ئې ضعیف ا و له جنګه ئې د ډ ه کو له . نو په همد غه سبب د یو چیا نو تا یع شول . دد و ی مهم مر کز د« لا ن شی » ښا ر ؤ چه ورو سته بیا د یه چیا نو مرکزو ګرز ید .

د وه نور چینی کتا بونه چه «شی– کی » [۱]ا و«تسین ها ن شو[۲]» نو میږ ی هم د تا هیا په با ب ځینی معلو مات ورکو ی . د غه او ل کتا ب پر ته د پـو ر تـه معلو ما تو څخه لیکی : تاهیه له د وو ز رو[لی] -[۳]څخه په ز یا ته مسافه د [تاو ان- فـرغا نې ] سهیل لمر پر یو ا ته یعنی[جنوب غرب ]خوا ته او د[و ی۔آ مو سیند ،

---

[۱] د۱۲۳ فصل ٦پا نه ا وله هغې نه وروسته [له خر و شتی کتیبو څخه ا خستنه]

[۲] ۹٦ فصل[له خرو شتی لیکنو څخه ا خستنه ]

[۳] دچینی مسا فی وا حد دی چه طول ئې ۵۰۰متر و د ی.

جنوب ته پر ته ده. د هقا نا ن ئی کلی او کورونه لری. اه عا د تو نه یی د فرغانی د خلکو په شان دی.

د ویم کتاب [ تسین هان شو ] یعنی د چین د [ ها ن ] دکورنۍ د لومړیو پاچاهانو تاریخ علاوه کوی چه : تاهیه [ه] ایالته لری. او هر یوا یالت د یو نفر [هی – هو –] Hi-Hou یعنی د یو حاکم یا امیر یا رئیس په امرا داره کیږی او دغه ټول پیادلو یو یو چیانو د امر تابع دی. د غه پنځه امارتونه په دی نوموټو یا د شوی دی:

[هیو می] چه پای تخت ئی [هومو] دی، [شو ر نګ می] چه پای یتخت ئی «شوانګ می» دی. [ کو ئی – شیو انګ ] چه پایتخت ئی «هو تسا» دی ( هیتون ) چه پایتخت ئی «پو ما او» دی. [کاؤ فو] چه پایتخت ئی هم کاؤ فو [۱] دی. اود اروپائی مدققینو د تدقیقاتو له رویه د غه ټول امارتونه د افغانستان د قلمرو جزدی چه واخان – بدخشان – بکتریان – نورستان، پروان او کابل دی.

بایدداویلی شی چه ددغه کتاب لیکنی دهغو معلوماتو څخه فرق لری. چه د (هو هان شو) یعنی دچین دهان هادکورنۍ ددوهمو پادشاهانو دتاریخ کتاب ئې ورکوی (تسین هان شو) لیکی: چه دیوچیانو دراتلو نه پخوا تاهیانو پنځه امارته لرل او مرکز ئی د لانشی ښار وؤ.

او دهوهان شو کتاب لیکی چه هرکله (هیو انګ نو یانو) پر یوچیانو حمله وکړه دوی پر تاهیه باندی راتوی شول او هغه ئی پر پنځو (هی هو) یعنی (حکومتو یا امارتو) باندی وویشاه او د [تاهیا] پخوانی مرکز [لان شی] دیوچیانو پایتخت وګرزید. بله اشتباه چه په دغه او ل کتاب کښی ده او دویم کتاب هغه اصلاح کړیده داده چه د کاؤ فو یعنی دکابل د نوم یاد و ل دی چه د پنځو مقتوحه امارتو په جمله کښی یاد شو یدی او په اصل کښی پنځم [تو می] امارت دی چه محل ئې با ید په دیر و شمالی نقاطو کښې و لټو ل شی. ځکه چه کاؤ فو (کابل) دیر و ورسته دیو چیانو لاس ته راغلې دی.

---

[۱] ددغو نومو نو لاتینی رسم الخط په لاندی ډول دی: Shuang-mi-Homo-Hiu-mi

Kao -fu P-amao- Hitun-Hu-Tsao -Kuei-Shuang

ACKU

د یونانی ماخذو شهادت: لکه چه د یونان کلاسیکی تاریخ لیکونکی لیکی د ۱۴۰-۱۳۰ ق م په منځ کښی هغو قبائلو چه د [ازیوا - Asioi] [پازیونوا - Pasionoi] تخاروا، ساکا رولوا Sacarauloi په نوم یادشویدی په باختر باندې حمله وکړه او دیونانیانو لاس ئې له هغه ځای نه قطع کړاو په ۱۲۸ کښی په پارتی اقوامو هم غالب شول مګر مهرداد دوی په مقابل کښی مقاومت وکړ. نو دیونانی منابعو څخه هم معلومیږی چه د ۱۲۵ ق م پوری یوچیان عمر مادا کسوس په شمال کښی و او هر کله چه د سر دریا او آمو د سیند په منځ کښی ئې د اسکایانو ځای اشغال کړی وُ نو د دغه قوم نباخونه د یو چیانو نه مخ کښی د مجبوریت له کبله باختر ته ولاړل او هجرت ئې وکړ او د [ایوکراتیدس] او [هلیوکلس] سره ئې د یونان او باختری پادشاهانو نفوذ د هندوکش په شمال کښی لتاړ کړ او د [تاهیا] سره. چه له [تخاروا] یونانی مؤرخینو څخه عبارت دی ګډ شول او د [اسکائی] سلطنت اساس ئې لاندې ایښی چه د شاله خوانه د یوچیانو فشار د پخوا نه زیات و لیدل شو په دغه و اسره اسکائیانو د یوه حده د باختر په هوارو برخو کښی د هندوکش د لوړی څوکی او غرب خواته د آمو د جریان د خط په منځ کښی ولاړل او د پارتیانو سره د یوی سلسلی جنګو نو څخه وروسته وچه بحث ئې مخکښی تیر شویدی [ساکستانا] یعنی سیستان او له هغه ځایه [اراکوزی] یعنی د قندهار علاقی ته را غلل او بیا داندوسس د لتاته را ننوتل. څو موده وروسته یوچیان په عمومی او کلی صورت د ۷۰ ق م په شاوخوا کښی داکسوس له سینده راتیر شول او د [تاهیانو] یا تخاریانو په کومک ئې چه د دوی سره متحد یا د دوی تابع شوی و په باختر کښی نفوذ پیدا کړ [۱] نو د ی وروسته یوچی او تخار تقریباً یو د بل مترادف شول، او مخصوصاً هندی منابعو کوچیان یعنی هغه قوم چه کوشانی پادشاهان د دغو له منځه راوتلی دی د تخار په نامه یاد کړیدی او څو کسه نامتو مستشرقین لکه لسن [Lassen] او ریچتهوفر Richthofer او «سیاوزاوی» په همدغه نظریه دی.

د چینی او یونانی منابعو د دغه پوره تعبیا و څخه څرګنده شوی ده کوم وخت چه یوچی قبائل

---

(۱) هندومو ریانو، بربریانو، یونانیانو، سیت یانو، پارتیانو، او یوچیانو په وخت کښی د کتاب ۳۳۶ مخ چه د فرانسوی [واله دوپوسن] تالیف دی.

ACKU

داکسوس بنې غاړو ته ژر سیدلي وو د هندوکش په شمالي برخو کښې د تاهیا یا داهي په نامه یو تجارت پیشه او متمدن قوم اوسیده چه د پرمو ده ئې د یوچیانو سره همسایګي تللي راتله، تجارتي معاملې ورکړه راکړه او نور مناسبات لرل .

او په تدریج سره یوچیان داکسوس پر سیند راتیر شول او د تخاریانو سره پریوتل او استوګنه ئې غوره کړه او د هغوی سره ئې دوستي او خپلوي قائمه کړه .

او هر کله چه مدني ځایونه تل د اطرافي خلکو نظر جلبوي نو یوچي قبائلو تاهیا ته د ځانه سره ملګري کړل او په دغه ترتیب سره د باختر علاقې د دوی په لاس ورغلې .

پوره نه معلومیږي چه دغه پنځه حکومتي د هغو امارتونو سره چه چیني منابع له هغو څخه بحث کوي د یوچیانو له راتګ څخه پخوا موجود وې او که د دوی د راتلو نه وروسته پیدا شوي دي هر کله چه د چیني منابعو پر اساس «تاهیه» وو خپل پادشاهانه درلود نو بنائي چه خپل ملک او محکمې به ئې د پنځو حکومتو او امارتو د تشکیل په اصولو اداره کولې لکه چه په هر ښار کښې د جلا جلا رئیس شته والي هم دغه نظر به تقویه کوي، په هر صورت یوچي قبائلو له (۷۰ ق م) نه وروسته د آریانا پښتیانا) په شمالي برخو کښې پنځه حکومتي یا امارتونه درلودل .

چیني منابعو ته توجه کول : لکه چه د چین یو بل اثر (هوهان – شو) (۱) لیکي : سل کاله وروسته [ نه معلومیږي چه تاهیي ته د یوچیانو د راتلو څخه سل کاله وروسته او که د هغوی له ویشل کیدو څخه سل کاله وروسته دغه مسئله لا تر اوسه د بحث لاندې ده چه کوم یو مراد دی ،] د دغو پنځو برخو له رئیسانو څخه یو «کوي شانګ هي هو» یعني د کوشانیانو رئیس چه (کیو-تسیو کیو Keiu- Tsiu-Kiu) نومیده نور څلور رئیسان ئې د ځان تابع کړل او پخپله ئې په ځان باندې د پادشاه عنوان کیښود او د خپل سلطنت نوم ئې «کوي شوانګ»

(۱) د چین (دهان ها) د ټبر د دوهمې سلسلې د پادشاهانو تاریخ چه تاریخي وقائع له ۲۵ مسیحي کال نه وروسته بیانوي

ACKU

یعنې کوشان کښېښود(۱) او له دغه تاریخه وروسته ئې دمملکت په تاریخ کښې د یوچي د کلمې ځای «کوشانی» ونیو.

په دغه ترتیب سره هر کله چه د آریاناکوشانی قبائل په خپل منځ کښې سره متحد شول نو نور شمالي قبائل هم ورسره یو شول او هغه سد چه له ۱۳۵ ق م څخه را دې پلو یونانی او باختری پادشاهانو ددوی په مقابل کښې درولی و له منځه لیری کړ او تر پخوا زیات د غرب او مخصوصاً د آریانا جنوب ته راخپاره شول ، په دې ځای کښې بیا بایدله چینی منابعو څخه استفاده وکړو ځکه چه په وضاحت سره لیکي چه : «کوزولو»[د کوشانیانو امری پادشاه] دپارتیا[نګانسي Ngansi]او کابل[کاوفو Kao- fau]او[کی پن]دلته مراد کاپیسا دی ونیول ،

وروسته بیا یې پوتایانو Pouta چه دغزنی په چار چاپیر کښې و وهم بریالی شو ، فرانسوی واله دوپوسن لیکی[۲] چه پوتا باید د[پښتو]یا[پوختو]سره مقائسه شی حقیقتاً د فرانسوی مؤرخ اشاره بیخایه نه ده ځکه پښتانه قبائل عموماً د هندوکش په جنوب کښې اوسیدل او هیڅ شک نشته چه دکوشانیانو سره داوسنی غزنی په خوا اوشاکښې مخامخ او مقابل شوی وی باید وویل شی هغه وخت چه یوچیان یا کوشانیان په صراحت سره و وایو نوکوشانیان د آریانا په شمال کښې خپاره شوی وو ، نو دهندوکوه په جنوب کښې یونانیان د کابل او کاپیسا په خوا اوشا کښې ، پهلوایان په ارا کوزی کښې او اسکایان داندوس په حوزه کښې میشت وو ، دهغه فشار په واسطه چه د شمال ، جنوب غرب او د لمر خاتـه له خوا حس کیدہ یونانیانو بیخی مخه پر ښیوده . او کابل هم دارا کوزی د پهلوایانو په لاس کښېوت او (کجولا کدفیزس) د کوشانیانو لومړنی پادشاه د کابل ځمکه له(گندو فارس) ددوی له یو مشهور پادشاه څخه و اخسته . په دغه کار سره دکوشانیانو نفوذ په ټوله (آریانا-پښتیانا)کښې قائم شو . ددہ زوی (ویما کدفیزس) دهند فتوحات شروع

---

[۱] ۳۳۸ مخ دی دهغه کتاب ملاحظه شی چه نوم ئې : هند د موریا یانو ، بربریانو یونانیانو ، سیتیانو ، پارتیانو ، یوچیانو په وخت کښې دی او دفرانسوی واله دوپوسن تالیف دی

[۲]هند دموریایانو ، بربریانو ، یونانیانو ، سیتیانو ، پارتیانو ، یوچیانو په وخت کښې دکتاب ۳۳۹ مخ :

ACKU

کوی . او د لوی کنیشکا او دده د خلیفه گانو په وخت کښې دکوشانی امپراطوری نفوذ د هند په پراخه سیمه کښې ترښا رس او پټنی پوری د گنگا په غاړو کښې او په چینی ترکستان کښې د تارم د سیند ترحوضی پوری پراختیا مومی .

د کوشان د کلمې معنی : د کوشان کلمې چه د ( آریانا ویجه ـ آریانا ) د خورا لوی امپراطوری په باب کی استعمالیږی ، د هغو مختلفو اقوامو د لهجو په اثر چه خبری ئی وربا ندی کړی دی ، یا د مختلفو قرائتو په وجه چه ننوعلماؤ په مسکوکاتو او کتیبو کښې کړی دی مختلف اشکال ئی غوره کړی دی : لکه کوشانا . کهوشانا ، کیوشانا ، کیوشانا ، چه عمو ما پخپله د آریانا محلی لهجی ښیی . او کورسنو ، کوړنو ، کوزانو ، کورسانو ، حوزانو ، خوران چه اکثرا د هغو یونانیانو د تلفظ شکل دی چه پخپله په آریانا کښې پیداشوی او روزل شوی دی . ښاغلی (کنو) داسی لیکی چه : اصلاً د اکلمه ( کوشی ) Kushi او مبدأ ئی ( سیتی ) ده . کوشی مفرد دی او جمع ئی ( کوشانو ) ده . ( کوشانا ) هم د همدی کلمی نه راوتلی ده . او د کوشی یا کوشانیانو په مسکن ئی د لالت کاوه . په دغو تفصیلاتو سره د کوشی کلمه د یوچی د کلمی یعنی د هغه نوم سره چه چینیا نو وربا ندی ایښی دی هم مطابقت کوی . په دی کښې شک نشته چه د دی کلمی اصلی صورت ( کوشی ) دی چه په یوه قبیله ئی دلالت کاوه او د جمعی صورت ئی ( کوشانو ) شوی وی ؛ او په تولو هغو قبائلو ئی اطلاق کېده چه د کوشی د قبیلی باد شاه هغوی د ځان تابع کړی وو . او سلطنت ئی وربا ندی کاوه . کوشانا دخپلو نورو همرد یفوا شکالو سره چه پورته یاد شول ، هرکله چه د آریانا ، سانسکریتا ، باکتریانا او نورو کلمو سره په آهنگ کښې یو دی ؛ د باختر د پخوانیو ژبو د لهجو تر قانون لاندی راغلی او دکوشا ن د خلکو د اوسیدو په ځای باندی د لالت کوی ځکه د موضوع زمونږ په نزد مسلمه ده چه ( نا ) د نومو په اخر کښې د اوسیدو د ځای او محل معنی افاده کوی نو ځکه کوشانا یو داسی کلمه ده چه د ( گوش ) او ( نا ) ځخه مرکبه ده چه هغه په وضاحت سره دکوشیانو یا دکوشانیانو ځای ورځنی مراد یږی .

**د کوشانیانو څېړه:** کوشانیان د هغې عقیدې په خلاف چه تر یوه وخته پورې خلکو لرله: او هغوی ئې مغول ګڼل، د اسکائیانو په شان د آریائي میتې ټولنې جزء دي. او په شرقي څانګه ګڼل کېږي چه د آریا یانو له لومړني هېواده د سر د ریاب، فرغانې، او سنکیانګ له حوزې څخه په مرکزي اسیا کښې هغې خوا شرقي منطقو ته ئې خپاره شوي او د آریا د نژاد د مخکنیو لښکرو په شان د یرې پېړۍ د زیړو خلکو او زیړ پوټکو مغولو سره په تماس او جګړه کښې پاتې شوي دي. او د زماني انقلابونو او د هیوانګ نو یا نو زور او فشار د وی هغې لیکې ته راوستل چه نور واریا ئې قبائلو هم تعقیب کړي وه. یعنې دایلي او تارم د سیند له حوزې څخه د سر د ریاب حوزې ته او بیا له هغه ځایه د اکسوس حوزې ته ورسیدل، او (آریا نا ـ ویجیانا) ته را غلل، پرته د نژادي اختصاصاتو څخه لکه د مخ خطونه او د سر شکل او داسې نور چه د کوشانیانو اریائي کېدل ثابتوي، د دوی ژبه هم دغه نظریه تقویه کوي. په دې باب کښې به وروسته خبرې وکړو. څه رنګ چه د مسکوکاتو او د نورو مکشوفه لوائحو څخه معلومیږي کوشانیان جګ سرونه، غټې او ږدې ږیرې چه څوکې ئې تیرې وې او پلنې ژامې ئې لرلې — پروفیسر کنو د دوی د ترکې والي احتمالي خوا هم د مطالعې لاندې راوستې ده لیکن په آخره کښې د دوی په اریائي والي اعتراف کوي او د بدني قیافې له پلوه: د «هومو آلپي نوس» مخصوص دول په دوی کښې پیدا کوي او لیکي چه «اوږدې ږیرې او نور هغه خصائص چه په دغو تصاویرو کې ورته اشاره وشوه اصلاً د «هومو الپي نوس» د نژاد له ممیزاتو څخه دي [۱]

**ژبه:** د کوشانیانو د ژبې په متعلق که څه هم تر اوسه د اطمینان وړ تحقیقات ندي شوي خو سره د دې هم هغه څه چه په دې باب کښې لیکل

[۱] د هغو خروشتي کتیبو د ترجمې ۹۴ مخ چه ښاغلي اميني ترجمه کړې او د تاریخ په شعبه کښې موجود دي.

شویدې د فائدې نه خالي نه دې دا ژبه اروپا ئي مدققینو په مختلفو نومو یاده کړیده . [۱]

پروفیسر لوی منLeumann چه لومړی ځل ئې د دغې ژبې خصوصیات بیان کړیدي هغې ته ئې (اریائي شمالي) ژبه ویلې ده ، فرانسوی فضلاء و چه لومړني ئې موسیو پلیوتPelliot دی دغه ژبه «شرقي ایراني» بللې ده [۲] او پروفیسر لیودر ورته «اسکائي ژبه» ویلې ده .

پروفیسر کنو هغه نوم مرجح گڼي چه پروفیسر کرستKirst ورباندې ایښې دی یعنې (ختني ژبه) ځکه چه وائي دغه ژبه په اتمه عیسوی پیړۍ کښې په ختن کښې د رسمي ژبې په حیث معموله وه .

او لکه چه معلومه شوې ده د مسیحي لومړنیو پیړیو څخه ورباندې خبره ی کیدله . باید او ویل شي چه دا ژبه د تخاري ژبې نه په غیر بله ژبه ده . چه په د وو بڼاخونو [الف او ب] باندې ویشل کیږي چه د آریانا په شمالي برخو کښې تخاریانو او احتما لا [ تا هیانو ] چه وروسته بیاد یوچیانو سره ګډا و مخلوط شول خبرې ورباندې کولې . په هرصورت د کوشانیانو ژبه د دغو پورته نومو څخه د هریو سره چه یاده کړومناسبت لري . دا ژبه د دوی د پادشاهانو په کتیبو او مسکوکاتو کښې په کار شویده . او ددې جملې نه چه (شاؤ نانو شاؤ کنشکې کوشانو ) یعنې [کنیشکاد کوشان شهنشاه ] ــ په ښه شان سره معلومیږي چه دغه ژبه د هغه کهول له ژبو څخه یوښاخ دی چه ایراني ئې بولي . باید څرګنده کړی شي چه د کوشاني پادشاهانو د مسکوکاتو په ضرب کښې یوناني ژبه هم استعمال شویده لیکن دا یو تقلید ی کاردی چه د باختری او یونا ني پاد شاهانو د مسکوکاتو څخه نقل شویدی . او په تدریج سره ئې دالف ، بې دحر و فو شکل خراب شوی دی .

---

[۱] د خروشتي کتیبو د هغې ترجمې ۹٦ مخ چه د ښاغلي امیني په قلم لیکل شوی او دتاریخ په شعبه کښې وجود لري .

[۲] دشرقي ایراني څخه مطلب د باختري ژبو یوه لهجه ده.

ACKU

او د کوشانیانو د دورې په آخره کښې یېخي له و پلونه و تاې ده لکه چه د کوشانیانو وخت مسکوکات او ځینې هغه کتیبې چه د هډې له غونډ یو ځخه لاس ته راغلي دي، او د بامیانو د [ G ] معبد ځخه کشف شوي لیکنې شها دت ورکوي، چه په سانسکریت او ځینو پراکریتو باندې مخصوصاً د هند وکش په جنوبي علاقو کښې خبرې کیدلې.

دلته یو سوال زړه ته راځي چه آیا د آریانا محلي رسم الخط د کوشانیانو په وخت کښې څه و؟ همدارنګه چه د یونانۍ ژبې په مقابل کښې په (اسکائي) یا [سیتي] ژبه باندې خبرې کیدلې، د یوناني رسم الخط په مقابل کښې محلي رسم الخط هم موجود و، چه اسکائي ژبه او نور پراکریتونه او سانسکریت چه دلته مروج وو، په هغه سره لیکل کیدل. دا رسم الخط معمولاً په (خروشتي نامه بلل کیږي او وائي چه اصلاً د (آرامي) الف، بې ځخه جوړ شوي دي.

او په اصل کښې د قضیې حقیقت داسې دی چه آرامي الف، بې د هخامنشي د زماني د حکمرانانو دفتریانو او لیکونکو (منشیانو) د ځان سره دلته راوړي وه. او په آریانا کښې ئې وروسته ورو بل رنګ غوره کړ، او د مسترکنو د تحقیقاتو له مخې د ارسم الخط پنځمې ق م پیړۍ په خوا و شا کې څرګند شو او د دریمې ق م پیړۍ په آخرو کښې ئې دالف، بې صورت مکمل شو. دا رسم الخط د کوشانیانو نه پخوا د باختري او یونان د دوهم شاهي خاندان او همدارنګه د اسکائي او پهلو اد پادشاهانو په مسکوکاتو کښې استعمال شوی دی، او دلو یو کوشانیانو په وخت کښې ئې عمومیت پیدا کړی دی د امسئله د اخبره توضیح کوي چه د ارسم الخط څه ناځه د دریمې ق م پیړۍ ځخه د کوشانیانو د دورې تر آخره پورې په آریانا کښې معمول و.

علاوه پر دې (برهمي) رسم الخط چه د رواج ځای ئې زیاتره د هند ځمکه وه د هند وکښ په جنوبي لمنو کښې استعمالید. لکه چه په ۱۹۳۰ کښې د مو سیوهاکن په پیدا کړو لیکنو کښې چه له بامیانو ځخه ئې لاس ته راوړې دي، برهمي نمونې هم موجودې دي. له دې ځایه داسې لیکنې هم لاس ته راغلي دي چه بو سیلو د لوی هغه د (کوشانا)

په نامه بللی دی او په نسیجی ه او ۱۲ قرن پورې مربوطې دی.(۱) هر کله چه د لته دعمومیاتو په باب کښې تر دی زیات په دی مسئله کښې څه ویلی نشو د کوشانیانو دوخت د رسم الخط موضوع اومخصوصاً خروشتی رسم الخط به مفصلا بیان کړو

• • •

کوشانیانو به عموماً ساده دیل او دراته کالی اغوستل . چه دشکل او پریکړی (برشن) په لحاظ نه چینی وو نه پارسی او نه هندی. بلکه زیات د افغانستان د شمال شرقی خواؤ او دمرکزی آسیا محلی کالو او لباسونه ورته وو هرکله چه دا یو کوشانیانو دوره دنقاشی او هیکل تراشی د اعتلاء زمانه وه خوشبختانه پههغو هیکلو نو او ولو انځو کښې چه د افغانستان دمختلفو نقاطو دبودائی معبد و نوڅخه کشف شوی دی اوپه هغو رنګه تصاویرو کښې چه دفندقستان اوبامیانو څخه اخستل شوی دی ددغه عصر دکالو جزئیات ورڅخی معلومید لی شی . نوپه خپل ځای کښې به د اکار وکړو .

کله څه هم کوشانیان تر څو چه دا کسوس ( امو سیند) په شمال کښې اوسید ل دنور و یوچی قبائلو په شان زیږه خلك وو، ولی دباختر د مدنیت سره تماس او د سودا ګرو او متمد نو « تاهیائیانو » سره تجارتی مرا ودا تو، ورو ورو ددوی د طبیعت سختوالی کم کړ لکه کوم وخت چه په باختر کښې خپر یدل تړل شواهد د اثابتوی چه دغه قوم دمد نیت د قبولو استعداد پیدا کړې ؤ . او داجتماعی ژوند په ټولو شعبو کښې او د حکومتی چارو په چلولو کښې ئی د باختر د نجباوزاو دهغه ځای د مدنیت خپرو ونکو حاکمانو متابعت قدم په قدم کاوه او په آخره کښې د باختر او د آریانا د نورو ځایو د مهذ بی او مدنی فضاء تر تاثیر لاندی تر دی مستعدشول چه ددوی د سلطنت او حکومت دوره د آریانا د تاریخ په پخوا نیو دورو کښې یوه د یره روښانه دوره شمیر له کیږی.

لکه چه پهورو ستنه .رخز کښې به د ورو عناوینو لاندی ځای پرځای ولیدل شی،

---

(۱) د آریانا د مجلې دد ویم کال د اومی شماری ( کشف نتون قد یمه سانسکریت در بامیان ) مقالی ته دی مراجعه وشی .

د دوی په عصر کښې دین ، فلسفې ، حکمت ، ادبیاتو ، رسم الخط ، مستظرفه صنائعو ، معمارۍ ، هیکل تراشۍ ، نقاشۍ ، رسامۍ او د ښکلو صنائعو نورو څانګو د یره ترقي وکړه .

د کوشانی پاد شاهانو دربار مخصوصا ددوی دمقتدر او معروف پاد شاه [ کنیشکا ] مجال سلطنتي دربار د علم ، حکمت ، فلسفې او صنعت مرکز وو د شرق او غرب خواؤ ته د چین د « هانیانو » او د روم سره د کوشانی امپراطورۍ تجارتي مراودو پر اختیاوو نفله اوښه« وریښمو دلارې» دمنځۍ برخې کنترول چه دآزیا نا په شمال کښې تیریدله ، دکوشاني دولت په لاس کښې وُ دې امپراطورۍ د هند هغه برخه چه دکوشاني فتوحاتو له حوزې څخه دباندې پاتې وه او دچین مملکت ئې د شرق له خرانه دپارت او روم له دولت سره ونښلاوه دامو الو په بدلو ن مستقیده ګرځېدلای او دآسیا ددې ګوټ تجارتي او سیاسي سیادت ئې په لاس کښې وُ .

کوشاني عنصر دافغانستان په پخواني تاریخ کښې ډېر مهم او دوام لرونکی رول لوبولی دی او دمسیحي لومړۍ پېړۍ څخه ورو سته بیا داسلام دمقدس دین دپیدا کېدو تر زمانې پورې دځینو نسبتاً لنډو دورو په استثنا لکه دیفتلیانو دنیمې پېړۍ حکمرانی (د شپږمې پېړۍ دوهمه نیمائي ) یا په تخارستان کښې دتوکیو بانو یعنې دغربي ترکانو د ملوك الطوائفي موقتي میعاد له ٥٦٦ څخه تر ٥٧٥ پورې او په غربي غاړو باندې د ساسانیانو ځینې تجاوزات - باقي ټول او هر کله دحکومت واګې دکوشانیانو په لاس کښې وې او په دې اوږده دوره کښې کوشاني ، یفتلي ، توکیو او نور یو تر بله داسې سره مخلوط شول چه داسلامي زماني شروع کېدو ته په یو دوو نژ دې پېړیو کښې یو له بله نه پېژندل کېدل او تقریبا دافغانستان ټول شاهي کورنیو په تېره بیا دهندوکش دجنوب محلي پاد شاهانو ځانونه دکوشانیانو له ټبر او او لادې څخه بلل او دخپل نسب سلسله به ئې دکوشان دلومړي کورنۍ لویو پادشاهانو ته منسوبوله .

په دې اوږده دوره کښې مخه دمخه دمختلفو رقفو سره چه دمخه ورته اشاره وشوه مسیح دزمانې اته پېړۍ دزیاتېدنې کوشانیانو زموږ د مملکت په تاریخ کښې څو واري ښکاره شوي او هر وار ددوی ظهور د

دمملکت دسیاست او اداري په صحنه کښي نوی او مهم فصل بیرته کړی دی، دسیاست او اداري له صحنې څخه د کوشانیانو ظهورا و غیاب او ددغې رویې تکرار څو وجوهات لري چه په دی او آینده فصلو کښي بیان شوی ذی او دهغو تفصیل دمملکت دتاریخ او به برخه تر دی وروسته تشکیلوی، هر کله چه دکوشانیانو هره دفعه ظهوراو دمملکت په اداره او اجتماعي کارو او په دغسی نور و ز یاتو مسئلو کښي دهغوی مداخلی له یوی خوا او دزماني تحول او دیره ایجاباتو له بلی خوا هری دوری ته مخصوص مميزات بخښلي دی، په هر صورت مدققینو دکوشانیانو عصر د پخواني افغانستان په تاریخ کښي یوه دوره بر خو ویشلی دی.

اوهره یوه ئی زه و نر دمملکت په تاریخ کښي جلا جلا فصل تشکیلوی چه په لاندې ډول دی:

(۱) دلویو کوشانیانو دوره یا فصل

(۲) د وړو کوشانیانو یا کیداریانو دوره یا فصل.

(۳) د کوچنیو کوشانیانو د احفا دو په لاد رتیبل شاهانو دوره یا فصل دلو یو کوشانیانو دوره دکوشاني حکومت اوواکمنی او مری اردو د مهمه او زده دوره ده چه دمسیح (ع) دوهم اولی پیړی له په یقیني صورت سره اشنا لوی او هر کله چه د پاد شاهانو دکښینا ستلو (جلوس) و فات، او دسقوط کال دکوشاني دمخصوص وخت او زماني او دکښیناستلو دکلونو دتطبیق سره نتر او سه په قطعي صورت سره نه دی معلوم، خو بیا هم دمسیح (ع) دړي اولی پیړی سره نه تخصیص کیدی شی، د دی فصل اساسي موضوع د همدغه دوري شرحه او د دی شاهی کورنی تنکیك او جدا والی دی چه دهغې د ترلو مړ بوطومسا ئلو سره به حتی المقدور بیان شی ددی دوري او ددویمي دوري په منځکښي چه د وړو کوشانیانو یا کیداریانو عصر دی او ځای ئی را تلونکي فصل دی په حقیقت کښي کوم عليحده شی فاصل نه دی بلکه دلویو کوشانیانو تدریجي سقوط په هغو علتو نو سره چه په آینده فصل کښي بیان شوی دی، چه یو له هغو څخه دآریانا په غربي حصصو باندی دساسانیانو تجاوز و ددی سبب وگرزید چه باختری کوشانیان د کابلی کوشانیانو یعنی دهندوکش دشمال او جنوب کوشانیانو سره دکابل په حدو دوکښي یو ځای شی او دیو بیگانه متهاجم په مقابل کښي

بنه‌قوي دولت تشکیل کاندی. دغه دولت ته ددغه موسس او محرك د نامه په اساس چه (کیدارا) نومیده کیداري یا کوچني کوشاني دولت وائي. چه بي دحد او حدود دتعین څخه دمسیح دځلورمې پیړۍ په چوکات کښې ځاینسي ځینې له همدې جهته کیداریان هم دلویو کوشانیانو له ډلې څخه حسابوي لیکن ښه او اساسي خبره دا ده چه جدا فصل او دوره ونیولله شي او دافغانستان د تاریخ ددورو او فصلونو طبقه بندي او دکوشاني تاریخ ددوو کرونولوژي دغه رویه ایجابوي ځکه دکوشانیانو دغه دوه دورې په هر لحاظ یوه له بلې څخه بیلې بیلې وې علاوه پر دې چه ددوی په منځکښې په ضمني صورت سره د ساسانیانو ظهور او تجاوز حائل شویدی یوه دوره داعتلا، عظمت، فتوحاتو او ترقی دوره ده او بله دانحطاط، تنزل، او مدافعې دوره ده.

دریمه دفعه کوشاني ظهور ددوو کوشانیانو یا کیداري کوشانیانو داولادې دوره ده چه هغه د زنبیل شاهانو په نامه چه زمونږ په تاریخ کښې څرګند شویدي یادوو، ددې دورې او دکوشان ددوهمې دورې په منځکښې یفتلي مقتدر دولت حائل شویدی چه دشپږم مسیحي قرن اول نیمائي ئې اشغال کړی دی. او یو مقتدر دولت و چه غربي او شرقي متجاوزین یعني ساسانیان او گوپتائې دخپلو سرحدو څخه هغې خواته وشړل او په هغوی باندې ئې باج کېښود. همدغه شان دتوکیویانو (غربي ترکانو) ظهور او بیا دساسانیانو مداخلې و ددې جملې نه دتخارستان په برخو کښې دتوکیو دخانانو دملوك الطوائفي حکومت په دغه منځ کښې واقع شویدي چه تقریبا دغه زول واقعات پرنیم سل کاله نیسي د۷ قرن له اوائلو څخه دکیداري کوشانیانو اولاده دلوړو غرونو له شاخونو څخه راکوزیږي او اقلاد هندوکش په جنوب کښې یو مقتدر دولت جوړوي چه دا هاغه د کابلي زنبیل شاهانو زوړ دولت دی چه د ۸۵۰ مسیحي کال پورې داو لږ او لویو کوشانیانو سیادت او ددې جملې نه دمملکت خاوره دعربو په مقابل کښې محافظه کوي.

دغه دې دافغانستان په پخوانې تاریخ کښې دکوشانیانو دظهور درې دورې چه دا ټنده فصلونو دارتباط او تسلسل او دیوې دورې پر بل باندې دانعکاس په علت دلته په وقفوا و دوو رو فصلو څخه حاصل اخستل شوي او په لنډ صورت بیان شوي دي او دغه دې د دې فصل په اساسي مطلب چه دلویو کوشانیانو تاریخ دی لاس پورې کوو:

# لوی کوشانیان

## لومړی عصر

### د کدفیزس کورنۍ

لوی کوشانیانو چه دا فصل موږ ورته مختص کړی دی. لږ څه د پرد مسیحی [ ۴۰ ]
کال د شاوخوا څخه د دریمی پیړۍ تر نیمائی پوری دوه پیړۍ را نیسی، د هغو
تحقیقاتو له رویه چه تر اوسه شوی دی، دوه سلطنتی کورنۍ د رلودلی چه
یوی ته د [ کدفیزس کورنی ] او بلی ته د [ کنیشکا کورنۍ ] وائی.

طبعاً د دغه تقسیمات پس له دی شوید ی چه د هندوکش په شمال کښی د ملوک الطوائفی وضعیت او د هغوی د قبائلو د رئیسانو پنځه گون تشکیلات له منځه تللی او وران شوی دی او د سلطنت په تشکیلاتو لگیا شوی دی ځکه څرنگه چه د عمومیاتو د عنوان لاندی د چینی منابعو په استناد د بیږدل شوید ی چه یوچیانو یا کوشانیانو دا کوسر [اموسیند] په شمال او جنوب کښی هم لوړی د پنځه گونو رئیسانو تشکیلات درلودل.

او بیا د دغو پنځو رئیسانو څخه یو ولگید نورڅاور رئیسان ئی ځان ته تابع کړل او د هغوی اداری د سلطنت شکل غوره کړ، د هغی نتیجی له قراره چه تر اوسه د مدققینو له تحقیقاتو څخه لاس ته راغلی ده کوشانی اوړی سلطنتی کورنۍ د هغی د سرسلسلی «کدفیزس» په نامه او د هغوی د ویم خاندان د هغه د موسس «کنیشکا» په نامه یادیږی، له اول خاندان څخه تر اوسه دوه نفره پیژندل شوی دی چه یو ئی «کجولو کدفیزس» او بل ئی د «ویما کدفیزس» په نامه شهرت لری او د «کنیشکا» کورنۍ پخپله د مؤسس سره په څو نفرو مشتمله ده چه وروسته به ئی وگورو.

مگر د دوی دا کثرو نومونو اخر د «ایشکا» په کلمه خاتمه مومی:
دکوشانیانو لومړۍ کورنۍ د مسیحی ۴۰ کال له شاوخوا څخه تر ۱۱۰ مسیحی کال پوری تقریباً ( ۷۰ ) کاله او د ویمی کورنۍ ئی د ۱۲۰ مسیحی څخه د ۲۶۰

مسیحي پېړۍ دوام کړی دی لکه چه ملاحظه کېږي، داولی کورنۍ دزمانې له ختم څخه بیا د دویم خاندان د شروع پېړۍ یعنې د ۱۱۰ او ۱۲۰ کالونو په منځکښې ۱۰ کاله خالي پاتېږي، دغه زمانه عموماً تر اوسه دمدققینو له پلوه په همدغه ترتیب سره پرېښودل شوېده. او هغه ئې دپادشاه یا دیو نائب السلطنه د سلطنت د زمانې دپاره چه نوم یې په خپلو مسکوکاتو کښې مجهول دی پرېښی دی دغه پادشاه د هغه لقب له مخې چه په مسکوکاتو کښې ئې لیکلی دی «سوترمگاس» یعنې «لوی منجی» بالکېږي او مربوطه شرحه به ئې په خپل ځای کښې راشي:

دا هغه تقسیمات دي چه تر اوسه مدققینو دلویو کوشانیانو ددوو کورنیو په منځکښې کړي دي او ورسره سمدستي داهم وایو چه هر کله د کوشانیانو کرونولوژي (تاریخي ترتیب) او نور په دوی پورې مربوط تهذیبي او اجتماعي مسائل تر اوسه په قطعي صورت سره روښانه او حل او فصل شوي نه دي، نو ځکه دې هغه باید آخري او قطعي نظریه او فیصله و نه گڼل شي، له امکان څخه دباندې نه ده چه لوی کنیشکا دې «کجولو کدفیزس» او دده دکورنۍ داعضاو څخه د مخه وي.

او همدارنگه د «سوترمگاس» یا «لوی منجي» مسئله چه مسکوکات ئې په افغانستان او هند کښې څو راز یات دي؛ تر اوسه تیاره او نامعلومه ده؛

او نه معلومیږي چه دغه شخص چه خپل ځان ئې په یو شاندار او باشکوه لقب سره یادکړی دی، خپل نوم ولې نه دی ښودلی دځینو نظریو په اساس چه تازه پیداشوي دي، که ده نه محض نائب الحکومه وایو دستي نور سوالونه منځ ته راځي چه له دغو څخه یو دوه دادي: د چا له خوا او په کوم ځای کښې نائب الحکومه؟ او ولې دده مسکوکات دومره ډیر او زیات دي؟ او همدارنگه لس کالنۍ فاصله چه دلویو کوشانیانو ددوو کورنیو په منځکښې پرېښودل شویده تر اوسه ښه روښانه شوې نه ده او له امکانه دباندې نه ده چه سوترمگاس ددویم کدفیزس نائب السلطنه وي او اول کنیشکا دې له وروستني ذکر شوي پادشاه څخه وروسته سمدستي سلطنت ته رسیدلی وي!

په هر صورت هغه رښا چه اینده تحقیقات به یې په دې مسئلو باندې اچوي هغه ده چه د
زماني جزء حسابېږي او کوم ترتیب چه تر اوسه د لویو کوشانیانو په باب نیول شوی دی.
هماغه دی چه د دې بحث په سر کښې مو ذکر کړی دی او په هماغه ترتیب سره
د دغو دوو کورنیو منسوبین او مربوطه واقعات بیانوو:

کوزولو یا کجولوکدفیزس: (۴۰–۷۸ مسیحي) کوزولو یا کجولو کدفیزس له
پنځو کوشاني شهزادګانو څخه یو تن دی چه څلور نور نفر یې ځان ته تابع کړل، او
د پادشاهۍ اعلان ئې وکاوه، د ده نوم په چیني ماخذو کښې - کیو - تسیو، کیو -
Kiei - tSiei-Kio او په مسکوکاتو کښې (کوزولا کدفیزس- یا «کوزو او کدفیزس» یاد
شوی دی او هر کله چه «کدفیزس» د ده او د ده د خلف په نامه کښې موجود دی نو ځکه ده ته
اول کدفیزس هم وائي د «کوزولو» یا «کوزولا» صحیحه معنی چه په «کجولو» یا
«کجولا» هم ذکر شوې ده مجهوله ده او په مختلفو صورتو سره تري تعبیر شوی دی
(کجولو) محکښې تر دې چه پادشاهۍ ته ورسیږي د یوې قبیلې رئیس و چه هغه «کوي شوانګ»
نومېده دغه رئیس د څلورو نورو نفرو سره د ۴۰ مسیحي کال تر شاوخوا پورې د ملوك
الطوائفي په صورت دهناو کښې په شمال کښې آمریت او نفوذ درلود، تر دې چه
ورو، ورو د کوي شوانګ د قبیلې اقتدار او د هغې د رئیس نفوذ زیات شو او کجولو
څلور نور کسان د خپل ځان مطیع کړل او په ۴۰ مسیحي کال ئې د پادشاهۍ اعلان وکړ او د ده
سلطنت د کوي شوانګ د سلطنت په نامه شهرت و موند - د باختر د دغه وخت اوسیدونکي
چه په چیني مأخذو کښې «د تاهیا» په نامه یاد شوي دي دولتمند، مهذب، او سوداګر وو
او د هغوی پیسو او دارائي د کوي شوانګ د دولت د بنیاد په تقویه کولو کښې د پرده خل
درلود. اول کدفیزس یوازې د هندوکش په شمالي ځمکو یعنې باختر باندې قناعت و نه
کاوه، او د غرب په خوا ئې د خپل حکومت قلمرو ته د پارتیا تر سرحد پورې
پراختیا او توسعه ورکړه، او د جنوب خواته د هندوکش په څوکو او وښت، (کي-پن)
او کاو فو یعنې کوهستان. کوهدامن او کابل ئې په خپل وسیع ولایتي مفهوم سره اشغال
کړل. او د کابل د درې د پهلو ایانو او د یونانو باختري دولت د خلیفه ګانو سلطنت ته ئې

خوا تمه‌ور کړه. کجولا کدفیزس تر له په مسو کښې سکه‌ وهلې ده. دده په مسکوکاتو کښې یو قسم ده پره چه په ده او ددې تاریخي واقعې په جریان باندې رڼا اچوي چه د پهلوایانو او کاپیسا د یونانیانو او باختري آخرني پادشاه څخه څنګه سلطنت کوشاني کورنۍ ته منتقل شو. ځکه چه داول کدفیزس په یو قسم مسکوکاتو کښې پخپله د پادشاه په نوم باندې سربیره چه په خروشتي او یوناني رسم الخط سره دکېږي ولاکساندا او (کوزولوکدفیزس) په صورت یادشوي دي د هرمایوس دکابل د یونان او باختري وروستي پادشاه نوم هم ذکر شوي دي. او په یو مبله نوټه کښې یوازې دده نوم ضرب یادشوي دي. متتبعین په دې موضوع کښې مختلف نظریات لري. او جلا جلا او دول دول خاتمو ته ئې بیا ئوي. موسیو والـه دوپوسـن دغه نظریات مختصر کړي دي چه موږ ئې لاندې بیانوو: (۱)

اول نظریه: هرمایوس دکابل دسیمې وروستنی یوناني پادشاه لا تر دغه وخته د خپل سلطنت په تخت ناست ؤ او سکه ئې یوازې په خپل تصویر وهلې ده.

نو بنا پردې اول قسم سکې یوازې دده د تصویر په نقش پیداشوي دي. وروسته بیا پهلوایانو دده لاس له سلطنت نه وایست لکه چه د دغه عصر په یادګار پخپله په کابل کښې ځینې مسکوکات لاس ته راغلي دي، چه د کوشاني (کجولا) سره چه دکابل اطرافو ته رارسیدلی ؤ، موافق شوی: او دده په کومک ئې کابل بل ځل بیا له پهلوایانو څخه نیولی دی. وروسته بیا هرمایوس دکوشانیانو د رئیس سره دهند په فتوحاتو کښې کومک کړی. او په دغه وخت کښې ئې چه سکې وهلې دي ددواړو تصویرونه پرې نقش او ښودل شوي دي. په آخر کښې هرمایوس مړ شو، او دکابل دیونان او باختري حکومت د کوشانیانو رئیس ته ورسید. یا پخپله دکوشانیانو رئیس دنفوذ او اقتدار خاوند شوی او سلطنت ئې له ده څخه په زور راخستی دی.

له دغه وخته وروسته ئې یوازې خپل تصویر په سکه باندې وهلی دی.

---

(۱) هندو پرتیانو، بربریانو، یونانیانو، سیتیانو، پارتیانو، یوچیانو په وخت کښې د کتاب ته دې مراجعه وشي او ۳۰۹ مخ دې وکتل شي.

ACKU

دویمه نظریه: موسیو فوشه دیونانی (هرمایوس) او دکوشانی (کجولا) اتحاد دطبیعت نه مخالف گڼي او موضوع په لاندې دلیلیانو وي هرمایوس دسلطنت په تخت باندې نامت ؤ تر څو چه مړ شو؛ او دکابل دیونانیانو او باختري پادشاهانو سلسله قطع او پرې کیږي او یا پهلو ایان ددوی نه پادشاهي اخلي؛ لیز و روسته یا ممکن څه دېره زمانه پس ته (کوجولا) کوشاني رئیس کابل دپهلو ایانو له لاسه باسي، او بې درنګه دهرمایوس دمسکو کاتو په تقلید اقدام کوي او عیناً دهغه په تصویر سکه وهي. او پس له څه مودې بې له دې چه د دې شکل په سکه باندې وي بو ازې په خپل نامه سکه وهي. دیته باید فکر و شي چه په او له نظریه کښې مو وبلي دي چه (کوجولا) بو ازې په خپل تصویر سکه وهلي ده حال دا دی چه فوشه وائي:

(په آخر کښې ئې بو ازې په خپل نامه سکه وهلي ده)

موسیو سیلون لوي Sylvain L.v په (مدنیت بښونکي هند) (۱) کتاب کښې په داسې حال کښې چه دکابل دیونان او باختري و روستني پادشاه هرمایوس دمختلفو انو اعو مسکوکاتو څخه بحث کوي ضمناً لیکي: (مګر دڅینو نورو مسکوکاتو په مخ هرمایوس دغیر مترقب همسایه متحمل کیږي. که څه هم دشخص صورت او نوم ئې په یوناني کښې هرمایوس ظاهر وي، لیکن دسکې په چپه خواد (هراکلس) Herakles دتصویر نه چاپیره دا جمله او ستل کیږي (کوجولا کاسا ساکو شانا، یا وو ګا سا د رام تیتا سا Kujula Kasana Kusana - yavuasa - ahram Athitasa چه معنی ئې داده: (دکو لا کا ساکو شانا دینډ آرمثر) وروسته بیا د سکې له مخ نه هرمایوس له منځه ځي، او ځای ئې د یو فاتح سړي نیمه تنه نیسي چه چاپیره ئې په یوناني الخط (KozouloKabphisouKorsna او په خروشتي رسم MahaRaysarayrayasa)

یعنی شهنشاه پادشو ی دی. او نوی لقب هم لري چه (دآسمان زوی) دی. (کجولا کا سا سا کوشانا. یاو وګاسادرا ما تی تا سا) یعنی: (کوشاني دینډ ارر ئیس کجولا کد فیز س) د(دیندار) له صفت څخه چه ددې په سکه کښې استعمال شوی دی معلومیږي چه کوشانیان هوماً او کجولا کدفیزس مخصوصاً دیندار خلک او متدین سړي ؤ.

او هر کله چه سړی ددوی په عصر (مخصوصاً دکنیشکا په سلطنت) کښې د افغانستان

---

(۱) د L,indeCivilisatrice ۱۲۷ مخ

دزردشتي اوبودائي دين ترقياتو ته وګورى دكوشانيانو زياته علاقه مندي ددينى او مذهبى كاروسره ښكاره كيږي. د (كجولاكدفيزس) دجلوس او دسلطنت ددوام او ختم د تاريخ په باب كښې د تاريخ په كتابو كښې زيات حدسيات او ګمانو نه شوي دي: (شارتركه ويج هسترى آف انډيا) چه په ۱۹۳۶ ع كال په لندن كښې چاپ شوى دى ليكي: (د ځمكې مختلفى طبقې چه په تاكزيلا كښې له هغې ځخه مسكوكات پيدا شوى دى.

دا خبره ښكاره كوى چه د اول كدفيزس سكه د (كندو فارنس) د سكې نه لږوروسته منځ ته راغلى ده. او دا تا خيرد مسيحى اولى پيړۍ د دريمې ربعى سره موافقت كوى) چيني مؤرخين وائى چه اول كد فيزس د [۸۰] كالو عمر خاوندؤ نو په دى حساب سره بايد دى د۷۸ مسيحى په شا وخوا كښې وفات شوى وى مستر «ترى بهو وانداس شاه» د خپل پخوانى هند د ځلورم جلد په ۱۱ مخ (۱) كښې د اول كد فيزس جلوس د ٤۰ مسيحى په شاؤ خوا كښې او وفات ئى د ۷۸ مسيحى په حوالى كښې ګڼې. چه د پورته حساب سره موافق دى او په دى ترتيب سره وبايى شو چه «كجولا كد فيزس» لومړنى كوشانى پادشاه د لويو كوشانيانو د سلطنتى كورنۍ لومړنى مؤسس تقريبا ۳۸ كاله پادشاهي كړيده لكه چه د چينى منابعوا و د مسكوكاتو د شها دت له مخې استنباط كيږي، او بيا ئى مخكښې تيرشو، «تا يوچى» يا «لوى يوچيان» د «تاهيا» يعنى د باختر د نيولو نه تر يوې بلې پيړۍ پورى د ملوك الطوائفى په صورت د هندوكش په شمال كښې حكومت درلود او آمران وو، او كجولا كد فيزس د كوى شوانګ د قبيلي رئيس د ٤۰ مسيحى كال په شاؤ خوا كښې په باختر كښې د ملوك الطوائفى رژيم په شاهى سلطنت بدل كړ، موسيو سيلو ذلوى وائى: چه كد فيزس د پادشاهى د اعلان نه وروسته په نګانسى Ngansi (دپارتيان ځمكى) باندى هجوم وكړ او وروسته يې بيا د كاوفو Kao-fou (كابل) ولايت د هندوكش په جنوب كښې د خپل مملكت سره يو ځاى كړ [۲]

---

(1) Ancient india Volume by: Tribhuvandas-L. Shah

(2) L'Inde Civilisatrice ۱۳۶ مخ

ACKU

دا هغه اقدامات دي چه اول کدفیزس د آریانا دجغرافیائي خاورې دیوکیدو او توحید د پاره کړي دي .

د «ونسنت سمیت» په عقیده (اول کدفیزس) په ۵۰ مسیحي کښي کابل نیولي دي . [۱]

نوکله چه پوره په ۶۰ مسیحي کښي په باختر کښي د سلطنت په تخت باندې ناست وي ، نو معلومیږي چه د لسو کلونو نه وروسته د هندوکش په جنوب را ښکته شوي دي .

او هر کله چه د چیني مآخذو له مخې پس له جلوس له لومړي نه نگاشي ( پارتیا ) ته متوجه شوي دي ، دده نوج کشي په دغه خوا باندې د ۵۰ مسیحي نه پخوا باید وگڼل شي .

د هغو علاقو په جمله کښي چه د هندوکش په جنوب کښي ئي دیو نان او باختر او پهلوایانو له وروستني ایلا دي څخه نیولي دي . دوه کي پن «Ki-Pin» او «پوتا» «Pou-Taa» نوم هم اخستل شوي دي چه اول ئي دلته زیاتره د کاپیسا معنی لري او دویم ته ئي موسیو سیاونلوي میو الیه علامه ایښي ده او داراکوزي په شمال کښي ئي یو ځای گڼلای دي .

او لکه څه رنگه چه د دې فصل په عمومیاتو کښي اشاره شویده موسیو واله دو پوسن وائي چه دا د محل او ځای نوم نه دي ، بلکه د غزني د علاقي پختون ـ پښتانه ترې مراد دي او دغه تعبیر نسبتاً صحیح او نیک دي په هر صورت دومره باید ښکاره کړي شي چه کجولا کدفیزس د لویو کوشانیانو د لومړي کورني د رومبي پادشاه پس له ۵۰ مسیحي څخه د کابل له علاقي څخه زیاتره د آریانا جنوب او جنوب غربي خواته د غزني ترشا و خوا آندراز اکوزي پوري نفوذ پیدا کړي او په دغه نقشه کښي ئي چه د آریانا پښتیانا د خاورې د یوکولو او وحدت د پاره جوړه کړي وه ډیري کامیابي حاصل کړې ده.

او د ده له اقداماتو نه څرگندیږي چه دده غوښتل خپل دولت تر ټولو او مري د آریانا تاریخي او طبیعي حدودو په چوکاټ کښي قائم کاندي.

---

(۱) د اسکندر د تاوستاتو سره د هند د پخواني تاریخ د کتاب ۲۶۷ مخ

ACKU

لکه چه دخپل سلطنت د احاطی حد و دئي په شرق کښي تر انډس او بیا (هند) اندر جیلم پوری پراخه کړل.

او په شمال کښي سغدیانه دهغی جزء گرځیدلی او په غرب کښي ئي (پارتیا) جزء وه (۱) یعنی زیات د جنوب خراسانه موجوده پارتي دوه دولت د احاطی حدود پوره نشي ښودلای اول کډ فیزس دخپلو مسکوکاتو په ضرب او کښي دخپلو معاصرینو څخه لکه د کابل د یونان او باختری و روستنی پادشاه هرمایوس پیروي کړیده :

او ددوه مسکوکات د (رومن) دځینو امپراطوران لکه اگوست ، کونستانتین ، کلاو دیش او اتی بی ریوس د مسکوکاتو سره هم شباهت ښکاره کوی ځکه چه دوروستو ذکر شو و سلاطینو سکی په شرق کښي ددې جملی نه په آریانا کښي دتجارتی و رکړی راکړی په واسطه رواج او خپری شوی دی.

سره ددی دکد فیزس دکورنی د تاسیس کوونکی په مستقیم صورت سره دکابل د یونان او باختری و روستنی پادشاه هرمایوس تقلید کړی دی ددوه سکی عموماً پلنې ، مسی ، او مدورغی دی ددوه دځینو سکو تفصیل په لاندی ډول دی :

(۱) گرده مسی سکه : دسکی په مخ باندی دیمی تنی په صورت په نیمنئی مخ ځرگند شوی دی احتمال اری چه دکابل د یونان او باختری و روستنی پادشاه هرمایوس دی مضمون په یونانی لیدل کیږی چه اصل ژبی او رسم الخط ئي تغیر موندلی دی ، او عبارت یې داسی دی کورسانو (یا) کورانو ، کوزولوکد فیزس ، یعنی : «کوزولو کدفیزس کوشانی» دسکی تر شا هرا کلس ولاړ دی په ښی لاس کښي ئي (چوگان ـ لرگی) او په کین لاس کښي ئي دزمري پوتکی نیولی دی

لیکنه په (هندو باختری یا خروشتی) رسم الخط سره ده چه متن او ترجمه ئي په لاندی ډول ده :

(کوجولا کاساساکوشانا یاو و گاساده راماتی گاسا) یعنی «کوجولا کاساساکوشانی دیندار رښتینی»

(۲) گرده مسی سکه : دسکی پر شا یو عسکر مخامخ ولاړ دی او کوم مضمون

---

(۱) دهند دپخوانی تاریخ د اسکندر دفتوحاتو سره دکتاب ۲۶۷ مخ دغه کتاب د وینسنت سمیت تالیف دی.

چه په خروشتي رسم الخط لیکلی شوی دی داسی دی: کیو جولا کایو ساکو شاناه یعنی:
کوجولا کایو کوشانی»

په یو بله گرده مسی سکه باندی، چه په شائی د بخدی اوښ شکل نقش شوی دی په خروشتي رسم الخط داسی مضمون لوستلی کیږی مها راجا سا، راجا، جاسا دوا پوترا ساکا جولا کارا کا فز اسا» یعنی شاه شاهان د اسمان زوی کوجولا کدفیزس
ویما (یا) وموکدفیزس: کدفیزس د کورنی یا د لویو کوشانیانو د لومړی سلطنتي کورنی دوهم پادشاه هغه سړی دی چه په مسکوکاتو کښی د ویما (Wima) یا (ومو Ocemo) کدفیزس په نامه یاد شوی دی

او چینی ماخذ ورته ـ ین ـ کاو شنگ Yen.Kao'Cl eng ویلی دی او د کجولا کدفیزس زوی دی او معمولاً ئی د تاریخ په کتابو کښی ورته د ویم کدفیزس وائی دی د ۷۷ یا ۷۸ مسیحی په حدود شا کښی د خپل پلار پر ځای د سلطنت پر تخت کښیناست چینی منابع که څه هم دده په باب کی از معلومات ورکوی مګر بیاهم د معلومات مهم او قیمتی دی ځکه چه وائی ویماکدفیزس د کجولا پر ځای پادشاه شوی دی او هند ئی ونیو او ده یو پراوږدی او شانداری دوری پادشاهی نه څخه وروسته په ۸۰ کلنی کښی مړ شو(۱)

کوم وخت چه ویماکدفیزس د مسیحی اولی پیړی په دریمه ربع کښی د آریانا پر تخت کښیناست، تر هغی اندازی پوری چه له قرائنو څخه معلومیږی غوښتل ئی چه د خپل پلار نقشی او اقدامات عملی کړی، که څه هم کوشانی دولت یو نوی تاسیس شوی دولت و، سره ددی هم د لومړنی کوشانی کورنی موسس په خپل ۳۸ کاله سلطنت کښی ډیر کارونه مخصوصاً دا چه په ممالکت کښی اجرا کړی و. د یونانانو و باختری او د پهلوایانو کوچنی دولتونه چه زیاتره ئی د هندوکش په جنوبی علاقو کښی د ملوک الطوائفی په رنګ درلود له منځه لاړل او ځای ئی واحد او معظم کوشانی دولت ونیو او دغه مقتدر دولت د اول کدفیزس په کوشش او زیار سره جوړ شو.

---

(۱) د موریایانو، بربریانو، یونانیانو سیتیانو، پارتیانو او یوچیانو په وخت کښی هند د کتاب د واله د وپوسن د تالیف ۳۱۱ مخ

د دې پادشاهزوی دویم کدفیزس، دیو داسې مقتدر مملکت پادشاه شو چه تقریباً په خپلو ټولو جوانیو کښې خپلو تاریخي حدودو ته رسیدلی ؤ.

له دې کبله دې زیات د هند او چینې ترکستان په خوا لښکرکشۍ ته متوجه شو او د خپل اوږد سلطنت زیاته برخه ئې د هند او سنکیانګ په فتوحاتو تیره کړه، دی جنګی او عسکری سړی ؤ او د امپراطورۍ د تشکیل د پاره ئې لوئې نقشې تیاری کړې وې.

د هند فتحه: چینی منابعو دویم کدفیزس د سلطنت د ټولو وقائعو په نسبت د ده د هغو فتوحاتو یاد چه په هند کښې ئې کړی دی خورا ښه ساتلی او حفظ کړی ئې دی. مخکښې وویل شول چه د ده پلار د شرق خوا ته د آریانا د تاریخي حدودو یعنې د اندوس (اباسیند) د سیند سره تماس پیدا کړی و.

ونسنت سمیت وائي احتمال لري چه تر «جیلم» پورې هم وړاندې تللی وی. په هر صورت دویم کدفیزس هغه کار ته پسې دوام ورکړ چه پلار ئې شروع کړی ؤ.

د یو انګلیسي مورخ د دویم کدفیزس په باب کښې لیکي چه «داسې دلائل موجود دي چه دغه پادشاه پنجاب او د ګنګا د سیند له حلګو څخه یوه زیاته برخه فتح کړی او احتمالاً تر بنارسه وړاندې تللی وی.

همدارنګه احتمال شته چه نوموړی (اباسیند) د سیند تر خولې پورې رغلی وی او دغه علاقې ئې فتح کړې وی او د پارتي (پهلوا) له ورو او کوچنیو پاچاهانو څخه چه دلته ئې په اوله مسیحي پیړۍ کښې سلطنت کاوه، که څوک پاتې هم وو، د دویم کدفیزس له فتوحاتو نه وروسته له منځه ولاړل ځکه چه تر دې وروسته د دوی نوم چا نه دی اخستی.

ویما کدفیزس د هند مفتوحه ځمکې د یو نفر نائب السلطنه په واسطه چه عسکري شخصیت ئې درلود، اداره کولې. او (د بې نومه پادشاه) مسکوکات چه په دېرش میر سره د هند له شمال او د کابل له درې څخه تر غازی پوره پورې او د بنارس د ګنګ له غاړې څخه تر کچ او کتیاوار پورې پیدا کیږی، باید ده ته منسوب شي. (۱)

---

(۱) د هند د پخواني تاریخ د اسکندر د فتوحاتو سره د کتاب د ونسنت سمیت د تالیف ۲۶۸ ـ ۲۶۷ مخ.

د (وِنسنت سمیت) له بیانا نو څخه واضح کیږي چه د وهم کال فیزس د هند خوا ته پخپلو لښکرکشیو کښې زیاتې کامیابۍ حاصلې کړې، او د دې پراخ مملکت په زړه کښې د گنگا تر حوزې پورې وړاندې تللی دی.

«تری بو واند اس شاه د دې زماني وقایع د اسې تحلیل کوي چه وېما کدفیزس ....د خپل سلطنت په اولو کلو کښې په کوم جنگ او لښکرکشۍ باندې پیل نه دی کړی.

او د ده د سلطنت په ۹ کال کښې د چین سره د ده جگړې، شروع کیږي او د حکومت او زما مداري په وروستیو کلو نو کښې د هند خوا ته متوجه کیږي سره د دې هم دې رشید، زړه ور او باعزمه بادشاه گڼې او لیکي چه :

«وېما کدفیزس د هجوم په اراده را پاڅېد پنجاب او کشمیر ئې فتح کړل.

او په هند کښې د ده وړاندې تگ زړو، وروگړندی شو، او د هند تر له شمال لغربي برخه ئې تر بنارسه (بناتي چه بې له سنده وي) فتحه کړه، احتمال شته چه ټر مانو را ئې د هند خاوره فتحه کړې وي. ځکه چه د دغه ښار په ١٤ میلي په یو کلي کښې چه مات Mat نو میږي د ده مجسمه پیدا شوېده .(١) دا نظریه د دغه بیان سره چه مخکښې مو په هند کښې د وېما کدفیزس د فتوحاتو په باب کښې لیکلي دي چندان فرق نه لري مگر هندي مدققین ایله دومره وائي چه په هند کښې د دوېم کدفیزس فتوحات د ده د سلطنت په آواخرو کښې شوي دي .

او د ده د وړاندې تگ سره ترماتو را یا د هغه تر شاؤ خوا پورې موافقت کوي او د سند په علاقه کښې د ده د کامیابیو په باب کښې متردد دي په هند کښې د وېما کدفیزس د لښکر کشۍ عصر او هغه ځایو نه چه دې پکښې وړاندې تللی دی هر څه چه غواړي وي به خو هغه شی چه زمونږ په نز د منلي شوېدی دادی چه ده په هند کښې فتوحات کړي او د هند شهزادگانئې مغلوب کړي دي، چه چینی منابع په صراحت سره په دغه باب کښې اشاره

(١) د پښتو انی هند د ځلور م جلد ۲۹ـ ۲۸مخ

کوی او وائی : «ین- کاڼو-چن» (دویم و یما کدفیز س) دتین-چو (هند) رئیسا ن له منځه یووړل او دامملکت ئی دیو نفر تـر اداری لاندې ورکړ. (۱)

دچین سره منازعه: چینیانو چه ددوهمی ق م پیړۍ تر اولی ربعی پورې ددوی په خیال اصطلاح د (غرب دعالم) سره ئی تماس نه درلود، دپامیر دغرب. نه هغه پلو دسیاسی او ضاعو دتبدلاتو او واقعاتو دظهور سره ئی چندانی علاقه نه درلوده پس له دې چه یوچیا ن ورووروو د سرد ریا لهحوزې څخه دآمو سیند حوزې ته ولیږدېد او ځای په ځای پر یوتل نو کراراراً ئی قوت او قدرت ومونده. په دغو وختو کښې لا په فرغانه کښې و واو دملوك الطوائفی په دوله ئی ژوندون کاوه، سره ددې چینیان دهیو انګ نو باندې په ضد دهغوی مرستې ته اړاو محتاج ول که چه خپل لومړی نماینده (چانګ-کین) ئی په ۱۱۵-۱۲۵ ق م کښې دهغوی په نز د فرغانې ته واستاوه او ددې پیښې بیان ددغه کتاب د۱۷۸ مخ په شاوخوا پاڼو کښې تیر شو دچین امپراطورانو په یوه پیړۍ او دپیړۍ په ځلور مه برخه کښې خپل تماس دسیتیانو سره وساته، تر دې چه په ۸ مسیحی کال کښې دهغوی او ابطر سما قطع شول، هغه وخت چه په ۲۳ مسیحی کښې دهان دلومړی سلطنتی کورنۍ سلطنت اخر ته ورسید چینیانو پر سیتیانو باندې لږ نفوذ هم نه درلود. داهغه موقع ده چه کوشانی د ئیسانو دآموپه دواړو خواوو کښې اقتدار مو ندلی و او په هغه ترتیب سره چه مخکښې مو ولوست تقریباً ۲۰ کاله وروسته (کجو لا) دخپلې قبیلې دکوی شو انګ او دخپل اقتدار نه کار واخست او په باختر کښې د کوشانی سلطنت په جوړ ولو پیل کوی طبعاً په دې وخت کښې کوشانیان دآمو دریاب دشمال هغه پخوانی متفرق یوچیان نه و او دهند وکش په دواړو خواوو کښې دسلطنت په تشکیل سره قوی کیدل پنځوس کاله نور هم چه داول کد فیز س دسلطنت تولهدوره هم د هغې جز ده چینیان په دغه زمانه کښې په خپل حال پاتې وو او دآریانا کوشانی دولت دخپل مؤسس سره دخپل اکمال مراتب طی کول.

داوضعیت همدغسې وتر څو چه په ۷۳ مسیحی کښې بیا چینیان غربی مملکتو ته متوجه شول. او خپل مشهور جنرال پان - چاو (Pan chao) ئی دغرب خوانه

---

(۲) دمد نیت بښو نکی هند (لیند سی وی لیز اتریس) دسیلو د لوی د تا لیف ۱۲۹ مخ

ولیږه او تر ۱۰۲ مسیحي پورې تقریباً ۳۰ کاله ددې جنګو نو لمن دوام وکړ مخکښې مو وویل چه ویماکدفیزس په ۷۸ مسیحي کښې دسلطنت پر تخت کښېنا ست که چېرې د غه تاریخ دغرب خواته دچین دجنرال دلیږ لو دتاریخ سره مقایسه شي نو د دینه دچین دتشویش او دکوشاني دولت دمقتدر کیدو په منځکښې ارتباط لیدل کېږي او له احتماله بیرون نه ده چه دکوشاني دولت اقتدار دچین دهانیانو دویم ټبر دچین غربي سرحداتو او غربي ممالکتو ته متوجه کړي وي په هر صورت جنرال پان چاو د زیاتو عساکرو سره غربي ځمکو ته متوجه شو. او دننه په سنکیانګ کښې ئې په ۷۳ مسیحي کښې «ختن» اشغال کړ، وروسته ئې بیا کاشغر ونیو او پس له هغه نه ئې کوچه Kucha او قره‌شار Karashahr په ۹۲ مسیحي کښې ونیول او هغه شمالي لیاره ئې چه وروسته بیاد وریښمو د لیارې په نامه شهرت پیدا کوي د چین دتجارت او عسکرو دپاره پرانسته او دفرغانې له لیارې د خزر د بحیرې تر غاړو رسیږي او حتی وراندې هم ولاړ او د روم‌ن دامپراطورۍ دداطرافو سره ئې تماس پیدا کړ.

ویماکدفیزس کوشاني باعزمه او رشید پادشاه دخپلې هغې سجیې پراساس چه لرله ئې په دقت سره د غرب خواته دچینیا نو نظریه، سیاست او وړاندې تګ تعقیبا وه د ځه دخپلې امپراطورۍ دخاورې د پراخو لو دپاره ملا تړلې وه او یوه مجادله ئې داند وس په شرق کښې شروع کړې وه، او په کامیابۍ سره مخ په وړاندې روان ؤ هیڅکله حاضر نه ؤ چه د شمال شرق دکومې بلې دې ځنځه متجاوز په دعوا د ده د سلطنت په خاوره باندې حمله وکاندې.

ده ځان دچین له پادشاه څخه کوچنی او محقر نه ګاڼه بلکه ځان ئې ورسره برابر او هم انډول باله. لکه چه وو نسنت سمیت ږو ائی (۱) په ۹۰ مسیحي کال کې ئې دچین شهزاده ګۍ دځان دپاره وغوښته. او په دغه ترتیب سره ئې جرأت وکاوه چه د چین دبا د شاه سره دخپل مقام او منزلت برابري څرګنده کړې او ددې مطلب داعلان او پوره کولو د پاره ئې د چین د دربار ته یوا یلچي رسما ولیږه. دغه ایلچي د چین د خاقان د دربار ته ونه رسید

[۱] داسکندر دفتو حاتو سره دپخوانی هند تاریخ ۲٦۹ مخ.

ACKU

ځکه چه [پان چاو] د چین فاتح جنرال په ده باندې په لیاره کښې پیښ شو، او هر کله چه د ده
د سفر له مقصده خبر شو، نو د خپل خاقان د لوړ مرکز او غوښتنه ئې لوی سپکاوی وګاڼه
او د کوشاني امپراطور ریږ قاصد ئې راستون او بیرته ورګرځاوه د ویماکد فیز س ددې
سپکتیا او نظراو بدی نه وروسته ځکه چه ده د نماینده سره شوی و په قهر شو او لوی لښکر ئې برابر کړ
چه اویا زره سپاره وو او امر ئې وکړ چه د ده د نائب السلطنه تر فرمان لاندې چه سي
[Si] نومیده، د پامیر د دریا د تسونګ لینګ Tsung-Ling د لاری څخه د چین
په ځمکه باندې حمله وکړي.
دغه لښکر زیات احتمال لري چه د واخان د غاښي یا د تاشقرغان د کوتل له لیاری د پامیر د غربي
او شرقي لمنو نه تیر شوی او د شرقي لمنو په آخر کښې کاشغر یا یارکند ته شوی وی
هر کله چه د اویا زرو سپرو سره د پامیر نه تیریدل کوم اسان کار نه و ځکه چه څه خو
د طبیعي مشکلاتو له کبله لکه یخنی او د هوا سختي او څه د خوراک او غذا د نشتوالی له درکه
چه د جنرال سي [Si] لښکرو ته درنه ی داو آسونو ته واښه او ورښتې نه رسیدلې د کوشاني
لښکر و قومندان د ډیرو مشکلاتو سره مخامخ شو. اکثره لښکر ئې تباه شو. او څه چه پاتې
شول زیاتې پریشانئ او ستړیا په حال کښې د پامیر د شرقي لمنو آخري ځای ګوته ورسیدل
او هر کله چه چیني جنرال پان چاو د پېښې معاملې ته تیاری او په قابو ناست و. کوشاني ستړي
ستومانه عسکر بې له دې چه ده مقاومت وکړی د هغوی سره مقابل شول او تقریباً بالکل تباه شو.
او په نتیجه کښې دویم کدفیز سماتې وکړه او مجبور شو چه چین ته باج ورکړي لکه چه
د پروفیسر لګګ Legg د ترجمې نه معلومیږي دا د شاهی کورنۍ دوروستیو
پادشاهانو سالنامو د باج ورکولو او رونکو هیتو راتګ ته اشاره کړې ده چه متن ئې داسې
دی: د (هو Hwal یا هوتي Hoti) امپراطور په وخت کښې (۸۹-۱۰۵) دوی (هندیانو)
قاصدان د ځینو څیزو نو سره چه سوغاتونه او هدیې بلل کیدې چین ته لیږل مګر
څه موده وروسته د غربي منطقو خلک د چین د خاقان په مقابل کښې پورته شول
او خپل مراودات ئې ورسره د (ین شي Yen-Shi) (۱۵۹) د عصر ترډېره ټیم کال
پورې چه د کوان «Kwan» (۱٤۷-٦۷) امپراطور د سلطنت زمانه ده پریکړل) دهان

ACKU

داخرنۍ کورنۍ سالنامې دونسنت سمیت د تألیف د هند د پښتوانی تاریخ د ۲٦۹ مخ د ۳ حاشیې د پاورقۍ ترجمه چه پروفیسر لنگ کړېده )

د روما د امپراطورۍ سره د وهم کدفیزس روابط سره د دې ما تې چه ویما کدفیزس وکړه دنوړ و ممالکو سره دخپلو روابطو په قائمولوا و ټینگولو کښې ئې پوره آزادي درلوده دغه نظریه ښه ګټه ل کیږی او د رومن دامپراطورۍ سره دده دسیاسي روابطو پرا خوالي تائید کیږی، دغه روابط یوازې د د وهم ویما کدفیزس د تمائل او آرزو په واسطه منځ ته نه وو را غلي بلکه د پارتیا نو سره مقابلې، دهندی او چینی تجارتی مال څخه داستفادې او دنظامی نقطی نظره څخه د روم امپراطوران دار یانا ( پنتیانا ) دکوشانی دولت دوستۍ ته ډېر اړ کړي وو . نو که په شرق کښې دکوشانی نا خاپي پېښې په واسطه د ویما کدفیزس لښکر د چین د قوا ؤ په مقابل کښې مضمحل شوا و تر یوه وخته پورې چین ته په باج ورکولو مجبور پاتې شو ل په غرب کښې دده رابطه د رومن دامپراطورۍ سره کلکه او محکمه شوه ، د دویم کد فیزس نمائندګانو د ( تراجان ) په دربار کښې حضور درلود څکه لکه چه د یونان کاسیوس (Dion-Cassus) وائی پس له دې چه تراجان روم ته ورسید زیات نمائندګان مخصوصاً له هند څخه د ده د دربار ته حاضر شول تراجان په ۹۹ مسیحي کال روم ته ورسید هر کله چه په دې وخت کښې ویما کد فیزس د هند او په برخه د ګنګا تر غاړو پورې فتحه کړې وه ، او د هند یوه لویه برخه دده دامپراطورۍ جزء ګڼل کیده ، بې شکه د هغو نمائندګانو په منځ کښې چه د یونان کاسیوس » هندي بللي وو د کوشانی د دویم کد فیزس نمائنده هم موجود ؤ د ونسنت سمیت په عقیده د دویم کدفیزس نماینده له دې جهته د روم دربار ته لیږل شوی ؤ چه دده فتوحات تراجان ته اعلام کاندې (۱) رومن یا نو چه د مدیترا نې دایشیائی غاړو په اشغال سره شام په خپل تصرف کښې راوستی ؤ او د وریښمو د لارې غربی ورو ستی سر د دوی په لاس کښې و دکوشان دامپراطورۍ سره ئې د تجارتی

---

(۱) دهند پښتوانی تاریخ داسکندر د فتوحاتو سره د کتاب ۲٦۹ مخ

روا بطو قا ئمو لو ته زيات قيمت ور کاوه او د تجارتي ور کړې را کړې هلا تقو پوره وسعت مونده لې وه د کوشاني امپراطورۍ د تولو برخو څخه په زياته اندازه تجارتي مالونه د کابل او باختر د ناوې د لارې څخه او له هغه ځای څخه د ورېښمو له لیا رې چه عمده منازل به ئې په خپل ځای کښې بیان کړم د شام او ورې آسیابند رونه رسید ل لکه چه پلیني (Pliny) شهادت ور کوي په کال کښې به خورا ډېرې پیسې د لوکس دسامان او ادو اتو د پیرودلو د پاره هند ته لیږل کید لې، هرکله چه رومنیا نو ډېرې پیسې د رلودې او متمول او ماره خلک وو او په عیاشۍ او مجلل ژوند سره مشهور وو، د ورېښمو د تو تو چه له چین څخه به باختر ته راتلې او د تو تو، دوا گانو او عطر یاتو او قیمتي تیزو د پیرودلو دپاره چه د کوشان دامپراطورۍ په هندي برخه کښې پیدا کید ل زیاتې پیسې به ئې لگولې او عموماً کوم شی به ئې چه اخست قیمت به ئې په طلاو و سره ور کاوه په همدغه مناسبت سره وچه دلوی کوشانیانو په وخت کښې لو مړی ځل دا دویم کدفیز س په زمانه کښې دهغو ی طلائي مسکو کات په زیاته اندازه په آریانا کښې خپاره شول . او د سلطنت طلاو ذخیرې زیاتې شوې سکه پیژندونکي داوېما کدفیز س د طلائي مسکوکا تو د پیدا کید و علت د رومن د طلاو زیاتوالی گڼي ځکه چه مخکښې تر ده پلار ئې کجولا کدفیز س یا اول کد فیز س که څه هم خپلې سکې د «اگست» او (تي بي ريو س Tiberius له ۱٤ نه تر ۳۸ م ) د سکو په تقلید وهلې دي، مگر دده تولې سکې فقط په مسواو مفر غو کښې دي او د طلا سکه لو مړی ځل دده زوی دویم کد فیز س وهلې ده دغه سکې په اندازه ، شکل او وزن کښې د (اوری Aurei يا اوروس Aureus) يعنې د رومائي مسکو کسا تو په شان دي چه د ۳٥ر۸ وزن ئې درلود ، و نسبت سمیت لیکي هر کله چه د رومیا نو طلا په شرق کښې زیاتې شوې ودویم کد فیز س د طلاو د سکې په اهمیت پوه شو او په زیات تشمیر ئې شرقي آوزې گانې ضرب کړې چه په شکل او تول کښې د رومن داورې سره یو شی و او په سوچه والی کښې له هغې نه هم کمې نه وې . (۱) په هر حال دویما

(۱) د پخوانی هند د اسکندر د فتو حاتو سره د کتاب ۲۷ مخ

کدفیزس په عصر په آریانا او د کوشانی امپراطورئ په شاؤ خوا کښې د طلاوو د پروالی او د رومن دمسکوکاتو نا څا په تقلید ، د رومن د امپراطورئ سره دکوشانیانو د تجارتی روابطو په پراختیاد لالت کوی. چه د سیلون لوی د نظریی په اساس مخصوصاً د مصر او شام سره یی زیات ارتباط درلود (۱).

دویما کدفیزس مسکوکات : مخکښې مو دده د پلار کجولا کدفیزس دمسکوکاتو په باب کښې خبری وکړی چه ده یوازی په مسو او مفرغو کښې سکه وهلی ده .

دده سکې گردی ، او عموماً د کابل د یونان او باختر د وروستی پادشاه هرمایوس او د رومن د امپراطورانو د مسکوکاتو په تقلید وهل شوی دی.

دویما کدفیزس سکې له هره جهته دده د پلار په سکو تفوق اری علاوه پر مسو او مفرغو لو مری ځل ئی پر طلا و هم سکه وهلی ده او د غه طلائی مسکوکات په شکل ، تول او اندازه کښې د (اوری) د رومنیانو د طلائی سکو په شان دی

ددویم کدفیزس مسکوکات داول کدفیزس دسکو نه خائسته او ښکلی دی .

«واله دو پوسن» د (فوشه) له خولی څخه ددغه حکاك چه دویما کدفیزس تصویرئی دسکې په تاپه باندی ایستلی دی ډیر توصیف او تعریف کوی او دفوشه نظریه داسې بیانوی :

ددوارو کدفیزسانو په منځکښې ډیر فرق موجود دی اول دیو ضعیف حکمران او رئیس سره شباهت لری او داسې صنعتکار ئې نه ؤ پیداکړی چه د فلزاتو قیمتی مخصوص دده دپاره حکاکی او پرېکاندی له دغه کبله ئې کله دیو یونانی پادشاه له سکی او کله ئې دیو رومن امپراطور له سکې څخه کار اخستی دی بالعکس دده دزوی حکاك دده داسې یو صحیح تصویر ایستلی دی چه عرقی نژاد کتو نه هم ور څخه څرگند دی احتمال لری چه داسې صنعتکار نی دگندهارا دالحاق نه وروسته پیداکړی وی او دوه څیز و نه دا مطالب تائیدکوی دکار ښه والی او دمسکوکاتو په چپه خوا دخروشتی رسم الخط دوام (۲) ویما کدفیزس په خپلو مسکوکاتو کښې

(۱) دمدنیت په ښبو نکی هند د (لیندسی و ی لیز اتر یس ۱۲۸ مخ

(۲) دموریایانو ، بربرېانو ، یونانیانو ، سیتیانو ، پارتیانو ، او یوچیانو په وخت کښې هند دکتاب ۳۱۱ مخ

ACKU

د جلال او شکوه عناوین غوره کړي دي او داول کدفیز س په شاذ پېښو نا ئي ژبه او رسم الخط او د سانسکریت لهجه په خروشتي رسم الخط سره چه د افغانستان د همدو خت رسم الخط و د او ره د خپلو مسکوکاتو په ضرب کښې استعمال کړي دي دومره بایده په فکر کښې و نیو لشي چه یوناني ژبې او ر سم الخط که د و جو د هم و ر دیر زیات تغیر کړ ي او حتما استعمال ئي دو مره لز شوی و چه بې د پادشاه د لقب او نوم نه نو ر نه لیدل کیده او ویما کدفیز س په یو د سکه کښې د (لوی پادشاه) د عنوان او د (کوشان) د کلمې په منځ کښې د ا دو ایونترا Deompatrai یعني د (اسمانز و ی) ځای کړی دی :

چه د مدققینو د نظر پر اساس د چین د شاهانو د عناوینو په رنګ چه ځانو نه یې د اسمانز امن ګڼل مرکب نه وی دی دلاو نا د (مهار اجاسا) یعني د (شهنشاه) له عناوینو نه اووېږ ی چه دویم کدفیز س د پهلوا د پادشاهانو د القابو پیروي هم کړې ده دویما کدفیز س د مسکوکاتو په چپه خوا د شیوا او د ناندي غوئي شکاو نه او د مهیسو ار Mahisvarai صفت هم لیدل کېږ ي مدققینو هم دا د ا کلمه د (شیو ا پیرو ) سره ترجمه کړ یده او پاچا د شیوانی دین طرفدار باکه پیر وګڼي لکه چه د و شیو میاو ن لوی په دي باب کښې لیکي : (هیما کدفیز س) پادشاه د شیو اخاص پیرو دی او و ر و سته ذکر شوی ئي په خپلو مسکوکاتو کښې د (مهیسو ار ا) یعني د (اوبې رب النوع ) په صفت یاد کړی دی ، شیو ا د ده د مسکو کاتو په مخ کاله یو ازی کله د ناندي غوئي سره او کله د ری ښا خی نیز ې (تر یسو له) سره لیدل کېږ ی (۱) خروشتي رسم الخط د ېر رواج او عمو میت در لز داو له پخوا نه زیات ئي د یو نانی ژبې او رسم الخط ځای پو ره پر ر ه نیو لی و دو یما کدفیز س د خپلو مسکو کاتو جز ئیات په لاندي ډول دی :

(۱) ګرده مسی سکه : د سکې په مخ د پادشاه نیم تنه تصو یر مخ ښې خو اته شو دل شوی دی یوناني مضمون په دغه ډول دی (باز یلوس او مو کدفیز س) یعني (و یما کدفیز س پادشاه) د سکې په شاشیو ا مخامخ و لاړ ه دی او خو خروشتي لیکو نه لری «مهار اجاسار اجادی اجاسامار وا لو کاایشو ار اساماهیسو ار اساهیما کپتی شاسا » یعنی ( ستر پاچا ) (شهنشاه) د ټو لی دنیا بادار د شیو ا پیرو هیما کپتی سا (و یما کدفیز س)

(۱) د مدیت بخښو نکی هند (لیندسی دي لیز اتر یس) ۱۲۸ مخ

په یوه بله سکه باندې د سکې په مخ پادشاه مخ کېښې خوا ته مزبح ته مخامخ ولاړ دی او د دغې سکې په شا شیوا او نانۍ غوږ بې ډېر ته خوښې شتي لیکنی سره لیدل کېږي.

په څېړنو د سکو کښې پاچا کله په تخت باندې او کله په دوه آسپه ګاډۍ کښې سپور روی، یوناني ژبه او رسم الخط د دوهم کدفیز سس په زمانه کښې ډېر کم شو او د رواج او فهم او د استفادې نه غورځېدلی وا و د موسیوسیلون لوی د نظریې له مخې د خپل ژوندون ې روستی مراحل ئې تورول، و یما کدفیز سس هغه ئې په خپلو مسکوکاتو کې استعمال کړی دی خو د پاچا د نوم او لقب نه تجاوز نه کوی او په رسم الخط کښې ئې ډېر زیات تغیر و نه لیدل کېږي.

دویما کدفیز سس د سلطنت دوام او د وفات کال ئې په یقیني صورت سره معلوم نه دی دده د پادشاهۍ دوره د ګننګهم له خوا اخلو پښت کاله او نورو مدققینو عموما ۳۲ کاله ښودلې ده او هر کله چې په ۷۸ مسیحي کښې پادشاهۍ ته رسېدلی دی نو بې شکه تر ۱۱۰ ئې سلطنت کړی او عمر ئې دوام در لود.

سوترمګاس (Soter Megas)(۱) «لوی منجی»:

د دې فصل په عمومیاتو کښې موږ یادې دې چه معمولا لوی کوشانیان په دوو سلطنتي کورنیو ویشل کېږي یو، د کدفیز س کورنۍ بله د کنیشکا کورنۍ د څېړنو مورخینو په عقیده د دغو دوو کورنیو په منځکې لس کلنه وقفه موجوده ده او هغه دیو د اسې پادشاه په سلطنت د کوی چه د هغه نوم او نشان معلوم نه دی او په مسکوکاتو کښې فقط د لوی منجي په نامه یاد شوی دی بله مسئله چه په دغه مورد کښې ئې مخصوصا د مدققینو توجه جلب کړې ده دا ده چه د چینی منابعو له مخې د کوشانی کدفیز س د کورنۍ دوهم پادشاه و یما کدفیز س چه بیان ئې پورته تېر شو په خپلو مفتوحه هندي ځمکو کښې په خپله سلطنت نه دی کړی بلکه دغه وطنونه ئې د خپل نایب السلطنه په واسطه اداره کول. څېړني مدققین هغه پادشاه چه قصد ئې نن خپل نوم په مسکوکاتو کښې نه دی یاد کړی هغه امیر ګڼي چه د کوشانی شاهنشاه تابع واو د کوشانی دولت

---

Soter Megas(۱)

په نامه یاد امیر په حیث یا د نایب السلطنه په حیث په هند باندې حکومت کاوه ـ مستر رپسن په

ACKU

(کمبریج هستری آف انډیا) نومی کتاب کښی لیکی چه(۱) بی نومه مسکوکات په هغه یونانی حکمرانانو پوری مربوط دی چه د کوشانی دولت تابع وو او پخپله ئی سکه وهله.

لکه چه د پهلوایانو په عصر کښی هم داسی حکمرانان موجود وو چه معمولاً (استراتیګس) بلل کیږی او د پادشاه سره د مملکت په کار و کښی شریک وو او پخپل نامه ئی هم سکه وهله.

په دی باب کښی «ارپسن» او «وینسنت سمیث» بو څه تشریحات ورکړی دی چه د هغو ذکر بیځایه نه دی. او مری پروفیسر د پورته نظریی دښوا ودنه وروسته لیکی: «که څه هم اسکاثیانو او پارتیانو (مقصد پهلوایان دی) هغه استقلال چه د وی ورباندی افتخار درلود د کوشانیانو په عصر کښی له لاسه ورکړ، مګر د ډیر کوزنیو دیا د شاهانو د حکومت په وخت کښی بی هم د پخوا پشان مهم رول لوبا وه، او د یونانیانو په شان د بریښپړی په کتیبو کښی ذکر شوی دی نو معلومیږی چه د غه وخت ئی مهم مجامع او با نفوذه مشران درلودل.

او د دوی شهزادګان که څه هم بی شکه لږ قدرت درلود له منځی د کوشانیانو تر (تیول) لاندی جاګیران (مد د معاش په ډول وو) مګر په خپله مخصوصه احاطه کښی ئی حکمرانی کوله لکه چه د مسیحی اول قرن په ورستیو کلونو کښی لا د اندوس په خوله کښی څه داسی مجامع او ټولنی موجود وی چه د پیریپل Periple مؤلف له خوا هغوی بارت بلل شوی او لیکی چه یو تر بله په جدال او شخړه بوخت دی حال دا دی چه د غه مناطق او د غو ځمکو شاو خوا لکه چه د (بهاولپور Bahawalpur) (۲) په ویهار Vihar) کښی د (سن sin) له مقام څخه د مسوپیدا شوی نو تی ثابتوی، د کوشانو په لوی امپراتور کنیشکا پوری متعلق او مربوط وو. د رپسن د زیاتو معلوماتو څخه داسی معلومیږی چه بنا ئی بی نومه مسکوکات د پهلوا یانو په کوم امیر پوری مربوط وو

---

(۱) (۵۸۱) مخ.

(۲) د اتوته د کنیشکا په ۱۱ کال چه په یوه نظریه د مسیح نه ورو سنه د ۸۸ سره برابریږی تاریخ او سنه لری.

چه دکوشانی امپراطوری کنیشکاد تیول لاندی و ، او پخپله ئې هم پخپله حوزه کښې سکه وهلې ده (ونسنت سمیت) هم تقریباً په همدغه شان سره د وضعیت شرحه کوی چه په تعبیر او تلقیا توکښې ازفرق لری ، دی لا په اول مسیحی قرن کښې هم د پارتیانو (مقصد پهلوایان دی) په وجود داند وس په حوزه کښې موافقت لری ، مگر لیکی چه د ویم کدفیزس پخپلو فتوحاتو سره په پنجاب او د گنگا په یوه زیاته برخه کښې د پارت کوچنی شهزاده گان له منځه یوړل او خپل مفتوحه هندی ایالات ئې د عسکری حکمرانانو په واسطه اداره کول .نو هغه مسکوکات چه په زیات شمیر له کابل نه تر غازی پور او له بنارس نه تر کتیاواړه پوری پیدا کیږی ، او د چانوم و زباندی نه دی وهل شوی ښائې چه د غه عسکری حکمرانانو ته منسوبی کړی شی . نو د پورته بیان په رڼا کښې هغه اساسی ټکی چه په هغو باندی باید نظریه ټینگه شی دا دی :

(۱) هغه سکه چه په ډیر زیات شمیر نه یوازی د کوشان د امپراطوری د هندی مفتوحه ځمکو ځخه بلکه د آریانا د نیمائی شرقی برخې ځخه هم راوتلی ده او پس راوځی چه د چا نوم پری نه دی لیکل شوی . او ضرب و هو نکی خپل ځان فقط په «لوی منجی» سره یاد کړی دی ،

(۲) ریسن د غه سکې د پهلوایانو په کوم امیر پوری مربوطی گڼی چه دکوشانی دولت تابع وا وکوشانی دولت په نامه ئې د هند مفتوحه ځمکې اداره کولی .

(۳) ونسنت سمیت د غه سکې په هغه عسکری حکمرانانو پوری مربوطی گڼی چه د هغو کوشانی توب یا پهلوالی پوره څرگند نه دی ، او د دویم کدفیزس کیوشانی امپراطورله خوا ئې د هند پر مفتوحه ځمکو باندی حکمرانی لرله .

(٤) چینی منابع په وضاحت سره وائی چه دویما کدفیزس با لذات نه ، بلکه دنائب السلطنه په واسطه ئې پر هند حکومت کاوه .

مححکښې ترډ ی چه نوی کشفیات مسئله یو طرفه حل کاندی ، بی له دی چه پورته

ACKU

نظریې تحلیل کړو چاره نه لرو. غالب گمان دادی چه لوی ډمنجي چه مستقل باد شاه نوی نو هیڅکله به ئې خپل نوم پټ نه شی ساتلای او پخپلو مسکوکاتو کښې به ئې ضرب کړی وای مخصوصاً په داسی وخت کښې چه کوشانیانو د شاهانو د غه عادت درلود چه خپل ځانونه په مجللو او جگو عنوانو والقابو یادکاندی او هر یوه غوښتل چه خپل لوړ شخصیت معرفی کاندې علاوتاً په کوم وخت کښې چه دی معرفی کیږی ، یعنې د کوشانیانو د دوو لویو کورنیو په منځکښې بیله کوشانی نه د دریم پاد شاه دپاره ځای نشته او که بالفرض کوشانی پادشاه هم وی ، باید چه هغه دکډفیزس دکورنۍ جزء وگڼل شی. نو ځکه زیات احتمالات په دې باندی دلالت کوی چه دچین د مأخذ د متن سره سم یادو نسبت سمیت په تعبیر ، دې یو داسی نائب السلطنه یا امیر و گڼو ، چه د یماکدفیزس کوشانی شهنشاه له خوائی پر هندی متصرفاتو حکومت کاوه او د پهلوایانو د عصر د امیرانو په شان ئې د سکې د وهلو حق هم درلود ، یاد احق ده ته ورکړی شوی و ، او بی له نوم څخه ئې سکه وهلی ده ، ایده لوی منجی د لقب شاید د هند د علاقو فتحی او په کوشانی دولت پوری د هغو تړل کیدو او ارتباط ته اشاره وی (سوتر مگاس) د سپینو زرو او مسو ډېری زیاتی سکی لری. مخصوصاً مسی سکی ئې ډیری زیاتی دی.

ددهسکی علاوه پردې چه په مرکزی هند کښې له بنارس او مالوا څخه موندل شوی دی له باگرام څخه هم داسل کاله کیږی چه موندل شوی او لا پیدا کیږی تر دې چه دموسیو هاکن او موسیو کرل د ۱۳۱۶ په حفریاتو (کیندلو) کښې دسوتر مگاس مسی سکه په زیات شمېر دباگرام دکوشانی طبقې دبازار له خرابو څخه پیدا شوی دی. (۱)

ددهسکی که څه هم فوق العاده زیاتی دی ، مگر اقسام او انواع ئې زیات نه دی د ضرب صورت ئې چندان بدنه دی یونانی او خروشتی رسم الخط دواړه پکښې استعمال شوی دی. دسکو په یخ عموما دسکو وهونکی په آس سپور دی ددهـ دمخینو سکو په بل مخ باندی یو سری معلومیږی چه اوږده چپن ئې اغوستی ده او باید چه دو بدوی ، ځکه چه په خپل مقابل کښې آتشکده هم لری.

---

(۱) تقریباً سل کاله پر دې مخ مسن انگلیس له دغو سکو څخه ډیری سکې غونډی کړی دی.

دسپينو زرو په ځينو سکو او په اکثرو مسي سکو کښې ، دسکې په مخ ، د سکې د خاوند نيم تنه صورت په نيم چپه مخ ليدل کيږي . او د سر نه ئې يوه رېښه‌که (فيته) راچاپېره کړي ده او شو لمبې (اشعه) ئې په سر باندې ځايزې بيرق ئې د لنډ نيزې سره په بنې لاس کښې نيولی دی . عمومي لقب چه په هغه سره ئې شهرت مو ندلی دی په يوناني کښې سوتر مګاس دی چه معنی يې «لوی نجات ورکوونکی» دی ؛ علاوه پر دی يې ځان ته «باز يلوس» او «باز يلئوس» يعنې « شهنشاه » هم ويلی دی ولی ، خپل نوم يې نه دی ښودلی . او نوم يې مجهول دی ښائي چه دشهنشاه لقب د هغه دنظر يې نه مخالف وی چه ده ته دو يما کدفيزس امير يانائب السلطنه وايو ليکن کاچيری دده محيط او زمانه او دوخت القاب په دقت سره مطالعه شي چندان مو انع نه لري (١)

دکدفيزس دکورنۍ په عصر کښې عمومي وضعيت : دکدفيزس کورنۍ يادلويو کوشانيانو او هم دوی سلطنتي قبر : په هغه ترتيب سره چه يادشو . پر ته دسوتر مګاس نه زمونږ دوطن دتاريخ ٧٠ کاله ، او دآخرنۍ امير يانائب السلطنه سره ٨٠ کاله اشغالوی چه تقريبا د٤٠ له اطرافو څخه تر ١٢٠ مسيحي پورې کيږي . داديوې پېړۍ څلور خمسه بې له شکه په لياره کښې خپل ځانته ممزات لري ، چه متاسفانه جزئيات ئې تر زياتې اندازې پورې مجهول دی او عمومي خطوط ئې تر هغه ځايه چه قرائن او شواهد لار ښيو ونه کوی لاندې ليکو : دکدفيزس سلطنتي کورنۍ د هغه وخت زمونږ د مملکت په تاريخ کښې ظهور کوی چه دمرکزی حکومت وضعيت سره نه دی چه دآريانا په ټولو ځمکه باندې ئې اداری نفوذ درلود تقريباً سقوط کړی وو ، او ځای ئې يو دول ملوك الطوائفۍ نيولی و د اهغه وضعيت دی چه مقتدر دولتونه پر باندی عمو ماد عمر په اخره کښې دمختلفو علتونو په وجه مبتلا کيږي . او په خيله دغه وضعيت ياد نوی قوت او مقتدر حکومت دپيدا کيدو او ظهور تقاضا کوی . ديونان او باختری لوی دولت د هغو جهتو له کبله چه په خپل مربوط فصل کښې بيان شول د مسيحي اول قرن په اوله ربعه کښې د هرما يوس په لاس د کابل په معبد ود ! وکوچنۍ سلطنت مبدل شو او خپل قوتونه ئې د اسی

(١) د ده دسکو دمختلفو جزئياتو دپاره دې د پروفيسرولسن د تاليف «لرغوني اريانا» دکتاب ٣٣٤،٣٣٥ مخونو او دنهمې لوحې مربوطو اشکالو ته مراجعه وشي .

له لاسه ور کړل چه دا ضحح هم نه معلومیږي چه د پهلوا ګند وفارس هغه ته سقوط ورکړا و که کوشانی کجولا کدفیزس. همدارنګه د پهلواڼو دولت هم که څه هم پخپله په ګندوفارس سره قوي او مقتدر وو خو د هغه د نفوذ د ثقل مرکز زیاتره د هندی متصرفاتو خوا ته متوجه وو لکه چه وویل شول کوم وخت چه کجولا کدفیزس د باختر پر تخت کښېناست په آسانۍ سره د هند وکش د جنوب علاقې مخصوصاً جنوب غربي سمتونه دارا کوزی تر حوزی پوري چه د پهلوادو دولت تر مستقیم نفوذ لاندې وو دکدفیزسیانو د سلطنت د قلمرو جزء شول د هندوکش په شمال په باختر او تخارستان کښې وضعیت د نوي مقتدر دولت د پیدا کید و د پاره ښه مساعد وو ځکه لکه چه مو وویل د آمو سیند په حوزه کښې د کوشانیانو د ظهور په وخت کښې تاهیانو د باختر مهذبو او تاجر خلکو په دغه وخت کښې پخپل منځکښې پاد شاه نه درلود او کوشانیانو هم تر ۴۰ مسیحی پوري یعني د کجولا کدفیزس د جلوس په کال کښې د غه ځایونه د ملوك الطوائفي په اصولو او په پنځو رئیسانو سره اداره کول نو د هندوکش د شمال او جنوب ادارې او ضاعو غوښتل چه سلطنتي کورنۍ منځ ته راشي او یو داسې مقتدر دولت جوړ شي چه محلي حکومتونه خاتمه ورکړي او د مملکت په تاریخ او طبیعي چوکاټ کښې یو واحد دولت تاسیس کاندي د غه کار کجولا کدفیزس په ښه صورت سره انجام کړ او که څه پاته هم وزوی ئې د ویم کدفیزس هغه سر ته ورسول نو د ادارې په لحاظ د کدفیزس د کورنۍ ظهور د افغانستان په لرغوني تاریخ کښې مشخص مقام لري ځکه چه ملوك الطوائفي او محلي حکومتونه ئې په واحد او مقتدر حکومت تبدیل کړل، اول کدفیزس د آریانا (پښتیا نا) د خاورې د وحدت په لیاره کښې زیات کوششونه وکړل او د ده د عمر په آخر کښې سغدیانا په شمال کښې بارتیا په غرب کښې اراکوزی په جنوب غرب کې ګندهارا په شرق کښې کوشاني باختري مرکز ته را ټول شوي وو او دا موضوع د ده د زوی له اقدامات څخه هم معلومیږي. ځکه چه د ویم کدفیزس څرنګه چه پر تخت کښېناست سمدستي ئې د امپرا طورۍ

ACKU

پـه تشکیلاو د هند او چینی ترکستان خواته د نوو ځمکو د فتح کولو په کار لاس پوری کړ، سره ددې چه په آخر کې برخه کښې ناکام هم شو، د سند (اباسیند) د غربی ساحل نه پوری غاړی ته د هند تر مرکز او منځ پوری ولاړ، له یوې خوا د ماتورا تر شاوخوا پوری ورسید او له بلې خوا د سند تر خولې پوری ځایونه ئې فتح کړل

• • •

د افغانستان د کوشانی دولت نظامی قوا وې د کدفیزس دکورنۍ د سلطنت په دوره کښې ورو ورو قوی شوې او د دویما کدفیزس سوقیات دغه نظریه تائیدوی کوشانیان سخت سر، جنګیان او سوارکاره خلک وو، بیله هغو فتوحاتو ځخه چه د دویم کدفیزس په هند کښې وکړل. د (چانګ ـ کین) د چین د ناستو مار شال په ضد دده سوقیات او د سنکیانګ په حوزه کښې د پامیر په هغې خوا شرقي برخه کښې دده لښکر کول د آسیا د پخوانی تاریخ د حربی کارنامو ځخه دی. ځکه هغه لښکر چه د اویا زرو سپرو ځخه مرکب و د جنګی اسبابو او آلاتو او دخوراکی موا دومره د پامیر ددوارو خوا او له درو ځخه تیرول بوده ډیر مشکل کار دی چه دکوشانی پادشاه عزم او دده د جنرالانو اداری قوت ثابتوی.

• • •

دکدفیزس کورنۍ د مملکت په داخل او د باندې ساحو کښې یو سیاست درلود چه مشخص و، او خطوط ئې تر ډیره حده معلومیږی دوار وکدفیزسانو غوښتل چه د دوی دولت دې په داخل کښې قوی او زورور وی.

دقوم له ملکانو ځخه دې څوک سرپورته نکړی. او ملوک الطوائفی دې بیخی ورکه شـی. مرکزی دولت دې مقتدر وی. او د آریانا ځمکه دې د یوې واحدې اداری ترنظام لاندې راشی او ګاوندیان دې د مملکت استقلال محترم وګڼـی.

او په هر قیمت چه وی له هغه ځخه دې دفاع وشي د دواړو کدفیزسانو دغو نظریاتو مراعات وکړ.

او هغه وخت چه د چین د هانیانو د و همې کورنۍ په غربی علاقو باندې په تجاوز لاس پوری کړ دویما کدفیزس د کاشغر او ختن د محلی امیرانو په شان د چین د خاقان

د اطاعت د پاره حاضر نشو او د دعوی د مقابلې د پاره ئې لښکر و ته د سوقيا تو امر ور کړ او که څه هم په نامه سره او د څه مودې د پاره باج ور کولو ته مجبور هم شو د جنګ په ميدان کښې د ماتې نه ور وسته وُ چه د نورو مملکتو سره د ده د روابطو په ټينګيدو باندې تاثير و نکړ . شو د کدفيز سيانو خارجي سياست تر ټولو اوم . ی دا وُ چه د پردیو ملتو شاهي کورنۍ هيڅ کله د وی له خپله ځانه ټيټ و نه ګڼي که څه هم د چين خاقانان يا د روم امپراطوران د وی لکه چه د غه مطلب د دويم کدفيز س د روپي له طرز او د ده له مجللو القا بو څخه ښه معلوم دی

دی سره د دی چه کوشانی پاچا پاشاهنشاه وُ . د چين د خاقانانو د روپي له مخې ئې ځان د داسمان زوی او د روم د امپراطورانو په دول ئې ځان امپراطور ګڼلو . او په دغه اساس ئې د چين د خاقانانو غوښتله او د ځان او خپلې کورنۍ او د خپلو فتوحاتو د ثبوت د پاره ئې په روما کښې د «ترا جان» در بار ته نماينده و ليږه . نو د کدفيز س کورنۍ د کوشاني سلطنت د شئونا تو د لوړ و لپاره شاهي کورنۍ د مقام د ځګولو د پاره د افغانستان په لرغونی تاريخ کښې بې مثاله کار کړی د ی او معلوميږ ی چه د مادي او معنوي د وا ر و له مخې د هيواد سلطنت او مملکت د لوړ تيا ر مانځن و . په شرق او غرب کښې د ده په وخت کښې دوه لوی دولتونه وو چه يو ئې په شرق د آسيا په خاوره کښې د چين په مملکت کښې د هان د و همه کورنۍ وه او بل ئې په غرب کښې دار و پا په ځمکه او د مديترانی په اسيائي غاړو کښې د رومن امپراطورانو و . په دا رتيا نو هم په دې وخت کښې خارجي وجود در لود لکن ضعيف شوی وو او په دويم صف کښې و لاړ وو . د دې نو و قوی او لو يو دولتو په منځ کښې کوشاني امپراطوری واقع شوې وه او کدفيز سيان د خپل مقام په اهميت پوره پوه شوی وو . او غوښتل ئې چه د دبا ندنی سياست په تګ لیار (خط مشی) کښې د خپلی امپراطوری د جغرافيا ئی موقعيت نه کار واخلي لکه چه وائې خست او د دې مسئلی ته به دلو يو کوشانيانو د دو يمې سلطنتی کورنۍ يعنې د کنيشکا د کورنۍ د پيا ټولو نه ور وسته مرا جعه وکړ و . د کدفيز سيانو د دباندنی سياست له مميزاتو څخه يو د هند فتوحات دی چه اول کدفيز س ئې بنا ايښې وه او دو يم کدفيز س عملي کړل ، هر کله چه شرق ، شمال او غرب د هانيانو او رومنيانو په لاس کښې پاتی نفوذ لاندی وو نو د وی آسانه لیاره غير له د ی سمته څخه نه د رلود .

د آریانا تجارت د کدفیزس د کورنۍ په عصر کښې زیات او پراخ شو او اقتصادي ژوند ښه شو، د باختر او تخارستان خلک د کوشانیانو د دولت له څرګندیدو نه پخوا هم تاجران وو او علاوه په دې چه د خپل مملکت په مالو سوداګري وکاندې چیني او هندي پیداوار او مالونه به هم د دوی له خوا غرب ته وړل کېدل. په هند کښې د ویما کدفیزس په فتوحاتو او د چین او روم د امپراطورۍ سره د هغه د تعلقاتو په سبب د مملکت په اقتصادیاتو او تجارت کښې ښکاره فرق پیدا شو او ترقي ئې وکړه د «هان» د دوهمې کورنۍ له ظهور سره سم چین وغوښتل چه بیا د «غربي علاقو» سره خپل روابط ټینګ کړي او د پارتیانو جنګونو د کوشاني کدفیزس د کورنۍ له ظهور نه څو موده پخوا رومنیان ارمنستان او پارتیا ته ورسول او د هغوی طلائي سکې د مسیحي زمانې د شروع سره د شرق بازارو ته په کثرت سره راغلې وې لکه چه مخکښې هم ویل شوي دي کدفیزسیانو د روم د امپراطورانو د سکو له مخې سکې ضرب کړې دي او د روم د امپراطورۍ د طلاو ډېر والي د دې سبب شو چه ویما کدفیزس هم د رومن د (اورې) په شکل او تول او اندازه د سرو زرو سکې ضرب کړې «شمالي او جنوبي لیارې» تنګ راتنګ او مراو د وله کبله، چه اوله ئې د چین خواته او دویمه ئې د کابل د دړې له لیارې څخه هند ته تللې د کوشاني امپراطورۍ د قلمرو په منځکښې تیریدې، او کنترول ئې د کوشاني دولت په لاس کښې و.

دغه لیارې به وروسته په تفصیل سره د «ذوریښمو لارې» تر عنوان لاندې وڅیړو په دې ځای کښې چه غواړو د کدفیزسیانو د وخت د مملکت اقتصادي او تجارتي اوضاع را برسیره کړو هغه ده چه مره وایو چه د رومنیانو پیسې خوراډېرې آریانا ته راغلې او د جنوب او شمال لیارې نوې غرب ته د مالونو وړلو د پاره پرانستل شوې وې.

• • •

هر کله چه کوشانیان په افغانستان کښې د باختر د تهذیب تر نفوذ لاندې راغلي وو نو د کدفیزس د کورنۍ په ۸۰ کلنۍ سلطنتي دوره کښې چه زیاته د مسیحي اولې پېړۍ د درې پنځمې برخې (دري خمسه) او د دویم قرن او له پنځمه برخه نیسي او موږ اوس د دغه عصر

دعمومیاتو په بیانولو مصروف یو په دغه وخت کښې اوستاني او بوداني دواړه دینونه موجود وو. طبعاً داوړ عبادت له دوو پخوانیو پېړیو څخه را په دې خوا خپل ځای بوداني دین ته مخصوص ساده آریایانو په کښینښتیو او شرقي برخو کښې پرې ایښی و. دساکیامونی فلسفه خپره یدله سره ددې هم زردشتي دین بیخي له منځه نه و تللی او لکه چه په همدې فصل کښې به را شي دکنیشکا په زمانه کښې چه بوداني دین خپل انتهائي عروج ته رسېدلی و بیا هم دکوشاني مقتدر پادشاه دسکو په مخ باندې داوستاني دین ارباب الانواع لیدل کېږي. په هر صورت دکدفیزس دکورنۍ دپادشاهۍ په وخت کښې بوداني دیانت وروڼو ور وخپرېده او پراختیایي مونده اول کدفیزس په خپلو ځینو سکو کښې خپل ځان د(درماتي تاسابغني ددیندار) په صفت یاد کړی دی که هم له دې صفته څخه دده عقیده او دین نه معلومېږي سره ددې هم یو دیندار پادشاه و دده دزوی دویم کدفیزس سکې طلائي دي او که مسي په بله موضوع باندې ربنا اچوي چه هغه د «شیوا» احترام دی.

دمخه مو وویل چه دده په مسکوکاتو کښې شیوا او غوئي (ناندي) او درې ښاخیزه نیزه ئې چه دده ممیزه وسله ده ضرب شوي دي له دغو آثارو نه واضحه معلومېږي چه دویم کدفیزس یادشیوا امرېداو پېرو و لکه چه بوده له دغه عقیده لرې او یا څه نا څه دهند له فتوحاتو نه وروسته دسیاست له مخې ئې په ځینو سکو کښې خپل ځان د دغه دین معتقد یا مشوق ښودلی دی. او داهغه لیاره ده چه فاتحانو به دنیولو ځایو دخلکو دزړونو دراګرزولو دپاره نیوله.

* * *

صنعت یادیونانو او باختري هماغه ښکلی او پوخ صنعت چه دهغه دظهور او خپرېدو او ترقۍ شرحه دهمدې جلد د۹۸ مخ نه تر ۱۰۳ مخ پورې په شاوخوا کښې تېره شویده تقریباً ددریو پېړیو ژوند په آخره کښې دمسیحي زمانې په ابتداکښې تنزل وکړ او دا تنزل تر ډېره حده دکدفیزس دکورنۍ له مسکوکاتو څخه معلومېږي او که چېرې یوازې دسکو له مخې موضوع ترقضاوت لاندې ونیول شي نو ښائي چه په دې اعتراف وشي چه دغه تنزل فاحش و ځکه چه دیونانو او باختري پادشاهانو دښکلو او پیمخو سکو او دکدفیزس دکورنۍ دسکو په منځکښې هیڅ تناسب نشته خصوصاً داول کدفیزس سکې ډېرې خرابې او له صنعتي

نژاکتو ښځه‌تښي او خالي وي بیا هم دد وهم کدفیز س سکي ښې دي لیکن پوازې د سکوله مخي هم قضاوت نشي کیدای، پې له‌دي چه‌و یل‌شي په‌فلزاتو بیاندي حکاکي او په‌قیمتي تیږو باندي دنقش کیندلو صنعت چه‌په‌دې وتیرو پېړ یو کښې ئې ښه‌ترقي کړي وه په‌دغو وختو کښې ئې فاحش تنزل کړي ؤ دهیکل جوړولو په‌لحاظ یو اځې دومره ویل کداي شي چه‌دزګر یګړ بو دیګ) یادیو نان او بو دائي صنعت چه‌دیو نانا او باختري صنعت یو ه‌ځانګه یا مدرسه ده‌دکوشا ني دوهمي سلطنتي کورنۍ دمو سس کنیشکا په‌زمانه‌یعنی داولي مسیحي پیړۍ په‌آخره او ددوهمي مسیحي پیړۍ په‌آوایلو کښې یې ترقي او پراختیا موندلې وه (۱) په‌دغه‌ترتیب سره‌دکدفیز س دکورنۍ دسلطنت دوره‌تقریباد[یونانا او باختري) مدرسې دتنزل په‌زمانه‌او دیو نانا او بو دائي مدرسې دترقۍ په‌ابتدا کښې واقع‌شویده‌نوله‌دې کبله دمستظرفه‌صنائعو په‌لحاظ دیادو رمميزه نه‌لري . او ځینې هم‌دکوشاني صنعت ه‌هغه‌صنعت بولي چه‌ دداوی کنیشکا په‌واسطه ئې شخصیت حاصل کړی دی .

دکدفیز س دکورنۍ دسلطنت په‌دوره‌کښې یو نانی او خروشتي دواړه رسم‌الخطونه معمول وو . ولې په‌دې ترتیب چه اول ، مخ په تنزل روان ؤ او دویم لا آینده په مخکښې درلوده. یوناني رسم‌الخط چه‌په‌شرق کې داسکندر دفتوحاتو سره‌خپور شوا و په آریانا او هند کښې دیو نانا او باختري خپلوا کو بادشا ها نو په سلطنت سره ئې عمومیت او حتی رسمیت پیدا کړی ؤ .

دیونان اوباختري پادشاهانو دوروستیو او لادې له سقوط نه وروسته په یووار ورک‌نشو . بلکه په ورو ، ورو ، او تدریجي تنزل اخته شو . او استعمال ئې هم‌زیاتره په مسکوکاتو پوری منحصر ؤ . کوشاني کدفیز سیانو یواځې دخپلو متقد مینو دمسکوکاتو په تقلید هغه پخپلو سکو کښې استعمالاوه لیکن خوحر فونو تازه شکلونه پیدا کړي وو چه ددغه زمانې دمنشیا نو دنا بلدۍ څخه حکایت کوي .

ددې په‌عکس خروشتي رسم‌الخط چه په‌خپل ځای کښې به‌ورځنی په مفصل او مستقل

---

(۱) داولو زمانو څخه‌ترلن‌ورځې پورې د صنعت دعمومي تاریخ ۱۳۰ مخ چه‌دموسیلو سیلو ناوی د نظر لاندې په پاریس کښې په ۱۹۳۹ کښې چاپ‌شوی‌دی .

صورت بحث او څیړنه وشي، او پخپله د آریانا پښتیانا محلي رسم الخط و، یو ه آئنده په محکښې ارائه و دکوشاني امپراطورۍ په تو او نقاطو کښې مخصوصاً په لوښو او نورو شیانو باندې په لیکنو کښې د یرا ستعمال لیده.

* * *

داو و دکدفیزس دکورنۍ دسلطنت ددوري څرګند خطونه چه دچیني منابعو او د مسکوکاتو د شها دت او دمد ققینو د نظریاتو دتحلیل نه وروسته تریوی اندازې بیان شول، بې شکه په هغه ذهنیت سره چه پیدا کوي ئې دلویو کوشانیانو د تاریخ دویم عصر یعني داوی کنیشکا او ددهٔ داولادې دوا کوالۍ او واکمنۍ دوره به په ښه شان سره وفهمیدلی شي.

## دوهم عصر

### دکنیشکا کورنۍ

دلویو کوشانیانو دویمه سلطنتي کورنۍ هغه کورنۍ ده چه دهغې دموسس کنیشکا په نامه یادیږي او سربیره په دغه لړۍ پادشاهانو څخه غټ او واړه پادشاهان هم لري چه ټول دکنیشکا مستقیم اولاده ده.

او دخپلو انو نومونه د (ایشکا) په کلمه ختمې او تمامیږي. ددې فصل په عنوان لاندې کښې مو دلویو کوشانیانو د سلطنتي کورنیو دوبشل او ددوارو کورنیو ترمنځ دکومې لس کلنې احتمالي وقفې دوجود یا نشتوالي په باب کښې دمدققینو دنظریاتو تناقض او ځینې نورې نظریې وليکلې چه تکرار ئې لزوم نه لري، په هغه ترتیب سره چه تر اوسه مو تعقیب کړیدي او عموماً په تاریخي کتابونو کې تعقیب شویدي هغه لس کلنه وقفه چه ځینو هغه دویما کدفیز س دنائب السلطنه (سوترمګاس) دحکومت دزماني جزء نیولي ده، دکوشان لومړي زمانه د ۱۲۰ مسیحی کال په شاوخوا کښې تمامیږي. او طبعاً ئې چه هغه ددویم عصر شروع یعنې دکنیشکا دسلطنت ابتداو ګڼل شې چه دی دلویو کوشانیانو ددویمې سلطنتي کورنۍ موسس دی. سره ددې چه په دغه باب کښې کوم داسې صریح او موثق سند په لاس کښې نشته چه د کدفیز س او کنیشکا دکورنۍ په منځکښې دجدائي او فاصلې اثبات وکاندې بیا هم بوځه ملاحظات داته شته چه دلویو کوشانیانو ددو کورنیو په منځکښې دجدائي احتمال کېکړي، فرانسوی عالم دیورسن په خپله هغې لیارې سره چه دتاریخي حوادثو په تحلیل کښې ئې نیولې ده، په یوځای کښې داسې لیکي: «دکدفیز سیانو دسلطنت دزماني تمورسته یو داسې نور پادشاهان چه هماغه دکوشانیو توکم او ټبر ته منسوب وو، سلطنت ته رسیدلي دي، ممکن کیداشي او کیدیشې دغه پادشاهان او ددې ماخذ څخه ناڅه دهغوی دمسرسري مونږ ته معرفي کړیدي داسې ښکاره کیږي چه دو یما کدفیز س او دهغې سلسلې په منځکښې چه له کنیشکا څخه دهغوی دسلطنت دوره شروع کیږي یو خلاء موجود وی که څه هم دا پادشاهان د خپلو اسلافو په شان «کوشانا» او (دواپوترا) یعنې (داسمان زامن) و ومگر بیا هم په لاندې څیزونو کښې ئې ورسره تفاوت دراود

ACKU

اول دغه نوی نوموړی په (شکایا ایشکایا اشکا) کلمو تمامیږی، دویم دغه نوی په مسکوکاتو کښې یونانی ژبه او خروشتی رسم الخط نه دی استعمال شوی بلکه لیکنې ئی په ایرانی ژبه او یونانی رسم الخط سره دی، دریم د دغې سلسلې په مسکوکاتو کښې د دیرو اربابالانواعو تصاویر ښکاره شوی دی. څلورم د دوی خپلې کتیبې او یا هغه کتیبې چه په دوی پورې اړه لری د دوی د حکومت پر وسعت او د دوی د پاچائی پر عظمت دلالت کوی.

پنځم دغه کتیبې کال او نیټه لری په دی ترتیب (دریم کال اتلسم کال.... کنیشکا ....) د کنیشکا نورو خلیفه ګانو په سلسله ارقام نیولی دی چه په هغه کښې د کنیشکا د حساب کلونه شامل دی د دغو ټولو ملاحظاتو سره دغه فاضله او ښه پوه دوبنی د ګړوالی په لحاظ د کوشانن دده او شاهی کورنیو او د دوی عصرونو په منځکښې بېلتون او جدائی نه راولی. او لکه چه مسترتوماس او مسیوانفر د فوشه لیکی د ویماکدفیزس او کنیشکادته ویر ویه منځکښې چه دغو په مسکوکاتو کښې لیدل کیږی لږ توپیر هم شته او کت مټ او پوره نژدی مشابهت ښکاره کوی...»(۱)

داسې نظریات هم شته چه د لویو کوشانیانو د دوو شاهی کورنیو په منځکښې وقفه نه ښی تر ټی چه یو هندی پلټونکی کنیشکا د ویماکدفیزس زوی ګڼلی دی(۲) په هر صورت د دغو دوو شاهی کورنیو ارتباط د زمانی او خپلوی په لحاظ چه هر څه وی د لویو کوشانیانو د عظمت او حقیقی دوره په کنیشکا او دده په اولادې سره شروع کیږی، د کدفیزس کورنی د دغه اهمیت نه لری چه د کوشانی سلطنت په تشکیل او جوړونه کی مسئله کښې ئې درلود په خپل ټول موجودیت سره یوازې د کنیشکا د نامه د عظمت په مقابل کښې خړه ده نو ځکه د کنیشکا کورنی د آریانا د کوشانی امپراطورۍ په تاریخ کښې لوړ شان او ځګه مقام لری دغې کورنی د ۱۲۰ مسیحی له شاوخوا څخه تر ۲۶۰ مسیحی پورې تقریباً یو نیم سل کاله یا یو نیمه پیړۍ سلطنت کړی دی او د پادشاهانو نومونه ئې په لاندې ډول دی:

---

(۱) د هغه کتاب ۳۱۴-۳۱۳ مخ چه هند د بربریانو، یونانیانو، سیتیانو، پارتیانو او یوچیانو په عصر کښې نومیږی او دواله د ر پوسن تالیف دی.

۲) دانشنت انډیا څلورم جلد د تری بهووان داس شاه د تالیف ۳۲ او ۲۱ مخ ته دی مراجعه وشی

کنیشکا (د ۱۲۰ د شاوخوا نه تر ۱۶۲ پورې): د ده پادشاهي چه د نن ورځې سمه ماتو ته احاطه کېږي

پس له ویما کدفیزس څخه د لوی بوکوشانیانو په سلسله کښې پادشاهي نه رسیدلې ده او مدققینو د نظر پر سر هم د لوی برکوشانیانو د ربمې سلطنتي کورنۍ موسس هم دی.

په کتیبو او مسکوکاتو کښې د کنیشکا کا. نیشکا. کنشکا. کنشکې شاهي کیږي به نو موباد شو یادی، او وایاتو د (کنکدهارا پادشاه) لقب ورکړی او په د غه نامه ئې ستایلی دی او په مسکوکاتو کښې ئې ځان ته «راؤنانو راؤ» (Raonano Rao) یعنې د پادشاهانو پادشاه ویلی دی، معلومه دی چه څنګه او په صحیح صورت سره په کوم تاریخ پادشاه شوی دی د دغه حساب له مخې چه د کدفیز سیانو د سلطنت د پای او د یو لړ شو یدی د کوشانیانو د شاهي کورنیو په منځکښې په لس کاني و قفې سره د کنیشکا جلوس ۱۲۰ مسیحي کال ته راجع کوي دی د کوشانیانو مقتدا او زور الوی امپراطور دی چه د ده د ناده او شورت اواز د آریانا له سرحدو څخه تیر شوی او په هند، تبت او چیني ترکستان کښې د ده په فتوحاتو کښې ئې خوریر ی انعکاس کړی دی د کوشاني تاریخ یو دیر عجب خبر چه مخصوصاً د کنیشکا په شخص پوری دیر ژور اړه لری دادی چه سره ددی لوی سهرته چه مرکزی اسیائی خوبیری د سبولی وه او سره د زرګونو سکو او دیرو کتیبو چه تقریباً دده د سلطنت تو له دوره ئې نیولی او سره د پښخوانیو سانسکریتی، چیني تبتي او مغولي متونو او سره د ده د شخصي مجسمي چه حتی په طبیعي او بوزالی د ده د نامه او القاب و د نقش سره د (ماتورا) له شاوخوا څخه پیدا شوی ده بیا هم د کنیشکا د جلوس او سلطنت تاریخ نه دی معلوم، مدققینو په دې لیاره کښې زیات زحمت ایستلی دی. او واقعات ئې د دویگر اما «او ساکا» د مختلفو عهدو او زمانو په حساب چه: (اول په ۵۸ ق م او دویم په ۷۸ مسیحي کښې شروع کیږي) تحلیل او تجزیه کړی دی. لیکن مطالب لا مسته نه دی راغلي او اوس هم په دې باب کښې د نظریو دیر اختلافات موجود دی(۱) په هر صورت د عمومي نظریې له مخې چه تر اوسه قائمه شوې ده د ده جلوس عموماً د ۱۲۰ مسیحي کال په شاوخوا کښې ګڼي. که څه هم د ماتکریت چیني، تبتي، پورته ذکر شوو منابعو، کتیبو، مسکوکاتو، داستانو، او روایاتو، تراوسه کومه صحیحه نظریه د کنیشکا د عصر

---

(۱) د لیندسی وی لیز اتریسی د سیاوڼ اوې د تالیف ۱۲۹ مخ.

په باب کښې ورڼکړي شوه مګر د ده د عصر او سلطنت اساسي خطوط تر ډېره اندازې روښانه کوي :

د کنیشکا د سلطنت او امپراطورۍ پراخوالی : کنیشکا چه د موسیو الفرد

---

فوشه د نظریې سره سم په روایاتو کښې « د ګند هارا پادشاه » په لقب مشهور و، یوه داسې امپراطوري ئې درلوده چه د یوه پراخه او لویې وه چه د پخوا نۍ آریانا او د نننۍ افغانستان له حدود و څخه وتلې وه ، لمن ئې په هند کښې د ټول شمال غربي منطقو پورې ، او په مغرب کښې دګنګا تر حوزې پورې ، او د جنوب خوا ته د « وند هیا » د غرو پورې او د پامیر د غرب نه هغه لورې ته ، په سنکیانګ ( چینې ترکستان ) کښې د تارم د سیند تر حوزې پورې خپره وه .

پخوا موږ وویل چه د کوشاني لومړنۍ شاهي کورنۍ غړو یعنې کدفیزس یا او د کوشاني دولت د حکمې د وسعت او پراختیا په لیاره کښې آمال او نظریات درلودل او دویم کدفیزس په دې لیاره کښې او مخصوصاً د هند خوا ته عملاً زیاتې کامیابۍ حاصلې کړې او د « ماتورا » تر شاؤ خوا پورې ځای ونه ئې ونیول داپوره نه معلومیږي چه د دویم کدفیزس نه وروسته د هند مفتوحه ځمکې د کنیشکا تر عصره پورې تابع پاتې شوې او که کنیشکا پخپل مټ د هند فتحه شوې ځمکې بل وار بیا تابع کړې وې – هیوان تسانګ چینې زائر د هغو اطلاعاتو پر اساس چه په هغه کال پیسا کښې د خپل په آستو ګنې په وه او د کښې ئې د کنیشکا د عصر په باب کښې لاس ته راوړي دي د اسې لیکي : « هر کله چه د ده په ګندهارا کښې حکومت کاوه ، قوت ئې په ګاونډیو مملکتو او نفوذ ئې په لیرې لیرې علاقو کښې احساس کېده .

هغه څه چه رښتیا دي او د کتیبو ، مسکوکاتو ، روایاتو له مخې ثابتېږي داسې دي چه د کنیشکا د امپراطورۍ د مربوطاتو لمن په هند کښې تر ( غازیپور ) او د ګنګا تر غاړو ، او په سنکیانګ ( چینې ترکستان ) کې د تارم د سیند تر حوزې پورې انبساط او پراختیا درلوده زیات تفصیل ئې په لاندې ډول څرګندېږي .

ACKU

په هندکې : دا دول معلومیږي چه د ویماکدفیزس د پاد شاهۍ تهور یسته

دا حتما ای څند دوتفو» په دوده کښې چه امری په کوشانی کورنۍ ، د دوهمی

څخه جلا کوي ، دهند متصرفه څمکو د کوشانی دولت له ا ساسا عست څخه

غاره غړولي وي ، او سربیره پر دی ، څینی ورڅرمه بهرنی لکه کشمیر

هم د کوشانیانو د نفوذ له حوزې نه وتلی وی ، څکه کنیشکا د نوموړی قلمرو

دا تصال او یوله بل سره د تړاو د پاره باید کوشش کړی دی ، او د( ونسنت

سمیت ) په نظر یه ، کنیشکا ، کشمیر د خپل سلطنت په اوږدو کالو کی فتح

کړ ، او څو معبدونه او ودانۍ حتی یو ښار ئې هم په خپل نامه (کنیشکا پور ا)

سره جلته ودانۀ کړ لکه چه تر اوسه پوری د دغه کوشانی ښار خاطره دکا نیشپور

د کلی نه ښکاره کیږی چه د بیهات دسیله ، او دغی پاچاهی لاری په منځ کښې

پروت دی چه د « وراهمولي » (بارامولی) څخه د کشمیر مرکز (سرینا ګـار (۱)

ته رسیږی . سربیره پر دی د ( راجا تر انگینی ) د کشمیر د تاریخ متن هم دی

موضوع ته اشاره کړی او داسی وائی : پدی څای کی دری تنه پا دشاهان

سلطنت ته رسیدلی دی چه هوشکا ، جوشکا او کنیشکا نومیږی او هندی

هر یوه په خپل نامه یو یو ښار ودان کړی و . دغو حفریاتو پدا ئر چه «د ما تورا »

« Mathur په سیمه د ( مات Mat) په کلی کی وشول د کنیشکا د ری بی سره مجسمې

پیدا شوی دی چه یوه ئی دا نسان د طبیعی ونی (قامت) برا ندازه د داوپر لمن

باندې ئی د کنیشکا نوم لیکل شوی دی ، په ( سرنت Sornath) نومی څای کی

(بنارس ته نژدی)« د بودیسا توا »د یوې مجسمې پرشا د ا دول لیک پیدا

شوی دی : د مترة راوا ك کنیشکا په دوره کی د لوی حکمران « کا را پا لا نا

Karapallana» او « د حکمران » « وانا سپا را Vanasparal» « په دریم کال

باله کتیبه چه نیټه ئې د ۱۱ کال د دیزیوس Daisio د میاشتی ۲۸ دی

د سوی وهار Sui-Whar نومی څای ملتان څخه چه( وها والپور) ته نژدی دی

---

(۱) دراجاترانگینی ترجمه «دستین » له خوا نومړی کتاب ۷۲ - ۱ ۶ ۸ ، ۱ مخ

ACKU

د ستاج د سیند په څنډه کښې چه د چناب د سیند له معاونینو څخه دی پید اشوی ده د کنیشکا په آمریت او نفوذ دلالت کوی، د غه رنګه باله کتیبه د سهت مهت Malet کانو می ځای (ارغونی کرا واسټی) کی پید اشوی ده چه ۱۲ کال سنه لری، د غو کتیبو له مخې او د پروسکرکانو په شاهدی چه د هند په خاوره کی ترغازی پوره پوری لاس ته راغلی دی، په ښکاره دول څرګندیږی چه د کنیشکا په زمانه کی د کوشانی دولت نفوذ د هند په څمکو کښې ښه پراختیا او انبساط درلود، په یقینی صورت سره د ګنګا د سیند تر څنډه و پوری خپور شوی و څرنګه چه د روایاتو څخه معلومیږی دده پتالی پوترا ، ښار (او سنی پټنه) د هندی موریا د کورنۍ د امپراطوری د ارغونی مرکز هم د کوشانیانو د مقتدر سلطان له خوا فتح شو، کنیشکا له دی ښار څخه د هغه وخت د سانسکریت خور را ستر لیکوال چه «اسوه کوشا» نومید، له ځان سره راووست او په خپل دربار کی ئی ساته، دا سی څرګندیږی چه کنیشکا به خپلی مفتوحه مځکی یعنی ترول غرب الهند د نائب الحکومه ګانو په ذریعه اداره کړی وی چه د سانسکریت په اصطلاح هغوی د (کشاترا په) یعنی حکمرانانو او د (مها کشاترا په) یعنی د ستر حکمرانان په القابو یاد یدل چه په هندی مأخذو کی زیاتره د اسکائی امیرانو په عنوان شهرت لری (۱) په د غو حکمرانانو کښې خورا مشهور کسان (نهاپانه چستانه) او نور دی چینی له د غو حکمرانانو څخه مخصوصاً د چستانه یاه کورستانه» د هندی ماخذ و په نظر یه د شاهی کورنۍ د سها ذګمل شوی دی چه

غرونی د خاورم قرن تر اخره پوری په (اوجن) کی امارت کړیدی او د ګوپتا د کورنی ظهور د هغوی نفوذ ته خاتمه ورکړیده (۲).

په پارتیا کی: کنیشکا په شرقی کښی تر بوی سلسلی فتوحاتو او د هند دیو تیاو یې

برخی د تسخیر او نیولو نه ورو سته غربی سرحد اتو ته متوجه شو او لکه چه څینو

(۱) سکزیه، سکزیا تی - سکیو پالا (۲) دموریایانو، بربریانو، یونانیانو، سیتیانو، پارتیانو او چیانو په عصر کښی هند د کتاب د ۲ ور اله د وروین د تالیف (۲۸۲) مخ

محققينو اشاره کړېده، چه په پارتيا کې ئې فتوحات کړې دي خو بايد دې ته ملتفت اوسو چه «هيرکانيا» او «پارتيا» چه ځيني وختونه يوا ځي د پارتيا په نامه ياد شويدي په هغه تفصيل سره چه د دغه جلد د اووم فصل په سرکې (۱۱٤) مخ کې وو ليك د تاريخي جغرافيې په لحاظ د آريانا يوه برخه يا شمال غربي ولايت تشکيلاوه، پارتيان ليا سم وو، يو غربي پارتيان په هغه ترتيب سره چه په اووم فصل کې ذکر شو د پارتيانو اصلي خاورې څخه په تدريج سره وو تل او له ارمنستان او د رومنانو امپراطورۍ سره يې مسلسلې جنګونو د هغوی د ثقل مرکز لوېديځې خوا ته منتقل کړ او (اوردوس) د هغوی پايتخت (استزيفون) د دجلې څنډې ته يووړ.

غربي پارتيان د کوشانيانو په دوره مخصوصاً د کنيشکا د سلطنت په زمانه کې د آريانا له سرحداتو څخه لېرې پراته وو او د روميانو جګړې د هغوی د اوول ستوماني کړي وو چه يو ستر کار ئې کولي نه شو. مخصوصاً هغه مهال چه د کوشانيانو اقتدار په آريانا کې زيات شو، پارتيان د کوشاني او رومن د امپراطورۍ يعني د دوو سترو قوتونو په منځ کې بند او محصور پاتې شوي وو...

هغه څه چه محققينو د کنيشکا د فتوحاتو په نامه په پارتيا کې ورته اشاره کړېده، او له هغو اقداماتو څخه مقصد دی چه د آريانا مقتدرې امپراطورۍ د خپلې خاورې د وحدت د تکميلولو په لاره کې ئې کړېدي، او د «پارتيا» علاقه ئې چه د کلاسيکي منابعو په شهادت د آريانا جزء وه، په خپل قلمرو پورې تړلې ده «ونسنت سميت» په دغه باره کې ليکلي دي کنيشکا په هغو خپلو سترو نقشو (چه تفصيل ئې تېر شو) يوا ځې د هند په حدودو د کفايت و نکړ بلکه د پارتيانو سره ئې هم يو سلسله جنګونه پيل وکړل او موفقيتونه ئې ترلاسه کړل. انګليسي مورخ د موسيو سياونالوی د روايت په اثر، د پارتيانو پاچا په دې مهال کې يو کم عقل او قهرجن سړی ښودلی او هغه بې خسرو يا کوم بل پاچا د هغه رقيب بللی دی چه د ۱۰۸ - او ۱۳۰ مسيحي کلونو په منځ کې له ډېره مره په سلطنت باندې د جګړې او مجادلې په حال کښې و. (۱)

---

(۱) ارلي هسټري آف انډيا ۲۷۷ او ۲۷۸ مخ.

پهٔ برنی آسیاکی: وروسته تر هغه چه کنیشکا دمملکت داری نفوذ پهٔ آریانا کې
ټینګ کړ او دهندوکش دوی برخې یې او پهٔ و اسطه يې پهٔ شرق کې دخپل امپراطورۍ لمن پراخه
کړه، دشمال شرق پهٔ منطقو کې دخمکو او ملتونو او پهٔ ډکر کې شو، دده وغوښتل چه دپامیر نه
هغې خوا ته پر خطا ی و ختن یعنی دسنکیانګ پهٔ علاقو چه دچین تر نفوذ لاندې وی
حمله وکړی، او مړی و وبلئ دچه و یما کدفیزس هم پهٔ خپل وار له چینیانو سره دپامیر
دغرونه پهٔ هغې خوا شرقی برخو کښې پهٔ جنګ او جګړو بوخت ؤ مګر پهٔ آخر کې مغلوب
شو، نو دکنیشکا غرض سر بیره پهٔ ملک او خمکو زولو نیائی چه دخپلو اسلافو دانتقام
اخستل هم وی، پهٔ هر حال که څه هم دده لښکر کښی او جګړو تفصیل او جزئیات نهٔ دی
څرګند خو دومره ویلای شو چه دکوشانو امپراطور لویی لښکر یې ددې مقصد د انجام
دپاره تواې کړی وی هر کله چه دکنیشکا اساسی هدف پدی اقداماتو سره دکاشغر، یارکند،
او ختن یعنی دچینی ترکستان دخمکو شخکو فتح کول او نیول وو چه دشمال له خوا پهٔ تبت
او دشرق له خوا پهٔ پامیر سره محدود دی و ې امکان شته چه دده لښکرو ددوهم کدفیزس
دزمانی پهٔ شان نهٔ یوازې نو اخان دلیارې بلکه دهنډله خوا به ئی هم حمله کړې وی پهٔ
۹۰ مسیحی کال ددوهم کدفیزس د ماتې له اسبابو څخه یو سبب دا و چه کوشانی لښکری
بی دپامیر له سختو درو نه له بلې لارې څخه پهٔ اسانی سره نشوی تیریدلی حال دا چه
دکنیشکا پهٔ زمانه کې وضعیت تغییر موندلی و او له یوې خوا چینی جنرال «پان چاو» مړ شوی و،
او د هغه پهٔ مرګ سره دچین قوا او خپل لوی قوماندان دلاسه ورکړی وو، له بلې خوا
دامهال دهمالا څیني دری یادکوشان دامپراطورۍ جزوې باندې ترنظر لاندې وی،
سره ددې ټولو شیانو دمساعدتونو او سره دهغې تجربې چه کوشانیانو ته حاصله شوې وه مخصوصاً
دکنیشکا د ټینګې ارادې او کلک عزم پهٔ اثر کوشانی لښکرو یو څو راستر پیشرفت کړی او
دکاشغر، یارکند او ختن ولایتونه ئې پر له پسې فتح کړل او دکوشانیانو دفتوحاتو لمن دتارم تر دریې
پورې ورسیدله، پدې ډول دموسیو فوشه پهٔ عقیده دکوشانیانو دامپراطورۍ لمنه دخارز وسمتو
دریابو تر حوزو یعنی: اکسوس، اندوس، گنگا، او تارم پورې اورده شوه ـ نو کنیشکا
ددغو فتوحاتو پهٔ اثر نهٔ یوازې د کوشان دولت چین ته له باج ورکولو څخه خلاص کړ

بلکه داپلازمی چین دکوشان دامپراطوری باج گذار وګرزاوه او دچین له شهزادګانو څخه ئی یرغمل ونیول او خپل پایتخت ته ئی راوستل نو په هغه ترتیب سره چه دمخه تیرشو کنیشکا دخپلو ۲۳ کلو سلطنت په موده کی چه ده ته ئی نسبت کیږی (۱) له (۱۰۳-۱۲۶) یا له ۱۱۷ تر ۱۴۰ پوری د آریانا خاوری دیورالی په لاره کنی او دهیرو فتوحاتو په سبب چه په هنداو سنکیانګ کنی ئی په نصیب شوی وو دکوشانی ستری امپراطوری د تشکیل په لاره کی دیرکوشش کړی دی مخصوصاً په هند کی دآریانا دکوشانی دولت نفوذ او تهذیب ئی ژینګ کړاو دغو وری پوری ئی ورپالیتوب په کاشغر، یارکند، اوختن کی دده نوم دتبت د خاطراتو په دیباچه کی دهمیشه لپاره ثبت کړ او دهندوانو دمنابعو په شهادت دده نوم او شهرت د تبت چین، هنداو دمغلستان په رواياتو کنی داخل شو. (۲)

چینی یرغملان : دچینی او هندی منابعو په قرار په دی کی شك نشته چه کنیشکا په پامیر آسیاکنی له خپلو فتوحاتو نه وروسته دچینیانو څخه یرغمل اخیستی او له ځان سره یی ساتل په ټــــه مــــهـــم صـــورت ســـره تــــاریـــخ ورت زمــــانــــی پــــوری داسی تصور کیده چه دچین دامپراطورزوی دیرغملانو په ډله کی موجود وو مګر دهان دپا دشاهانو د تاریخ دکتاب (لی کی) په قرار چه حواد ثو ئی تر ۱۱۳ مسیحی پوری قید کړی دی داسی څرګند یږی چه د کاشغر پاچا له خپلو دی خپلوانو څخه یو تن چه «شن - پان» (An-Ti-Li-Ti, Anh) نومیده دیرغمل په ډول دیوچیانو یعنی دکوشانیانو پاچاته راولیږه دا نظر په حقیقت ته نژدی دی ځکه دکنیشکا دلښکرو پیشرفت او ملك نیول محدود و داو د سنکیانګ (چینی ترکستان) په علاقو پوری منحصر وو، نو دیر احتمال شته چه ددی منطقی دچینی ترلوالك زوی چه په کاشغر، یارکند او ختن باندی یی حکمرانی کوله دکنیشکا دربار ته لیږل شوی وی درکله چه چینی یرغملان شهزاده ګان

---

(۱) دکنیشکا دسلطنت زمانه واضحه نه ده څرګندونه ځینی یی د ۱۲۵ او ۱۶۰ مسیحی کالو ترمنځ ګڼی. دوی سپورګریشمن دآخرنی نظر یی په قرار دکنیشکا مرګ په ۱۴۰ عیسوی کال کی تښود له شوی دی.

(۲) دانشمت الدیوان حقوانی هناره علاوه م مهالاد تر می یوور اندا من د تا لیف ۳۳ مخ

ACKU

او دد غه قسم عجیب ژ اده گان و ستو گنیشکا د هغوی ساتنې ته مخصوص صه پام لرله گو له او د هری نقطې نظر ه هڅه ئې کوشش کاوه چه هغوی ته کوم تکلیف ونه رسیږي ددوی دمستو گنې لپاره ئې دفصلونو دتقاضا په لحاظ ځانگړی ځایونه ټاکلي وو لکه چه دو بي به ئې دکاپیسادخور انهو آب وهوا ارونکو غرو په لمنو کی (دکوهستان او کوهـد امن ) پـه حوزه کی پسرلی او منۍ به یې په گندهارا (دمشرقي ننگرهار) او ژمي به یې په پېښور یاد مغربي پنجاب په نورو ځایو کښې تیراوه ،کنیشکا په خپله هم دکال مختلف فصلو نه دخپلې پراخې امپراطورۍ په بیلو بیلو ځایو کښې تیرول دوه (پا یتختونه) ئې لرل چه یو ئې کاپیسی ( بگرام) بل ئې پورشاپورا( پېښور) ؤ او دوبې تود وخه به ئې په لومړي ښار ، او د ژمي سړې ورځې به ئې په دوهمه یا د شوي ښار کې تېرولې نو دخپلو چینې یرغملانو لپاره یې هم دخپلې امپراطورۍ د پایتخت په اطرافو کې دمستو گنې ښکلې او مجال ځایونه جوړ کړي وو .

دشالوکیا یاد سربکه وبهارا معبد : هر کله چه دکوشانی پـا یتخـت ننـ‌ی

بگرام موقعیت د علمي حفریا تو له مخې موږ ته معلوم دی نو دغو معلوماتو په اثر چه چینی زا ئر (هیوان تسنگ ) ورکړ ید ی د هغه معبد موقعیت چه چینی یرغملانو به د دوبی ورځې هوري تیرولی ټاکلی شو ، نو موږ ی چینی زایرایکی چه ۳ یا ٤ لی گانو په فاصله (تر ۲ کیلو متروځه لږ زیات) د پا یتخت په شرق کې د شما لی غرونو لمنی پـه بیخ کې یو ستر معبد دی چسته ۳۰۰ راهبان مو گنه پکښې ذر لوده ، او دنجات .کو چنیو لیاري پیروان وو ،کنیشکا پا چا د روا یا تو په قرار په لرغو نی او پخوا زما نو کـې تولی گا و نډ ی او شا ؤ خو اعلاقې او کا مونه حتی د پا میر تر شر قی سمتو نو پورې دکنیشکاتا بع وو او هغو یر غملانو ته ئې چه ورڅخه ئې نیولي وه په دو بي کښې په دی معـبدکی ځای ورکړی و ځکه ذد غه مطاب لپاره ودان شوی ؤ د هیوان تسنگ دژوند په کتا ب کی د غه معبد د شا ـ لو ـ کیا (۱) Sha-lo-Kia په نوم یاد شویدی

(۱) د غربي مملکتو په با ب کښې یا د داشتو نه دکتاب ۵۲ـ۵۷ مخ د غه کتا ب، د بیل ترجمه ده .

ACKU

همغه ښار چه هیوان تسنګ په خپلو یادداشتونو کی د پایتخت په نامه یاد کړی دی نن ورځ له خپلی سوروری او لوړی کلا او حصار سره چه د یوی غونډی په شکل ئی غوره کړی دی له زیاتو برخو خرابو سره چه دغه په منځ او چاپېره ځایو کښی لیدل کیږی په بګرام کی د عبد الله له برج سره متصل او د پنجشیر شتل او غوربند د سیند و په مشترکه مجری باندی حاکم او موجود دی او دکوشانیانو دپایتختو ترعنوان لاندی به د هغه څخه مفصل بحث وکړو د ۳ یا ۴ شرقی لیګانو په فاصله ئی چه تر دوو کیلو مترونه د یره فاصله لری هغه غر موجود دی چه چینی سیاح ورته اشاره کړی او نن ورځ د (پهلوان کوه) یا (کوه پهلوان) په نامه یادیږی د نوموړی غره په چهار اطرافو کی د ۷ – ۸ بودائی معبدونو بقایا (آثار) کشف شویدی چه د هیوان تسنګ د جغرافیائی معلوماتو په قرار په شمالی لمن کښی یی دیوه ستر معبد خرابی موجودی دی چه فرانسوی پوهانو هم سم له محلی اصطلاح سره چه (پوزه شترک) ورته ویل کیږی هغه (د شترك معبد) ذکر کړی دی چه په دیرو احتمالاتو سره د (شالوکیا) له پخوانی معبد څخه نمایندګی کوی د (شا لوکیا) د کلمی څخه ځینو محققینو لکه ژولین (شارکه) تعبیر کړی دی (بیل) د هیوان تسنګ د یادداشتونو مترجم د هغه د ۵۷ مخ په ۲۰۳ نوټ کښی پخپله ترجمه کی هغه (سریکه Serika) بولی چه په پای کی ئی د چین په باب اطلاق کیده که څه هم دی معترف دی چه د (سریکه) کلمی د چین په ادبیاتو کی استعمال نه درلود، بیا هم دی توجه کوی چه: باختری نقاشانو چه د معبدو په نقش او سینګار کی بی ډیر دخل درلود د بنائی چه: امعبدئی (سریکه ویهارا) یعنی چینائی معبد بللی وی، داتعبیر له حقیقت څخه لیری نه دی ځکه دځینو روایاتو له مخی د (شالوکیا)

معبد دچینی یرغملانو په لګښت ودان شوی و، او دچینی یرغملانو تصویرونه بی په دیوالو باندی کښل شوی و او لکه چه چینی زایر په دی ورد کی په صراحت سره اشاره کوی او وائی: دیرغملانو جامو لکه چه په تصویرونو کښی لیدل کیدل د «هیا» «چین» دشرق دوګړیو دلباس سره یې شباهت درلود.

وائی چه چینائی یرغملانو دمعبد د بنسټ دتیږی دایښودلو په وخت کی باد هغوی له

جملي څخه یوه سر ی پخوانر دي چه چین ته یې ته ولاړ شي د تو موړ ي معبد په مځکه کې د مها کالا Mahakala د ډلو یې مجسمې نه لاندې یو څه طلا ، مروارید ، مرغاري او جواهرات خښ کړ ی وو او دا ئې کېاله چه هغه به یې د معبد د مرمت کارې په چارو ولګو لی شي ، د امهال د راهبینو د تقاضا په اثر د دغی خزانې سر د چینی زاېر (هیوان تسنګ) په لاس په ۶۳۲ مسیحی کال هغه وخت چه تو موړ ی ز ائر هم د غه د شالوکیا په معبد کې دده د ستوګنې په وخت کې لوځ کړ ی شو نو د زاېر د بیانا تو له مخې له هغه ځای څخه د اسې یو ه کتیبه پیدا شوه چه د هغې پر مخ د غه مضمون لیکل شوی و : (هر وخت چه د (سنګارامه) (معبد) وران شي ، وګړ ی کو لی شي چه د غه خز انه راوکاږ ی او معبد ور باندې ترمیم کړ ی پدې تر تیب سره د (د شالوکیا معبد) یا (سر یکه ویهار) د چینی پر غملا نو د هستو ګنې ځای تقر یباً له هغه لرغو نی نقش او سینګ-ار سره دا و ومی مسیحی پیړ ی تر لومړ ی نیما ئی پو ر ې و دا نو ، او هغه د ترمیم ور ځا یو نه چه پ ـکښې پیدا شوي و و بیرته ترمیم شو ل ، د چینی پر غملا نو ا و د کنیشکا د مقتدر امپراطو ر خاطره تر هغه وخته پو ر ې لا هم د معبد د ر اهبینو ، او د کاپیسی د ښار د خلکو په منځ کې تازه وه . او چینی زایر محض پدې لحاظ چه له چین څخه راغلی و ، خپله یوه میاشت د هستو ګنه ئې هم د لته یعنی د کا پیسا په معبد کې غو ره کړه .

په ۱۹۳۷م کا ل د تو موړ ی معبد حفر یات د مو سیو ها کن له خوا (موسیو مو نیه) ته وسپار ل شو ل او په نتیجه کې یو مستطیل شکل حیاط (کیږ ه) او د هغې په منځ کې یو ه لو یه استو په پیدا شوه د ې کیږ ی د شرق له خوا نه یو ې بلی محو طې ته لار در لو ده چه هلته نو رې کو چنۍ استو پې جو ړې شوی او ذ ښې ئې ښکاره شو ې هغه ستر ه استو په په ځینو لو ایحو باندې ښائسته شوې وه چه ځینې یې لا تر او سه ر ه غی او پخپلو ځایو در و ل شوې و ې ، له دې جملې نه یو ه یې « کسیاپای Kasyapa بر همنې اېدهنه و ر و په لغزو ر و راهبینو سره د بودا په احترام مشغو ل ښکار ه کو ی د یر ه نفر اعانه ور کوو نکی هیکل چه له دغه ځایه لا سته ر اغلی دی ، د کو شانیا نو په مخصو صو جامو سره ملبس دی د دغه معبد د شرق خو اته دو ه سو مه ترمه لیرې یو بل ځای په ۱۹۳۸ ، او ۱۹۳۹ کلو نو کې و کیندل شو چه په (نادر قول) سره مشهو ر دی هو رې

ACKU

هم یو ستر معبد له یوې لویې استوپې نه د راهبانو له اطاقو سره پیدا شو . له دې دا چه ( پوزه شه ترلاسه او « قول ناد » د دو ستر و معبدو آثار را ښئي ، چه په مز بات پر احتمال لا نوبولي د چیني بر غملانو ، د مستو ګنې ځای بلل کیږي . دخینو نانما مو مجسمو او دهغه شباهت له مه نې چه دخینو نورو ، او د ( وي Wei ) دعصر د اثارو په منځ کې شته فرانسوي مدققینو نظر په څر ګند کړی او داسي و ایي : تر (٦) پیړۍ پوري د ( ئېنه هیکل تر اشان په کار بو خت و او په دغه ځای کښې د ۶۳۱ کال د پسرلي بو ه میاشت د ( هیوان تسنګ ) ار سیدلی و و اضح د لیل دی چه د (۷) پیړۍ په لومړي نیمایي کې لا هم د شتر ك دغر په لمنو کي معبدو نه ودان وو .

<u>چیناپاتي</u> : د چیني بر غملا نو د ژمي د استو ګنې د ځای په بار ه کې هم تر یو ی انداز ي معلو مات په لاس کې شته څر نګه چه مو و یل امپراطور کنیشکا بو مو ږ بو بر غملانو ته په ژمي د امپراطوري په تو دو ځایو کښې یا په پار و شاپو را ( پېښو ر ) یا د پنجاب په کو مه نقطه کې د خپل د ژمي د پاي تخت په شا و خوا کښې ځای ور کړ ی او چیني زایر یو ه علاقه د ( شینا پو تي ) یا ( چیناپاتي ) په نامه یاد ه کړ ی د چه هغه د ر اوي او ستلج په منځ کې بو لي او مرکزئي کنګهم د چیني ګاري په نامه ( دامر تسر ) د شمال په ۱۱ میلی کې بو لي چهنی زایر په خوراصراحت سر ه و ائي چه کنیشکا پاچا هغه مهال چه سلطنت ته و رسیده او دده د تور ی ا و نا مه شهر ت په شا و خوا ملکو کې خپور شو نو بر غملانې ی د ژ ی ی بجبري زر له هغې خوانه را و ستل او هغو ی به په ژمي په دغه علا قه کې ار سیدل نو له دغه کبله دا ځای چیناپاتي بو لي (۱) د لته هم یو لوی معبد د چیني بر غملا نو د مستو ګنې ځای وُ چه دری سو مر اهبان يې د ر لو دل د چیناپاتي د کلمې معنی د چین سر دار دی چه هغو چیني شهز ادګانو او نجیبا و ته اشا ر ه کوی چه بر غملا نو په منځ کې موجو دو و .

<u>پایتختو نه</u> : هغه امپر اطوري چه کنیشکا جو ړ ه کړ ه د هغو ري د و سعت له کبله یو ه دا سې پر اخه او لو یه امپر اطوري و ه چه د آ ریانایا د خوا ابی ا فغانستان په تاریخ کې سابقه نه لري په دغه و سیع مملکت کښې چه د ګنګا او تارم ترخه د پار تیا تر آ خري غر بي بر خې پو ري بې پر اخوالی در لو د کنیشکا د خپلې شخصي اسه و ګنې او د سلطنت د پار ه منځنی حد ماکي وُ چه د ګندهار اخته عبارت دی او دایو ه علاقه ، چه د کابل سیند و رڅنې تیر یږ ی او د اباسیند

(۱) دغر بی هیوادو په باب کښې یا دداشته نه د ( بیل ) د تر جمې ۱۷۲ مخ

ACKU

په‌سیند کې تو ښېزي. په کنیشکا پاچا ګندهار اخور اګرانه‌و ځکه‌ سر بېره پر دې چه دغه ځای دده د پراخې (امپراطورۍ) زړه ‌اشغال‌ کړی و، د آب و هوا او د طبیعي ښکلو منـاظرو دلر او بر له کبله او د خاورې د استعداد له مخې هم یوه غوره او ممتازه ټوټه وه هر کله چه کنیشکا د فصلونو د آب و هوا د تقضا په لحاظ د ژمي موسم په تودو برخو کې او دوبی به ئې په سړو ځایو کې تېراوه ګندهار اددده د سلطنتي ژوندانه د اسلوب سره خوږ اموافقت درلود پدې‌ و چه ګندهار او کاپیسا، د کوهستان او کوهدامن حوزه او د پوړ اشا پورا ( پېښور ) په‌دوو آخري شرقي او غربي سیمو کې دوه پایتختونه‌ درلودل چه یو ئې د دوبي او بل ئې د ژمي د هستوګنې د پاره وو حتی په‌ځینو روایاتو سره‌نو موړی به‌ د پسرلي ځینې لومړۍ میاشتې و زخمی او د منې و روستي شپې ددوارو ذکر شوو ځایو په‌منځ په‌داسي برخه کښې تېرولې چه د(ننګرهار) کلمه په‌ښه‌ توګه له‌هغې نقطې ځخه نمایندګي کوي په‌دې ترتیب سره‌ به‌ له‌هغو وختو ځخه چه د کشوړ کشائي نقشو به‌ د سلطان‌ سفري حرکت لازم ګرزاوه‌نو ژ وختـو نه‌بـه ئـې عـموماً د(ګندهارا) په‌یو ځای کښې تېرېدل لدې کبله‌ دی عموماً په‌ ‌پښتو انیو روایتونو کې د ګندهارا د پاچا په‌صفت بلل شوی دی.

د کاپیسي شاهي ښار: د کابل ددرې په‌شمال کښې یوه‌شنه حاصل لرونکې جلګه موجوده ده چه یو ښکلي غرني حصار پرهغې باندې احاطه کړی ده او دغوربند، شتل، پنجشیر او سالنګ ځلور مست او سیلابي سیندونه د هندو کش له‌جنوبي لمنو ځخه‌را کښته‌شوي او د شمال غربي ګوټ ځخه‌نو موړي ښایسته‌او بې ساري جلګې ته راځي ورو سته‌له ځه‌لږې فاصلې له مړی شتل او غوربند بیا د سالنګ او پنجشیر سیندونه‌ سره‌ یو ځای کېږي ځه قدري کښته‌ تو لې ذکر شوي او به‌ سره‌ ګډې شوې او د پنجشیر د سیند په‌نامه‌ لمر ختیځ لورته‌ بهیږي هغه‌ شاو خوا بر خه‌ چه‌ دنو موړي نهر و د ځالي د مجرى جنوب او جنوب غربي لورته‌ واقع ده‌ نن ورځ د کوهدامن په نامه‌ او هغه غرنۍ بر خه چه دنو موړي مجرى په شمالي او ږ دوالي کښې پر ته ده د کوهستان په نوم یادیږي، دادواړه‌برخې دا سلام د ظهور نه پخوا معمولاً د« کاپیسا »په نامه‌یا د یدلې.

کا پیسا ځرنګه چه نن ورځ حاصل خیزه‌،شنه ،زرغونه او سمسوره‌تا کسټا نې ښکلې تو ته ده، په لرغونې او پخوا انیو زمانه کې ئې هم له دې نقطې نظره ځخه

د پرشهرت دړلود ، او ترهغه ځایه پورې چه له ځینو منابعو څخه څرګندیږي حتی په ( ٦ ق م ) پیړۍ کښې په آریانا کښې د هخامنشي دسیر وس دتهاجم او چپاوو په وخت کې دې ته تي پوه مستحکم ښار هم د رلوداو دهغې زماني معاصرو پاڼي ئي « ددې ښکلي دانګوروا وشرابو ستاینه کړیده .

هرکله چه کاپیسا د جغرافیې له نقطې نظره څخه د مرکزي هندوکش د د روازې په مقابل کې پوموړ ان دی او د پنجشیر د سیند مجرۍ هغه په مستقیم ډول د اندوس (سند) له ناوې سره نښلوله او د پکتیا ، اراکوزي یعنی د آریانا دجنوبي او جنوب غربي برخو لارې هم دغه ځای ته رسیدلې - د مراوداتو او موقعالجیشي له نقطې نظره څخه د هر ډول ودانۍ استعداد درلود او مرکزیت ئې د دې سبب شویدی چه د لته ښار رونه ودان شي ، لکه د نیکایا ، او پیانه ، د قفقازاسکندریه ، سکندري حصار او داسې نور چه خرابې ئې لاتر او سه پاتې او د ۱۹ پیړۍ د لومړیو کلو څخه ئې د محققینو توجه ځانته جلب کړیده .

په دې ځای کې زمونږ مقصد سمدستي د کاپیسا د ښارونو د څرنګوالي بیان نه دی بلکه غواړو هغې نقطې ته پام لرنه وکړو چه په کوشانی دوره مخصوصاً دامپراطور کنیشکا د ساطنت په زمانه کې د نوموړي سلطان د دوبي پایتخت و

د قفقاز د اسکندریې د ښار تاکل د دې سبب شو ، چه یو شمیر محققین د۱۹ پیړۍ نه او لو کلو څخه وروسته د « کاپیسا » جلګې ته متوجه شي ، د دغو محققینو له ډلې څخه د څاورو کسانو نومونه د یاد ولو وړ دی چه د وه ئې انګریزان او دوه نور ئې فرانسویان دي . یو - تن انګریز ، او یو تن فرانسوی مستر چارل مسن (۱۸۵۳ - ۱۸۰۰) او موسیو کلو داګوست کورت « ۱۸٦۱ - ۱۷۹۳ » په کاپیسا کې په عملي ډول تحقیقات کړي دي او دوو تنو نورو موسیو ژ اکه E-jacquet او مستر ولسن H.H.wilson د منابعو په مرسته او د لومړیو د و تنو د لیکنو سره . د هغو دمقایسې له مخې د نوموړي ښار په تاکلو کښې موثق نظریات وړاندې کړل ، او د موسیو فوشه او موسیو ها کن په ذریعه چه د چیني زایرهیوان تسنګ د یاد داښتو نو ترجمه د دوی په عصر کې

ACKU

شویده. او دیوه خوراښه لارښوونکې په د ودې کار ورکاوه موضوع په قطعي ډول حل شوه، موږ بیلادې نه چه دغو ی د نظریاتو په باره کې څېړنه وکړو نتیجې ته را ځو او وایو: چه د «تقنقا زا سکندریه» د ښار ځنای په پروان کښې واقع دی، او هغه خرابې چه په بګرام کښې لیدلې کیږي د «آرین» له ښکلي ذکر کړی ښار او د چینی زائرهیوان تسنګ له یاد کړی «کاپیسي» نومي ښار څخه عبارت دی.

په بګرام کې موږ د وې تاکلي نقطې لرو چه یوه ئې د «عبد الله برج» او بله د یوپېراخ او لوی ښار ربقایا وخرابې دي چه تقریباً «۶۰۰» متره لیري د جنوب خواته واقع دي دغو عملي حفریاتو او تحقیقاتو په نتیجه کې چه موسیو ګریشمن د عبدالله د برج د احاطې په باب کښې کړیدي او دا خبره ثابته شویده چه د لته د اسکندر په عصر کې د یونانیانو له خوا په محلي ډول او اصولو یوه مستحکمه کلا جوړه شوې وه چه څلور خواوو ته ئې حصارونه، برجونه او خندقونه درلودل او د نه ځای هماغه د «نیکایا» یا «نیسه» ښار دی چه «مسترولسن» او «مکډونالډ کرندل»، «فوشه»، «هاکن»، «ګریشمن» د دغه ښار موقعیت په بګرام کښې ښودلی دی او فوشه هغه پخوانی شاهي ښار هم بولي موسیو فوشه وائي چه په وروستی تاریخ کې مستحکمه ماڼۍ او قلعه تقریباً «۵۰۰» متره د جنوب لوري ته یو بل اوږدې احاطې ته ورنقل شوه. چه د موقعیت طرفونه او جهات ئې د عبدالله د برج د شاهي ښار له محوطې څخه کوم تفاوت نه لري یوازې د تناسب له نقطې نظره څه ناڅه توپیر لري دی ځکه نو نوې محوطې اوږدوالی ۸۰۰ متره او سورئې ۴۵۰ متره دی داو نه، معطیل له لو مړنی سره پیوه برخه کې دغو زیاتې دعوی ښکاري په ...یعنې پیوه بله جنوب شرقي برخه کې دیو ضخیم دیوال په واسطه پیوسته کیده چه له ستر او موخښتو څخه جوړ شوی و، دغه دریم حصار او کلا په بازار و ... او ښار په ستر و ودانیو احاطه شوی و ... تر او ودانیو چه په توی محوطه کښې وی دوه نیم کیلو متره احاطه درلوده ددی برخې نه په دباندنیو شاوخوا کښې د ښار قصبات

ACKU

واقع شوی و، وچه دبرو خلکو په دغه برخه کی هستوګنه درلوده د دوی بدیره چه تر اوسه لمسترو خورینو ځایونو څخه ده چه بهرهم په دغه حصه کی واقع وه څخه قدر لری دغو ښارونو: بېګرام او زرکښی چه د رود خانی پر مجری باندی حاکمیت لری معبدونه او استوپې واقع دی چه خلی او جګ جګ ځایونه په اوږدو او ګردو تاکلوا شکالو سره دهغوی موقعیت څرګندوی (۱)

دغه نوی او زوړ شکله سره له دی چه موسیو فوشه له خولی ئی تعریف تیر شو موسیو هاکن ئی نوی پاچاهی ښار بولی او د وازه فرانسوی مدققانو ئی هغه ښار ګڼی چه هیوان تسنګ چینی زایر په ۶۳۲ مسیحی کال د کاپیسی د ښار په نامه چه د کاپیسا مرکز دی یاد کړی دی.

د کاپیسی د ښار داهمیت په لحاظ له ۱۹۳۶ نه تر ۱۹۴۲ پوری په مرتب ډول د فرانسوی حفریاتی هیئت دغری یوله خوا د دغه ښار په بیلو بیلو ځایو کښی کیندنی (حفریات) وشوی او څو ډیر قیمتی آثار کشف شول چه د کوشانی پاچاهانو لکه دویم کدفیز س، کنیشکا، هو ویشکا او واسو دو امسی مسکوکات پکی هم شامل دی، مرکوی چه له اولی نه تر دریمی مسیحی پیړی پوری پدی ځای کښی دستر و کوشانیانو قدرت د مرکز استقرار درلود.

موسیو ګریشمن د هغو حفریاتو په اثر چه د ۱۹۴۱ کال په آخرو وختو او په ۱۹۴۲ کال کښی ئی په بګرام کښی وکړل او ډیری سکی بې پیدا کړی په پوله ډول پور کښی چه د کابل موزیم ته ئی ورکړی دی دا دول نظر په ورکوی د کاپیسی ښار د دوهمی ق م پیړی په اوله نیمائی کښی چه دیونانیانو باختری سلطنت د ترقی دوره وه دانشو یدی پدی ترتیب سره ښار دکوشانیانو تر ظهور پوری اتاسیس شوی دی او دکوشانیانو د دولت د جوړیدو او د هغه دولت د عظمت د مراتبو د سیر سره سم په تدریج د ښار په ودانیو کښی زیات توالی راغی او د لوی کنیشکا په عصر کی حتما د کوشانی امپراطوریه دویم پایتخت آریاناوه، رنګه، مصور، منقوش ښیښه ئی قیمتی لوښی د مدیترانی د آسیائی سواحلو ښار و د ښیښی جوړ و لو د کار خانی محصول دی د (ماتورا) ساخت د جرا هرو د ساتلو د عاج محصوصی صندوقچی او په چین کی د جوړ و شو و لوښو بقایا چه د اتول د شاهی و دانیو د سالونو تزئین لپاره

(۱) په بګرام کښی د عتیقه شناسی د تحبسانو د کتاب ۶ مخ دغه کتاب د ژ. هاکن تالیف دی

مخصوص وو دکاپیسی دښار دبګرام په مرکزیت باندی دلایل دی او څرګندیږی چه دکوشانیانو دامپراطوری په دوبی دپایتخت شاهی ماڼۍ د هغه وخت په خوراښو تجملی محصولاتو سره ښائسته کیدلی ، ذکرشوی ښیښه یی لوښی له هغو ممیزه اشکالو سره چه لری یی په یقینی ډول سره داثابتوی چه داول او څلورم مسیحی قرنو په منځ کښی دکاپیسی ښار مرکزیت لاره لکه موسیو هاکن وائی داګوست دسلطنت له اخره وکالو (٦٢ق م) او ١٤ مسیحی) څخه دکونستانتن دسلطنت تر پای (۳۳۷م پوری تجارتی روابط دکوشانی او رومن د دولتو په منځ کښی بر قرار وو ، له بلی خوا دا هم څرګنده ده چه دهنددشمالی برخو او روم په منځ کښی روابط د اګوست (٦٣ق م او ١٤ مسیحی) او دتراجان (۱۱۷-۹۸م) او دهارد ین ۱۳۸ ۱۱۷م) په زمانو کښی خورا ټینګ شوی وو څو هر کله چه دهندشمالی برخی په دې مهال کی دکوشانیانو دامپراطوری جزوی ټو و بلاښکه چه کاپیسی «او پوراشاپورا) دکنښکادژمی اونوبی پایتختونه پریودان او دامپراطوری مرکز و نو په حیث ئی له خارجه نړۍ سره زیات علایق درلودل نو دحیرانتیا ځای نه دی دبګرام له خرابو څخه ښیښه ئی لوښی درومن د (کلا دیاتوریانو) دجګړې او غیږ نیولو د صحنې سره کشف شی ځکه نو موږی لوښی یا دتحفو په حیث درومن دامپراطورانو دنمایندګانو په لاس دلته راغلی یا سوداګرانو دځان سره راوړی او یا خاص دکوشانی امپراطورانو دخواهش په اثر پیرودل شوی دی په همدی دول په چین کښی جوړ شوی لوښی چه په اصل کی دلرګی څخه وه ، څو دلوښو په ګرچا پیره څنډو کی فلزلګول شوی وُ او دهغو خارجی خوا به ئی یا په «لاکو» یادونی په پوډ و لګندو رنګو له او نقشو نه به ئی وربانندی کول ده هان یانو دسلطنت دزمانی یادګاردی چه یادهغې په دودیا دتجارت دلاری ده کاپیسی دسلطنت قصر ته را وړل شوی و (۱) دعاج صندوقچی چه دجواهراتو دساتلو په غرض تخصیص شوی وی د(هند) نه ماتو راساخت دامپراطوری له داخلی محصولاتو څخه وې چه دجواهراتو دساتلو لپاره تهیه شوی وې ، ددغو صندوقچو

---

(۱) هرکله چه دلوښی اساسی برخه لرګی وُ نو متاسفانه دزمانې په تیریدو سره له منځه وتلی او یوازی دلوښو دڅنډو فلزی کړی او دهغو دسرواو نورو نقشو ځینی ټوټی اخستل شوی او دکابل په موزه کی دبګرام په خونه کی خوندی دی. او بایدووېیل شی چه ددغو لوښو په شان ظروف دکوریاله شبهه جزیری څخه هم کشف شوی دی.

ACKU

د دېوال نړونې او قطعات د عاجو د نورو ډېرو لوېو سره، چه هر یو ئې په جلا جلا سبک
منبت کاري، نقاشي او رنګيني شوېدې د نړۍ له خورا نفيسو، او سترو عاجي آثارو مجموعه
ده چه د «کاپیسي» له ښار څخه لاس ته راغلي او خاص د کابل په موزه کښې ده(۱) د شاهي ودانيو
د احاطې څخه د باندې د کاپيسي د ښار دا حاطې د داخلي برخو په شرق کښې او د ښار
په بازار کې هم د موسيو «کرل» له خوا حفريات شوېدې چه د هغو په نتيجه کې يو قطار دکانونه
له خورينو لوښو سره چه د هغو پاتو او دنورو شيانو د ساتلو د پاره مخصوص وو، کشف
شوي دي، د دغو ځينو لوښو جدارونه؛ په مختلفو قاپو سره مزين شوي وو ـ د بازار د دغې
رستې له دکانو څخه ډېرې سکې لاس ته راغلې او ترلې يې د کوشانيانو په مختلفو پاچاهانو
پورې اړه لري، د بازار او دکانو د شمير له مخې داسې څرګنديږي چه د کاپيسي د پاچائي
ښار په دننه کلا او برجونو کې يو کافي جمعيت هستوګنه لرله. موسيو ګريشمن د بګرام
د حفرياتو په شپږم ماواوو مرحله کښې چه د ۱۹٤۱ کال په آخر وو ختو او د ۱۹٤۲ کال په
جريان کې ئې د کرل تر ل۳۹۵ قلمه ځيزونه، لوښي او مسکوکات ئې کشف کړل چه
زياتره برخه ئې مسکوکات او خورين لوښي دي ـ د ذکر شوو مسکوکاتو په جمله کې چه
شمير يې څو سو ته رسيږي داول مسکوکات هم شته دي چه نوعيت ئې تر اوسه نه دی
څرګند لکه چه دي، د دې اثې د دغو تحقيقاتو په نتيجه کې به د کوشانيانو د اجتماعي ژوندانه
د اړخونو او د هغه عصر د مذهبي ادابو، او رسومو په باب کښې زمونږ نظريات خورا ښه
روښانه شي د ګريشمن حفريات عجالةً د کاپيسي د ښار په باب کښې په يوه مسئله کښې زمونږ
معلومات زياتوي او وسعت ورکوي او دا هغه نظريات دي چه د کاپيسي د ښار د کلا
او برجونو د جوړولو په باب کښې د عملي تحقيقاتو نه وروسته لاس ته راغلي دي د حصار

د دېوال اوږدوالی ۲۷٦ متره او سور (عرض) ئې په ځينو برخو کې ۱۱ متره دی ـ دا پېر او
ډبل دېوال په داسې حال کې چه مستقيم دی، پس له هرې فاصلې نه د يوآلس متره په مخ را
وتلي دي چه د غوړ او تلو ځايونو څو څو متره اوږدوالی او سور درلود، په دې ترتيب سره

(۱) د زياتو معلوماتو لپاره دې د بګرام د عتيقه شناسي د تجسساتو د کتاب اول جلد او د هند
د آرت او ادب د مجلې د لسم جلد او يو نمبر ته دې مراجعه وشي.

ACKU

د ښار ساتونکو له هغو تیرکښو نو څخه چه د دیوال په اوږدو کښې ایستل شوي وو د دې ښار دبیخ ته اې ژاوبې (کوتونه) لیدلی شول ، او د دیوال په بیخ کښې دښمن په هیڅ ډول سره د ښار د محافظینو د غشي له لګیدو څخه ځان نشو ژغورلی نه شو د ښار په څلور وکړو نجونوکي دکلا او حصار داضلاع و دتقاطع او د دغې کلا د دوارو ضلعو د محکښی را و تلو ځایو په لحاظ د ښار حصار داسی شکل غوره کړی و ، چه د ختاورو دتر اکم او دخرابولو مخې په دغه ځای کې د برجونو په وجو دباندې حکم کیده ، مګر دا څرګنده شوه چه نو موړی ښار په څلور و کونجو کی برجونه لرل - دکاپیسی دښار دکلا او بر والی له هغو برخو سره چه د زمانی د تیر یدو په وجه سولیدلی او خوړ لی شو یدی د ۷ او ۸ متر و په اندازه اټکل شوی دی - د دغو د بوالو یو ه برخه له د برو څخه د او نور له او مو خښتو څخه و دان شوی و و .

څرنګه چه د ښار د جنوبی ا رخ د برجونو د شکل له مخې څرګند یږی احتمال لری چه ښار د و همه کلا هم درلو ده ، ځکه اتلو نکی عملی تحقیق به دا مطلب واضح او تصریح کړی .

ترا وسه پوری تقریباً په مجموعی صورت د کاپیسی د ښار د کلا د داخلی احاطی ۱ برخه سطحه حفر او کیندل شوې ده .

نو یقین دی چه د کار د دوام په صورت کښې به ستر و کوشانیا نو د دوی د پایتخت په باره کښې زمونږ منظر نظر پراختیا ومومی .

درا هینو د ګوښه نشینۍ او د ځانته ځایو خوښولو په وجه بودائی معابدا و مذهبی موسسات نول دښار له کلانه دباندې واقع وو .

له دې جملې څخه تر ټو لو مشهور هغه معبد دی چه د پهلوا ن د غره په لمن کې ودان شوی و چه د بیره نږدې ځنډه ئی د ښار له کلا څخه د وه کیلو متره فاصله لری ، دا نه د ه څرګنده چه د غه معبد و په کوشانی زمانه مخصوصاً دکنیشکا د سلطنت په عصر کې په څه نوم وسره شهرت درلود .

پورا شاپورا (پېښور) د کنیشکا د ژمی پایتخت دګندهارا د ذرې په آخر نی شرقی برخه کښې یو ښار و چه د یو ا ز هتسنګ د (پوراشاپورا) په نامه یا د کړی او له او سنی پېښور څخه عبارت دی که څه هم دا ښار دکوشانیانو

ACKU

پېښور نورو پاچاهانو هم د پایتخت په توګه استعمال کړی دی مګر عمرانی او د بودائي افسانو د کنیشکا په عصر پورې اړه لري ، پورشاپورا ، هم لکه د کاپیسی ښار نورې جلا برخې درلودې چه په سلطنتي هستو ګنې او مذهبي آبدا تو پورې ئې اختصاص درلود ـ مګر تر اوسه پورې په دې ښار کې یواځې د معبدونو او استوپو په خرابو کښې تحقیقات شوي دي .

پخپله د کنیشکا د شاهي ودانیو له جملې څخه چه د ده د ژمي د پایتخت اهمیت ئې درلود د یو مجلل او عالیشان معبد او د اوول ؤ چه استوپې ئې تر ۵۰ متره زیات لوړوالی درلود د از فرشه هغه د جهان له مجللو معابدو څخه بللی دی د ډاکټر اسپونر Dr.D.B. Spooner د حفریاتو په اثر په ۱۹۰۹ کښې له دغه ځای څخه یوه فلزی جعبه کشف شوه چه هغه نن ورځ د پېښور په موزه کې موجوده ده او د ستر کوشانی شاهنشاه کنیشکا تصویر پر هغې باندې په ولاړه په برجسته صورت تمثیل شوی دی .

د کنیشکا د ژمی او دوبی د دوو پایتختو په منځ کې چه د کاپیسی ( بګرام ) ښار او د « پورشاپورا » (پېښور) څخه عبارت دی ، یو معبر موجود ؤ چه هغه بې پاچاهی لار ه بلله او د ورېښمو د معروفې لارې د جنوبي څانګې یوه برخه ئې تشکیل کړې وه .

کنیشکا او بودائي دین ؤ آئین : د لومړی جلد د پنځم فصل په : وهمه

---

برخه کښې د ( بودائي دیانت او آریانا ) ( بودائي دیانت ) او د ( مذهبي محفل او د مبلغینو استوني ) تر عنوان لاندې د( ۴۴۰ مخ نه تر ۴۴۵ ) پورې د بودائي دین د فلسفي اصل او د هغه خپرېدو الی په هند کې او د موریاد امپراطوری ( اشوکا ) په زمانه کې « په ګندهارا » او د کابل په حوزه او کاپیسا کې مو د هغه د خپرېدنو د صورت او تاریخ په باره کې بیان وکړ او ددوهم جلد په شپږم فصل کې چه په یونان او باختری دورې پورې مربوط دی تقریباً په ( ۹۰ مخ ) کښې ( د بودائي فلسفې او ادبیات ) تر عنوان لاندې د بودائي

آئین انتشار موږ په غیر رسمي صورت د ق.م د دریمې پېړۍ په دوهمه نیمائي
او د ق.م د دوهم قرن په اوائلو کې د هندوکش د غرونه هغې خوا ته د باختر
په برخو کې لیکلای او ویلای شو چه د یونان او باختري مستقلو پاچاهانو د مذهبو
او عقائدو احترام کاوه او د هیڅ دول آئین د نشر په وړاندې مانع کېدل نه لکه په
ذکر شوي مبحث پورې متصل د (باختري اربابانواعو او پښتواني دیانت
بقایا) تر عنوان لاندې د (۹۲) مخ په شا وخوا کې د آریائي او یونانی
اربابانواعو د احترام او نمائش موجودیت لکه اناهیتا، میترا، شیوا،
هرکول، زوس، او نورو ټول بیان کړل د اسکائي او پهلوا پاچاهانو د حکومت
په زمانه کې هم دې وضعیت دوام درلود، او بودیزم د پرخپل رشد او ترقي ئې
وکړه تر دې چه کوشانیان خرگند شول او میدان ته راووتل نو
هر کله چه کوشانیانو خپل کوم مشخص دین او آئین نه
درلود (۱) وروسته تر دې چه په آریانا کې په ځای شول نو زموږ د مملکت ترمدني او
معنوي نفوذ لاندې راغلل او زړو زړو نو ټول ارباب انواع چه په افغانستان کې
معروف وو وپېژندل او محترم ئې وګڼل ترڅو چه د هغو اشکال یې په خپلو مسکوکاتو کې
ضرب کړل. پاتې جمله کښي ئې ازازه بودا او د هغه له آئین سره هم پېژندګلوي پیدا
کړه، او دله په نورو ورې آئین باندې امات او معتقد شول لکه چه د کاپیسا له مختلفو
نقاطو څخه لکه پایتاوه دهربګرام شترک دادول تعټي (پیدا شوي چه د هغو له معنی
د کوشانیانو دا خیال په بودائي دیانت کې اثبات ته رسېږي، که څه هم د کوشاني پاچاهانو
لکه د کنیشکا په بودائي توب کې تر اوسه هم شبهه موجوده ده او عجبا نتأ دانشو ثابتولي چه

(۱) څیني د (شونا) د لمر دیو دول رب النوع پرستش دوی ته منسوبوي او وائي چه هغه یې
د منځنۍ آسیا څخه له ځان سره راوړی وه او په افغانستان کې ئې منتشر کړ لکه چه د
هیوان تسنګ له افغانستان څخه د تیرېدلو په وخت کښي هغه او د هغې له پیروانو څخه
یاد ونه کړی.

دامهتر پاچاهودانی ؤ (۱) مګر دګر دو تیر اشو له منی څرګند بزی چه بو دائی دیانت دکوشانی پاچاهانو سره ترقی وکړه او ډیر خپور شوی دی. لکه چه نوموړی دیانت عروج د تبلیغ، دلوړو معبدو نو دجوړېدنت ـ دستوری هیکل تراشی له منی په ښه دول ثابت دی ـ له بوی خوا دکوشانیانو له لښکر کشیو سره مخصوصاً دکانیشکا دفاتحانه حملو په واسطه بودائی دین په چینی ترکستان کی دتارم دسیند ترغاړو پوری خپور شو، او وله بلی خوا د سلطنتی پیسو او شتمنی په اثر ئې خورا ډیر باحشمته او زیات مجلل معبدونه چه مثال ئې نه دی لیدل شوی منځ ته راغلل، لکه چه په پاړسیا نو کښی د ابو مری معبد د جسوړولو او د بـودا سا کیامونی د (۳۵) متری هیکل تراشی په نسبت (لرغونی پا چاتنه) کښی چه احتمال اری کنیشکا او ته (۲) که چیرته مسکوکات او کور و پواځی دکنیشکا په یوه طلائی سکه کی دبودا صورت ښو دل شوی دی او په نورو کی عمو ماً باختری او یونانی معدلی ارباب انواع لیدل کیږی، او دا لکه چه پخوا او ته اشاره وشوه داخبره ثابتوی چه دبودائیت له ترقی سره دنورو ارباب انواعو عبادت له منځه نه ؤ وتلی، او لکه چه دد غو آریائی هندی، یونانی مختلفو عناصر و په اثر، دادول ضعیت منځ ته راغلی چه دانګلیسی ونسنت سمیت

(۱) د(اشوکا دافسانو په کتاب کښی) sprzyluskis د کتاب مولف وائی چه کنیشکا دیوه عالم له خوا چه (سودارسانا) Sudarsana نومیده په بودائی دیانت کی داخل کړی شو.

۲ ـ کنیشکا ته دبامیانو دهیکل تراشی د نسبت ورکولو په باره کی موثق تاریخی سند په لاس کی نه لرو، ځکه پاچه مو ږ دکی هغه خورا لرغونی منبع چه معلومات را کوی، د(هیوان تسنګ) چینی زائر یادداشتونه دی، چه دا زوړ او په قرار نه دبتانو تراشل بلکه هغه استوپه چه خرابه ئې د کر چنی بت په بیخ دکښتو نو په منځ کی شته دی (یوه لرغونی پا چاته) چه احتمالاً به کنیشکا او ی نسبت ورکړی دی ـ هر کله چه کنیشکا دآریانا دکوشانیانو مقتدرامپراطور د معبدو نو په تجلیل او دبودائی دیانت په خپرو نه کی فوق العاده سعیه کړیده نو ډیر احتمال شته دی چه دبامیانو استوپه او دکو چنی (۳۵) متری بت تراشل به د نوموړی ستر امپراطور په عصر کی شروع شوی وی

ACKU

په نظر یه ډک و شان په زمانه کې په بودائي دین کې یو نوی طریقه منځ ته راغله چه هغه ئې د مهایانا، یا (دنجات لویه لاره) و بلله. باید دا هم و ویل شي چه په پخوانی بودائي آئین کې بوداپېژوونکي او استاذ تصور کیږي چه د خپلو حاصل کړو تجاربو په واسطه ئې بشري تولنې ته یوه لاره ښودله، او بې له دې نه د پیغمبر او خدای وجود د دغو ی په معتقدانو کې لیاره نه درلوده ـ هر کله چه په آریانا کې په بو داسربیره د یوشمېر نورو مختلفو اربابو انواعو هم معروف او د نمانځنې او ستاینې وړ وو ـ او ورور ورو ، دوی کړی بو په عقائدو مخصوصاً په کوشانیانو کې چه دمړو جهاد یانو له اساس څخه بې خبر دوی «بودا» هم دیو دولرب النوع شکل غوره کړ او دې ئې په دېرینو اثارو کې د نورو اربابو انواعو نه زیات و بنودل او دغو ی په قطار کې ئې داخل کړیدی ـ پخوا مووویل چه د کنیشکا په بودائي توب کې شبهه موجوده ده ، ځکه چه دده په مسکوکاتو کې بودائي بوځای بودا ، او نور په تر او ځایو کې نور اربابا انواع عموماً ښودل شویدی ، سرو له دې که موضوع د افسانو له مخې و کتله شي داسې څرګندېږي چه کنیشکا به د بودائي دین کې د اخل شوی وي ـ څرګنده ده ، هغه افسانې چه بود یزم د کنیشکا په باب کې جوړې کړې یدي ، هغه افسانې دي چه د موریا نورد ستر امپراطور اشوکا په باب کښې ویل کیدلې ـ څرنګه چه وویل شو ئې اشوکا پس له ډیرو جګړو او ډیر و وژلو او وینو تویولو نه بودائي دیانت ومانه دغو افسانو عین بیان د کنیشکا په باب کې هم قصه کوي او وائي چه امپراطور پخوا تر هغه چه د بودا په دین کې داخل شي بې دین ، ظالم ، خونخوار او جګړه خوښوونکی و خو پس له هنګامو ، قتل او قتال او خلکو وژلو څخه د خپلو خودسرانه کارو نو څخه پښیمانه شو او په بودیزم کښې داخل شو د افسانو موضوع چه هرڅه وي د مسکوکاتو د صریح شهادت په مقابل کې د تاریخي صحت په لحاظ عاري او خالي دي مګر دا هم باید و ویلی شي چه د کنیشکا د دین قضاوت د مسکوکاتو له مخې هم غلط دی ځکه چه تقریباً هغه نولی تقایدي دي ، بنیادو چه د بو دا د نوم په نسبت نور محلي او یونانی ارباب انواع زیاتره د کنیشکا په مسکوکاتو کښې ضرب شوي دي او د ده په پخوا نیو او څو راشکلیو سکو کې لمر او سپوږمۍ په یوناني نامه هیلوس Hilios، سلین Selene ښو دل شوي دي اما دا هم د دې باعث ګرځیدلی نه شي چه د کنیشکا په معتقداتو کې د بودیزم تاثیر نه وي کړی هر کله چه هغه مسکوکات چه پر هغو باندې د ساکیامونی تصویر پراوده

ACKU

نوم په یونانی رسم الخط ضرب شویدی د کنیشکا د سلطنت اخرو کلو ته منسوبیږی نو احتمال
لری چه وروسته تر یو ځه مودې حکمرانی ئې بودائی دیانت منلی وی هغه بل څیز چه
د کنیشکا د عمر په آخر کښې د ده په بودائی توب باندې دلیل راوړی د هغې ستوپا ستوبی
جوړول دی چه د پېښور په اطرافو کښې ئې دانه کړی و او د حفریاتو په اثر ئې له هغه ځایه
د بوداله ځینو یادگاری شیانو سره د کنیشکا سکه هم پیدا کړیده.
موسیو (سیلوان لوی) فرانسوی مستشرق په هغو نوترکی چه د (هندوسیت) په باب کښې ئې
لیکلی او په ۱۸۹۶ کال د پاریس په آسیائی ژورنال کښې نشر شوی دی ځینی افسانی کشف
او ترجمه کړیدی چه د کنیشکا او ربط د هغه عصر له بودائی پوهانو سره ارتباطي د هغو افسانو
په جمله کښې چه په نورو ورځی مجله کښې شایع شوی دی دوهمې قصې په منځ کې د کنیشکا صحنی ته
را ایستلی دی او په لولو کښې چه د کنیشکا د نوم ذکر په سبب دلچسپه ده داسی لیکل شویدی،
یو پاچا چه چن، تان، کی، نی، تچا Tch-en-tau-ki-ni-tcha نومیده وغوښتل چه د کی، نی
تچا Ki-ni-tcha ښار ته لاړ شی او هغه وگوری.
دوهمه ئې داسی لیکی (د کین-شا Kin-tcha په قبیله کښې یو پاچا وچه چن، تان، کیا، نی تچا
Tch-en-tan-kia-ni-tcha نومیده نوموړی د لمرختیځ هند نیولو لپاره روان شو هرکله
چه هغه ځای ئې ونیو او وگرځی بی ور ته تابع شول ده بخت خورا لوړ او داسی درجی ته
ورسیده چه د ده له قدرت او زور څخه ټول ولویدل خو هغه مهال چه د خپل مملکت لور ته
بیرته راگرزیده په یوه گاونډ مملکت کښې ئې یوه استوپه ولیدله چه د گمان له مخی بودائی
استوپه وه په دی ترتیب سره که کنیشکا په خپلو مسکوکاتو کښې آریایی، هندی او یونانی ارباب
انواع استعمال کړیدی علت بی محض تقلید یا سیاست دی چه دا امپراطور د ټولو معمولو
مذهبو په نسبت د ده نظر بی موافقت څرگندوی، ناخبره له استعمال څخه لری نه ده چه دی
د خپل سلطنت په اوږو کالو کښې بودائی نه وی، مگر د خپل سلطنت په اخرو کالو کښې نوموړی
د بودائی دیانت پیرو شوی او قیصر پسرزی لو سکی حتی
د بودا هلته نوم یادوی چه (مو دار سانا) نو میږی او پخپله امپراطور ئې په بودائی ته
د پانشکی داخل کړ سر پیره پر دی بو خورالوی مذهبی محفل د هغه محفل

ACKU

په څیر چه «اشوکا» په زمانه کی جوړ شوی ؤ دکنیشکا دسلطنت په عصر کی او دنو مو ړی نژحمایت لاندی هم په پېښور یا کشمیر کی جوړ شو لکه چه وروسته به ئی شرح او بیان وکړو ذکر شوی ؤ محفل په بو دائی طریقو کښی خوړ اژوړ انقلاب هم پیدا کړ :
لوی کنیشکا دکاپیسا په یوه پخوانی افسانه کښی : افسانو هر وخت مخصوصاً په لرغونو

---

او پخوانیو زمانو او په زیاته دبودائی دیانت دپیروانو په منځ کی خورا مهم رول لوبولی او دنار یخ او ادبیاتو ستره برخه ئی هم افسانو تشکیل کړی ده ـ داقصی که څه هم ظاهری بېبدئی افسانی بریښی مگر دځینو تاریخی حقایقو څخه هم خالی ندی ـ په بودائی ټکلونو کښی دوو امپراطورانو چه دوار ه په رښتیا سره ستر میړونه و یعنی «اشوکا» دموریا امپراطور او بل کنیشکا کوشانی امپراطور ، مهم رول لوبولی دی او تر هغه ځایه پوری چه څرګند شویده دیر وافسانو د هغوی او ړ شخصیتونه او ستری کا ر نامی ضبطی کړی دی او دا دواړه ستر میړونه بې په ذهن او خاطرو کی لوی اشخاص گرزولی دی . له دغو افسانو څخه یوه هیوان ـ تسنگ چینی زائر په کاپیسی (بگرام) کښی دخپل اقامت په وخت کښی ۶۳۲ مسیحی کال اوریدلی دی او دقصی له روح څخه ئی شانیانو داوی امپراطور کنیشکا توجه په عمرانی چارو او دمعبدونو په پراختیالی کښی څرګندیږی ـ دافسانی له مخ و یانو څخه دا سی معلومیږی چه نومو ړی امپراطور په هر وړیه چه تمامیده حتی په سختو غرنیو برخو کښی سره دآب وهوا دعدم مساعدت او دواوړ و بارانو دطوفانو دجریانانو په صورت ونو کی بیاهم لوی لوی معبدونه جوړ ول ـ دا افسانه دکوشانی پاچاهانو بالخاصه دکنیشکا مخصوصه توجه د معبد ونو د ډیروالی او تجلیل په باره کښی په خورا ښه طریقه شرح کوی او د نومو ړی زائر په خپلو سترګو لیدلی ۵۰۰ کاله وروسته هم داخبره اثبات ته رسوی چه سره له هغو ستر و جګړو او خرابکار یو چه دکنیشکا دزمامداری څخه وروسته پیښی شو یدی ، بیا هم دمملکت په هره برخه کی ډیر معبدونه : او مذهبی موسسی موجودی وی ـ لکه چه یو اځی پخپله په کاپیسا کی چه دلاندنی افسانی صحنه ده دکنیشکا د سلطنت څخه پنځه پیړ ی وروسته له ساو معبدونو او شپږ وز زورا هبینو څخه صحبت کوی ـ دنومړ ی زائر اصل داستان هغه شان چه د کاپیسی د ښار له وګړ یو څخه

او ریدلي دي: په لاندې ډول او رقیبو کښې ئې بیانوو (۱)

د مهایانا د طریقې تشکیل او مذهبي ستر محفل: موږ وویل چه بودائي د یانت

هغه مهال چه په افغانستان کې خپریده د پښوانیو آریائي ارباب انواعو او

دمیتولوژي یوناني ارباب انواعو احترام او پرستش چه د اسکندر تر فتوحاتو

وروسته ئې د مشرق په ځاورو کښې شهرت پیداکړی وو لکه (انا هیا) میترا) سوریا

(۱) د یوه اوږغره په سر باندې چه د ۲ لی په فاصله (نږدې مسافې وا حد) دی چه طول ئې ۵۰۰ متره کېږي) دبګرام شمال غرب خواته واقع شوی دی (هغه غرچه یادکرشوی فاصله دبګرام شمال غرب ته ئې موقعیت تاکل شوی دسالنګ لهخوکې څخه عبارت دی) بوه او یه درباچه (ناګا) دمچه په هغې کښې داوه دمارانو باچا (ناګا) هستوګنه او حکومت درلود (سالنګیان اود نوموړي دری ګاونډی محلي وګړي تراوسه هم دسالنګ دغره په سر بوې لویې درباچې ته مرقمی ورکوی اوځینې طبیعي عناصر لکه باد او باران، واوره اونور د هغه په تصرف کې وو

پدې وخت په بګرام او یادهغه په شاوخوا کښې یو تن (Arhate ارهات) پاستر بوهاند چه په اصل کې کندهاری وه هستوګه ارله نوموړي په مذهبي علومو کې دي منطقې ستر روحاني عالم ګڼل کیده اود نوموړي دعلمي او مذهبي مقام د اوچتوالي له کبله وو چه د او بود مارانو باچا دده مرید شوی و او وخت په وخت به ئې بې شماره تحفې دده ورانډې کولې هغه مهال چه دورځې ۱۲ بجې به نږدې شوې نوموړی پوهاند به د خپل قوي په مرسته به یوکې باندې کښیناست او په هوا به والوت او د سالنګ په سر دد ر باچې په غاړه د (ناګا) ماڼۍ ته به ورغی اود غرمې ډوډۍ به ئې هورې خوړله .

هر کله چه د پوهاند یو شاګرد د خپل استاد دغرمې له اوتنې او د (ناګا) په قصر کې دده له ډوډۍ خوړلو څخه خبروانو به فکر کې شو چه باید ئې هم دخپل استاد په یوزي پورې ځان ځوړند کړی او دا راز کشف کړی، ددې فکر په اثر یوه ورځ دپوهاند دالوتلو په مهال کې شاګرد هم دبوزې (بوریا) یوه څنډه کلکه و نیوله اودی هم له خپل استاد سره په هوا شو اود ستر کې په رپ کښې ورغی ددرباچې په غاړه د (ناګا) په قصر کې کښته شو. ناګاچه شاګرد هم له خپل پیرسره ولیده ئې هم دغرمې ډوډۍ خوړلو ته وروباله مګر هر کله چه (ناګا) دغو دواړو ته غذا راوړه د استاذ غذا (اسماني) اودشاګرد غذا عادي او معمولي وه عالم چه ددوی له ډوډۍ خوړلو نه فارغ شوه ناګا شکریه ئې اداکړه او دکورنې عادت په مطابق ئې دغذالوښي خپل شاګرد ته ورکړل چه یو ئې مینځي پدې تر تیب سره

( پاتې په ۲۵۷ مخ کې)

زوس ـ هرکول، او ځینو هندي ارباب انواعو لکه (شیوا) او نورو هریو په یو د ولسره پیروان او معبدونه درلودل ـ بودیزم هغه مهال چه د هند له خاورو نه راووت او په آریاناکي نشر شو، په حقیقت کي له یو نوي فضا نه بلی فضا ته راغی چه مذهبي افکارو هوری تنوع او آزادي درلوده لکه چه د مذهبي صنعت په موضوع کښي به په راتلونکي فصل کښي وګورو ـ تر هغه وخته پوري چه د بودیزم په هند کي محدود و،

---

د ۲۵٦ مخ پاتې پاورقي

هغه مهال چه شاګرد د استاذ او د خپل غذا په فرق پوه شو او دعا ئې اسماني غذائي په لوښي کښې واچوله نو په خپل استاذ د (ناګا) داو بودماراتو په پاچا باندې په غضب شو نو د قهر په وخت کښې ئې خپل نیک عملو نه شفیع ور وړل او دعا ئې وکړه چه (ناګا) دې تلف او د هغه ځای دې زه ونیسم طالب لا د خپلي دعا څخه نه و فارغ شوی چه د (ناګا) په سر درد شو، عالم د شکر یې دادا کو لو، او داو رادو دلو ستلو ته ورو ستنه یخیله سهو پوه او پښیما نه شو چه ولې ئې خپل د غذا لوښی په شاګرد باندې ور پسته ول، (ناګا) هم یخپله ګناه اعتراف وکړ او پدې خبره باندې پښیمانه شو چه ولی ئې شاګرد ته هم اسماني غذا نه ده ورکړې ـ مګر نوموی شاګرد هغه مهال چه معبد ته بیر ته راغی په مات زړه او غمجن حال سره ئې د مذهبي او رادو په و یلو پیل وکړ، او په داسې اندازه دتا تر ا ووراد و په عالم کي غرق شو چه په هماغه شپه مړ او روح ئې د تناسخ (۱) په صورت د (ناګاراجا) یعني داو بودماراتو پاچا شو، دا مهال په داسې حال کښي چه له غضبه ډېر ډېر د دریاچې مستو او بو ته ورکښه او بخواني ناګاني وواژه یخیله یې د هغه ځای اشغال کړ، بیا یې د انتقام په غرض له نو مړي بوها ند څخه او د هغه د معبد دو را نولو په هڅه خپل داو بود ماراتو ته له تیمه او پیرو ان ئې راټول کړل او دباد او باران ژوراو طوفان ئې بدې ډول جاري کړ چه و نې به له ریښو څخه راو تلې او ګرد او غبار د کوشاني پایتخت او د کاپیسي د معبد وفضا توره تیاره کړه او قیامت بې جوړ کړ.

د هغه وخت امپر اطور ستر کنیشکاد هوا له سمد ستي خبر ا بیر څخه متعجب شو او د پایتخت له ستر عالم څخه یې ددې وضعیت علت وغوښت، بوها ند چه د واقعې له اساس څخه خبر و، حادثه ئې ورته ووېله ـ کنیشکا داو بود ماراتو د منتو في تو لواك د یادو بود لیا ره تصمیم ونیو چه له وا وري ډ ك غره په بیخ کي ( د ې معبد ا و استو ې ځای احتمال
(پاتي په ۲۵۸ مخ کي)

---

(۱) بودائیان د ارواحو په تناسخ معتقد وو ـ ویل به ئې داو سنیو افرادو د هر یوه ژوند د تیر عمر په نیکو او بد و اعما لو پوري مر بوط دی او راتلونکي ژوند ئې په اوسنیو اعما لو پوري ارتباط لري.

ACKU

دنو موري د يانت پيروانو جرئت نشو کولی چه بودا په بشري شکل او قيافه سره تمثيل کړي - دد ې نظريي شاهد هم بمبئي ته نژدې د سانشي د معبداوا ستوپې هغه لوحې دي چه بودا بې د چتر او افتا بگير ، او د پښو د نقش د علامو او داسې نور و نښو په ذريعه ښودلي دي - وروسته له دې چه بودائي د يانت په آريانا کې نشر شو ، د باختر او گندهارا صنعتگرانو . چه د يوناني هيکل تراشۍ په مدرسو کې مجرب او ماهر شوي وو - د لومړي ځل د پاره ئې بودا د انسان په شکل تصوير کړ او د ده د شخص او مربوطوا فسانو لپاره يې رنگه تصويرونه ، هيکلونه او

---

(د ٢٥٧ مخ پاتې پاورقي)

اری چه دسا لنک دلياري دغر و په بيخ کې د جبل السراج يا پنجشير په کومه برخه کې واقع وي) د ١٠٠ قدمو په لوړوالي يو معبداو استوپه ودانه کړي ، لدې کبله يې مهندس او معمار ، عمله ، کارگران مطلوبې نقطې ته واستول چه بکار پيل وکړي ، دمارانو نوي پاچا د کنيشکا پاچاله دغه تصميم څخه متغير او په غضب شو نو باداو باران ته ئې دجريان اووړيا امر ورکړ چه د کارمانو شي له بلې خوا کاريگرانو ودانۍ په چارو شروع وکړه ، دمارانو پاچا نور هم په قهر شو ، او خپله مخربه قوه يې دوچنده کړه باد او باران فوق العاده شدت وموند ، يدې ترځ کې له يوې خوا د کنيشکا عمله په ودانۍ بوخته وه ، او له بلې خوا دمارانو د پاچا طبيعي عناصر ونه پرېښودل چه کار سرته ورسيږي ، خلاصه شپږ واري کنيشکا معبد او استوپه ودانه کړه او هر شپږ کرته دمارانو د پاچا په امر باداو باران هغه وران کړل .

اووم وار کنيشکا چه يو مقتدر امپراطور و له خپلې نا کامۍ څخه متفعل او په عين زمان کې په قهر شو او حکم ئې ورکړ چه دمارانو د پاچا در باچه ډکه کړي او قصر يې وروران کړي ، لدې کبله له خپلو عساکرو سره له کاپيسي څخه د نومړي غره بيخ ته ورغی ، دنا گاه د کوشا نشاه د عساکر و له رانلو څخه وډار شو ، نو ځان ئې ديو ځايه برهمن په شکل جوړ او دلاري په سر حاضر شو او د پاچا د فيل په مقابل کې تيت شو او ورته يې وويل : ای د نړۍ د پاچا تا هغسې چه دنيږ ژوند په ترڅ کې دې قابليت څرگند کړ ، نو د نوع بشر پاچاشوې او هيڅ د اوړ ول آرزو په زړه کې نه لرې چه هغه دې ته وي حاصله شوي نه يم پوه چه ولې ځان ته تکليف ورکوې او داو بود پاچا مقابلې ته روان يې ؟ (نا گايان) يعنی داو بو ماران بد مخلوقات دي ، او داهم باید عرض کړم چه د شيطانانو په جمله کې دهغوی پاچا ډېر قوي اری چه مقابله ورسره گرانه ده ځکه چه تول طبيعي عناصر دهغوی په فرمان کار کوي په ورېځو باندې سپرېږي باران اوري او لاجوردينې فضا هغې

پاتې په ٢٥٩ مخ کې

ACKU

نور څه جوړ کړه ، پدې حیث سره ئې دهندي بو دایانو محدودنظرته پراختیا او وسعت ورکړ ـ په همدې دول دآریاناخاوري په بو دائي فلسفه کي هم زیات تاثیر کړی دی او ددې اغیزې عات هم ددې ځای خوراآزاده فضا او دیو شمېر مختلفو اربابانو اعود پرستش رواج او دیونان او باختری او کوشانی مستقلو پاچاهانو بې طرفه سیاست و چه د مذهبی چارواو مسئلو پیروی به ئې کوله ـ که څه هم بودائي آئین دهند دخاوری تحفه او په (مگده) کي زیږیدلی دی مگرپس له دی چه په آریانا کي منتشر شو .تر دی اندازې پورې ئې ترقی وکړه چه گندهارایې دبودائي آئین موعود مځکه او دوهمه (مگده) و بلله ـ ددې دلیل چه کوشانیان په آریاناکي دمختلفو مذهبو سره مخامخ شو پدې ددې کورني دپاچاهانو

---

(د۲۵۸ مخ پاتې برخه)

خواته له اوورود کو فروتو په سرو باندی گرزی ـ زور ورسیلابونه ددرو په ژورو کی رابهوی او هیڅ یوه انسانی قوه پرهغوی باندی غلبه نشی کولی نوای ستر تولوا که خواهش کوم چه دقهر څخه کښېنی اودیو تاکا له مقابلی څخه منصرف شی لځکه که دی فتح وکړه پدی بری سره ستا شهرت نه زیاتیږی او که مغلوب شوې دماتې له انفعال او درد څخه به اذیت وو ینې .

هرکله چه کنیشکا دخپلو لښکرو دپرته راگرزولو په کار کی تردید څرگند کړ ـ نو د اوبو د مارانو پاچا خپل دربا چی ته بیرته راغی او د چپوله منځه تبر شو د یخی د طبقو لاندی نثووت یو ساعت لانه و تیر شوی چه په فضا کی نوی تغییرات پیش شول تورو وریځو هوا تیاره کړه په دی دول نه یوازی د کاپیسی ښار بلکه د کاپیسا تولو حوزه یې دغرونو دحصار له کړی سره ترگرد او غبار لاندی وه او ل پدی حال کی دمارانو دپاچا اوازدتالندی په ځیر دسالنگ دغرو له سر وڅخه به غرو میدو پیل وکړ غرونه گی په لړ زه راوستل اودبادا و باران جریان ونی له بیخ څخه راوایستلی د کنیشکا لښکری په هرج او مرج اخته اسان اوپیلان هم له خپلو سیرو سره یه وحشت کی و او یه ل دا مهال پخپله کنیشکا پاچا دمذهبی اورادو به اوستلو شروع وکړه اووی ویل :( په تېر ژوندکی ما د خپلو نیکو اعمااو په واسطه پدې ژوندکی پر نوع بشر باندی حکمرانی وکړله او پخپل قوت سره مې خوراستری قواوی مغلو بې کړی او نړی مې ونیوله ا وس داوبومارانو پاچا غواړی په ما باندی غالب شی لدې کبله دخپلو نیکو اعمالو په واسطه غواړم چه پدی سانحه کې له ما سره مرسته وکړی )هرکله چه خبره دی حال ته ورسیدله نو دپاچا داو ږوله سروڅخه داورلمبی ځکی شوی (په لمبو گرگې سکوکی دپاچا بر اوږو باندی د او رلمبی لیدلی کیږی)اوله اطرافو څخه ئې دود پورته کیږی ـ دمارانو پاچادداسې حال په لیدلو سره یه وحشت کی ولید لې شو ونتیجه دامها ل بادو دربد او یخې ولاړه باران قطع او توري وریځې تیت او پرك شوی .

باتی په ۲٦۰ مخ کښې

ACKU

مسکوکاتاو مخصوصاً دکنیشکا مختلفي سکې دي چه پر هغو باندي آریاني،
هندي او یوناني مختلف اربابا نواع نقش شویدي – سر بېره پر دي هم
پوهېږو چه (ویما کدفیزس) شیوا ئي آئین اودین ته ډېر تمائل درلود نو له دغو
شیانو څخه واضح څرګندېږي چه کوشانیان په آریاناکي له مختلفو مذهبو
سره مخامخ شوي او هر یوته ئي تمائل او رغبت ښکاره کړي دي. پدي ترتیب سره
له یوي خوا کنیشکا په بودائي توب کي تردید موجود دی، او له بلې خوا نو موړي
د دې آئین خورا ستر مشوق او حامي ګڼي او دا شوکا په شان ده ته ئي

---

(د۲۵۹مخ پاتې پاورقي)

دامهال امیر اطور حکم وکړ چه هر سپاهي دي یوه یوه ډبره واخلي په دریاچه کي
دي وغورزوي چه ډکه شي داو بود مارانو یاچا دوباره ځان دیو مزاړه برهمن په څېر بدل کړ
او امیر اطورته راغی وې ویل چه زه داو بود مارانو یاچا یم او راغلی یم چه دیاچا
اطاعت ته غاړه کېږدم، امید او هیله لرم چه د ګناه څخه مي راتېر شي او ماعفو کړي- هر کله
چه پوهېږم یاچا ټول موجودات دزړه له کومي ښه ګڼي او حمایت یې کوي نو زما بېچاره
په باره کي به هم حتماً مهرباني وفرمائي، که یاچا مامړ کړي دواړه به په غلطه لاره تللي یو.
یاچا به زما د وژلو په علت او زه به دخپلو غضب ناکو افکارو په سبب، نو په نتیجه کي
به مونږ دواړه په رانلونکي ژوند کي منفور یو.

یاچا دده عذر په خبر یواورېدې اووې فرمایل که ته په آینده کي بیا نافرماني
وکړه عفو به نشي دمارانو یاچا عرض وکړ (ناګا دخپلو بدو اعمالو په واسطه چه درلودل
ئي دمار په شکل راواوښت، نو هر کله چه دده طبیعت ظالم او کینه ناک دی دده له بدیو
او ضررسولو څخه ځان ژغورنه ګران کاردی، نو که احتمالاً کوم نامناسب حرکت امما
څخه پېښ شي نو زما له هېره به وي څخه به واقع شوی وي هیله لرم که یاچا یوه بله بلا
دمبید په جوړولو بېل کوي نو یو ستر زنګ دي هم جوړ کړي او یو سړي دي هر ورځ
راو استوي چه دغر سرو ګوري که هوري توري ورېځي ټولي شوې وي سمدستي دي
زنګ ووهي تر څو چه دزنګ دآواز داوریدو له مخي دیاچا ملاقات او دده دعظمت
او اقتدارموضوع زما په زړه کي راو ګرځي او بد فکرونه مي بر طرف شي.

امیر اطوردناکامه مرض او مبله ویه هغه ترتیب سره چه دده دزنګ مهیب آوازد بکرام
دسلطان قدرت او لوبی دکاپیسا په خورالیرودرو کي منعکس کړي ومخپل معبدا واستوپه ئي
ودانه کړه.

هم افسانې منسوبې کړېدي — کنیشکا یا د سیاست له نقطې نظره مختلف ارباب انواع د خپلو مسکوکاتو پر مخ نقش کړېدي او یا دا چه د نوموړي سکې د هغه وخت یادګار دي چه بودائي آئین ئې لا نه و منلی.

په هر حال له هغې نورې مخې چه د ده د یانت پیروشو او بودا ئې د خپلې سکې پر مخ نقش کړه د دغه دین نوې او بې سارې دوره پرانستله شوه، د دې مسئلې اهمیت د آسیا په اړخ ښکاره کېږي د بودائي د دین د خپرېدلو او پراختیا او د سیاست په لحاظ یوه موضوع ده چه په دغه خبره باندې به پخپل ځای کې خبرې نه وکړو، او س د لنډه موضوع د هغه حول له نقطې نظره څخه ګورو چه په نوموړي آئین کې څرګند شو، څرنګه چه مو تر د اول جلد د پنځم فصل په دوهمه برخه کې د (۴۴۳ق م) په شاو خوا کې پر لیکلي د ریم مذهبي بودائي محفل داشوکا د موریا پاچا په عصر کې تشکیل شو او په هغه کې سربېره د مذهبي قوانینو او دستورونو په ترتیب او تنظیم باندې د مبلغینو استول د هند غیر بودائي نقاطو او پردیو مملکتونو ته هم تصویب شول، بودائي دین د (ساکیا موني) له وفات نه وروسته تر ۵ — ۶ پېړیو په یوې طریقې پورې منحصر و چه هغه ئې هینا یانا Hinayana (د نجات وړوکی لاره) یا د جنوب لیاره بللې، د دې طریقې قوانین په نوموړي محفل کې (د پتالي پوترا) په ښار کې داشوکا په عصر کې تا کل شوي وو، پس له دې چه د دغه دین په آریانا کې مروج شولکه چه ورو ورو یې خپل آزادې فضا د پراخوالي کار رو په خان میدان ته راوستل او کم کم د ګند هارا، او کاپیسا د پوهانو په تجویز د پخوانیو اصولو د اصلاح او تعدیل ګوتنګښي پیدا شو چه د حکمرانی نو بت یوه مقتدر امپراطور لکه کنیشکا ته ورسید او د نوموړي د حمایت تر سیوري لاندې د آریانا بودائي پوهانو د خپلو نظریاتو د عملي کولو لپاره مساعد موقع وموند له او د کنیشکا په امر یو بل ستر محفل چه له پنځوسو متبحرو علماوو څخه مرکب و د امپراطور د ژمي د پایتخت په اطرافو یعنې پېښور کښې افتتاح او منعقد کړ، د دې ستر

تولنی رئیس ( واز و میترا (Vasoumitra) د گندهارا یو عالم ؤ چه په مذهبی علو مو او فلسفه کی د کوشا ن په تو له امپرا طوری کښې ئې نظیر نه درلود ، او د « مهایانی » ځینو مخصوصو طریقو نوموړی عالم ته د بودا ئې بوهانود او وم صد ولقب ورکړی ؤ . پا رسوا Pareva د کنیشکا د دربار مذهبی مشا ور هم په دغه محفل کی گډ ون کړی ؤ چه د دی به تل پخپله د سلطا ن سر ، په کا پیسی ، گندهارا ، پیښورا و کشمیرکې په سلطنتی ما نیو کی اوسید ، او امپرا طو رته به ئې د مذ هبی مضا مینو درس ورکا وه ا و دی ا صلا د « گند هـا را » ؤ ، حتی د ځینوا سنا دو له مخی ځر گند یږی چه د دغه جمعیت ریاست هـم د ده ورسپا رلی شوی ؤ ـ د کنیشکا د عصر هغه ستر ا دیب اولیکوا ل چه په ذ کرشوی مجمع کی ئې گډ ون درلود « ا سوا گوسا » نومیداو دا مپراطوری په ا مر د مجلس فیصله هم د دغه لیکوا ل په قـلم جمع ا وتد وین شوه ، دذ کرشو ی مجلس د خبر و اترو ا و بحث په نتیجه کی یوه نو ی طریقه ( د مها یا نا ) Mahayana پـه نا مه یعنی ( د نجا ت لو یه لاره ) د نجا ت د کوچنۍ لیاری په مقا بل کی منځ تـه را غله ـ ا وهرکله چه د د ی مذ هبی ا صلاح محرك د آ ریانا یوهان مخصوصاً د گند ها را ا وکا پیسا علما و و ، نو هغه یی د جنو ب د طریقی په مقا بـل کـی د شمـا ل طر یقه هم بللی د ه .

طبعاً د جنو ب د طریقی علماوو یا ( بودا ئې ارتو د وکسیانو) دد غو ا قداماتو پر خلا ف هنگا مې پو رته کړی ا و نوی نظر یی ئې باطلې کړی ا و د (واز و میترا) د مجلس د رئیس نوم ئې د مذ هبی علما ؤ له ډ لی څخه محـو کـړ . لـد ې ورځې نه وروسته د وو ډ لو مختلفو مذ هبی نظر یا تو په د وو مخا لفو طریقو خپل شکل بدل کړ او و رو ورو د هغو مغایر ت اومخالفت دې اند ازې ته ورسید ، چه هر یو جلا جلا مذهبی تولنی او ځانته ځانته معبدو نه لرل .

هغه خورا مهمه مد رسه چه د « مها یا نا » د طریقی له روح څخه ئې نما یند گی کو له ( سروا ستی وا دن Sarvastivadin ) نومید ، دد ې مد رسې په وجه تسمیه کښې « سروا » ( ټول ) او « ا ستی » ( دی ) معنی لری چه د مرکب نوم مفهوم ئې

(تول دی) کېږی او اصطلاحی مفهوم ئې دا دی: چه (تول څېزونه پدې کې شته دی) یعنی دې مدرسې تعصب او تنګ نظرې ترکی کړې او هغه څه چه په بودائی قوانینو کی لیکل شوی وو په خورا پراخ مفهوم سره ئې منلی دی، ددې ښوونځی پیروانو خپله دینی ژبه سانسکریت غوره کړه.

او نورې مدرسې په تېره لهجو چه دعوامو فهم ته نژدې وې باقی پاتی شوې:

د آریانا علماوو د (سرواستی وادن) د مکتب په تشکیل سره د موریایانو د عصر پښتوانی بودائی محدود آئین ته د خپل مملکت د پښتوانیو د یانو د روحیاتو نظریاتو او اریاب انواعو د داخلولو په واسطه پراخوالی ورکړ، د لمر او ږبهار ب النوع (میترا) په بودائی دیانت کښی داخله شوه او د (بودیس اتوا) یعنی دراتلونکی بودا مفکوره چه له (میتریا) څخه عبارت دی په هغه ځای کی لاره پیدا کړه.

د کنیشکا مسکوکات: پښتوا تر دې مو د لومړنی کوشانی کورنۍ

---

د پادشاهانو یعنی دکجولا کدفیزس او ویماکدفیزس د مسکوکاتو څرنګوالی د فلز د جنسیت، شکل، صورت، ژبې، رسم الخط او دنورو اړخونو له نقطی نظره څه بیان کړ. هرکله چه د کنیشکا مسکوکات ځینې ممیزات لری نو هغه په دې ځای کې یادوو:

په عمومی صورت د کوشانو ستر امپراطور کنیشکا خورا زیاتې او متنوعې سکې لری چه د ده د سلطنت په اوږده موده، د امپراطورۍ د قلمرو په پراخوالی او د نوموړی امپراطور د نظریاتو په وسعت دلالت کوی. د فلز له نقطی نظره څه که څه هم د ده مسکوکات زیاتره په مفرغو او مسو باندی ضرب شوی دی مګر د طلا وې ضرب چه لومړی پلا په کوشانی زمانه کی د ویماکدفیزس د سلطنت په عصر کی منځ ته راغلی دی، د کنیشکا د سلطنت په زمانه کی ئی په ډېر تناسب سره دوام وکړ هغه څه چه ددوهمی کوشانی کورنۍ د سرسلسلې کنیشکا مسکوکات د لومړۍ کورنۍ له مسکوکاتو څخه جلا کوی او د ده د اولادې په زمانه کی هم د غو ممیزاتو

ACKU

دوام مو تبدیلی دی، دری عمده څیزونه دی: (۱) رسم الخط (۲) ژبه (۳) دارباب انواعو تصاویر. د کدفیزس د کوزنی دپاره شاهانو د سلطنت په زمانه کی یونانی رسم الخط او ژبه دواړه په مسکوکاتو کی استعمالیدل. البته څرنګه چه مونږ شرح ورکړه دی رسم الخط په ځینو حروفو کښی تغیرات پیښ شوی وو، سره له هغه د مسکوکاتو پرمخ استعمالیده، او استعمال ئی له یونانی ژبی سره یوځای وو. کنیشکا د کوزنی په مسکوکاتو کی یونانی ژبه د رواج څخه پاتی شوی مګر رسم الخط ئی لا باقی وو یعنی د یونانی ژبی په ځای آریانی لهجه چه د امهال ئی په آریانا کی رواج درلود، په یونانی رسم الخط سره لیکل شویده. — البته د زمانی د تیریدلو اقتضا خورا زیات تغیرات په ذکر شوی یونانی الف با کی راوستل لکه چه له همدی جهته ځینو مدققینو دا رسم الخط (یونانو، کوشانی) بللی دی، په هر حال د آریانی لهجی استعمال د یونانی ژبی په ځای یو طبیعی څیز دی. هغه موضوع چه ډیره د اهمیت وړ ده هغه دا ده چه خروشتی رسم الخط چه په آریانا پوری مخصوص و او د کدفیزسیانو د سلطنت په عهد کی د مسکوکاتو په څپه خوا باندی د یونانی رسم الخط په مقابل کی استعمالید. له رواج څخه ولوید یعنی د دی په ځای چه آریانی لهجه ئی د آریانا په مروج اریانی رسم الخط سره لیکلی وای هغه ئی په یونانی رسم الخط سره ضرب کړی ده، د خروشتی نه استعمال هم یوازی په مسکوکاتو کی دی او په کتیبو کښی ئی پوره عمومیت درلود، لکه چه هغه ستر مثال چه د دی نظر تائیدوی یو هغه لوښی دی چه د ورد د ګوله (خرات) څخه پیدا شوی او په بریتش موزیم کی دی او د خروشتی رسم الخط په بحث کی به له هغه څخه خبری اتری وکړو.

هغه بله موضوع چه د کنیشکا مسکوکات ئی د پخوانو کوشانی پاچاهانو د مسکوکاتو څخه جلا کړی دی، د ارباب انواعو د رو الی او تنوع دی، تر موږ ریکه پی د کوم دین او مذهب له امتیاز نه پرل هغه لو باب انواع چه هغه مهال په آریانا کی معروفه وو که اوستائی وو او که یونانی او که هندی له ټولو څخه ئی په خپلو مسکوکاتو کښی نوم

اخستی او نقش کړی ئی دی ، دده د مسکوکاتو او ستائی ارباب انواع میرو (میترا یالمر) ماو (میاشت یا سپوږمی) اترو (اتار) یا (اور) اروا سپو (اروت اسپه یادتندو او ګړندیو آسانو خاوند چه دلته لمر ته اشاره ده) او د یونانی ارباب انواعو څخه هیلیوس (لمر) سلنه (سپوږمۍ) او نور ذکر شوی دی ، په د غوسره بیره او مړی په پلا (بو دا ساکیا مونی) د بودائی آئین موسس ، پخپل کلاسیکی شکل او په راهبی لباس کی په داسې حال چه دګدائی کاسه ئی په لاس کې ده تمثیل شوی او په یونانی رسم الخط (بو دو سا کامانا بودو) یعنی (بو دا ساکیا مونی بودا) ذکر شوی دی ، په دی ترتیب سره دکنیشکا او د هغه د اخلافو ، د مسکوکاتو کتنه د کوشانی عصر د تاریخ د د لچسپو مباحثو څخه دی ، او له هغو څخه په عمومی ډول سره خورا قیمت لرونکی معلومات لاسته راځي دلته ځینو غټو مطالبو ته اشاره شویده او د راتلونکی فصل په مخونو کښی به د دا موضوع په ښه ډول تحلیل کړو ، د کنیشکا او د ده د اخلافو مسکوکات د افغانستان مخصوصاً له بګرام (لرغونی) او پښاور کاپیسی د کوشانیانو د دوبي پایتخت څخه په سلګو پیداشوی او پیدا کیږی ، دا مسکوکات زیاتره مسی یا مفرغ دی ، شکل ئی ګرد او ډبل دی ، عموماً په یو مخ پخپله امپراطور او په بل مخ ئی یو له هغو ارباب انواعو څخه تمثیل شوی دی کوم چه د ده دامپراطورۍ په قلمرو کی معروف وو ، زموږ بل چه کنیشکا په خپلو مسکوکاتو کی له آریانی لهجو څخه یوه لهجه په یونانی رسم الخط سره استعمال کړیده ، خو ددې لهجې او ژبې نا کل چه د هند وکش له آریانی لهجو څخه یوه لهجه ده خوراډیر تحقیق شوی دی — د هغه مضمون متن چه په عمومی ډول د ده په مسکوکاتو باندې پدې لهجه ضرب شوی دی داهم وله دی : (شاه او نانو شاه او کنشکی کوشانو) پدې ځای کی د ( شاه ) کلمه چه د افغانستان په دری ژبه کی تر اوسه پوری رواج لری په ښکاره ډول سره لیدله کیږی او د (شاه او نانو شاه او) جمله د ( پادشاهانو یا چا یا شاه هنشاه ) د بهترو الفاظو په معنی سره ترجمه کیدای شی :

د کنیشکا اخلاف : دکنیشکا پرځای نا ستکسان یعنی د دوهمی کوشانی کورنیه

نورو د شاهانو هغه یوه سلسله ترلاسه کړی ده چه نومونه یې د «ایشکا» په کلمه تمامېږی او زه هغه معلومات چه زموږ په نسبت تر کنیشکا لږ دی، په هر حال تر هغه ځایه پورې چه مل قضیو دعوی په باره کی نظریې څرګندې کړې دی که څه هم دوه دری کرښې هم وی هغه موږ اخستی او پخپله موقع کی به یې ذکر کړو — دا هم باید وویل شی چه تر او سه پورې په یقینی صورت سره نه ده څرګنده چه د کنیشکا له مرګ څخه وروسته څوک سلطنت ته رسیدلی دی په عمومی ډول پس له ده د څو تنو نومونه چه واسیشکا ( Vasishka ) (هوویشکا Huvishka ) او دوهم کنیشکا دی یو ځای او یو د م د مل قضیو په نظر کی ورغلی دی - ځینی یې مسکوکاتو او ځینی یې کتیبو څرګند کړل مګر حقایق لا تر او سه پټ دی او دعوی په باره کی اظهار نظر لا ګران کار دی چه آیا دا دری تنه یو ځای د کنیشکا د امپراطوری په مختلفو نقاطو کی سلطنت ته رسیدلی دی که جلا جلا، او که چېری ځانته ځانته یو په بل پسی یې پاچاهی کړی وی نو آیا کوم یو یې لومړی او کوم یو یې دوهم ځل پرتخت کښېناستلی دی او دعوی په منځ کی ترتیب څه دی ل ډ «وینسنت سمیت» انګریز

(۱) داسی لیکی چه د کتیبو د مفهوم په قرار داسی حال کی چه «واسیشکا» د ۲۴م کال په حدود کی او د «هوویشکا» د ۳۳ او ۶۰ کلو په منځ په «ماتورا» کی حکمرانی کوله، او په کنیشکا مشهور یو بل شهزاده چه هغه باید دوهم کنیشکا وبولو په ۴۱ کال کی د پنجاب په (آرا Ara ) کی حکومت کاوه - خو دا انګریزی مؤرخ په عقیده ددې موضوع د حل څرګندونې لا ره داده چه (واسیشکا) او «هوویشکا» د کنیشکا زامن وو او پلا ر سره په داسی حال کی چه دوی پلار د غرونو نه هغې خوا ته «یعنی په افغانستان» کی په جګړه اخته و د ده زامنو یې په برنی هندکی نائب الحکومه ګان وو، هر کله چه له واسیشکا څخه هیڅ یوه سکه لاسته نه ده راغلې او چا لې ترا او سه سکه نه ده پیژندلی نو «وینسنت سمیت» وایی چه څخه نتیجه اخستی او نظریه

(۱) د «ارلی هستری آف انډیا» Early History of India د کتاب د وینسنت سمیت د تما لیف ۲۸۶. مخ.

څرګندوي چه دغه شهزاده . تر څو یې پلار کنیشکا پخوا مړ شوی دی او پس له کنیشکا څخه د کوشان دولت امپراطوری د نیمولو بل زوی هوویشکا ته رسیدلی ده. مستر کنو د خروشتي کتیبو دکتاب په (۸۱) مخ کښې د پروفیسور لیودر (Lugers) له خوانه لیکی پروفیسور لیودر په دې عقیده دی چه داوی کنیشکا له مرګه وروسته د نوموړي امپراطوری په دوو برخو ویشل شوی ده دوهم کنیشکا د واسیشکا زوی په شمال کی او هوویشکا په هندکی باچاهی کوله سمره له دې څرمړه وروسته د شمال منطقې هم د هوویشکا په لاس اداره کیدای شوه په (۵۱) کال کی دوه دکو په کتیبه کی دامپراطور په نامه یاد شوی دی[1] مستر کنو لیکی که څه هم دغه نظریه یو اندازه رضایت بخښونکی نظر یه ده خو بیا هم اړ اصلاحاتو ته اړ دی - یعنی شبه نشته چه واسیشکا د مستر کنیشکا جانشین (خلف) ؤ ، اخرنی یې سنه چه له کنیشکا څخه لاسته راغلی ده (۲۳) کال دی او واسیشکا حتی د دې تاریخ په را وروسته کلو نوکی هم دامپراطور عنوان درلود نوموړی احتما لا د کنیشکا زوی و څکه چه پخپله د واسیشکا زوی هم کنیشکا نومیده که څه هم نوموړی پخپل نامه سکه نه ده ضرب کړی خو سره له دې هم د خپل پلار مستر کنیشکا په ځای نی جلوس کړی دی. آخرنی تاریخ چه د هوویشکا څخه لاسته راغلی دی (۲۸) کال دی او احتمال لری چه د دغو کلو په شاو خوا کی مړ شوی وي او زه ګمان کوم چه دده . په ځای به دوهم کنیشکا د هغه زوی د امپراطور په عنوان جلوس کړی وي .

یدې ډول فرانسوی (واله د وبوسن) هم په دغه عقیده دی او عیناً د هغه ترتیب مراعات کوی چه مستر کنو د ستر کنیشکا د جانشینانو په باب کلوکی غوره کړی دی.

یعنی پداسی حال کی چه واسیشکا او هوویشکا د ستر کنیشکا جانشینان ګڼلی دي نو دواړ و په منځ کی د دوهم کنیشکا وجود او سلطنت هم منی . څرنګه چه د مخه مو ویل دا نو ل بیانات نظریې دی او د ترتیب مراعات په هر مورد کی مخصوصاً په تاریخي حوادثو کی بهتر دی مونږ هم د هغه مراعات کوو :

واسیشکا Vasishka : واسیشکا دلوی کنیشکا له زامنو څخه دی چه یو مهال

---

(۱) دغه کتیبه دورډکو د (خوات) نومی ځای څخه انګلیسی مسن کشف او مندلی ده

په (ماتورا) کې نساتبا لسلطنه ؤ. او د خپل پلار تر مرګه وروسته دغه ځای نشین شوید ی. د دې پاچا نوم په هغه کتیبه کې چه (ماتورا) ته نژدې پیدا شوی او تاریخ ئې ۲٤ کال دی او همدا رنګه په دوو نورو کتیبو کې چه ۲۶-۲۹ کلونو سنه لري ذکر شوی دی سکه ئې تر اوسه لاسته نه دي راغلي تماماً مجهول دی.

نوم یې دا ندوس ساحل ته نژدې د (آرا Ara) په کتیبه کې چه د نوموړي د زوی په حکم نقر یعنی کیندل شوی دی په لږ تحریف سره واجاشکا Vajhashka هم یاد شوید ی

دوهم کنیشکا: دغه پاچادوا چا شکا Vajhashka یا (واجشپا Vajashpa) یعنی دغه ذکر شوی پاچا واسیشکا دی چه دده نوم په ئې سره له یوه لږ تحریف په دغو دوو صورتو باندی هم لیکه، په دې ترتیب سره کمو نیو لشی دوهم کنیشکا دستر امپراطور کنیشکا لمسی و، لکه چه زیاتره اروپائي مدققین دغې نظر یې ته تمائل څرګند وی. او دغه نورو په نظریه هغه کنیشکا چه د پنجاب د (آرا Ara) په کتیبه کې ذکر شویدی عبارت له دغه دوهم کنیشکا څخه دی لکه چه په دغه باره کې د وسیو کنونارو یوې مشهور مستشرق لیکلی دی(۱) دهغې کتیبې خروشتي لیکنه چه اندوس ته نژدې په (آرا Ara) کښې پیدا شوی ده، د دوهم کنیشکا په وجود دباندې شهادت ورکوی نوموړی پاچا په دې کتیبه کې خپل ځان ه مهاراجار اجاتی راجادواپترا کیزارا واجشکا پوترا کانیشکا بللی دی او داسې معلومیږی چه سربیره په آریانی سلطنتی عنوان یعنی (شاهنشاه) چه دده نیکه لوی کنیشکا هم دغه عنوان غوره کړی و، ګاوند یا نو ته دخپل مقام دمعرفی کولو دپاره دګاوندیو مملکتو سلطنتی القاب هم نیولی وو لکه (مهاراجا) دهند مذهبی عنوان (دواپوترا) دا سما ن زوی دچین دخاقا نانو لقب، او (کیزارا) یعنی قیصر د روم دامپراطورانو لقب ؤ (راجاتی راجا) یعنی د تولوا کانو تولوا ک دغه آریانی اصلی لقب تر جمه دی چه ستر کنیشکا د (شاا ونا نوشا او) یعنی دشاهنشاه په صورت شروع کړی و. هغه دلیل چه د دوهم کنیشکا دوجود د ثابتولو د پاره را وړی پدی دول دی پروفیسور لیودر Luders

---

(۱) دخروشتي کتیبو دکتاب دوهم جلد. اوم یې برخه دموسیو کنونو د تالیف (۷۰) مخ

لېکي :چه وا سېشکا د ا مپراطورۍعنوا ن مها را جا ( د وا پوترا ) حتی په هغه زما نه کې د رلو د چه د با نرجی (Banerji) د نظریې په قر ا ر، اوی کنیشکا لاحکم فرما یې د رلو د ه اوکـنیشکـا ا مپرا طور چه د ( آ ر ا ) په کتیبه کې یاد شوی د ی له د ې کبله د خپل پلار نو مپخپل نامه با ندی زیاد کړی د ی چه له ستر کـنیشکا څخه ئې فر ق او تمیز وشي ، له بلې خوا هر کله چه ( س ) د و ا سیشکا په کلمه کې څرگند ا و په شد ت سره ئې تلفظ کېږ ی هغه ئې د وا جشکا Vajheshka په شکل هم لیکلی د ې نو په د ې طریق سره ویلای شو چه د هغه کنیشکا پلار چه د (آ ر ا ) په کتیبه کې یادشوی د ی( وا سیشکا ) د لو ی کنیشکا جا نشین د ی .

هو و شیکا : هو وشیکا چه د رسم الخطی تغیرا تو په ا ثر «هوشکا» او«هو وشکا» هم ذ کر شوی د ی د و همی کوشا نی سلالې د پا چاهانو په منځ کې پس له امپرا طور کنیشکا څخه نسبت نو ر و ته خو ر امعر و ف د ی ، موسیو کنو لو مړی پلادی بولو ی جنرا ل گڼلی د ی چه د کنیشکا له خوا دکشمیر د فتحې لپا ر ه ټا کل شوی و ا و نوموړی دی د ا حتما ل په د و ل د وا سیشکا ورور گڼلی ا و د ا سې لیکي چه د ا مپرا طورۍ مقا م ته د د ه د ورو رد رسېد لو نه وروسته یاد هغه له مړ ینې نه وروسته او ړ ی د ( ۳ ۳ کا ل ) په شاو خوا کې په شر قي ولا یا تو کې حکمران یا نائب السلطنه ټا کل شوی و په هرحا ل نو موړی له (٤٠ کال )نه پخوا د (راجا تا راجا) د امپراطورۍ مقا م ته نه د ی رسید لی ا و ترد ی وخته پو ر ی ئې لا فقط د ( مها را جا د وا پوترا یعنی د ا سما ن زوی پا چا ) عنو ا ن د رلود مستر کنو په د ی عقید ه د ی چه تر ( ٤٠ کا ل ) پو ر ی هو و یشکا لاځا ن کا مله جلاا ومستقل کړ ی نه وبلـکه پس له د غه تا ریخ څخه ئې د سکې په ضر بو لو شروع وکړ ه پخوا لمو و ویل چه(هـ و یشکا) په هند ې بر خـو کې ا و د وهم کنیشکا د آ ریانا په بر خو کې سلطنت ته ر سید لی وو مـگـر څـومود ه وروسته یا و اضح وایو چه پس له ٤٠ کا ل نه د د ه سلطنت آ ریا نا ا و د هند دخا وری بو ه برخه وا ړه را نیو لی ا و ورباندی مشتمل ولـکه چه په ۱ ٥ کا ل د ورد گ په کتیبه کې ( ۱ ) د ا مپرا طور په عنوا ن یا د شوید ی

(۱) وردگ د کا بل په لویدیز کې دی.

اوداپخپله یو بهترین دلیل دی چه د هوویشکا حکومت او آمریت د هغه وخت په ختیځ افغانستان او هندکی اثبات ته رسوی په وروستی کال د بگرام په حفریاتو کی د هوویشکا خورا ډیری سکی پیداشوی دی، ونسنت سمیت (۱) د نوموړی د تخت قلمرو له کابل څخه ترکشمیرا و (ما تورا) پوری وسیع او پراخ بولی هوویشکا د خپل نیکه کنیشکا په څیر د بودائي دیانت په پراخوالی او مذهبی ودانیو په جوړولو کی خورا ډیر شوق درلود او په «ما تورا» کی ئي یو باشکوه معبد پخپل نامه ودان کړی و: مگر سره له دي هم د ده په زمانه کی د نورو اربابانواعو عبادت او احترام آزاد و، لکه د نوموړی په سکو باندی چه د «هرا کلس» «سرا پلیس Saraplis» «سکاند Skanbal» ویزاکا Visakha» «فارو Pharro» د (اورا ربابانواع) او نور ډیر اربابانواع تمثیل شوی دی؛ او دغه مثال نه په ښه ډول څرگندوی چه سره له خپل پراخوالی او مروجیدو بودائي دین په کوشانی عصر کښي یوازی د آریانا مذهب نه و بلکه د هغه په څنگ پوری د هندی او باختری یونانی اربابانواعو د ټولو پرستش کیده تنها بودیزم د خپلو سترو معبدونو، او ډیرو علماوو په سبب نسبت نورو ته باشکوه معلومیده. او د کوشانیانو ټولو پاچاکانو هم د بودیزم د اهمیت په وجه د هغه د ودانیو د پرید و، او د مذهبی روح د تقویه کیدو په باره کی سعیه کوله:

واسودوا (VasubeVa): (۲۲۰ ــ ۱۸۲) له هوویشکا نه وروسته یو بل پاچا چه (واسودوا) نومیده د ۱۸۲ مسیحی کال په حدود کی سلطنت ته ورسید. ددې پاچا نوم دهغه قرابت په وجه چه د (وشنو Vishnu) د کلمی سره یی لری. هندی دی، د ما تورا په کتیبه کی چه د ۶۷ نه تر ۹۸ کال پوری سنه ورباندی لیکل شوی ده هم دده نوم یادشوی دی، په مسکوکاتو کی دده نوم په یونانی رسم الخط سره

---

(۱) دهند د پخوانی تاریخ (ارلی هستری آف اندیا) کتاب د ونسنت سمیت د تالیف ۲۷۸ مخ

(بازو دمس Bazodes)ایکل شویدی ، او هغه اشکال چه په هغو کی لیدل کیږی عموماً «ننا نا Nana»«انائیتا Anaitas»د ډیربښت (فراوانی) رب النوع .او(شیوا) تمثیلاوی پورته موږ وویل چه د(واسودیوا VasudeVa)نوم هندی دی.په حقیقت کی ددغه پاچا دنوم اصلی صورت «واسوشکا Vasushka» و ، او په هندی دواکی ئی نوی شکل څانته غوره کړیدی په مجموعی ډول «واسودیوا» تقریباً ۲۵کاله سلطنت کړی دی دده دزمامداری په زمانه کی دآریانا برخی وړوړو له کوشانی امپراطوری څخه جلاشوی او د(واسودوا) زیات نفوذ په هندی منطقو کی لیدل کیده ، لکه چه د پرولایل شته مثلاً په (ماتورا) کی دنوموړی کتیبو و جود او له واسوشکا څخه «واسودوا»ته دده دنوم هندی کیدل او دده په مسکوکاتو کی د«شیوا»او«نانا»تمثیل داټول دغه نظریه تائیداو تقویه کوی.

دستروکوشانیانو داخلی اوخارجی سیاست :

ستروکوشانشاهانو عموماً په داخلی اوخارجی سیاست کی تقریباً یوڅانگی اساس تعقیب کاوه ، چه د هغه څرگند او برجسته خطوط دلته بیانوو :

دکوشانیانو لومړی کورنی یعنی کدفیز سیان په «آریانا» کی هغه وخت سلطنت ته ورسیدل چه دمقتدر مرکزی حکومت مفهوم له منځه وتلی او دیونانو باختری دولت وروسته پاتی کسانو او پهلوایانو . او اسکائیانو دهندوکش په جنوب کی او دتاهیا رئیسانو دهندوکش په شمال کښی دامراواو ملوکو په صفت آمریت درلود ، لومړی کوشانی کدفیزس دملوک الطوایفی لمن اول دهندوکش دشمال څخه او بیا دهندوکش له جنوب څخه راټوله کړه او په ځای یی یوواحداو متمرکز دولت تشکیل کړ ، دې دولت بی دآخری جنوبی علاقو دیوی برخی نه په نوره «آریانا»یا ندې قبضه وکړه .

ددې دولت داساس متانت له دې څخه څرگندیږی چه نژدې تر دریو پیړیو پوری په دغه دولت کی کوم ضعف پیدانه شو. دکوشانی دولت د عظمت اودوام علت ددوی د پاچاهانو په داخلی او خارجی سیاست پوری اړه درلوده.

همدا ډول دکوی شوانگ دسلطنت دتاسیس په اوله مرحله کی چه محلی امیران او ملوک یی له منځه یووړل دخپل عظمت ترسقوط پوری دمرکزی دولت د ښمنت په تقویه

ACKU

کوڅلو کې کوښښ وکړ. او دا مجال یې ورنه کړ چه مملکت دامیرانو او رئیسانو په لاس تجزیه او وویشل شي:

کوشاني پادشاهانو دمملکت دوګړیو د عرف او عاداتو او په تیره بیا د مملکت دخلقو دعقائدو ډېر احترام کاوه: زردشتي - بودائي - برهمني داناهیتا او میترا او بتانو پیروان ټول پخپل دین وائین او عقیده کې آزاد وو. او پخپله ددوی کوشانشاهانو هم له ذکر شویو ادیانو، او مذهبو څخه یو دین ته په آزادۍ تمایل ښکاره کاوه، کنیشکا په یو اڅې ځان تقریباً دمملکت ټول معروف ارباب انواع پخپلو سکو کې ضرب او تمثیل کړي دي هغه مهال چه بودائي آئین دوخت تر ټولو وادیانو ترقي وکړه، کنیشکا دخپل دربار او عصر دمتبحرو عالمانو په مرسته دخپلې امپراطورۍ دټولو ګړیو په روحیاتو برابر د هغه دتعبیراتو دائره پراخه کړه او نوموړي آئین دګاونډیو مملکتونو داوسیدونکو دروحیاتو دتسخیر له وسایلو څخه یوه وسیله ثابته شوه، کوشاني پاچاهانو مخصوصاً کنیشکا دعلماو، پوهانو، او روحانیونو، شاعرانو، لیکوالو، هنرمندانو، او دمذهبي او ادبي مشاورینو په راغونډولو سره په خپل پایتخت او دربار کښې یوې ستري قوې ته تمرکز ورکړ او خپل نوم او خاطرات ئې لوړ کړل او په دې واسطه ئې دخلکو روحیات نسبت خپل ځان او خپلې کورنۍ ته خورا مساعدو ګرزول، او په افسانو، او نکلو او دمبلغینو داستولو په مرسته ئې دخپل نوم شهرت او دخپل ساطنت دستروالی انګازه دآسیا په لرې ځایو کې خپره کړه،

دخارجي سیاست په زمینه کې دکوشانشاهانو لوړی منظور دا و چه دخپل ځان، مملکت او دخپلې امپراطورۍ حیثیت په هر قیمت سره چه تمامشي ډېر ډیو په نظر کې اوړ معرفي کړي او هغه وخت بیاله خپل غوره وضعیت څخه په اقتصادي، تجارتي، سیاسي او حربي ساحو کې استفاده وکانډي.

په شرق کې دسترو کوشانیانو خورا مهم رقیب دچین دهان‌های کورنۍ او په مغرب کې دروم قیصران وو، ددغو دوو غربي او شرقي دولتو په منځ کې دکوشانیانو او غربي پارتیانو دوه دولته پراته وو چه لومړي یعنې سترکوشانیان دترقۍ او لوړوالي په حال کې او غربي پارتیا دخپل سقوط او ړنګوالي په مرحله کې روان وو و سترو کوشانیانو دخپل ساطنت په شروع کښې

د خپلې لوړتیا او عظمت د حاصلولو دپاره د چین او د چین د تاریخ شهزادګانو سره په جګړه ګوتې پورې کړې او له یوې (ماتې) نه وروسته د دوی کار په بریا او موفقیت تمام شو یعنې معناً او مادتاً اوبو الی ته ورسیدل مګر غربي پارتیان د خپل زړه ور حریف په مقابل کې چه د روم قیصرانو وو رخ په ور ځ تیټیدل او د روم امپراطوران ولاسته ارشول تر څو چه په شرق او غرب کې دری مقتدر دولتونه د چین هانیان د اریا ناکوشانیان او د روم قیصران باقي پاته شول.

کوشانشاهانو د خپلې پیشرفتګاوی او د خپل سلطنت د جلال او د دوو شرقي او غربي مملکتو په منځ کې د مالونو د تیر انزیت او تیریدو له ګټې څخه د استفادې دپاره زیاتې د پارتیانو په تیره بیا درومیانو په خلاف (دیو مرکزي مقتدر متحد او په هیله غو بنتل چه د کوشاني دولت د اتحاد په مرسته غربي پارتیان لا دیر او خواړ څخه تهدید کړی) پدې وجه یو د بله د نمایندګانو بدلولو او د سیاسي علائقو ټینګولو ته مایل وو او هر کله چه کوشاني امپراطوری د چیني هندي مالو د تیرولو په لار کې بنې واقع شوی وه او بې د کوشانیانو له موافقې څخه د غه یادشوې مدام په آسانۍ سره نه حاصلیده نولدی کبله د چین د هان یانو کورنۍ او د روم امپراطورانو هر یوه بخپل وار سره دا آرزو لرله چه له ستر وکوشانشاهانو سره خپل مناسبات ټینګ او برقرار کړي د تجارت او د مال التجارې دپلورلو او پیرو دلو قضیه یوه داسې موضوع ده چه له کوشانیانو سره دوستي امر او ده ئې د غرب او شرق لپاره ګټوره ګرزولې وه چینیانو د خپل مال التجاره دپلورلو مخصوصاً دور یشمو د خرڅولو دپاره د بیزانس (شرقي روم) او د روم د بحر د شرقي سواحلو د بندرو بازارونو ته اړتیا درلوده د غه رنګه هم عیاشو خوشګذرانو او شته منو رومیانو شرقي مال التجاره هندي درګانو او چیني ټکرانو ته محتاج وو پدې ترتیب سره نظامي اقتصادي او تجارتي مقتضیاتو د چین د هان یانو کورنۍ او د روم قیصران دې ته اړ کړي وو چه له ستروکوشانیانو سره نژدې او دوستانه اړیکې ولري یانا کوشانشاهانو ته د غه دوستي له هر پلوه ګټوره وه او د هغوی شهرت او دبدبه ئې دا سې پیاوړې کړې، لنډه دا چه د سیاست او اړنې د شرق او غرب په منځ کې تر یوې اندازې پورې د دوی په اختیار کې وه او له غربي پارتیانو د دوی

ACKU

په ګاونډتوب کې کوچنۍ کوشانۍ دولتونو د امپراطورۍ د مال التجاره او ابتدائي موادو په خاورو خواوو کې په اساني سره پلورل کېدل د ورېښمو لويې لارې او د دغې د جنوبي څانګې له کبله د آریانا ښارونه مخصوصاً «بلخ» د دغه وخت ډېر ستر او بين المللي تجارتګاه شوي وه او د مالونو د ترانزیت له کبله خورا ډېرې ګټې د دوی او د دوی د سوداګرانو لاسته ورتلې

ويل کيږي چې متقابلې کتنې څوتنه چې د آریانا د کوشانيانو د دولت او د روميانو او چينيانو په منځ کې دايمي چينيانو نمايندګانو د لېږلو او په اثر سياسي روابطو قرار شوي روميانو د ترا ژان Trajan د سلطنت په زمانه (د ۱۱٦ مسيحي کال په شاوخوا) کې د بين النهرين تر يوې برخې باندې موقتي قبضه وکړه او د دې ځای د سواحلو تر غاړو پورې رسېدلي وو او د کوشان د امپراطورۍ د قلمرو له غربي سرحدونو څخه يې تر ۶۰۰ ميلو زياته فاصله نه درلوده او په دغه ترتيب د دوو امپراطوريو د خاورو په منځ کې زياته فاصله نه وه . ويل کيږي چې ډېر لوحتی د روميانو شاعرانو لکه «ويرژيل» «پروپرس» او «اور ليوس ويکتور» Aurelius Viector له کوشاني شاهانو او د روم د قيصرانو سره د هغوی له روابطو څخه بحث کړی دی . د دغه اشارات په ځينو ځايو کې څرګند او صريح او په ځينو کې هم لږ څه مبهم دي مګر په عمومي ډول د «کوشانو» «رومن» د تعلقاتو د روښانولو لپاره خورا ګټور او مهم دي . دکوشاني دولت ظهور د اول ق ، م قرن د اوږدو پېړۍ نيمائي په منځ کې تقريباً د «ژول سزار» او «اګوست» رومي قيصرانو په زمانه کښې ميدان ته راوتلی دی . «آریانا» دکوشاني شاهانو سياسي روابط د روم له قيصرانو سره د کدفيزسانو د کورنۍ له خوا شروع او د کنيشکا په عصر کې پراخ شول . پخوا مو وويل چې د رومن د شاعرانو د معلوماتو له مخې دکوشانو رومن د روابطو په ټينګيدو او د هغوی په منځ کې د نمايندګانو په تبادله کښې هيڅ شبهه نشته . مګر سختي په دغه ځای کې ده چې دکوشان شاهانو نومونه نه څرګنديږي چې آيا کوم يوه کوشاني پاچا او د روم قيصر يو د بل په دربار کې نمايندګان درلود ، خو ويل کيږي شک نشته چې کوشاني دوهم کدفيزس هغه لومړنی کوشاني پاچا دی چې روم ته يې نمايندګان استولي دي . ځينې مأخذونه وائي چې دکوشاني پاچا دغه نمايندګان تراجان ته ورغلي وو . لکه چې پخوا ذکر دی مو ( د هم دغه جلد د ( ۲۰۵ مخ ) په شاوخوا کې د دوهم کدفيزس د دربار او د ديپلوماتيکو

په وجه کښې مونږ هم دغه مطالب ته اشاره وکړه که چیرته دکوشان شاهانو دجلوس او سلطنت سنه په یقینی صورت معلومه وای دقیصرانو دسلطنت دکال او تاریخ سره دهغی له مقایسی نه دا مطالب تر یوی اندازی پوری تصریح کیدلی شوای خو متاسفانه دا هم اوس امکان نه لری ؛ په هرحال ددغو ملاحظاتو په مراعات ویلی شو چه کوشانی دوهم کدفیزس «اگوست» ته سفیر ورلیږلی و او د روم امپراطور په (سامس Samos ) نومی ځای کښې دکوشان شاه دلومړنی نماینده استقبال وکړ زیات احتمال کیږی چه دوهم کدفیزس له «مارك انتوان» یا «اگوست» سره هم روابط درلودل ځکه پروپرس رومی شاعر د ۲۱ ق م کال دواقعاتو په ضمن کښې کوشانی پاچا ته د روم د نماینده دلیږلو څخه بحث کوی مگر دا نه معلومیږی چه دمارك انتوان له خوا نماینده استول شوی دی که د «اگوست» له خوا – هرکله چه داوسنیو نظریاتو په قرار هغه وخت د دوهم کدفیزس له عصر سره مطابقت کوی نو احتمال لری چه د روم نماینده دنوموړی دربارته استول شوی دی (۱) شك نشته چه کنیشکا دکوشانیانو ستر امپراطور دخپل سلطنت په دوره کی له رومانیانو سره سیاسی روابط لا محکم کړل او دخپلو رومی قیصرانو سره ئی سیاسی نمایندگان مبادله کړل ، د روم د قیصرانو له جملی څخه تراجان یوسړی دی چه اوسنیو نظریاتو هغه له کنیشکا سره معاصر گرزولی دی (۲) وائی چه کنیشکا تراجان ته نماینده واستاوه چه په ۹۹ مسیحی کال ایطالیی ته ورسیدا او په روم کی دامپراطور حضور ته ورغی ، شك نشته چه چینیانو کوشانیان د «یوچی» په نوم تر ډیرو لومړیو او بیا پیژندل او حتی د سلطنت له تشکیل څخه پخوا بی هم د هغوی له رئیسانو سره دا پاچی په لیږلو سره مراوده سره درلوده (ددی جلد ۱۷۸ – ۱ و ۲۰۲ – مخ شاو خوا پاڼی دی وکتل شی) په «آریانا» کی دکوشانی دولت ظهور او قدرت

---

۱– سعید نفیسی درودکی احوالو او اشعارو په اثر کی (۱۵۹ مخ) لومړی جلد «کنیشکا هغه پاچا ، ولی چه له «مارك انتوان» سره ئی سیاسی تعلقات قایم کړی وو.

۲– تراژان له ۹۸ نه تر ۱۱۷ مسیحی پوری سلطنت کړیدی.

موندلو دچین (هان یان) په ویره‌کی و غورزول او پس له ۷۳ مسیحی کال څخه دلمر لویدیځ و هیوادو سره دهغوی زړه تړل او حتی دسنکیانګ دبیلو بیلو علاقو په نیولو کښی ددوی آرزو د عسکرو په لیږلو سره معلومه شوه مګر دکوشانی کډ فیز س کورنۍ دهغوی مقابلی ته چمتوشوه ، پدی ډول دکوشان شاهانو او دچین دهان یانو روابط که څه هم په تصادم او جګړه شروع شول ؛ او مړی پلا برړی دهغوی په نصیب شو مګر دکنیشکا په عظمت او موفقیتونو او دسنکیانګ دچینی شهزاده په ماتی او مغلوبیدو او دچینی یرغملانو په تراتګ سره ئی یو بل رنګ ونیوا و دکوشانی دولت موقعیت په مراتب دچینی هان یانو په نظر کی ستر شو ، او دسیاسی دوستانه مناسباتو د ټینګیدو په اثر دبودائی آئین دانتشار لاره د پامیر د شرقی مخکو طرف ته خلاصه شوه او متقابله تهذیبی روابط دآریانا او چین په منځ کی قائم شول دکوشان شاها نوا و د چینی هان یانو په منځ کی دنمایندګانو دمبادلی موضوع فعلانه ده څرګنده مګر توی احتمال کیدای شی چه ددوارو مملکتونو دسلطنتی دربارو په منځ کی وخت په وخت ایلچیان له تحفو او سوغاتو سره مبادله کړیدل .

دکنیشکا دکورنۍ پهځ مانه کی عمومی اوضاع : په هغه ترتیب سره چه نیول شوی دی داول او دوهم کډفیز س بعنی دلومړی کوشانی کورنۍ دپادشاهانو سلطنتی خصوصیاتو او دنومړیو له یادولو نه وروسته دکډفیز سیانو دزمانی عمومیات موهم بیان کړل پدی ډول دکنیشکا او دده دهغو جانشینانو دخصوصیاتو بیانولو او د نومونو له یادولو څخه وروسته چه دستر وکوشانیانو دوهمه کورنۍ تشکیل کوی او سی نو دکنیشکا دکورنۍ دسلطنت دزمانی دعمومی اوضاعو په بیانولو پیل کوو :

دکوشان ددوهمی کورنۍ دحکمفرمائی دوره چه د ۱۲۰ عیسوی کال په حدودو کی په کنیشکا شروع او په ۲٦۰ مسیحی کی په وا سودوا سره پای ته ورسیږی او نږدی یو نیمه پیړۍ ۱٤۰ کاله: وام کوی لکه چه ولیدل شول دکډفیز س دکورنۍ دوره دادول دوره وه چه دیونانو باختری دولت له تدریجی انحطاط او دمرکزی حکومت دقلمرو دساحی له کوچنی کیدو او دملوک الطوائفی له څرګندیدو څخه وروسته یوه مرکزی زورور دولت په تشکیل ئې شروع وکړه شروع په زیاتو وچارو کی دکډفیز سیانو دعصر دمشخصاتو څخه حسابیږی

او د کنیشکا د کورنۍ دوره باید د ستر و کوشانیانو د ترقۍ، تکامل او ځوانۍ دوره و ګڼله شي او د دغو ممیزاتو تفصیل په لاندې ډول ویل کیږي.

د کوشانیانو لومړني کورنۍ ډیره سعیه و کړه چه د ننه په هیواد کښې ملوك الطوائفي ورکې او لیرې شي او د آریانا په چوکاټ کې یو دولت منځ ته راشي دا مطلب ئې حاصل شو او حتی په خارج کې ئې د ځینو فتوحاتو نیت و کړ او مخصوصاً و یماکدفیز س که څه هم له چین سره په جګړه کښې ماتې ته اړ شو خو په هند کې ئې ترانډوس پورې د یرمخ په وړاندې تیر شو، سره له دې د کوشانیانو بنیاني فتوحات زیاتره د کنیشکا د کورنۍ د عصر نتیجه وه او زیاتره پښپله د دغه امپراطور د عزم حاصل دی ځکه هغه څه چه (و یماکدفیز س) په هند کښې کړي وو دوام و نه کړ او کنیشکا بل ځل بیا د هند مفتوحه علاقې و نیولې او د مورېادا امپراطور عمده تر پخوانی مرکز پټنې (پتالي پوترا) پورې مخ په وړاندې لاړ د پامیر په هغې خوا شرقي برخو او سنکیانګ کښې چه و یماکدفیز س پکښې ماتې کړې وه کنیشکا د بیرې فتحې و کړې او د هغو پرغملا نو په سبب چه د دغې علاقې له شهزادګانو څخه ئې و نیول د دې فتحې انګازه د هندو کش په در و کښې تر ځو پیړیو پورې افسانه و ګرځیده له کنیشکا په هند کښې د ګنګا تر سیمې او په سنکیانګ کښې د تارم تر علاقې پورې خپل نفوذ خپور کړ او د خپلې امپراطورۍ لمن ئې د تبت تر غرونو پورې و رسوله، دا پوره معلومه نه ده چه د ده په ځای نا ستو خلکو (جانشینانو) دا پراخه امپراطوري تر کومه وخته پورې وساتله.

د دین او ائین له نقطې نظره څخه د کنیشکا د کورنۍ د سلطنت دوره د کدفیز س د کورنۍ د زمانې په نسبت ډیر فرق لري او دغه برجسته خط هم په بودائي دیانت پورې مربوط دی چه د ننه د بودائیت په فلسفه کښې د پیښور په ستر مجلس کښې د مهایانا طریقې (د نجات لوئې لاري) د مذهبي متونو د تعبیر په طرز کښې انقلاب پیدا کړ او د دغه دین نه د باندې ئې د کنیشکا په فتوحاتو او د مبلغینو د استو لو په ذریعه په سنکیانګ او چین کښې په زیاته اندازه پراختیا و موندله، په دې کښې شک نشته چه د کنیشکا او د هغه د اخلافو په عصر کښې زرتشتي دین په نیمه غربي افغانستان کښې لا رواج درلود او میترا او نانا هیتا هم هیر نه کړه شوي وه چه په مسکوکاتو کې لیدل کیږي پیروان او معبدونه درلودل مګر بودائي دیانت د بودائي فلسفې او نفوذ د پراختیا او خپریدو په لحاظ په د اسې

ACKU

انقلاب کښې داخل شو چه پخوانۍ مثال نه ؤ لیدل شوی او دا دلویو کوشانیانو د دوهمې کورنۍ د واکمنۍ د زمانې لویه معجزه ده. څرنګه چه یو اشوکا منځ ته راغی او ستر مذهبي مجلس ئې جوړ کړ او بودائي دیانت ئې د مبلغینو د لیږلو په ذریعه د هند له سرحدو څخه آریانا ته راورساوه، یو کنیشکا په کار بوخت ؤ چه پخپلو فتوحاتو سره د پامیر نه په هغې خوا شرقي برخو کښې د تارم د سیمې خواته لارې پرانیځي، او بیا یو لوی مذهبي محفل جوړ کړي او د نوو غوښتنو او مقتضیاتو له مخې د دغه دیانت میدان او افق پراخ کړي او د ده د تشویق په اثر مبلغین منځنۍ او مرکزي آسیا ته متوجه شي. مستظرفه صنائع - معماري، هیکل تراشي - نقاشي او موسیقي د کوشانیانو د دوهمې کورنۍ د پادشاهانو د سلطنت په دوره کښې لوړو درجو ته ورسیدل، د دې جلد د (۲۱۹) مخ په شاوخوا کې موږ دمخه ولیکل چه د یونانو باختري ښکلي صنعت د کدفیزسیانو په عصر کښې د انحطاط مرحلې ته ورسید -- لکه چه موضوع موږ داسې بیان کړه چه د کدفیزس د کورنۍ د سلطنت دوره تقریباً د یونانو باختري مدرسې د تنزل، او د یونانو بودائي مدرسې د ترقۍ د شروع کیدو په زمانه کښې واقع شوې ده.

حقیقتاً هغه زمانه چه د سترو کوشانیانو د دوهمې کورنۍ د سلطنت سره مصادفه او برابره ده د یونانو بودائي یادګریک او بودیک د صنعت د ترقۍ عصر دی.

د کنیشکا د کوشاني امپراطورۍ عظمت او دبدبې د اقتضا درلوده چه لوړ او مجلل معبدونه لکه د پیښور او چهاریکارو د توپ درې معبدونه او د بامیانو د ۳۵ متري مجسمې په شان لوی هیکل پیدا او منځ ته راشي.

د بودائي افسانو موضوع نه یواځې په تیږو کې وکیندل شوه بلکه د معبدونو په دیوالو باندې هم نقش شوه، او موسیقي د مذهبي مرام په خدمت کې ددردونو د تسکین لپاره په کار واچول شوه، نو د غو ټولو فعالیتونو، د کوشانیانو د دوهمې کورنۍ د زمانې د ارې په زمانه کې د نفیسو صنایعو د ترقۍ لپاره لاره هواره کړه - د کنیشکا د کورنۍ د سلطنت زمانه د ادبیاتو د ترقۍ له نقطې نظره څخه، د کدفیزسیانو له زمانې سره فرق لري ځکه د کنیشکا توجه مذهبي چارو ته ار ده د مذهبي ستر محفل تشکیل، او د بودائي قوانینو اصلاح او تعدیل سبب شو چه د ده دامپراطورۍ له داخل او خارج څخه علما او روحانیون دده په پایتخت کې سره راغونډ شي او هغه ستر مذهبي محفل چه د کنیشکا په عصر کې د ده د ژمي په پایتخت

ACKU

پېښور یا کشمیر کې جوړ شو، د مها یانا د طریقې (د نجات لویه لاره) د قوانینو د لیکلو لپاره یې د سانسکریت ژبې ته ترجیح ورکړه. له هغو عجیبو څیزونو څخه چه د کوشانیانو د اولې او د دوهمې کورنۍ په منځ کې د کتنې وړ دي دا دي چه خروشتي رسم الخط چه د یونان او باختري پاچاهانو حتی د کوشان د لومړۍ کورنۍ کډفیزسیانو په یوناني رسم الخط سره په خپلو مسکوکاتو کې استعمالاوه، خو د کنیشکا او د هغه د اخلافو په مسکوکاتو کې له منځه ولاړ یې— او ځای یې یوناني رسم الخط په لږ تغییر سره استعمال شویدی؛ البته په کتیبو او لوحو کې د ستر و کوشانیانو په ټوله دوره کې خروشتي استعمال شویدی او رواج یې درلود.
د کوشانیانو مخصوصه سیتي ژبه چه د ایراني مشهورو کورنیو څخه یوه لهجه ده په یوناني رسم الخط د کوشانیانو د دوهمې کورنۍ په مسکوکاتو کې استعمالیده دا هم یوه موضوع ده چه دوی د کډفیزس له کورنۍ څخه جلا کوي.
د ستر و کوشانیانو د دوهمې کورنۍ سیاسي تعلقاتو او تجارتي روابطو، لکه د هغوی د اولې کورنۍ په زمانه کې په شرق او غرب کې د چین او روم له دولتو سره دوام درلود، او حتی په ډېر تناسب سره ئې پراخوالی وموند دا نظریه د روم د شاعرانو لکه د «ویرژیل» او «پیرو پرس» لیکنې هم تائیدکوي او څرګندېږي چه «مارک انتوان» «اګوست» او تراجان په آریانا کې د دوهم کډفیزس او کنیشکا ته نمایندګان راولیږلي وو؛ دغه رنګه د «اوریلیوس ویکتر» او د «مراس» له نوشتو څخه داڅرګندېږي چه د باختریانو دولت د اګوست په دربار کې نمایندګان درلودل(۱)
د سیاسي روابطو د پیدا کیدو او ټینګیدو په اثر، د آریانا د کوشاني امپراطورۍ او د روم د امپراطورۍ په منځ کښې تجارتي روابطو خورا پراخوالی وموند او تجارتي معاهدې امضا شوې او د هغو په نتیجه کې د تجارت لویه لاره چه د ریښمو لاره بلله کېږي ورپرانستل شوه او د کډفیزس د کورنۍ د زمانې په نسبت د کنیشکا د کورنۍ په عصر کې د ګاونډیو او لیرې هېوادو سره د آریانا سیاسي، تجارتي او تهذیبي روابطو ډېره پراختیا وموندله.
په هند کښې د کنیشکا د ملک نیولو د خاطراتو دوام: پخوا مو د ۲۵۰ او ۲۴۵ مخونو په

---

(۱) د لومړۍ مجلد د کې احوال او اشعار «۱۵۹-۱۶۰ مخونه» د ښاغلي سعید نفیسي تالیف

شاوخوا کې کنیشکادکا پیساد یوې افسانې دپهلوان په حیث معرفي کړ، نوموړې افسانې دکوشاني سلطان راسخ عزم او شاهانه اراده په کاپیسا کې سترو و دانیو، او مجللو آبداتو په جوړولو مخصوصاً دکاپیسا په شمال غربي گوښه کې دیوې استوپې دودانولو په باره کې را وښودله. دا استوپه چه موسیو فوشه (دکنیشکا داستوپې) په نامه یاده کړیده لاترا وسه داوسنې چهاریکار و په غربي برخه «توپ دره» کې شته، او دافغانستان، دپېرو لو یه او ښکلې استوپه ده، دموضوع داهمیت په لحاظ به له دې استوپې څخه د «کنیشکاد استوپې» تر عنوان لاندې په راتلونکې فصل کې یوه شرحه و لیکو او س غواړو. دیوه بل ټکل څخه چه دکنیشکا فاتحانه کامیابی او په هند کې ددهٔ دخاطراتو دوام مونږته راښئې څوکرښې ولیکو او دهغه له مخې ددې ستر پاچا دجگړې کارنامې او دده دشخصیت عمیقې اغېزې قیاس کړو.

ښه خو اتر دې چه دافسانې موضوع ته را گرځو، دقصې د اصلیت او زمونږ زمانې ته دهغې درارسېدلو دصورت په باره کې څوکرښې لیکو:

شک نشته چه اصلاً قصه له هندي افسانو څخه یو دول افسانه ده چه حتماً دکنیشکا دفتوحاتو دانگازې په وجه منځ ته راغلې ده، دیره موده دهند په محیط کې خوله په خوله نقل شوې ده تر څو چه دیوه چیني زائر، «هیوانتسو Hiuan tso» غوږ ته رسېدلې او هغه ئې چین ته وړې او د (یو-یانگ تساتسو) دهغه کتاب په پنځلسم فصل کې لیکل شوې ده چه دموسیو پلیو، فرانسوي چین پېژندونکي په عقیده په ۸٦۰ مسیحي کال کې تالیف شوې دی، هوبر Fd.Huber مطلوبه قصه له ذکرشوي کتاب څخه راواخستې، او موسیو «سیلون لوی» هغه داسیائي مجلې ژورنال آزیاتیک د۱۹۳٦ دژانویه او مارس دمیاشتو په گڼو کې نیولې ده، مونږ هم له دغه ځای څخه دمطلب روح اخلو، په ځان سره همدغه افسانه ۱۷۰ کاله وروسته دغزنې ددربار ستر ریاضي دان او مورخ حکیم البیروني هم په هند کښې دخپل مسافرت او دخپلو علمي، ادبي، او تاریخي مطالعاتو په زمانه کې، هلته اورېدلې ده په خپل اثر (تاریخ الهند) کې ئې نقل کړې ده او په لږ تحریف سره، چه دد پېرې زمانې دمرور او تېرېدلو له کبله پیدا شوې دی، په مجمل التواریخ کې

هم راغلی ده دغو موږی قصی د روح خلاصه دمد قفینو داضافی تحقیقاتو نه خالی د چینی
متنونو په اساس په راتلونکی ډول ده:

په پخوانو زمانو په ګنده هارا کی یو زړور ، او هوښیار پاچا و چه ( کیانی سوکیا ) یعنی
کنیشکا نومید ، دې پاچا د ټولو مملکتو په خلاف لښکر وایست ، او هیڅ چا د ده د مقابلی
تاب را نه وړ یو ځل د هند د لښکر کښی په مهال کی چا د ده ته نفیس ټوکران د ده ته وړاندی
کړل چه فوق العاده ښکلی وو پاچا یو ټوکر خپل ښځی ته رسا ته او هغه بل ټوکر ئی ملکی ته
ورکړ ، ملکی له هغی ټیکی څخه کمیس جوړ کړ او پاچا ته راغله ، هر کله چه پاچا په
ځیر سره و کتل د ملکی په سینه باندی ئی په زعفرانو سره دلاس د پنجی نقش ولید ، پاچا
خورا متاثر شو ، او ملکی ته یی خطاب و کړ چه دا کمیس چه نااغوستی دی دلاس د پنجی
نقش سره څه معنی لری ؟ ملکی یی به ځواب کی وویل چه د اهغه ټیکه ده چه پاچاماته
را کړی ده کنیشکا په قهر شو او امر ئی ورکړ چه شاهی خزانه دار ئی
حاضر کړی د خزانه دار په حاضر یدو ئی له هغه څخه پدی باره کی توضیحات
و غوښتل خزانه دار جواباً عرض وکړ او وی ویل : په دغه ټوکر باندی له پخوا څخه
د پنجی نقش موجود و او غلام کوم ګناه نه لری پاچا د هغه تاجر په احضار
امر صادر کړ چه دغه ټوکر ئی راوړی و هغه ئی هم را ورسته او دا دول ئی
په قصه پیل وکړ : -

په جنوبی هند کی یو پاچا دی چه ( ساتنه واهنه ) نومیږی دا پاچا په پخوا
زمانه کی د نیاز او استغنا په اثر د خارقه نفوذ ښودلو ځښتن شوی و هر کال
به ئی ښکلی ټوکران چه د رعایا و له مالیو څخه را غونډ یدل خپل حضور ته
را غوښتل پس له دی چه په زرګونو ټوکران به یی یو پر بل باندی سره کیښودل
خپله پنجه به یی د زعفرانو په رنګ ککړه کړه او د ټیکو په مخ باندی به یی
کیښوده نو دده دلاس نقش به په ټولو ټکرانو باندی کیناست ، وروسته تر دی به
سوداګرانو ، نوموړی ټکران هر ځای پلورل ، خو که به نارینه له هغه څخه لباس
جوړ کړ نو دهغه د پنجی نقش به د سړی شاته راته او که به ښځی د هغه څخه کمیس
جوړ کړ نو د هغه د لاس نقش به د ښځی په سینه باندی برابر یده .

ACKU

نو کنیشکا پاچا پلو دربار یانو ته امر وکړ چه له هغه نوکر څخه لباس جوړ کړی او وادی غوندی لباسونه یی جوړ کړل او ورانی غوستل څرنګه چه سوداګر ویلی وو، د لاس نقش د هغوی په شاباندی څرګند شو، کنیشکا پاچا ته دی عجیب کیفیت په لیدلو په قهر او غضب شو څښته نوره یی وښورول او وی ویل خوب خوراك پرما حرام دی ترڅو پوری چه هغه پاچا لاس او پښی می نه وی پری کړی بیا یی جنوبی هند ته استازی ولیږه چه دده تصمیم هغه پاچا ته اعلام کړی هغه مهال چه د کنیشکا قاصد هغه ځای ته ورسید (ساته واهنه) پاچا خپل وزیران راټول کړل او ټو موری قضیه یی هغوی ته څرګنده کړه، آخر یوه دسیسه ئی جوړه کړه او ځواب یی ورا برکړ او قاصد ته ئی داسی وویل:

«هو! اخبره رښتیا ده چه زموږ پاچا) ساته واهنه، نو میږی مګر د هغه خارجی وجود دښته خو زموږ دهغه مجسمه پر تخت باندی کښینولی ده او اجرا ئیه قوه زموږ دوزیرانو په لاس کی ده.

هر کله چه قاصد دپیغام ځواب یادی دول د کنیشکا حضور ته راوړ دګنده ارا سلطان کوشان کنیشکا د لښکرو افسرانو ته امر وکړ چه سپاره نظام او جنګی پیلان تیار کړی او ټول دی حاضر وی چه د پاچا په رکاب کښی د جنوبی هند په خوا د ساته واهنه، پر مملکت باندی هجوم ورووړی، د ستر ټولواك د قاطع تصمیم او د لښکرو د حرکت خبر دهند په لری ځایو کښی د تندر په څیر چټك نشر شوا ولکه د تالندی په شان ئی شور ماشور واچاوه دد ولت ارکان، وګړی او پخپله پاچا ټول په ویره کی پریوتل او د پاچا په اشاری او د وزیرانو په تصمیم سره د منځا صم مملکت خاتو خپل پاچا د یوغره په غار کی پټ کړ او د دغی د سیسی د اثبات لپاره یی د خپل پاچا مجسمه له طلاو څخه جوړه کړه او پر تخت باندی یی کښینوله بیا د کوشانی متها جم مخی ته ووتل اما د جګړی اراده ئی نه درلوده بلکه غوښتل یی چه دالحاح، او زاری، مکر، حیلی او دسیسی له لاری وروړاندی شی. کنیشکا پاچا له خپل لښکر سره دهغوی خاوری ته داخل شو او برابر پاچا ئی ما نهی ته ورغی، هر کله چه ددښمنا نو په دسیسه او تزویر باندی پوه شوی و

نو له خپلو تیرو صالحه اعمالو څخه یې مرسته وغوښتله بیا ئې د طلائي مجسمې لاسونه او پښې پرې کړې په عین زمان کې د ساته واهنه پاچا لاس او پښې هم چه په غار کښې پټ شوی وو پرې شوې او له بدن څخه ئې جلا شوې. پدې ډول د دښمنان د خپلې د سیسه کارۍ په سزا ورسیدل ، بیا نو د گند هارا شهنشاه بریالی خپل مملکت ته بیرته راغبرگ شو.

- دا قصه چه متن یې د چین ادبیاتو ساتلی دی له ډیرو مفصلو تاریخي پیښو څخه خورا معتبره قصه ده او هر کله چه ډیره پخوانۍ افسانه ده او د ملت یعنې د هغې آرلنی روح دا قصه منځ ته راوړې ده چه پخپله د پیښو لیدونکی وه او د افغانستان او هند د تاریخي روابطو د یوې مهمې دورې د معتقداتو ما حصل د خاطراتو انعکاس او د پیښو عصاره او حاصل پدې افسانه کې حل او گډ شوی دی ، پدې لحاظ سره هندي روح ، هغه روح چه د داستانو او افسانو په پاکټ او لفافه کې د پخوانیو خاطراتو د ساتلو لپاره خورا استعداد لري دا قصه ئې د هغه پرې زمانې په تیریدلو سره نه ده هیره کړې او پس له ۱۷۰ کالو نه چه یو بل سیاح پوهاند ، او مؤرخ د چینې (هیوان تسو) نه وروسته د ابوریحان بیرونې په زمانه هند ته لاړ بیائې هغه افسانه راوړیدله او ضبط یې کړه هر کله چه د کوشاني پاچا کنیشکا او د ساته واهنه د دکن او جنوبي هند د پاچا د زمانې چه اصله حادثه په دغه وخت کې پیښه شوې ده او د بیرونې د عصر په منځ کې تقریباً ۹۰۰ کاله فرق موجود دی ، نو دا طبیعي ده چه د دومره اوږدې مودې په ترڅ کې د اشخاصو او ځایو ځینې نومونه په نوموړې افسانه کې بدل شوي او فرق ئې کړی دی که څه هم ابوریحان بیرونې یوازې د هند په برخه کې د ساته واهنه ، او جنوبي هند په ځای ، قنوج او د قنوج راجا راوړی او بدلی دی او په بله برخه کې ، د کنیک یعنې کنیشکا نوم لکه په اصل کې چه دی ، باقي پاته شوی دی ــ د تاریخي پیښو د تطور له مخې کیدای شو چه د غزنوي محمود نوم راوړی ځکه چه د ده د زمانې معاصر د کوشاني کنیشکا په ځای غزنوي محمود د زابلي د هند د مملکت په عزم لښکر کشي درلوده. په هر حال هر کله چه د غزنې

ددربار مؤرخ او هوښيار پوهاند نه ژرکال له پخوا د کنيشکا د بريو او فتوحاتو پخوانۍ قصه په څه لږ تغيير سره اورېدلې ده هغه هم په دې ځای کې بيانوو تر څو چه په دې وپوهيږو چه د کنيشکا نوم او د ملك نيولو او جهانگيرۍ انگازې په کومه اندازه د هند د روح په اعماقو کې ريښه ځغلولې وه ــ البيروني ليکي د قنوج راجا يوه د پېره نفيسه ټکه کنيشکا ته راوليږله نو کنيشکا خپل خياط ته امر وکړ چه له هغه ټکر څخه ده د پاره لباس جوړ کړي خياط د نوموړي لباس په سکښلو بريالی نه شو او د جوړولو جرئت ئې و نه کړ ځکه هر ډول چه به يې د ټکی سکښتل و نيول د پښې نقش به د دواړو او ږو په منځ کې راته نو کنيشکا دغه تحفه يو حقارت وگاڼه او د قنوج راجا ته د سزا ورکولو په نيت يې لښکرکشي وکړه د قنوج د راجا وزير د خطر درد ولو په غرض خپل ځان په تهلکه کې وغورځاوه او د حيلې په جوړولو بوخت شو نو راجا ته ئې وويل زه خپل غوږونه او پوزه غوڅوم او ديوه باغي په څېر ستا له دربار څخه تښتم او د متهاجم مخې ته ورځم دی او ده لښکری د ښتي په بې لارو ځايو بر ابروم او تباه کوم ئې ــ نو هر کله چه کنيشکا او د هغه لښکری معلومې شوې وزير خپل ځان د کنيشکا په رکاب کې وغورځاوه او خپل حال يې ورته ووايه او دلارښوونې په قصد ده لښکری د لنډې لیارې څخه ئې د قنوج لوري ته رواني کړې مگر د دې په ځای چه کنيشکا او د هغه لښکری په سمه لاره بوزي هغوی يې په يو بې پايه بيابان سم کړل او گمان ئې وکړ چه د دې ځر بې خدعې په ذريعه به د هغوی کار تمام کړي مگر کنيشکا خپله نيزه په شگه کې خښه کړه سمدستي له هغه ځای څخه د پخو او صافو اوبو چينه راووتله وزير يې عفو کړ مگر هغه له بې ځره گنده کړه چه ده د بادار د قنوج د راجا کار تمام شويدی ــ قنوج ته د بيرته راتلو په وخت کې نوموړي وزير خبر شو چه په هغه ورځ چه کنيشکا خپله نيزه په شگو کې خښه کړې وه د قنوج د راجا لاس او پښې د هغه له بدن څخه جلا شوي وې.

نو لکه چه ځرگنديږي د دغو دواړو حماسي افسانو روح چه پهلوانانو ئې ستر کوښانې کنيشکا دي بوشي دی او د هند خواته د هغه زورور پاچا له لښکرکشي څخه قصه کوي ، دا دواړه افسانې چه د مخه وويل شوې دوا ره په هند کې اورېدل شويدي ، دلو مړی ځه

افسانې راوي چيني هيوان تسنګ او ددوهمې راوي ابوريحان بيروني دغزني ددربار حکيم، مورخ او مشهور پوهاند دی، دا دواړه راوي او ددوهم راوي د عصر او زمان په منځ کې دزمانې تيريدلو په ۱۷۰ کلو کې يو څه لږ فرق او جزئي اختلاف را ولستلی دی. مګر دافسانې اساسي روح له منځه نه دی وتلی، دواړو قصو، کنيشکا يو مقتدر او زورور پاچا رسم کړی دی چه دی دخپل نظام له سپړو او دخپلو نيزه لرونکو سره دهند د مملکت په قصد روان شو او په پای کې دهغه پراخ مملکت دخورا ليري ځايو په فتح هم موفق شويدی، دهندي ټولنې په خاطراتو کې دافسانې ژوره ريښه دا رابښئ چه دکوشاني پاچا فتوحاتو دهند دخلکو په روحياتو باندي ډيري اغېزې کړې او د فوق العاده مهمو پيښو څخه ديوې مهمې پيښې په حيث په يادګارو کښې ثبته شوې ده.

# جامعه او تهذیب

تر او سه پورې د آریانا د تاریخ په هره دوره کښې تر څپله وسه کوښښ کړی دی چه د سلطنتی سلالو په روی کار کیدو او د پاچاهانو د واقعاتو، احوالو، جګړو او دنورو پیښو په بیانولو سر بیره د جامعی په ژوندانه او د خلکو د ژوندانه په کیف او څرنګوالی هم نظر اچولی او پری ایښی مو ندی چه د فرد او جامعی د ژوندانه د څرنګوالی سیر چه د تاریخ د پره مهمه برخه ده په تیاره کښې او پټ پاتی شی. حتی په دغه رویه کښې چه تر او سه تعقیب شوی ده د آریانا د تاریخ په لوېو او جلا جلا فصلونو کښې لکه د ویدی او اوستائی او یونانو باختری فصلونو چه په دغو برخو کښې د اجتماعی ژوندون (د لومړی تر لکه ۱۱ مخ په شاوخوا کی) د اجتماعی ژوندون (د لومړی ټوک د ۳۱۹ مخ په حدودو کی) او د اجتماعی او تهذیبی ژوندون (د دوهم ټوک د ۸٤ مخ په شاوخوا کی) تر عنوانو لاندی پوره او مفصل بحث شوی دی.

د لویو کوشانیانو زمانه چه تقریباً د مسیحی زمانی د دری لومړیو پیړیو انیسی د پښتو انی افغانستان د تاریخ له هغو ستر و دورو څخه یوه لویه دوره ده په دغه دوره کښې د خلکو د اجتماعی او تهذیبی ژوندکتنه او مطالعه تر یوی اندازی پوری چه او س ممکنه ده خورا مهمه ده هر کله چه د دغه لویه دوره د افغانستان په پخوانی تاریخ کی د اجتماعی ژوندون د څرنګوالی په مناسبت تقریباً و منځنی او وسطی حد دی چه له یوی خوا د ویدی او اوستائی او د یونانو باختری عصر یادګار و نه دز مانی په تناسب ازوړه برهنی ته رسیدلی دی او له بلی خوا د دغی دوری خاطرات و په نوړو و روستنیو دورو باندی زیاتی اغیزی کړی دی نو له همدغه کبله د زیاتی توجه وړ او ډیر اهمیت لری، کوشانی امپراطوری چه د خپلی ترقی په دوره کښې ئې تر له آریانا او د نورو ګاوندیو هیوادونو یوه برخه نیولی وه یوه داسی ستره امپراطوری وه چه د چین او روم دا مپراطوریو د آسیا ئی متصرفاتو په منځ کښې یی د اسیا په دې څنډه کښې دائمی امنیت ساتلی و او د امنیت او آسوده حالی او د پاچاهانو د پراخ نظر او ترقی غوښتونکی سیاست په سیوری کښې د فکری، صنعتی، تجارتی، ادبی دینی او عمرانی ژوندون په بیلو بیلو لارو کښې داسی تحولات را غلل چه څینوئی پخوا

سابقه‌ئلر له‌او څه‌ناڅه زیاتوئی از و ډېر په راو روستنیو دو رو باندی تاثیر او اغیزه کړی ده او دادی تر کوچنیو کوچنیو عنوانو لاندی ئی څانته څانته راوړو :

دین : په‌کوشانی دوره کښی له‌یوې‌خوا لا دآریانی پخوانیو مذهبو بقا یا لکه‌داناهیتا (دپړیمانی‌ـه او آمز دریاربت النوعه) پرستش او عبادت او دمیترا (مهربانی) داورنمانځنه او پرستش لا له‌منځه‌نه‌و تللی او له‌بلی خوا بودائی دین عمومیت پیدا کاوه او ډېرا ختیائی موندله او سربیره په‌دې لکه چه ددغه تړك په‌شپږم فصل (د۸٦-۸۷ مخو نو په شاو خوا کښې) مو لیکلی دی هر کله چه‌یونانی میتو لوژی ارباب انواع هم په‌هغه‌یونا نیا نوسره چه په آریانا کښې او سیدل مشهور شوی او لږ و ډېر ئی پیروان هم پیداکړی وو د کوشا نی مسکو کاتو دشاهانو له‌مخی څرگندیږی چه‌دزیاتر و ادیانو خاطری لا له منځه نه‌وی تللی ځکه لکه چه‌مونږ ولیدل کنیشکا په‌خپلو مسکوکاتو کښې دهغوی تصویرو نه‌او نومو نه ضربول او لیکل تر هغی اندازی پوری چه‌له‌مسکو کاتو او له بیلو بیلو قرینو او اشاراتو څخه‌څرگندیږی کوشانی پاچاهانو ټولو یو رنگه دآریانا له‌معمولو او مروجو ادیا نو څخه‌یوه دین ته‌خاصه توجه‌نلرله‌دمذهب او عقیدی ازادی دهغوی ددوری یوه عمومی ممیزه نښه ده نوله‌همدغه‌امله‌هغوی ټولو مذهبو او ادیانو چه‌ددوی د پراخی او ستری امپراطوری په‌اطرافو او بیلو بیلو برخو کښې معمول او مروج وو او خپل طبیعی رشدئی سر ته رساوه . کوشانی پاچاهانو سره له‌دی چه موازنه‌ئی ساتله‌هر یوه به یو دین ته زیات میلان څرگنداوه . کجولا کدفیزس سره له‌دی دراماتی تاسایعنی ددین دار په‌صفت یادشوی خو بیاهم ښکاره‌نشی ویل کیدای چه‌دکوم دین پیرو وُ .

او ویما کد فیزس دهغه پرځای ناست پاچا یعنی دوهم کوشانی پاچا یا دشیوائی دین پیرو یا دهغه مشوق وُ . لوی کنیشکا دکوشان دد و همی سلطنتی کورنیه موسس ، دخپل سلطنت په لومړیو کالو کښې چه یوه عجیبه رویه ئی نیولی وه دآریا نادټولو معمولو مذهبو احترام ئې کاوه تر دی چه په ورو ورود بودائې مذهب خواته راواووښت چه په پای کښې په ټینگه ددغه مذهب پیرو او ستر حامی شو او دده دېریالیتوب او فتوحاتو له کبله دساکیا مونی مذهب خوراستری کامیابی وگټلی او دکنیشکا اولاده یعنی نورلوی کوشانیان د بودائې دین پابند وو ، که څه هم

ACKU

دکوشانیانو په زمانه کښې دهندوکش په دواړ وخواوو کښې دول دول مذهبونه او ادیان موجود وو خو د بودائي اوزردشتي دین په منځ کښې زیاته مقابله راغله او په پای کې دبلخ نیمه امرخاته خو اسېمه او قندهار بودایي دین ونیول، اوزردشتي دین ئې دهغې سیمې په نیمه لویدیځه برخه کښې محدود کړ، په بل عبارت بودائي دین دکوشان په عصر کښې په تېره بیاد کنیشکا له زمانې نه راورو وسته پر نورو مذهبو او ادیانو باندې پوره او غالب شو، د مهایانا طریقه یادنجات لویه لاره په ارت او پراخ نظر سره جوړه شوه او دکنیشکا د فتوحاتو او د آریائي او هندي مبلغینو د کوششونو په اثر بودائي دین د پامیر هغې خوا شرقي برخو ته د چین په هیواد کښې هم خپور شو د هندوکش په جنوبي خوا کښې مخصوصاً د کاپیساله سیمې (پاپتاوه) نومې ځای ځخه (چه د سرای خواجه په شاو خوا کې دی) او د بگرام د شترك له معبد ځخه داسې صحنې پیداشوې چه په بودائي دین کښې دکوشانیانو داخلېدل ښه ګندوې ددغو کوشانیانو پېژندنه که ښځه وي او که نر آسان کار دی، او زیاتره دجاوو او کېړو له مخې ئې تشخیص او پېژندګلوي کېږي، کوشاني نجیبانو به زیاته مینه له چه د پیسو او اعانې ورکولو په واسطه خپل ځانونه او خپله کورنۍ بودیسټو ایانوته په نژدې مذهبي صحنو کښې و ښیي.

<u>روحانیون:</u> په کوشاني عصر کښې دعالمانو او روحانیونو تولنې په تېره بیا بودائي روحانیونو زیاته ترقي کړې وه روحانیون، هم داقتدار له نقطې نظره ځخه او هم دعلم او تبحر له حیثه لوړ و مرا تبوته رسیدلي وو. د آریانا بودائي عالمانو د خپلو هندي همکارانو په نسبت د ادیانو فلسفې ته په پراخ نظر سره کتل، په ګندها را کښې د (۵۰۰) تنو بودائي علماو و تولنې او په مذهبي چارو کښې دهغوی مناظرې دبودیزم دتطور او ځرنګوالي په سیر کښې انقلاب پیدا کړ. په کوشاني دوره کښې په نیمه لمرختیزه آریانا کښې په زرګونو بودائي معبدونه جوړ شوي وو، په دغو معابدو کښې د هغو د ظرفیت او ځائید لو په تناسب عالمانو او روحانیونو استوګنه کوله او د علمي او ادبي کتابو په تالیف او ترجمه به بوخت وو. کمخه هم دا بوه طبیعي خبره وه چه د آریانا

په تولو ځایوکښې له شمالي سیمو څخه نیولې د هند وکش ترجنوبي برخو پورې او د کوشاني امپراطورۍ په ټولو برخو کښې لوی لوی او متبحر عالمان ديرو و، خو دا مپراطورۍ په منځ کښې د « ګندهارا » مرکزیت او د مذهبي او صنعتي علومو له حیثه دهغې مرکزیت د دې سبب شوی ؤ چه دکوشاني عصرزیا تره ستر علماء به د غې سمسورې دړې څخه راپیداشي او (واز و میتر Vasaumitra) چه ځینې اشخاص هغه د بودائي علما ؤ او وم صدر بولي دګندهارا له خلکو څخه ؤ. دغه عالم دکوشان په امپراطورۍ کښې په علمیت او تبحر کښې دځان په شان ډیر لږ ساري او امثال درلودل، خیني روایتونه داسې دي چه دغه سړی دهغې پنځه سوه کسه ی او یې ټولنې رئیس او مشر ؤ چه دآشوکا له عصر څخه را وروسته دهغې په شان بله ټولنه و نه جوړه شوې، همدغه رنګه «پارسوا» Pareva دکنیشکا د دربار مذهبي مشاور چه تقریباً دامپراطور مصاحب و په اصل کښې ګندهارې نژادو، دځینو نورو استادو له مخې خرګندیږي چه دغه ستر عالم په پوره ډه ذکر شوی ټولنه کې ریاست کړی دی، دوه تنه نور عالمان چه ګمان کیږي د ګندهارا به وو او دکوشان په عصر کښې ئې ښه شهرت درلود « مانتانګا Mantarga او بل ئې «ګوبهارانا» Gcbharana نومیدل.

« سنګ - هوئې » Seng-Hoaei د ګندهارا د بوسړدا ګرزوی او «د هارماکاله Dharmakala» چه یو بل آریائې بوهاند و د یرو کتابو نو د ترجمو په واسطه مشهور دی (ګوناوارمن Cunavarman) چه اصلا دکاپیسا دپادشاهانو دا ولادی څخه ؤ اوپه ګندهارا کې او سیده دهندوکش دجنوب دمشهورو او پیاوړ ؤ پوهانو په جمله کښې شمیرل کیږي (۱)

---

(۱) په خلورمه مسیحي پیړۍ یعنې دکوشاني دورې په آخره کښې دوو ورونو د ګندهارا په علماوو کښې شهرت وموند یو ئې (آسانګا) او بل ئې « واز و باندهو » نومید دغه د واړه وروڼه د خپل عمر په اولو وخ ـ کښې د « هنایانا » د طریقې یعنې د نجات د کوچنۍ لارې پیروان و وخوورو سته بیا په وروورو پووړ و ر (آسانګاه) او څه وروسته بیا بل ورور (واز و با ندهو) دشمال دطریقې یادنجات د لوبې لارې پیروان شول.

دغه ډول بوهان او ستر روحانيون د ننګرهار (ننګرهار) لمپاکا (لغمان) کابل، کاپيسا، د (کوهستان او کوهدامن سيمه) او د باميکان (باميانو) په ډيرو معبدو کښې او د هندوکش په شمال کښې د باختر د برخو په معبدو نو کښې موجود وو چه له يده مرغه نو مونه ئې له يا ده وتلي دي او آثار ئې د زماني د پيښو په اثر له منځه تللي دي مګر له امکان څخه وتلي نه ده چه د پخوانيو معبدو په خرابيو کښې په ډيرو حفريا تو او په نورا تلونکو تحقيقاتو سره داسي شواهد کشف شي چه ضمناً دهغوی نو مونه او آثار څرګند کړي لکه چه دو نو د پوستکو پاڼو په سانسکريتي ليکنو چه د باميانو د يو پخواني معبد څخه څو کاله پخوا کشف شوي دي يو بودائي ډير مهم کتاب د سانسکريتي متن شتوالي مونږ ته څرګند کړ، سره د دي چه چيني زاير (هيوان تسنګ) دهغي زماني د يرو روسته چه مونږ ئې په کتنه او څيړنه بوخت يو له افغانستان څخه تير يږي او د سترو کوشانيانو د جلال د دوري سره ده د تير پډلو زمانه هيڅ ربط او نسبت نلري خو سره د دي د دغه زائر ديادداشتو او ليکنو څخه داسي معلوميږي چه د افغانستان د هري علاقي په معبد وکښې په سووسترو او متبحرو عالمانو ژوند وون کاوه

په چين کښې د بودائي ديانت په خپرولو کښې د آريانا د مبلغينو رول: (۱)

د (ويماکدفيزس) او (کنيشکا) په زمانه کښې د کوشانيانو او چين تر منځ د جنګو نو پيښيدلو د زياترو هغو جنګو نو په شان چه مختلف قومونه به ئې يو د بله په تماس کښې راوستل د آريانا کوشانيان او چينيان ئې له په خوا نه زيات يو د بل د اخلاقو او روحياتو سره اشنا کړل

او د دوی تر منځ ئې د دائمي روابطو د ټينګو او د پاره په تيره بيا په چين او ليري ختيز کښې د بودائي ديانت د خپريدلو د پاره زمينه برابره کړه د کوشانيانو بودائي کيدل د (ساکيامونی) د دين د ژوندی کيدو او د خپريدلو د پاره آب حيات شول او لو مړی د مرکزی اسيا په هغو سيمو کښې چه دهغوی د امپراطورۍ د جغرافيائي تر نفوذ لاندي وې د دغه دين د خپريدلو سبب وګرځيد يعني د اکسوس (پار دريا) نه هغي خوا او کاشغر د سيمو نه وروسته پخپله د بودائي ژوی او هرکاله چه د چين د امپراطورۍ او يديزي خزانه چه د کاشغر او (پار دريای آمو)

(۱) د دغه بحث ټول معلومات د اسيا تاريخ د کتاب د دوهم ټوک د ۹۱ مخ نه تر ۹۶ مخ پوري برخه برخه ترجمه شوي دي. دغه کتاب د (رونه ګروسه) تاليف دي.

ACKU

او دپامیر دګاوندیو سیمو سره تماس پیدا کړ دچینی جنرال (پان چاو) دفتوحاتو په اثر چینی لښکرو دبیر تهتنګ په وخت کښی بودائی مجسمی او تصویرونه له دغو ځایو څخه چه یونانیانو «سرینده Scrinde» (یعنی دهغه وخت هندو چین) باله، له ځان سره یووړل. د پخوانی روایت له مخې دچین دهغه وخت (۷۵-۵۸ م) امپراطور (مینګ تی Ming-ti)

دبودا دمجسمو دلیدلو څخه په حیرت کښی شو او وې غوښتل چه د نوی دین ؤ آئین اساس وپیژنی او حکم ئې وکړ چه دپامیر له هغې خوا (آریانا او هند) څخه دې مبلغین وغوښتل شی. هغه وخت کوشانیانو خپل دوه تنه مشهور عالمان چه یوئې (ماتانګا Mantanga) او بل ئې (ګوبهارانا Gobharanali) نومیدا وا حتمالا[۲] ګندهارایان وو، د یو شمیر مذهبی کتابونو سره چین ته ولیږل په نتیجه کښی ددوی دکوشش په اثر دچین امپراطور په (۶۴ م) کال کښی بودائی شو په دې ترتیب سره دچین دروازه دبودائی دین دپاره خلاصه شوه مبلغینو هغې خواته ددغه دین دخپرولو دپاره منډه او بزده کړه او په دغه لاره کښی ئې کوشش وکړ خو دچین دبودائی کولو دپاره چه کوم جدی اقدامات شوی دی هغه ددوهمی مسیحی پیړی له منځنیو وختو څخه شروع شوی دی او هغه علماء او پوهان چه دغه کار ئې د ټولو نه لومړی کړی دی دکوشانی امپراطوری علماء، باختریان، فنیانیان (بامیانیان) کاپیسائی، کابلی علما دهلی علماء، پیښوری او کشمیری عالمان یعنی ګندهاری یان وو چه په زیات شمیر دچین خواته ولاړل او دخطابی او تبلیغ له لاری ئې دبودائی دین دخپرولو دپاره خورا ښه خدمتونه وکړل او دهغوی د زحمت ګاللو، استقامت او زړورتوب او ابتکار په اثر او دکوشانی پاچاهانو دتشویق او جرأت ورکولو له کبله دشرق خواته دتبلیغ لاره پرانستله شوه نو هندی مبلغین هم دهغوی په تعقیب پر دغه لار روان شول او هغې خواته ئې په تبلیغ شروع وکړه.

دمبلغینو لومړی ډله چه د ۱۶۰ مسیحی کال په شاوخوا کی دکوشانیانو له خوا د چین خواته ولاړه یو داسی هیئت و چه ستر غړی یې (چه-چان Tehe-Tehan) او (چو شو فو Tehou-Chou-Fo) نومیدل او چینیانو لومړنی سړی د (یوچی شهزاده) په لقب او دوهم ئې (دهندی شهزاده) په لقب یادول د ۱۹۰ م کال په شاوخوا کی یو بل هیئت چه امکان لری

دهغه‌آغری به‌هند یان و ی د(اول دارمار اکسا Dharmaraksa به‌مثری چین ئه‌و رمید و روسته‌له‌هغه(چه‌کین Tchekien دیوکوشانی سفیرزه ی چه‌د ۱۸۰م‌کال‌پاه‌شا ؤخواکی چین ته‌نللی وله‌دغه‌هیئت سره‌گه‌شودغه‌هیئت د(هه‌نان)Honar په(لو یانګ Lo-yang )نومی ځای کښې وارول‌او استوګنه‌ئی یکښې کوله‌او څوبو دائی معبدو نه‌یی و دا ئا وجوړ کړل ددریمی پیر ی‌ده‌په‌او لو وختوکښې دکوشانی امپراطوری‌ده لهٔ آریائیانوا و هندیاآنو څخه یو هیئت دچین خواته‌ولاړ ده‌نه‌آریانی غری‌په‌لاندی دول وو : ـ (۱) سنګ ـ هو ئی Seng-Horei دګندهار ادیوسو داګرز وی و چه‌په‌بودائی قوانینو کښې ئی زیات مهارت درلوداو څودول دول کتابونه‌ئی ترجمه‌کړی‌و و (۲)دها رماکا لا Dharmakala چه په معبدونو پوری مربوط اصول‌ئی‌او مری وارد(۲۵۶م)کال‌په‌شاؤخواکښې په‌چینی ژبه‌ترجمه کړل(۳)دو هم دار اما کساچه: پلارله‌خو ابوچی‌ء اودکانسو په‌علاقه‌کښې میشت‌شو د۲۶۶م کال‌په‌شاوخواکښې ئی دیراوړ شهرت پیداکړی و دغه‌مبلغ یو شاګرددرلودچه(چو ـ شو ـ لان Tchou-Chou-Lan نومیداودی‌هم دیویو چی‌سری‌ز وی و د(۳۰۲م)په‌شاوخواکښې دښه شهرت خاوندشو دغو دواړوو روستنیو مبلغینودسین ګان Singan په‌علاقه‌کښې استوګنه‌غوره کړه‌دچین دامپراطوری تسن Tcin کورنی ئی بود ا یی مذ هب‌کړه‌ په‌دغه‌دول دآریا ئی او هندی مبلغینو د استقامت اومد اومت له کبله تبلیغ خپله لو مړی‌ده‌مرحله په چین کښې پای ته‌ورسوله‌او په ۳۳۵ کښې دامپراطوری‌ده‌دفرمان دصادریدوله‌امله‌بودائی دین په‌چین کښې رسماً و پیژندل‌شو څو کاله‌وروسته‌دګندهاراد وه‌تنه‌نور عالمان(و یمالا ک ساVaimalaksa او دهار ماميتر اDharmamitra)چین‌ته‌و لاړل‌له‌هغوی‌نه‌و روسته‌دګندهار اله‌خلکو څخه یوبل‌راهب چه‌دکاپیسادپاچاهانو دکورنی له‌او لادی څخه‌واو (ګوناوارمانGunavarman نومیده‌تبلیغ کو لو دپاره‌دشر ق خواته‌ولاړ . نوموړی د هغه‌تبحر په‌وا سطه‌چه‌په مذ هبی علو مو کښې ئی درلوداو دهغی فوق‌العاده‌مینی له‌کبله‌چه‌ددینی چار و په تبلیغ کی ئی درلودله دکاپیساله‌درباری آرام‌او هوساژوندا‌و دپاچاهی‌تاج څخه تیرشولومړی دسیلان‌دجزیری دلیدلو دپاره‌ولاړ او له‌هغه‌ځای څخه‌بیاد(جاوا)خواته چه‌لاتر دغه‌وخته پوری برهمنیانو

هیواد ته د تبلیغ دپاره لاړ او د خپل زیات کوشش په اثر ئې د جاوا د هغه وخت پاچا او ملکه په بودائي دین کښې داخل کړل .

او هرکله چه دده د شهرت آوازه په شرق کښې پوره او خپره شوه، نو د چین امپراطور «لیو - یو» Liou-Yu چه د (سونګ Soung ) له کورنۍ څخه ؤ وغوښتل چه دده سره وګوري او پېژندګلوي ورسره وکړي او په ۴۲۴ کال کې ئې چیني حکمران «تو نکن» ته لار ښودنه وکړه چه کاپیسائي مشهور عالم چین ته راوغواړي «ګونا وارمان» هم د چین د امپراطور بلنه ومنله او په ۴۳۱ کال کښې نانکن ته ولاړ، «لیو یو» د امپراطور به د ماڼۍ تر څنګ یو ښه او غوره معبد ودان کړ، او دغه کاپیسائي عالم د خپل ژوند اته ریا یه پورې په هغه ځای کښې په چیني ژبه د بودائي آثارو په ترجمه بوخت و. په پای کښې دوه تنه نور کابلي مشهور عالمان (بودها یاسا) Boudchayasa او (بودها جي وا) Boudhajiva د پنځمې پېړۍ په اوایلو کښې چین ته لاړل او په چیني ژبه ئې د بودائي کتابو په ترجمه کښې زیات یادګار ونه پرېښودل، په شپږمه پېړۍ کې د چین خواته د آریائي مبلغینو تګ څه کم او سریع او شمیر ئې هم زیات شو، هرکله چه پخپله نیږ بودائي دین ته په سپکه نظر کاته او د دغوی د پاچاهۍ او سلطنت عصر د دغوی د دفاع له نقطې نظره څخه زیات تېر شوی و ممکنت زیات تره نظامي عصر ګڼل کېده ز یاتره علماء آریانا څخه وتل او په ختیز ترکستان سیلان، برما او چین کښې سره تیت او میشت شول.

په دې عصر کښې (بودهي دارما Po hidharma) د شمالي لاري د عالمانو ته ویشتم صد رهم د لیري ختیز خوا ته مهاجرت وکړ او په شمالي چین کښې ئې استوګنه غوره کړه ورسته بیا دوه تنه له لمر ختیځې ګندهارا (د پېښور د خاورې څخه) نارن درایاسا Naerndrayasa او (جینا ګو پتا Jinagoupta) چه دوا ړه سره معاصر او د ۵۲۸ - ۶۰۵ کلونو په منځ کښې ئې ژوند کاوه د ختن او لب نور له لارې څخه د چین خوا ته لاړل :

او چه په ۵۷۵ کښې یو نا ځا په په چین کښې د نفرت او کرکې احساسات پیدا شول، او د بودائیانو له وژلو څخه ئې ځان نه ژغوره نو «جینا ګو پتا» منګولیا ته

لاړ او د ترکو خان «د بوخان» ته ئې پناه ور وړه او په ترکو کښې ئې په تبلیغ شروع وکړه او دا خان ئې بودائي کړ:

لنډه دا چه په دې ترتیب سره د دوهمې میلادي پېړۍ له منځنیو ختو څخه د شپږمې میلادي پېړۍ تر اوایلو وختو پورې د کوشاني امپراطورۍ په آریانا ئې او هندي علماوو په تېره بیا گندهارې (کابل - کاپیسا ئې - پېښوری) علماوو په زیات شوق او مینه په سنکیا نگ - چین، سیلان، جاوا او د لرې شرق په نورو ځایو کښې د بودیزم په خپرولو کښې کوشش وکړ ژبړ تبر (نژاد) ئې د بودا په دین کښې داخل کړ او هرکله چه په چین کښې یو وار نوي دین رواج ومونده او پخپله په چینیانو کښې عالمان پیدا شول، نو بیا له پسې به د عالمانو او زیارت کوونکو قافلې د بلخ بامیانو - کاپیسا - هډې او د نورو هندي ځایونو د سترو مذهبي مقاماتو د لیدلو د پاره راتللې، او دا تگ او راتگ د واخان او پامیر د لارې او د اکثروس له هغې خوا نه د کشمیر او بحري لیارو څخه د اسلام د مقدس دین د ظهور تر زمانو پورې دوام درلود.

رسم الخط: که څه هم په پخوانئ آریانا کې د رسم الخط د خرگندیدو موضوع او د هغه د اقسامو او انواعو پیدا کېدل تراوسه پورې لامجهول او له د اسې مسائلو څخه دي چه را تلونکي کشفیات به ورباندې رڼا واچوي، خو په دې ځای کښې غواړو چه د هغو دریو رسم الخطو په باب کښې چه په کوشاني عصر کښې ئې رواج درلود بحث وکړو. له دغو رسم الخطو څخه دوه رسم الخطونه چه یو ئې «خروشتي» او بل ئې «برهمي» یا «کوشاني» بولي محلي رسم الخط نه دي، او دریم یوناني رسم الخط دی چه د اسکندر له فتوحاتو څخه وروسته د یوناني باختري مستقل سلطنت په دوره کښې ئې رواج وموندا وسره د ازو تغیراتو د کوشانیانو په زمانه دوره کښې دوام کړی دی. دا دی اوس د دغو رسم الخطو زوبیان په لاندې ډول کوو:

خروشتي رسم الخط: د «آریانا» د پخوانیو رسم الخطو څخه یو داسې رسم الخط دی

چې وروسته بیا نېژې په دول دول نومونو یاد شوی دی او دغو له جملې څخه یو دا چې «خروشتي» هم ورته وائي!

د «رسم الخط» اول ځل دپاخترپا چا (ایوکراتیدس) دخپلو مسکوکاتو په چپه خوا کښې استعمال کړی دی او دهندوکش په جنوبي او شرقي خواوو کښې ئې زیات عمومیت درلود. دخروشتي «رسم الخط او «برهمی» رسم الخط په معاصر و رسم الخط کښې هم شته دی، چې لومړی ئې په آریانا او دوهم ئې په هند کې مروج او معمول و او ددغو دواړو مبدأ ارامي «رسم الخط دی.

او دې ښاره چې دا موضوع زیاته څرګنده او ښه و فهمو لشي نو په لنډه توګه دهغو له مبدې او ددغو دواړو دخپرېدو له صورت څخه بحث کوو، بیا د خپل مقصد یعنی د خروشتي رسم الخط شرح په مفصل ډول سره کوو.

ترهغې اندازې چه نوو هانو تحقیقات ښکاره کوي رسم الخط هغو سومر یانو ایجاد کړی دی چې د اوسني عراق عرب په څنګو کښې یې استوګنه کوله. او د (میخ) په شکل یې توری پیدا کړل، چې اروپائیانو یې «کونه ئي فورم Cuneiforme» بولي او په مونږ کښې د (میخي خطونو) په نامه مشهور دی. وروسته له هغه بیا آثوریانو دا رسم الخط غوره او استعمال کړ او هغه ته ئې دینی جنبه ورکړه، په دې وخت کښې (آرامي یانو) چې په اصل کښې ئې په (شام او بابل) کښې استوګنه لرله او په جا معه معنی آثوری یانو چه دري او کلدانیان هم په (آرامي قبیله) ورګډ یږي په آثوري میخي رسم الخط کښې ځینې تعدیلات راوستل او د خپلو ایجابا تو له مخې ئې په هغه کښې اصلاحات وکړل، او په دغه ترتیب ورو ورو هغو قومونو چې نوي راغلي وو لکه فنیقي یانو پسې خپل وارهغه څه چه له آرامي یانو څخه پاته وو، واخیستل او ځینې تغیرات ئې پکښې راوستل. په دغه وخت کښې خط اولیکنه دیونانیانو لاس ته ور غلل، او له یونانی الفبا څخه سلاوي او لاتیني رسم الخطونه منځ ته راغلل او تر له اروپا ئې ونیوله:

رسم الخط چه په اصل کښې د آسیائیانو له خوا ایجاد شوی دی: لکه چه وار په وار

په اروپا کښې خپور شوی دی ، د آسیا مرکزی خوا ته یې هم خپور نه او ځانګړی تللی دی :

د ملا حققینو د کتنو او مطالعو له مخې څرګندیږی چې په هند او آریانا او فارس کښې رسم الخط او د لیکنې طرز او سبک له آرامی رسم الخط څخه پیدا شوی او منځ ته راغلی دی ، او دا رسم الخط له مختلفو لارو څخه او ګمان کیږی چې په جلا جلا ډولو د غو ځایو ته تللی او خپور شوی وی . لکه چې د مخه بیان شو معمولا عقیده داسی ده چې آرامی رسم الخط د سمندر له لاری (احتمال لری چه د جزیرة العرب له سواحلو څخه) د هند جنوب ته لولو له هغه ځای نه دکن ته رسیدلی وی ، او طبیعی ده چه دا کار د لامبوزنو (ملاحو) په واسطه شوی دی . او ځینی نور خین د غه لامبوزنان آرامی ، ځینی ئی فنیقیان ، بابلیان او ځینی ئی بخپله هندیان ګڼی ، چه په ۷-۸ ق م پیړی کښې ئی د بحر په ګرزیدو کښې ډیره ښه مهارت پیدا کړی ؤ . هر کله چې دا رسم الخط په جنوبی هند کښې خپور شو ، د رخت او مکان د غوښتنې او ایجاباتو له امله له هغه څخه د هند رسم الخطونه ، پالکه، د تبت سیام برما او سیلان الفبا او خطونه هم راپیدا شول ، چه په ټولو کښې مشهور او ښه جامع دیوانا ګاری (۱) دی چه په هغه کښې د هند علمی ژبه (سانسکریت) لیکلی شوی ده .

زمونږ د هیواد آریانا ته آرامی رسم الخط له کومې لیاری او په کومه واسطه راغلی دی او له هغه څخه په دی خاوره کښې څه ډول خپور شوی دی ؟ که څه هم ځینی ملا حققین داسی عقیده لری چه آرامی رسم الخط تر هخامنشیانو ډیر پخوا د شرق په خورا لیری سیمه کښې خپور شوی ؤ لکه چې د مخه و په هند کښې د هغه پیدا کیدل بیان کړل ، خو معمولا داسی عقیده ده چې آرامی رسم الخط له فارس څخه آریانا او د هند شمال غربی سیمو ته د وچې د لاری د هخامنشی له نائب الحکومه ګانو او د دوی د مربوطو منشیانو سره یو ځای هلته ورغلی او خپور شوی دی .

هخامنشیانو لکه چه د معماری ، هیکل تراشی ، د مسکوکاتو د ضرب بولو او د ظریفو فنونو د نورو څانګو په اصولو کښې ئی د سامیانو تقلید کړی دی

---

(۱) Devanagari یعنی (ښاری او خدایی) لیکنه یا (شاهی رسم الخط)

رسم الخط ئي هم دليدي يانو په واسطه له‌سامي منابعو څخه زده کړی دی ځکه چه دوی پخپله کوم رسم الخط نه درلود، او ميخي رسم الخط ئي چه لاس په لاس له‌سومريانو څخه پاتی‌ؤ له آرامي يانو او آثوريانو څخه زده کړ، او په پای کښې آرامي رسم الخط ددوی دسلطنت په قلمرو کښې رواج شو، او ددوی له‌نائب الحکومه ګانو سره چه په‌لیری‌لیری ختيزو سيمو کښې وو هلته خپور شو او په‌دې وسيله په آريانا او داندوس دشرق په‌هغې خواسيمو کی خپور شو لکه چه له‌هغې ډبرینی تختې څخه چه په‌آرامی خط په ټکسيلا هند کښې کشف او پيداشوی ده په‌ډيبې ډول دانظر په‌ثابتيږی او دهغه تاريخ برنت [Barnet] او [مارشل Marshal] خلورمی پاپنځمی ق م پيړی ته منسوبوی او ددغی ليکنې معنا لا تر اوسه پوري نه ده حل او څرګنده‌شوې ځينی له‌هغې څخه دود ا نيو بنسټ کښېښودلو او دودانيو د جوړولو معنا اخلی او ځينی نور ديو قرارداد دفسخ کولو سواد پکښې ګوري

په هر حال کوم شی چه مهم او دکتنې وړ دی هغه دادی چه آرامی ژبه او رسم الخط پنځم ق م پيړی کښې دشرق خوا ته تر ټاکزيلا پوري رسيدلی وو، له‌دغو بيانا تو څخه ښه معلوميږي چه خروشتی رسم الخط په‌پنځمه ق م پيړی کښې او ښائی چه له‌هغې نه پخوا زمونږ مملکت آريانا ته رسيدلی وی (۱) په‌دغه باره کښې چه آيا په آريانا کښې آرامی رسم الخط څو مره موده دوام درلود؟ په‌دې سلسله کښې اوس دسمې ځواب نشو ويلای:

خو له‌نښو او قرينو څخه معلوميږي چه زياته موده به ئي دوام نه وی کړی ځکه څرنګه چه دوخت او مکان ايجاباتو او غوښتنو په‌هند کښې برهمني رسم الخط منځ ته راوستلی دی په‌آريانا کښې ئي هم بل رسم الخط پيدا کړی دی چه‌دا ۱۹ پيړی مخکښې پخپله باختر د مملکت په‌نوم او په‌هندی يا آريائي نامه او نشلمی پيړی له‌اولو څخه راپدې خوا په خروشتی نوم يادیږی که څه هم په‌دې ځای کښې زمونږ اساسی مطلب ددغه خروشتی رسم الخط مطالعات دی خو هر کله چه دا رسم الخط مدام له‌برهمنی رسم الخط سره يو ځای ؤ او له‌هغه څخه هم يو نمونه زمونږ په‌وطن کښې پيداشوی ده نو په‌دی ترڅ کښې دهغه څخه هم بيان کيږي:

---

(۱) اوس يوه نوی آرامی ډبره له‌هرات څخه دکابل موزی ته راوړ له‌شوی ده چه دهغی کتيبې ځينی توری آرامي ته‌ورته دی او دهغی په‌شاوخوا کښې تحقيقات کيږی:

سل کاله پخوا په ۱۸۳۸ کال او دغه نه پخوا کلونو کښی دانګلیسی پوهانو د پاڼی په اثر او مړی شل بوشمیر مسکوکات په افغانستان کښی راټول شول او دغه وخت د پوهانو په تیره بیا د جمس پرنسپ Jamsi rincep د بنګال د آسیائی شاهی انجمن دغړی تر کتنی لاندی ونیول شول او هغه وخت چه د مسکوکاتو خطونه لوستل کیدل او مړی شل یو نوی رسم الخط د نو مړری جمس پرنسپ توجه ځان ته جلب کړه باید وویل شی چه د دغه رسم الخط لوستل او د هغه حل کول د مینځی او هیر و غلیظ د خطونو په شان له اشکال څخه خالی نه و ځکه چه د ار رسم الخط هم د دمه نیو پهشان بیخی مجهول و او د دغه د الفباد شکلونو او حا کولو او د هغه د ترجمی د اصولو په باب کښی یو ذره معلومات هم نه و او هغه کسان چه د شرق د مجهولو خطونو او رسم الخطونو د حل کولو او لوستلو څخه خبرد ی هغوی پوهیږی چه د امر مرز اشکال هغه وخت لوستل کیدای شی چه اتفاقاً قانو د هغو وجود د کومی بلی معلومی ژبی او رسم الخط سره یو ځای په لاس ور کاوه لکه چه مصری هیرو غلیف خطونه فرانسوی شامپلیون هغه وخت ولوستلی شول چه په یوه ډبره کښی د هیرو غلیف رسم الخط د مصر د عوامو او یونانی رسم الخط سره یو ځای ایکلی پیداکړ او وبی لوست چه په دغه ډول سره د مجهولی ژبی د حل کولو او معلومو لوکلی دده لاس ته ورغله په همدغه شان سره مینځنی خطونه یعنی د هخا منشی بیا چا هنا نو دنو موړو تجزیه په واسطه سره ولوستل شول او د هغه ود و وبیلو بیلو رسم الخطونو د رستم د نقش پهلوی کتیبه چه بولی (کلده او پهلوی) او بل ئي (ساسانی پهلوی) بولی هم په دی توګه ولوستل شوه چه له هغو سره یونانی ژبه او رسم الخط هم یو ځای وو.

نو آیا خروشتی رسم الخط د کومی ژبی او کوم رسم الخط په مرسته لوستل شوی دی؟ ـ دغو اتفاقاتو له امله د خروشتی رسم الخط د او ستلو کیدلی چه دلته هم یونانی ژبه او رسم الخط دی له هغه سره یو ځای و واورو مبی وار لوستنه یی له هغو مسکوکاتو څخه شروع کیږی چه په یونانی ژبه او رسم الخط او په مجهوله ژبه او مجهول رسم الخط ضرب شوی وو ـ د باختر یونانی ځاورمپاچا را بوکر اتیدس) یونانی ژبه او رسم الخط د بل رسم الخط او ژبی سره په څلور بیع شکله مسی مسکوکاتو باندی ضرب کړی دی.

نه دی نه ور وسته دده جانشینانو او د باختر او کاپیسا نو رو یونانی پاچاهانو او له هغو

ACKU

وروسته د کوشان له سلالې څخه، د کدفیزس د کورنۍ د وتنو پاچاهانو د غه طرز او رویه عملی او تعقیب کړه نو موړی جمس پرنسپ یونانی ژبه د نوی ژبې او نوی رسم الخط د لوستلو کلی وګرزوله او لومړی ځل ئې د یو یونانی پاچا (نوم) چه په دوارو ژبو کښې ئې چندان توپیر او تغیر نه کاوه ولوست. وروسته بیا ورپوهېده چه دغه ترڅنګه دوې نورې کلمې دي چه د (پادشاه) لفظ معنی به ورکړي، باید ووایو چه د دغو دوو کلمو لوستل پدې سرعت سره هیڅ کله ندي شوي چه اوس ئې موږ تصور کوو بلکه په ډېرو ډېرو ژورو مطالعو کښې شوي دي چه واځې د پادشاه نوم لوستل شوی دی، سره له دې چه په خروشتي رسم الخط کښې د هیجا توري او حروف جلا جلا یو د بل ترڅنګه په فاصله لیکل کیدل نو آیا (پرنسیپ) څومره کوشش وکړ چه یواځې د هغو د لوستلو لاره ئې پیدا کړه ځکه چه هیڅ معلومات ئې نه شوو کولای چه دا رسم الخط له ښی خوا څخه کیڼې خوا ته یا د کیڼې خوا څخه ښی خوا ته لیکلی کیږي او لوستل کیږي وروسته له دې مرحلې څخه ئې څومره نور کوشش وکړ چه د دغو توریو آواز او مخرج ورته کشف کړي او له خپل ځان سره ئې یوه سلسله لپاره یاد داشتونه را ټول کړل.

د پادشاه له (خاص) نوم او د (پادشاه) له صفت څخه وروسته چه د دغه د نوم سره تړلی ؤ د کلی په مرسته لاس ته راغی، یعنی د یونانی ژبې په مرسته ځینی نور صفتونه چه د باختری پاچاهانو په نوم پورې تړلی وو لکه: فاتح، ستر، عادل، شاهنشاهان نه ماتیدونکی او نور یو په بل پسې ولوستل شول چه په نتیجه کښې ورو ورو د مجهولې ژبې او رسم الخط ۷-۸ کلمې ښکاره شوې او په نتیجه کښې نوی رسم الخط او د هغه د نیمې او ناقصې الفبا توري په لاس راغلل. پدې ځای کښې دستی له یو بل سوال سره مخامخ کیږو چه آیا دا مجهوله ژبه څه شی دی، ځکه چه د نوی رسم الخط لوستل د (پرنسپ) په نز د یو اسرار آمیز شی ؤ دا ژبه له هغه څخه زیاته اسرار آمیزه او د تعجب وړ وه انګلیسی مؤرخ د آریانا تاریخی او باستانی ژبو ته متوجه شوی او کله هغه (زند) او کله ئې (آوستائي) او کله ئې سانسکریت بالی او په قطعی ډول سره ئې په هیڅ یوې باندې خپله عقیده نشوای ښکاره کولای. له یوې خوا څخه دغه ۷-۸ کلمې

ACKU

چه دغه پیدا کړی دی سانسکریت ته ئې زیات نژدې والې درلود او له یوې خوائې لیدل چه داژبه دسانسکریت په خلاف لکه نوری سامي ژبې له ښي خوا څخه چپې خوا ته لیکلې شوې ده په دې کښې یقین کوی چه دا کلمې د معنې له حیثه سانسکریت ته ډیرې نژدې دي او د دغو د رسم الخط له طرز څخه ئې صرف نظر کړی دی چه له ښي خوا څخه لیکلې شوې دي او دغه د (آریانا) ژبه او پرو دول پراکریت بولې، او په دغه وخت کښې لیکي: چه «که په پښتو کښې چه دآریانا محلي ژبه ده غور وکړو ډېر ځینې وشي نو ښائي چه داسې ورڅ راشي چه دغې په مرسته د موندل شوو لیکنو (کتیبو) په لوستلو کښې آسانتیا پیښه شي» په هر حال هرکله چه پدې مبحث کښې د ژبې له حیثه بحث او خبرې اترې نه کوو. نو دا مسئله پرځای پرېږدو او ددغه رسم الخط خوا ته را گرځو:

له مسکو کاتو څخه وروسته دغه لومړنی لیکنه چه په نوی رسم الخط کښې پیداشوې ده په یولوښې باندې څو کرښې وې چه په بلخ کښې وموندل شوې او د بنگال د شاهي اسیائي انجمن دمجاې د ۱۸۳۸ کال دجولائې دمیاشتې په گڼه کښې دجمس پرنسپ له خوا په دغه باره کښې مطالعې شوې دي(۱)

دې وخت ته نژدې انگلیسي (جنرالکورت) دپنجاب د(منیع قلعه) له معبد څخه هم ځینې لیکنې په دغه رسم الخط سره پیدا کړې چه په نتیجه کښې (مستر جمس پرنسپ) پوه شو چې له دې امله چه دا دول رسم الخط تر دغه وخته پورې له باختر او پنجاب څخه کشف شوی ؤ نو دغه یې د(باختر او هندی) رسم الخط په نامه مسمی او وباله، د نوی رسم الخط دلوستلو کار دې ځای ته رسیدلی ؤ چه نوموړی جمس پرنسپ په ۱۸۳۸ کال کې مړ شو، او دده مړینې دنړ لسمې پیړی د شرق پېژندني عالم ته ستر زیان ورساوه.

له ده وروسته دستي دده پوشمېر نژدې ملگرو او همکارانو لکه (مستر مسن) او (ولسن) دده دا کتشافاتو تعقیب وکړ چه څه ئې دبنگال په آسیائي مجله کښې دده درسمي

---

(۱) هرکله چه دامجله دلیکو نکی پلاس کښې نشته نو نشم ویلای چه دباخ دکشف شوې کتیبې په باب کښې څه لیکل شوي دي.

مقالو او لیکنو له مخې او یو ځای هم دده له خوا خصوصي یاد داشتونه چه دده په نوم په یوه کتابچه کښې لیکلی وو د نوي رسم الخط د لاس ته راتلو مسئلې ته انبساط او پراختیا ورکړه له بلې خوا هر کله چه انګلیسي (مسن) دا پر دوست محمد خان درور په اجازه او مرسته افغانستان ته لاره پیدا کړه نو دافغانستان په مختلفو ځایو کښې ئې لکه څنګه چه اندې ذکر شول په پلټنو شروع وکړه او ځینې نور ړي لیکنې ئې چه پر لوښو لیکلی شوي وې د بامیانو له ۲ نمبر استوپې او دهډې له ۱۳ نمبر استوپې څخه کشف او پیدا کړې په همدغه شان دافغانستان له ځینو نورو ځایو څخه لکه دکابل له رپریو اته خوا له وردګو څخه هم کتیبې پیدا کړی شوې یعنې زیات سند ونه او وثیقې لاس ته راغلې او په نوي رسم الخط کښې دمضامینو سلسلې پراختیا او زدلوید ته وخت کښې (پروفیسر ولسن) په یو لوی او ضخیم (۴۵۲) مخیز کتاب کښې چه (آریانا انتي کوا) یعنې (پخوانۍ آریانا) نومیږي دد غه رسم الخط په باب کښې مفصل بحث کړی دی.

او د (آریانا کتیبو) تر عنوان لاندې ئې دخپل کتاب (۲۰) مخونه په دغه باب کښې دبحث دپاره تخصیص کړي دي. «مستر ولسن» پداسې حال کښې چه د رسم الخط دمونداو دپېښو لومړني حالات او دجمس پرنسیپ کوششونه یادوي په خپله دې تر کومې اندازې پورې چه دغه وخت معلومات له ده سره مرسته کوي په جز نیاتو کښې داخل شوی دی او لومړی ځل دخپل دغه کتاب په (۲۶۳) مخ کښې دنوي رسم الخط الفبا شکلونه په تبلو ئې دول ښيي. او داسې فیصله کوي چه دا نوی ژبه او رسم الخط بایسد (آریانا) په نامه یاد شي

د ر(آریانا انتي کوا) کتاب او د «ولسن» لیکنې هغه لومړنې تتبعات وو چه پدې زمینه کښې شوي دي، دشلمې پیړۍ په اول اوو څو کښې دد غه رسم الخط مسئلې دار و پادعلمی مرکز و توجه دو هم ځل بیا ځانته جلب کړه، او ددې علت هم دا او چه د چینې ترکستان دروازه دارو پایې مستشر قینو دپاره دخلاصه شوه او په خروشتی رسم الخط ډېرې لیکنې پیدا شوې او ددغه رسم الخط دمطالعو دپاره نوې دوره شروع شوه

ACKU

دشلمې پېړۍ تتبعات او خروشتي : هرکله چه دشلمې پېړۍ په اوایلو کښې دخروشتي رسم الخط مسئله هم واربیا پورته شوه او د مختلفو مملکتونو مشهور عالمانو او مستشرقینو ، لکه (موسیو سیلوان لوی ، فرانکک ، پیشل ، پلیو ، لیودز ، اوکنو) په خبرو اترو او بحثونو پیل وکړ نو هر یوه خپل نظریات میدان ته راوایستل او په نتیجه کښې ددغه رسم الخط داصل مبدې او دهغه دنوماونو دوخو اصلو په باب کښې ستره جگړه او مناز عه شروع شوه چه په دې ځای کښې له هغې سره ونږ څه کار او غرض نه لرو بلکه یواځې په دغه باب کښې دځینو پوهانو لنډ نظریات لیکو فرانسوي موسیو رونه گروسه دشرق اقصی تاریخ دکتاب په اول ټوک په ٤۳۰ مخ کښې لیکي داسې څرگندیږي چه دهند داوسیدونو الفباو څخه یوی (خروشتهی) یا (خروشتري) رواج چه له پنځمې پېړۍ څخه پخوا تر ٤ ق م پېړۍ پورې په گندهارا ، کاپیسا او پنجاب کښې معمول او مروج و باید دهخامنشیانو دتسلط زمانې ته منسوب شي دارسم الخط برابر دپارسي منشیانو له آرامي الفبا څخه مشتق شوی دی بل هندي رسم الخط (برهمني) هم سامي الفبا ته منسوبیږي چه دتنگالو ددکن دسیمه ورسم الخط او دهغه قو لي او سنهه الفبا گاني او رسم الخطونه له هغه څخه مشتق شوي دي چه دبحراله لیاری هندته راغلي دی او ددغه مخ په پاورقي کښې لیکي چه (آرامي لیکنه) چه سرجان مارشال دوی په ټاکز بلاکښې مو ندلې ده او ذ٤ ق م پېړۍ او مریو وخت ته یې نسبت کیږي خروشتي اصل مبدا ئې ږوښانه کړې ده (د ۱۹۱٥ کال آسیائی ژورنال ۳۰٤ مخ) له بلې خوا موږ ته معلومه شوې ده چه موسیو سیلوان لوی د خروشتری اصل نسبت کا شغر ته کوي (B.EF.O'II۲٤٦) ژاندو مرگان فرانسوی مشهور سکه پېژندونکی د شرقی مسکوکاتو درسالې ددوهم ټوك په ۳۳۹ مخ کښې لیکي د هخامنشي دامپراطوری مشرقي ولایت او هندته دیونانیانو له رتللو او مداخلو څخه د بېرېخوا په د غو سیمو کښې یو رسم الخط معمول و ، او ارسنی مستشرقین ددې مسئلې په منلو اتفاق لري چه له دغو الفباو څخه یوه الفبا یعنې دشمال الفبا چه دعادت له مخې هغه په خروشتهی نامه یادوي او پخوانۍ ورته (هندو باختري) وېل له آرامي الفبا څخه راوتلې ده چه دهخامنشیانو په زمانه کښې په ایران کښې مروجه وه دبل رسم الخط یعنې دجنوب رسم الخط چه هغه ته برهمني وایي د سمندري مراودو له لاري له عربستان څخه راغلي او دهغه اصلي نمونه (هیمیاریت Himyarite) دي

ACKU

خو سره له دې هم په دې نظر یاتو کښې په عمومي ډول سره مستشرقین په دې متفق اړکو چه
نتیجه چه له هغه نه خبر او ځې هغه دا ده چه (خروشتي) له آریاناڼو هغه سره ددار یوش د جګړې
په وخت کښې او یا د هند له جزیره نما سره د آریانا د او سیدو نکو د لومړنیو روابطو په وخت
کښې یعنې د ٦ – او ٥ قم پېړۍ د پېښاوړ خوا کښې شروع شوې ده د هند و باختري رسم الخط
یا (خروشتي) د آرامي په شان له ښي خوا اخوا ته کیڼې خواته لیکل کېږي دغه د آرامي الفبا دری
ضمیري توري پکښې شته دي او دغه د حروف علت اصول پر ته له دغو حروفو څخه چه
د کلمو په اول کښې راځي د عربي الفبا په شان تر یوې اندازې پورې نامکمل دي دغه نور
حروف علت یعني هغه حروف چه له بې آوازه حرفونه وروسته راځي هغه وخت آواز
ورکوي چه دغو ضمیمه له بې آوازه حروفو سره یو ځای کړي.

خروشتي رسم الخط ژر له منځه ولاړ حال دا چه برهمي پاتې شوې دی او د هند د شبه
جزیرې تبت ، سیام ، برما او سیلان د تېر لو خطونو مبدا او ګرځېدله او دولړ لشکاو نه
اری چه د بودائي ، ګوپتا ، کوتیلا Kutila کوشان او دو رو دز ماني د رسم الخط او په
نو مو نو یادېږي چه په تېر لو کښې دېر مروج و (دیو انا ګری) دی چه معمولا د سانسکریت
په غلط نوم مشهور شوی دی او په حقیقت کی سانسکریت لکه چه زیات خلک خیال کوي معاصره
الفبا نه ده بلکه د هند علمي ژبه ده.

سرجان مارشال د تاکزیلا د لاندې ښو دنې د کتاب په ٧٨ مخ کښې لیکي (... د آرامي لیکنې
موډل او کشف سره له دې نه رابطې چه د خروشتي الفبا له مبدې سره ئې لري تر یوه زیده پورې
دې ځکه د انظر به تقویه کوي چه خروشتي په تاکزیلا کښې له آرامي الفبا څخه منځ ته راغلی دی
ځکه چه دغه منطقه مهم ښار دی چه په هغو کښې خروشتي معموله وه د هخامنشیانو د ٥٠٠ قم
په شاوخوا کښې له خپلو فتوحاتو څخه وروسته آرامي الفبا
د هند د شمال غرب سیمو ته راوړه واله دو پوسن د فرانسې ستر مؤرخ
(د موریا په عصر کښې هند) د کتاب (١) په ٣٥ مخ کښې لیکي (ما ته معلومه
شوې ده چه د آشو کا په زمانه کښې په هند کښې دوه رسم الخطونه مروج وو ، خروشتي
رسم الخط چه له ښي خوا څخه کیڼې خواته لیکل کېږي او په شمال غربي سیمو کښې محدود و

(١) هند د موریا یانو ، بربریانو ، یونانیانو ، سیتیانو ، پارتیانو او یوچیانو په عصر کښې.

ACKU

او بل برهمی رسم الخط ؤ (چه له کینې خوا څخه ښۍ خواته لیکل کیږي او له هغې څخه ارسنۍ نولې الفبا گانې راوتلې دي :)

موسیو الهندو پوسن : دیو شمیر مستشرقینو مونداو دهغوی دتا لې او هغه عجیبه تشابه یادوي چه خروشتۍ یا (کالیستریو ا KaliSTriOi) او هغه نور نومونه چه چینیانو په کاشغر تهور کول یادوي او لیکي : چاز ما عقیده داده چه د (خروشتۍ) کلمه (دخره په پوستکي او څرمنه باندې رسم الخط) معنا ورکوي احتمال اري چه دا رسم الخط په تاکزیلا کښې له آرامي رسم الخط څخه راوتلی وي چه دپنځمې پیړۍ په اوایلو وختونو کې دهخامنشیانو دحکمرانانو منشیانو پنجاب ته وړی دی . دا نظریه په اصل کښې د (کلار مونت گانو ClerMantGanneau) نظریه ده او دکیند نو اوحنفریا تو نوی کشف دهغې تائید کوي چه (د٤ - ٥) پیړی په اوایلو وختو کښې په آرامی ژبه او رسم الخط یو لیکنه د (بارنت) او (مارشل) په نظریه په تاکزیلا کښې پیدا شوی ده چه دهغې معنا مجزوله او پاتې ده ، ځینې وائي چه د یوی مانۍ د بناء شروع کولو په باب لیکلې شوې ده ، او ځینې له هغې څخه د یو قرار داد دفسخ کولو معنا اخلي . په هر حال داسند د آرامی ژبې او رسم الخط رواج په پخوانیو زمانه کښې په کشوفه سیمه کښې ثبتوي زیاتره اشخاص داسې نظریه لري چه له هخامنشیانو څخه د ور پخوا دا رسم الخط دلیری شرق خواته خپور شوی ؤ ا ومیخی رسم الخط په دې آرزو بریالی نه شو او دغې درجې ته ونه رسید (خروشتۍ) دسامی رسم الخط صوتی انتخابی شکل دی .

برهمی رسم الخط چه هغه ته (برهمنی) رسم الخط هم وائی او دهغه نوم نوی معلومیږي : (شارپانیتر CharTentier) دنظریې له مخې بل پخوانی نوم ئې دراود او دهغه د پیدا کوونکي صرفی عالم له نوم څخه عبارت ؤ : چه (پوشکا راسادی PuShkaraSadi) نومیده چه دمیلا دنه پخوا پیړی کښې ئې په دکن کښې ژوند کاوه که څه هم دا امر اثبات ته نه دی رسیدلی ، خو په نظریاتو کښې تغیرات پیښوي ، د دغه رسم الخط مبدأ نه ده روښانه بوهلر Buhler هغه د جنوب په سامی الفبا پورې مربوط بولي او پخوانیو تجارتی مراودی تر یوی اندازې پورې دهغې دراتللو اسباب گڼي ، مگر هیڅ داسې پسند په لاس کښې نشته چه له سامی خطو نو څخه دهغه اشتقاق څرگند کړي ،

له بلې خوا هر کله چه دا دواړه الفبا وې یو صوتي اصول لري نو یو له بله نشي سره جلا کیدای، هغه بله خبره چه په هغې کښې شک نشته دا دی چه (بیولر) وائي: (چه که خروشتي رسم الخط د شمال غرب په سیمه کښې محدود پاتې شوی وی نو احتمال لري چه دغه سبب به داوی چه د (یمونا) جمنا په سیمه کښې برهمي رسم الخط موجود ؤ.

وروستنی اوډېر نوی مهم کتاب چه د (خروشتي لیکنو) په نوم – سره له تاریخي مقدمې او صرفي تشریحاتو په (۱۲۷) سترو مخو کښې د یوناني او چیني او د شمال غرب نورو لیکنو د ترجمو د تفصیل سره په (۱۹۳) مخو کښې د نورو ډیرو پاکترو ستن کنو Sten-KOnOw » د (اسلو) د دار العلوم د پروفیسر له خوا لیکل شوی دی او په ۱۹۲۹ کال چاپ شوی دی ډېر اهم او جامع او مکمل تحقیقات دي چه د دغه نورو ویړی ستر عالم له خوا شوی دی (۱) او هر کله چه پدې ځای کښې مونږ اړ یو چه د ده نظریات بیان کړو نو ځینې برخې یې چه له مطلب او موضوع سره موافقې او برابرې وی د هغو له ترجمو څخه چه د تاریخ په عمومي تولنه کښې شته را اخلو او د لته ئې لیکو چه (۲) خروشتي د برهمي په شان د هند ملي الفبا ګڼلی نه شي، هو اخروشتي خط د هند په خاوره کښې او د یوی هندي ژبې د اصواتو د ثبت دپاره انکشاف او ترقي وکړه خو د هغه استعمال په ځینو محدودو سیمو کښې منحصر پاتې شو، او حتی په هغو سیمو کښې کله کله د برهمي د استعمال مذکرونه هم لیدل کیږي، لکه د تا کز یلا په څیر اوبوه پرو بانادی.

د خروشتي مبدأ: بیو هلر Luhler داسې څرګندوي چه خروشتي الفبا له آرامي څخه اشتقاق شوې ده، او د هخامنشي په تولو امپراطوری کښې هغه وخت چه

---

(۱) ددې مهم اثر تاریخي مقدمه چه د تاریخ قضایا و وله نقطې نظره څخه ډیره مهمه برخه ګڼله کیږي ښاغلي امیني او ښاغلي صدقي ترجمه کړې ده.

(۲) له دې ځای څخه د ۴۹ مخ تر پایه پورې داسې مواد دي چه د خروشتي کتاب له ترجمې څخه اخستل شوي دي چه ښاغلي امیني ترجمه کړی او په انجمن تاریخ کې موجود دي.

ACKU

شمال غربي هند هم په دغه سلطنت کښې شامل ؤ. آرامي رسم الخط په عمومي ډول په نوراو رسمي چارو کښې استعماليده ددې الفبا له ځينو مشخصاتو څخه لکه د حروف علت (حروف مصوته) او د صحيحو مرکبو حروفو اشکال داسې نتيجه لاس ته راځي چه دغه الفبا د برهمي په مرسته جوړه شوې ده او له همدې مخه برهمي له هغه څخه زياته موده دمخه موجوده وه نو د هند له نقطې نظره څخه نوې الفبا ته هيڅ اړتيا نه وه او (بيوهلر) ښتيا وائي چه خروشتي د (ساتراپيانو) د نائب الحکومه گانو او د ملي زعيمانو (ملي مشرانو او د کليو بانډو د مشرانو) د وظيفو او چارو د اختلاط او گډون په نتيجه کښې پيدا شوې ده. او لکه چه د اسکندر د يرغل په زمانه کښې د پنجاب دولايت د بيان څخه معلوميږي د فارس د دولت دغه ساتراپيان او مشران د خراج ورکړو او له کبله پرخپلو متصرفاتو باندې پرې ايښې وو. غالب گمان داسې دی چه هند بانو په اول کښې خالصه آرامي الفبا استعمالوله (لکه چه په راوروستو دوره کښې ئې د خپلو ځينو بودپاره عربي ليک غوره کړ)

او د زماني په تيريدو ئې ځينې تعديلا ت په هغه کښې را وستل چه تر او سه پورې په خروشتي الفبا کښې ليدل کيږي.

خروشتي رسم الخط: البته د خروشتي الفبا انکشاف او تکامل به په ډيره موده کې شوی وي. دا الفبا د ۳ ق م پيړۍ په منځنيو وختو کښې مکمله وه. لکه چه د آشوکا په فرمانو نو کښې په «مانسهر Mansehra» او شاباز گړهي (ShahbaZgarhi کښې ليدل کيږي بايد دا هم وويل شي چه آرامي الفبالا هم په دغه وخت کښې استعماليده، لکه چه: هغې آرامي ليکنې څخه په تکسيلا کښې کشف شويده څرگندېږي.

او پروفيسر (آندرياس Andreas ) پدې ليکنه کښې د آشوکا عمومي تسميه يعنې پرياد رشن Priyadarsin) پيژندلې ده نو له دې کبله خروشتي الفبا تر ۵۰۰ کالو نو نه زيانه موده استعمال ده او دار ورسته په ابکښې ئې په خاوري او پنځمې پيړۍ کښې پورې ادامه لري.

خروشتي د دفترو د رسم الخط په حيث: بيوهلر وائي چه خروشتي په ښکاره ډول دفتري ليک ؤ، نه مذهبي ليک، خروشتي ليک له هند څخه د باندې په کتابو کښې او د (دهاماپادا DhamaPada) د ترجمې په يوه قلمي نسخه کښې ليدل کيږي چه د شمال غرب په ډېر اکثريت ليکل شويده او خټن ته نژدې پيدا او کشف شوې ده امکان لري چه په هند کښې

هم کله نا ګله داسې واقعه پېښه شوې ده او حتی ممکن دی چه د اقلمي نسخه پخپله په هند کښې لیکلې شوې وي . خو هغه یو الحیني قلمي نسخه چه د هند په خاوره کښې د ننه په خروشتي حوزه کښې او د خروشتي لیکنو په عصر کښې پیدا شوې ده په برهمي خط ده ؛

خروشتي سیمه : هغه سیمه چه په هغې کښې خروشتي استعمالیده په عمومي ډول آریانا ده په پنجاب کښې د خروشتي آخوني شرقي برخه ( منبع قلعه ) ده او په دغه ځای کښې د وې لیکنې په ( کانګرم ) کښې پیدا شوې دي چه هم په خروشتي خط او هم په برهمي خط لیکلې شوې دي ، او له بلې خوا په ( کرنال Karnal)

نومي ځای کښې یو بل اثر کشف شوی دی او داسې ښیي چه خروشتي الفباء یا تره د شرق خواته هم معلومه وه ، او هغو د باندنیو فاتحینو چه له شمال غرب څخه راغلي وو ، هغه ئې د جمنا پرسیند باندې د (ماتورا) نومي ځای په یوه مشهوره کتیبه کښې استعمال کړې ده ، سربېره له دې چه په دغو سیمو کښې برهمي خط هم په کتیبو او هم په مسکوکاتو کښې زیات شایع او مروج ؤ یوه خروشتي کتیبه په پټنه کښې هم کشف شوې ده خو په حقیقت کښې هغه لوحه چه دغه خط پر هغې باندې لیکلې شوی دی له شمال مغرب څخه یو ړې دغه ځای ته راوړې ده .

که څه هم پوره لا نه ده معلومه خو سره له هغه هم د مرو څرګندېږي چه د آریانا په غربي سیمو دارغنداب په حوزه او د سیستان په شاؤخوا کښې خروشتي معموله وه .

هغه کتیبه چه په یو لوښي باندې لیکلې شوی او د وردګو په (خوات) کښې کشف شوې ده او په بریټش موزیم کښې شته ، داسې ثابتوي چه دې رسم الخط د افغانستان په مرکزي برخو کښې زیات رواج درلود ؛

همداشان په بلوچستان کښې په (ژال) نومي ناوه کښې د برهمي کتیبې ترڅنګ د خروشتي لیکنې کشف داخبره ثابتوي چه د آریانا په جنوبي برخه کښې د (کندر و زیا) په ولایت کښې دغه رسم الخط مروج ؤ .

د آریانا په شمال کښې خروشتي لیکنې په بلخ کښې کشف شوې دي ،

او د جنوب خواته د هغه ځینې آثار د (لاکارنه) په علاقه کښې په (موهن جو ډیرو) کښې پیدا شوي دي او هم د ځینو غربي په خوا نیو (کشاترا پو) په مسکو کا تو کښې پیدا شوي دي، که څه هم د خروشتي رسم الخط د ثقل مرکز د هندو کش په جنوب کښې بولي، او د یونانو باختري کوزنيو او د پښتوانی افغانستان د نورو سلطنتي کورنیو پاچاهانو زیاتره د هندو کش په جنوب کښې هغه په خپلو مسکو کاتو او لیکنو کښې استعمال کړي دي.

خو سره له هغه هم د بلخ په معبدو کښې دې لیکنې د شتوالي او په ختن کښې د نورو لیکنو د کشفیدو له مخې ښکاره معلومیږي چه د آریانا تر شمال ته هم د هغه لمن خپره او رسیدلې وه.

د پروفیسر لیوي نظریه: پروفیسر (سیلوین لیوي Sylvain Levi) د خروشتي مبداء بل دول بیان کړی دی، د چین د بودائی ادبیاتو پر اساس چه د هغو له مخې د (شولی shw-le) (یعنی کاشغر) د نوم صحیح شکل (کیا لوشوتان Kia-Lu-shutan) کیږي. او د موسیو لیوي په قول د (سانسکریت د خروشتره Khara Shtra له کلمې سره مطابق دی) او نو موړی دې نتیجې ته رسیدلی دی چه د خروشتي الفبا صحیح نوم (خروشتري Khareshtri) دی، د خروشتر خط دا نوم د کاشغر خط معنا لري، مستر فرانک O-F او مستر پشل R-Pischel د دغه تعبیر په ضد اعتراض وکړ، او له دغه امله موسیو (لیوي) خپله نظریه بدله شان سمه او تعدیل کړه چه (خروشتري) د (خروشتر) له خط څخه عبارت دی او خروشتر یو پخوانی هندی نوم دی چه د هند او چین تر منځ مملکت ته ویل کیده مستر فرانک بیا اعتراض وکړ چه خروشتر په څیر کلمه په سانسکریت کښې نشته، او د (کیا لوشوتان لی) چینی کلمه په هیڅ رز جمت سره د خروشتر د کلمې تعبیر بال کیدای شي، او بله دا چه د خروشتي خط هندی نوم په هندی ماخذونو کښې په (خروشتي) او (خروشتري) شکل شته دی. لکه چه لیکونکی د خروشتي الفبا له تاریخ څخه اطلاع لري، د موسیو لیوي نظریه چندان د قناعت او د باور نه ده. رښتیا دی چه ډیری خروشتي کتیبې په چینی ترکستان او مخصوصاً د گوبي د صحرا په جنوب شرقي ناو و کښې پیدا شوي دي، او یو الحینیه خروشتي پاڼه یی نسخه چه تر اوسه پوری معلومه ده په ختن کښې پیدا شوی ده، خو له

بلې خو اپه هر ځای کښې د ینو چه خروشتي خط لې دکړ مي هندي ژبې دلیکلو دپاره استعمالاوه نو له دغه کلبه دې مذکوري ته راګرزو چه خروشتي خط هندي مهاجرینو چینی ترکستان ته وړی دی ؛ بیله دی دغه اسناداو نسخه نسبتاً په وروسته عصر پوري اړه لري . او لکه چه څرګندیږي هیڅ یو له دغو یو هم تر دوهمې میلادي پیړۍ نه پخوانی نه دی .

خو په هند کښې کوم اثر چه دخروشتي خط استعمال دمیلاد نه پخوا تر دریمې پیړۍ ور سوا شي ، سربیره پردی ، و نو ګمان کوو ، چه (بیوهار Bühler) په یقیني دول سره ثابته کړې ده چه خروشتي خط دیوی هندي ژبې دار تیاو وله امله آرامي خط څخه تکامل موندلی دی ، او دا موضوع روښانه ده چه آرامي خط ده خامنشیانو دفترونو او په شمال غربي هند کښې استعمالیده . همدارنګه دغه وخت چه خروشتي خط پیداشو ، دا نه معلومیږي چه هند یا نو په ترکستان کښې استوګنه اړ له بلکه په دغه وخت کښې دغه سیمې ، د پوونده ګانو مختلفو قبایلو نیولي وی او نه معلومیږی چه د غو قبیلو به کوم لوړ تمدن در اود .

اوس چه د محیینو مدققینو دلیکنو متن چه له مونږ سره د هغوی آثار موجود وو ؛ هم د مخه معلوم او ولیکل شو ، نو که وروسته نتیجه چه په عمومی دول له هغو څخه اخیسته کیږي لاندې ئې لیکو !

(۱) آرامي رسم الخط په ...ق م پیړۍ کښې په آریانا کښې رواج ؤ.

(۲) لکه چه په جنوبي او مرکزي هند کښې د عصر او محیط دار تیا ور سره سم له آرامي خط څخه (برهمني) رسم الخط پیداا و منځ ته راغی ، په آریانا کښې (خروشتي) رسم الخط پیدا شو او د (بیوهار ) د نظریې له مخې دا کار هغه وخت عملي شوی دی ، چه د حکمرانانو او منشیانو او د محلي مشرانو تر منځ د . ر نږ دیکت او روابط پیدا شول او نوی هم په رسمي چارو کښې نفوذ ووند .

(۳) که څه هم د برهمني رسم الخط آثار په آریانا کښې او د خروشتي رسم الخط لیکنې په پنجاب کښې موندلې شوی دی او دغه دو رسم الخطو نه په وروستیو وختو کښې

ACKU

په پنجاب او آریانا کښې مروج وو، خو که ژوره کتنه او غور وشي برهمي د هند رسم الخط او خروشتي د آریانا رسم الخط گڼل کېږي.

(۴) د دغو دوو رسم الخطونو د څرگندېدو او پیدا کېدو نیټه لږ څه توپیر سره لري، برهمي رسم الخط د ۷=۶ ق م پېړیو تر منځ په هند کښې پیدا شوی، او خروشتي رسم الخط د ۵ ق م پېړۍ په شاوخوا کښې په آریانا کښې پیدا شوی دی،

(۵) د هندار نورو گاونډیو هیوادو یعنې د تبت، برما، سیلان او د نورو ټاپوو رسم الخطونه مخصوصاً د (دیوانا گري) رسم الخط چه د سانسکریت ژبې رسم الخط دی له (برهمي) رسم الخط څخه پیدا او منځ ته راغلي دي، یعنې د غه رسم الخط سره له څېنو تغیراتو او تعدیلاتو تر ننه ورځې پورې دوام کړی دی، او حال دا چه خروشتي رسم الخط له (۲) مسیحي پېړۍ څخه وروسته نه پخپله پاتې شوی او نه کوم بل رسم الخط له هغه څخه پیدا شوی دی.

(۶) خروشتي الفباد ۳ ق م پېړۍ په منځنیو څو کښې په آریانا کښې مکمله او پوره شوې او لیکنې پرې کېدلې، مگر د آرامي الفبا استعمال لا هم رواج درلود،

(۷) د موریا په عصر کښې چه جنوبي آریانا هم د هغو په امپراطورۍ پورې تړلې وه، خروشتي رسم الخط پوره رواج درلود او د (مانسېرا MānSehra) د مقام د برین فرمانونه او د آشوکا شاه باز گړهۍ په څنډه لیکلي شوي دي.

(۸) د (خروشتي) د لیکنې لومړنی رواج د دریمې ق م پېړۍ ته او آخرنی رواج ئې پنځمې مسیحي پېړۍ ته منسوب دی؛ نو په دې حساب سره د دغه رسم الخط (۸۰۰) کاله پاینت کړی دی.

(۹) د خروشتي د رواج سیمه په عمومي ډول سره ختیځ خواته تر پنجاب (جهلم) پورې او لوېدیځ خواته تر سیستان او قندهار پورې او د شمال خواته تر باخ پورې او د شمال شرق خواته تر ختن او د جنوب خواته تر (موهن جودېرو) پورې پراخه او رسېدلې وه، په دې ترتیب د دغه رسم الخط

د رواج سیمه کاوه، آریانا یا افغانستان ؤ، نو د دغه رسم الخط مرکز، هم دغه د هندوکش جنوبي غرني دي لکه چه هغه لیکنه چه د کابل د وردګو په (خوات) کښي پیدا شوې ده دا نظریه تائید او تقویه کوي.

(۱۰) په اولو وختو کښي تقریباً د مسیح نه پخوا په ۳ پیړیو کښي خروشتي د مملکت د دفتر او اداري ژبه وه: او وروسته له هغه بي د خپل ژوندانه تر وخته پوري مذهبي جنبه هم پیداکړه.

(۱۱) د آریانا د پخوانیو پاچاهانو په مسکوکاتو کښي، خروشتي لرمړی ځل دا یوکراتیدس په خاورکو نیه مسي سکه کښي ولید له شوه، وروسته له هغه دیونانو باختري پاچاهانو او اسکائیانو، پهلوایانو او دلومړیو کوشاني کورنۍ پاچاهانو یعني کد فیزسیانو هغه استعمال کړی ده.

(۱۲) خروشتي لیکني ترا وسه پوري په افغانستان کښي په باجور، بامیانو، هډه او وردګو کښي پیدا شوې دي.

(۱۳) د موسیوسیلوان لوی دا نظریه، چه خروشتي له (خرو شتري) څخه راوتلي ده، او دا کلمه د کاشغر نوم ؤ د نورو پوهانو په نزد اساس نلري، لکه چه پخپله (سیلوان لوی) هم له خپلي دغي لومړی عقیدي څخه وګرزید او وروسته یې ښکاره کړه چه (خروشتري) د خروشتر له خط څخه عبارت دي، او (خرو شتر) یو پخوانی هندي نوم دی چه د (هند او چین) تر منځ مملکت ته ویل کیده.

(۱٤) ایکانی ئی دی چه په هندي ماخذ وکښي د خروشتي لیک هندي نوم د «خروشتي او (خرو ټهتي) په شکل هم راغلی دی، د ډله باید زیاته کړو چه په افغانستان کښي تراوسه پوري د (خرو ټهي) په نامه یو قوم شته دی؟

(۱۵) رښتیا ده چه خروشتي لیکني په چیني ترکستان کښي زیاتي پیدا او کشف شوې دي او هغه پراخېږي، خروشتي تمامي نسخه چه تراوسه پوري معلومه ده په ختن کښي پیدا شوې او لاس ته راغلی ده، خو دا ددې دلیل نشي کیدای چه د هغي سیمي رسم الخط دې خروشتي وي، بلکه حقیقت دا دی چه له آریائي او هندي

ACKU

مهاجرینو سره دغه چینی ترکستان ته رسیدلی دی سربیره پر دی هغه لیکنه چه له چینی ترکستان څخه لاس ته راغلې ده ډېره زوړه ده او هیڅ یوه ئې له دوهمې میلادی پېړۍ څخه نجا وزنکوی، او دا خبره ایو ښه دلیل دی چه له خارج نه دغه ځای ته د خروشتی رسم الخط ورتګ ثابتوی.

دا رسم الخط په (۳ ق م) پېړۍ په آریانا کښې مروج ؤ نو له دغه کبله چه خروشتی رسم الخط په آریانا کښې تر ختن او کاشغر تر (۵۰۰) کاله پورې امروج ؤ.

(۱۶) د (خروشتی کلمه) ئې په دوه ډول صورتونو ترجمه کړې ده څېړونکي د (خره شونډه) څېړونکي د (خره پرخره من) لیکنې، او څېړونکي د (کاشغر) معنی اخستی ده، خو ظاهراً له دغو څخه هیڅ یو حقیقت نه لري؛ او نه تر اوسه پورې د خره پرخره من یا ندې کومه لیکنه پیدا شوې ده.

بیوهار وائی: چه (خروشته Kharoshta) د هغې د مخترع نوم دی او د هغه په نوم مشهوره شوې ده.

دا هم وائی: چه په آرامی ژبه کښې یوه داسې کلمه وه چه تقریباً د خروشته په شان تلفظ پرې کېده، او معنا یې (لیکل) وه، او ښائی چه وروسته بیا د سانسکریت تر تاثیر لاندې راغلې او (خروشته Kharoshtha) شوې وي.

لکه چه د مخه وویل شول د افغانستان له ځو مختلفو ځایو څخه خروشتی لیکنې کشف او پیدا شوي دي او هغې ډېرې مهمې (لومړۍ) لیکنې په باب کښې چه په بلخ کښې پیدا شوې ده. انګلیس (جېمس پرنسپ) د بنګال د آسیائی مجلې د ۱۸۳۸ کال د جولائی د میاشتې په ګڼه کښې یوه مقاله خپره کړې ده، خو له بده مرغه د دغه مقاله او نور لازمه اسناد په لاس کښې نشته، نو، دد غو لیکنو د متن په باب کښې څه نشو ویلای، یوازې د وردګو د (خوات) د لیکنې ترجمه چه د (خروشتی لیکنو) په ترڅ کښې شوې ده د ښاغلی عبد الغفور خان امینی د ترجمې له مخې ورکوو:

ACKU

(په ۱۵ کال دار تمی سیوس په میاشت کښی ، هغه وخت چه ۱۵ ښکاره شو) په دې ساعت کښی (واگراماریکا) د (کاماگوبا) خلف چه په دغه ځای (خرات) کښی ئی استوگنه لرله، د (شاکیامونی) دیادگار اثر په بوه استوپه باندی د (واگراماریکا) په معبد کښی زړی په دی سعادت او خوشحالی کښی دی : (هووېشکا) (۱) پاچا لویه برخه وی ، دهغه افتخار دی زماده و راو پلار له پاره وی ، او زما د ورور (هشتو مامر یکا) له پاره وی ، او په عمومی ډول ز ما د مننه وبښو ، خپلوانو او له ماسره د ملگرو د افتخار د پاره دې وی ، دهغه لویه برخه دی پخپله زما (واگراماریکا) له پاره وی ، دټولو موجوداتو د روغتیا او گټې له پاره دې وی ، او سربیره پر دې دټولو د افتخار د پاره دې وی ، هغه څه چه په دی ځای کښی موجود دی له دوزخ څخه د وجود د ټولو ری نقطی پورې ، له تخم څخه نراوتلو نه له نس څخه تر راوتلو پورې ، تر بې شکله موجوداتو پورې ، او زما داخلاقو له پاره تل د هغو کسانو له پاره چه له دین څخه وتلی دی او هم دې دهغه گرد چاپیره ساختمان دلوئې برخی دو یشلو له پاره وی . او هم دی بوه لویه برخه دعقیدې خاوندسړی له پاره وی ، دمهاسامگهیکه داستاذانو د منلو معبد دی ».

<u>کوشانار سم الخط</u> : سربیره په ، «خروشتی » رسم الخط چه بیا ئې تیر شو ، د ستری کوشانی امپراتوری په سیمو او اطرافو کښی نور و قسمونو رسم الخطو هم رواج درلود چه له هغو څخه یو ، « و سیوداکن د (برهمی) په نامه یادکړی دی ، او سیاون لوی د «کوشانا» درسم الخط په نامه یادکړی دی . او دهغه شو اهد او اسناد په لاندی ډول سره په بامیانو کښی کشف شوی دی.

په ۱۹۳۰ کال کی دمعلوماتو خاوندانو د پاره په لو مړنیو حفر یاتو کښی چه دبامیانو پاڼه دره پخوانی سمڅه کښی د ۳۵ متری بو دالمر خنیزې خوا ته نژدی ده و سیوها کن ل خواوشول هغی کوچنی استو پی ته نژدی چه د دغه معبد په منځ کښی وه ځینی لیکنی چه دو نی په نری او نازکو پوټکی باندی لیکلی شوی وی کشف شوی دالیکنی د معبد په ځمکه باندی

(۱) دکوشانی پاچا هانو څخه یو پاچا ؤ چه : (کنیشکا) د جانشینانو په دله کښی گڼل کېږی او له کنیشکا څخه وروسته دهغه په اولو جانشینانو کښی ښه مشهور دی.

پرتې وې او په ځل ځل د هغو هغه کوچنیو کوچنیو ټوټو ولیدلی شوی او په خورا کوچنیو اسبابو سره لکه د ساعت جوړولو (ذره بینونو) او داسې نورو اسبابو په ذریعه راټولی شوی خو له بده مرغه هغه ټولې چې لیکنې وې پاڼې وې په ډېرو ډېرو بارانو خرابې کړې وې ځکه پاڼې او ټوټې چه ایکټ ئې درلود داسې یو ډول او اخته سره نښتي وې چه راټولې ئې یو د ټوټه شوی وې او لکه چه دا پاڼې او ټوټې یو ځای په سره نښتې وې نو یا تو ژاتو د تیر پلو له کبله بېخې وچې شوي او په ډېره اسانۍ سره او ژر به ماتېدلې او په ژرو ټوټو او سره د ټوټو ټوټو او سره ټوټېدلې او په کړو انداز د چه د کوچنیو کوچنیو اسبابو او الاتو په ذریعه د دغو اوراقو او ټوټو را ټولېدلي د حفریاتو متخصص «موسیو باکن» او «موسیو هاکن» هغه سره راټولې کړې او هغه لویه او مترا کمه برخه د خط دېری او بې ټوټې په شانې په صرمت کاری په خوږه کښې او داوبو د بخار د لاندې بل په اثر کوچنی او اوږې ټوټې ئې لاس ته راغلې چه ستره ئې په اوږد دوه ۲۵ سانتي متره (عرض) لس سانتي متره، او د دې د پاره چه دغه ټوټې په لاس کښې ونیولی شي او مطالعه او وکتلی شي نو هره ټوټه ئې د دوو ښیښو په منځ کښې کېښول شوله.

موسیو هاکن د دوی معلوم کړ چه دا لیکنې په «برهمي» او «خروشتي» رسم الخط لیکلی شوی دي او د برهمي خط نمونې زیاتې او خروشتي آثار لږ دي. څه موده وروسته د دغو لیکنو یوه برخه چه د افغانستان د پوهنې د وزارت له خوا پاریس ته لېږل شوې وه د موسیو سیلوین لیوي له خوا مطالعه او وکتلی شوه او هر کله چه په دغه زمانه کښې د ژېړ کاروان د ښت هم په ګلګت او کشمیر کښې شوې لیکنې وپېژندلې او لاس ته ئې راوستلې او د مطالعې او کتنې له پاره ئې سیلوین لیوي ته ولېږلې نو موږ ته ئې د دې لیکنو د (بامیانو او ګلګت د سانسکریت لیکنې) تر عنوان لاندې د (ژورنال ازیاتیک) د مجلې د ۱۹۳۲ کال د (ژانویه - مارچ) په ګڼه کښې نشر او مطالعه کړې دي که څه هم د دغو لیکنو یوه برخه نوی او په ۷ یا ۸ مسیحي پېړیو پورې اړه لري، خو سره له هغه هم د سیلوین لیوي د مطالعاتو او کتنو له پاره ئې (خاص) په لاندې ډول پیدا نړو.

سیلوان لوی د باميانو د سانسکریت لیکنی د رسم الخط د اړخونو نه مخی په څو برخو ویشي : (۱) هغه لیکنی چه د هغه د رسم الخط د ولونی «کرشانا» بالی دی او دد غزنو او کشف شوو لیکنو په مخ کښی تر ټولو وړاندی او قدامت لری ، ځکه چه ۳ - او ٤ مسیحی پیړی پوری مربوطی بولی ، او په دغه بحث کی زمونږ ستر او مهم مقصود تشکیلوی (۲) د (گوپتا) و روستنی لیکنی دی چه په ۷ - او ۸ م پیړیو پوری اړه لری (۳) د مرکزی آسیاد رسم الخطونو تمام الکه د ختن او کوچه او نورو نمونی - نو له ۳ مسیحی پیړی څخه نیولی ترا تمی پیړی پوری د سانسکریت د مختلفو رسم الخطو د پنځو پیړیو نمونی د بامیانو په معبد کښی لاس ته راغلی دی ، او دغه فرانسوی پوهاند د رسم الخطونو د اختلاف علت داسی بیانوی ، چه د معبد په کتاب خانه کښی ئی یاد مختلفو سیمو کتابونه راټول کړی وو او یا پخپله د بامیانو په ناوه ( دره ) کښی د مختلفو ځایو ایکوانی د هغو په نقل او لیکلو بوخت وو .

د موسیوسیلوان لوی له تحقیقاتو څخه داسی څرگندیږی چه د لیکنو زیاتی کوچنی قطعی د ( ابهی د هرمه ) د رسالو په فصلونو پوری مربوطی دی چه د بودائی ( د نجات لوبی لاری ) پیروانو په هغه زیاتی لرسنلی ، څو هرکاله چه په هغو کښی مثبت مشخص عامل نه دی لیدلی شوی او موضوع او سبک ئی بوتر نگه دی نو د رسالی د دقیق تشخیص بنه نه کیږی ، خو سره له هغه هم هر کله چه «بود یس اتو !» کلمه پکښی ډیره استعمال شوی ده نو د بودائی نجات په ستری لاری پوری ښکاره ارتباط لری ، او په د غور رسالو پوری مربوطی ټوټی په گلگت او کشمیر کښی هم پیدا شوی دی .

کوم مهم څیز چه د بامیانو لیکنو په تیره بیا د « کوشانا » لیکنو ښکاره کړ هغه د « وینا یا Vinaya » د هغه کتاب اصلی ټوټی دی چه د ساتنی او نجات کوچنی لیاری د پیروانو له مذهبی آثارو څخه پیدا شوی دی چه جلا بحث به ورځنی وکړو ، له دریمی مسیحی پیړی څخه ترا تمی مسیحی پیړی پوری په بامیانو کښی

ACKU

دسانسکریت د رسم الخط د انواعو کشفیدل ثابتوی چه په آریانا په تیره بیا د هندوکش په جنوبی خواو کښې د سانسکریت آثار ولیکنه او لوستنه، نه یواځې د لویو کوشانیانو د زمانې مداریه په عصر کښې رواج وو بلکه تر ډیر وروسته د اسلام د مقدس دین د مبلغینو د پیدا کیدو تر زمانې پورې ئې هم رواج درلود برهمی، خروشتی او یونانی رسم الخطونه چه د لیکنو او تحریر د رویه د ځینو نړاکو له کبله د (کوشانا) او «یونانو کوشانی» نومونه هم ورته ورکړ شوی دی د لویو کوشانیانو په عصر کښې مروج او معمول وو.

یونانو کوشانی رسم الخط. په شرق کښې د اسکندر د فتوحاتو څخه راستره نتیجه د یونانو تهذیب خپریدل دی، په آریانا کښې د یونانو باختری دولت له تشکیل او جوړیدو سره سم، یونانی تهذیب موقع وموندله چه د دووسو کالو نو په موده کښې له باختری محلی تهذیب سره گډ او حل شی چه په پای کښې له هغې څخه یو مخصوص تهذیب منځ ته راغی، که څه هم بیله مسکوکاتو او ځینو مهرو نو او غمیو څخه تراوسه پورې په افغانستان کښې نورې لیکنې او اسناد په یونانی ژبه او رسم الخط ندی موندل شوی، محققین او پوهان داسې عقیده لری چه یونانی ژبه او رسم الخط یوه موده په باختر کښې پاته وو:

یونانی ژبه او رسم الخط تر یوې زمانې پورې پراځی د یونانو باختری پاچاهانو په مسکوکاتو کښې استعمالیدل، خو له دې کبله چه نړل خلک په هغو نه پوهیدل. نو د (ایوکراتید) له زمانې څخه وروسته په نورو مسکوکاتو باندې پراکریت او خروشتی رسم الخط رواج وموند او ستر و کوشانیانو د یونانو باختری مسکوکاتو په تقلید په خپلو مسکوکاتو کښې یونانی رسم الخط استعمالاوه.

او هر کله چه دغه استعمال ډیر تقلیدی ؤ نو ورو ورو د ځینو حروفو په شکل کښې تغیرات پیښ شول او ځینو مدققینو د یونانی الفبا چه ځینې تغیرات پکښې راغلی وو د «یونانوکوشانی» الفبا په نامه یاد کړې ده له لویو کوشانیانو څخه وروسته دا

رسم الخط له منځه و نه ووت بلکه زیاته زمانه ئې د مسیحی واوومې پېړۍ تر اولو وختو پورې دوام وکړ: چینی زائر (هیوان تسنګ) هغه وخت چه افغانستان ته راغلی دی، دد اسی الفبا څخه بحث کاوه چه د هغې توری له کیڼې خوا څخه لیکل کیدل. او د پوهانو اومد ققینو په نظر په دا الفبا له یونانی الفبا څخه بله نه ده.

ادبیات او آرت: که څه هم د مسکوکاتو او هیکلو او لوحو د قیافو او شکلونو له مخې داسې څرګندیږي چه کوشانیان ظاهراً زېږه او سخت خویه خلک وو، څو تر کومې اندازې پورې چه د هغوی د عصر د حقایقو څخه په دلیری شویده، نو ویلای شو چه د لویو کوشانیانو د زمامدارۍ د رېپېرۍ دوره یوه داسې دوره وه چه د ادب او صنعت ذوق په هغې کښې وده او ترقي کړې وه. دا مسئله تر اوسه پورې لا ډېره پټه او په تیاره کښې ده چه کوشانی عصر د مختلفو مذاهبو او طریقو صنایعو د ځانګو په خپرونه او انبساط کښې تر کومې اندازې پورې د خالت او لاس درلود. مګر دا بله مسئله ډېره روښانه ده چه د هغوی عصر په تیره بیا د کوشانیانو د ستر امپراطور کنیشکا د زمامدارۍ دوره د ادبیاتو او صنعت له مترقي دوره څخه وه.

او لکه چه کنیشکا په مذهبی چارو کښې د عقایدو له مخې د خپلو اتباعو مراعات کاوه او په پای کښې د بودائی مذهب یو خوراستر مشوق او خپرونکی شو، په آرت او ادب کښې ئې هم د غه روپه او تلنه په رښتیانی او پوره ډول پر ځای او ځاوله، دده امپراطورۍ د پراخوالی په اندازه او تناسب، معماری، هیکل تراشی، نقاشی، او موزیک ترقي وکړه. لکه چه په شپږم فصل کښې د (یونانو باختری صنعت) تر عنوان لاندې (د دغه توک ۹۸ مخ په شاوخوا کې) شرح او بیان شوی دی پدی کی شک نشته چه دقام په دوو اولو پیړیو کښې په آریانا کښې د هیکل تراشی فن خپور شوی و؛ او له د غې مدرسې څخه په ورو، ورو نګریک او بودیک او کوشانی مدرسی او نوری پیدا شوی په یونانو باختری عصر کښې د هندوکش په شمالی سیمو کښې د ګریک او بودیک صنعت منځ ته راغی خود سینې (اسکائی، تخاری بوچی) قبیلو د پیدا کیدو په اثر د هغه د ترقی دوام بل عصر او نورو ځایونو ته

ورسید، لکه: هند وکش جنوبی سیمې او داوبوکوشانیانو عصر په تیره بیا لومړی او دوهمی مسیحی پیړی ته، او دیو مقتدر امپراطور لکه کنیشکا دشخصیت په تاثیر باندې سربیره نور عوامل هم وو، لکه او ږد او باثباته امنیت او دسوداګری پراخوالی او داقتصادی اوضاعو ښه والی او دبیښی ورکوونکو زیاتوالی او دګریک اوزړو من له صنعتګرانو سره ګډون او نژدې والی هر یو پخپل ځای ددې سبب شو چه داو بو کوشانیانو په عصر کښې مستظرفه صنایع وده او ترقی وکړی، خو دا ترقی په دوهمی کوشانی کورنۍ یعنی په کنیشکا او دهغه په او لادې پورې منحصر وو، لکه چه دد غو بحثو جزئیات به په دې وروسته فصل کښې وګورو.

کنیشکا دستر و او معبدونو مند هبی آبادانۍ او دانو لوته زیاته توجه لرله هغه ستر ماستوپه چه ۲۰۰ ز بنی لوړوالی یې درلود په لمرختیز ه ګند هارا (پیښور) کښې ددهٔ ودانیو نمونه ده په همدغه شان دبامیانو ۳۵ او ۵۳ متری هیکل تر اشل او جوړول دده دزمانی محصول او یادده داو لادې یادګار دی چه سرماله پیړۍ سلسلې نقشی او ډولی معبد وا وس لا هم دصنعت له عجائبو څخه ګڼل کیږی. په کوشانی عصر کښې دګریک او بودیک دهیکل تراشلو دصنعت ترقی دمجسمو په جوړولو کښې د هغو دنژادی عنصر دتاثیر له مخې واضحه معلومیږی.

دکابل په موزه کښې دهډې دآثارو په کولکسیون کښې په سوو سرونه او صورتونه شته چه په مسما صرکوشانیانو پسې چه تیر کشا ته او پسرانه پر یتونه اونوری ښې ئې دراود لې.

په همدغه توګه په کوشانی عصر کښې ادبیات نوی او جدی مرحلی ته ورسیدل.

دعالمانو دتربیت او دروحانیو تبلیغ او دمذ هبی کتابو نقل او ترجمو دهغو ځایو دپاره چه د ننه په امپراطوری کښې او د بودائی دین نه دباندې ی تعمیم شوی وو، لیکوالی او ادبیات نوی او جدی مرحلی ته ورسول. په کوشانی عصر کښې برهمی رسم الخط چه هغه ته «دکوشانانو سانسکریت» هم وائی او «خروشتی» رسم الخط چه

ACKU

پوځ، مېږدې په مسکوکاتو کښې او دغه زمانې په لوحو او آبدانو او لیکنو کښې زیات په کار شوی او مروج او معمول ؤ. (دکنیشکا او دهغه دپلار دی په مسکوکاتو کښې ندی استعمال شوی) په همدغه ډول دغو نانو کوشانی رسم الخط مخصوصاً په مسکوکاتو کښې مستعمل ؤ کوشانی پاچاهان په تیره کنیشکا دخپل وخت له ستړو پوهانو او علماو وسره محسور او ورسره ئې ګېرن لاره، او دمذهبی مشاورینو په شان ادبي مشاورا او مصاحب ئې هم درلود، چه هغه (اسوه کوشا) ؤ، اونو موږ ی دکوشانی عصر دسانسکریت خوراستر لیکوال او ادیب ګڼل کیده.

«اسوه کوشا» دادب په مختلفو برخو کښې زیات کتابونه لیکلي دي. سیلون لوی وائي چه (اسوه کوشا) دغوره او مهمو آثارو دلیکلو له کبله د لیکوالیه ډول ډول د زوازی پرانستلی دی، دغه عالم د رامه، رزمی اشعار، رومان، قصه، دکل او نور د اسی شیان لیکلی دی او پخپل عصر کښې ئې دادبی مشاجری دروازه پرانیستله او دبودا پخوانی بیانات او هغه آثار چه پټ و و او خوړک و ربانذی نه په هیڅ په ډیره زړه ورتیا سره په ادبي ژبه بیان کړی او راوړی دی. (۱)

موسیو ګاستن کورتی لیر GaSton Courtiiliar د «هند پخوانی مدنیتونه» نومی کتاب کښې په ۱۳۰ مخ کښې (دکوشانانو دعصر فکری انبساط) تر عنوان لاندې لیکی: دبر بر ددغو متها جمینو عصر شنله نه دی، بلکه په مختلفو زمینو کښې ئې نوی آثار منځ ته راوړی دی چه بنا ئې په صحیح ډول دهغو د هیڅ یوه تاریخ نه شي ټاکل کید ای، خو هغوی تول دیوی داسې ستری او نادری دوري شاهدان دی چه دهغې په زمانه کښې فکری او ادبی فعا لیتونه د ترقی او انبساط دوری ته رسیدلی وو. لکه چه «ماکس مولر» په ۸۸۲ کښې فرض کړی دی داسې څرګند یږی چه دکوشانیانو پر خلاف نو داد بیانو دز مینې په خپریدلو کښې کومه وقفه او ځنډ نه دی پیدا کړی، او د «مهابهارانه» او «را مایانا» دملی رزمی عصر چه دیر پخوانی او زیات قدامت لری او دسانسکریت درنسانس دپیری ترمنځ چه له پنځمی پیړۍ څخه عبارت دی، سره پریکړه او جدائی نه ده راوستلې.

---

(۱) دلیند سی وی لیترا تر پس ۱۳۳-۱۳٤ مخونه.

ACKU

مؤلف په هغه اثر کښې چه د مخه یاد شو په ۱۳۱ مخ کې په دې ترڅ کښې چه د مذهب او آرت له نقطې نظره څخه د کوشانیانو د عصر تعریف کوي د دغو موږ ی عصر داد بې حیات په موضوع کښې داسې لیکي :

چه د کوشاني عصر دا دبیانو له نقطې نظره څخه داز موږنې دابتدائي او نیمګړو او ناقصو کوښښونو دوره نه ده ؛ بلکه د سانسکریت او پراکریت د آثار و د خپرېدو او ترقۍ عصر دی.

د لویو کوشانیانو په عصر کښې سانسکریت او پراکریتونه او د سیتي د لهجه چه پخپله کوشاني مخصوصه لهجه وه په آریانا کښې معمول او مروج وو د بودائي دین دستورونه او ادبیات چه په افغانستان کښې ئې تقریباً زر کاله رواج درلود، زیات ئې په سانسکریت او څینې ئې په پراکریتونو لیکل شوي دي ؛ بودائي روحانیونو چه پاز رګونو کسانو وخپل زیات وخت به ئې د هیواد په معبدونو کښې په تصنیف او تالیف او ترجمه او د آثارو په نقل کولو تیراوه، دا آثار لکه چه په بامیانو او ګلګت کښې کشف او پیدا شوي دي عموماً د ونې په پوټکو ل نازکو پوټکي باندې چه ژېړ رنګي کاغذ ته ورته دي لیکل شوي دي، زیاتره ئې په تور رنګ او کله کله هم په سره رنګ لیکل کیدل د حیواناتو څرمنې او پوستکي او تې به ئې هم د لیکنې د پاره استعمالولې، هغه آثار چه په ۱۹۳۰ کال د بامیانو ۳۵ متري بت ته نژدې د (G) د معبد په کتابخانه کښې پیدا او کشف شوي دي، د کابل په موزه (د بامیانو په خونه) کښې پراته دي، او یوه برخه ئې موسیو سیلوان لوی مطالعه او کتابي ده (۱) لکه چه د رسم الخط په مبحث کښې مو بیان وکړ کشف شوي آثار د لیکنې د ډول له نقطې نظره څخه د (کوشانا) او (ګوپتا) په رسم الخط او په مرکزي آسیا کښې په مروجو رسم الخطو لیکل شوي دي چه ټول ئې له ۳ پیړۍ څخه تر ۸ مسیحي پیړۍ پورې وخت نیسي د بامیانو د لیکنو زیاتي قطعې د ابهي د هرمه د رسالو په فصلونو پورې اړه لري، چه د بودائي (د نجات لوېي لارې) پیروانو به هغه لوستلې او د دغي رسالې څینې نورې په ګلګت کښې هم کشف شوي دي، د بامیانو په لیکنو کښې د (نجات کوچنۍ لارې) د پیروانو د یو مذهبي اثر (وینایا

---

(۱) د ژورنال ازیاتیک د مجلې د ۱۹۳۲ کال د (ژانویه - مارچ) ګڼه دې وکتله شي :

(vinaya) د کتاب د اصلي متن ټوټې هم پیدا شوي دي دا کتاب د ګوپتا په رسم الخط لیکل شوی دی او د سیلون او ی د تحت پیتاتو څخه څرګندیږي چه په ٦ مسیحي پیړۍ کښې لیکل شوی دی که څه هم د دغه کتاب د لیکلو تاریخ داوېو کوشانیانو له دورې څخه څو پیړۍ وروسته دی خو پخواني روایتونه پر دې حکم کوي چه د نوموړي اثر لیکونکی هماغه خوراستر لیکوال «اسوه ګوشا» دی چه د لوی کنیشکا په عصر او دربار کښې ژوندون کاوه او د ده آثارو ته مو د مخه اشاره وکړه.

«وینایا» هغه خوړ امهم او غوره بودائي کتاب دی چه نکلونه او دستورونه او مذهبي آداب او اخلاقیات پکښې لیکلي شوي دي دغه زیاتره نکلونه چه له (دیویاودانا Divyavadana) نومي بل اثر څخه اخستي شوي دي. په اصل کښې هغه مستقل نکلونه دي چه د (وینایا) په کتاب کښې ئې له نورو اخلاقي او مذهبي نکلونو سره ارتباط موندلی دی او بیا ورې مصنف او لیکوال «اسواګوشا» هغو ټولو ته د خپلې لیکنې په روش او احد سبک وزکړی دی.

له نادرو اتفاقاتو څخه یوه داده چه د «وینایا» د کتاب کشف شوي پاڼې چه په بامیانو کښې موندل شوي وې هغه ړخت چه د کابو دپاره سیلون او ی ته ورسیدلې د دغه اثر د بل نقل پاڼې حتی د هغه د یو فصل پاڼې (۱) د کشمیر په ګلګت کښې پیدا شوې او د هغه په لاس ورغلې وې البته د بامیانو او د کشمیر د نسخو دواړو پاڼو په منځ کښې په قطع او د لیکنې په طرز کښې توپیر شته خو داسې ثابتیږي چه په آریانا کښې د هندوکش په جنوبي لمنو کښې د نجات د کوچني بودائي لیاري پیروانو چه د وینایا کتاب هم په دوی پورې اړه لري د هیوان تسنګ په شهادت او تائید معبدونه او جامع ګانې درلودلې.

د بامیانو او ګلګت د کتابخانو له کشف او پیداکیدو څخه پخوا د (وینایا) د کتاب د سانسکریت اصلي متن بیخي مجهول ؤ یوازې د چینې او پالي ترجمو له مخې ئې هغه پیژانده. د دغه اثر چینې ترجمه د «بودهابهادرا» او (فامین) له خوا شوې ده. لکه چه د دغه چینې او پالي ترجمو له مخې داسې معلومیږي چه د «وینایا» کتاب پر اخلاقي نکلو او قصو او د راهبینو او غیر روحانیونو په منځ کښې پر مناظرو او جګړو مشتمل و د «وینایا»

---

(۱) دغه فصل Samgharaksita (سمغره کشیته) نومیږي.

چینی ترجمه د ترږدې تګه) یعنې ۱۱ د ترونو ترکړې کلاله چاپ چې په تورکیو کښې چاپ
شوېده او ته تورکه د داوېدنه تبتي ته ترجمه دیارلسو توکه ده او هر توک ئې په منځنۍ اندازه
۴۰۰ - ۵۰۰ پاڼې دی په کشمیر او بامیانو کښې د سانسکریت د مجهولو متنونو دیوی نسخې
داو او وندل کیدی مونږ ته د اهیله پیدا کوی چه د افغانستان د معبدونو په خرابیو کښې به
زمونږ د پخوانیو عرفانی او ادبی آثار و شواهد پیدا او کشف شی لنډه دا چه د لـ و بو
کوشانیانو عصر په تیره بیا د هغوی مشهور پاچا کنیشکا د سلطنت دوره داد بیا تو او صنعت
د ترقۍ له دوره څخه یوه دوره ده چه تر اوسه پورې ددغې دورې له علمی او ادبی آثارو
څخه یوه برخه کشف شوې او تحلیل او ترجمه شوې دا ربله برخه ئې لا پټه او مجهوله ده
او په آینده کښې به د هغې له منځې څخه هم پرده پورته شي

<u>موسیقی:</u> موسیقي چه د ویدی عصر له پخوا زمانو څخه د آریانا د غرونو په درو کښې
بوامَاس درلود، د مملکت د مختلفو مذهبونو په سیورې کښې ئې بر له پسې خپل تدریجي
سیر کړی او همنوائی ئې ور سره ښکاره کړی د او ترکومې اندازې پورې چه د هډې او کاپیسا
د مجسمو او د بامیانو د معبدونو له رنګه تصویرونو څخه ښکاره ږیږي داوېو کوشانیانو په دوره
کښې ئې هم ترقي کړله

بودائی مذهب چه د بشري رنځ، درد او ناروغتیاو د علاج په فکر کښې و د موسیقی په
غږ او آهنګ سره تر ټولو زیاتې اندازې پورې زیات روحي رنځونو او دردونو ته تسکین کول
او زړونو د آرامۍ او د صلح خوښتنې او د ژورو تفکراتو او روحي خوشالتیا د پاره ئې
زمینه تیار وله د بامیانو دیو رنګینه تصویرونو او د هډې ګچي مجسمې چه د موسیقي غږ ورنکی
او غږ اوریدونکي او نڅیدونکي یعنې رقص کوونکی په ساز او سندرو بوختی ښکاره کوی
د بامیانو له ښایسته تابلوګانو څخه یوه داسي صحنه ده چه یو لوړ هار په خوا کښې دوی.
میلمې ناستی دي او پخپلو زړو او نازکو ګوتو د هغه په تارونو لوبی کوی د بامیانو په رنګه
تصویرونو کښې د رقص او موزیک د ال صحنی اوس هم شته چه ښائی شینی ئې د اوبو
کوشانیانو له زمانې څخه تازه او نوی وی خو سره له هغه هم د هغې دورې د رسم و رواج
او روح څخه په ښه ډول نمایندګي کولای شي، له هاې څخه په همدغه زمانه کښې چه هغه

ACKU

هیکل تراشلو د صنعت د ترقۍ دوره بلله کېږي ؛ د داسې هیکلونو ترڅنګ چه کوشانی مشران او سربنزران او نژادی ښیونه ښیي د موسیقۍ غږونو نکوبو مجسمه چه د موسیقۍ ډول ډول آلات او اسبابونه ورسره دي لکه رباب ، شپېلۍ او ډهول او داسې نور لاس ته راغلي دي چه د کابل د موزې د هادې په خونه کښې د هغې نمونې شته سیاون اوي د کنیشکا عصر د داستانو له مخې داسې لیکي چه (اسوه کوشا) یعني د کنیشکا د دربار هغه او سیدونکی سحر کار لیکوال چه د هغه ادبي اثار و ته مو دمخه اشاره وکړه په موسیقۍ کښې ئې هم مهارت درلود او موسیقي ئې د بودائي دین د خدمت دپاره استعمالوله وائي چه (د ده د موسیقۍ آواز او ساز د برزیات تاثیر درلود او درد ونه به ئې آراموله هغه خوك چه د غمونو تر بار لاندې به کوږ او کړوپ (خمیده) ؤ هغه به ئې خوشحاله او سماوه او له ادیانو څخه به ئې د خلکو مخه داسې اړوله چه خپل کار و نه او خپل شغلونه به ئې اربښو دل او په یو به ئې مذهبي قوانینو ته مخه کوله او ګوښه به ئې شوه کوله او ښځانو نه به ئې ورکټ کړل کنیشکا پاچا و بریده چه داسې ونه ئې چه د ده د مات خلك داسې سحرناکه موسیقي وا وري ا و خپل کورونه پرېږدي او هیوادخالي پاتــه شي (۱) لــه دغــه کـو چــنـی حـکـــا یــت او نکل څخه د اسې څرګندېږي چه د کوشانی امپراطور کنیشکا په زمانه کښې موسیقي هم ډېره ترقي کړې وه او د افغانستان د خاپسته غږونو په لمنو کښې دهیوا د په معبدو کښې ماهرو استاذانو د غه غږ ره فن ته ترقي ورکړې وه او د بشري روحي او باطني دردونو د آراموولو په لاره کښې به ئې له هغه څخه زیات کار اخیست.

له رومیانو سره د کوشان د امپراطورۍ د تجارتي روابط : په پخوانیو او د مخنیو

مخونو کښې مو د هغه وخت د چین د هان پانو او د روم د قیصرانو د دولتونو دولتو سره د لویو کوشانیانو د داخلي او خارجي سیاست تر عنوان لاندې د آریانا د کوشانی دولت د سیاسي دوستانه تعلقاتو تېنګېدل بیان کړل.

د هانیانو او کوشانیانو او رومانیانو د دریو ستروا وزورورو امپراطوریو د پیدا کېدو او د هغوی د سیاسي موافقو له کبله له لیرې شرق څخه د اروپا د غرب تر آخره پوري

(۱) دلبند سیوری ابزاتریس (هنده ده نیت بخش) ۱۳٤۲ مخ

یوه فوق العاده ارامی او امنیت موجود و، دا یوه ښکاره خبره ده چه امنیت خاص بیا هغه امنیت چه د هغه لمن ارته او افق ئې پراخ وی د تجارت د پراختیا د پاره زیات تاثیر لری او په کوشانی عصر کښی د «آریانا» د تجارت د ترقی د پاره دا یو ستر عامل و، او د مال التجارة د ترانزیټ مسئله ئې ښه آسانه کړی وه، سربیره پر دی نور هم داسی عوامل و چه په دغه عصر کښی د ښو اتفاقاتو له امله د آسیا او اروپا عمومی (امنیت او آرامی) سره یو ځای شوی دو رکړی ئې راکړی او د پیرودلو او پلورلو، د تبادلو او د مال التجاره د وړلو او راوړلو زمینه ئې برابره کړی وه، د چین او د روم د امپراطوریو ترمنځ د کوشانی امپراطوری جغرافیائی وضعیت داډول و چه د هغه وخت ټولې لویې لاری له هغه څخه تیریدلی پدی ډول چه له باختر، سغدیان او فرغانی څخه یوه لاره د چین خواته تلله، او بله لاره له باختر، بامیانو او د کابل له ناوی څخه د امپراطوری د هندی برخو خواته تللی وه او دریمه لاره له چین څخه راغلی وه د کشمیر او پنجاب له لاری هند ته رسیدله، په دی ډول سره بیا هغه مال التجاره څخه چه د غربی هند او د روم د امپراطوری په منځ کښی د سمندر د لاری څخه وړل او راوړل کیده تقریباً د آسیا او اروپا ټول تجارتی مالونه د کوشانی امپراطوری له خاوری څخه تیریدل او د دغو مالونو د تراغیک په لحاظ دوی ته زیاته گټه په لاس ورتله، له بلی خوا د روم نو پیسو چه د عیار د صافوالی او د خپل ښه ثبت له حیثه ئې امتیاز درلود د آریانی، هندی او چینی سوداگرو مخه ئې د ځان خواته اړولی وه له بلی خوا چینیان چه خاص د سوداگری د کار د نه ئې کول په دی وخت کښی میدان ته راوتل او تقریباً د برنی آسیا ټول تجارت ئې په لاس کښی درلود او دا څیزونه هر یو په خپل ځای کی مهم او موثر وو او په یو عصر کښی د دغو ټولو شیانو شته والی د کوشان په زمانه کښی د آریانا د تجارت له ترقی سره زیات کومک وکړ او زمینه ئې ښه مساعده کړی وه، وروسته به هغه تجارتی مالونه چه روم نیانو به عموماً له شرق څخه را نیول یاد کړی شی خو اوس مو د لاسه دا خبره خیره و چه د «وریښمو» او د وریښمینو ټوکو مسئله د دغه وخت د تجارت په پراخوالی او د روم له امپراطوری سره د سنکیانګ (چینی ترکستان) په ارتباط کښی او حتی له نژدی آسیا څخه د وچی ستری تجارتی لیاری په پیدا کیدو کښی چه ځینی وختونه به د «وریښمو د لیاری» په نامه یادیدله زیات اهمیت لری او په دغه باب کښی ئې مهم رول لوبولی دی

وروستیو پېړیو ته نې پو ګټور او ښایسته تجارتي مال دی چه په خراسان، دنیا کښې هېڅا له هغه ځخه مخه نشوای اړولای، د مرکزي آسیا د پوهنتو وله خېمو او کېږ دیو ځخه نیولی د روم د پادشاهانو ترغوږه او لوړوما پېبیو پوری نړ او هغو ته پر تیالر له او پوه ځای کښې هغه اخیستل کیدل او خریدارانې درلود.

نو باید چه و ویښو لیاره د دراړدای او د مرکزي آسیا په تجارت کښې نې مهم رول لو بولی وی، آیا دامهمه تجارتي لاره (دآریانا) په کوم ځای تېرېدله ؟

او بیله دغې لارې ځخه د کوشان په امپراطورۍ کښې نورې مشهورې لارې کومې وې ؟

تر پوو ځته پورې رومیانو بواځې د هند د غربي سواحلو سره د تجارتي روابط درلود ل او خپلې اړتیاوې ئې دبحر له لیارې پوره کولی «استرابن» لیکی:

چه بواځې د هند د تجارت د پاره ئې پوسل و شل بیړۍ درلودې چه په هغه وخت کښې به د «میوس هو رمس MycsHormcs» له بنار ځخه د سره بحر په غاړه راتلې او د هند خوا ته به تللې «پلین» داسې څرګندوی چه د روم امپراطورۍ به په کال کښې د ۵۰ ملیونو «سسترس Sesterees» تجارتي مالونه له هند ځخه رانیول او روسته له هغه چه «هیپالس Hippaloa» نومي پوهاند په ۴۵ مسیحي کال کښې د موسمي بادونو وخت کشف کړ نو د هند له غربي سواحلو سره د تجارت د پاره غربیان به زیږور شول خو سره له هغه هم چه دریانو ردی فنونو پراختیانه له نو دغرب په بحیره او دهند په اوقیا نوس کې مسافرت له ویرې ځخه خالي نه و او له بلې خوا دغربي نړۍ اړ ای او اړتیاوې بواځې دهند له غربي غاړو ځخه هم نه پوره کیدلی ترڅو چه «مقدونیې «مائس تې تیانو س Maestitianus» نومي پو نفر سوداګر دپانځترا و مدیترانې په منځ کښې وچه لاره کشف او پیدا کړه او ددغه اقدام علت په حقیقت کښې د «ورېښمو» مسئله وه او حق لری چه «الاره د ورېښمو لاره» و بولو ځکه چه دغه مقدونې سوداګر په شام کښې تجارت خانه لرله او غوښتل یې چه دورېښمو د او بدلو او د هغو د رنګولو مهم مرکزونه چه د (انتیوش Antioche) (انطاکیه) بریت «Beryte» سیدن «Siden» او «تیر Tyr» ښارونه دی په شرقي ترکستان (سنکیانګ) کښې دورېښمو له مهمو بازارو سره مستقیماً و نښلوي او وصل ئې کړی، په دغه وخت کښې د ورېښمو

خوراهم مرکز دغه و روستنی ځای ؤ چه یونانی جغرافیه لیکونکو هغه له دی کبله چه دچین او هند په منځ کښی پروت ؤ «سربند Serind» یعنی (هند و چین) باله او دهغه مهم بازار دآسیا دهغه وخت دهانیانو او کوشانیانو ددو وسترو او متمدنو امپراطوریو په ګډه سرحد کښی د(ایسدون سیتیکا Issedonseythica) (کاشغر) او (ایسدون سریکا Issedonsryca) (ختن) په ښارو نو کښی ؤ لکه چه ددغی سیمی و ریښم به دپارتیانو په قلمرو کښی دبابل دښار دصنائعو خاوندانو او بزازانو و من په امپراطوری کی دتیر، بیریت او داسکندریی دښار و نو خلکو ته انیول او هلته به یی ورځخه جوړولی ، دمدیترانی د ساحلی ښار روا و د شام له ښارونو ځخه د (وریښمو لاره) له (هیرا پولیس Hiercpolis) (دفرات له غاړی) ځخه تیریدله او دتیانشان او پامیر لمنو ته رسیده له که ښه او اضح و وایو دغه ستره لیار هو روسته له هغه چه له شام ځخه به راووته دبین النهرین په خاوره کښی به د(ادس Edess او (نصیبین Nisibe ) له ښارو نو ځخه او په مدیا کښی له (هکبتان) همدان او (راجس Rahgss ) یعنی ری ځخه او د(سیردره Sircara) له ګردنی ځخه په مازندران او هکا تومپی لوس Hecatompylcs) (شاهرود) کښی دمروی او هرات ترمنځ له شاؤ خوا ځخه تیریده بکتریا بلخ ته رسیده له ، وروسته له هغه دالو یه لاره دسرخاو دوخش دنا وی له لیاری او د «قزل ارت» او «قزل سو» له در و ځخه دکاشغر او تارم ښارو خواته تلله ، هغه ځای چه په هغه کښی به تجارتی مالونه سره تبادله کیدل او چینی سوداګرانو او دشام سوداګرانو به سره یو ځای کیدل هغه د «روشان» او داوسنی «فرغانی» په شاؤ خوا کښی یو ځای ؤ چه «الی تینوس پیرګوس Lithincs-Frygcs» یعنی (ډبرین برج) بلل کیده ، چینیانو یادرو مانیانو په ژبه (سرانو Seres) وروسته له اوږده او یاشتنی مسافرته د(سی-نګان-فو Si-Ngan-fou) دلیری پروت ښار او نور و ځخه به یی خپل دوریښمو بارونه په «سربند» کښی اچول او دشام له سوداګرو سره به یی مبادله او معاوضه کول.

له دی او یی لیاری ځخه نور ښاخونه او لیاری چه دهند خواته تللی له بکتر (بلخ) ځخه جلاشوی دی چه یو ه یی د قند و زاو اندراب او دکوشان ددری یاد ښکاری دری

ACKU

دلاری څخه او باختر ته د باميانو او غوربند د دری له لیاری د کاپیسا او کابل ناوی ته ورتله او له هغه ځای څخه به یا هند ته تلله .

بله لیاره چه د لمر ختیځ ترکستان څخه د کوشان د امپراطوری هندی برخو ته برابره ورتله ، له هغه ( کیوئن سن Corencin ) او (مستاغ ) او د کاشغر له یوی برخی او د قراقرم له غرو څخه تیریدله او کشمیر ته ورتله او له هغه ځای څخه به د اندوس د سیند د کیڼی غاړی په اوږدو کښی تلله او د « مینا گارا Minnagara » بندر ته به رسیدله ـ چینی رومی شامی سوداګران چه دو چی دلاری مسافرت او زحمتونه به ئی نه شو گاللای نو دوریښمو داخستلو د پاره به د غه بندر ته راتلل .

سر بیره پر ریښمو چه ډیر زیات به له دغو دوو پورتنیو لیارو څخه له « سر ینډ » څخه د باکتر ( باختر ) له لاری د غرب خوا ته او د کشمیر دلاری د جنوب خوا ته په بحری ورتلل ؟.

بخپله د کوشان له امپراطوری څخه به نور ډیر تجارتی مالونه اخستل کیدل لکه د کابل گندهارا او کشمیر وریښم او سره زر ، د سند کناره د مالوا پنبه د بدخشان لاجورد ـ د پنالی پوتر الاکا او نباتی عطری او خوشبویه شیان او نیل ، عقیق او نوری قیمتی ډبری به د روم د سمندر د لمر ختیز و غاړو سوداگرو په زیاته اندازه اخیستل او په جگه بیه او قیمت به ئی د روم په امپراطوری کښی خرخول .

په همدغه شان چینیانو به په آریانا او فارس او شام کښی ډیر وچور شر و شیانو او محصولاتو ته احتیاج درلود لکه چه ورانجه به په زیاته بیه له آریانا څخه اخستل کیدل او د چین ملکی به پخپله د خان او سلطنتی دربار د میرمنو د استعمال د پاره ډیر زیات او په زیاته بیه رانیول او د بابل قالینی ، د شام جواهرات او قیمتی او مصنوعی ډبری او د سری بحیری د غاړو مرغلری ( مرواریډ ) او په شام او مصر کښی اوبدل شوی ټوټی او مخدره دارو گان او نور شیان به چین ته تلل :

پخپله آریانا او د کوشان د امپراطوری هندی ولایاتو به سربیره د خپلو محصولاتو پر خرڅلاو د تجارتی مالو له ترانزیت څخه به ئی هم زیاته گټه اخیستله ، هر کله چه د آسیا تولی اوبی تجارتی لیاری د دوی له خاوری څخه تیریدلی نو د چین او هند او د روم د امپراطوری ټول تجارت د دوی په لاس کښی ؤ

ACKU

لهغرب سره دکوشانو د تجارت ترقي د دوهمې مسیحي پېړۍ په اخيرو وختو کښې په تنزل او انحطاط پيل وکړ ، د ساسانيانو د قدرت موندلو او واکمنۍ سره سم د شرق خواته د روميو سوداګرو تګ او راتګ قطع شو خو تر دغه وخته پورې هم د وريښمو د لارې په لمرختيزو برخو کښې لا قافلو تګ او راتګ درلود. او دغې روېې د کوشان دستړو پاچاهانو د عظمت او ترقۍ د دورې تر اخره وخته پورې دوام درلود چه د يفتليانو او ساسانيانو د جګړو له کبله د آسيا د دغې برخې امنيت خراب شو او د آريانا او چين او فارس تعلقات او روابط بل ډول شول. او هر مملکت جلا او جلا شو او د سوداګرۍ نظام ئې ويجاړ شو او هر کله چه د وچې لیارې بندې شوې نو روميانو د سمندري تجارت پر اختيار ته مخه وکړه او د بېړيو په واسطه د اندوس د ډلتا او د هند د سواحلو څخه يو ته راتلل او د وچې لیارې د چينګز ترو څخه پورې بندې پاتې شوې.

جامې :- د کوشانيانو د جامو له نقطې نظره څخه نه د چينيانو او نه د فارسيانو او نه د هنديانو په شان وو بلکه ځانته مخصوصې جامې ئې اغوستلې چه په مرکزي آسيا او تبت کښې معمولي او مروجې او په لږ توپير سره تر اوسه پورې هم په افغانستان کښې مروجې دي. په هغه ستره د بړينه تخته باندې چه د بګرام د شترک په معبد کښې کشف او پيدا شوې ده او ۹۰ سانتي متره اوږده او ٤٠ سانتي متره سور ورده او د کابل په موزه کښې شته د مرکزي بودا د مجسمې نه ګرچاپېره ٣٤ تنه نور روحاني او غير روحاني اشخاص معلومېږي چه په هغو کښې دوه تنه کوشاني بسپنه ورکوونکي له ځانو ښځو سره هم ليدل کېږي زېږې يې ګڼې او نرې د لوړې پوزې او غټې سترګې او برابر او متناسب اندامونه لري او نور هغه شيان چه د يو آريائي سپېټي فرد بدني خصوصيات ئې تشکيلوي په دغو کوشاني بسپنه ورکوونکو نجيبانو کښې په ښه توګه جمع شوي دي ، د نارينه جامه ئې يو چپن لرونکي شلوار دی چه له سر نه تر پښو پورې چپن لري او دغه چپن لرونکي شلوار له نقش صاف او ساده شلوار سره يو ره شباهت لري او

کميس يې عيناً داسې اوږد کميس دی چه وړې پېړۍ په افغانستان کښې معمول او مروج و او غاړه يې يوې خوا ته تړله کېږي او په ګرېوان کښې چپن لري چه له ځنګ و څخه کښته راغلې دی او په يوه انځور چه عموماً د نوي مياشتې او يا د شپږ

پاییزګل په شکل او په سینه باندې تینګ ساتلي چه د لمنې دواړه خواوې ئې سره جلا شوي او لستوڼي ئې له اوږې څخه ښکته تر بندو پورې چین لري او نسبتاً تنګ دي او د هغه د ښکلي او ښایسته اوږد لیچ او مټ شکل په ښه ډول ښکاره کوي. او د ښځو جامې ئې اوږدې او لمن ئې پرکونه لري او مواج دي او د ښځې قد ډیر ښایسته او لوړ قدئي پټ کړی دی. د افغانستان د کوشاني عصر د جامو نښې او شکلونه د هډې او کاپیسا او کابل د مجسمو او هیکلونو له مخې او د بامیانو او ککړك د دړې او د فندقستان د دړې د دیوالي رنګینو تصویرونو له مخې معلومیدل او څرګندیږي. هر کله چه د کوشاني پاچاهانو تصویرونه د هغوی په مسکوکاتو باندې ضرب شوي دي او سربیره پر دغه حتی د دغو هیکلونو او په تیره بیا د کنیشکا د طبیعي قد او قامت په اندازه د (متور) ته نژدې له «مات Mat» نومي ځای څخه کشف شوی دی.

کیدای شي چه د دغه عصر پاچاهي جامې او عسکري لباس او د وسلو شکل او ډولونه د مجسمو او بوتونو د ډول د هغوی له مخې مطالعه او وکتل شي.

لکه چه په مسکوکاتو باندې د کوشاني پاچاهانو د تصویرونو له مخې او له «مات» نومي ځای څخه د لوی کنیشکا د کشف شوې مجسمې له مخې څرګندیږي کوشاني پاچاهانو ترڅ اوږدې او پیړې او د بلې جامې اغوستې د هغوی کمیسونه به په عمومي ډول اوږده او له ځنګنو څخه به کښته وو لکه چه له هغه هیکل څخه چه په هډه کښې کشف شوی دی څرګندیږي (۱) چه دا کمیس یوه غاړه لري چه څنډې او غاړې ئې په ګلانو او خامکدوزي شوي دي، او معمولاً ګرچاپیره لمن به ئې هم خامکدوزي کړې له په کومه اندازه چه د مسکوکاتو له مخې ګمان کیږي او د کنیشکا مجسمه واضحه ښکاره کوي دا کمیس له پیړو او د بلو توکو څخه جوړیده او په اسانۍ سره به نه غبرګیده او پر دغه کمیس باندې به ئې د څرمنې یو کمربند تاړه. د کنیشکا کمیس له ملا او کمربند څخه لاندې یو ډول مارپیچه لیکې هم لري چه د کمیس د بخیو کرښې ور څخه څرګندیږي کنیشکا تر کمیس دپاسه یو اوږد داوار ته چپن اغوستی د چه د کمیس له لمنې څخه او رګوتي

(۱) دا هیکل د کابل په موزه کې د هډې په دریمه خونه کې دی

او ز د دواو چېن د هغه عصر په مسکوکاتو او مجسمو او دباميانو او فندقستان په ديوالي
تصويرونو کښې هر ځای ايدله کيږي او دکوشاني عصر بوځانګړی او مخصوص لباس
دی چه تقريباً د ټولو طبقو خلکو به اغوستو او زياتره دکوشان د ترقۍ په عصر کښې يا
د لوی کوشانيانو د زمامدارۍ په دوره کښې يعنې په دوهم او لومړي مسيحي پېړ کښې ئې رواج
او عموميت درلود ځکه چه له دغې زمانې څخه وروسته دکوشانيانو هغه اوږدې او ارتې
او پېړ چاپې ورو رو تنګې ، لنډې ، نازکې او نرمې شوې او دساسانيانو ګاونډيتوب او
نفوذ د هغوی په لباس کښې زيات تاثير وکړ او په پای کښې دشپږمې او اوومې پېړۍ د نيږيدو
سره سم پاچاهي جامې ډېرې تنګې شوې چه بيخي به په بدن پورې نښتې او د بدن په څېر به
ښکاره کېدلې او د هغو ښايسته نمونه د پاچا او ملکې په هغه هيکل کښې ځرګنداويد له کيږي چه
د فندقستان (غوربند دره) په معبد کښې کشف شوی دی او د کابل د موزې د فندقستان په —
خونه کښې شته او د هغو مسکوکاتو له مخې چه پيدا شوي دي ځرګنديږي چه د هغه تاريخ [۷]
مسيحي پېړۍ ته منسوب بيدلای شي هر کله چه زموږ مقصد په دې ځای کښې د لوی کوشانيانو
د زمانې د جامو بيانول دی نو د پورتنيو مطالبو تعقيب کوو

او د هغو خاصه مميزه داوه چه ملکه چه موږ ويل لوړ ږ ينو يا پښه ئې پېړ و نو ټو څخه يا به له دامنې
تر ژ ځخه ښکښتل کېدلې او ګنډل کيدلې چه د ليمخې په شکل به ښلې کيدې او د هغو
برش او ښکښت ډېر ساده و ځکه چه د تنيو چېنو په شان به ئې له ګريوان څخه تر لمنې پورې
وازه او سم چاک درلود او له ملا څخه کښته تر لمنې پورې به د هغه دواړه څنډې د يو مثلث په
شکل قات او راغبرګولې چه د کميس لمن او خامکه دوزي او کمربند ئې ښکاره شي او په تګ
او ګام اخستلو کښې هم کوم تکليف او بندش پېښ نه شي په ځينو مجسمو کښې له هغې جملې
څخه دمشترک ډ بوکو شاني پېړۍ په مجسمه کې (۱) دکمربند په حد کښې ئې بو اته پاښيځه ګل
شته چه د چېنې دواړه خواوې ئې سره يو ځای کولې د هغه وخت د چېنو د پاره داچول اور وړه
وبړه ګڼل کېدې ، ځکه چه چېن د خپلې يو ی تنې په راسطه د ترلو او خلا صيدو دواړه و ضعيتونه
پيدا کول او دامنې په برخه کښې د تګ او حرکت مانع نه کيده .

د دغو چېنو غاړه به کله کله د دغه وخت د کميسو د غاړې په شان ګرده ښکښتل کيدله او کله کله

(۱) دکوشان دامپراطور ديمه درسالي د ۵ ـ ۵ مخونو تر منځ تصوير ردې وکتل شي .

ACKU

پهٔی یوسوړ وره چپه ګرځېدنه او د افغانستان د مختلفو ځایو د رنګینو تصویرو او مجسمو
له کتنې او ملاحظې څخه ښکاره ګنډېږي چه داو یو کوشانیانو د عصر په اوږو ختو کښې د چپنې
او کمیس غاړې ګردې وې او په وروستنیو پېړیو کښې سوړ و ر چپه ګرځېدنه چه مغزې دارې
حاشیې به ئې درلودې، رواج درلود او زیات عمومیت ئې پیدا کړی دی، هر کله چه له بده
مرغه دکوشکا مر او غاړه چه د «مات» په سیمه کښې پیدا شوې دي داوږ و له منځ حذفه نشته
نو ښه نه معلومېږي چه د ده د چپنې غاړه به کوم ډول وه خو د ده د چپنې د چاک د دواړو خواوو
له سمولیکو او له شنو او سرو وېښتو او قیطان څخه داګمان کېدای شي چه د ده د چپنې غاړه به هم
مدوره او ګرده وه، ځکه چه جامه په یو سوړ و ر چپه ګرځېدنه پای ته رسېږي لکه د فندقستان
د پاچا جامه یا لکه هغه خفتان چه د سپوږمۍ د رب النوع اغوستی دی (خفتان. هغه لباس دی
چه دوسلې نه لاندې اغوستل کېږي) یا لکه د تحفې راوړونکي لباس چه د (کتونکي په نظر
کښې) د بامیان د ۵۳ متري هیکل د رواق د ښي خوا په دیوال کښې نقش شوی دی (۱) او د سینې په
مقابل د چپنې د مخ خوا حاشیې او غاړې کږې وږې کرښې درلودې او د دغو چپنو لستوڼي په
عمومي ډول تنګ او د لاسو تر بندو پورې رسېدل او په ځینو مجسمو کښې د پېړۍ تنګې په
لاماله لستوڼي دا ډول ترات شوي دي چه سړی ګمان کوي چه په اصل کښې دا ډول ګنډل شوي
دي او له اوږو څخه د لاسو تر بنده پورې له یوې سلسلې برجسته ردو څخه
جوړ شوي وو.

دکنیشکا مجسمه چه د (ماتورا) د مدرسې په اصولو جوړه شوې ده له بده مرغه نه ئې
او ځنګلی زاری چه د چپنې د لستوڼو ډول ئې ښکاره شوی وای، یوازې ګونې ئې ښکاره
کېږي نه بل څه خو د لستوڼو شکل او ډول لکه چه مونږ ئې تعریف وکړ د شترك په کوشاني
هیکل کښې ښکاره دی.

په کوشاني پېر کښې ګیپۍ (چپن دار) پرتوګ معمول وٌ او تقریباً ټولو خلکو به هغه

---

(۱) د سپوږمۍ د رب النوع د رنګه تصویر نقل او د پاچا مجسمه د کابل په موزه کې
د فندقستان په خزانه کښې شته دی د هغو تصویرونه دي د ۱۹۴۰ کال د (دی جرنل آف دی ګریټرائل
یاسوسایټي دد وهم نمبر په اوو م توك کې وکتل شي. د نوموړي تحفه وړکوونکی رنګه
تصویر دې د بامیانو د لرغونو پېر ندنې د نوو تحقیقاتو د دریم ټوك په ۲۸ او ځه کښې
چه د موسیو هاکن او موسیو کرل تالیف دی وکتل شي.

ACKU

اغوست دځرمني اوليمځي موزې او چموس ددې پېرېد پا پوښ بلل کيد • دګنيشکا مجسمه چه د «مات» په سيمه کښې موندل شوې ده دېرې ښې درندې او تسمه لرونکې موزې په پښو کښې لري چه پوخنانه ئې د پښې د تلي (کف) نه تيره شوې او دمهميز په شان تړل شوې ده خو پخپله دمهميز هيڅ اثر نشته، پراخ او ګېډې پرتوګ او موزې دکوشانيانو په مجسمو کې چه دګندهارا او کاپيسا نه لاس ته راغلې دي ښه ليدل کيږي او بودو • ئې په ورستيو کرښو کښې بيان و و . دبګرام د شترك له معبدنه يو و ياله تيږې او ځه و نډل شوې ده چه په هغې کښې ديو بودا دوه بو ديس اتوا، ديو راهب او ديو تن کوشاني تحفه ور کو و نکې څيره ښکل او نقش شوي ده دغه کوشاني سړي د عام و خلکو له ډلې نه معلومېږي ځکه چه نيازې پر دې او ډير کميس او يو نسبتاً کم سوره پرتوګ په ځان کښې لري، دهغه دکميس غاړه ساده او مدوره ده يو کمر بند ئې دکميس د پاسه تړلى دى او واضحه ښکاره کيږي چه دهغه د پرتوګ دپيڅخولى بر جسته او قيتا ن ئې در اود، سر او پښې ئې لوڅې دي ځکه چه نلري ټکه چه معمولاً به دقوم خانانو او پادشاهانو په پښو کولى (۱) په يوه باله لوحه کښې چه وسيو ها کن په ۱۹۲٤ کال کښې دچاريکارو دجنوب شرق په ١٠ کيلو متري او دبګرام دجنوب په ١ و ٥ کيلو متري کښې په (پايتاوه) کښې موندلى ده د «بوديس اتوا» (ميترويا) نه ګرچا پيره يو اته کسيز ټولګي ليدل کيږي چه په هغوى کښې ښځې او ما شومان هم شته، دوى دکا پيسا کوشانيان دي چه بودائي دين ئې نوى منلى او دخپلې تازګى عقيدې د ښودلو دپاره ئې تحفې راوړې او دغه (بوديس اتوا) ته ئې وړاندې کوې، دغه کوشانيان چه ضرورد قاملهعوام و څخه دى ساده کالي لري نارينه وو به يو پراخه کميس اغوستې چه ګرده غاړه به ئې درلوده.

او دهغه د پاسه به ئې تسمه تړله . دهغوى ددوو ټونو (سينو) په منځ کښې او ږدې او ږدې او مستطيل شکله کرښې ليدل کيږي. او ګمان کيږي چه دهغوى د غاړې څکښت به همدا دول وي . نارينه وو به پراخ پرتګونه (شلوارونه) اغوستل، او دهغو پايڅې به ئې په موزه کښې ننه ايستلي . د پرتوګ زنګونه دز نګانه په حد کښې دکميس دخولي پالمن

---

(۱) دکوشاني امپراطورۍ د سالې د پنځم مخ په مقابل کې دې ددغه کوشاني سړي څيره (تصوير) و کتل شي .

او د موزې دسرونو په منځ کښې لیدل کیږي : یو بل قسم ماسره دوله نازکي موزې هم معمولې وې چه په یوه بله کفش یا کلوش او بوټانو کښې به په پښو کیدلې لکه چه تر اوسه پورې هم په ځینو شمالي برخو کښې رواجې دي. دې ښځې کمیسونه عیناً د نارینه وو په شان وو، خولز او ږده ځکښل شوي او نیول شوې، او وود لمن غاړې او حاشې ئې یو یا دوه قطاره خامك دوزې او یا مهره دوزي لرې، شلوارئې د پښو تر بندو پورې رسیدلي دي، او دکمیس دګر دګریوان ځګرچا پیره خامك دوزي لري او دملغرو یا د مرېو، یوه مثلث شکله غاړه کي په یې په غاړه کښې لیدل کیږي او د غاړه کي په آخر کښې یو غټ ګل ښکاره کیږي. دو پښتانو دوې چو نمې د هغوی داو ږو په سرونو باندې پرتې دي (۱) دا و دلو یو کوشانیانو دزمانې کالي یعنې هغه کالي چه د لومړۍ مسیحي پیړۍ له دوهمې نیمائي برخې نه تر شپږمې پیړۍ پورې په افغانستان کښې رواج وو، او څه ناڅه دري پیړۍ یعنې تر هغې زمانې پورې ئې دوام وکړ چه تنګر او په بدن پورې نښتو کالیو رواج موندلی دی . مجسمې، صحنې او د تخته ورکو ونګو مجلسونه چه د هند وکش په جنوب سې بیلو بیلو برخو کښې لکه په هډه - کابل - کاپیسا، بامیان او په نورو ځایو کښې پیدا شوي دي د ښځو او نارینه وو د جامو اقسام او د عامو خلکو او نجباو و کالي څرګندوي او ښکاره کیږي چه په دغو دریو پیړیو کښې د افغانستان دکوشانیانو کالي ساده او دخمتا ئې او وړینو نسبتاً ډ باوا و پیرو نو کرانو څخه به جوړیدل چه پخپله به ئې وریشل او اوبدل د عامو خلکو او دقوم دمخورو او نجباو و تر منځ دکالیو په ځکښت (برش) کښې چند انې فرق نه ؤ یوائې په ښکلیتوب او دول وسینګار او ګاڼو کښې ئې از تو پیر موجود ؤ. هر کله چه د کوشانیانو دولت په دریمه پیړۍ کښې مخ په زوال روان شو او ساساني دولت دخپل قدرت اوج ته رسیدلی ؤ، او لمر لویدیزې خوا ته د هغوی د تیر یو او تجاوز و په اثر حتی په یوه زمانه کښې دکابل سیمه هم د هغوی تر (تیول) لاندې وه، له دې کبله دکوشاني زماني ساده کالي چه تر دریمې پیړۍ پورې ئې رواج پیدا کړ په څاړه په پیړۍ کښې د ساسانیانو دکالیو په تقلید دیر تکلفي شول از دا بر څخه کوچنیو کوشانیانو یادګیدار یانو په فصل کښې وګورو.

---

(۱) ددې صحنې تصویر او خیره دې په افغانستان کښې د فرانسې د حفریاتي هیئت دا جرا آتو دکتاب په (۲۹) عکس کښې ولیدل شي. دغه کتاب، دژ هاکن تالیف او په تو کیو کې چاپ شوی دی.

ACKU

# (نهم فصل)

## دګریکو بودیك صنعت

د ګریکو بودیک یاد «یونانو بو دائی» صنعت د مستظرفه صنائعو د تاریخ له نطقی نظره څخه د پخوانی افغانستان یا آریانا په تاریخ کښی لویه برخه لری د هغه د پیدا ینبت، ترقی، تنزل، مراتب او د مختلفو مدرسو او دګاوندیوا ولیرو ممالکتو په مستظرفه صنایعو کښی د هغه د تاثیر د څرنګوالی تعریف او بیان یو بل فصل مینځ ته راولی. دګریکو بودیک یا «یونانو بو دائی» صنعت چه دا فصل د هغه دپاره نا کل شو یدی په حقیقت کښی د یوی دیری پخوانی مدرسی بناخ یا څانګه ده چه هغه د (ګریکو بکتریان) یا «یونانو باختری» صنعت په نامه یادوی •

هر کله چه په افغانستان کښی د څیړنی او پلټنی او تحقیقاتو له مخ د مقدونی اسکندر د حملی له زمانی نه پخوا د ومره پر اختیا نه ده موندلی چه د صنعت د مشخصاتو په باره کښی څه وو ایو، مدققین د هغو شواهدو له مخی چه او س په لاس کی دی په افغانستان کښی د مستظرفه صنایعو د څیړنو او کتنو مبدا «د یونانو باختری» صنعت په نامه شروع کوی د یونانو باختری» صنعت څرنګه چه د هغه د مرکبا و وضعی نوم له مخی معلومیږی هغه صنعت دی چه د هغه په تعریف او تشکیل کښی د وه عامله لاس لری چه یو یونانی او بل باختری دی •

هر کله چه پخوا اله دې نه ددې اثر د هم د غه تړك دشپږم فصل په (۹۸) مخ کښی د «یونانو باختری صنعت» تر عنوان لاندی د دی صنعتی مکتب عمومی تعریف او ددو و باختر او یونانی عواملو سهم بیان شوی دی نو په دغه ځای کښی د هغه تکرار یو بی فائدی او بیمورده کاردی •

یوازی په ذهن کښی د موضوع د تسلسل دپاره په لنډه ول وایو چه شرق ته د اسکندر په راتګ سره او په آریانا کښی د یونانو باختری خپلواکې سلطنت په جوړیدو سره په دوولومړنیو قرنو کښی د ناستو یونانی څیره جوړ و ونکی (هیکل تراش) استاذ یعنی د «لیسپ» کار د باختری صنعتګرانو او د آریانا د اوسیدو نکو یونانیانو

له خوا تعقیب شوی دی او د روسی میرمن تریور د نظر یې په اساس چه د دی تولکې په تیر مخ کښې او په ورو ستیو مخونو کښې ئې بیان و شو و یلای شو چه د« یونانو باختری» صنعتي مکتب په پیدایښت او پر مخ تگ کښې باختری صنعتگرانو پوره لاس درلود د ددې مدققې میرمنې د نظر یاتو او د هغو نظر باتو سره سم چه د غی ښځې د خپلې مفکورې د تائید کولو د پاره د ښاغلی (مې یر Meyer) او پروفیسر (هرز فلد Herzfeld) نه ئې اخیستې دی د یونانو باختری مکتب د افغانستان او د آسیا د دی برخې دور وستیو دورو د مستظرفه صنایعو مبداء ده ځکه چه یونانی صنعت او د مرکزی او مینځنۍ اسیا مستظرفه صنایعو او د پارتی ، کوشانی ؛ ساسانی او د نورو دورو صنعت ټول هغه ښاخونه دی چه په مستقیم ډول یا په غیر مستقیم ډول په واسطه ئې د یونانو باختری مکتب له سرچینې نه اوبه څکلی دی :

عمومی تعریف : د گریکو بودیك صنعت څرنگه چه د دغه د وضعی نوم نه څرگندیږي هغه صنعت دی چه د دوو ارواحو تماس ، د دوو تهذیبونو ترکیب او په یوه نقطه کښې د دوو دولو عقیدو او افکارو جریان او یود بله د هغو او د گډون د هغه مینځ ته راوستی دی :

د گریکوبودیك صنعت یو ترکیبی صنعت دی چه په اصل اساس کښې د بودائی مذهبی افکارو او د یونانی صنعتی روحیاتو د گډون په اثر د هند و کش په دواړو خواو کښې زیږیدلی او پر مخ تگ ئې کړیدی د دغی صنعتی مدرسې د پیدا کولو افتخار یوازې د ظرفیت له مخې او یو ډول سره د هغوی د مخامخ کید و له کبله آریاناته نه رسیږي بلکه ددی ځای د هنر خاوندان په هغه کښې زیاته برخه لری ځکه که چیرې په دقت و شی په آریانا کښې د غو دواړو عنصرو که مذهبی دی او که صنعتی یوه خاصه روبه یولی ده چه آریائی او باختری آب وتاب پکښې شامل دی په بل عبارت بودائی مذهبی او صنعتی افکار یونانی باختری شوی او د هندوکش په دواړو خوا کښې سره یو ځای او گډ شوی او د هغو له ترکیب او نژدیکت څخه د (گریکو بو دیك) صنعت مینځ ته راوتلی دی په یونان کښې په خپلو معاصرو مسکوکاتو باندی د یونانو باختری خپلو اکو پادشاهانو د مسکوکاتو خائیست او لطافت روسی میرمن (تریور) مجبوره کړه چه د هغی زمانی په مسکوکاتو کښې د باختری

ACKU

هنروالاوو لاس لرل او مداخله ئې کړې ده د همدغه ذوق د ۱۰۱ مخ شاوخوا مخونه دې وکتل شي. د بهبئي په شاوخوا کښي د سانچي د معبد ښۍ او آثار ښکاره کوي چه په دريمه يا څلورمه ق م پيړۍ کښي ئې لا تر دغه وخته پوري جرئت نه درلود چه خپل بودا په کومه مجسمه او شکل ښکاره کړي په هره هغه صحنه کښي چه د هغې وجود لازم و د ځينو ښيو او علاماتو په ښودنه لکه چتر يادبودهي ونه او يا په ځمکه باندي د پښې نښه قناعت کړی دی يعني د هغوی صنعتي صحنې له ښيو او علامو نه ډکې وې وروسته تر دې چه په افغانستان کښي بودائي دين خپور شو د مختلفو مذهبو جوړ د په عقيده کښي د خلکو او دولت آزادي بودائي فلسفي افکارو ته پراختيا ورکړه او يو انقلاب ئې پکښي را او وست او د مذهبي مجلسو پابندي داو او نمايش کښي ئې ډير صلاحيت پيدا کړ نو که څه هم د گريکو بوديک صنعت د بودائي مذهبي افکارو او يوناني صنعتي روح د گډوالي او يو ځای کيداو په اثر په افغانستان کښي پيدا شوی دی د آرياني هنروالاوو بديع ذوق او استعداد په هغه کښي لوی لاس لري او دغه يادشوي آثار د دغه هيواد د صنعت والاوو په لاس جوړ شوي او تو ږل شوي دي.

په دې کښي شک نشته چه د اسکندر د ځمکو نيولو او فتوحاتو په سلسله کښي ځيني يوناني صنعتگران لمرختيزې خواته او له دې جملې نه آريانا ته هم خپاره شول په تيره بيا زمونږ په هيواد کښي د يوناني ماهر مجسمه جوړوونکي استاذلي سپ کارونه چه پخپله د اسکندر هيکل تراشي و ته قبيبيد ل .

خو د دوی په زمانه کښي په تيره بيا له هغوی نه وروسته پخپله د مملکت له خلکو نه په زرگونو کسانو په معماري، نقاشي او مجسمه جوړولو باندي لاس پوري کړ؛

په افغانستان کښي د مجسمه جوړولو ترقي او تکامل په لومړۍ اودوهمه مسيحي پيړۍ کښي يعني د آسيانه د اسکندر د تيريدا و نه دري څلور پيړۍ وروسته راغی هغه څه چه مونږ ئې پس له دې بودائي او يوناني بولو د هغه نه مقصد پخپله د آريانا د هنر خاوندان دي چه د مذهب او بديع ذوق له مخې د هغوی په باب کښي بودائي او يوناني صنعت حقيقت لري البته څنگه چه د مخه مو وويل د مقدوني اسکندر له فتوحاتو نه وروسته ځيني يوناني ستومانه او زخمي عسکر او کلوني يعني نور يونانيان د آريانا په اسکنديو کښي پاتې شول او طبعاً په هغوی کښي داسي

صنعتگران هم موجود وو چه یونانی صنعتی روح او ذوق ئې دهغه دښکلیتوب په کامل مفهوم سره ځپور کړ مګر هغوی ورو ورو د محلي او سید ونکو سره ګډ شول او هغه صنعتګران چه ذګریکو بو دیلګ د مدنیسي د ترقی په دوره کښې (او مړ یی اردو همه مسیحي پیړی د) دهندوکش په دواړو خواو کښې مشهور وو تقریباً ټول محلي او سیدونکي وو چه دذوق او قریحې له مخې یوناني او د دیانت په لحاظ بودائي بلل کیدلی شي د دغسې صنعتګرانو وجود او روزنه لازمه او په کار وه چه دوه جانبه استعداد، قریحې او خواصو په لرلو سره دغه یادشوی مرکب صنعت مینځ ته راو باسي.

په دغو څو لاندنیو کرښو کښې چه دعمومي تعریف حیثیت لري «بودیزم» او «هلنیزم» یعني دبودائي دیانت روح او یوناني صنعتي ذوق او دافغانستان په خاورو کښې د هغو مخامخ کیدل ترغور او څیړنې لاندې نیسو:

بودیزم: ښکاره ده چه بودائي دین په شپږمه ق م پیړی کښې دهند په خاوروکښې

داوسنې مدراس او پټنې په ښارو خواکښې پیداشوی دی او دهند په خاوره کښې د(۳۵۰) کاو ژوندنه ور وسته په دوهمه ق م پیړی کښې د موریا دپاچا آشوکا له خوا د لیږل شو ومبلغینو په واسطه دآریانا په لمر ختیز و سرحدانو او دننه په آریانا کښې ئې نفوذ وموند موسیو فوشه دغه عقیده لري چه که دهند په شمالي برخه کښې دبودائي دین د خپریدو شروع کیدل دد ریمې ق م پیړۍ په نیمائی کې و بولو نو ډیره اشتباه به مو نه وي کړې[۱] په همدغه زمانه کښې بودائي مبلغین کشمیر او ګندهارا نه راغلل او ورو ورو د ننه هیواد ته پسې راتلل په دغه ترتیب یاد شوی دین دد ریمې ق م پیړی په نیمائی کښې ګندهارا یعني د کابل سیند ی ته ورسیداو د پښور او سوات له علاقو نه د ننګرهار (هډه) لغمان، تګاو، نجراو او خوړ د کابل [بودائي کابل] ته راغلی او دکاپیسا ښکلو درو او جلګو (کوهستان او کوهدامن) ته رسیدلی دی.

نن ورځ دهغو علمي کشفیاتو او تحقیقاتو له مخې چه ځای په ځای او نقطه په نقطه شوي دي دهندوکش له جنوب نه شمال ته دبودائي دین دخپریدلو لاره او دهغه مهم منزلونه: فندقستان، بامیان، سمنګان [هیبک] او بلخ او قندوز مونږ ته ښکاره دي او دچیني زایرینو

---

[۱] دګندهارا دګریکو بودیک صنعت دکتاب ددریم ټوک ۱۴۴ مخ.

دیادداشتو او د فرانسوي پوهانو د تحقیقاتو له مخې د تېرو حالاتو او د هغو نقاطو د شواهدو په باره کښې پوره معلومات په لاس کښې دي چه بیان ئې دلته کوم لزوم نه لري.

یوازې هغه شی چه په دې مبحث کښې د هغه څیز نه ضروري دی د هر دغه ممنت د پیدا ایښت سره چه مطالعه ئې کړو مستقیم ارتباط لري دا دی چه آیا بودائي مذهب کوم وخت د هندوکش له څوکو نه تېر شوی او په کومه زمانه کښې د باختر په سیمو کښې خپور شوی دی؟

یوازې هغه مدرک چه د دې سوال د ځواب په ورکولو کښې زموږ سره مرسته کوي د آشوکا کتیبې او د هغه د زمانې د پاچایانو ذکر موږ ته یادونه ده. چه هغوی ته ئې مبلغ لېږلي دي په دې خبر یو چه آشوکا د موریا پاچا چه د دې زمانې معاصر و د هندوکش په جنوب کښې اداري او سیاسي نفوذ درلود او داسې د موریا حکمرانانو له خوا اداره کېدلی.

دغه بې اسیاحتي د مصر د یونانې پاچایانو په قطار کښې چه (د آشوکا مبلغین هغوی ته ورالېږل شوي وو) د دیودوت د یونانو باختري خپلواک سلطنت د مؤسس نوم اخستل شوی ندی. د دغو مدققینو د نظریې سره سم په (۲۵۰) ق م کال په باختر کې د خپلواکۍ او سلطنت اعلان وکړ او دا هغه زمانه ده چه د موریا پاچایانو د هندوکش په جنوبي برخو کښې لا پاتې وه (دیودوت د نوم د نه یادیدلو او د څو نورو یوناني شامي او مصري پاچایانو د نوم د یادیدلو له مخې داسې ښکاره کیږي چه د آشوکا مبلغینو د یونانو باختري دولت د خپلواکۍ له نیټې نه لس کاله پخوا پخپل سفر او تبلیغ پیل کړی دی، موسیو فوشه باختر ته د بودائي مذهب د رسیدلو نیټه د دوهمې ق م پیړۍ په اوائلو کښې بولي او دغه وخت د هغې زمانې سره برابر دی چه د یونانو باختري پادشاهانو لکه اوتیدم، دمتریوس او اپوکراتیدس د هندوکش د جنوبي خوا له برخو نه د موریا د دولت نفوذ لیرې کړ او یو قوي دولت ئې جوړ کړ او د هند په خاوره کښې ئې د ځمکو په نیولو پیل کړی و په دغه ترتیب سره د آشوکا د مبلغینو د لیږلو نه تقریباً شپېته کاله وروسته بودائي دین د هندوکش د شمال په مختلفو ځایو کښې خپور شوی دی.

هر کله چه دلته زموږ مقصد یوازې د بودائي مذهب د تګ د لارې خط سیر او د هغه د خپریدلو بیان ندی بلکه غواړو چه په دغه باب کښې څه بحث وکړو چه په دې خاوره کښې ئې څومره

زیاته اغېزه کړی ده چه د صنعت په پیدا کولو کښې ئې لاس او تړ ودو مولدکه څه هم بودائی مذهب د (مگدی) په خاوره کښې پیداشوی دی او دهغه داو مړی و دی او نشر ونماځای دهند خاوره ده مگر اهغی ورځې نه چه داندوس (سند) له سیندنه را تیر شو او په آریانا کښې ئې رواج وموند.

ددې روملتقیبنو په تعبیر دخپل پر مغ تګ او پراخوالی دپاره ئې (موعوده ځمکه) وموندله دغه ولمنې، ژوری او آرامی دری او ناوې - لوړ او جگګ ځانته ځایونه، په خاوروخ داو وحاکم نقاط، قدرتی ښکلی منظری او چینی لرونکی ځایونه دبودائی کتاره خوښوونکو او صالح غوښتونکو راهبېنو دپاره چه په آرامه دنیااو عالم سکوت کښې په ریاضت بوخت وو ډېره زیاته مساعده او مناسبه خاوره وه: لکه چه په دمد غه لحاظ دگند هارا او هانو د (کابل ناوه) (دوهمه مگدې) بللی ده:

گندهارا په بودائی دنیا کښې دومره زیات شهرت دراود چه هره ځانه او برخه ئې دساکیامونی دداستانی ژوند له مظاهرو څخه دیو مظهر سره تړلی وه دبودا مهم یادگارونه ددی علاقې په معبدونو کښې امانت کېښودل شوی وو.

موسیوفوشه هغه معبد چه کنیشکا دکوشان دامپراطورۍ دژمی دپایتخت په شاؤ خوا کښې جوړ کړی وؤ «ددنیا دېر جگګ معبد» بولی دبی له دی نه یوزر او پنځه سوه نور معبدونه یوازی په همدغې علاقه کښې موجود وو «هیاو یا (هلده) چه چینی زائر (هیوانتسنګ) دغربی هیوادو په باره کښې په خپلو یادداشتو کښې د (نگاراهارا) یعنې د «ننگرهار» په علاقه کښې دهغې نه خبری کوی ، دګندهارا دبودائی مذهب لوی نا ټوبی او کانون ؤ ، او څرنګه چه نوی څېړنې ثابته وی دسل ها وښایسته معابدو او باغونو او نورو شیانو سره ددی علاقې لوی صنعتی مرکز هم بال کیده.

کاپیسا (دکوهستان او کوهدامن سیمې) حتې دمسیحی (۷) پېړۍ په پای کښې چه په دغو ځایو کښې دبودائي دین دژوند انه آخره دوره وه له دوو زرونه زیات راهبان او له سلونه زیات معبدونه درلودل؛ بامیان یا «بامیکان» «بافن یانا» چه په ټوله بودائي دنیا کښې ئې دبودا دلویو څېرو په لړاو (دبودا دپرته څېره ( په ( نیروانا) کښې چه زنده اوږ دوالی اری او دهغه ولاړ ی څېری چه ( ۵۳ او ۳۵ متری) دی امتیاز درلود.

یوداسې ځای ؤ چه د نړۍ آسیا بودائي زیارت کو ونکي هلته ورتلل ، همدا ډول د هندوکش په قطعه یعنې شمالي برخو کښې د (باختر) او (تخارا) په دوو مستعدو ولایاتو کښې بودائي مهم مرکزونه موجود وو — قندوز د (هیوان تسنګ) د تیریدو په وخت کښې لس معبدونه او څو سوه روحانیون درلودل ، په دغه وخت کښې بلخ سل معبده او دری زره راهبان درلودل ، ددی نوشتی له مخې په مسیحي او ومه پیړۍ کښې چه د بودیزم د سقوط ددوری وخت دی او هغه کوچنۍ احصائیه ده چه د نورو جنګونو او پیښونه وروسته اخیستل شوې ده :

معلومیږی چه بودائي مذهب د افغانستان په نیمه ختیزه برخه کښې په کومه اندازه اغیزه او تاثیر کړی ؤ . د کوشاني زماني افغانستان څرنګه چه د دغه دیانت په معتقداتو او فلسفه کښې لوی انقلاب پیدا کړی ؤ ، د صنعت او بودني (نمایش) دلارې نه ئې هم بیخي د هغه مرام او مقصد بدل کړ .

هلنیزم :

د ګریکو بودیك د صنعت بله خوا (هلنیزم) یا د یوناني تهذیب دا صواو — نظریاتو او افکارو دخالت دی چه د اسکندر د فتوحاتو سره ئې آسیائي ځمکو ته لاره و موندله . اسکندر په دغو او جنګي اقداماتو کښې د نورو نو لو نیولو ځایونو زیات د آریانا په خاوره کښې ښځه — ښېړ اسکندریه نومي ښارونه جوړ او ودان کړل . د یوناني باختري خپلواك سلطنت په جوړیدو سره او د دغه سلطنت د دوه سوه کلن دوام له کبله آریانا د خاورو پیړیو د پاره چه (دوه پیړۍ کوشاني دوره هم پکښې شامله ده) په آسیا کښې د یوناني افکارو تهذیب او آرت د پرمترقي کانون او مرکز شمېرل کیده . څرنګه چه د بودائي دین او مذهب په لحاظ ئې ګند هارا ته (د دوهمه مګدیې ) ویلې ده ، د صنعت او آرت په واسطه ( د دوهم هلاد ) هم بلل کیده . باید ووایو چه د اسکندر په لاس د هند فتح او نیول کیدل بیله رانګه او تګه نه بل شی نه ؤ . او د هند اصلي او رښتیاني نیول کیدل په یوناني مفکوره هغه وخت شروع شول چه د یونانو باختري او کوشاني پادشاهانو د هغه ملك د نیولو نه وروسته په اداره او د مدنیت او تهذیب په

ACKU

خپره لوېيل وکړ - ددغو دوو کورنيو په اداره کښې دهند دشمال غربي برخو شاملېدل ددې سبب شو چه دیونانی مدنیت،مظاهرو او افکار ددې ملک روحیاتو او فلسفی سره اوږد نژدیکت او تماس پیدا کړی . دهغو یونانی مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو په شان چه آثار ئې پاتی شوی دی ، دفن او حرفت یوشمېر خاوندان لکه طبیب ، حکاك ، مجسمه جوړوونکی (هیکل تراش)،معمار هم دغه وطن ته راغلی دی : او داسکندر یو او جنګی کلاګانو په جوړولو کښې (یوائې په باختر کښې دیوزر کلاګانو خخه بحث شوی دی) او د فلزی لوښو ،ګاڼو په جوړولو او دمسکوکاتو په ضربولو - حکاکۍ - او دګریمه تېز وپه کېندلو کښې ئې لوی لاس اوزیات دخالت درلود ، دد غو هنرو الا وو دولګی سره په آریانا کښې په مستظرفه صنائعو او آرت کښې دیونانی ذارافت روح خپور شو .

دیو داتی او یونانی افکار و او تهذیب دیو ځای کېد لو ځای :

---

هغه دوه عامله چه دیونانو یو دائی یادګریکو بودیك دصنعت په پیدائښت کښې لاس لری دآریانا سره دهغه دعمومی او خصوصی ارتباط په لحاظ بیان شول . هغه بحث چه ددې صنعتی مدرسی په کتاو او څېړنوکښې مهم دی دهغو دیو ځای کېدو دځای،موضوع ده چه دخاوېښتو کاونونه راپه دې خوائې مدققین ځانته جلب کړی او په غور ئې اخته دی موسیو فوشه چه ددې مدرسې په کتنو او مطالعاتو کښې د ډېر لوی نوم خاوند دی ، دګندهارا دګریکو بودیك دصنعت دکتاب په دوو ټوکو کښې چه(دهغه په تاریخچه ،مراحلو ، ځانګو دترقۍ او تنزل په زمانه او په ټوله آسیا او نورو ځایو کښې دهغه دخپرېدلو په حول شامل دی)او په هغو دوو ټوکو کښې چه په دې نژدې وختو کښې ئې (دبلخ نه ترټاکزیلا پورې دهند پخوانۍ لاره)په نامه لیکلې دی (۱) په دغه باب کښې ئې په ډېر تفصیل سره بحث کړی دی . په دې کښې څه شك نشته چه دفوشه ددغود وو ساتلو خپرو نو تر منځ ډېر کلونه تېر شوی او په دې موضوع کښې کشفیات په تېره بیا د افغانستان په خاوره کښې شوی دی خو سره له دې دیوارغون پېژندونکی پوهاند(باستانشناس) مدقق نظر یو دومره ډېر فرق

---

(۱) ددغه کتاب لومړی جلد په ۱۹٤۲ کښې خپور شوی او دوهم ټوك ئې ډېر وروسته دول ماکنلی دی .

ACKU

ندی کړی او هغه ښکلی چه په دغه فصل پوری مربوطی دی اورډ، په نوی اثر کښی لیدل کیږی وخت په وخت به ئی ونښیو؛

لنډه دا چه په دغه مسئله کښی څه شك او شبهه نشته چه د بردبزم او هلنیزم دیو ځای کیدو سیمه او باهغه ځای چه یونانی او بودائی افکار و او تهذیب پخپل منځ کښی سره دیر اوږ دنږدیکت او تماس و مـوند، هم دغه پخوانی آریانا، یا دفوشی په اصطلاح (دننني افغانستان اوی نیکه دی) مګر هر کله چه دافغانستان خاوره پراخه او ددغه صنعت شواهد و په بیلو بیلو برخو کښی وده او نشو ؤ نما کړی ده؛ دغی مسئلی علمی څیړونو او کشفیاتو ته اړتیا درلوده چه په لازمو اسنادو سره معلومه شوی وای چه ددغه تهذیبونه او صنعتی تماثل دافغانستان په کومه برخه کښی په تیره بیا دهندوکش په شمال یا جنوب کښی مخامخ او مقابل شوی دی چه معلومه شی چه دګریکو بودیك دصنعت دپیدایښت اصلی ځای چیرته ؤ او دپیر یو په تیریدلو کښی دهغه دتحول ځایونه دنورو صنعتی عو اماو دترسره په کومو ځایو کښی دی؟ .

ګندهارا : ګندهارا یا دکابل دره او ناوه دختیځ هندوکش په جنوب کښی یوه سیمه ده چه دکابل دسیند له سرچینی نه شروع او تر اټکه پوری ځمکی رانیسی او دسیری تر له ګندهارا په پخوانیو زمانو کښی دآریانا دخاوری یوه تړته او جزوه او نن ورځ هم هغه او لویه برخه چه دهغی دیره لویه برخه تشکیلاری دافغانستان دمملکت؛ ونه او جزدی دګندهارا په مینځ کښی یوه برخه ده چه داسلام نه پخوا دورو کښی د (نګارا هارا) په نامه یادیدله او لاتر اوسه پوری داجغرافیائی نوم ئی له مینځه نه دی تللی او (ننګرهار) دپخوانی ګندهار ازړه او مرکز تشکیلاوی او لکه چه ددی فصل په راتلونکو مخونو کښی به وګورو دګندهارا دبرخائیسته صنعتی کانونه دهغه په یو مشهور ښار کښی پروت ؤ چه هډه نومیږی؛

موږ ته دا مطلب ښکاره دی چه ګندهارا دهند له خاوری سره دخپل ګاونډیتوب له کبله دمبلغینو دلاری په سر پروت ؤ ـ بودائی دین دافغانستان دنورو برخو نه مخ کښی لومړی په دغه ځای کښی خپور شو حتی په هغه زمانه کښی چه دغه دین دموریادامپراطور آشوکا په

ACKU

زمانه کښی خپریده. ګندهارا او دهندوکش دعلاقی دیری برخی دموریاد دولت د نیول شو وا دمقتوحه ځمکو څخه زیات کیدلی له دی امله بوداثی دیانت، افکار او تهذیب دافغانستان د نوی برخو نه مخ کښی په دی ناوه کښی خپاره شوی دی، ښکاره ده چه دګندهارا دری په بوداثی داستانو کښی دیر زیات رول لوبولی دی او دچینی زیارت کوونکی دخاطراتو په شهادت په دغه ځای کښی دموریاله دوری نه نیولی تر کوشانی زمانی پوری برله پسی او په مرتب دول خایسته معبدونه جوړیدل او دد ی ناوی په معبد وکښی قیمتی مذهبی یادګارونه په امانت پریښودل شوی وو، ښکاره ده چه دګندهارادری دسیاسی نقطی نظره څخه دکوشانی دولت داقتدار په وخت کښی مخصوصاً دلوی کنیشکا دسلطنت په زمانه کښی ددوهمی مسیحی پیړی په پیل او له نیمائی کښی مهم مرقعیت پیداکړی وو څکه دهغو فتوحاتو له کبله چه کوشانیانو دهند په خاوره کښی کړی وو دګندهارا ناوه تقریباً دهغوی دلوبی او پراخی امپراطوری مرکز ګرځیدلی وو او له همدی کبله دکنیشکادامپراطوری مدپسرلی، اوړی او منی دوه درې پایتختو نه دهمدغی ناري په لمنو کښی، منځنی او کښتنی برخه کښی وو او ردهنی دیری میني او علاقه مندی. له کبله چه امپراطوری ګندهارادناوی سره درلوده زیاتره مدققینو هغه فقط د(ګندهارا دپاچا) په نوم او لقب یاده کړی ده، پدې بیل صفت چه ګندهارا د نفیسه صنائعو دخپریدلو او پرمخ تګ دپاره درلوده هغه دهندوکش د تیزی ددیوال په ساتنه کښی دهغه امنیت وو څکه چه زموږ دهیواد دتاریخ او ستونزو وکتو نکونه ښکاره ده چه وخت په وخت دجنګونو او دمنځنی اسیا دقبائلو دبی ځایه کیدلو او په آسیائی لری برخوکی دکامونو دشورش او پورته کیدلو په اثر داسی جنبش و نه پیداشول چه په آخره کی دا کوس (امو دریا) سیمی ته ورسیدل او له دغه ځای نه ددوه لاریزې په حیث درا غلو کامونو نه یو نو لګی او ښاخ لویدیزې خواته دخزر دسواحلو طرف ته او د هغه بوري هاری نه داسیا په لویدیز وا او دار وپا په ختیز وخاورو کښی خپاره شول او بل ښاخ ئی د آموسیند جنوبی برخو ته ښکته شو د آریا ناد غرونه لمنو کی پر پرتل او یو سلطنت ئی جوړ کړ او د هندوکش دمستو او بو دیوې برخی دبهیدو سره دمهاجرت، فتوحاتو او چپاوو او دلوري په نامه دهند په سیمو کښی خپاره شوی دی؛

ګندهاراو هندوکش د جګ دیوال په سانته تر زیاتی اندازی مامونه وه او څه نا څه د منځنۍ آسیا د نوو راغلو کامونو داو مرنیو جګړو او له هغو تصادماتو نه و ساتل شوه چه په اول وخت کښی ئی ډیر شدت درلود او په دغه ځای کښی د دوامداری صلحی، سلام او آرامی فضا د ګریکو بودیک د صنعت د روزنی د پاره موجوده وه مو سیو الفردفوشه چه د دی صنعتی مدرسی په پیژندګلوی کښی د ټولو پوهانو نه مخکښی دی او تر او سه پوری تقریباً نیمه پیړی تیره شوی ده چه په دغه باب کښی کار کوی او پخپلو روستی اثر کښی ئی ګندهارا د (آرت ځمکه) بللی ده.

او د دی عنوانلاندی د خپلو ډیرو بحثو نو په اساس ئی د ګندهارا علاقه د جغرافیی، نژاد، سیاست، مذهب، تجارتی او دی له مخی د ګریکو بودیک د صنعت د پیدا کیدو د پاره ډیره مساعده ګڼلی ده او وائی (١) «څرنګه چه تسکان فلاندر، ایل دو فرانس په اروپا کښی او جاپان او جاوا په لری شرق کښی طبعاً د مستظرفه صنایعو د پرمختګ د پاره مساعد وو، ګندهارا د آسیا په دی برخه کښی هغه تر ټولو خاوره وه چه سری به وائی آسمان (هغه د بنکلاو خیرو او هیکلو او خائیستنه تابلو ګانو د پیدایښت د پاره پیدا کړی وه» په دغه ترتیب (نو شه) د هغو مراحلو به اول کښی چه د دغه صنعت په وجود پوهید ګندهارا ته ئی خاص نظر درلود، د بلخ له حفریاتو نه وروسته چه کومه نتیجه ئی ورنه کړه په خپله نظریه لا پسی ټینګ شو او س دا موضوع دلته پریږدو پخپله باختر او د هغو زدکشفیاتو په سیوری کښی تر څیړنی او کتنی لاندی نیسو:

باختر: هغه سیمه چه د ګریکو بودیک د صنعت له مخی یا څه ناڅه پوراځی دیاد شوی صنعت د مبداء په لحاظ د نظریاتو په عالم کښی تر یوه وخته پوری د هند و کش په سهیل (جنوب) خوا کښی د ګندهارا سره رقابت درلوداو تر اوسه پوری لا هم دا مسئله د څینو پوهانو په نزد فیصله شوی نده باختر دی. فوشه په هغه وخت کښی چه په افغانستان کښی د حفریاتو امتیا ز فرانسوی یانو ته لا نه وو ورکړ شوی د ګریکو بودیک د صنعت د پیدایښت

---

(١) د (هندوزه لاره له بلخ نه تر ټاکزیلا پوری) د کتاب د دوهم ټوک ٢٤٧ مخ چه د پرو فو په وړل د چاپ نه پخوا می کتلی دی.

ACKU

دځای دتجسس او لټولو په موضوع کښې دبلخ او باختر دنوو نو دیادو نی نه خلاصی نه درلوده او دابه ئی وبل چیرې ددې صنعت دپیدا ښت په موضوع کښې تر یوې زمانی پورې گنند هارا تـه امتیاز او تـرجیح ورکـوم چه دبـاختر عملی کشفیات ما پخپله اشتباه قانع کړی :

دسنگیانگ او مرکزی آسیا په سیمو کښې دگریکو بودیك دصنعت دپراختیا او خپرېدلو په لحاظ باختر او دهغه اهمیت ددغه مدقق نظر په ځانته راو گرځولی او دخپل گند هارا دگریکو بودیك دصنعت دکتاب داول ټوك په پنځم مخ کی وائی : ( دهغو ډیرو بودائی کشفیاتو له مخی چه دیو شمیر پوهانو له خوا په طورفان، ختن، او دروس او چینی ترکستان په نورو ځایو کښې شوی دی معلو مېږی چه دگریکو بودیك دصنعت مظاهر دواړه دانی مال التجارت په دول وطن ته راغلی او دکاروانو دتگ او راتگ او مزل په مزل په دغو ځایو کښې خپاره شوی دی او دهغه دپیدا ښت اصلی ځای او درو زنی ځانگړ باید په نورو ځمکو کښې و لټوو آیا دغه صنعت دپیدا ښت ځای په باختر کښې په هغه باختر کښې وند لی شو چه دوه زره کاله پخوا د یونانی هندی او چینی مدنیتونو د مخامخ کیدو او یو ځای کیدلو کانون او مرکزو ؟

زمو نږ ددی پوښتنی ځواب به هغه وخت راناو نکی زمانه ورکړی چه داکسوس ( آمو دریا) دپاسنی حوزی جنوبی برخی دبا ستا نپیژ ند لو دپلټنو او څیړنو دپـا ره خلاصی او پرا نستل شی :

همد غه مدقق ددغه کتاب په دوهم ټوك کښې (۱) دباختر ترعنو ان لاندی په مفصل دول داسی وائی (لکه چه پخوا هم وویل دگریکو بودیك دصنعت دپیدا ښت داصلی ځای قطعی ځواب تر هغو غو نډ پو لاندی دی چه څوتنو ارو پائیانو دهغو وجود دبلخ په شاو خوا کښې بنو دلی او یادکړی دی . په دغه وخت کښې دبلخ د پخوانی حالت دواضح کیدو دپاره دبل هر وخت نه زیاتو معلوماتو او توضیحاتو ته احتیاج لیدل کیږی ، د گند هارا ددیو الی رنگه تصویر و دور کیدو او له منځه وتلو نه وروسته دباختر د صنعتی مدرسی

(۱) ٦۳٥ مخ

په باب کښې د مطلق معلوماتو نشتوالي یوه ډېره غمناکه خالیګاه ده چه د ګریکو بودیک د صنعت د کښې او څېړ نې په لاره کښې ئې زموږ سندونه او وثیقې ناقصې کړي دي . په منځنۍ آسیا کښې په نورو کشفیاتو سره له کاشغره تر جاپانه پورې د صنعت د څېړ یا و د څېړ کړي کشفیات شوي او یو اڅې او ډېرې د کړي دي کمه ده په هر حال هر کله چه او س سمدستي په ادي دو ل کوم شی په لاس کښې نشته نو د ګمان او قرائنو نه کار اخلو :

زه د باختر په باره کښې دوې نظریې لرم یوه دا چه په دغه ځای کښې د ګریکو بودیک د صنعت د پیدایښت د ځانګو دشته والي موضوع نه سابو م او له بلې خوا دا منم چه هغه تول یادګار و نه (آبدات ) چه چینې زیارت کوونکو په هغه ځای کښې لیدلي دي د هند او یونان (هندو ګریک) د صاف سبک نماینده وې . او س چه دا موضوع له هرې خوا نه تر څېړنې لاندې ونیسو له دغو دوو مطلبو نه دیو مطلب پر ضد څه دلیل کیدای نشي .

د باختر د بودائي صنائعو په باره کښې زموږ معلومات ډېر ډېر او محدود دي (فاهین) او (هو ان تسنګ) د دوو تنو چینې زیارت کوونکو دختن او اندوس (سند) لارو هلې او د باختر نه تیر شوي نه دي .

یا ته کېږي (هیوان تسنګ) او هغه شی چه د (پو - هو [Po-Ho] د سیمې په باب کښې ئې لیکلي دي .

که چیرې ګندهارا او باختر د هغه دلیکنو په رو ښنائي کښې مقایسه کړو د ګندهارا پله ورپاندې ډېر دلیږي ځکه چه دغه زائر په داسې حال کښې چه بلخ ته د سلو معبدو نسبت کوي په ګندهارا کښې د زرو معبدو نه بحث کوي البته د معابدو دقدامت د څېړ و او مجسمو د ښکلاوپ داسې یو د شمیر او د هغو د دانیو د نوعیت موضوع چه په باختر کښې د خپل سفر په وخت کښې ئې لومړی ځل لیدلې دی یو داسې شی دی چه ډېر اتاونکو حفریاتو نه زیری ورکوي هغه اکې چه د زیارت کونکي په یادداشتو کښې یا داو لیکل شوي دی او د هغه یادونه نه دي تر بحث لاندې موضوع سره ډېره رابطه لري دا دي چه د ګندهارا رقیب یعني باختر کوشش کړی دي چه موعوده شمکه وګرځي :

او د دې دپاره چه نمګدې سره په شهادت پیدا کړي محلي راهبینو بلخ د اوراچاګر یپه

Rajagriha یعنی د (وړوکي پاچائي ښار) په صفت یادګړي دي ځکه چه هلته هم بودائي اماني آثار زیات وو نو په باختر کښي د بودائي صنعت وده او پرمختګ هم یو ښکاره او ثابت شي دی مګر د علمي شواهدو د کشفولو نه مخ کښي که څه هم د ډیر څومره کوچني اثر هم وي د خاورې لاندې و په باره کښي نظریه ښکاره کیدای نشي سره له دې د ځرانتو له مخي او د هغو آثارو په اساس چه د باختر د شمالي او جنوبي ګاونډیو سیمو نه کشف شوي او لاس ته راغلي دي دا سي ښکاره کیږي چه د عمومي خواصو له مخي به د باختر صنعت د هغه د جنوب شرقي برخو یعنی کاپیسا او د هغه د شمال شرقي ګاونډیو سیمو یعنی چیني ترکستان د صنعتي شواهدو سره ډیر زیات توپیر و نه لري، سربیره په دې دا هم تر یوې اندازې پورې ویل کیدای شي چه د هغه ځای آبدات که څه هم د سبک په لحاظ ئې په نظر کښي و نه نیسو نو څه ناڅه د خارجي وضعیت او د عمراني موادو له حیثه د پنجاب او کابل دري په نسبت د منځنۍ (مرکزي) آسیا سره ډیره شباهت لري. موسیو فوشه آخر ته په ١٩٣٤ کال کښي بلخ ته ورسید او په توپ رستم او د ښار په ارګ کښي ئې حفریات وکړل له بده مرغه دا رزوا او انتظار په خلاف د باختري خبرې په کشفولو باندې ئې بري و نه موند او د هډه وکش په شمال کښي د بودائي مجسمي کشفیدل څو کاله نور هم وځنډیدل تر څو چه اتفاقاً د قندوز د امیرار ونه پر ده پورته او لیره کړه.

له قندوز نه د نوي روښنائي ځایدل : له پورتنیو بیاناتو څخه معلومیږي چه فرانسوي پوهاندو فوشه د ګریکو بودیک د صنعت د پیداکیدو او د اصلي ځای اد تاکلو په باره کښي پوهه د ټولو نه لرل چه د هغو په استطاعت ئې ګندهارا ته پر باختر باندې ترجیح ورکوله، سره له دي ځرنګه چه موږ لیدل په هغه وخت کښي چه عملاً ئې لاس له باختر نه لنډ و بیا هم د دغې یادې شوې صنعتي مدرسي د جوړولو نسبت یونانی باختري استاذانو ته او د هغې ځای ئې په ګندهارا کي بللی دی.

د غه هم د هغو شواهدو په پیدائیښت پورې اړه درلوده چه یوه ورځ به منځ ته راشي چه د هغه نظریې ته تغیر ورکړي: همدا وو چه دې پروګرام او انتظار نه ورسته ئې په افغانستان کښي د حفریاتو امتیاز د فرانسي دولت ته حاصل کړ.

ACKU

او سمدستي بيا باختر ته روان شو چه هغه کړی دی او حلقه تکميله کړي چه دګر يکو بو ديك دصنعت دخيرني او تحقيقاتو په سلسله کښي ناقصه او کمه وه د بلخ په شاؤ خوا کښي ئي (۱۸) مياشتي څيړني او پلټني وکړي او د توپ رستم او ارګ خرابی ئي وکيندلې مګر هغه شواهد ئي پيدا نه کړل چه انتظار ئي ورته در لود . هغه شي چه وسيو فوشه په علمي اصو لو لټاوه اتفاقاتو په قندز کښي د باختر په ختيزه برخه کښي ميدا ن ته را و ايست او لومړی د باختري بودائي مجسمه په قندو ز کښي ديو معبد له خرابو نه را او ايستل شوه .

ننني قندو ز ياد منځنيو پيړ يو (کهن دژ) د قندو ز دسيند دلمر خاته خوا په شپږ کيلو متر ی کښي او دخان آباد دلو يديزی برخي په ۲٤ کيلو متر ی کښي پروت دی هغه مسافران چه دښکاری دری دلار ی خان آباد ته دروم ی له هغي سيمي نه وروسته چه هغي ته (علي آباد) وائي بيا ه دی چه د خان آباد نه تيرشي برابر او په مستقيم ډول قندو ز ته د (۱۸) کيلو مترو فاصلي و هلو نه وروسته رسيدلی شي ، ننني قندو ز چه د قطغن د ولا يت جز دی د (هيوان تسنګ) د تير يدلو په وخت کښي د تخارستان مرکز شميرل کيده او په دغه وخت کښي د تخارستان لمن په باختر باندی هم غوړ يدلي وه يعني په باختر باند ی مشتمله وه ، هر کله چه قندو ز د هغه لوی سيند په څنګ نيو برخو کښي واقع شو ی دی چه هندو کش دا کسو س (آمو دريا) سره نښلو ی او د دغه سيند مجر ی که په ځانګړ کښي دی او که د دغه غره د سلسلې په سختو درو کښي ډير ه ستره طبيعي لار ه شمير له کيږ ی او زيات اهميت لري د (هيوان تسنګ) د سفر له مخي چه د آمو دسيند نه د تير يدلو څخه وروسته برابر قندو ز ته را غې او په دغه ښار کښي د (تار ديو شاد ـ Tarduchad) د ترکي نژاده شهزاده داستو ګنې له مخي (دا سړ ی د غربي ترکيو يانو دا و لادې څخه و) (۱) ښکار ه کيږ ی چه قندو ز داو و مې مسيحي پيړ ی په او مړ ی نيمائي کښي د تخارستان او باختر د نو رو ښارو نو په نسبت مرکز يت درلود قندو ز په خپل جغرافيائي او سياسي موقعيت : هندوکش په شمالي برخو کښي د آمو سيند ، باختر او د برني تخارستان تر مينځ يوه داسي ايستګاه وه چه د هغي نه څاو ر لوئي لار ی د بلخ او د باختر د نو رو ښارو نو او د بر تخارستان دو دانو او آبا دو سيمو او دا کسو س

---

(۱) د غربي مملکتو په باره کښي ياد داشتو نه د «بيل» تاليف دی وکتل شي .

دسینداو دهغه دهغې غاړې بر خو او دهندوکش ددر وخو اته تللی ـ هرکله چه چینی سیاح په قندوزکښې دخپلی هستو گنی په موده کښې لس بودائی معبدونه او څو سوه تنه روحانیون او ددغه دین پیروان لیدلی دی او ځینی نور شیان ئې هم و یلی دی نو مونږ په دغه باره کښې دهغه داصلی یادداشتونه ترجمه کوو (دغه ځای هم دتخارستان دپخوانۍ سیمې بوه ټوټه او جز دی دهغه داحاطی اوږدوالی او پراختیا ۳۰۰ (لی) (۱) او دهغه دمرکز داحاطی اوږدوالی لس (لی) دی ددغه ځای ځمکه آواره جلگه ده او مرتب کښت او کر پکښې کیږي او ډیری غلې حاصل ورکوي، بوټی او ونی پکښې زیاتی شنی کیږي، گلونه او دول دول میوی فوق العاده زیاتی دی، آب و هوائی نرمه او پرزره پوری ده ددغه ځای خلك ساده او امانت کاره دی نارینه ئې طبعاً چست و چالاك او هوښیار دی و رین کالی اغوندی زیاتره خلك دبودائی دین پیروان او ځینی ئې برهمنی دی په دغه ځای کښې لس «سانگارامه» (بودائی معبدونه) او څوسوه تنه روحانیون موجود دی چه دبودائی دین ددواړو طریقو (مهایانی) او (همایانی) په قوانینو کښې ئې معلومات دراودل او ددواړو مسلکو تابع او پابند وو ـ او پاچائی چه ترکی نژاد د شهزاده و او د اوسپنې د دروازی دجنوب په ټولوکوچنیو علاقو باندی ئې (۲) حکومت درلود.

په قندوزکښې او مرنی باختری بودائی هیکل: د ۱۹۳۶ کال دسپتامبر په میاشت کښې دهغه ځای دشمال شرق په دری کیلو متری کښې چه د(هیوان تسنگ) دشهادت په قرار په هغه ځای کښې لس معبد و نه موجود و بوسپین ږیری بزگرد یوی غونډۍ په لمنه کښې ځمکو ته داو بوورکولو دپاره یوه ویاله کینډله او په نتیجه کښې ئې څو گچی سرونه و مونډل شول دموسیوهاکن د څېړنې او تحقیقاتو په واسطه معلومه شوه چه هغه داوبو ویاله چه دغه بزگر ایستلې او کیندلې وه دیو بودائی معبد ددیوال ترڅنگ تیره دله.

(۱) دچینی مسافی و احددی چه دهغه اوږدوالی د(۵۷۶) متره و سره برابر دی.

(۲) داوسپنې دروازه په یوه داسې دره کښې وه چه دننی سمرقند د جنوب شرق په ۹۰ میلی کښې پرته وه.

دوداني شکل او پلان تقریباً څلورکنجه او مربع ؤ، او هر بازو (ضلعی) ئې (۴۰) متره او ږد والی درلود. او ددغی ودانۍ سره متصل د جنوب غرب خواته یو معبد موجود ؤ چه هری خوا ئې دیرش متره اوږد والی درلود.

هغه آثار چه په دغه ځای کښې پیداشوی دی دشمیر له مخې دومره زیات ندی. دغه تول شیان او مسرونه، دوه ګردمدالونه او یوه داسی کوچنۍ مجسمه ده چه نیم شکل ئې دانسان دی او نیم شکل ئې دمرغه. او یوه بله تزئینی دی چه یوه ښځه په اوخپلـې د.

سربیره په دی ځینې نوری لوښي او کوچنۍ تزئینی هم د معبد له مختلفو کوټو نه پیداشوی دی. دغه کشفیات دشمیر په لحاظ دومره زیات ندی، مګر هرکله چه نوموړی ئل دهند وکش له شمالي برخو نه هیکلونه لاس ته راغلی دی، او لرغون پیژندونکی پوهان دیر زیات دباختر دبودائی هیکل دلید لو په انتظار کښې وو. د هغو ځینې ممیزات «دباختر دبودائی صنعت او دګریکو بودیک دصنعت مبداء» دسالی له مخې چه دپرو فیسر هاکن په قلم لیکل شوی ده بیا نوو: (۱).

هغه آثار چه له قندوزنه لاس ته راغلی دی ښکاره په دوو برخوو یشل کیږی: یوه دول ئې هغه دی چه ذاتی ممیزات نه لری - بل دول ئې هغه دی چه په هغه کښې د (ستیل رآ لیست) دحقیقت بینۍ دروبی له کبله نژادی خصوصیات په دیر اهتمام سره ښودل شوی دی.
دهغو سرونو نه یو سر چه په لوړ یه دلی پوری اړه لری دهغه دقالب ګیری له رویه نه ښکاره کیږی چه څیره جوړوونکی پخپل زړه د هغه څیره په ښا خسنګی ډول جوړه کړی او د هغی مرمری مجسمی د څیری د قیـا فـی سره لـږ شبـا هـت لری چه د (کورنت Corinthe) نه پیداشوی او دموسیو پیکارداه خو اخپره شوی ده (۲) دسترګو دګاتړ او تل یعنی رده والی چه اکثره دباښو د ښکته کید لو له امله لیدل کیږی

---

(۱) دارساله ددی اثر دلیکو نکی له خوا په فارسی ترجمه شوه او په (۱۳۱۶ کال) کې چه د (۱۹۳۷) عیسوی کال سره برابر دی دهغې فرانسوی او فارسی متن یو ځای دتاریخ دټولنې له خوا چاپ شوید ی.

(۲) دیونانی عتیقه شناسۍ تذکره : هیکل تراشی دپخوانی عصر اول ټوک د (شارل پیکار د) تالیف

په دغه ځای کښې نښه او سترګې زیاتره په طبیعي شکل پخپله حدقه کښې دي او په دغه لحاظ
د هډې د (ژني ګل) مجسمې سره شباهت لري دغه سترګو لاندې ځای نه هم د بودائي
مجسمو په خلاف چه له حدقې نه راوتلي دي، بیرته ننوتلي او بانه ئې هم بیرته ناو شوي
دي (۱) پوزه ئې څه غټه او شونډې افقي دي او شکل ئې څه نرم او شله (ږیږې) ښکاره
کیږي، د دغو ممیزاتو مراتب چه بیان شول د قندوز په نورو شکلونو کښې
زیات شوي دي په نورو مجسمو کښې د سترګو د حدقو راوتل زیات شوي.
مګر له اندازې نه نه دي وتلي - پوزه غټه او خوله عموماً ښه جوړه شوې ده.
د قندوز نه د پیدا شوو څیرو او مجسمو د ویښتانو د جوړښت او ترتیب په باب کښې باید
و ویل شي چه د هغو حالتې او کلبتې چه د فیتې په شکل په تنده باندې پرتې دي د صدفو په شان د هغو
کلبتې او فایتې سره تاو او راتاو شوي او د ویښتانو په ترتیب لوکی دغه رویه په زیاترو یوناني
مجسمو کښې لیدله کیږي او لکه چه موسیو (پیکارد) وائي د مار پیچو فیتو پخواني سبک
به په دغه رویه بدل شوی وي (۲)
له یاې خوا دغه دود او سبک یو ازې په هغو ځایو کښې په کار شوی دی چه غوښتل ئې
د ویښتانو حالتې په تنده باندې د پټې یا نوار په ډول وښيي، باید و ویل شي چه په یونان کښې د ۴۸۰
او ۶۰۰ مسیحي کلو ترمنځ د دغه مقصد دپاره ځینې ټاکلي اصول وضع شوي وو په دغه ترتیب
چه د مقابل طرف نه په تنده باندې د ویښتانو حلقوي پټې تشکیلوله او د سر د تالاق او غاړو نور پاته
ویښتان د تاو راتاو شوو او مجعدو فیتو په شان په اوږو باندې پریوتل او داسې هم پیښیده له چه
په یوه مجسمه کښې د ادو ویښتانو د ړل وسینګار مخامخ طرف او شاته سره توپیر درلود او دغه
مطلب د قندوز په یوه مجسمه کښې لیدل کیږي ځکه که چیرې سړی ښه ځیر شي د ویښتانو په
فینه باندې یو ډول فازي نوار لیدل کیږي چه (۱۲) ملیمتره سور لري. او خارجي برخې ئې
یو ډول تزئینات هم درلودل چه تر اوسه لا د هغه شواهد پاتې دي د قندوز یوه بله مجسمه
د ویښتانو د حلقو هغه برخه ښيي چه د خولۍ نه تاو راتاو شوي او مجعد راوتلي ده دغه

---

(۱) د هډې د حفریاتو د البم (د تحیر وکتاب) ۸۳ لوحه دې و لیدل شي

(۲) د یوناني عتیقه شناسۍ د تذکرې ۶۹ ۲ مخ.

خولی چه د مخه یاد شوه داسی خولی ده چه د شپی اغوستل کیږی او شا نه یوه مارپیچه لکۍ لری او د هغی د ساتنی د پاره د وه تسمی ورپورې تړل شوی دی — د هغی د ګچی مجسمو نه یوه مجسمه د خولی د بند دغه سیستم خرګندوی دیوی بلی مجسمی په سر کښی چه په قندوز کی موندل شوی ده ویښتان په هغه تفصیل چه بیان شو جوړ او ترتیب شوی او کلیټو او حلقو ئی په وچولی (پیشانی) باندی ریږه تشکیله کړی ده مګر پخپله کاکلی او حلقی چه د ګردو ټاپو په شکل جوړی شوی وی لیری شوی او د مجعدو ویښتانو کلیټی لا تر اوسه پوری د غاړې په دوارو خواو کښی ځوړندی دی.(۱)

دسر او رو ویښتان چه پر رنګ تور شوی وو پوائی زمونږ شوی او خوکی ئی په تالاق پوری تړل شوی دی دغه هیکل او مجسمه ذاتی قیافه لری او په خیره کښی ئی نژادی عوامل لیدل کیږی.

دستر ګو محور ئی افقی او د بڼو نیمو الی د هغه ستر ګی اږ ی او تالی ښکاره کوی مګر سره له دی هم د هغه ستر ګی د هغی د آثارو په نسبت له حدقی نه په زیاته اندازه او تلی دی او اږ ی غټی او پیړ ی شوندی ئی یې رسم شوی دی پوزه ئی اږه لنډه او پینه خوا ته ګرده ده او صورت او خیره ئی غوښنه او نرمه معلومیږی لنډه دا چه په دغو صفاتو او ممیزاتو دغه مجسمه په آزاده ول دشرقی ښکلا خیرو نمایندګی کولی شی.

د قندوز په یوه بله مجسمه کښی (۲) د ټنډی د ویښتانو په حلقو او کاکلو سر بیره نور ویښتان ئی د سر په تالاق کښی غوټه دی او له دی کبله د بریتش موزیم دارتمیس Artamis د مجسمی سره شباهت پیدا کوی د قندوز په دغه مجسمه کښی ستر ګی اږ ی منحنی او کږی پوزه قلمی او د خولی کونجونه اږ څه پلن دی صورت اوږ ی او د خیری خطونه ښکاره یونانی تیپونه په یاد راولی د قندوز دیوی بلی مجسمی د خیری په ممیزه خطوطو کښی چه د مزار شریف په موزه کښی ده مبالغه شوی ده او غټی ستر ګی ئی اږ ی محدودی، پوزه ئی لنډه او پیته او حرکه یعنی د پوزی سر ئی راکوږ شوی دی پورتنی شونډه ئی په کوزنی شونډه باندی پرته ده

(۱) د باختری بودائی ملت په رساله کښی څلورمه نمره لری.

(۲) د باختری بودائی صنعت په رساله کښی (۷) نمبر لری.

ACKU

دغه میزات دهغی په مجسمو کښې ښکاره سره بیره دمجسمو په سر او چه دمخه ئې بیان وشو په قندوز کښې یو مدال په خراب حالت پیداشوی او دوزرلرونکی سری نیمه تنه ښیي او دغه رنگه یو موجود په قندوز کښې پیداشوی دی چه نیمه تنه ئې دانسان او نیمه تنه ئې دوزر لرونکی (گارودا) ده او له بده مرغه سرئې نشته.

داڅ په قندوز کښې دپیداشو و آثارو تعریف او په بل عبارت دهغو څیرو (هیکلو) تعریف چه له ۱۹۳۶ کال نه راوروسته دلومړی ځل دپاره په باختر کښې دهندوکش په شمالي برخو کښې کشفی شوي.

همدغه راز په ترمز کښې د شوروي دارغونپېژندونکو پوهانو (باستان شناسو) دهیئت د پلټنې او څیړنې په اثر چه د چین زیارت کوونکی (هیوان تسنگ) دغه ځای (ترمز) د (تامی Tami) په نامه یاد کړی دی، داکسوس (آموسیند) په ښې غاړو کښې هم مجسمی پیداشوی دی. نو دگریکو بودیک دمدرسې دهیکل تراشی او مجسمو جوړولو آثار چه څوکاله پخوا دهندوکش په جنوب او دگندهارا په دره پوری منحصر او محدود وو، په اوکسیان (هغو علاقو کښې چه اکسوس، آمو دریا او به ورکوی) هم پیداشوی دی او دغې مسئلې دگریکو بودیک دصنعتی مدرسې داصلي ځای په تاکلو کښې نوی نظریی پیداکړی دی چه هغه په لاندی کرښو کښې بیانو او غواړو چه یوه نتیجه ورځنی واخلو:

دگریکو بودیک دصنعت دپیدا ښت او روزنې ځای:

---

نن ورځ ټول پوهیږو چه دگریکو بودیک صنعت یوه داسې مدرسه ده چه اساساً دیونانو په صنعتی الهاماتو او په بودائی مذهبی تخیلاتو منځ ته راغلی ده او دغه دوه روحه دتفکر دوه طرزونه ـ دوه دراله صنعتی او مذهبی عقیدی دافغانستان په هیواد دآریانا په خاوره کښې سره یوځای شوي او گډې شوی دی. او په پای کښې ددې مدرسې دپرمخ تگ اولو رتیا عامل زیاتره محلی استاذان وو چه په عین زمان کښې هغوی پخپله دمذهب په لحاظ بودائي او دصنعتی روش دکسبولو له حیثه یونانی شوي وو. او سراځو دصنعت دپیداکیدلو او روزنې داصلي ځای تاکلو ته. دامسئله دآسیا دمستظرفه صنائعو په تاریخ کښې له دیرو مهمو مسئلو څخه ده، اوکه وروایم چه دځلو ښتو کلونو راپه دی خوا دهغی په باب کښې لیکنی کیږی مبالغه به نه وی.

پښتوا نه دي چه دافغانستان په خاوره کښې حفریات او څېړنې شروع شي فرانسوي فوسیو فوشه چه د گریکو بودیك د ښوونځي په کتنو او مطالعاتو کښې د پوهانو او علماؤ مشر دی زیاتره په لمرختیزې گندهارا کښې په څېړنو او پلټنو بوخت ؤ او د پېښور او د هډې د شاؤ خوا او چارسدې (پخوانی پښکلاوتی او د هډې د شاؤ خوا) معبدو په غونډیو کښې ئې د تیږو د مجسمو او هیکلو ډېر شواهد او آثار پیدا کړل او د گریکو بودیك مدرسه ئې د گندهارا په صفت وبالله مگر د هغې د پیدا کېدو او د روزنې د اصلي ځای ټاکل ئې دافغانستان تحقیقاتو او څېړنو ته وځنډول چه مخصوصاً د یونانو باختري خپلواکو پادشاهانو مرکز بلخ چه د هغې زماني سکې ئې د پخواني دنیا د مسکوکاتو په منځ کښې ډېره په صنعتي شاهکار ؤ څه نتیجه ورکوي . له بده مرغه د بلخ د ۲٤ ـ ۱۹۲۳ کال د حفریاتو نه وروسته د کومې مجسمې په پیدا کړ او بریالی نه شو او سربېره په دې د توپ رستم د بودا ستوپې او د څینو نورو بودائي تاریخي شیانو او آبداتو د څېړنې او کتنې په اثر ښکاره شوه چه تیږه عموماً په دافغانستان کښې استعمال شوې نده او زیاتره بودائي هیکلونه خټینه جوړ شوي دي ارهرکله چه د فوشې په عقیده د گریکو بودیك مدرسې شروع د تیږو د څېرو (هیکلو) په جوړولو سره شوې ده نو ده ئې د پیدا کېدو او روزل کېدلو ځای د هندوکش په جنوب گندهارا کښې او هغه هم په لمرختیزه گندهارا کښې بللی که څه هم د قندوز کشفیات او د هاکن د نظریاتو تغیر ، وندل په منځ کښې نه وای نو د صنعت د پیدا کېدو او روزل کېدو د اصلي ځای مسئله به د گندهارا په گټه یو طرفه فیصله شوې وای ځکه اوس دوه نظریې په منځ کښې شته چه یوه د فوشې نظریه او په گندهارا کښې د گریکو بودیك د صنعت د پیدا کېدو او روزل کېدلو اصلي ځای بولي او بله د هاکن نظریه ده چه د یادې شوې مدرسې د روزل کېدو اصلي ځای په باختر کښې گڼي د فوشې نظریه تر یوې اندازې پورې بیان شوه او س د هاکن عقیده بیانوو او عیناً هغه مطالب د لته را وړو چه پخپله ده د همدې موضوع د بحث په برخه کښې د هغو پخوانیو کتنو او څېړنو په استثنا د لیکلې دي چه د باختر د بودائي صنعت او د گریکو بودیك د صنعت د مبدې په رساله کښې ئې کړي دي (۱) (په قندوز کښې موندلې

---

(۱) د یادې شوې رسالې د ۱۲ مخ نه تر ۱۵ مخ پورې .

ACKU

شوی شیان چه د دې مقالې لومړۍ برخه مو دهغو د څېړنې او بیان د پاره وقف کړه(۱) له بلوې خوا او هغه اثار چه د دې کاله په خوا په تره زکښې د اکسوس د سیند په منې غاړو کښې د شوروی د حفر یاتو د هیئت د پاتنې په اثر پیدا شوی دی او بلې خوا داسې سندونه برابروی چه د (بودیزم) او (هیلنیزم) د تصادم او مخامخ کیدو د بحث مسئله دوهم ځل بیا میدان ته راباسي) باید وویل شي چه (دګند هارا دیونانو بودائي صنعت) دکتاب دمبحث دروستیو برخونه دیوې برخې عنوان د (بودیزم) او (هیلنیزم) تصادم دی.

دغه کتاب دموسیو فوشه (۲) تالیف دی او اوستونکی دهغه له ویلونه پوهیږی چه کومې تاریخي پیښې سره یوځای شوی دی چه د هند او یونان د مکتب ګاه صنعت مینځ ته راوتلی دی.

د دې دپاره چه د ګریکو بودیك د صنعت دپیدایښت موضوع معلومه شي باید څرنګه چه موسیو فوشه وائي په هغه وطن کښې چه د هغو د یوځای کیدلو میدان شوی دی یونانی صنعت د حالات او د بودائی دین خپریدل دواړه دی مؤثر عوامل وکتل شي چه دموضوع ښه ښت روښانه شي په دغه اساس څرنګه چه دموسیو فوشه له مطالعې نه ښکاره کیږی(۳) بودیزم د ۲۵۰ ق م کال په شاوخوا وختو کښې د هند شمال غرب ته رسیدلی دی او هرکله چه داوسني افغانستا ن نیمه جنوبي برخه په هغه وخت کښې د (موریا) د کورنۍ تر سیاسي سلطې لاندې وه نو د بودائي دین د خپریدلو دپاره زمینه برابره او مساعده شوه او مبلغین د دوهمې قام پیړی په اولو وختو کښې په باکتریا ن کښې د یونانیانو د تسلط دلیری کیدو او سقوط نه یونیم سل کاله پخوا(٤) د هندو کش له څوکې نه راتیر شوی او په باختر کښې ئې په تبلغ باندې لاس پورې کړی دی، باختر په هغه زمانه کښې چه بودائي دین پکښې خپریده یوه داسې خاوره وه چه ایرانی

(۱) دغه برخه په ۳۳۸ مخ او دهغه نه په وروسته مخ کښې بیان شوی ده.
(۲) دګندهارا دګریکو بودیک دصنعت د دوهم ټوک ۴۴۳ مخ.
(۳) دګندهارا دیګریکو بودیك دصنعت د فوشه د تالیف د دوهم ټوك ۴۰۷ مخ.
(٤) دګندها را د ګریکو بودیك دصنعت د دوهم ټوك ۴۴۴ مخ.

ACKU

مدنیت ئې لیدلی ؤ او دیوی نیمی پیړۍ نه یونانو باختري پاشاهانو هلته حکومت کاوه ، هغوی په خپل پلتیونکی ذهن او محتاطانه سیاست د دغه دین له خپریدلو سره موافقت ښکاره کړ چه غوښتل ئې دهغه دپیدایښت خاوره و نیسی ، او د ( موریا ) دامپراطوری سقوط بیانه کومی سختی قربانی ور کولو نه هغوی ته موقع ور کړه چه هغه محمکی دوهم محل بیا و نیسی چه اسکندر نیولی او د ق م تر ۳۳۰ کاو پوری دسلوسیانو په لاس کښې وې د قندوز آثار دگریکو بودیکی صنعت داسی نمونی دی چه یونانی اغیزه او تاثیر په هغو کی ډیر ښکاره لیدل کیږی او ددی اغیزی او نفوذ مراتب تر دی اندازی پوری دی چه دیو هانو پخوانی ډاتکلی نظریه و یجاړوی او داغیر ممکن ښکاره کیږی چه سره ویل به ئې « یونانو باختری » صنعتگران دخارجی بربری بو چیانو او اسکائیانو له چپاو واو تیریو نه وروسته د بکتریا ن نه دگند هارا خوا ته تللی او په گندهارا کښې ئې دگریکو بودیك دمدرسی لومړنی آثار مینځ ته را وا یستل ځکه که چیری دغه اتکلی نظریه ومنو نو د زور او اجبار په دړل هم باید داقبول کړو چه یونانو بودائي صنعت په کوشانی دوره کښې له گند هارا نه باختر ته تللی دی که چیزی دگریکو بودیك صنعت ددی په ځای چه په بکتریان کښې د یونانیانو دساطی دتنزل په وخت کښې پخپله دباختر په خاورو کښې پیدا شوی ندی او دگند هارا نه دکوشانیانو په زمانه کښې باختر ته رسیدلی ؤ نو په قندوز کی پیدا شوی آثار به په اوسنی قیافه نه وای بلکه نور خصوصیات به ئې درلودل یعنی ددی په ځای چه د هغو په ځیر و کښې یونانی نفوذ او تاثیر زیات و لیدل شی هندی عواماو به په هغو کښې زیاتره برخه درلودای حال داچه په څو دمخنیو پاڼو کښې مو ولیدل چه داسی ندی بلکه ددی په عکس دی نو اصل حقیقت داسی ښکاره کیږی چه په بکتریان کښې د بربریانو تیری او چپاو و نه دنوی صنعت د ډیر مخ تنګ او ترقی مانع شوی ندی ، آیا بربر ( کوجولا کد فیزس ) او ( هرایوس ) دیونانی سلطنتی کورنیو دمسکوکاتو داشکالو تقلید ندی کړی ؟ هو علاوه پر دی تاریخ چه ( بودیزم ) په دنوی سلطی او د قواؤ داستقرار دالوګولو په وخت کښې دمشکلاتو سره مخامخ شوی نه وی خو په هیڅ صورت دغه مشکلات او ناملایمی د هغو نا ورو

ACKU

پېښو سره مقايسه کېدلی نشي چه څو پېړۍ وروسته د يفتليانو د چپاوو په زمانه کښې پېښې شويدی. نو زمانظر يه داسې ده چه دگريکو بو دېک صنعت په مغشوشه فضا او نا آراموشرطو نو کښې په باختر کښې پيدا شوی او د گندهارا په (هډه) کښې ئې د خپل پرمخ تگ او خپرېدلو د پاره مساعده زمينه موندلې ده (۱)

ذدغه بحث لنډيز ددی د و مختلفو نظريو په رڼا کښې داسې کيږي چه د فوشې په عقيده دگريکو بو ديک مدرسه په گندهارا کې هغه هم زياتره دهغې په لمرختيز و برخو کښې پيدا شوې ده. او د هاکن د نظريې په قرار په باختر کښې پيدا شوې او دگندهارا په زړه هډه کې ئې دخپل پرمخ تگ او پراخوالی دوره تېره کړې ده.

نو دگريکو بو ديک د صنعت مبداء آريانا، افغانستان ته د جغرافيائی موقعيت د لارې څه توپير نلري که په باختر او يا گندهارا په هر ځای کښې چه زيږيدلی وی ددې وطن په خاوره کښې پيداشوې ده او داسلام نه پخوا دافغانستان ددېرې لويې صنعتي مدرسې په حيث بلل کيدای شي، بايد وويل شي چه ددې مدرسې په مبداءکې د فوشې او هاکن اختلاف نظر تريوې اندازې پورې دهغو موادو په اساس باندې هم تکيه کوي چه په اولو وختو کښې ددې مکتب په هيکل تراشې کښې استعمال شوی دی. ځکه داولنی عالم دنظريې په قرار ددې مدرسې په هيکل جوړولو کښې تيږه اوليت لري، او هر کله چه په

---

(۱) هاکن دخپلې نظريې د تغير او باختر ته دگريکو بو ديک د صنعت دپيدايښت دنسبت ورکولو په باب کښې دباختر بودائې صنعت د رسالې په ۱٤ مخ کښې دغه لاندې پاورقې ورکوی (که چيرې په قندوز کښې پيداشوی آثار ديونانو بودائې صنعت په باب کښې زمونږ نظريې ته تغير ورکوی نو مونږ مجبوروی چه په باختر کښې د يونانيانو د تسلط خطر ته دنژدې او مخامخ شو وخو اصو په نسبت او په دغه باره کښې چه ويل شوی ؤ. د يونانيانو سلطه (دلوی صنعت دخپريدلو دپاره) لږه مساعده وه خپلې نظريې ته تغير ورکړو-هاکن په افغانستان کښې دفرانسې دحفرياتی هيئت دلسو کلونو اجرا آتو د کتاب د توکيو د ۱۹۳۳ کال چاپ ۶۵ مخ.

ACKU

باختر کښې تيږه حتى په ودانيو کښې ډېره لږه استعمال شوې ده او په ګندهارا کښې ډېږه او پېښور په شاوخوا کښې ئې د تيږو ډېر زيات هيکلونه موندلي دي نو ګندهارا ته ئې د صنعت د مبدې له کبله ترجيح ورکړې ده. او ګچي آثار ئې د تيږو له مجسمو نه ډېر نوي او تازه بللي دي او (هاکن) څرنګه چه د خپلې څېړنې په پای کښې د باختري بودائي صنعت په رساله کښې ليکي :

«د ګچي آثارو ميدان ته ئې له تاکزيلا نه نيولې د اکسوس تر سيمې پورې پراختيا ورکړې او وائي چه: دغه تخنيک يو داسې رويه ده چه د يونانيانو سره په تېره له کوچنۍ آسيا کښې خپره شوه، او د سليټ د تيږې نوي تخنيک چه ميدان ئې له کاپيسا نه تر تاکزيلا پورې رسيده وروسته منځ ته راغى. او هغو هيکل جوړونکو چه د سليټ تيږه ئې په کار وله بيا هم شک او شبهه نه ګچي هيکلونه ئې د خپل کار نمونه او مدل ګرځاوه. په نتيجه کښې د دې سبک او تخنيک نه فرعي آثار راووتل چه آني او موقتي اهميت ئې درلود. او يوازې د ګچ کارو استاذانو د فعاليت په اثر وچه د ګريکو بوديک صنعت په ډېر مهارت وکولى شول چه خپل خصوصيات د منځنۍ آسيا دروازې ته ورسوي.»

د دغې مدرسې په اولو مرحلو کښې د موادو په استعمال کښې د نظر يو اختلاف تر يوې اندازې پورې د افغانستان د مختلفو ځايو د هيکلونو او مجسمو د تاريخ په ټاکلو کښې چه مونږ هغه مطالعه کوو يو څه تغيرات راولي او تاريخونه سره لږ نژدې کوي مګر هر کله چه د تاريخي پېښو حقائقو په ډېر نژدې دي د صنعت د تحولاتو په مراحلو کښې مخصوصاً د هندوکش په جنوب کښې د فوشې په نظرياتو باندې استناد کوو. او پرېږدو چه د سږ کال حفريات په باختر باندې څومره نوې رڼا اچوي.

**د کار شروع** : د ګريکو بوديک د صنعت مدرسه په باختر يا ګندهارا په هر ځای کښې چه شروع شوې وي د دې مدرسې د شروع کيدو د نېټې په باره کښې د فوشې او هاکن نظريې تقريباً يو شى دي، او په خپل منځ کښې دومره ډېر ليرى والى هم نه لري. ځکه چه هاکن د دې مدرسې شروع کيدل په باختر کښې د يونانو باختري پادشاهانو د سلطنت د تنزل په دوره کښې بولي. او فوشې په پوشکارا واتي (چهارسده) کښې د يونانو باختري دولت د يوناني

حکمرانانو په زمانه کښې بللې دي چه په دغو دوو عصرونو کښې د دې مدرسې د آثارو
پیداښت د لومړۍ قم پیړۍ په لومړیو وختو کښې بللې شو، په دې کښې څه شک نشته
چه د بودا اساکیامونی د نمایش د مفکورې اوائل چه هندي بودائیانو جرائت نه کاوه چه
هغه د انسان په څېره وګرځوي د افغانستان په یونانو باختري صنعتګرانو پورې مربوط
دی. ځکه څرنګه چه بمبئې ته نژدې (دوهمه او دریمه قم پیړۍ) د صافي هندي سانشي مدرسې
لوحې او آثار شهادت ورکوي چه په آریاناکښې د ګریکو بودیک د مدرسې د مفکورې
د پیداکید و نه پخوا د بودا پیروانو به په هند کې ساکیامونی په نښو او سمبولونو دله
مثلاً په آس باندې د هغه د پښو ځای په رکاب کښې او په زین باندې به ئې چترۍ دروله
او یا ترڅوکۍ لاندې به ئې د پښو د ځای نښه او په هغې باندې به ئې د (بودهي) ونه کښله او له
دغو نښو او علامو نه به معلومېده چه بودا په آس باندې سپور او یا پر چوکۍ باندې
ناست دی.

نو له دې کبله د پراخ نظر بودائیانو او دوی صنعتي روحیاتو لرونکي سیمه په کار او
لازمه وه چه دغه دواړه شیان د آریانا په خاوره کښې پیداشول لومړی د بودا شکل و
د هغه د ژوندانه ځینې مجلسونه په رسم او نقشونو په صورت او وروسته بیا د هیکل په
دول د لومړۍ قم پیړۍ په اوائلو کښې د یونانو باختري مستقلو بادشاهانو د سلطنت په
دوره کښې ئې د هستۍ رنګ ومونډ او د لومړۍ مسیحي پیړۍ په وختو کښې دغه
صنعت یا په باختر کښې د ګچي هیکلو په صورت او یا په ګندهارا کښې د تیږو د مجسمو
په دول او دغې مدرسې د کار ! مړیه او پخوانۍ نمونې چه زیاتره کلاسیکي شکل لري مخ
په زیاتوالي شوې او په هره زمینه کښې دومره نمونې پیدا شوې چه په وروستیو
پېړیو کښې ورځنۍ الهام واخلي او د هغو پیروي او تقلید وکړي خو متأسفانه تر اوسه پورې
سره د سنې او تاریخ د لیکل کید لو نه په کوم لومړي باندې د بودا کوم یو حک شوی تصویر
پیدا شوی دی او نه ئې کوم یو د تیږې یا ګچي هیکل چه د یونانو باختري خپلواکي کورنۍ په
دورې پورې اړه ولري تر دې چه د دغې کورنۍ سلطنت او پاچائي په آریاناکښې سقوط
کوی او اسکائیان او د هغوی نه وروسته پارتیان (پهلوایان) د باختر او ساکستانا ـ (سیستان)

ACKU

او دارغنداب له حوزې نه د کاپیسا او لنلوس حوزې ته رسیږي او د هندوکش د جنوب
د ساك او پارت د کورنیو سلطنت کاملا لاس ته راولی. فوشی د دیر پخوانی بودائی تصویر
نسبت دغی دورې ته کړی او هغه یو داسی تصویر دی چه په طلائی قوتۍ باندی د ننګرهارا
(ننګرهار) له پخوانیو استوپو نه دیوی استوپی په خرابو کښی د هډې په شاوخوا کښی
د (بیماران) په غونډۍ کښی موندل شوی دی.

په دغه طلائی لوښی کښی د افغانستان داسکائی پاچا (ازس) د مسو څلور نوری سکې کیښودل
شوی دی. د مسکوکاتو قوتۍ یا کوچنی صندوقچه د داسی تیزی په یو لوښی کښی کیښودل
شوی ده چه تیزه ئی پسته او نرمه او شنه بخن ده. او دغه صندوقچه دیو سړی له خوا چه (شیوا
راکشیته CivaraKshita) نومیده دغی استوپی ته وقف شوی وه، د تیزی د لوښی
دا یکنی نه معلومیږی چه شیواراکشیته څپله ورته یعنی د دیرشم ق م کال نه وروسته په استوپه
کښی ایښی ده خو فوشه او (استن کنو) په دغه فکر کی دی چه دغه سړی یوازی هماغه د تیزی
لوښی داستوپی د ترمیم په وخت کښی دکتیبی سره وقف کړی دی او احتمال لری چه طلائی
صندوقچه د بودا د تصویر سره د دیر پخوانی زمانی وی.

په هر صورت څرنګه چه فوشه عقیده لری له دغه ناحیه دغه تصویر د حضرت مسیح [ع]
د پیدا کیدو او ظهور نه پخوا د بودا صورت مونږ ته ښکاره کوی [۱].

داهم باید وویل شی چه دا د سرو زرو صندوقچه د افغانستان د مستظرفه صنائعو د تاریخ
له نقطې نظره څخه عموما او د ګریکو بودیک د مدرسی په لحاظ خصوصا دیر اهمیت
لری او معلومیږی چه د ننګرهارا هنرمندو او بودهو استاذانو د حضرت مسیح د زمانی
د شروع کیدو نه پخوا د صنعتی آثارو په پیدا کولو او د تصویرونو په نقش کولو کښی
ممارست او مهارت درلود او د هغوی دغه ممارست او تیاری او چمتو والی به د هډې
د ګریکو بودیک د صنعت د ترقی او عروج په باب کښی یاد او بیان کړو.

هغه څه چه د مخه مو بیان کړل د بودا د تصویر په باب کښی وو بیله دغه تصویر نه دوه

(۱) د بلخ نه تر تاکزیلا پوری د هند پخوانی لاری د کتاب د دوهم جلد ۳٤۱ مخ دغه کتاب
د فوشی تالیف دی چه د پروفیسر په دول می کتلی دی.

ACKU

مجسمې نورې هم پهلاس کښې شته چه سنه او تاریخ لرې یو په سوات کښې پیدا شوې دې او بله په پوشکلاوتي کښې پهلاس ته راغلې ده. په مجسمه باندې په ۳۱۸ کال او دوهمه باندې په ۳۸٤ کال کښې د مجهول عهد او زمانې سنه لیکل شوې ده.

څینو پوهانو دغه سنې او تاریخونه د ساکیانو په زمانې پورې مربوط بللې دي چه شروع ئې د ۳۱۲ ق م کال سره مطابقت کوي او څینې نور وائي چه دمو ریایانو، ساکیانو او دارساسیانو په زمانې پورې اړه لري. په هر صورت فرشه د حضرت مسیح د زمانې په حساب نمړی د مسیح د زمانې په (۷۰) او دوهمه ئې په (۱۳٦) کال پورې مربوطه گڼي. او په دغه ترتیب دغه دوه هیکلونه د لومړۍ مسیحي پیړۍ په دوهمه نیمائي پورې او دوهمې مسیحي پیړۍ په لومړۍ نیمائي پورې اړه او ارتباط لري.

دگریکو بودیک د مدرسې ترقي، د کنیشکا پیړۍ:

---

دگریکو بودیک صنعت چه د قبل المیلاد د لومړۍ پیړۍ سره یوځای منځ ته راغی په لومړۍ مسیحي پیړۍ کښې ئې دوام وکړ چه د اسکائیانو — پهلوایانو د تنگ او راتگ او د کوشانیانو د دوی د لومړۍ کورنۍ د سلطنت د جوړیدو او ټینگیدو وخت او دوره وه. نمونې او مدلونه په گندهارا کښې وار په وار زیات شول — مگر سره ددې دواړو د کوشانیانو د لومړۍ کورنۍ یاد کدفیزسیانو کورنۍ د سلطنت په زمانه کښې ئې کومه ښکاره ترقي او پرمخ تگ و نشو کړی، او که ترقي ئې هم کړی وی هغه ترقي لږه او محدوده او په پاتې شوه تر دې چه ستر پیرو د رنگی (خریدار) او مشوق لکه لوی کنیشکا او یوه مأمونه او مجلله دوره لکه د کنیشکا د حکمرانۍ او حکومت زمانه منځ ته راغله — دیونانو باختري کورنۍ د سلطنت سلطۍ او اقتدار د کمیدلو او تنزل په دوره کښې د دغه ځای ما هرو صنعت گرانو چه د هنرمندۍ نقش او تاثیرات ئې د دغې کورنۍ د مسکوکاتو سره د افغانستان د مستظرفه صنائعو په تاریخ کښې د همیشه دپاره ثبت دی کرار کرار د هندوکش جنوبي خواته په مهاجرت شروع وکړه. د اسکائیانو او یوچیانو حملې او یرغلو نه زیاتره ددې کار باعث وگرځیدل چه د هنر او صنعت خاوندان د هند وکش د سلسلې جنوبي برخو ته را ښکته شي.

ACKU

دگندهارا سیمی څرنگه چه د مخه بیان و شوځه تاڅه‌دلو مریده قم پیریده نه‌ئی په صنعتي مسائلو کښې شهرت پیدا کړی او دبودائي مذهب دحرارت په لحاظ ( د وهمه مکدي) بلل شوی او دهوعوده مځمکې حیثیت ئې پیدا کړی ؤ . دعقیدې حرارت اودهنروریده نفیس ذوق او مهارت په آرامه اومساعده فضا کښې سره نژدې او اوږد تماس ئې پیدا کړ ، او په نتیجه کښې دگریکوبودیك دصنعت دترقیده په‌تیره بیاله تیزونه دمجسموجوړولو او هیکل تراشیده دپاره زمینه برابره شوه . او دتاریخې پیښو جریان په تیره بیادغو دریو مهمو عواملو دهغه دکاملې ترقیده زمانه منځ ته راوستله (۱)

۱ـ دیو مقتدر امپراطور بودائي کیدل لکه کنیشکا .

۲ـدآریانادکوشاني امپراطورۍ‌سره دروم‌ او چین‌دامپراطوریو دتجارت پراختیا

۳ـ دکلاسیکي صنعت خپریدل‌او دهند والاووډیره‌اوښه‌رونه ، هرکله چه‌دغه دری عوامل دگریکوبودیك دصنعت دترقیده اوپرمخ تګ په‌تاریخ کښې لوی لاس لری نوغواړوچه‌په لنډ صورت دهغوی‌په بیانولو شروع وکړو :

(۱)ـ دکنیشکا د شخصیت تاثیر : په‌شمالي برخو کښې دیونانو باختری پادشاهانو دسلطنت دغو، ځیدلو نه‌وروسته(د ۱۳۵ ق‌م‌په‌شاؤخواکښې) اسکائیان ، پهلوایان‌او کوشانیان کرار کرار زمو نږ دتاریخ‌میدان او صحنې ته‌راووتل سره‌ددې‌چه‌دهغوی په‌باب‌کښې زمونږ معلومات لږ دي خوبیاهم طبعاً حکم‌کولې شوچه‌دصنعت تدریجی پرمخ تګ‌او تکامل‌ځنډیدلی نه‌دی . مګردو مره‌خبره ده‌هرکله‌چه‌تګ‌او راتګ‌اوهرج ؤمرج زیات ؤ نوهغه پوره امنیت چه دصنعت خپریدل ورته احتیاج لری دکوشانیانو دپیدا کیدلو تروخته یاپه‌بل عبارت دهغوی‌د ډیرمستر او مقتدر امپراطور دظهور تر زمانې پوری حاصل نه‌شو .دمذهب‌په‌لحاظ دپهلوا(گندوفارنس)چه په‌کابل کښې‌ئی‌هم‌دکوشانیانو دپیدا کیدوپه زمانه کښې او دهغې نه ‌پخواحکومت درلود یاتره‌مسیحیت‌ته متمائل‌ؤ

---

(۱)فوشې (دمدرسی انبساط )ترعنوان لاندې دگندهارادگریکوبودیك د صنعت‌په مخاورمه برخه کښې‌دغه موضوع بیان کړی ده .

ځکه ځر نګه چه‌دتار یخی ټکلو نو او داستانو له‌متنو نو نه‌معلو میږ ي‌دمبلغ (سنت‌تو ماس) داقداماتو په‌اثر دمسیحیت پیر و او تا بع شوی ؤ ـ دکدفیز سیا نو لو مړ ی‌د کو شاني‌کو ر نی که څه هم د (دیند ار ې) په صفت یاده شو ی د ه مګر زیا تره‌دشیو اپیر و او تابع و ه (نو په تیر ه‌بیادو هم کدفیز س‌چه‌مسکو کات ئی په‌وا ضح ډ ول په‌دغه‌قضیه‌کښی حکم کو ی ) .

نوبو دائی دین او‌مذ هب‌ز مو نږ په مملکت کښی دکنیشکاتر ز مانی‌پور ی‌کو م‌مقتدر پاچامو ندلی نه‌ؤ چه‌دهغه‌طر فداری‌او حمایه‌و کړ ي ـ کنیشکادخپل سلطنت‌د څو لو مړ یو کلو نو نه ور و سته دبودادین‌قبول‌کړ ، او ددغه‌تاریخ‌نه ور وسته دبو دیزم او بو د ائی آ بد اتو او صنعت یو ه مجلله او ستر ه‌دور ه‌شروع شو ه. کو شاني شهنشا ه لو مړ ی‌ځل پخپله یو ه‌سکه باندی (بو دا) په یوناني لبا س او د ( بو د و ـBoddo) په نامه په یو نا نی رسم ا لخط ضرب کړ .

لو ی‌کنیشکادمو ریا دامپر اطور (آ شو کا) په شان په بو دائي ادبیاتو کښی ډیر شهر ت لر ی ـ او داستانو نه کټ‌مټ هغه شیان چه‌دمو ریا ئیانو دامپر اطور په باب کښی بیان‌کړ ی دی ، دکو شا نیانو د امپر ا طور په با ب کښی ئی هم بیانوی . کنیشکامذهبی‌عمر اناتو او و د انیو ته د یر ه‌توجه د رلو ده‌د (تو پ د ر ې) دمعبد او استو پی لو یه و دانی چه دچار یکار و په غر بـی خوا کښی‌ده‌او همدار نګه دیو ی لو یې‌استو پې و د انی چه څلو ر سو ه‌قدمه‌لوړ ه ده‌او په شر قی‌ګند هار ا (پیښور ) کښی ده تولی دکنیشکاد ز ما نی دو دانیو یادګارونه‌دی. کنیشکادصنعت ګر انو او هنر والا نو او د کسبی خلکو په جلبو لو کښی ډیر کو ښښ کاو ه. په١٩٠٨عیسو ی‌کـال کـښی پیښور ته نـږ دی پـه( شاجی کـی ډهـ ری Shah-ji-ki-Dheri)نو می ځای کښی‌یو داسی لوښی‌پیداشو چـه‌د کـنیشـکا صو رت او نـوم پـه کښی نـقش ا و د هغـه د جـو ړ و و نـکـی ا و صنعت ګر نو م ( اجه زیلاس – Agesilas)اوپه پرا کریت کی ( اجیسالا AEiçalaیادشوی د ی چه دغه صنعتګر یایو نا نی او یا دګندهار اد‌خلکو نه‌ؤ ـ کو شانیانو په عمو می صو ر ت‌سر ه و کړ ای‌شو ل چه دباختر دپخو انی مد نیت‌مبادی‌او هغه‌نو رشیان چه یو نا نیا نو دد وی

هیوادته راوړی وو. وشاتی، څرنګه چه کنیشکا بودائی دین ومانه، دافغانستان د هغی زمانی دنفیسه صنائعو په رواجولو او ترقی کښی چه نن ورځ په یونانو باختری صفت یادیږی ډیر زیار وایست که څه هم دکاپیسادشمال غربی څنډی له واوره ډکو غرونو په لمن کښی دیو معبد دجوړیدو راساس مونږ ته دیو داستان په صورت رسیدلی دی (د ۲۵۰-۲٤٦ م خونو پاورقیو ته دی مراجعه وشی) مګر بیا هم داخبره په ښه صورت بیانوی چه کنیشکا دینی او مذهبی ودانیو او عمراناتو ته څومره توجه درلوده او اصرار ئی وربانډی کاوه، دبګرام (دپخوانی کاپیسی دکنیشکا د پسرلی او دوړی پایتخت) دحفر یاتو نتیجی داحقیقت ښه روښانه کوی چه کوشانی پادشاهانو په تیره بیا کنیشکا دیونانی، رومن - چینی او هندی نفیسو آثارو او صنعتی شاهکار یو قدر لولو او ساتنی ته څه دبیاو بیا توجها تونه ددوی امپراطوری دهر او ړلکیدل ډیر اهمیت ورکاوه. دغه آثار چه دکابل په موزیم کښی کیښودل شوی دی ثابتوی چه دلویو کوشانیانو سلطنتی مرکز په تیره بیا دهغوی ددوبی پای تخت یعنی بګرام دهغه عصر او زمان دصنعتی آثار و دیو ځای کیدو کانون او مرکز شمیرل کیده.

(۲) — درو من دامپراطوری سره دتجارت پراخوالی یا اقتصادی عامل:

---

په تیره شوی فصل کښی مو په دغه باب کښی بوالحی دتجارت په لحاظ یوڅه وویل او بیان مووکړ. په هغه ځای کښی زمونږ مقصداو بیان تجارت من حیث تجارت و او دلته دهمدغه تجارت اثر داقتصادی عامل په نامه دمستظر فه صنایعو دبازار په ترویج کښی د ملاحظی لاندی نیسو. دلویو کوشانیانو په فصل کښی د مسکوکاتو په بحث کښی وویل شول چه درومنیانو دسرو زرو دزیاتوالی له کبله کوشانیانو دلومړی محل دپاره دسرو زرو دمسکوکاتو په ضربولو شروع وکړه، او د (دینار) او (درهم) کلمی چه په افغانستان کښی مشهوری دی دلویو کوشانیانو دعصر یادګار او داقتصادی روانډی ثنګدوره ده چه په عین حال کښی درومنیانو دمسکوکاتو د پروخپریدلو او رواجیدو تائید هم کوی او معلومیږی چه ددنیر Denir دکلمی نه دینار او ددراکم DraChm د کلمی نه درهم جوړ شوی دی سربیره پر دی دکوشانیانو دسرو زرو دمسکوکاتو وزنه هم درومن دمسکوکاتو سره برابر

اوبو شي ؤ.-دکابل دموزي د تاسيس نه پخوا په شاهي صندوقخانه کښې د بر پخوانى مسکوکات جمع شوي ووچه ټول د موسيو فوشي له خوا په باغ بالا کښې جلا جلا او طبقه طبقه شوي وو.-موسيو فوشه ليکي چه: دهندو گريك (يونانو باختري) پاچاهانو په(دراکم) په تيره بيا دهندوسيت (کوشاني) په مسکوکاتو سربيره د روم او بيزانس دوروستيو قيصرانو څخه ددولسوتنو داريکونه چه اشکاني او ساساني سکو او دوينز د ديوکاتو نو سره په وزن کښې برابر په ټرتيب سره په دغه ځاى کښې وليدل شول ، او بنکاره کوي چه څرنگه دختيز او لوېديز ترمنځ تجارتي روابط دوره په دوره ټينگ وو(۱)

په هر صورت داقتصادي او ضاعوښه والى او درومنيانو - چينيانو او هنديانو سره دوچپي او بحري دلياري دتجارت ترقي او پراختيا دراهيښو ،روحانيونو - او صنعتگرانو دبازار دتو دوالى طبيعي عامل ؤ.- دکارو انو خاوندانو او لويو سوداگرو چه په مياشتو مياشتو به ئي دهند وکش درې او دباختر او تخارستان اوبې او پراخې جلگې له پښو څنه ايستلې او دپامير له هغې خوانه داريوس (هريرود) ترڅاوي او دنا گزيلا نه تر بلخ پورې به ئي خپل قيمتي تجارتي مالونه وړل او راوړل طبعاً هغوي دخپلو ځانو او قافلو دسلامتيه دشکريې او ددېرې گټې په اميد به ئي معبدو او روحانيونو ته بسپنې ورکولې -اکه چه زياتره معبدونه په تيره بيا استوپې داغو او اوقافو په پيسو جوړې شوي دي: موسيو فوشه وائي (۲) چه کله نا کله به سوداگرانو يواځې دپانگې او سرمايې دتمرکز په نامه دمعبدا و استوپې دجوړولو دپاره مخصوص تجارتي مسافرتونه کول. دفرانسوي پوهاند دنظر په سر مسم (صنعت يو او کس او ښکلي مال التجاره ده چه ترقي او پراخ تگ ئي د شتمنو او ځوان مردو اعانه ورکوو نکو وجود تائيد وي.)

حقيقت همد غه دول دي او که چيرې داسي نه وای نو دغه دول لوړې استوپې او

---

(۱) د بلخ نه ترنا گزيلا پورې دهندپخوانى لياره د کتاب دد وهم ټوك ۲۲٦-۲۷ مخونه. دغه کتاب دمستر فوشي تاليف دی.

(۲) دگندهارا دگريکوبادياښ دصنعت ددوهم ټوك ۵۲٦ مخ.

مجالي معبدونه سره درنګه دیوالي تصویرو، نقشونو، او تزئيناتو او د تعجب وړ هیکل تراشیو بې د ښمنو او پانګه لرونکو او سوداګرې طبقې له پیسو، مرستې او همکارۍ نه میدان ته راوتلي نه شول - آیا د بامیانو درې چه یوه تنګه دره ده څرنګه په زرګونو مختلفو عمله او هنرو کارانو او صنعتګرانو ته غذا ورکولی شوه په هغه صورت کښې چه د هندوکش په دواړو خواؤ کښې د لویو قافلو د دائمي تګ او راتګ او تجارت موضوع په منځ کښې نه وای؟

نو که څه هم په ظاهر کښې اقتصادي عامل د صنعت د خپریدلو او پراختوالي په موضوع کښې دومره لاس او دخل نه درلود، مګر په حقیقت کښې ډیر د خاطر لرې او له ډیرو مهمو موجباتو څخه دي چه د ګریکو بودیك صنعت ته ئې د کوشانیانو په دوره کښې په تیره بیا د دوهمې مسیحي پیړۍ په اوله نیمائي کښې چه د ونږ ئې د کنیشکا پیړۍ کښې بوداو پراختیا ورکړه -

۳- د ګریکو رومن صنعتګرانو او د صنعتګرانو د شمیر زیاتوالی :

---

د دوهمې مسیحي پیړۍ په اوله نیمائي کښې دیو ناتو بودائي صنعت د ترقۍ او پرمخ تګ د عوامل و په جمله کښې د مقتدر پاچا بودائي کیدل - د پیسو ډیرښت، د نفیسو شیانو او ډول کیدل او د ژوندانه ښکلیتوب او تجمل موحساب کړل او هغه باشي چه په دې موضوع کښې هم د تاثیر او اغیزې نه خالي نه دي د بیزانس او مدیترانې د سواحلو نه د ګریکو رومن د صنعتګرانو راتګ دی. (رونه ګروسه) داسې عقیده لري چه ګریکو بودیك مدرسه په اوو مړۍ د مسیحي پیړۍ کښې د خپلې ترقۍ آخري درجې ته ورسیده له په دغه عصر کښې د سزار او فلاوین د زماني د ګریکو رومن ښکلې او خایسته صنعت په ختیز و هیوانو باندې تاثیر وکړ او د کنیشکا په زمانه کښې د کوشانو رومن د تجارتي او سیاسي تعلقاتو په سیوري کښې د صنعت دودې او ترقۍ د پاره زمینه برابره شوه، همدارنګه څرنګه چه د کنیشکا د زمانې د پوره امنیت په فضا کښې سوداګرانو به په ډیره آسانتیا او سهولت سره دا مپراطورۍ په بیلو بیلو ځایو او په ګاونډیو هیوادو کښې تګ او راتګ کاوه او له دې کبله په دې کښې هیڅ شک او شبهه نشته چه د کسب او حرفت خاوندان او صنعتګران

ACKU

هم په تنګ او انګ کښې وو او هغو ځایو ته به تلل چه هلته ئې پېرودونکي او اخستونکي درلودل او هغوی ته به ئې خپلې هنرمندۍ او صنعت وړاندې کاوه په دغه ترتیب له (پامیر) او دختیز روم (بیزانس) له نورو ځایو څخه دکنیشکا په زمانه کښې صنعتګران او مرختیزې خواته زموږ د هواد ترخاورې پورې وړاندې را غلل او زموږ د محلي هنرمندانو او صنعتګرانو سره په تماس کښې شول ـ دغه تګ او را تګ د صنعت بازار لا پسې تود کړ او د هنر دخاوندانو شمیر زیات شو د ګریکو رومن دصنعتګرانو در انګ تاثیر له دې نه معلومیږي چه په اوله او دوهمه مسیحي پیړۍ کښې دهندوکش په جنوبي سیمو په تیره بیا په ګندهارا او کاپیسا کښې د صنعت مظاهر د (ګول) او (بیزانس) د اثارو سره ډیر شباهت لري او په خپل ځای کښې به د هغو د مقایسې صورت بیان کړو ـ په دې کښې شک نشته چه د ګریکو بودیک مدرسه څرنګه چه تر دغه ځای پورې مو د هغې بیان وکړ د یونانو باختري سلطنت په آخره دوره کښې په لومړۍ ق م پیړۍ کښې منځ ته راغله او دیاوانا Vavanas په زمانه کښې باختري یونانیانو په هغې کښې لوی لاس د راوړ او په لومړۍ مسیحي پیړۍ او د دوهمې پیړۍ په اوله نیمائي کښې په هغو جهتونو سره چه د مخه بیان شول د ترقۍ مرحلوته ورسیدله، خو دغه ترقي باید د تیږو په هیکل تراشیو پورې منحصره وبلله شي. ځکه لکه چه وروسته به وګورو د ګچي آثارو د ترقۍ زمانه هماغه دریمه مسیحي پیړۍ ده:

د ترقۍ د دورې ممیزات: د ګریکو بودیک د مدرسې د ترقۍ او پرمخ تګ دوره په اوله او دوهمه مسیحي پیړۍ یعنې د دوهمې مسیحي پیړۍ په اوله نیمائي کښې د لوی کنیشکا د حکومت په وخت کښې شروع شوې ده او په تیره دوهمه پیړۍ کې دوام کوي.

په دې کښې هم څه شک نشته چه د کوشانیانو په وخت په آریانا کښې د یوې لویې امپراطورۍ د تشکیل اساس کیښودل شو او په هند او چیني ترکستان کښې د لوی کنیشکا د جنګونو او فتوحاتو په اثر د دې امپراطورۍ لمن ډیره پراخه شوه او یوه داسې امپراطورۍ ورڅخه جوړه شوه چه د روم د قیصرانو او د چین د خاقانانو د امپراطوریو سره ئې برابري کوله. د امپراطورۍ جاه و جلال طبعاً په معمارۍ او هیکل تراشۍ

باندی اغیزه وکړه او مذهبی آبدات او و دانی نوری پسی لو بی ، ښکلی او ښکلی شو ې ،
ددې دوری په هیکل تراشی کښی دغه لاندی ممیزات او خصوصیات لیدل کیږی :

( ۱ ) دمعمارئ د آثار و په ښکلیتوب او نمایش کښی د (کورنت) په مشهورو ډول ستونو او سرستونو استعمال .

(۲) دلومړی مسیحی پیړۍ په مجسمو او هیکلونو کښی دبوداښی او ږ ه او پښی په ډ اهبی لباس ډیلان (بی لستو بوکوچړ) سره پټی شوی دی.

(۳) پخوانی محلی ارباب انواع دبودادشخصیت په شا وخوا کښی لیدل کیږی

(٤) په هیڅ بوبودائی هیکل کښی دتعلیم حرکت و نه لیدل شو .

( ٥ ) دبوداهیکل دبومجلس دافرادو په منځ کښی دنورو نه غټ معلومیږی ددی عصر په هیکلونو کښی که په دقت سره وکتل شی لیدل کیږی چه د مجسمی ویښتان تاو راتاو شوی او دکالو قاتونه ډیر نازک شوی دی بوداز یاتره په داسی تخت باندی ښودل کیده چه دنیلوفر و د ګل د پاڼو څخه مرکب ؤ. ددی دوری دبوداڼی هیکلونو او مجسمو ښی او ږه لوڅه اوبربنډه ، او دهندی وراسه او ږو ا جونوسره سم په سینه باندی ددوارو لاسونو په کیښودلو سره دپیشګوئی حرکت ترسیموی . په تولنواو صحنو کښی دبوداونه (قد) لوړه ده او دبوداد ملګرو شمیرلکه بوداپان بودیس اتوایان فرعی ارباب انواع او داسی نور پسی زیاتیده. همدغه دبودادمجسمی اوهیکل دلوبو او مفکوره په آخره کښی خبره دی ته رسوی چه مجسمه جوړوونکی دبوداهیکل لکه په بامیانو کښی دغرو په تیږو کښی په لوړو ارتفاعاتو او تناسب ۳٥ متره او ٥۳ متره جوړوی ، لکه چه په همدغه رویه به سل او دوه سوه قدمه حتی له دی نه زیاتی لوبی استوپی جوړیدلی لکه چه په توپدره کښی چاریکار و ته نژدې او همدا رنګه په پیښور کښی دکنیشکا استوپه چی ددې مدعا شاهدی دی . دیونانو باختری صنعتی مدرسی ترقی داولی او دوهمی پیړۍ په دوره کښی ددریمی پیړۍ تر نیمائی پوری دوام درلود. او دغه هنه تاریخ او وخت دی چه دلویو کوشانیانو داقتدار او پسرم دوره په انحطاط او سقوط بدلیږی

دکوشانو ساساني زمانه: دد ریمې مسیحي پېړۍ په نیمائي کښې د لویو کوشانیانو داقتدار دسقوط نه وروسته کیدارې کوشانیانو لومړۍ په باختر کښې او وروسته بیا د ختیځ هندوکش په جنوبي سیمو کښې دساسانیانو دیر غلو نو او چپاو و په مقابل کښې ټینګار او مقاومت وکړ او دکابل شاهي خو المحکي ئې تر خپلې اداري لاندې وساتلې. او کابل او بلخ ته تر نژدې ځایو پوري دساسانیانو په وړاندې رانګ سره دهغوی دینګالي او دربار ی ژوند او دکالیو، ګاڼو او صنایعو نفوذ تر یوې اندازې پوري زمونږ دهیواد د ګریکو بودائي صنعت سره چه په دغه وخت کښې ئې ددریو پیړیو سابقه درلوده تماس ووند او سره ګډ او یو ځای شول:

مګر باید وویل شي چه دمقابل طرف نفوذ هم بې مداخلې نه ؤ لکه چه مسانی دافغانستان دبودائي دین څخه پخپلو قوانینو کښې دیر شیان واخستل په هرحال ځینو پوهانو دهمدغه صنعتي ګډون او اختلاط مظاهر دګریکوبودیك له اصلي و ئې نه دیو ې څانګې او ښاخ په صورت جلا کړې دي چه هغه (ایرانو بودائي) یا (کوشانو ساساني) بولي او زیاتره مظاهر ئې د دیوالي رنګه نقشو په ډول په (دختر نوشیروان) کښې دبامیانو دلمر او بدیز ې برخې په سل کیلومتري کښې د (رونې او مونې) کلاته نژدې موجود دي چه متأسفانه په دیر خراب حالت سره دي. دغه راز دهغو اعانه ور کوونکو په کالیو او ګاڼو کښې چه دبامیانو د ۳۵ متري بت دطاق په چت (سقف) کښې رسم شوي دي هم ددغه عصر او زمان تاثیرات په ښکاره ډول لیدل کیږي.

دموسیو فوشې دکتنو له مخې په بودائي صنعت کښې ددې زماني ممیزات په دغه ډول دي:
بودا به ئې عموماً داسي جوړ او رنګ اول بدن به ئې په کالیو کښې پټ ؤ د نیلوفرو دپاڼو په ځای به ئې بودا په یو تخت باندې کښینا وه.

بودیس اتوایان دمجلس اوجرګې په پای کښې لیدل کیږي او فرعي ارباب انواع دګلانو امیاو نه وړاندې کوي موسیوفوشه دغه پیړۍ د: خپلو ممیزاتو سره دځلورمې مسیحي پیړۍ تر آخره پورې رسوي:

پنځمه پیړۍ دګریکو بودیک دمدرسي تنزل: په دې کښې هیڅ شك نشته چه دپنځمې پیړۍ په اوله نیمائي کښې دسیاسي حالاتو دنینګوالي او دقومي بیدا رۍ او دساسانیانو

د اسلامي دزوال په لحاظ یقیناً یا نوظهور دیر دلیلونه او ملاحظات ورکوی مګر دبودائی دین سره دیقیناً نو مخالفت او په جنګ او جنګی تدارکاتو او دفاع سره دهغوی مشغولیتو چه دبایې لیاری ګټور رواقع شول دوخت دا یجاباتو سره سم ئی ضروری شیا نو وی کار کړل او صنعتی تحول له مخناو او تنزل سره مخامخ شو . دافغانستان خلک په دغه زمانه کښې زیاتره په نظامي چارو بوخت وو چه خبره ددفاع نه هم او فتوحاتو ته ورسیده او په دغه ترتیب د ذوقي او صنعتي آثارو په ځای نور مشغولیتونه منځ ته را غلل او نور شیان رواج او معمول شول ، موسیقي فورمه ددې زمانې مجسمې (بی روحه ګرده ) بللای او وائی چه هیکل تراشیو او مجسمو جوړولو تجارتي رنګ پیدا کړی ؤ او مجسمو جوړونکو وسمو هر راز شي او خرابي مجسمې جوړولای او مقصد ئی د صنعت مکلیتوب نه بلکه د صنعت خرڅول ؤ او ددغو مجسمو خاوندانو ډیرو ته ډېر د ذوق خاوندان نه وو چه دغو شیانو په اړه لوکښې ئی کوښښ او ادراک کړی وای دیقیناً نو سکوکات دخپلو شاهانو (کانفیتی) تصویرونو سره د صنعت تنزل ښیې.

شپږمه او اوومه پیړۍ د هیکل تراشۍ او ورستۍ نمونې :

---

بایدو وویل شی چه په پنځمه پیړۍ کښې دګریکو بودیک دمدرسې د هیکل تراشۍ تنزل د دغو مستظرفه صنایعو دښا نګی دکامل سقوط باعث ونه ګرځید بلکه دپنځمې پیړۍ دتیر یدلو نه وروسته په شپږمه او اوومه پیړۍ کې ئی هم د وامه راو دطبعاً دپنځمې پیړۍ د صنعتي انحطاط نه وروسته په شپږمه په تیره بیا په اوومه پیړۍ کښې د تخارستان په برخو کښې د توکیو (ترکی) پادشاهان دافغانستان دمحلي بودائی دین پیروان وو . او هم د کاپیسا د رکشاترو یا ) پادشاهان په خپله د دغه دین پیروان او تابع وو . البته هغه کسان چه د لمر عبادت به ئی کاوه او شیوائی پیروان دبلده (بودا) د پیروانو سره اوږه په اوږه د ښتیزه ناو کښې په قدرلوجنوبی برخو کې لیدل کیدل ، په هرحال د چین بودائی زائر (ووکونګ) چه دهیوان تسنګ نه ۱۲۱ کاله وروسته له ګندهارا نه ختیز شو خلک ئی په داسې حال کښې لیدلی دی چه د معبدو په ترمیم او د هیکلو نو په جوړولو بوخت وو او دغند قستان (دغوربند دری سیاګرد) نه مخامخ دبو دائی معبدو آثار چه په اوومه مسیحی

ACKU

پېرګه پورې اړه لري هغه نمونې دي چه د پنځمې پېړۍ د ګریکو بودیک د صنعتي انحطاط نه وروسته په افغانستان کښې د هیکل تراشۍ په صنعت او د دیوالي رنګه نصویرونو کښې نوی او آخرنی جنبش او تحریک ښکاره کوي د دې سبو ها کن د کتنو له مخې د اسې ښرګند یږي چه ساساني صنعتي دوا ملو او ممیزاتو چه په خاوره په پېړۍ کښې د ګریکو بودیک د هیکل تراشۍ د مدرسې سره ګډ او مخلوط شوي وو بیا هم خپل ځای هندې دوا ملو په تیره بیا د ګوپتا د عصر ممیزاتو ته پرېښو د او دفندقستان سبک د چینی د تاکیا نو د عصر په هیکل تراشۍ باندې تاثیر وکړ دفندقستان په مجسمو کښې د اندام تناسب خپل ځای پوز باته انداز ورنګولو ته پرېښود او د دغه عصر صنعتګرانو به غوښتل چه د رنګونو په واسطه د خپل لاس محصول ډېر ښکلی او خانسته کړي . خو رنګول د تناسب ځای نیولی نشي . مخصوصاً د مجسمو سرونه د بدن په نسبت ډېر کوچني لیدل کیږي . په هرحال دفندقستان آثار دافغانستان وروستنی بودائي مجسمې جوړول بللی او حسابولی شو . خو باید داسې هم په نظر کښې ولرو چه ګچې آثار حتی په اتمه مسیحي پېړۍ کښې هم جوړ شوي دي :

هغه مواد چه د مجسمې او هیکلو په جوړولو کښې استعمال لیدل ا

---

هغه مواد چه د ګریکو بودیک د مدرسې په هیکل جوړولو کښې په کار ید ل داد ي :

ډبره یا تیږه (زیاتره د شیست شنه آبي رنګه تیږه) د ګچو تیږه ، چړنه او ژېړه خاوره . لکه چه د ګریکو بودیک د صنعت د میدې او اصلي ځای په بحث کښې مو ویل د ګندهارا او باختر د تاکلو په باب کښې د فوشې او ها کن د نظریو په خلاف د هغوی د ادو سره هم تماس کوي چه په دغه مدرسه کښې استعمال شوي دي . ځکه چه له ګندهارانه ګچې او د تیږو آثار ، او د باختر (د قندوز په آثارو کښې) ترا او سه پورې د تیږو کوم اثر لیدل شوی ندی ؛ او څو سرونه چه په لاس راغلي د ي ټول د ګچو نه جوړ شوي دي . او هرکله چه ( فوشه ) د مجسمو جوړولو په دغه مدرسه کښې د تیږو استعمال مقدم او لومړی بولي نو طبعاً ګندهارا په باختر باندې قدامت پیدا کوي .

لیکنیږي ګندهارا د پېښور شکار او اټې (چار صده) او د ګندهارا د مرکز (هډې) او د بودائي

کابل او کاپیسا له معبدو او استوپو نه د تیږو آثار پیدا شوي دي او د زمانې په تېرېدلو کښې مو د هغو تحول د افغانستان د تاریخي پېښو سره سم د مخه بیان کړ، نو اوس غواړو چه دلته د قالب په ذریعه د هیکل جوړولو او پلاستیک پوښ آثار مطالعه کړو:

په دې کښې شک نشته چه د هډې او تاګزیلا او په تېره بیا د لومړي ځای په حفریاتو کښې د ګیمي او کابل د موزې د کوټې په شهادت د لسو او سلو نه زیات بلکه په زرهاو د لویو او کوچنیو ګچي مجسمو ټوټې پیدا شوي او د ننداري د پاره کېښودل شوي دي، او پخپل ځای د قالب په ذریعه د مجسمو جوړولو او د پلاستیکي آثارو اهمیت ښکاره کوي. موسیو فوشه دغه شعبه د ګندهارا د تیږو نه د مجسمو جوړولو پوه څانګه او ښاخ بولي او د خپلې مدعا د اثبات د پاره ځيني معقول دلائل هم راوړي او له دې جملې نه وائي چه د هغو دقیقو مطالعاتو په اثر چه سر جان مارشال په تاګزیلا کښې کړي دي هغه آبدات چه دغه قالبي ګچي هیکلونه د ښکلیتوب په دول پکښې کېښودل شوي او ځړول شوي وو د څلورمي او پنځمي مسیحي پېړۍ نه تجاوز نه کوي. نو له دې کبله د ګندهارا هیڅ یو ګچي هیکل له دریمې مسیحي پېړۍ نه تېري نشي کولی، نو باید دې چه په ګندهارا کښې د قالب په ذریعه د مجسمو جوړولو شروع د دریمې پېړۍ په ابتدا کښې حساب شي، له هغې ورځې نه چه د هډې او تاګزیلا ګچي آثار کشف او پیدا شول د هغو د تاریخ د ټاکلو په باب کښې نظریاتو تغیر موندلی دی او اولی او دوهمې پېړۍ ته د هغو د منسوبولو څخه کرار کرار شبره دریمې او څلورمې پېړۍ ته ورسېدله، او داهغه نظریه ده چه زیاتره نن ورځ معموله شوې ده. باید په دې ښه وپوهېږو چه د ګندهارا د ګریکوبودیک په مجسمو جوړولو کښې پر ګچو باندې د شیست د تیږې د استعمال د لومړي والي او قدامت موضوع یوه نظریه ده. او پخپله مستر فوشه په بل ځای کښې (۱) (د قالب ګیرۍ د اصول او تحول) تر عنوان لاندې داسې لیکي: (تر هغه وخته پورې چه راتلونکې زمانه زمونږ اشتباهات مونږ ته ونه ښیي نو سمدستي د دې تحولاتو په عمومي خیال طود اسې شروع کوو: له هماغو لومړیو زمانو نه چه له تیږو نه د مجسمو جوړېدل شروع شول، او هر کله چه د شیست تیږه

(۱) د بلخ نه تر تاګزیلا پورې د هند پخوانۍ لیارې د کتاب د دوهم ټوک ۳۴۶۱ مخ.

ډېره کمه پیدا کیدله نو ځکه د بودا او حتی د استوپو په ښکلیتوب او تزئینا تو کښې به گچ او چونه استعمالیده، او کرار کرار چه بسپنه او اعانه ورکوونکی عاجز او بې بضاعته شول نو گچی آرزانه آثار معمول او رواج شول او د دریمې مسیحی پیړۍ څخه وروسته ئې ډېر زیات رواج وموند او د ترقۍ مرحله ئې تر ۵۳۰ ـ او ـ ۵۴۰ کال پورې وه او حتی د اهم ویلی شو چه په خرابې شوی گنډهارا کښې د (هیوان تسنگ) په زمانه کښې یلو اضح ډول په دغه گنډهارا کښې چه وو کنگ د ۷۵۳ مسیحی کال په شاوخوا کښې لیدلی دی ډیره برخه گچی قالبی آثار میدان ته راوتلی دی.

د دغو نظریاتو په اساس د هډې قالب شوی گچی آثار او مجسمې چه د موضوع د مهم والی او تنوع او ښکلیتوب په لحاظ د گریکوبودیک د مکتب د ډېرې ښې او بهترې صنعتی آثار دی باید دریمې مسیحی پیړۍ ته منسوب شی او د پلاستیکی صنعت له نقطی نظره څخه دریمه مسیحی پیړۍ باید د صنعت د ترقۍ پیړۍ وبلله شی.

د هډې د گچی قالبی آثارو د نمایش موضوع ډېره پراخه او د ډول ډول ده چه هغه د بودا بودیساتوا شیطانانو، زاهدانو او نژادی تیپونو او په نورو بیلو بیلو نوانگیو باندې تقسیمیدلی شی او د کابل په موزیم کښې د هډې د آثارو کوټی دا ډول شیان په یو نظر سره معرفی کوی په حقیقت کښې د گنډهارا د مدرسې د گچی قالبی مجسمو او د تیږ ونه د هیکل جوړولو د مرغه وعاتو ترمنځ کم فرق نشته د دغه موضوعاتو او مجسمې چه په اوله مسیحی پیړۍ کښې له تیږ و نه جوړې شوی دی په دریمه مسیحی پیړۍ کښې او د هغې نه وروسته د قالب په ذریعه له گچو او ژیړې خاورې نه جوړې شوی دی او هر کله چه د گچو او ژیړې خاورې نه د قالب په ذریعه د مجسمو جوړول له تیږ و نه د مجسمو جوړولو نه ډیر آسان دی نو گچی شواهد ډیر زیات لیدل کیږی.

په دی کښې شک نشته چه ښکلیتوب او نفاست د تیږو په مجسمو او په قالب شوو آثارو دواړو کښې موجود دی په اوله او دریمه مسیحی پیړۍ پورې مربوط د تیږ و پخوانی آثار نهایت او ښکلیتوب لری او د گنډهارا د مدرسې د آثارو په منځ کښې ئې کلاسیکی مقام پیدا کړی دی مگر هر کله چه د شیست تیږ د هیکل او مجسمو جوړولو د پاره ډېره مساعده

ACKU

نه ده نو د ورو ستیو پیړیو یا تره نو ی آثار چه خامخا د دریمی پیړۍ نه وروسته منځ ته راغلي دي د گچي قالبي آثارو په نسبت د ښکلیتوب له مزیت نه خالي دي هنرو صنعتگرانو چه گچ به ئي د مادي په صورت استعمالاوه کولی شول چه په مجسمو کښې هغه ښکلیتوب او خائست چه مطلوب وسره ، د خپلو دقا ثقوئي و ښيي او له دې کبله هم د غه صنعتگران دافغانستان د گریکو بودیک په مدرسه کښې د خارقه هنر ښودنو مظهر و گرځیدل.

داهم باید وو یل شي چه پیله تیزو ، گچ او چونې نه حتى عادي ژیړه خاوره هم د دې مدرسي په پلاستیکي برخه کښې استعمال شوې ده او کله نا کله به ئي ژیړه خاوره او چونه پر ځای سره استعمالول لکه چه د هډې نه ځینې سرونه پیداشوی دي چه په اصل کښې او اساساً د ختو نه جوړ شوي دي مگر د ختې د پاسه د چونې یو نازک پرده و رکول کیدله ، خالص خاورین آثار د کابل د شاوخوا معبدونو له خرابو ځخه لکه د رنجان په غونډی د (تپه مرنجان) او د خزانی په غونډی د کښې پیداشوی دي چه د غه آثار شپږمې مسیحی پیړۍ ته منسوبولي شو د خزانی د غونډی د معبد د شواهدو په بنا د ه کښې یو بدل اتفاق هم پیښ شوی دی او هغه دادي احتمال لري چه د معبد سوځیدلو په اثر خاورین هیکلونه او مجسمی په پخه ئ ته تبدیل شوي وي.

ACKU

# دافغانستان په جلا جلا ځايو کښې

## دګريکو بوديک دمدرسې تطبيق

له هغو کتنو څخه چه تردې ځايه پوري فصل کښې وشوې دامطلب څرګند شو چه په آريانا يا د هند وکښې په شمال يا جنوب کښې يعنې په باختريا ګندهارا کښې دګريکو بوديک مدرسه تر ميلاد دمخه دلومړۍ پيړۍ په لومړۍ برخه کښې جوړه شوه دغې مدرسې دافغانستان دنيمې ختيځې برخې په بيلو بيلو ځايو کې (دبلخ او قندهار دخط په شرقي برخو کې) چه دبودائي دين دخپريدو سيمه ګڼل کيږي په څو پيړيو کښې دخپل تحول او پرتيا او څو پړاو دورې تيرې کړې ، هرکله چه دهيواد په خاوره کښې ددغې مدرسې دتحول او بيلو بيلو دورو کتنه او تطبيق يو ضروري خبره ده او ورسره دهيواد لرغونې صنعتي مرکز و نه هم ښه دلکيږي اوتر يو اندازې پورې زمونږ دارغونو پېژندنې او کيندنو دپايلو تاريخچه هم بيلګيدا ی شي نو ځکه ئې په ورو سته ډول بيانول غواړو .

نګارا هارا (ننګرهار) : دګندهارا په مشهوره ده کښې چه دکابل تر له درو سترپايه

---

په غيږ کښې نيسي دنګارا ها راسيمه چه اوس دننګرهار په نامه يادېږي دګند هارا منځنۍ برخه يا په بل عبارت دګندهار از ړه ګڼل کېږي څرنګه چه دګريکو بوديک دصنعت دمدرسې په لړ کښې دګندهارا پيژندنه ضروري ده دغه شان په ګندهارا کښې د ننګرها ر دنا مه مقام او موقعيت پيژندنه هم زيات اهميت لري ځکه لکه چه وروسته به وګورو له مقايسې او پرتلې څخه داخبره ثابته شوې ده چه ددغې مدرسې دبت سازۍ ډيرې ښې او غوره نمونې په تيره بيا دپلاستيکي سبک په لحاظ ګچي قالبي آثار له دغه ځای نه لاس ته راغلي دي .

فاهين Fa-hien او هيوانتسنګ Hiuen-tsang دوه چينې سيلانيان دخپل سفر په لاره کښې د(ناکي لوهو Na-Kie-lo-ho) له سيمې نه تير شوي دي چه يو مشهور ښا رئې ناګاراهارا Nagarahara و چه اوس هم د ننګرهار په شکل موجود دی او ده ې اوجلال آباد علاقې په کښې داخلي دی : هيوان تسنګ پخپلو يادداشتونو کښې له هډې او ورسره نږدې ځايونو ا وله

هغو شیانو څخه چه دننه په ښار و نو او دباندې ئې په معبدونو کې لیدلي دي په پوره دول بحث او بیان کړی دی چه وزئې دڅېړونکو بیانول کافي بولو دغه چیني گرځندوی په خپله او لیکنو کښې دغه سیمه دناګار Nagar په نامه راوړې ده چه ښائي دننګرهار د اوسني نامه پوه بڼه خیالیانی لهشکل وی .

ده ددې سیمې اوږدوالی لهشرق نه غرب ته ۶۰۰ لی او پلنوالی لهشما له جنوب ته ۲۵۰ یا ۲۶۰ لی ښودلي دي چه نږدې ۱۲۰ میله او ۵۰ میله ته رسیږي. ده لیکي چه ددې سیمې څلورو خواوته سخت سخت غرونه دي پایتخت ئې (۲۰لی) احاطه لري پاچا پکښې نشته ځکه چه داولایت په کاپیسا پورې تړلی دی.

غلې دانې پکښې ډیرې کیږي هوائی ئې معتدله برابره ده خلک ئې زړه ور خوش خویه او څهقدرشته من دي بوده ئې خوښه ده زیات بودائیان دي او دنورو دینو پیروان پکښې لږ دي، بودائي عبادتخانې او یادګارونه پکښې ډیر دي او زیات پیروان لري پنځه برهمني او نږدې سل غیر بودائي عبادتخانې پکښې دي.

دهیوانتسنګ دژوند دپېښو په کتاب کښې لیکل شوي دي چه دمرکزي ښار په ختیځ خوا کښې ددو ولي په فاصله دښږ ویړه استوپه ده چه ۳۰۰ ګامه جګه ده او درانده او لوی هیکلونه لري ددغې استوپه سره پیوست په لمر پربواته خوا کښې یوه عبادتخانه ده او و رسره جوخت سوبل خوا ته یوه کوچنۍ استوپه هم شته وائی چه دغه لومړنۍ او یه استوپه اشوکاپاچا جوړه کړې وه

دغه چیني ګرځندونکی وروسته بیاد ښار دننه برخې او څه نورې استوپې بیانوي، چه په یوه استوپه کښې د بودا غاښونه هم وه دغلته یو بل داسې ځای هم ښيي چه د افسانو له مخې بودا په هوا باندې دهند له منځه دغلته راغلی وه.

بیاد ښار نه دباندې دجنوب غرب خواته ۱۲لی لیرې ددې بریښو عبادتخانو او استوپو نه یاد ونه کوي چه ۲۰۰ ګامه جګوالي لري او داشوکا دزماني یادګارونه دي دغه شان دغار یا دونه هم کوي چه په هغه پورې ډیرې دبودا ل پاندې افسانې دبودا سیوري پوري تړلې ښکاره ده او سیلانیان به ئې ځانته را ښکل ده په یادو نو کښې د(هی لو) یا(هیلو) نوم ښار ذکرهم راغلی دی چه دښار احاطه ٤ یا ۵ لی بولي او والي

ACKU

چه په یوه دامنی لوړه باندی پروت دی چه شارځړ ائې بنا پسته یاغونه دی. د پودا دیاد ګار وله ذکر نه وروسته چه د دغه ځای په عبادتخانو اواستو پوکښی موجود وو دیونا عجیب توب بیان کوی، او وائی چه تښ د ګړ تې په لګید و به خوځیده، انده داچه دوړاندی خبرو او د تولو سیلانیانو له یادو نو څخه معلومیږی چه د ننګرهار په ولایت کښی ښه وداڼ او مشهور ښارونه موجود وو، چه ځینی ئې د چینی سیلانیانو په یادو نو کښی هم راغلی دی لکه هیلو، ننګار-او ناکی Na- k e -داخبره پوره نه ده معلومه چه په ننګاراو هیلو کښی کوم یو ښار زیات مهم ؤ، ځکه دواړه د پایتخت په نامه یاد شوی دی، ګومان کیږی چه لومړنی لر ګونی پایتخت او هیلو د بودائی زمانی مرکز وی. کننګهم وائی چه د هیوان تسنګ د زمانی پلاز مینی (پای تخت) چه «ننګار» نو میږی د جلال آباد په لویدیزه خوا کښی دو میله لری په (بګرامی) کښی دی. (من مارتن) وائی چه دغه ځای د بګرام نه لږ پورته په یوه لوړه باندی پروت دی چه په دغه ځای باندی حاکم او سپر ردی او د کابل او سرخ رود سیندونه سره یو ځای کیږی. که چیری د هیوان تسنګ په یاد داشتونو او دژوند په پیښو کښی ښه غور وکړو معلومیږی چه دغه چینی ګرځندوی دری ښار و نه لیدلی دی چه یو پایتخت بل (دیپانکارا پورا) نومی ښار او دریم «هی لو» د بودائی نیشانه ښار یعنی د بودا کوپړی لرونکی ښار:

یقین دادی چه «ننګار» یو پخوانی او ډیر زړی کلا او د حکمرانی مرکز ؤ، وائی چه د دی ځای حکمران د کاپیسا د پاچا له خوا تاکل کیده.

چینی ګرځندوی د (نا- کا- لو-هو) کلمه په دی ډول هم ویلی چه له دوو برخو نا کا یعنی (ننګار) او (لو-هو) یعنی (کوټ) نه جوړه ده چه د زینګی کلا په معنی راځی، او له دغو توکو څخه «نا ګګ کوټ» Nagkot یا (ننګر کوټ Nagarkot جوړیږی. البیرونی د کابل شاهی په سلسله کښی (ننګر کوتی) نومی ښار هم یاد کړی دی د اشوکا لویه استوپه د دغه ښار په لویدیزه خوا کښی دوه لی یعنی نیم میل لیری وه مسن masson او سمپسن Simpson د «سرخ رود» په ختیزیا سویل ختیز (جنوب شرق) کښی دری فرسنګه لیری د «نغاری غوندی» په نامه دیو ځای یادونه کوی. د «ننګر» یا «نا ګار» د کلمی په باره کښی هم دیری

نظر ببې ور کړ شوی دی. څېنو د ښار په معنی بللی دی او ښېنې پکښې د (نګګ Nag یا نک Nak ریښه تر ری چه د سانسکریت له (ناګت Nagat) څخه راوتلې دی چه څو معناګانې لری لکه: لمر، مار، غر او پیل.

«سن مارټن» دغه ځای (اودیاناپور Udyanapur) بللی دی چه معنی ئې د باغونو ښار کیږی.

د (هې ډلو) ښار د زړلو په نظر کښې موجود ده هلته توا بې. د «کننګهم» خیال دا دی چه دغه نوم په سانسکریت کې د (هاډی Hadda) نه اخستل شوی دی چه د (هډوکی) په معنی دی له دې کبله چه د بودا د سر کوپړۍ په دغه ځای په یوه استوپه کښې پرته وه او ځکه په دغه نامه مشهور شوه. په پښتو کښې اوس هم د هاو هډوکی کلمې په دغه معنی (استخوان) موجودې دی.

ناکی Nakie بل ښار چه د هیوان تسنګ په یاد داشتونو کښې ذکر شوی دی ناکی (د ناکی شیله) نومیږی. هغه وخت چه دی د اشوکا له استوپې نه د (هې ـلو) خراته روان و په لاره کښې د ښار په غاړه باندې چه (ګوپالا) نومیده خبر شو. زړه تنګ کـوانګ Teng-Kuang ښار ته ستون شو چه له ښار نه سره یو بل سره ی واخلی وائی چه دغه ښار هماغه (ناکی) دی چه د اوسنی جلال آباد په لویدیځ خوا کښې پروت و. د دغه ښار بل نوم (پاډماپور Padmapur) و چه معنی ئې دنیلو پر د ګلو ښار کیږی، څینو چینیانو (هوا ـ شی شنګ Hua-Shi-Leng) بللی دی چه (د ګلو ښار) په معنی دی. په بودائی کتابونو کښې د (دیپا نګا رابودا) ښار د (دی پاواتی Dipavati) په نامه یاد شوی دی او وائی چه دیپا Dipa د نور او رڼا او مشال په معنی دی.

اوسنی دامه او شاو خوا ئې: د چینی ګرځندوی (هیوان تسنګ) له دغه لیکنې چه داو زمې هېسوی پېښېږی. په دغه وخت کښې له آریانا نه تېر شوی او خپل لیدلی او کتلی وو،

هغه مو تر یوی اندازې پورې د ننګرهار د وضعیت په باره کښې و ښودل او س غواړو چه په لږ غوندې زمانه کښې دهاوی پر وضعیت او باتی شویو خرابو باندې څه وو ایو: د جلال آباد

ښار د ننګرهار د ولایت او مشرقي مرکز د کابل سیند په غاړه پروت او له دغه سیند څخه یو څو متره جګ ځای دی د دې ښار د سوبالي (اخوجنوب) سړک ته څخه پلو یو هوار دا ګټ پروت دی چه د ښګو نو پر بوټو په وجه یو ښیرازه باغونډی ښکاري دغه داګټ پخوا ښېن او سمسور ؤ اګه چه اوس هم ښکښې د تاکړنو او - کرونډ و نښې نښاني لید ل کیږي د دې ځمکې نه پورته د ګاګري په درول یو و چ راغ د ی چه د بودائي ودانیو او مړ ني آثار ښکښې لیدل کیږي د دې د بېښې لمن شرقي خوا ته دومره نه ده اوږ ده شوې مګر په سوبلي (جنوبي) خوا کښې بوی شګلنی ځلګی تر سېرېزې چه د هډې او سنې کلي ته پهآ خر هځناه کښې پروت دی دهډې او جلال آ باد تر منځ فاصله له لو کیلو متر و څخه کمه نه ده د هډې کلي په لړ ږ هبا ندې پروت دی د دې کلي سره نژدې هواره د ږ ېنه جلګه شروع کیږي د دغه کلي شما ل شرق ته د کرکرونډی ځمکې دي وائي چه د غلته د بودا یو مرکز و او اوس دغه ځای په غونډ یو کلي مشهور دی په دغه خوا کښې د هډې له کلي نه ۱۳۰۰ متره لري په یوه شګلنه جلګه کښې د شاخیل غونډی لید ل کېږي د هډې له کلي نه مخ په پورته بیا دښت او راغه شروع کیږي چه وار په وار لوړ والي پیدا کوي او له هغې جلګې نه ۱۷ متره لوړ پرته ده چه په ځنګ کې ئې پر ته د شمال شرقي څنډې ته ئې د چپاپار رود ښکاري او لمنې ئې د فالیز په صورت پراته دي په سېزې له شمالي غاړو څخه ئې ژورې نالۍ کښته جلګې ته راوتلې دي چه او په ښکښې را ځي:

بو ځه او به د هډې خړانه رابهېږي او بیا ختیځ لوري ته مخه کړي د دې او بو د سر چینې په برخه کې په هغه ځای کې چه څپله مجرې بدلوي داوي غونډۍ خرابې لیدل کیږي او په داني نه څه لږ او ږه اندې نبوي او ی استوبې خرابې ښکاري (چه خلک ئې د کاپر و برج) بولي او مسن داوي توپ په نامه یاد کړی دی د کلي په سوبلي خوا کښې ختیځ څنګ ته یعنې جنوب شرق خوا ته یو ه بله غونډۍ غرندی هم شته چه اوس هم خلک ښکښې او سی او دلر غونو ګنډي الو یو ه نمونه ده .

د هډې د کلي لمر پر یوانه خوا ته دري نوري نالي شیلي هم شته چه له او لی شیلې نه او ږد ی او ژوري دي دغه شیلي له کلي نه ازلري سره یو ځای کیږي دا و لی شیلې په ښي غاړه ۳۰۰ متره بیر ته لو په غونډۍ (د کاپر و غونډۍ) پرته ده آخري شیلې چه له زاو نه

مهمه ده دجلګۍ په منځ کښې راغلې ده او په سر کښې ئې دڅپلیار پرخړ لیا باغګی پروت دی. او په نیمائي کښې ئې (نری غار) دی دجلګۍ د شمال شرق خواته په شګلنه ځمکه کښې دیری نوری وړې غونډۍ دي په دغو غونډو کښې ځای په ځای پوکناږ پراخې او منظمې سمڅې لیدل کیږي دڅپلیار دردنه هم ئې خواته داولی جلګۍ پشان یوه جګه جاګه ښکاري چه درود خاني دیري وچې و یالې په واسطه ئې نورو ګرچاپیره ځمکو نه جلا شوی ده دغه ځای ته پرانسس Trates وایي. په هر صورت د دې مهم ځایونه هم دغه وو چه ذکر شول د دغو ځایو نوزاره آثار په ښکاره ډول معلومیږي ولي که داسې نه وي نو له هډې نه نیولې غربي خوا ته دلسو کیلو مترو په فاصله تر سلطان پوره یادې روانې دخولې پوزې دا تو له پراخه سیمه دزړو دانیو له ښانو او آثارو ډکه ده په خپله دهډې کلي هم چه نژدې (۱۵۰) کوره لري دمهمو تاریخي خرابو دپاسه ودان شوی دی. دادې غواړو چه د دغو لویو مهم ځایونه په ررو ستنه ډول بیان کړو.

(۱) لویه غونډۍ: دغه ځای د هډې یو مهم اثاریخي ځای دی او دجلګې په یو ملوره

---

پروت دی له دغه ځای نه چارچاپیره ځمکې ان دغرو تر لمنو پورې ښکاري. داغونډۍ له سلو مترو نه زیاته اوږده ده او ځمکه ئې د هډې له نورو غونډیو نه لویه ښکاري او نوم ئې هم لویه غونډۍ دی په دې غونډۍ کښې ځنګ په ځنګ دبودائي نوبو او زړو آثارو نمونې لیدل کیږي [۲] کاپر غونډۍ د هډې او باغګي په منځ کښې پرته ده بې له لویدیزې خراخه نوري ټولې خواوې ئې ښې جلګې دي:

په لویدیځ خوا کښې ئې د سیلاب اوبو پوخ ورجوړ کړی دی، دغونډۍ عمومي لمن یو داسې ځای ته رسیدلې ده چه زړی ودانۍ پکښې وي دلته د یو څو لویو او وړو استوپونو ښې لیدل کیږي ۳ - باغګی که چیرې د او بې غونډۍ نه وروسته دغونډ یو ختیزه برخه پسې واخلو نو نژدې [۱۵۰۰] گزه لیرې باغګي ته رسیږو. دغلته له لیرې نه د سګلو خاورو یوه او یه غونډۍ ښکاري چه دا و بې استوپې خرابې دی ددې استوپې نه ګرچاپیره په خلور ګرته دول ناهوارې کنډوالې پرتې دي چه د توپو ګرانۍ دکستنو له مخې پکښې دوه مهمې برخې پیژندل کیږي چه یوه دغونډۍ اتکړاو احاطه ده چه سویل لمرخاته (جنوب شرقي) پلوته پرته ده او بله یوه عبادتخانه ده چه شمال

غربي خواته ښکاري . شرقي پلو ته ځيني نوري کنډوالي هم ليدل کيږي چه په جلا جلا ډول دانيو پوري اړه لري . ددې ځاى په نږدې شاو خوا کښي د بوشمير زړ رواستونو نښي او نښاني هم شته دي .

(٤) شاخيل غونډۍ . شاه خيل غونډۍ له هډې نه مخ په ښيلا ولمر خاته (شمال شرقي)

---

خواته (۱۳۰۰) متره لرې پرته ده ددغه ځاى لار (دغونډۍ څنډ کلى) له خرابو نه تيريږي دشا خيل غونډۍ له غونډۍ کنډوالي په په ځانله غونډۍ باندې پرتې دي ځاورو واړو خواوته ئې شګاني ځاى ګي دي او دچپليار خوړ پکښي راتېر شوى دى . په څپله غونډۍ دځلګي له مخ نه ۷ متره جګه ده او نږدې ۱۵۹ متره ارتوالي لري ، ددې پرى بودائي ليري اونږدې و دانۍ پکښي ليدل کيږي پخپله په غونډۍ کښي ديوي ودانۍ خلور جلا جلا برخي معلوميږي او په منځ کي ئې او په استوپه او يو دول چوتره ده ، ختيزي خواته ئې زينه ده او ښۍ او کيڼي خواته ئې يو څو نوري وړي استوپې دي .

(٥) پراتس : پراتس يا «پراتوس» او «پراتوډوړ» غونډۍ دچپليار پر خواته نږدې

---

ودانيو څخه دري کيلو متره ليري پرته ده . داغونډۍ که څه هم دومره جګه نه ده خو له کندوي جګوالي غونډۍ ښکاري او ځني تر ليري ليري ورې يوه جالګه ښکاري .

له شمال نه سوبل (جنوب] خواته ۳۰۰ متره اوږدوالي لري او پلنوالي ئې له ۵۰ متره نه زياتيږي . داځاى د«موسيو برتو» په قول داستوپو ځاله بلل کيږي لاى شي دغه غونډۍ [ استوپه ] خلکو ډيره زوړ وديونډ لود پاره ديره کيندلي ده .

[٦] نوى غار : نوى غار د باغ‌ګي نه را کښته ديوي وړي دري په څنډه کښي

---

دځلګي ديوي غور ه برخي په برابرۍ پروت دى او نيغ لو يديزي خواته تللي دى . په دغه ځاى کښي بوخوسمڅي هم ايستل شوي دى ، ددغه ځاى څ ا بې هم دري برخي لري

[١] دغونډۍ د[استوپي] چاپير د برخه [ ٢] عباد تخانه [٣] بهرني ودانۍ .

[۷] غونډۍ کلي: دا ځای په خاص طور د استوګنې د کړنو او د زړو کبله یو مهم ځای وو او س د دغه کلي زیاته برخه کنډوالي دي، شا او خوا برخې ئې او بوږي دي نو ځکه د هغې برخې او موقعیت تاکل او معلوم ول مشکل دي چه استوګنې اشغال کړې وې کوم ځای نا لیدلی او درې چه ځاګه ئې پرده وو بر خو بیاه کړې ده، دغه دغونډۍ کلي او خرابۍ ئې هم سره جلا کړې دي . دلته هم بو ځو سمڅې ایستل شوې دي .

د هډې کیندنې: هغه وخت چه ژنرال کورټ Court په ۱۸۲۵ کښې دامیر دوست محمد خان ورور سردار جبار خان میلمه ؤ نو د هډې غونډۍ او استوپې ئې لیدلې وې . دغه وخت (چارلس مسن) انګریز د هډې په شا وخوا کښې څینې کیندنې او یا ځنې هم کړې دي او د ځینو مجسمو په موندلو بریالی شوی ؤ هغه وخت چه له فرانسې سره د دغه ځای د کیندلو تړون وشو نو «موسیو فوشه» او «موسیو ګودار» په ۱۹۲۳ کال د هډې په لویه غونډۍ کښې کیندنې شروع کړې او دومره زیات آثار ئې وموندل چه موسیو ګودار دغه ځای د ګریکو بودیک د صنعت یو حقیقي موزه وبلله .

ګودار په ۱۹۲۵ کښې د دغې لوئې غونډۍ په باره کښې لیکلي وو: کوم زیار چه د دغه ځای په کیندنو کښې ایستل کیږي ډیرې روښانه نتیجې به ورکاندي» رښتیا ده چه د موسیو ګودار وینا هغه وکړه او و نو په واسطه چه «برتو» له ۱۹۲۶ څخه تر ۱۹۲۸ پورې پر ځای تیر کړل رښتیا وختله برتو یو اثې دیوې خبرې په وجه هم د فرانسویانو په نظر کښې او هم زمونږ په نظر کښې د اعتراض لاندې راغې چه دی ته پکار ؤ چه د دغسې مهم ځای په شا او خوا کښې ئې خپلې کتنې تر پایه رسولې وای او له دغه ځای نه ئې بلې خوا ته ټوپ نه وای وهلی . برتو د هډې لوبه غونډۍ پر ځای نیمګړې پریښوده او نورو خایو ته ئې لاس وغزاوه لکه کافر غونډۍ، نوی غار . پار تمن، باغ ګی غونډۍ کلي شاه خیل غونډۍ . هر کله چه دغو ځایو نو هم هر یو د خاص اهمیت درلودنو برتو په یو اثې ځان و نه کړای شول چه په زړګونو مجسمې سلامتې لاس ته راوړې او داستوپو ښکلیتوب او ښکلاوې وښیې او څه رنګه چه په کار ؤ هغسې ئې په هر ځای کښې ژوره

ACKU

او خاصه ښېرنه ورنه کړای شوه . ده خالي دوه کتابه تيار کړي دي چه پوئي عکسونه او ښېرې دي او دغو صنعتي خزانو دکتنې دپاره په هيڅ دول کافي نه ګڼل کېږي.

دبودا مجسمې او ديوناني آثارو سره ئې پرتلنې ( مقائسې ) :

د هډې په مجسمو کښې چه رونقي راوتلي دي او کومې چه ئې تراوسه پورې لاس ته راغلي دي ؛ دبودا هيکل تر ټولو زيات تکرار کېږي په دې بسما نوکښې ديونان دکلاسيکې بوت جوړوني تاثير او نفوذ ډېر زيات دی موسيو هاکن وائي چه دلاتران دموزې سوفوکل Sudhocle بوت چه د څلورمې ق م پېړۍ اثر دی دبودا دډېرو ګندهارائي بوتونو سره دپرتلنې او مقايسې وړ دی. دباغ ګئي او لويي ګوډۍ په سټوپه د نو کښې د پرتلنې او مقائسې ډېر عوامل ښرګند شوي دي چه دلته ئې دنمونې په دول يو مثال راوړو . له دغه ځايه دبودا يو بوت راوتلی دی چه صفا نازکې چينې ئې داسې ګونجې خوړلي دي چه بدن او جامې په يو ښکلي دول سره پوښي ښکاري او دبو شي ښائست دبل ښکلي ترب دپاره خراب شوی نه دی دغه اصول لکه چه موسيو هاکن وائي ديونان دپنځمې ق م پېړۍ دبوت جوړوني مخصوص اصول وو چه د دغې پېړۍ په دوهمه نيمه برخه کښې لباس او جامې د ومره نرۍ او نازکې شوې چه لاندني بدن به ټول ترې ښکاريده . موسيو ( ګودار ) دهډې ديو ښکلي بت په باره کښې وائي (دهډې په بتونو کښې يو بت دخاصې يادونې وړ دی دغه بوت چه راووت او بوه خوږيته ( هستۀ ) وه او د ګچ يو نازک ليم ورکړ شوی ؤ . ګر ښه رنګه چه آزاده هوا پرې لګيدله ، نرمې نرمې ولاړ او پخپله ورد ورېده او يوازې يو تش يو تــار ( عکس ) ئې پاتې شو ؛ په جامو کښې ئې ديونان دغوره دورې دچاو نازکي او غښت والي ښکاريده . لهپاو ( عضلاتو ) نه دکې پښې ئې په داسې ښکلا رسم او جوړې شوي وې چه دګريکو يو ديکټ پور غاو پسوا او آثارو کښې ئې موندنه سخته ده ځکه دغه رغاوني په عام دول درنې او شاې ولې دي ) دهډې دبوتونو او يوناني بوتونو له بله پرتلنه او مقائسه يوازې دبودا په بوتونو پورې اړه نه لري دهډې داتل بوت چه دلمنې په يوه ځنډه کښې ئې دګلانو يوه کوډه پرته وه دفصل ، ميوو او ځمکې درب النوع Antinous vertumnus

لەبوت سره ښه برتلل کیږی. دابوت د (لانران) پەموزه کښی شته دی. موسیو هاکن وائی چه دهغه ی داتل (ژنی) دسرکلوختی کلوختی و ینتان سره ددی چه یوشان اودل شوی دی ؛ دهغو ښکلو سرو نوښایسته ول پمول و ینتان راپه زړه کوی چه دخاورمی ق م پیړ ی دبوت سازی د استاد (لی سپ Lysippe) او یا دده دزوی (ایوتی کرات Euthykrates) دکارا و نمونی له مخی جوړ شوی دی. ددی خبری د رښتیا والی دپاره په برطانوی بریښ موزه کښی دسکندر دسر مجسمه په کیمه نومی موزه کښی دهغه نه د راو تلی سرسره مقائیسه کړ ی او پسه پسای کښی د ا نظر په ښکا ره کوی چه دهغه ی داتل (ژنی) مجسمه ددو همی عیسوی پیړ ی په آخری او یاد دریمی عیسوی پیړی په لو مړ ی برخی پوری اړه لری .

دنژادی او قومی تیپونو نمونې: لەبنه مرغه کوم شی چه د هغه ی د آثار و رنگ او تر یوی اندازی کلاسیکی لحن ازسرا سر مذهبی دوله روبی تەتغیر ورکړ ی دی او دهیواد نژاد ، او تاریخ تەئی کتەرسولی ده ، هغه دادی چه دهغه ی صنعتکارانو دنژادی تیپونو په ښودنو کښی او په تیره بیا دبوتانو په جوړ ولو کی داسکائی کوشانی او دنورو قومونو د خصوصیتونو په رسم کولو او ښودلو کښی ډیر جگ مهارت او استعداد ښودلی دی .

د وی سربیره په نژادی تو پیرونو ، د خاصو جامو دبیلو بیلو وسلو ، دگلانو دشکلو نو . اود موزیک او ساز د قسماقسم آلو په تاکلو او ښودلو کښی ډیر کار کړ ی دی . موسیو هاکن نظر په ښکاره کوی هغه وخت چه دباختر دیونانی پاچاهانو اولاد ی یعنی ( ایوتیدموس) او (ایوکراتیدس ) چه د یونان نه ئی امید ارهیله قطع شوی وه نو له هغو اسکائیانو او کوشانیانو څخه ئی فایده اخستل شروع کړل . چه دپیسو دپاره به عسکر کیدل او دباختر سمسو ری جلگی ته به راتلل او هغوی به ئی دخپلو عسکرو په قطار کی شاملول نو ویلای شو چه بوت سازانو او صنعت کارانو له پخوانه د دغو قیافو او څیرو سره اشنائی لرله او دهغوی ښکاری څیری او جدی قیافی ددوی د هنر ښودلو یوه ښه وسیله گڼل کیده ، سربیره پر دی داهم وایو چه دباختر دصنعت دودی او ترقی دوره دکوشانیانو دزمانی په تیره بیا دلومړ ی او دوهمی عیسوی پیړ ی سره سمون

ACKU

خوری نو ځکه دهډې بوت سازانو ډېر زیار ایستلی دی چه دهغه بر یالی او فانح قوم
ښایسته تیپونه رسم او جوړ کاندې چه پاچاهي ئې ترسیدلي دي په غوښیر و او سرو نوکښې
لهاز غور ښخه ور وسته ځرګندېږي چه اسکا نیان او کوشانیان دآریه وپېرهپاکه او صافه
پښه ده او تر دې اندازې ئې وینه پاکه ده چه دهډې په سوو نو نمونې دیونان دیو هانو
او فیلسو فانو لههیکلونو او دیروتې (ګو لو ایانو) له تیپونو سره مشابه او یو له بله سره
ورته دی ، داخبره یادلول پکار دی چه په داسې غورا او ځل و بل دنژادي تیپونو ښودنه
دباختر دصنعتي اثار و په ښودنه کې زیاتره په هډې پوري اړه لري .

مواد: دهیکلونو او بوتانو په جوړ و لو کښې دمو ادو پکار ولو زیات اهمیت لري ، ځکه چه
ښکلا ، ښایست ، پوخوالی او دوام او تر ډېرې اندازې دهیکل جوړوونکی استاد پوهه او
مهارت هم په موادو پوري تړلی دی په هډه کښې دشیست تیزه ، ګچ او چونه در یواړه استعمال
شوي دي مګر دلوه ړیه استعمال ډیر کم دی او په دې وجه و یلای شو چه دهډې کاریګرانو او
استاکارانو یواږې ګچ او چونه پکار کړیده که څه هم دهډې بوت سازانو دخپل زیات مهارت په
وجه دشیست له تیزې نه هم ښه کار اخستی دی مګر ګچ او شیستي تیزه په بوت سازیه کښې یو له بله
نه مقایسه کیږي ځکه چه له ګچ نه هم په اسانۍ کار اخستل کیږي او هم ډېر ښې ژوندي
او پوره مجسمې جوړېږي .

دلو یې غوندۍ او باغګي پرتله (مقایسه) : پدې کښې شک نشته چه دباختر دصنعت دپالنې

په تو لو ځایو کښې هډه او ډېر یې در جه لري او دا خبره په ورسته ځرګنده کړو خردی نه هم پام
کول پکار دی چه پخپله په هډه کښې چه څو ځایه کیندنې شوي دي تول په یوه ډول او یو شان
نه دي مثلا دباغګی او لو یې تپې دآثار و په منځ کښې دېر تو پیر شته دی لکه چه دلو یې
غوندۍ د آثار دباختري صنعت د غوره نمونو یوه برخه ده او دمنا سب قد ، جامو ،
و ښتانو جوړ ولو له مخې دیو نان دکلا سیکې استا دانو له غوره شاهکار یو څخه
ګڼل کیږي لیکن دباغګی په آثار و کښې ځینې داسې شیان شته چه دصنعتي ځوړتیاد شروع
کیده ودوره ترې ځرګندېږي . دمخه مو دموسیو ګودارله خوالې نه دلو یې غوندۍ
دیوې ښکلې مجسمې ستاینه و لیکله . موسیو هاکن په باغګي کښې دیو دادیو بوت په باره کښې

ACKU

داسې ایکې: دبو دا نوعه بت او گوری چه تر ل بدن ئې راهبی پلان (بی لستر بیو چین) پټ کړی ؤ که څه هم د جامو منحنی گونځې او کتونه ئې یونانی نمونو ته ورته دی ولی په دې ځای کښې له دې خبری څخه ستر گی نشو پټولای چه یو ساختگی او له ځانه جوړه شوی لاره ئې خوښه کړی ده او زونه په بدن پوری ښه پیوست نه دی. اغلې او د اپول له هغو ژوندوا وگلاو بتانو څخه چه موسیو گودار کشف کړی دی ښه انرخ نه لیکوی او تیوا فوق سر ه ناری . (پولی کـلت ) او لسی سیپ Lysippe دبوت جوړونې د مدرسې په خلاف پکښې سر له بدن سره کې متناسب نه اری یعنې قد ئې لنډاو سر ډیر لوی را غلی دی. د دغې مدرسی له مخې بایده دی چه د سر اری والی د قد د جګوالی په اتمه برخه وی. او دباغکی دبو دا په مجسمه کښې سر د بدن د شپږ می برخې په انداز ه دی. په و دانی کښې ستنې او پایې داسې جوړ ې شوی دی چه کما نی. په ښه شان پوره ته گولی او نیولی نشی . لنډه دا چه اصلی یونانی صنعت ونه پکښې تر د ی حده له منځه تللی دی چه کېدای شی دباغکی دبو دا یونان د هغو آثار و په کتار کښې و شمېرو چه په ... دریم او څلورم مسیحی قرن کښې د منځکوی روم ی صنعتکا ر ان جوړ کړی دی (۱)

**هلته او د گندهارا اثر ی برخې یاد هند د شمال غربی ځایو سره د هلې ی پر تلنه.**

د دې فصل په سر کښې ی وویل شول : چه په افغانستان کښې دار غونو څېړ نو او کیندنو له شروع کیدو نه پخوا ه هند په سویلی لهږ پر یو اته (شمال غرب) یعنې په پنجا ب او د خیبر ی گندهارا په ځینو برخو کې د گریکو بودیك د صنعت په باره کښې څېړنې او پلټنې شروع شوې وې او پخوا تر دې چه تا کاره موږ په هیواد کښې شروع شی د غه صنعت (د گندهارا د گریکو بودیك صنعت) یا بو اخې «د گندهارا صنعت» بلل شوی ؤ. له ۱۹۲۲ع کال څخه وروسته په تېره بیا د فندق ز د سهږو د بو او کشفیا تو په وجه په هغه شرحه چه د مخه بیا ن شوه تر یوه حده د پوهانو نظر یې و اوښتی او یو بدلو ن پکښې ر اغی . او د دغه لوی صنعت د ز ېږ بدو

Loeuvredela Delegatian Archeologique FranC::s:c en Afghanistan parj- Hackin Tokyo 1933

ځانګړی او مرکز یا باختر او یا ګندهارا وګڼل شوه او دوره یې او ترقي یې او وده لي دهند وکش په سویلي (جنوبي) برخو کښې وه هل (ګندهارا) ددغه صنعت یو مرکز دی موسیو فوشه د ګندهارا د سبک لمن له جلال آباد نه تر راولپنډۍ پورې غزیدلې بولي مګر د دغې لویې او پراخې سیمې آثار د ښایست او ښکلا له کبله یوشان نه دي او د هډې آثار پرتلو زیات او غوره دي. موسیو هاکن په خپل کتاب کښې چه (په افغانستان کښې د فرانسي د هیئت کیندنې - د توکیو چاپ) نومیږي په دغه برخه کښې پوره څیړنه کړې او د هډې آثار یې د هند د شمال غرب له آثارو سره مقایسه کړي دي.

دی لیکي: تر اوسه پورې مو د پښتونخوا، ګندهارا او پنجاب څیړنو ځایونه لنډې اشارې وکړې د دغې برخې په راوتلو آثارو کښې که په (تخت بهي) نه راوتلي دي او که له (تاکزیلا) نه، د مقایسې او پرتلنې عوامل موجود دي. سره د دې چه د کښتنو او څیړنو په وخت کښې د هډې د آثارو په پیلولو کښې کوشش وشو مګر سره د دې هم وپلای شو چه د دغې سیمې د بودا د بوتانو او هیکلونو اقسام او د ارباب انواعو نوري مجسمې د لوی پیژی خوا د نفوذ نښې لري. د فوشه د نظریې سره سم له جلال آباد نه تر راولپنډۍ پورې تړلې د یوه مکتب سلسله ده.

ولې سره د دې هم دا خبره څرګنده ده چه هډې د خپلو کشفیاتو د استثنائي خواصو له مخې جګ او لوړ مقام پیدا کړی دی.

زښتیاده په تخت بهي کښې هم د مقائیسې نښې او عوامل لاس ته راغلي دي مګر د دغه ځای آثار د ښه‌والي او نوعیت په لحاظ د هډې نه ډېر بریالي او شپیلا نا نو د راتلو ژوندو او اریانو ونکو بوتانو ته نه رسیږي. زما په فکر د هډې له غوره او ښو آثارو سره بیله یو ډېر لږ شمېر ته نور ځان نشي برابرولای. د دغه عمر یو څو کچې مجسمې دي چه د هېرپاتې او په وجه له تاکزیلا او سوات نه راوتلي دي، نو د دغه فرانسوي څېړنوال له وینا او خبرو نه ښکاره معلومیږي چه په ټوله ګندهارا او پنجاب کښې د هډې آثار پرتلو زیات او پوره ته دي. په دې وجه د دغه ځای د یوې لویې مدرسې مرکز ګڼلای شو چه دغلته د باختر صنعت د خپل ښایست او کمال آخري حد ته رسیدلی دی.

کاپیسا : دهندوکش په جنوب کښې هغه بل ځای چه دګرېکو د یك صنعت پکښې و ده کړی ده او په کاپیسا ده په او په کاپیسا کښې کابل او شاو خوا علاقې هم شاملېدای شي :

لکه چه وروسته به را نه ښکاره شي په طبیعي ډول د دغې مدرسې د صنعت د کمال مرکز هم په خپله کاپیسا کېدای شي ، د کاپیسا د شاو خوا اشیاو د مطالعه به هم وکړو . کاپیسا ده وقعیت ، و دانۍ ، او د ځمکو د حاصل خیزۍ ، د ډېر و او بو ، ښایسته غرو نو او زیاتو چینو له کبله د هندي له شاو خوا ځایو نه اوره اړ و راندې ده .

بیله دې نه چه د وروستیو یونانیانو او سترو کوشانیانو په زمانه کښې د کاپیسا سیاسي اهمیت او اداري مرکزیت په نظر کښې ونیسو ، کاپیسا د کندهار او باختر ترمنځ یو مرکزي ځای دی چه از دې د آریانا منځ بلل کېدای شي . له یوې خوا د هندوکش تر لی لاری او د روازی چه د شمال پر خوا تللی دی کاپیسا ته هم را تللی دی او له بلې خوا په ختیزه خوا کښې یعنې د پنجشیر ، غوربند او شتل د سیند و د شریکې مجرې څخه او له جنوب نه د کابل او پکتیا د لارو په ذریعه د اند وس ( سند ) د سیمې او د هند له خاوری سره لګېدلی ده د هغه نژدیکت له کبله چه دهند سره ئې درلودو د دائي مذهب داته له ګنداها را نه وروسته راغلی دی .

کاپیسا د هندوکش په جنوبي خواکښې دا من او پناه ښه ځای دی نو ځکه پکښې یو نانیان ډېره موده ډېر غلګر و له چپاو نو نه خوندي پاتې شول . دا و چه ده چه په دغه ځای کې د ګرېکو بودیك د صنعت د ترقۍ دو و لاسو نو ښه موقع هم وموندله هر کله چه د کوشاني سترو اکمنۍ ( امپراطورۍ ) مرکز هم په دغه ځای کې وو نو طبعاً ئې دو دانیو او عبادتځانو له حیثه ښه اهمیت موندلی وو لکه چه وروسته به ښکاره شي د ګرېك او رومن چین او هند د مدنیتو نو د یو ځای کېدو نښې نښانې هم عملاً په کاپیسا کښې په ښکاره دول لیدل کېږی . مګر هغه صنعتي مظاهر چه د بودیزم د افکارو تابع او خادم شوی وه د بودیزم د ځو رتیا په وخت کښې لیدل کېږی . کوم وادچه په دغه وخت د بو تانو او هیکلو نو په جوړو لو کښې په کار شوی دی زیات ئې سلیتی ډبری دی نو د صنعت کار انو د آثار و د قیمت په ټیټو لو کښې ئې زیات تاثیرا چو لی دی .

دکاپیسا او کاپیسي وضعیت د هیوان تسنګ له خولې نه : په هغه وخت کښې چه د چین ګرځندوی

ACKU

هیوان تسانګ داوومې عیسوي پیړۍ په لومړۍ نیمه برخه کښې له کاپیسانه تیر شوی دی سیمې وضعیت ئې د عبادتخانو او روحانیونو د شمیر او د نورو شیانو له مخې بیان کړی دی هر کله چه دده لیکنې د لوستونکي په ذهن باندې ډیره رڼا اچوي او دده معلومات ددې فصل له موادو سره زیات اړخ هم لګوي نو ځکه ئې دلته بیانوو: ددې سیمې چاپیریال نژدې ۴۰۰۰ لي دی د شمال خواته ئې له واورو ډك غرونه دي او دری نورو خواو ته ئې د تورو غرونو سلسله غزیدلې ده. د مملکت د پلازمینې (پای تخت) احاطه او اندازه نژدې لس لي ته رسیږي.

دغلته هر ډول غلې دانې او هر راز میوه داري ونې کیږي ډیر ښه اسونه پکښې ساتل کیږي دغلته زعفران، نایابه شیان او د نورو ځایو د سوداګرۍ مالونه لاس ته راتلای شي هوائي سړه ده باد ئې په کښې ډیر لګیږي، خلك ئې تیز تیز غږیږي، ژبه ئې زیږه او سخته ده د وادهٔ دودونه او ادبیات ئې د تخارا د علاقې پشان دي مګر د عوامو خلکو ژبه، دودونه، عادتونه او د ژوندانه لارې چارې ئې څه قدرې بیل ډول دي، پوښاك ئې د وړینو جامو دی چه د باندې خواته ئې ورله په پوستکو پانیسنه کړې وي. ددې ځای د سرو او سپینو زرو سکې او کوچنۍ مسي سکې ئې په شکل او نخچه کښې د نورو ملکونو د سکو سره توپیر لري، پاچائي د «کشاتریه» له ډلې څخه دی او دغه پاچا ډیر ځیرك، هوښیار او زړه ور سړی دی د ښې قوي اداري په وجه ئې شاو خوا لس علاقې هم د خپل اثر لاندې راوستې دي او حکم ئې په لسو امارتونو باندې چلیږي.

نوموړی یو نیت په خیره پاچا او د بودائي دین تابع دی او هر کال د سپینو زرو څخه د بودا اتلس فټه جګه مجسمه جوړوي او بیائي په هغه لوی مجلس کې چه د «موکشاماپریشاد» moksbamaha Prishad په نامه جوړیږي غریبانو، ګوندو، فقیرانو او نورو اړتیا وو ته خیرات په ډول ورکوي، په دې سیمه کښې نژدې سل معبدونه او له ۶۰۰۰ څخه زیات راهبان موجود دي چه زیات کسانې ئې د (نجات د کوچنۍ لارې) د اصولو تابع دي.

او استوپې او عبادتخانې ئې ډیرې لوړې او عموماً په جګو ځایونو کښې جوړې شوې دي سربیره پر دې په دې علاقه کښې لس برهمني عبادتخانې او د دغه مذهب نژدې زر تنه

پیروان شته دی دغلته داسی لوڅ لغړ مانګان او په خاورو او ایرو ناست فقیران هم شته چه بدنو نه ئی په ایرو لړلی دی او د هندوکو امیلو نه ئی په لاسونو کی ایدل کیږی .

د پلازمینې (پای تخت) دلمر خانه په دری باخلو رلی کښی دشمالی خوا د غره په لمنه کښی یو لوی معبد دی چه تر دی ۳۰۰ راهبان پکښی دیره دی او ټول د نجات د کوچنی لاری دا مذهب لو تابع دی ؛ ددغه معبد په باره کښی خلک داسی قصه کوی هغه وخت چه کنیشکا په ګندهارا کښی پاچائی کوله نو په ګاوندیو دولتو او ملکونو ئی هم اثر پریوتی و او داقتدار لمن ئی تر دیرو ځایو پوری خپره شوی وه او د Tsung- Ling ختیزی خراته د خپلو لښکر کشیو په اثر یوی داسی علاقی ته ورسید چه دزیرسیند نه پوری غاړه وه او دچین دحکومت تابع وه . ددی علاقی پاچاله ویری نه کنیشکاته یرغمل راواستول هر کله چه یرغمل راورسیدل نو پاچاورسره مهربانی او محبت ښکاره کړ او د هر موسم دپاره ئی ورته جلا جلا استوګنځایونه وټاکل لکه چه دژمی دپاره هند کښی او دری به په کاپیسا کښی او پسرلی او منی به په ګندهارا کښی اوسیدل ددوی دپاره ئی په دغو ځایونو کښی عبادتخانی جوړی کړی . کوم معبد چه موږ دمخه وښود ، ددوی داوړی داستوګنی په ځای کښی و، په دغه سبب دعبادتخانی په دیوالونو باندی دیرغملو څیری ایستل شوی وی او ښکاره ئی چینی دیرلیه جامی درلودی هغه وخت چه یرغملان بیرته خپل وطن ته لاړل نو تل به ئی دخپلی استوګنی ځایونه یادول او مذهبی سوغاتونه به ئی راستول دعبادتخانو راهبانو به هم هر کال دباران په موسم کښی د هغوی دخاطراتو دیادونی دپاره مجلسونه جوړول ددغو یرغملو دعبادتخانی دسالون دشرقی دروازی په سویلی (جنوبی) خوا کښی ئی دبودا دهیکل دپښو لاندی یو خزانه ښخه کړی وه او دپاسه ئی ور باندی لیکلی وو :

(دا پیسی دی دعبادتخانی دودانی او ترمیم په چارو ولګول شی) دسرحدی غاړی یوه پاچا غوښتل چه له دغو پیسو نه کار واخلی مګر د خپل لښکر په زور هم بریالی نشو ؛

دهیوان تسانګ په ژوند لیکنو کښی دغه معبد د «شالوکیا» په نامه یاد شوی دی دغه چینی ګرځندوی هم دکاپیسا دمړ په وده کښی دغلته دیره و په ځینو آثارو کښی دغه عبادتخانه د Tien-tsu (تین سو) او wangssu «وانګ سو» په نامه هم راغلی ده چه د پاچائی معبد

ACKU

معنی ورکوی د «شالوکیا» دنامه معنی پوره څرګنده نه ده مګر یو اوی او جامع نوم دی چه عبادتخانې، دیر غملانو ته او ربی، او د راهبانو استوګنځی ته ویل کیده. کیدای شی چه دغه دنوم دچینی رسم الخط شکل په سانسکریت کی سالاکا Salaka وی چه دکوچنی خونی معنی ورکوی او دپاچادار وخت داو سیدو ځای ته ویل کیده دغنی فاصلی او لوری له مخی چه چینی ګرځندوی ښودلی دی زیات احتمال دادی چه د «شالوکیا» معبد به د «شترک» معبد وی چه د بګرام دپاچائی ښار دخرابو دشمال شرق دینځوکیلومترو په فاصله دپهلوان د غره په شمالی لمنه کښی پروت دی ددغه ځای کیندنی په ۱۹۳۷ او ۱۹۳۹ کالوکښی د موسیو هاکن دلاس لاندې د موسیو مونیه له خوا اداره کیدلی:

دپهلوان دغره په شمالی لمنه کښی دشترک د معبد دخرابو د ارو خوا ته ډیرو راهبانو داوسید و دپاره ګښی عبادتخانې، استوګنې او لویې ودانیې موجودې وی او دچینی یرغملو داوسیتو ګنې ځای هم هر و مرو دغه عبادتخانو په خوا کښی ؤ: معبدو نه او ورسره تړلی نوری ودانیې د پنجشیر او غوربند دشریکی رودخانې په اوچته غاړه جوړی شوې وی او دریزه کوهستان، او دنجراو او پنجشیر دغرو ښکلی منظره ئی مخی ته پرته وه.

دا ځای یو د ښه ځای ؤ چه کنیشکا د چینی یرغملو ددوی داوسید و د پاره خوښ کړی ؤ. چینی ګرځندوی په دغو سلو عبادتخانو کښی چه په دعمومی دولت پادی کړی دی بیله (شالوکیا) څخه دهینو نورو معبدو نومونه هم اخستی دی لکه: «راهولا Rahula» معبد چه د پلازمینی (پای تخت) سویلی ختیزی (جنوب شرق) خوا ته د (۳۰لی) په فاصله پروت دی. دانمزدکی د کاپیسا یونو میالی وزیر «راهولا» جوړ کړی ؤ. موسیو فوشه دغه ځای هغه کاپی کلا ګڼی چه نبی نبانی ئې د بګرام دشاهی ښار په سویلی ختیزه خوا کښی د زریو اوبو (باریکک آب) په غاړه لیدل کیږی. دغه نمزدک (معبد) چه کنیشکا په دیر کړاو او زحمت دله واو روډ کوغرونو په لمنه کښی جوړ کړی ؤ. اه پلازمینی نه نژدې ۲۰۰ لی لیری ؤ دغه نمزدک داوسنی بګرام په شمال غربی کونج کښی دچاریکارو شمال غربی خوا ته

په (توپ دره) کښې جوړ شوی ؤ ددغه نمز دک استوپه په افغانستان کښې تر ټولو لیدل شوو استوپو څخه لویه ده. (۱)

دهیوان تسنګ د بیان له مخې د لرغونی پاچا «نمز دک» (معبد) د پلازمینې (پای تخت) شمال غربی خواته دیوې لوېې رودخانې په سویلي غاړه پروت ؤ او د پخوانیو ملکی نمز دک د دغه معبد په شمال غربی خوا کښې او استوپه ئې سل فټه هسکه جوړه شوې او په طلا باندې پوښلې شوې وه د «پی-لو- شو کو» یا «پی او سارا» یا «پیل سر» نمز دک چه اشوکا جوړ کړی ؤ، د پیل سر نومی غره په لمنه کښې پروت ؤ. دغه غر اوس «دعا شقانو» په نامه یادیږی دا نوم ځکه ورومرو هماغه داشوکا نوم دی چه د خلکو ذهنیت تری عاشقان جوړ کړی دی او د ریزه کوهستان نه جګ پروت دی.

توپ دره : دا ځای د کاپیسا په سیمه کښې د بېرو دانئی یادګارونو او په تیره د لوی کنیشکا د وخت د یادګارونو په لحاظ د کتنې وړ یو ځای دی او توپ دره نومیږی دغې مشهورې استوپې نښانې او بقایا چه کنیشکا په ډېره سختۍ جوړه کړې وه، دغلته شته دی. د ده مشکلات چه ستر کوشانی پاچا ددغې استوپې او دومره مربوط نمز دک (معبد) په جوړولو کښې لیدلی وو د خلکو په کیسو کښې ئې انعکاس موجود او تر اوومې عیسوی پېړۍ پورې ئې خلکو کیسې کولې. دغه کیسې په ځانګړی ډول چه هیوان تسانګ په بګرام کښې اوریدلې وې مونږ ددې ټوک د ۲٤٦ مخ د شاوخوا پاڼو په لمنو (پاورقیو) کښې بیان کړی دی. په هر صورت د کنیشکا ددغې استوپې لوېې نښانې اوس هم شته. ددغې استوپې د تنې منځنۍ برخه ۷۵ متره احاطه لری او لکه چه موسیو فوشه وائی کرچاپېره تری د (هندو کورنت) یا (هندو فارس) په سبک او ډول پایې او کمانونه جوړ شوی وو. دغه آبده (استوپه) او هغه نورې استوپې چه د پېښور په شاؤخوا کښې موجودې دی د کنیشکا امپراطور د زمانې دوه ستر یادګارونه دی چه د اوړی او ژمی د پایتختونو په خوا او کښې ددغې روښانه دورې د ودانیو خاطرې څرګندوی.

---

(۱) ددغه معبد د جوړونې او د آبی مارانو د پاچا سره د کنیشکا د مقابلې قصه د کوشانیانو په فصل کښې وګورئ.

په توپ دره کښې موجوده کلي ته نږدې د دوو نورو کاملو نمونو د کرنو (معبد ونو) نښانې هم د خاور ګړ تېز و غږ نده یو په شکل موجودې دي:

په کاپیسا کښې کیندنې: لکه چه د مخه مو ویل شول د چیني ګرځندوی له کتنو څخه په ښه شان معلومیږي چه تر اوومې عیسوي پېړۍ پورې کاپیسا ډېره ودانه وه، ډېرې عبادتخانې، ګڼې هانې، زیات روحانیون او صنعتکاران ئې درلودل، څه چه چیني ګرځندوی بللي دي، تر ډېره د اوسنیو نوو سپړدنو او پلټنو سره سمون خوري او ربښتیا ګڼل کیږي، د اوسنیو کیندنو په نتیجه کښې ددې سیمې ځینې داسې تاریخي شیان څرګند شول چه د یوانتسانګ تر یې په خپله زمانه کښې خبر هم نه وو. ځکه چه ددې ښکلې سیمې د لرغوني مدنیت نښې نښانې او شواهد په دغه زمانه کښې له خاورو لاندې شوي وو او چیني ګرځندوی ورنه ناخبره تېر شوی وو. د کاپیسا پښان دیوی پراخې سیمې کیندنې داسې ژر سرته نشي رسیدای تر اوسه پورې چه کوم ځایونه کنسټل شوي او د نتیجو په باره کښې ئې کتنې شوي دي؛ نو مونږ نه ئې داد ی د بګرام شاهي ښار، پایتاوه، د پهلوان د غره د لمنو د ختیځ او نمز د کو نه (معبدونه) لکه د شترک د پوزې (ورسك) د نادر خوړ او د زړو ځینې ورکوچني او لوی ځایونه هم پکښې کیندل شوي دي، د کاپیسا کیندنې په دوه برخو وېشل کیدای شي. یوه برخه د بودائي عبادتخانو او ستوپو د غه کیندنې دي چه له ۱۹۲۵ ع څخه را په دې خوا په بګرام او پایتاوه او د پهلوان غره په شاو خوا عبادتخانو کښې شوي دي (هغه څیړنې او سپړدنې چه انګریزانو په پټه او بې اجازې یا پخپله او یا په نېپالو نوکرانو په ۱۹ پیړۍ کښې کړي دي، په دې برخه کښې نه حسابیږي) او بله برخه هغه کیندنې دي چه د بګرام د شاهي ښار په سیمه کې دننه له ۱۹۳۷ کال څخه را وروسته شروع شوي او کرار پسې کیږي او لکه چه وروسته به څرګنده شي د دې فصل د مرام او مقصد ذکتنې دپاره دغه هر یو ځای پوره اهمیت لري که څه هم د تاریخ په لحاظ لکه چه د مخه راغلل لړ مړیمه په بودائي عبادتخانو او ستوپو کښې څیړنې شوي دي مګر هغه موضوع چه زمونږ تر کتنې لاندې ده داسې ایجابوي چه اول په لنډ ډول د بګرام د شاهي ښار د آثارو په باره کښې ولیکو او وروسته بیا بودائي شواهد او آثار وپلټو:

په یوه خونه کښې د درېیمد نېتونو آثار: د مخه مو وویل چه د بګرام د شاهي ښار

ACKU

کیندنی په ۱۹۳۷ کال کښې شروع شوې په دغه کال کښې د ډېر مهم آثار را ووتل مګر هغه آثار چه د ۱۹۳۸ کال په څلورو میاشتو کښې یعنې د (مې له ۱۹ نه د اګست تر ۱۲) پورې میندہ شول ، هغه ډېر غوره او بهتر اثار وو . د ۱۹۳۷ کال د کیند نو نتیجه د پروفیسر هاکن له خوا په دوو ټوکو نو کښې خپره شوې ده ، د ۱۹۳۸ ع کال د آثار و په باره کښې د دغه پروفیسر له خوا یو کتلاك هم برابر شوی ؤ ، مګر له بده مرغه د جنګ د راتلو او د مؤلف د مړینې په واسطه چاپ نشو (۱) په دې باره کښې موسیو هاکن یو و جامعه مقاله خپره کړې ده چه د تاریخ د تړلنې له خوا په پاریس او فرانسې وی ژبو هم نشر شوې ده . د دغه مقاله په ۱۹۳۸ کال په Art. Asiatique نومې مجله کښې او هم د هند او جاپان په نورو مجلو کښې خپره شوې ده . په دې کښې شك نشته چه صنعت په عامه معنی سره که وداني او معماري ده وی او که بوت سازي ده او هیکل جوړونې او که رنګین تصویرونه وی او که څه نور شیان په هر ځای ، هر ملك او هره برخه کښې د کنو محلي طرز ونو له پو ځای کیدو او یاد کار نه پاتې او پر دو سبکو نو او دولو نو د نفوذ له کبله منځ ته راغلې دی د سترو کوشانیانو دو اکمنۍ او امپراطورۍ په دوره کښې چه په هند او چینی ترکستان کې د آریانا د سرحدونو نه ډېره پراخه شوې وه دغه بې مثاله اهمیت په وجه چه هانیانو په چین کې او کوشانیانو د تارم او پامیر او اکسوس او ګنګا تر منځ قایم کړی ؤ او رومیانو دغه لمن د روم د سمندر (بحرالروم) تر غاړو پورې خپره کړې ده ، او په دې وجه د دې ملکو نو تر منځ تجارتی چارو ښه ترقي کړې وه او د ډېر نفیس قیمتي صنعتي سامان او نورو نهایسته او زیات قیمته شیان به په آسیاکې د چین ، آریانا ، هند او د روم د امپراطورۍ د علاقو او سیمو تر منځ وړل را وړل کیدل له دې کبله د کاپیسې په ښار (بګرام) کښې جمې پسه یو با د وو ځنګ په ځنګ کښې او کښې

---

(۱) وائی چه موسیو هاکن د خپل اثر یو نقل په پیښور کښې (ګاي) ته ورکړی ؤ او د ده تهانی وپلی و وچه که مانه څه پیښ شول نو دغه اثر چاپ کړه . د تاریخ په ټولنه کښې د ۱۹۳۸ کال د شیانو د عمومی نوم لیك (فهرست) شته دی بنا لی چه دغه اثر نقل وی مګر د بوطه لخه پور وا سه ورسره نښلیه ،

دګاوندیو ملکونو دمدنیت آثار به داسې ډول څنګ په څنګ ایښودل شوی وو ، چه سړی به ورته هک پک پاتې کیده. دغه آثار په دری برخو ویشل شوی او دکاپیسا له ډېرو ځایونه راغونډ شوی وو (۱) یونانی او دروم آثار (۲) هندی آثار (۳) چینی آثار

الف : کوم شیان چه په اول پړاو پوری اړه لری او له یونان او روم د سمندر له غاړو او دروم دستری واکمنۍ (امپراطورۍ) له اسیائی خاوری څخه دلته راغلی دی په ور وسته ډول دی :

(۱) یو څه ګچی مدالونه چه د پاسه پری د یونانی کیسو جلا جلا صحنې نقش شوی دی او یو نازک او ښکلی مخ لری

(۲) دمفرغو وړی مجسمی چه مبدااً رسرئی ګریک او رومن ته رسیږی لکه (سراپیس هرکول) (هارپوکرات) او نور

د (۳) ښیښو لوښی او نخچی ګیلاسونه چه د پاسه پری دګلادیاتوریانو د جګړې ننداری او د ښځاو شراب خوړی د ځینی صحنې نقش شوی دی .

ب ، هغه آثار چه اصلی زیږنتون ئی هندی دغه آثار د پیل له هډوکو نه جوړ شوی شیان دی چه په اصل کښی د ګاڼو او نور سامان د صندوقچو تو تی دی چه د زمانی په تیریدو ئی خپل ترکیبی شکل له منځه تللی او دوړو او لویو تو تو په شکل پاتی دی ځینی تو تی په کښی ۴۵ سانتی اوږدوالی لری ، موسیو هاکن دعاج ددغو تو تو په باب کی لیکی (۱) : دبګرام د تیرو کلو کیندنو زموږ په لاس د پیل د هډوکو داسی لوبی تو تی ور اکړی دی چه د ځینو جګوالی ئی ۴۵ سانتیو ته رسیږی دا تو تی دنمایشاتو د موضوع او اشکالو له مخی د زاړه هند د ځینو آبدو او په تیره بیا دکانیز و عبادتخانو د داخلیدو د دروازو په نمونه او ډول دی لکه چه دغه تز دیوالی او مشابهت د عاج په لویو تز تو کښی له جوړ و شو و کمانونو او دهغو په منځ کښی د پیلانو له کتار و تو څخه په ښه شان معلومیږی که له یوی خوا دغه راز مخصوصی ښکلاوی د میلاد تر مخه دلومړۍ پیړۍ په شاو خوا کښی د هندی ګنګا د سیمی په لرغونو مګدو کښی دلوماس ریشی LomasRishi د سمڅی د دروازی سره د مقایسی څخه منځ ته رااوځي

---

(۱) دبګرام ۵ مخ د ۱۳۱۸ کال چاپ ئی د پروفیسر هاکن تالیف او دکهزاد ترجمه

نوله بلې خوا د چین نور ښار هم د ټولو هندي ماتورا د ښار په اوري بيا ئې چه بطليموس جغرافيه وال ورته (اريا انواع ماتورا) ويلي دی اواوس (موترا) بلل کيږي دا ښار په متحده ولاياتو کښي د هند بو ستر ښار دی او دلوي کوشانيانو په زمانه کې ډير مهم و . د غه ښار لي او قديم ښار په وخت کښې د هند بو لوی او ښايسته ښار ګڼل کيده ، کنيشکا د او مړی عيسوي پيړی په آخره برخه کښې او ددوهمې عيسوي پيړی په اوله برخه کښې تير شوی او ده په وخت کښې هندد خپل مدنيت لوړ درجې ته رسيدلی دی او په ده غه وخت کښې ئې دلوړ تيا بو ځلا نده ورته ليدلی ده د دغو آثارو نور و اره او غټ شيان لکه د ښځو د غړو او اندامو نوچاغی او ښوروالی او داسی نور داتول داسی شيان دي چه د ماتورا د صنعت په ځينو هيکلونو کی چه له سور بخنی ختی نه جوړ شوی دی ليدل شوی دی لکه چه دغه راز مجسمی د «ماتورا» دلرغون پيژندنی په کر زن موزيم او د لکنهو په پرو نشنل موزيم کښې په زياته اندازه ساتل شوی دی دبګر ام دعاجو بو ه بله تو ته چه په دغی برخی پوری اړه لري او تور انا Torana نومی دروازه بيی چه کاملا کلاسيکي شکل لری چه د ساځی «مرکزی هند او ماتهورا» پنه پکښې ښکاري مګر يو څه فرق سره لري او هغه دادی چه دبګر ام نه راوتلی دعاجو دلوحی په ښايسته کولو کی دومره دوانه واره شيان په نظر کښې نيول شوی دی چه سړی ورته اريان پاتی کيږی په دی ډول کيدای شی چه دعاج دهغو لويو ورو تو توله مخی چه له بګرام نه راوتلی دی په کلاسيکی ميدان کښې د متنا يسی لمن پراخه کړو

ج هغه آثار چه په چين پوري اړه لري : دچينی آثارو نښانی په لومړی ځل په ۱۹۳۹ کال

---

د بګرام په کيندنو کښې پيداشوی چه له پوراز و ړ وکسا سو او کو چنيو د بلو څخه عبارت دی . دغه کاسی او دبلی له دړې بر خونه جوړ شوی دی . يوه برخه ئې لرګی دی چه اصلی داو بنو رځخه جوړ شوی او دځمکی دنم له کبله پيخی دړ ړ يد لی دی دوهم شی ئې يو ه فلزي کړ ی ده د چند کاسو په غاړو کښې اچول شوي ده ، او دريم شی ئې «لاك» يا بوراز «کند» دی چه داو بنو په زنه او دباندی خوا او پوری مزل شوی دی او په سره رنګ پکښې ځينی

ACKU

نقشونه‌هم شوی دی . دغه شیان که څه هم اصلاً د یرښکلي او نفیس وو، خو افسوس دی چه د محکمي نما او د زماني تیریدوله کبله ویستلی او خاوروخوړلی دی چه اوس د «لاك» د پوښ او قوتونه پرته نور څه لاس ته نه دی راغلی . موسیو هاکن د دغو ډیرا روآثارو له څیړني او خصوصي مطالعي نه وروسته په خپله مقاله کښې داسی لیکی : هغه هر تو که آثار چه په ۱۹۳۹ ع (۱۳۱۸ ش ) کال له بگرام نه راوړل په عمومي ډول د غه شیان دی : د یونان ګچی مدالونه، د ګریک او رومن یادمصری اسکندریې د مفرغو لوښې د رومن د زماني د کورني د ضرورت ډیر مخصوص لوښی ؛ د عاجو هندی لوښې او چیني لاك شوی لوښې .

په د غو آثارو کښې په تاریخي لحاظ نا آشنا او حیرانوونکی تطبیقات کیدای شي او ویلای شو چه د دغو شیانو نیټه له اولی عیسوی پیړۍ نه تر دوهمي پیړۍ پوری رارسیږی . ښکاره خبره ده چه د غه زمانه د ډیره دروا بطو د پراختیا او د مالونو او شیانو د تبادلی د پاره ډیره ښه زمانه وه او کاپیسا د خپل غوره جغرافیائی موقعیت په وجه له دغې زمانی نه ښه فایده اخستله . دا خبره به بی ځایه نه وی که و وایو چه په او مړۍ عیسوی پیړۍ کښې د روم سترواکمنۍ تر شامه پوري یو ه زبردسته سرله او آرامي تینګه کړی وه او د کاروانی لارو په سر پرتو ښارونو د پلمیر Palmyre او د و را Doura کښې ئې داسی ښه ټینګلی انتظامی قوه اچولې وه چه هم به ئې د لارو امنیت ساته او هم به ئې د سوداګرۍ د مالونو د ډیروډرا وړو څارنه کوله . په د غه وخت کښې د روما واکمنی د پارتیانو تر لاری مملکت پوری رسیدلی وه. لکه چه (اګوست) نومی سترواکمن چه تر میلاد دوړ وسته ئې د ۶۳ او ۱۴ کالو ترمنځ پاچائی کوله دخاورم فرهاتس Phraates یو زوی او رودس Orodes د پارتیا پر تخت کښیناوه او ده د روما دامپراطورۍ د سره د تابعدارۍ لار چاوله په دغه ترتیب داګوست د پاچائۍ زمانه پاختیز کښې د رومن د دولت د سیاست فتح ښکاره کوی (تر میلا دوړ وسته د ۹ کال شاوخوا) په دغه

زمانه کښې چه د پارت دولت د روما د امپراطورۍ د سیاسي نفوذ لاندې راغلی و، کوشانیانو په افغانستان او د هند په یوه برخه کښې د یوې لویې امپراطورۍ په جوړولو او ټینګولو لاس پورې کړ او یو داسي غښتلی او قوي دولت ئې جوړ کړ چه د دریو یې د غرب، هند او چین ترمنځ د ارتباط او په وسیله او سبب و. د کوشاني سلسلې دوهم کجولا کدفیزس چه د ده سکې د بګرام له نورو شیانو سره یو ځای را وتلي دي د ځان د پاره د ستر واکمن «شهنشاه» (مهاراجا، ساراجا، راجاسا) لقب غوره کړی، د غه شان ئې د اسمان د زوی په معنی یو نوی لقب هم د را و تراه چه تر هغه وخته پورې ئې د هند په تشریفاتو کښې مثال نه و هم پر ځان باندې کېښود. دغه نوی لقب د چین د امپراطورانو زوړ کلاسیکي لقب و چه کوشانیانو پر هند باندې د خپل سلطنت په وخت کښې ټینګ و ساته. د سیتي قبیلو یو مشر چه یو یوناني سلطنت ئې له منځه لرې کړی او چیني او ترکي لقبونه ئې غوره کړي و، د خپلې پاچاهۍ په وروستیو دورو کښې د روم د ستر واکمنانو په تقلید هم لاس پورې کړ. لکه چه د ده وروستیو سکې د (دناریو) د سکو له مخې تقلید او ضرب شوي دي چه په سانکریت کښې (دینارا) بلل کېږي، د (دناریو) سکې ستر واکمن (اګوست) د خپل سلطنت په وروستیو ختو کښې د (۴ ق م او ۲ ب م) کلونو ترمنځ وهلي دي. دا نو دیوالي چه په خپله هم مکارو او څرګندوي په بګرام کې د نورو پیداشو او آثارو له مخې پوره حقیقت پیدا اکوي.

په چین کښې: دغه زمانه په ختیزه خوا کښې چین هم یو داسي وضعیت درلود

---

چه د هغو مالونو دوړو راوړلو او د پاره ئې لاره برابره او مساعده کړې وه چه دمخه یاد کړل د (تسن کې هوانګ ټي) نومي ستر واکمن له مرینې څخه څو کاله وروسته د شرکمارانو اولاد و نکو یو مشر د (هان) کورنۍ منځ ته را وستله چه د سیاو ناوي دو بناله مخې ئې د چین له والي نه ګټه واخستله او د نړۍ یو لوی غښتلی دولت ئې جوړ کړ، بیا وروسته دغې ماسلې (Wao) نومي ستر واکمن چه د (۱٤۰ او ۸۷ ق م) ترمنځ ئې حکومت کاوه چانګ کین (Tchang-kien) نومي مشهور ګرځندوی ئې د غرب خواته واستاوه او په چین باندې ئې د نوې دورې دروازه پرانیستله. یوه نوې دوره روسته چین وروو ورو د خپلې امپراطورۍ د امنې د هند سرحدونو ته ور سوالي، د مثال په ډول بايد وو ابو چه چین

دق م په دوهم کال دکوشانیانو دسترو واکمن دربارته یو استازی او نماینده استولی وو چه
نوم ئې (Po-Che-ti-(seu King) وو داعصر چه دیوی بختوری اقتصادی دوری او سیاسی
قرار یده او آرامی زمانه ګڼل کیږی ددریمی عیسوی پیړی دلمړنۍ نیمائی نه هم راتیره شوی
دهغه څخه چه په دغه زمانه کی چه یاده شوه دروم دولت دسختو او ګواښو په پنجه کښی ګیر شو
او د(والرین «Valerien» او «ګالی ین Gellien» په زمانه کښی ترمیلاد وروسته له ۲۵۳ نه
تر ۲۶۸ پوری) ور باندې سخت بحرانونه او طوفانونه راغلی دی لکه چه ددغه یو مثال
له مخې چه «والرین» دساسانیانو داول شاهپور په لاس ترمیلاد وروسته په (۲۶۰ ب م)
کال کښی بندی شوی وو؛ په دې شان معلومیږی چه دروم امپراطوری څو مره ضعیفه شوی
او دمشکلاتو سره مخامخ شوی وه. دشرق په خوا په چین کښی هم ددوهمې عیسوی
پیړی دلمړی وروستیو برخی نه څوړښتیا او ضعف دوره شروع شوه او ترمیلاد وروسته په
۱۸۴ کال کښی دیو بیرغ او د جنبش او حرکت په نامه په (چه لی Tche -Ji) او (هونان Honan)
کښی دعام او لس یو انقلاب جوړ شو که څه هم ددغه بغاوت او ر. و د ژلی شو ولی بیا
وروسته بل بغاوت پیښ شو او دانقلاب مشرانو دمملکت داداری واکی په لاس ونیولی
دتساو پی (Tesao-pei) دهنیانو کورنی له منځه یوړه او یوه بله پاچائی کورنی میدان
ته راغله که څه هم دی کورنی له ۲۲۰ څخه تر ۲۶۵ م پوری پاچائی وکوله خو آخر چین
بیا ګډوډ او ټوټې ټوټې شو. باید یادونه وکړو چه دکوشانی امپراطوری د دوامی او لوړتیا
دشرق او غرب په تجارتی وضعیت پوری تړلی وه دطلاو دذخیرو له ناخاپی راتګ او
دیر بدلیدو دروم د(اپوروس) دسکو دتقلید له مخې د(هندو سیتیانو) یعنی دکوشانی پاچایانو
دزوال اهمیت او دتجارتی مالونو دتیریدو نه ددوی دفایدی اخستلو اندازه په دې شان معلومیږی

دریمه پیړی چه دپورته بیان له مخې دروم او چین ددولتونو دپاره یوه بده مرغه پیړی
وه دکوشانیانو دڅوړښتیا ددوری شروع هم بلل کیږی. ددوهم هرمزد سره واده،
دشاپور په جنګ کښی له ځپلو پیلانو سره دکوشانی ګروم پاتس (Grumpates) برخه اخستل
او په (۳۵۹ م) کښی دروم میانو ماتی کول داټول دلیلونه دا خبره څرګندوی چه کوشانیانو خپلی
څوړښتیا او ضعف په وخت کښی دساسانیانو دنفوذ لاندې راغلی وو. دبګرام د کیندنو
په وخت کی چه دځمکی په مخ دنورو شیانو سره یوځای کومی سکی را وتلی دی، یوه هم

ACKU

دهو اسودو Vasudeva د(۲۲۰ ب م)نه را او ر وسته نه ده ، ددر یمې پېړ ۍ په آخر کښې چه یفتلیانو داکـو سـ نه هغې خپل ځمکې و نیو لې او ددې نو ی پېښې په مقابل کښې دکوشا نیانو زورا و عظمت ، مخ په ځو ړ روان شو . دبگرام پاچهانو او سپر دنو داخبره ښکاره کړ ی ده کو می ودانۍ چه په ښکاره د کوشانیانو داشغال تر د و ر ی و ر وسته معلو مېږ ی هغه دنو ی شاهی ښار دخر ابو د پاسه جو ړ ی شوی د ی .

کړ مه پاچهانه چه و سیو « ژ الـمو نیه» په ۱۹۳۸ کال کښې و کړ ه ؛ دهغې په اثر د یو ی ټینگی او پخې و دانۍ ځای او موقعیت څر گند شو ی دی . ددې و دانۍ په کو ټو نو کښې څلو ر برجو نه لیدل کیږ ی چه تا دو و نه یې د هغو کو تاله تادو و نو ښخه چ په ۱۹۳۷ او ۱۹۳۹ کالو نو کې و ر ځنی غر بی او هندی شیانو ار تلی دی دېر او چت او پو ر ته دی ، په دغه ځا ی کښې باید و وایو چه یو ه یفتلی سکه چه د هر جستان د پاچا څخه د بر ی پر ته د ، په دغه ځای کښی اتیا متر ه ژ و ر ه میندل شوی ده حال دا دی چه د ( گندو فار س ) ( کجو لا کدفیز س ) او ( کنیشکا ) سکې له لر یو څو نو ښخه دنو ر و شیانو سر ه یو ځای ر او تلی دی چه ژ و ر والی ئی دد و متر و او دوه څلو یښتو متر و او شپېتو سانتیو تر منځ دی . نو داسی معلو مېږ ی چه د ( کاپیسی Kapisi ) نو می ښار یعنی او سنی بگر ام چه په ۵ عیسو ی پېړ ی کښې خر اب شوی و بنائی چه دیفتلیانو له خوا نیول شوی و ی . مگر کو شانیانو پخوا تر دې چه له منځه و لا ړ شی ، له دی کبله چه د بو دائی دیانت ساتو نکی و و ، دخپلې تو جه او تشو یق په سبب یو داسی نو ی صنعت منځ ته ر او و یست چه دغرب او هند نفوذ پکښې لیدل کیږ ی . دا نوی صنعتی سبک اردو ل له دی کبله چه د ( بو دیز م ) د افکار و د مظا هر اتو څر گندو ی و نو ښه و ده ئی وکړه او مخ پر و ړ اندې ولاړ . دبگر ام له نو یو سپر دنو څخه په پخو دلیلو نو او نښانو داخبر ه ثابتېږ ی چه لر غو نی کاپیسا یعنی دکو هد امن او کو هستان سیمه په افغانستان کښې دگـر یکو بو دیا ئ د صنعت مر کزا و مر چینـه گڼل کېږ ی .

بو دائی مر کز و نه : لکه چه څو پا ڼې د مخه مو وو یل د بگر ام دنو ی ښار له کیندنو

څخه دکاپیسا مهم مر کز یت او هغه مدنیتو نه چه په دغه ځای کښې سر ه گډ شو ی و و په ښه شان څر گند شو ل او س ذوا ر و داخبر ه ښکاره کړ و چه په کاپیساکی د بودائی نقطی نظر ه څخه

هغه صنعت چه ددغه دیانت د منکورې ښرګند وونکي ؤ په ښه ډول او ښه شکل ځان ښکاره کړی دی ؟ دچیني ګرځندوی هیوانتسنګ له وینامعلومیږي چه داوومې عیسوی پیړی په اول لهبرخه کي دکاپیسا په سیمه کي له سلوڅخه زیاتي عبادتخاني وې ددغو عبادتخانو ځایونه تراوسه نه دي ښرګند شوي او بي له زرېڅلور وځایونه نور ې کیندني نه دي شوي .

مګر هر کله چه دبودي سیمي استوپي او معبدونه په عام طور بوراز وو نوکوم آثار او نښاني چه لاس ته راغلي دي . له هغو څخه ترډېره حده پوري دکاپیسا دهیکل جوړونو د صنعت د مند رسې سبك معلوميږي چه يو ډول جوړښت دی . ترا و سه پوری دبوداني آثار و په برخه کښي دپهلوان دغره په غربي لمنه کښي دوه دري ځایه کیندنې شوي دي . داکیندني موسیو برتو په ١٩٢٥ کال کښي کړی دي . ددغه غره په شمالي لمنه کښي د«موسیوهاکن» ترمشرۍ لاندي دموسیو مو نیه له خوا هم د «شترك» په ورسلك او«نادرخوږ»کښي ځیني کیندني شوي دي . چه راوتلي آثار ئې دکابل دموزې د«شترك» په خونه کښي پراته دي مګرکوم کتاب چه په دغه باره کښي لیکل شوی ؤ ، د لوی جنګ دراتلو او دموسیوهاکن د مړینې له کبله تراوسه پوري چاپ نه کړی شو .

یو اځي دموسیوهاکن دیوې مقالي لنډیز چه په دغه باره کي خپور شوی ده دلته را وړل کیږي . دفرانسي دکیندني هیئت چه تر هرځای دمخه ئې دکاپیسا په کوم ځای کښي کیندني کړي دي ، هغه (پایتاوه ) نومیږي ، ددغه ځای په باره کښي دوی خپلی نظریې هم ښکاره کړې دي . داځای دچاریکارو په سویلي ختیزه (جنوب شرق ) خوا کښي لس کیلومتره لیری او دبګرام د سویلي خوا په ٧ کیلومتری کښي پروت دی ، دموسیوهاکن په نظریه دا ځای دهغه ښار په شمالي څنګ کښي پروت ؤ ، چه هیوانتسنګ د(سي - پي - تو - فا - لاس Si-pi-to-fa-la-sse) په نامه یاد کړی دی او خرابې ئې دخوغوند یو په شکل دیوی و داني اوسمسورې ځمکی په منځ کښي اوچتي ښکاري ، موسیوهاکن د ( ١٩٢٤ ) کال په ژمی کښي ددغه بوداني نمز دکښ (معبد) په کیندنو لاس پوري کړ . کوم مهم شی چه له دغه ځایه راووت : د بودا . بوراز مجسمه وه چه (لوبه خارقه ) بودا بلل کیده پخپله مجسمه د سلیټ له ډبری نه جوړه شوي ده او تراوسه پوري دطلاپاڼي لګیدلي ښکاري .

موسیو هاکن وائي چه د مجسمو د پاسه د سرو او سپینو زرو د پاڼو نښلول چه په شرق کښې د یونانیانو یادګار دی او په روم کښې ئې هم رواج درلود، یونوی او تساز د دوه دی او ویلای شو چه دا دود د هغې سولې او امن په سیوري کښې باختر ته وارسیدلی دی چه د فلاویانو (Flaviens) په زمانه (۹۶-۶۹م) کې د رومیانو او پارتیانو ترمنځ موجود ؤ، او بیا وروسته د هغه دوو د کاپیسا ته راغلی دی، له بلې خوا پخپله د هیکل نه معلومیږي چه د ځوړتیا د دوري محصول دی. ځکه سرئې ډېر لوی دی او د بدن د جګوالي په پنځمه برخه دی. حال دا دی چه د هډې د دېری بې خوند د مجسمې د سر تناسب د بدن د ښایسته برخې له اندازې نه وتلی نه دی د یونان د هیکل جوړوونکي پولی کلت (Palyclite) د مدرسې اندازه ۱-۷ او د لي سپ (Lysippe) د مدرسې اندازه ۱-۸ وه، په دغه مجسمه کښې لاسونه د ورغښت شوي او د بدن تراکت او نازکي له منځه تللي ده. نو د دغې مجسمې تاریخ څلورمې یا دریمې عیسوي پېړۍ ته منسوبیږي موسیو هاکن د هډې او کاپیسا له مدرسې سره د دغې مجسمې په مقایسه کښې وائي: «د پایتاوې د دغې مجسمې نه ښکاره معلومیږي هغه وخت چه د شیست له ډبرې نه د هیکل جوړوونې صنعت په کاپیسا کښې مخ په ځوړتیا روان ؤ، د هډې استادانو ژوندي او ښکلي آثار جوړول».

دې ته هم پام کول پکار دي چه د کاپیسا د بودائي صنعت په نمونو کښې (لوی خارقه) هیکل یو ځانله خصوصیتونه لري او نمونې ئې له نورو ځایو څخه لکه بګرام هم پیدا شوي دي.

یو بل اثر چه له پایتاوې نه را وتلی دی او دلته ئې یادونه بې ځایه نه ده هغه یوه لوحه ده چه په اصل کښې د کومې مجسمې پایه ښکاري. د دغې لوحې په یوه مخ باندې څرنګه کوشانیان په خپلو جامو کښې د بودیسم اثر (Maitreya میتریا) ته چاپېر ښودل شوي دي. د هغه کوشانیان دي چه بودائي دین ئې منلی دی او په ډېر ذوق او مینه د (بودیسم اثر) نه چاپېره ولاړ دي.

په یوه بله لوحه کښې چه موسیو برتو په ۱۹۲۵ کال له بګرامه را ویستلې ده او په

ACKU

دریم عیسوی قرن پورې اړه لري بوده بودیسم اثوا په دامسې حال کښې لیدل کیږي چه د (اندرا) او (برهما) هرکلی کوي. پدغه لوحه کښې دسانسکریت په ژبه او خروشتی رسیم الخط بوه لیکنه هم شته دی چه ځینې توري ئې دمرکزي آسیا د (نیا Niya) له لیکې سره مشابهت لري چه پروفیسر (لیودر Luder) ئې د دریمی عیسوی پیړۍ لیکې بولي. په کابل او دکابل په شاو خوا کښې لکه شیوه کی او کمری چه دکابل دښار دجنوب شرق په اوه یا اته کیلومتري کې دي دغه شان دکابل په شاو خوا غرونو او غوندیو کې لکه دعلی آباد (لمنه) دخزانی غونډۍ دزېره غونډۍ دشیر دروازې دغره لمنه، دمرنجان او پنجه شاه غونډۍ په دغو تولو ځایونو کښې دودانی عبادتخانی او استوپی موجود ی دی او له ځینو څخه ئې بوځه آثارهم راوتلي دي مګر لکه چه موسیو فوشه وائي کابل د بودیزم او دهغه صنعتي آثارو په لحاظ دومره اهمیت نه درلود او دکاپیسا ددوهمې درجې ښار په کتار کښې حسابیده چه له دغه کبله دعیوان تسنګ په لاره کښې نه دی راغلی. او س چه دکاپیسا له خصوصي کتنې څخه و زګارشو نو په عمومي دول ویلای شو چه دګریکوبود یک صنعت په باختر کی زیږیدلی وی او که په ګندهارا کښې خو په کاپیسا کښې ئې ښه پالنه او روزنه موندلې ده او دکوشانی امپراطوری. ددوبې دپایتخت هیکل سازانو ددغی مدرسې په عامو اوکښې زیاته بهرخه اخیستی ده. او ددې سیمی دهیکل جوړونې زیـات آثار په ـ دریمه، څلورمه او پنځمه عیسوی پیړیو کښې جوړ شوي دي.

دشترک نمزدک(معبد): پخوا مو و رته اشاره وکړه چه دپهلوان دغره نه ګر دچاپیره

---

چه دبګرام دشاهي ښار د خرابو دشرقی خوا په نږې کیلو متري کښې یوځوبود ا ئې عبادتخانی جوړې شوي وې، چه یوه ئې دشترک د ور بوز عبادتخانه وه چه د پنجشیر دسیند په غاړه دانه وه په دغه ځای کښې (موسیو مونیه) دلاموسیو هاکن تر مشرۍ لاندې پاتې او سپړدنې کړي دي.

پروفیسر هاکن په دغه ځای کښې دفرانسوي هیئت دکیندنو دکارو بار په باره کښې چه د۱۹۳۶کال له سپتامبر څخه د۱۹۳۷ تر اګست پورې شوی دی؛ یوه مقاله لیکلې ده چه

د۱۳۱٦ کال په‌کالنی‌ہ کښې خپره‌شوی ده ، موږ د لته‌دشترکه‌د نمزدك په باره‌کښې له دغی مقالی‌څخه د ده د نظر یو لنډ یز راا خاو :

هر کله‌چه‌په‌دغه‌مذهبی و دانیہ کښې څو څوځله لاس و هل‌شوی دی نو‌ځکه‌ئې اصلی شکل ګډوډشوی‌دی‌ترڅو اوز ره بر خه ئې (دغی برخی که څه‌هم لاس‌خوړلی ؤ) هغه‌خاوره ګوتیزه احاطه وه چه په مخ کښې ئې یوه‌لو یه استوپه موجوده وه دغه‌انګړ په شرقی خوا کښې له‌یو دیل انګړسره‌لګید لیؤاو نوری و دانیہ ئې‌سو یلی (جنوب) اوسویل لمر لو یده(جنوب غرب) خواته‌پرتی دی :ستره‌استو په‌دنو ر و‌مجسمو اولوحوسره‌ښایسته شوی‌وه‌داسی معلومیږی‌چه صنعتګرانو‌به پخپله د دغه خا ی دسلیت‌په کانیوکښې مجسمی توږلی او جوړ و لی .لکه‌چه په‌دغه ځایکښې‌دهیکل ساز ی‌دیوی آ لی ا ونیم کره‌اوحی‌وجوددغه‌دمځ‌ی‌نظر یه تینګوی .دغلته دسلیتی دیر و به‌ښیانوباندی‌سر بیره دختې‌ی‌اوچونی‌آ ثار هم‌لاس‌ته‌راغلی دی.دکیندنی په‌وخت‌کښې د و د ا نیہ په‌دیوالو باندی‌دزړ و آ ثارو یو څو تر تیبی‌اوس‌هم په‌خپل ځای پاتی شوی دی.په دغو ترڅو کښې یوه‌دیره په ز ره پوری‌لوحه شته د ی ،چه په هغې‌کښې برهمنی راهبا ن، د د و ی مریدانو (دواتایان)یاو اړه‌خدایان(فرعی‌اربا ب ا نواع ) د بود اد نما نځنې‌په حا ل کښې لیدل کیږ ی.

امکان‌لری‌چه دغه برهمنی راهبان‌د( کاسیا پا Kasyapa) دری‌ورونه اود د و ی دری‌تنه‌مریدانوی‌ددغې‌لوحی دپاسه‌دوه‌تنه بسپنه‌ورکوونکی هم ښکاری‌چه‌دکوشانی عصر رواجی جامی ئې په غاړه‌کښې دی .له دغه‌ځای‌نه دیر ی د بریږی مجسمی اولوحی راو تلی دی‌په یوه‌بله لوحه‌کښې (متریا )دیوه‌کما ن لاندی پرا تیہ ( پلتیہ - چهار زانو )وهلی ده‌اوه‌کمان‌دواړ‌رخواوته‌دوه نو ر (بودیسا تو‌ایان)لیدل‌کیږ ی‌دصحنی ددواړو خوا ؤ په آ خری‌څنده‌کښې (دوار‌اپالا) یاچیکړ ه‌ماران ښکاری ، که چیری د الو حه د(و ی wei)دزمانی له‌چینی صحنی‌سره چه‌په‌پنځمی عیسوی‌پیړی‌پوری‌اړه‌لری‌مقایسه کړی‌شی‌نو سمدستی‌معلومیږ ی چه د(و ی)په‌زمانه کښې دچین بودا ئې صنعت ترکومی اندازې‌دګریکو بود یك دصنعت دمذ هبې موضوعا تو تر‌نفوذ لاندې را غلی ؤ ؟

دپانتاوې نه پهراو تاو هیکلونو کښې چه داند او نو دبې تناسب له کبله دصنعت کوم تنزل و لیدلی شو، هغه دشترك پههیکلونو کښې هم لیدل کیږي. پههغه اوحه کښې چهبو. برهمنی څو ان لهبو دا (دیپان کارا) سره ملاقات کوی، دبو دادهیکل اوږې دبری پلنی او لاسونه ئی د برییږ او غټ ښکاري.

بامیان : دمخه مو و ویل دهډې دآثارو او عبادتخانو پهجوړېدو سره دگریکوبودیك

صنعت پهدریمه عیسوی پېړۍ کښې دودې او ترقی پړاوونه و وهل په تېره دگنچی هیکلونو په جوړولو او دهغو دقالبونو په تیارولو کی ئی ښه نوم وویست. دهډې آثار داسیاد څینو شرقی برخو له آثارو سره چه دیونانی صنعت له نفوذ لاندې راغلی وو، ډیر مشابه وو. دبامیان لرغونو آثارو که څه هم د گندهارا سره ئی تړون درلود، مګر له یوې خوا ئی دمرکزی اسیاسره او له بلې خوا ئی دایرانی صنعت له څینو شیانو سره هم ورته والی او شباهت ښکاره کاوه یعنی دساسانی عصر له جامو او ښایسته کار یو سره ئی شباهت درلود او دا د لرغونی افغانستان دصنعت هغه ښاخ دی چه پوهانو د (ایرانو بودیك) یا دکوشانی ساسانی» طرز او دول په نامه یاد کړی دی، بامیان دکابل دشمال غرب پرخوا (۲٤۲) کیلومتره لری دهندوکش په مرکز کی له ډېرو پخوانو زمانو څخه دقافلو او کاروانونو دتلوراتلو دلارې په سرپروت دی بامیان دبلخ او پوراشاپورا (پیښور) دلارې نیمائی بریدی په بودائی عالم کښې دبامیانو لرمرنی اهمیت دهغه لوی طبیعی دیوال له کبله دی: چه په هغه کښې هیکلونه، بوتان او سمڅی جوړې شوې او کیندل شوی دی

دهمدغه طبیعی برابر او مساعد وضعیت له کبله به هندکښی (نا) او (ا یورا) او په چین کښې (ین کنگ Ie:i Keng) او (لانگ ن) شهرت موندلی دی څکه که چېری دبامیانو دیوال دغومره لوړ، لوی او ښایسته مخ نه درلودای، دغه ټول ښکلی بدیعی صنعت به هم مخ ته نه وای راغلی. بامیان له ۶۳۱ عیسوی کال څخه را هیسته چه چینی گرځندوی هیوان تسنگ ورباندی راتېر شوی دی یعنی نژدې د (۱۳۱۰) کلونو نه را په دې خوا دگرځندویو په سیاحت نامو کښې راغلی دی. دونږ د سیلانیانو له گرځیدو او لیکنو سره څه کار نه لرو، مګر لومړی د دغی سیمی د نوم په باره کښې څه وایو او بیا د چینی گرځندویو، لیکنو څخه په لنډه توگه یو څه خبرې

را اخلو تر څو چه ددغی مشهوري دری وضعیت دبخوا نو سیلانیانو دلید نوکتنو له مخی چه یو څه آثار ئې پری ایښې دی یو څه قدر روښانه شی بیابه ددغه ځای په صنعتی مدرسه او طریقه او دیل باندې هم څه رڼا واچوو۔ دبامیانو نوم په پهلوی بند اهش کښی (بامیکان) دی او ارمنی مؤرخ (موئیز دو خورنین) هم د اتو ۸ په دغه نامه یاده کړی ده په چینی مأخذونو او ادبیاتو کښی بامیان په جلاجلا نومواو ډول ډول ذکر شوی دی.

چینیانو به پنځمه مسیحی پیړی کښی دغه ځای د (فان ـ یانگ Fan-yang) په نامه یادکړی دی او د (فان ـ ین Fan-Yen) ، (وانگ ـ ین) او (یانگ ـ ین) په نومونو هم راوړی دی۔ دغه هیونوم له اوسنی نامه (بام ـ یان) سره نژدې والی لری. هیوان ـ تسنگ په خپلو لیکنو کښی دغه مشهوره دره (فان ـ ین ـ نا) بللی ده، دی په (سی ـ یو ـ کی SY-iu-Ki) یعنی دغربی ملکونو په یادګار کښی دبامیانو په باب داسی لیکی(۱) د (فان ـ ین ـ نا) دره له ختیځ نه مخ پر لوید یځ له دوه زره لی نه زیاته اوږده ده او له شمال نه مخ په سویل ۳۰۰ لی پلنه ده ، دا دره دوا ړو نه په ډکو غرونو کښی دننه نوتلی ده اوسیدونکی ئې له غرنیونا و نوا و ځایونو څخه فایده اخلی په ښارونو کښی ددغو ځایو په پیدا وار ژوند کوی، پایتخت ئې ددری په منځ کښی دتیږو د یوه دیوال په خوا کښی دی او ژدوالی ئې له ٦ نه تر ۷ (لی) پوری دی او مخ په شمال دغره دورگی ته ورښکته شوی دی زراعتی پیداوار ئې دژمی غنم دی مګر گل او میوه پکښی لږه ده ، د ځارویو دساتنی د پاره ښه ځای دی لکه چه زیات پسونه او اسونه پکښی ساتل کیږی. دو ائی ډیره سړه او خلك ئې زیږه او کلك دی. دځارویو ونکی او پیړی ورینی جامې اغوندی. چه پخپله ورځنی جامی جوړوی. لیکبڼ دود (رسم الخط) ، عقیدی اوسکی ئې د (تو ـ هو ـ او) یعنی د (تخارستان) په شان دی. که څه هم ژبه ئې دتخارستان له خلکو نه څه قدر بیله ده مګر سره ددی هم دخبرو دیل او طریقه ئې یو له بله سمون خوری ، ددغی دری خلك پخپلو عقیدو کښی پا ځاو

---

۱) د با میان دنامه د بیلو بیلو صورتو د پاره دبامیانو زاړه بودائی آثار و گوری چه دګوډ ارا او هاکن تالیف دی.

ACKU

سپیڅلی دی ، ډېگی او غلطی نظر ی او په دی برخه کښې په خپلوگاو ډلیانو باندی یو ، ته دی په دغه دره کښې څوزره سمڅی او څوزره راهبان اوسی او نول د تشو ـ شو ـ شو Tshou Che-Chou ( لوکاتار او ادن Lokattaravadin دلاری او طریقی تابع دی . د دې پرگنی او فرقی تعمیریه یا (هنا یانا) هم و ائی د شاهی ښار په شمال شرقی کی دغره اړخ ته د و دا یوه ډېره مجسمه و لاړه ده چه جگوالی ئی تر ۱٤٠ یا ۱۵٠ قدمونو پورې رسیږی ددې مجسمې طلائی رنگ او قیمتی گاڼه له ورایه ځلیږی ددې مجسمې ختیزی خواته په یوه سمڅ کښې ددې دری دیوه پخوانی پاچاه خوا یوه و دانه شوی عبادتخانه هم شته ددغې عبادتخانې ختیزی خوانه د بود اسا کیاموني یوه و لاړه مجسمه ښکاری چه نژدې سل گامه جگه ده ددغه کالبوت بدن دوړ یدلی دی او بیا وروسته د نورو توتو په لگولو یوه مجسمه تیاره شوې ده . د شاهی ښار په شرقی خوا کښې دوه یا دری (لی) لیری ته دیوه معبد تر څنگه د بودا کالبوت په (نیروانا ) یعنی قبر کښې ایښودل شوی دی ددې کالبوت اوږدوالی نژدې زرگامه دی په دې عبادتخانه کی د دری پاچا د( Wautcho ووتچو) په نامه یوه لویه تولنه جوړوی او په هغی کښې دبودا په نامه تول پاچاهی مالونه او جواهر تر دی چه دخپل او لاد ، ښځی او دخپل ځان مالونه هم قربانوی په آخر کښې وزیران دولتی مامورین او دشاهی کورنۍ خلک هغه مالونه او له روحانیونه بیرته اخلی او سلطنتی خزانی ته ئی سپاری « د هیوان تسنگ » د ژوندانه په کتاب کښې ځینی نوری خبری او نکتی هم شته چه په دې - یوکی » یعنی (دغربی ملکونو په یادگار کښې )نه دی راغلی . دغه کتاب لیکلی دی چه په بامیانو کښې لس عبادتخانی وی او پازرگونو راهبان پکښې اوسیدل دفانین یعنی دبامیانو پاچاد قانون د استاد هیوان تسنگ مخې ته را وتلی ؤ .

ده ته ئی په شاهی ماڼۍ کښې دپانی کیدو بلنا ورکړه هغه هم و منلدا و پنځه ورځی ئې د ځلنه تیری کړی .

چینی گرځندوی په بامیانو کښې زمونږ دهیواد له دوه لویو عالمانو سره هم لیدنه کتنه کړی ده چه یو ئی (آر یاداسا Aryadasa) او بل ئی (آریا سنا Aryasena ) نومیده هیوان تسنگ په خپله چینی لهجه کښې دغه عالمان (آ - لی - یږ - توسو) او (آلی - یو - سو - نا) په نومو یاد کړی دی هغه وروستنی چینی گرځندوی چه د ۷۲۷ مسیحی کال په شاوخوا کښې

بامیانو ته راغلی دی (هوی تچهاو Hau ei-Tchcao) نومیده دی اصلاً دکوریا دشبه جزیری ؤ او (دهند دسفر د قصی) په نامه ئی یو سفرنامه لیکلی ده ددغی سفرنامی یو نقل (توئن هوانګ Touen-Hauang) پر یوه سمڅ کښی موندلی ؤ هغه په څه چه دبامیانو په بوطه وه دته بیانیږی هرکله چه له (سی - یو) یعنی دکابل ددری په څه سری دشمال پر خوا روان شی نو به او وریځو کښی دفان ین Fan yin یعنی بامیانو دری ته رسیږی دبامیا و پاچا (دو Hou) نومیږی چه دکوم بل مملکت دلاس لاندی نه دی داپاچا ډیر قوی او غښتلی پیاده او سپاره عسکر لری نور ملکونه پری دحملی کولو جرات نشی کولای ددی سیمی خلک تارین کمیس ونه، پوستین او دبرکی کالی اغوندی دا خپل ونه ،اس ونه او سپهسین شیان پیداکیږی په هغوی کښی پوالحی انګور پکښی ډیر دی او واوره پکښی ډیره او دوانی سره ده پاچا ، دنوم مشران او نول وګړی د(دری - واهرو) (۱) پیرو او منونکی دی.

عبادتخانی او راهبان پکښی زیات دی دوی دتصوف او مثبتی طریقی تابع دی د (سی - یو (کابل) په دره او نورو ځایو کښی خلک زیری او دسرو ښتان خربی ددوی عادتو نه په لږ توپیر دکاپیسا یعنی دکوهستان او کوهدامن له سیمی سره مشابه دی ددی دری ژبه دنورو درو له ژبو څخه بیله ده (۲) دبامیانو له دری نه چه سری دشمال پرخوا ولاړشی نو په شاو وریځو کښی (تو ، هو ، لو) یعنی تخارستان ته رسیږی :

دچینی ګرځندویو دلیکنو څخه چا په لنډه ډول بیان شو ی دبامیانو دعبادتخانو ، عالمانو او ددغی ارغونی سیمی داهمیت په باره کښی روښانه تکوری منځ ته راځی او دلته د اسی ډیر آثار او نښی نښانی پاتی دی چه دهیکل جوړونی ، نقاشی او معماری په فنونو کښی ددغه ځای دخلکو پوهه او لیاقت ښکاره کوی او دنړی د سیلانیانو ئی په تعجب کښی اچولی دی ، دبامیانو حیرانوونکی آثار هغه دوه لوی بوتان دی چه یو ۳۵ متره جګ او بل ۵۳ متره جګ دی او چاپیره تری عبادت خانی پرتی دی دتاریخ له مخی د ۵۳ متره بوت او دو رسره

(۱) دبودائی مذهب یوه طریقه ده

(۲) هوان تسانګ یو ویږی چه دمخه دبامیانو او د و رسره نږدی خلکو په ژبه کښی زیات اختلاف نه ؤ لیدلی :

ACKU

نژدې سمڅو څخه د ٣٥ متره بوت او دورسره نژدې سمڅو ته چه دېره پخوانۍ ده چینې گرځندوی هیوان تسنگ وائي چه دغه لرغونی مجسمه دمملکت یو پخوانی پاچا جوړه کړې وه دبامیانو لرغوني اوزړې سمڅې د ٣٥ متره بوت سره نژدې دیوه کمر او دیوال په بیخ کښې دهغو ډېرو لاندې ښکارې چه اوپورته و سمڅو څخه راالوېدلې دي موسیو هاکن په ١٩٣٠ کال په دغو سمڅو کښې یو د سمڅ کیندلی وه چه دبامیانو په باب کې په نشر شوي آثارو کښې د(G) سمڅې په نامه یادېږي دغه سمڅه په دغه دره کې هر و مروتر اسلام دمخه دپورته اړ خونو نه دتېږو دراغونړ ځاید و په و جه خرابه شوې ده ، گر په دیوالو او نیمائي چت ئې دنور و سمڅو پر خلاف ځینې تصویرونه روغ پاتې دي:

ددې سمڅې په ترکیبو نو کښې دنقاشي او هیکل ساز ی دواړه اصول گډ شوي دي ، پوهو استادانو او صنعت کارانو ددې سمڅې د ښائسته کولو نقشه داسې جوړه کړې وه چه له اصلي نقاشۍ او تصویرونو پرته پکښې زیاتې ښائسته کارۍ هم چاڼشوی ښیلو لای ، د اطرز د(اگوست) په زمانه پورې کښې معمول ؤ په (G) سمڅه کښې دگند هارا داستاذانو او دهغې دمدرسې تر ټولو ښه هم ښکاره معاومیږي دبودا مجسمې او د نورو فرعي اربابُ انواعو ټونه ټول دگندهار ادمدرسې په ډېر دجوړ شوي دي ، دو پښتانو په تیارو لوکښې یونانی لاره ټول شوې ده ، موسیو هاکن بیله کوم شکه ددغې سمڅې دهیکلو نو او زېر دستو تصویرونو او نقشو نېټه بیخ په دریمې عیسوي پیړۍ پورې مربوط بولي ، داخبره هم باید په زړه ولرو چه دساسانیانو د صنعت تاثیر هم دنوش ډېر ان د ور په و سطه په و روست و پیړ یو کښې بامیانو ته راغلی دی دغه تاثیر او اغیزه د(C) او (D) په سمڅو کښې او دغه شان دککرك د دری په سمڅو کښې لیدل کیږی مگر د(G) سمڅه دساساني صنائعو له تاثیر څخه بیخي پاکه ده ځکه چه ساساني صنعت په خلورمه او پنځمه عیسوي پیړ یو کښې په دغو ځمکو کې راښکاره شوی دی او د(G) سمڅه لکه چه دمخه مو وویل په دریمې پیړۍ پورې اړه لري هر کله چه بامیان دیوې داسې لارې په سر پروت و چه له یوې خوائې باختر دسند له سیمې سره لگولی و او له بلې خوائې دکابل او کاپیساسیمه دهیبك ، باخ او و اخان په لار وله مرکزی اسیا سره نښلو لې وه ، له دې کبله داطبیعی خبره ده چه په ٤ ، ٥ ، ٦ ، ٧ عیسوي پیړیو کښې انترور و ستو زمانو یعنې تر نهمې عیسوي پیړۍ پورې چه په دغه وخت کښې له دغه ځای نه د بودا بانولاس

عملاً لنا یزی بامیانو دقاؤلو، سیلانیانو او صنعتکارانو د تګ او راتګ په وجه ځینی نقوش په ګاونډو ملکونو کښی خپور کړی او د هغوی اثر هم د هغو د باندی پریوتی ؤ، د بامیانو په دبرینو سمڅو او چونو کښی نی د معماری له حیثه ځینی داسی شیان لیدل کیږی چه له یوی خوا د هغو نمونی په بدخشان، واخان، نورستان، پامیر او هندوکش په نورو درو او (هونزا Hunsa) کښی لیدل شوی دی او له بلی خوا ئی ځینی نور ارخونه د پسارس په معماری کښی ځان ښکاره کوی، د جامو په برخه کښی هم د مرکزی اسیا ځینی نمونی (د شل پا دولس ۳٥ متری هیکل د چت د سپوږمۍ درب النوع جامی) او د ساسانی شهزادګانو د جامو ځینی نښی لکه د خولی، نه ګر چاپیره ښتناو د سپوږمۍ شکل او نور شیان د بامیانو په نخچی او نقش و الوان تصویرونو کښی لیدل شوی دی د غه شان مختلف عنا صر او د هغو ګډون د بامیانو د سبک یو خصوصیت ګڼل کیږی د (نا) د سمڅی د آثارو له کتنی څخه چه په دریمی مسیحی پیړۍ پوری مربوطه د بامیانو تر ټولو اوارخونی سمڅ ده دا نتیجه اخستل شوی ده د ګریکو بودیک محلی صنعت په هغه کښی له نودی او ترقی کړی ګونه و روښته د کاپیسا په لاره بامیانو ته هم راسیدلی دی او تر دریمی پیړۍ پوری ئی د ګندهارا د مدرسی خاصیت ساتلی دی مګر بیا په وروستیو پیړیو کښی د ساسانی زمانی صنعت هم د غلته راغلی دی د بامیانو پر مهم خصوصیت دا دی چه د ګریک بودیک له صنعت څخه ئی چه په څپله اخستی و و، هغه ئی مرکزی آسیاته هم رسولی دی.

دا او یو دیکړ ونو د دیوال په سویلی څنډه (په جنوب شرقی) خوا کښی پنځه کیلومتره لیری د (ککرک) په نامه یو بله دره هم شته چه، د بامیانو دری ته نیغه پر ته ده د غلته هم یو لس متری هیکل د غره په دبرو کی توږل شوی او جوړ شوی دی او چاپیره تری یو څو سمڅی لیدل کیږی له یوی سمڅی نه څو رنګه ستر تصویرونه لاس ته راغلی دی چه د کابل د موزی د بامیانو په څونه کښی موجود دی.

په دغو تصویرونو کښی چه عموماً بودائیو ته د اثری په منځ باغا په کښی ښیی پوتص و پر د تاریخ په لحاظ ډیر مهم او په زړه پوری دی چه د غه تصویر د هغه پاچا دی چه څپله لیندۍ په د وار و لاس و بو دانه و را نیولی کوی او له ښکاره نه تو په و کاږی، وسیوها کن په څپل لیکنو کښی

ACKU

دغه پاچا د (ښکار څخن پاچا) په نامه یاد کړی دی: دګکرك ددری ښکاری پا چا پوداسی تاج دراود چه له ذریو او ژیو (هلال) او د ریو کر و نه جوړ شوی دی:

موسیو هاکن دغه شکلو نه له هغو سکو سره مقایسه کوی چه تراوسه معلومی نه وی ددغو مسی سکو دوه دانی په غزنی کښی میندل شوی دی په یو سکه باندی د پاچا نیمه تنه پر ته د داوتاج ئی کټ مټ د ښکاری پاچا د تاج ښان دی.

که څه هم دوه او ږ مکی (اوږدی) او دوه کړی ئی ښکاری مګر هر کله چه د پاچا د ږی برخی صورت معلومیږی نو بوه بله اوږ مکی او یوه بله کړی دسکی په مخ نه لیدل کیږی لکه چه د مخه وویل تر او سه پوری د غه سکی هم نامعلومی وی او دغه ددر یو او ږ مکو او ذریو کړو تاج هم معلوم نه و.

ساسانی پاچایانو لکه دوهم اردشیر (۳۷۹-۳۸۳م) او یزدګرد (۳۹۹-۴۲۰ مسیحی) یوا ځی اوږ مکه او پنځم بهرام (۴۲۰ - ٤٨٨م) یوه اوږ مکی او یوه کړی استعمال کړی ده. نیکی ملکا وبادخونه کابل د کوشانیانو بوږ خانګی چه په ۵ او ٦ پیړی کښی ئی پاچائی کوله دیوی غوره سکی په شهادت چه له غزنی نه راوتلی ده یوه اوږ مکی او یوه کړی استعمال کړی ده دیوی بلی سکی د پاسه د پاچا تاج له دوو اوږ مکیو نه مرکب دی چه په آخری سر کښی ګردشوی دی او دا اوږ مکیو په منځ کښی ګرد ذ کلی پاکړی ښکاری. د موسیو هاکن په نظر به د بامیا او دګکرك ددری ښکار څخن پاچا د هغو شهزاده ګانو سر ددیر نژدی والی دراود چه دنو مو ړ وپیر یو سکو د پاسه ښو دل شوی دی، دکابل، غزنی، بامیانو او د ښاونخو الحایو محلی امیرانچه په ۵ او ٦ عیسوی پیړ یو کښی ئی حکومت کاوه، تر ډیره حده پوری د دوی د مخصوصو تاجو نو له مخی چه نوی میاشت او کړی په پوری تی وی ؛ پیژندل کیدای شی.

او که چیری دغه شکلو نه پری دری دری لګیدلی وی، نو په دغه صورت کښی د نیکی سلسلی او ددوی دخپلوانو تر منځ هم فرق کیدلای شی:

د ښکاری پاچاد تصویر کښته دغی منکر ری په لحاظ چه په پنځمه عیسوی پیړی کښی دګکرك ددری د تصویر و نو په باب کی ئی پیدا کوی ډیر مهمه ده.

ACKU

کو موامیرانو چه په ۵، ٦، ۷ پیړیو کښې ئې په بامیانو کښې حکومت کاوه زیات احتمال اري چه غزني به هم د دوی د لاس لاندې وه ځکه چه غزني له بامیانو سره له کابل نه زیات نبغ ارتباط او سمه لاره درلوده دا مطلب د غلغلي په ښار کې له پیداشوو لیکنو ځخه چه تر اوسه لا تر دقیقې مطالعې لاندې ندي نیول شوي هم څه ناڅه ځرګندیږي.

د هیبک ښار چه د هندوکش په شمالي خوا کښې د خلم درو د په شاو خوا کې د باختر د جلګې په لاره پروت دی د کار د طرز او د ول او د صنعت او و داني د نښو په لحاظ د بامیانو د مدنیت تابع کیږي

ځکه د غانه هم سمڅې او عبادتخاني کیندل شوي دي د غلته له یوی لوییو ډبرې ځخه یو استوپه جوړه شوی ده چه د هغه ځای خلکو به د کابلي پهلوانانو په نامه د (رستم تخت) باله د موسیو فوشه په نظر یه دیغنلیانو در اپیدا کیدو او غربي ترکانو دیوي ځانګې د پاچاهي په وخت په هیبکو کښې د ځینو سمڅو دا یستلو د کار و باره خه بنده شوه مګر سره ددې هم د هیبک په و قعیت د صنعت د پراختیا په لحاظ د پره مهم دی.

ځکه د ګر یک بو دیک صنعت پس له هغه چه په هده او د ګندهارا په نورو برخو کښې د خپلې ترقي آخر سرته ورسیدنو د کاپیسا غوربند او د بامیانو په لاره هیبکو ته ولاړ او له هغه ځای نه ئې لکه چه په ځانله بحث کښې به ځرګند شي د باختر او برني تخارستان په لاره چیني ترکستان ته مخه وکړه.

فندقستان (د غوربند سیاه ګرد): د کابل او بامیانو د لارې په نیمائي کښې د غوربند د درې

د سیاه ګرد نه ځلور کیلو متره مه و یل خوا ته د فندقستان په دره کښې په اوره باندي یو نمزدک (معبد) پروت دی، موسیو کرل د موسیو هاکن په امر او ښو دنه د ۱۹۳۷ کال د مې او اګست په میاشتو کښې د غلته کیندنې وکړې لکه چه د کابل په موزه کښې لیدل کیږي له فندقستان ځخه یو څه هیکاونه او مجسمې راوتلي دي په د غو مجسمو کښې دیوه پاچا او یوې ملکې مجسمه هم شته او د نمر او سپوږمۍ د خدایانو رنګه تصویرونه او څو داني سکې هم پکښې پیداشوي دي.

د موسیو هاکن په عقیده له فندقستان نه راوتلي بو ثان او هیکاونه په افغانستا ن کښې

ACKU

د بودائي هيکل جوړونې وروستې نمونې دي چه دغه بودائي په شپږمې عيسوي پيړۍ پورې مربوط بولي، فندقستان په خپله يوه جلا مدرسه ده او خاص امتيازونه لري.

له هغو جامو، گاڼو، سنگار او نورو جلا جلا شيانو څخه چه لاس ته راغلي دي، په دغه ځاى کښې د هند او ايران د صنعتي نفوذ مقابله په ښه شان معلوميږي؛ د ايران صنعتي نفوذ او اثر چه د نوشيروان د لور په واسطه د باميانو د ککرک دره ته را رسيدلى و، دغلته ئې هم لاره موندلې وه مگر بيا له منځه ولاړ او د هندي نفوذ په مقابل کښې ئې فوقيت حاصل کړى دى. د دوى (ماکن) په فکر د سپوږمۍ او نمر د خدايانو تصويرونه په فندقستان کښې د هندي صنعت ښې ښکاره کړي؛ په فندقستان کښې د پاچاانو ملکې د مجسمو ترڅنگ ولاړې دي په يوه لوښي کښې يو څو سکې موندل شوې دي، يوه سکه ئې د ساساني سلسلې د دوهم خسرو ده (۶۲۷ - ۵۹۰م) او نورې د مسو او سپينو زرو سکې دي چه د پنځمې پيړۍ په (نېکيانو) پورې اړه لري. نېکيان د کوشاني کابل شاهانو يوه څانگه ده.

په فندقستان کښې نقاشي او هيکل سازي داسې سره گډ شوي دي چه يو د بل پوره کوونکي گڼل کيږي موسيو هاکن د فندقستان په باب د خپلې مقالې په پاى کښې وائي د دې ځاى د کيندنو او لرغونو کشفياتو اهميت له دې نظره نه معلوميږي چه د فندقستان نه راوتلي آثار د بودائي صنعت آخري نمونې دي چه د مسيح نه وروسته په شپږمې پيړۍ پورې اړه لري، دغلته په داسې حال کښې چه د ايران صنعتي نفوذ مخ پورې کړى و دى؛ هندي صنعت خپل نفوذ ښکاره کړى دى د ځاى آثار هم د سبک او ذوق له حيثه او هم د تخنيک له حيثه د مرکزي اسيا د نخچي تصويرونو او تونږل شوو آثارو سره نږدې والى او ارتباط لري تخنيک ئې داسې چه (مجسمې د خټو په قالب کښې جوړيدلې وې، ورته اروپايانو ورسره گډ شوي وي) رغيزي ښايي چه د (گريون ولدفن او کلک - او لندنبورگ - اوتاني پليو - ستن) د هيئت په نظر به د بودائي صنعت د دغه سبک جوړونې حد او بريد فندقستان وي.

د افغانستان د گريکوبوديک د صنعتي مدرسې نفوذ په مرکزي آسيا او چين کښې:

---

څرنگه چه بودائي دين له آريانا نه د سغديان او د ايخان د درې په لاره د پامير شرقي

خواوته ولاړاو هلته خپور شو ، د غه دگريکو بوديک صنعت هم گام په گام په دغو لارو کاشغر ، ختن او دسنکيانگ نورو برخوته ورسيد لکه چه دسمرقند په شاوخوا او د ختن دعبادتخانو په خرابو کښې دگريکو بوديک د آثارو راوتل پردغه مطلب باندې شاهدي وائي . کوم لومړی ځای چه دیونانو او بوداني صنعت نښاني پکښې ښکاره شوي دی ؛ « راواك Rawak » نومیږي چه دختن په ختيځ کښې پروت دی ددغه ځای دعبادتخانو له ديوالونه چه کوم رنگه ديوالي تصويرونه را وتلي دی او سرا ورل ستن ئې نقل او عکسونه اخستي دي دبودا له هغو لويو مجسمو سره چه له هډې نه راوتلي دی او موسيو گودار ئې عکسونه اخستي دي ډير شباهت لري او په دی حساب دهډې او راواك آثار دوا ړه سره معاصر دی او د لوی مربو عیسوی پیړ يو پوری اړه لري لږ لري شرقي خواته په « ميران Miran » نومي ځای کښې هم سراورل ستن يو څه ديوالي تصويرونه موندلي دی چه دگريکو رومن له آثارو سره اړخ لگوي او بی شکه په ۳ او ٤ مسيحي قرن پوری اړه لري ددی ځای او د هډې او رگند هارا د آثارو په منځ کښې هم زيات نژدیوالي موجود دی له ٤٢ کالو څخه را په دی خوا چه د « گوندار » « هاکن » او « برتوم » هيئتونو په هڅه - باميا نو او کاپيسا کښې کوم کشفيات کړی دی ؛ له هغو څخه داخبره ثابته شوې ده چه دگريکو رومن له اسيائی خاوری نه کلاسيکی صنعت دافغانستان دگريکو بوديک دمدرسې په واسطه گوبي ته رسيدلی دی .

دهډې او باميانو دمجسمو گچي سرونو او رنگه تصويرونو او د مرکزي آسيا دمختلفو سيمو دصنعتي آثارو ترمنځ لکه راواك ، ميران ، او څه لير ی دگوبي پرخوا د قزل Quizil کمتورا Qumtural ترتوئن هوانگ Tauen-Houang دآثارو ترمنځ د پرنز دی شباهتونه شته دی چه دافغانستان دمدرسو نفوذ تری څرگند يږی د موسيو رونه گروسه په عقيده دهډې ديوالي تصويرونه د رومن د امپراطوری د آخري دوری دآثارو او د مرکزي اسيا دآثارو تر منځ دارتباط عامل گڼل کيږی - دغه شان د باميانو د ٣٥ متره هيکل دطاق ښايسته تصويرونه د « ميران » په تصويرونو هم ډير تأثير ښندلی دی . په هيکل جوړولو کښې هم کټ مټ دغه مطلب څرگند او جوت دی .

ACKU

هغه کوچنی وارهګنچي سرونه چه د بودا، بودیس اتوا او د کوشاني عصر د نژادي عناصرو نمایندګي کوي او د کابل په موزه کښې ئې د هډې د خونو الماریه او د ګیډې په موزه کښې ئې د افغانستان خونه ښایسته کړې ده د ختن د دراولك نه د راوتلو آثارو سره دومره نژدې والي لري چه په اسانۍ ئې څوك په منځ کښې فرق نشي کولای.

د چین په خاوره کښې د افغانستان د صنعتي مدرسو نفوذ یوازې په ۳ او ۴ پیړۍ کښې نه و بلکه کومې مطالعې چه تر اوسه پورې چینپیژندونکو (پول پلیو) فرانسوي، (فن لوکوك) جرمني او (سر اورل ستین) انګریز د کاشغر په شمالي ناوو کښې، په تمشك Tumshiq کوتچه Kutsha قره شهر Qarasha او تورفان نومی ځایو کښې کړې دي، له هغو څخه معلومیږي چه د دغو ځایو آثار عموماً نوي او په ۶، ۷ او ۸ پیړۍ پورې اړه لري مګر سره د دې هم د دغو ځایو د کوچنیو هیکلونو او د هډې او تاکزیلا د آثارو ترمنځ کوم زیات اختلاف نه لیدل کیږي او دا خبره په څرګند ډول په مرکزي اسیا کښې د ګندهارا د مدرسې د صنعت پوره تأثیر او نفوذ ښکاره کوي.

د افغانستان او د مرکزي اسیا د بیلو بیلو ځایو د آثارو ترمنځ په ورو شیانو کښې لکه مخ، بدن، جامو او رنګ کښې هم زیات مشابهت موجود دی، چه د تولو په بیانولو خبره اوږدیږي نو ځکه په عمومي ډول ویلای شو چه د تاکزیلا د موزې د ګریکو بودیك شکلونه په برطانوي موزیم کښې د سر اورل ستین په واسطه د قره شهر او کوتچه نه را ایستل شوي ګچي هیکلونه او د کابل د موزې د هډې په خونه کښې پراته ښایسته بوتان د تول یو اصل او یوه مبدأ لري او د هډې د ښایسته مدرسې د استادانو د ذوق او تربیې تأثیر د مرکزي اسیا د هیکل سازۍ کارخانو ته هم رسیدلی دی.

د افغانستان د ګریکو بودیك د صنعت د هیکل جوړونې دول، طریقه، او اصول د دیوالي تصویرونو سبك او نور امتیاز و نه یوازې د مرکزي اسیا په بیلو بیلو برخو پورې محدود نه و بلکه د بودائي دین د خپریدو سره سم د شرق پر لورې هم وړاندې تللی دی: د چین د سرحد نو سره نژدې د تورفان د ناوو په مرتك Murtuq باز اکلیق Bazakliq او شورچق نومی ځایو کښې به ډیرې پیړۍ د افغانستان د استادانو د هنر او صنعت پیروي کیدله، موسیو رونه ګروسه د شرقي مدنیتونو کتاب د دریم ټ‌ك په ۱۵۴ مخ کښې لیکي په دغو ځایو کښې

ACKU

تر نهمی پیړی پورې د مرکزی اسیا په دول کوچنی سرونه چوړ پټل چه د هغې او ناکړېلاله هیکاونو څخه احستل شوی وو ، له تورفان نه جرته د گوبي د بید یا جنوبی برخو ته لکه دندان اویلیك Dandan Uilik او د دښتې صحرا شمالي برخو ته لکه قزل (Kizil) د افغانستان دلرغونو صنعتونو تأثیر رسیدلی دی ، غلته زیاتره د اگرېتا د سبك آثار لیدل کیږی او زیاتره د فندقستان دمارسی د روح یکښې ننوتلی ښکاری ، «فندقستان د غور بند په سیاه گرد کښې د کابل او بامیانو دلارې تر منځ پروت دی») . د فندقستان د معبد آثار چه بوخو رنگه دیوالی تصویرونه او رنگین هیکلونه دی . د کابل د موزې د فندقستان په خونه کښې موجود دی و په ۷۸ عیسوی پیړی پورې اړه لری او تر اسلام پخوا په افغانستان کښې د تصویرونو او هیکل سازی د روستی نمونې گڼل کیږی د فندقستان د هیکلونو او د هغو هیکلونو تر منځ چه فرانسوی (پل پلیو) د مرکزی اسیا له تمشك نومی ځای څخه د پاریس (لوور) نومی موزې ته وړی دی پوره شباهت موجود دی . د فندقستان د هیکل سازی مدرسه پخپله دومره اهمیت لری چه باید یو ځانله بحث پرې وشی . مومسیو هاکن په یوه انگلیسی مقاله کښې چه د (ادب او صنعت) په مجله کښې نی خپره کړی ده ، فندقستان د تبت د الهامی صنعت منبع بللی ده په دغه ترتیب چه بیان شو د گریك و بودیك صنعت د نقاشی او هیکل سازی د دغو آثارو سره له افغانستان نه ختن او کاشغر یعنی مرکزی اسیا ته تللی او هلته نی ترقی کړی ده او بیا ورو سته له تورفان یعنی د چین له دروازی نه چین ته ننوتلی دی .

له مرکزی اسیانه په چین کښې د گریکو بودیك د صنعت خپرېدل :

---

د افغانستان د گریك و بودیك صنعت د خپلو آثارو مختلفو رنگو نو سره په چینی ترکستان کښې نه دی پای ته رسیدلی بلکه د چین پر خوا تللی دی .

لکه چه ښکاره ده د افغانستان رنگین لرغونی صنعتونه په دری مختلفو دوانو چه د (گریك و بودیك) ، (هندو گوپتا) او (بودیك او ساسانی) په نومو یادیږی د چین در شلی ته رسیدلی دی . لکه چه پاخه پوهان وائی : د غو صنایعو د بودا نی دین د صوبیانه (مستیك)

ACKU

افکارو تر اثر لاندې او دهغه اسرار اروتکو خیالونو په وجه یو ځانله رنګ غوره کړ چه اروپائیانو ورته د (ګوتیک) سبک وائي. دافغانستان دغه صنعتي مدرسې دهغه «ګوتیک» په جامه کښې چه د اروپا مدرسې ته نژدې کا له د مخه راغلې وه د چین سرحد و نو ته ورسیدلې. په چین کښې ددغو مدرسو دپر اختیا مرحلې په څو دورو ویشلای شو چه د چین دپاچاهي کورنیو په نومو یعني د«وي» دزماني د«سوي» دزماني او د ( تانګ ) دزمانې په نوموياديږي د( وي )کورنۍ په نوله پنځمه پیړۍ کښې په شمالي چین باندې حکومت کاوه. بودائي دين له ٤٣٥م څخه وروسته د چين رسمي دين وګرځيد. د«وي» په زمانه کښې بودائي هیکل سازۍ په چین کښې څلور مهم مرکزونه درلودل چه د(ین کانګ) (لانګ من) (چانـ ـي) او ( په چیلي) په سمه خو یاد یدل ـ د دغو ځایو یوامتیاز دادی چه د هیکلو نو جامې پکښې لوڼۍ او ډېلې شوې او د بدن لو شوالې په ښکاره لږ او له منځه لاړه. په ٥٥٠م کال چه د(وي) دکورنۍ په ځای دچین په شمال کښې په موقتي ډول د(پي تسي) کهول راغی نو د غلته دکوشانا صنعت د(ماتورا) دمدرسې په رنګ زیات رواج وموند. له ٥٨٩م څخه وروسته د(سوي) کورنۍ دچین ټولو دحالات دچین دخاورې په یووالې بدل کړل. که څه هم دغې کورنۍ لږ دیر شو کالو څخه زیات حکومت ونکړ، سره ددې هم دغه عصر دچين دصنايعو په تاريخ کښې اهمیت لري او غټ امتیاز ئې دادی چه او د بدې هغه روح وُچه دچین په هیکل سازۍ کښې وپو کای شو.

د «تانګ» په زمانه کښې چه له ٦١٨ څخه تر ٩٠٧م پورې نژدې دوه پیړۍ دوام پیدا ه، په چین باندې یو دوی دوره راغله دتانګ دوره دچین په تاریخ کښې زیات اهمیت لري ځکه چه ددغه ملک داقتدار او فتوحاتو دوره ده. دتانګ دپاچاهانو په زمانه کښې دمغلستان او چینی ترکستان ځمکې دپامیر ترشرق لمنو او دآمو دریاتر سیمې پورې دچینی ژنرالانو په لاس فتحه شوې دتجارتي مالونو دتګ راتګ لارې خلاصې شوې مبلغان او سیلانیانو ډېر ځیدل دآریانا او چین ار هندی دولتونو تر منځ سفیرانو لیږلی شول، په دې وخت کښې چین تر هر وخت زیات دخارجي رنګ داخستلو دپاره تیار شو په دې دوره کښې چینی سیلانیانو دهند او افغانستان څخه ډېر کتابونه خپل ملک ته یوړل

دفتحو او سوبو په وجه د چین په صنعت کښې په تیره د هیکل سازۍ په صنعت کښې څه قدر دشان او شرکت نښې ښکاره شوې . آریانا د مدرسو د زیات نفوذ په وجه په هغه ځای کې د صنعت د ترلو مدرسو ورونه او ازشول لکه چه موسیو پلیو او فرانسوی چینی پیژندونکی وائي په دغه وخت کښې صنعت د چین د خلکو روح ته یو زبردست تکان ورکړی ؤ ، دا تکان د هیکل سازۍ له پرمخ تګ څخه معلومیږي ځکه چه دده په عقیده هیکل سازۍ پخوا په چین کې کوم صنعت نه ګڼل کیده او یو خیالي شی بلل کیده حال دا دی چه چین د تانګ په عصر کښې د ظریفو صنایعو څانګی ته زیات اهمیت ورکاوه .

ددې خبرې شاهد هغه لوی هیکلونه دي چه په دغه دوره کښې جوړ شوي دي له دغه ترتیب څخه دا خبره څرګندیږي چه د پیر د تاثرا و نفوذ ترکومې اندازې د چینیانو په نظر کښې دا شیا و د دار زښت او اهمیت عنعنوي تول ګڼلو دکړی ؤ ؟

او د دغه قوم ذهنیت ئې تردې اندازې اړولی ؤ چه د هیکل سازۍ صنعت ته ئې په دغه اندازه اهمیت ورکړ څه رنګه چه د چین په تاریخ کښې د (تانګ) زمانه دامپریالیزم او فتوحاتو زمانه ده ، د دغسې صنعت او په تیره د هیکل سازۍ صنعت هم پکښې یو لوړ مقام ته رسیدلی او لوی هیکلونه پکښې منځ ته راغلي دي ، لکه په « لانګ من » کښې د بودا لوی مجسمه چه ۱۵ متره جګه ده په دغو هیکل سازیو کښې چه غیر مذهبي رنګ لري لکه دخارویو او بودو ننداری او نور د باختري ډوله ساساني صنعت روح یا په بله ژبه د «باختري او ساساني » صنعت مظاهر ډیر تأثیر لري په دې ډول د تزئیناتو په برخه کښې هم د دغه روح تأثیر لیدل کیږي لکه چه د تانګ د زمانې فلزي هنداري د دغې نظریې مرسته کوي ، د تانګ عصر د پارچو او دیوالونو د پاسه در نګینو تصویرونو له حیثه هم ډیر غني دي . د (پایو) او (سراورلستن ) هیئتونو په ( توان هوانګ ) نومي ځای کښې ډیر زیات قیمتي آثار موندلي دي چه د تانګ پر زمانې او ور پسې دورو پوری اړه لري . او ترلسمې عیسوي پیړۍ پوري زار سیږی د دغه تصویرونه عموماً په دوو برخو ویشل کیږي یوه برخه ئې پخپله د چین دملي روح نمایندګي کوي او بله برخه ئې د پردي تأثیر لاندې راغلې ده . په دې برخه کښې د «ګریک و رومن» «هندو ګوپتا » او ساساني سبکونو یعنې د آریانا د صنعتي مدرسو د پراو سبکونو د هغه هواد په صنعتي اثارو کی زیات تأثیر اچولی دی .

ACKU

# لسم فصل

## کیداریان یا کوچنی کوشانیان

داویوکوشانیانوعظمت دوه‌سوه‌کلنه دوره: اتم فصل د«کوشانیانو» ترعنوان لاندی چه مقصدتری ستر کوشانیان دی؛ دهغو کسانو ددوره دپاره خاص کړی شو؛ چه چینی منابعو هغوی ده تایوچی «یا (او یویوچیانو) په‌نامه یاد کړی دی. دغه‌نوم نهائی هغه وخت د قبیلو دخاکړ دشمیر له مخې منځ ته راغلی وی چه‌لا «یوچیان» پاچاهی ته نه وو رسیدلی؛ لیکن کله چه‌دآریانا په‌شمال کښی یوچیانو دسلطنت تادوکړ نو داو دیرې قبیلی په‌نامه یاد نځپلو پنځو ولایتو نو څخه‌دیو دولایت په‌نامه د«کوی شوانګ» یا «کوشان» په‌نامه مشهور شول؛ دغه‌رخت دلویوکوشانیانو نوم‌دوی په‌سرنوشت کښی زیات اثر وکړ او داسی سترکارونه ئې وکړل چه‌تاریخ هم ورته دیښو داهمیت له کبله د«لوی» عنوان ورکړاو موږ هم دخپل هیواد په تاریخ کښی ددوی دعظمت او دبلد بې زمانه چه دلرغونی افغانستان یاآریانا دسرلوړی‌داوڅوانی عصر دی د«لویوکوشانیانو» ددورې په‌نامه داوږ له اویوځانله فصل موورته وناکه؛

دلویوکوشانیانو دعظمت دوره لکه‌چه دمخه‌ویل‌شوی دی له‌لومړی عیسوی پیړۍ څخه ددریمی پیړۍ تر اومړیه خلورمی برخی پوری له‌دوسوو کالو څخه زیاته مړه او چاپېره په‌دغودوه‌نیمو پیړیو کی دکوشانیانو اولې‌ساسای (کجولاکدفیزس او ویماکدفیزس) لویه امپراطوری جوړه‌کړه؛ داو یوکوشانیانو دوهمی کورنی لاری پاچاکنیشکا دخپل سیاست، پوهی او ستر قوت په‌برکت دخپلی امپراطوری لمنی دهیستان له‌هامون نه دتارم او ګنګا ترناوی‌پوری ورسولې خو تنو نورو قوی پاچاهانو چه‌په تاریخ کښی دهغوی دځینو نومونه لکه دوم کنیشکا او هوویشکا ثبت شوی دی.

پر له پسی یوبه بل پسی پاچائی کړې ده او د آسیاپه دغه څنډه کښی ئې دچین او روم داویو امپراطوریو تر منځ خپل اقتدار؛ دمملکت پت (ابرو) دامپراطوری عظمت او دمملکت سلطه او اعتبار ساتلی دی. لکه‌چه‌ددغو مقتدرو امپراطوریو (چین او روم) سره ئې دخپلو روابطو په برقراری او ټینګولو کښې دیر کوشش او اصرار درلود دڅکه

ACKU

چه دکوشانی امپراطورۍ په قوه او دهغې په موقعیت سره سیاسی او تجارتی سیا دت او دلارو مراقبت او په نتیجه کښې د تجارتی او ترانزیتی مالو ورل راوړل هم ټول د کوشان دامپراطورۍ دعمالو په لاس کښې وو .

په (آریانا) کښې د دغې امپراطورۍ عروج او ترقی د پخوانی افغانستان د جلال او عظمت یوه مهمه دوره ښکاره گڼلو ی. ځکه چه مملکت ډېر پېر یو دائمی امنیت او آرامۍ په اثر په ټولو حیاتی څانگو : صنعت، تجارت، زراعت، ادبیاتو او علومو د په خپریدو او دمعارف په نشر یدلو کښې ډېره ترقی کړې ده او دومره ښه مبادی او عوامل سره یو ځای شوی وو چه یو (کوشانی مدنیت) ورځنی پیدا شو او دهغه له فوائد و نه گاوڼدی ملکونه په تیره بیا هند چین تر لیرې ختیځ پورې مستفید شو ل .

<u>دلویو کوشانیانو د ضعیفیدو ددورې شروع کیدل</u> : د دریمې مسیحی پېړۍ په اوائلو وختو کښې دلویو کوشانیانو دعظمت او لوړ تیادوه سوه کلنه دوره کراکرار مخ په ټیټیدو او انحطاط روانه شوه او معمولاً د همدغه انحطاط سیرئی کتلی او د لویو کوشانیانو دوره د (واسو دوا) دسطلنت په واسطه پای ته رسیږی .

پوره معلومه نه ده چه د لویو کوشانیانو دسقوط علت څه شی ؤ . سره ددې دغه دری شیان یکښې لاس لری : یو دهند په خاوره کښې توجه او پیشرفت دوهم : په غرب کښې دساسانی مقتدر سلطنت پیدا کیدل . دریم : دمرکزی آسیا دکوچیانو (بادیه نشینو) قومو لکه ژوان ژوان او یفتلیانو دمهاجرت او فشار خطرات . هر کله چه دمسئلو تفصیل موضوع ښکاره گڼلوی نو ذهغو په تفصیل او تشریح پیل کوو .

<u>دهند په خاوره کښې فتوحات</u> : دهغو مقتدرو سلطنتو له خصو صیاتو څخه چه د آریانا په جگړو او هسکو کوهستانو کښې جوړ شوی دی که د اسلام نه پخوا دی او که وروسته دادی چه دسلطنتی بنسټ (مبانیو) د ټینگیدو او مستحکمید و او د قوا ؤ د جمع کیدو او نه وروسته دهند خواته متوجه شول او په ملک نیولو ئې لاس پورې کړ . هغو کسانو چه یوائې په فتح کولو او د آریانا په خاورې پورې د ځینو هندی ځمکو په ترلو باندی اکتفا کړې ده او خپل مملکت ته ئې راغلی دی هم ئې له خپلو مفتوحه او نیولو ځمکو څخه گټه او استفاده کړی او هم په خپل مملکت کښې آرام او هوسا پاتې شوی دی ،

ددې په عکس هغو زړو کسانو چه هندلی فتح کړل او په هغه ځای کښې پاتې شول نو کړار کړار او په تدریج سره دځپل حکومت دتقل مرکز ئې دآریانا له لویدیځو برخو څخه دهند اوارو جلګوته یوړه. او څه موده لا نه وه تیره شوې چه میخ په ضعیفیدو روان شول او له غرنیو ځایو (کوهستانونو) څخه نوی ملا تړ ورته نه رسیده او دوی ئې لیری کړل لویو کوشانیانو تر هغه وخته پورې پوری او مقتدر سلطنت دلود چه په آریانا کښې ئې پاچائي کوله او یا دهند دځینو برخو دنیولو نه وروسته ئې هم خپل مرکز له کاپیسا او پوروشاپورا (پېښور) څخه دهندوس هغې خوا شرقي برخو ته نقل کړی نه وُ چه دروم او چین امپراطوریو دهغه دوستۍ ته اړتیا او احتیاج درلود په دغه وخت کښې لویو کوشانی پادشاهانو هم له خپل مملکت آریانا څخه او هم دهند وچین او د روم دامپراطوریو تر منځ دهغه جغرافیائي موقعیت له مساعدت څخه او هم په هند او چینې ترکستان کښې دخپلو نیولو منطقو او متصرفاتو څخه استفاده کوله شوه یعنې په داسې مرکز کښې ناست وُ چه په شاوخوا منطقو او په سرحدونو په هغې خوا متصرفاتو باندې ئې حاکمیت درلود. وروسته تر دې چه د (ویما کدفیزس) سره د هند د فتوحاتو لپاره دکوشانی پادشاهانو دپاره پرانستل شوه او دنفوذ لمنئې دګنګا تر سوا حلو پورې ورسیدله (لوی کنیشکا) او (هوویشکا) دکوشان دوه مقتدر پادشاهان پیدا شوه دې چه دضعف سره مخامخ ئې له خپلو متصرفاتو څخه مستفیدونل د (واسودوا) په زمانه کښې کوشانیان دهند خاورې ته دپر متوجه شول او ددوی عرف او عادات او د رمدني او اداري مراسم هندي شول، او دآریانا اصلي خاوره خالي پاتې شوه، او دو ونو ور و علتونو چه و مرویل دخپل تاثیر دپاره زمینه پیداکړه.

دساساني سلطنت پیداکیدل : وروسته تر دې چه ددوهمې مسیحی پیړۍ په آخرو وختو کښې د بلخې ارساسیانو دکورنۍ قراوې دفار س په برخو کښې مخ پ ضعیفیدو وې په دغه ځای کښې ملوك‌الطوائفي پیدا شوه او تقریباً په هر ښار کښې یو پاچا پیدا شو چه په تراو کښې مشهور ئې د (زرنجي Bazrangi) له کورنۍ څخه (ګوتشیر Goher) وُ چه د (پرسیس) دپادشاهانو دپخوانې پای تخت (استخر) په ښار کښې ئې سلطنت کاو.

ACKU

ساسانیانو هم ورپسې چه دیوې مخورې او معتبرې کورنۍ ځخه و او د بزرنجي د کورنۍ ځخه یې دیوې ښځې سره ازدواج کړی و، په استخر کښې د (اناهیدا) یا (اناهیتا) د معبد مجاور و د ده زوی (پابغ pabagh) چه د خپل پلار نه وروسته د دغه معبد په ساتنه مامور شو د تېړاوي له رو ابطو نه چه د بزرنجي د کورنۍ سره یې درلود ډېره استفاده وکړه او د خپل مشر زوی (اردشیر) د پاره یې د (دراب گرد) په ښار کښې د (ارگبد Argubad) لوړه عسکري وظیفه ونیوه، له دې ورکنه چه قوای د دوی په لاس ور اغلی (پابغ) د (گوت شیر) په مقابل کښې پورته شو او غوښتل یې چه خپل کشر زوی شاه پور د (پرسید) دو لایت پاچا کړي، مګر (ادوان) با پنځم اربتان د ارساسي کورنۍ ورروستي پاچا هغوی باغیان وبلل، تر دې چه پابغ مړ شو او ځای یې شاه پور ونیو، او د دوو ورو نو ترمنځ د رقابتونو نه ورسته شاه پور هم په ناڅاپي مرګ مړ شو (۱) ار اردشیر خپل وضعیت ټینګ کړ، ادوان یا ارتبان دار دشیر په ضد دولایاتو خوتنه پادشاهان تحریک کړل، په آخره کښې یې خپله ده دهغه سره صلح وکړه مګر نتیجې ته و نه رسید له او د ۲۲٤ مسیحي کال د اوریل په ۲۸ نیټه یې د (ستیز فون) ښار ونیو، او ساساني کورنۍ یې منځ ته راوسته. او تر ۲٤١ مسیحي پورې یې سلطنت وکړ، دمخه وو ویل چه د (واسودوا) د سلطنت په وخت کښې کوشانیانو زیاتره د هند خاورې ته توجه وکړه او آریانائي د هغوی له مستقیم نفوذ نه ایستلي وه (واسودوا) د ۲۲۰ مسیحي کال په شاوخوا کښې وفات شو، اوار دشیر په ۲۲٤ کښې په فارس کښې د ساساني سلطنت په جوړولو پیل وکړ، له دغو دوو تاریخونه پوره معلومیږي چه د لویو کوشانیانو انحطاط او د ساساني سلطنت جوړیدل سره نږدې او معاصر هم وو، او طبعاً د ساسانیانو مقتدر کیدل د کوشاني دولت په انحطاط کښې بې تاثیره نه وو، او له همدې جهته ځینې کوچني کوشانیان او د آریانا د خاورې ځینې برخې د غرب بې سرحداتو په غاړو کښې او حتی د ننه د مملکت ځینې برخې کابل ته تر نږدې شاوخوا وو پورې د هغوی تر نفوذ او ځینې وختونه د هغوی تر تیول لاندې راغلي دي.

د مرکزي آسیا مغلي قومونه: د افغانستان تاریخ د هغې یوې سلسلې قومونو د مهاجرت

---

(۱) دو دانزوله دیرالو ځخه یو ناڅاپه د ده په سر باندې ټیږه راولویدله او مړ شو.

له مخې چه د قبل التاریخ له دوره څخه د چنګیز د چپاو و نو تر وخته پورې زموږ مملکت ته راغلي دي، د مرکزي آسیا سره یو د رول علاقه لري چه حد په حد زموږ توجه جلبوي، او د افغانستان د تاریخ لیکونکي مجبور دي چه وخت په وخت د مقصد د واضح کولو دپاره هغې خواته متوجه شي:

د توران سره د آریانا متقابلې یا آریاني او توراني مجادلې زموږ د مملکت د تاریخ زړې او پخوانۍ پاڼې ګړ لې (کشمکشونه) دي چه بیان ئې په لومړنیو او پخوانیو فصلونو په تیره بیا د اوستائي مدنیت په فصل کښې راغلی دی: له دې جهته څرنګه چه د یونانو باختري مستقل پادشاهان د اسکائیانو او د تخاري څانګو د رانګک له کبله او او دغه وروسته ذکر شوې څانګه د سیتي د بلې څانګې (یوچیانو) د ظهور په واسطه بې ځایه شوه، لوی کوشانیان هم په هغه زمانه کښې چه خپل د ثقل مرکز ئې د هند د خاورو خواته واېست د کوچي قومونو په تیره بیا د ژوانیانو له خوا تهدیدېدل، او د هغوی د عظمت د سقوط په علتو کښې یو علت لکه چه د مخه وویل شو ل هم دغه د ژوانیانو ژوایانو تهدیدو چه په دریمه مسیحي پیړۍ کښې د آموسیند له هغې خوانه څس کیده او ذ ۳۵۰ مسیحي کال په شاؤ خوا کښې ئې لوی کوشانیان له پښا خه نه بې ځایه کړل .

د لوېو کوشانیانو د سقوط څرنګوالی: په هغو علتو سره چه بیان شو کړل د لویو کوشانیانو دولت د دریمې مسیحي پیړۍ په اولو وختو کښې مخ په سقوط شو او (واسو دوا) هغه څوک دی چه معمولاً هغه د دې سلسلې وروستی پاچا ګڼي .

کرم شي چه پدې ځای کښې مهم او بیان وړ ری د کوشان د لوېې کورنۍ د سقوط څرنګوالی او د هغه وضعیت تفصیل دی چه دا پر اوړي په قلمرو کښې پیدا کېږي که څه هم څرنګه چه وویل شول د لوېو کوشانیانو د دورې سقوط دېر او لوی علتونه لري مګر د هغه سقوط د یوې سلطنتي کورنۍ د منقرض کیدو او یا د یوې کورنۍ د دور وروستي پاچا د زوال کیدلو او د داسې نورو ناځاپي عوارضو او پېښو په شان یو څل منځ ته نه دی راغلی په بل عبارت د غه سقوط یو معنوي سقوط دی چه زیاتره د کوشانیانو په عظمت او جلال پورې اړه لري او که داسې نه وي نو دا رلا دی، نسل، عرق او وینې د دوام له نقطې نظره څخه

څو نورې پېړۍ یې نور دوام کړی چه تاریخ تر یوې اندازې پورې هغوی (د وړوکو کوشانیانو او کیداریانو) په نامه یادوی او وروسته تر دې چه یفتلیانو او د (توکیو) عناصر یعني غربي ترکان د هندوکش په شمال کې خپاره شول، د کوشاني وینه په زیاته اندازه په هغوی کښې داخله شوه او په همدغه جهت کوشانو یفتلي عنصر د اسلام د مقدس دین د پیدا کیدو او د عربو د فتوحاتو تر زمانې پورې سلطنتونه کړیدي او تر څو پېړیو پورې د دغه مملکت پادشاهان خپل اسلاف او پې کنیشکانه منسوبوي په هر حال دا چه په دغه فصل موضوع زیاتې د کوچنیو کوشانیانو یا کیداریانو په شاوخوا کښې بحث دی، نور مطالب راتلونکو فصلونو ته پرېږدو، کوشانیانو څرنګه چه په ابتداء خپل کښې د یو ډول ملوک الطوائفۍ سلطنت درلود او پنځو تنو شهزادګانو به پنځو بېلو بېلو سیمو کښې سلطنت کاوه او له دغو پنځو تنو څخه یو تن څاوند نورو شهزادګان د خان تابع کړل او یو سلطنت ئې جوړ کړ او د جلال او عظمت د دورې له ختمیدو نه وروسته هم د هغوی امپراطورۍ د ملوک الطوائفۍ شکل پیدا کړ، د آریانا په خاوره کښې د هغوی د امپراطورۍ داصلي برخې د (واسودوا) د وفات نه وروسته دوه مهم کسانو نه او مرکزونه درلودل یو په باختر او بل د کابل په دره کښې چه په هغو کښې به هغه تفصیل چه راځي کیداریکورنۍ سلطنت کاوه.

د هند په خاوره کښې د کوشانانو د امپراطورۍ د نیولې برخه هم طبعاً د (واسودوا) د وفات نه وروسته د هرج و مرج سره مخامخ شوه، تر یو وخته پورې د کوشاني نائب الحکومه ګانو په بېلو بېلو عنوانو خپل حکومتونه دوام ورکړ، وروسته تر هغه د هند و با (بهارا شیوا Eharasiva) کورنۍ موفقه شوه، چه د کوچنیو او جلا حکومتونو په ځای د ګنګا په غاړه نسبتاً لوی او مقتدر سلطنتونه جوړ کړي: (اندرا Andhra) او د (سوراشترا Surashtra) سلطنتونه هم د هغو حکومتو له جملې څخه دي چه د (کتیاوار Kathiawar) د شبه جزیرې او د دکن د نورو جلګو څخه د کوشاني نائب الحکومه ګانو د نفوذ د لیرې کیدو نه وروسته مېدان ته راوتلي دي او د ګوپتا د سلطنت تر پیدا کیدو پورې ئې دوام کړی دی او هر کله چه جزئیات ئې د هند په خاورې پورې مربوط دي نو صرف نظر ورځنې وشو.

کیداریان: د مخه وویل شول چه په (واسودوا) سره د لویو کوشانیانو دوره پای ته رسیدلې

او د هغه نه وروسته یو بل سړی چه کیدارا نومید له هماغی کوشانی اولادی څخه په باختر
کښی سلطنت ته ورسید که څه هم معمولاً د واسودوا وفات او مرګ د لویو او وړو
کوشانیانو د دورو ترمنځ یو حد دی خو سره د دی څینی پوهان کیدارا هم د لویو کوشانیانو
د پادشاهانو له جملی څخه بولی، په بله ژبه کیدارا د لویو کوشانیانو وروستی پاچا او د کوچنیو
کوشانیانو د کورنۍ او مړی مؤسس دی، او هر کله چه د کیدارا په نامه څه ناڅه دوه
تنه او د ده له اولادی څخه خو تنه سلطنت ته رسیدلی دی نو د هغوی سلطنتی کورنۍ
ته (کیداریان) وائی او د هغوی د مربوطو واقعاتو او حال بیان چه ډېر تیاره او
د مسکوکاتو په کتنی او د څینو خارجی لیکوالو په بیان پوری منحصر دی د دغه فصل د مطالعاتو
موضوع ده.

**کوچنی کوشانیان او چینی منابع**: چینی منابع په خو ځایو کښی په تیره بیا د یوچیانو
یعنی د کوشانیانو په برخه کښی لوی دی او که واړه یعنی د لویو او وړو کوشانیانو په باب
کښی څینی معلومات ورکوی، که څه هم دغه معلومات مفصل او مسلسل ندی او عموماً
سنه او تاریخ نه لری، او د دغو ځایو او محلاتو جغرافیائی نومونه او د چینی ژبی د لیکنی
او تحریر صورت نی تیاره او مبهم کړی دی. خو سره د دی له فائدی نه خالی ندی او
د مسئلی په اساسی خطوطو ښه رڼا اچوی. هغه مهمه چینی منبع چه د لویو او کوچنیو
کوشانیانو څخه بحث کوی د (وی wei) د شاهی کورنۍ سالنامی دی چه هغوته (وی
شو wei - shu) وائی او د (۳۸۶-۵۵۶ ب م) ترمنځ کلونو پیښی پکښی بیان شوی دی چه
خو تنو په اروپائی ژبو ترجمه کړی دی چه یوه ئی د فرانسوی SpeCht ترجمه ده د دغو
کالیزو (سالنامو) او د پخوانیو سالنامو یوه برخه د (۱۳ ب م پیړی) د (ماتوان لن
Ma-touanlin) په دائرة المعارف کښی هم راغلی ده چه د هغی نه یوه برخه (ریموزات
Remusat) او (ژولین Julien) ترجمه کړی ده، او د محلاتو نومونه (مارکوارت
Marquart) ټاکلی دی. (۱)

(۱) هغه شی چه پدی ځای کښی بیا نیږی د (مارتن M.F,C.Martin) د مقالی له
مخی دی چه د بنګال د رایل ایشیاټیک سوسایټی آف د مجلی د دوهم نمبر په دریم جلد کښی
خپره شوی ده.

د(وی شیو) یوه برخه چه په هغی کښی د لویو کوشانیانو او د(ژوان ژوانیانو) تهدید او دنورو بیان شوی دی په دغه ډول ده (دتایوچی دسلطنت پای تخت د( لو-کین- شی Lou-Kien-Chi) ښار دی چه د(فو-تی- شاه Fo-tic-hah) لمرپریوانه خواته د (تای Tai) څخه ۵۰۰ ، ۴ لی په فاصله پروت دی ، تایوچی د شمال له خوا د (ژوان ژوانیانو) تر تهدید لاندی راغی او خوواری هغوی ورباندی چپاو و نه او برغلونه وکړل له دی کبله ئی دغرب خواته تر یوچی یوری مهاجرت وکړاو د( پو-لو Po-lo) په ښار کښی چه د (فو-تی-شا) نه ( ۲۱۰۰ لی ) فاصله لری.

پریوتل هرکله چه دهغوی باچا(کی-تو-لو Ki-to-lo) یو رشید او جنگیالی شهزاده ؤ لښکرئی برابر کړ او دلویو غرونو د جنوب خواته راغی ، دهند په شمال ئی چپاو وکړ او په هغه ځای کښی د(کان-تو-لو) پنځه شمالی سلطنتونه دده تابع شول :

دنوموړو تشریح .تایوچی. : : . : . لوی کوشانیان.

لو-کین شی Lou-Kien-Chi : : . باخ .

فو-تی-شاFoatichah . :..بامیان .

تی Tai په شمالی سانشی کښی دوی wei دشاهی کورنی پای تخت :

ژوان-ژوان:...: دمرکزی آسیاله قومو څخه یوه قبیله ده.

پولو po-lo ....دا کسوس دپخوانی مجری په شمال کښی بلکان.

کی-تو-لو Ki-to-lo کیدارا ، دده د نوم صحیح صورت د ده د مسکوکاتو په برهمی رسم الخط کښی لیدل کیږی :

لوی غر. : . دهندوکش دغر سلسله.

کن-تو-لو—Kan-Tho-lo. : : : .گندهارا. دکابل دره او پېښور:

دغه مضمون په هغه صورت کښی چه دچینی نومونو په عوض کښی دهغه ترجمه راوړل شونو داسی کیږی ، (دلویو کوشانیانو دسلطنت پای تخت دبلخ ښار دی چه دبامیانو لمر لویدیزی خواته پروت دی(۱) او د( وی) د شاهی کورنی له پای تخت نه چه په

---

(۱) که څه هم بلخ دبامیانو د شمال غرب خواته پروت دی ،

شمالي سانشي کښې دی ۵۰۰ر۱۴ ـــ لي فاصله لري. لوی کوشانیان د شمال له خوا نه د مرکزي آسیا د یو ي قبیلې ( ژوان ژوانیانو ) تر تهدید لاندی راغلل : او ځو واري هغوی ور باندی یرغلونه او چپاو و نه وکړل . له دې کبله لویو کوشانیانو لهر لوید یزی خوا نه مهاجرت وکړ او د ( پلکان ) په ښار کښې یې یو تل چه له بامیانو نه ۱۰۰ ۲ لي فاصله لري ، هر کله چه د دوی پاچا ( کیدارا ) چه یو ر شید او جنګیالی شهزاده و ، لښکر برابر کړ او د ځان سره یې واخست او د هندوکش د جنوب خوا ته راغی او د هند په شمال یې یرغل او هجوم ور وور ، او په هغه ځای کښې یې د ګندهارا پنځه شمالی سلطنتونه د ده تابع شول . )

په دغو پاسنو ځو کرښو کې چینې منابع یوه سلسله مهمې پېښې بیانوي مګر د هېڅ یوی دپاره تاریخ او سنه نه ټاکي ، له دې کبله د دغه مقصد د پاره ( ما توان لن ) ته مراجعه کوو :

د ( ما ـ توان ـ لن ) دائرة المعارف چه په ۱۳ مسیحي پېړۍ کښې لیکل شوې دی دلویو کوشانیانو عمومي تاریخ راوړی او لیکي چه : ( وروسته تر دې چه کوشانیانو د ( ویما کید فیزس ) په زمانه کښې د هند شمالي ځمکې ونیولې ( د ۹۰م شا وخوا کښې ) نو قوي او غښتلي شول ، په همدغه وضعیت ( یعني قوت او غښتلتوب ) د ( هان ) د شاهي دوهمې کورنۍ تر زماني پورې ( ۲۶۳ ـ ۲۲۱ مسیحي ) باقي شول . په دغه وخت کښې د شمال له خوا د ژوان ژوان تر تهدید لاندې راغلل او څو واری یې ور باندې حملې وکړې : چینی سالنامې په هند باندې د کیدارا د حملې نه وروسته د لویو کوشانیانو له تاریخه نور څه نه وائي . او س ګورو چه د کوچنیو کوشانیانو په باب کښې څه معلومات لري : د بنګال د آسیائي شاهي انجمن د مجلې د ۱۹۳۷ کال . دوهم نمبر ، دریم جلد له ۲۵ مخ نه اقتباس (۱) د کوچنیو چیانو ( د کوچنیو کوشانیانو ) پای تخت د « فو ـ لو ـ شا Fou-leau-cha ښار ( پېښور ) دی . پاچائي د ( کي ـ تو ـ لو ) زوی دی ، د ده پلار هغه وخت دغه زوی په دغه ښار کښې په دغه عهده مامور کړ چه پخپله د ژوان ژوان یا نورد حملې

---

(۱) مارتن د دغې مجلې د مقالي خاوند د غه مطالب له « ما ـ توا ن ـ لن » نه د ریموزات Ramusat د ترجمې له مخې اخستي دي :

AGKU

له کبله مجبور شو چه لمرلویدیزې خواته لاړ شی )

له وی شیو Wei-Shu څخه د Spechts ترجمی له مخی اقتباس : هرکله چه کیدارا د هیوانگ نو بانو له خوا تعقیب کیده نو ځان ئی د غرب خواته وایست او خپل زوی ته ئې امرو کړ چه د فو - لو - شا په ښار کښی ځان ټینګ کړی. له دی کبله دغو خلکو ته ( کوچنی یوچیان ) وائی :

تبصره : باید وویل شی چه د ( وی شیو ) په متن کښی د ( سپخت ) په ترجمه ( هیوانگ نو ) مترجم په ( ما - توان - لن ) کښی د ( ژوان ژوان ) نوم یاد شوی دی.

په دغو یاد داشتو سربیره چینی منابع دکوچنیو کوشانیانو د تاریخ په باب کښی نور معلومات نه ورکوی یوازی د هندوی دمملکت د تعریف او بیان په موقع کښی د وهره وائی چه د ( وی Wei ) ددوهمی سلطنتی کورنی د سلطنت په زمانه کښی د ( تی وان Tai-Vau ) د پاد شاهی په عصر کښی ( ۴۰۹ - ۳۹۸ مسیحی ) د هندو سوداګرو درانګ په اثر چه له هغه ځای نه چین ته تلل د ښیښی جوړولو په صنعت کښی ډیره ترقی د چین په نصیب شوه له دغه شهادت نه دغه مقصد په لاس راځی چه په ګندهارا کښی دکوچنیو کوشانیانو دکورنی رهیشت کیدل او ځای په ځای کیدل باید د ۴۰۹ مسیحی نه پخوا شوی وی.

له دغه چینی منابعو نه چه بیان ئی وشو دکوچنیو کوشانیانو او د هندوی د تاریخی چوکاټ په باب کښی دغه اساس په لاس راځی : د ۲۲۱ م او ۴۰۹ م ترمنځ زمانه کښی ژوان ژوانیانو د لویو کوشانیانو څخه یوه څانګه له باختر نه وایستله او دوو طرفونو ته خپره او تیت و پرک شوه .

الف : لمرلویدیزې خواته د ساسانی امپراطورۍ د شمالی سرحدو په اوږدو کښی د خزر د بحیرې خواته .

ب : د هندوکش دیوی خوکی جنوبی خواته په کاپیسا او ګندهارا کښی له چینی منابعو نه داسی معلومیږی چه د جنوبی څانګی مشراو سرکرده ( کیدارا ) وو چه ( ؟ ) باختر نه راووت او دکابل او ګندهارا دره ئی ونیوله او د هندوکش په جنوبی برخو کښی ئی تر پښو لاندې ره او دغه نه هغی خوا برخو پورې سلطنت تشکیل کړی دی څه موده

و روسته (کیدارا) نومی چه بیا لوړی ذکر شوی کیدارا نه د مسکوکاتو په تالیف په دغه نامه یل پاچاهی د مرکزی آسیا دځینو قبیلو له خوا چه چینیان د هغو د هویت په تعین متیقن ندی بیا فشار حس کړ او خپل زوی ئی په پېښور کښې پر پېښور او پخپله لمر لوید یزو منطقو یعنی د کابل علاقی ته حاضر شو چه ددی خبری بندوبست وکړی چه متهاجمین د هندوکش له غرونو نه را تیر نشی.

په هر حال د چینی منابعو د شهادت نتیجه اعلا په هند شمالی کښی پر ژدو نور وهلی په واو ذر العو ته مراجعه کوو:

دباختر د حکمرانانو د کوشانو ساسانی مسکوکات: د ساسانیانو د پیدا کیدو او ظهور مسئله او داو یړ کوشانیانو د عظمت په سقوط کښی ددغی مملکتی داخله دمخه بیا ن شوه په هغه زمانه کښی چه کوشانیان دانحطاط په حالت کښی روان او ساسانیانو په مستقیم او غیر مستقیم دول د شرقی آریانا د ځینو برخو حتی د باختر په چارو کښی مداخله وکړه پو هغه زمانه ئی دم د لویو کوشانیانو امضعف او دنورو مداخلو واملو ته استفاده وکړه او دغه برخه ئی زولی هم وه.

د مرو او باختر منطقو ساسانی نائب السلطنه گانو او دولایاتو نورو حکمرانانو ځینی سکی ضرب کړی دی چه دغو مدققینو هغه په (کوشانو ساسانی) نوم یادی کړی دی. ددغو مسکوکاتو کتنی او مطالعی دکوشانیانو په باب کښی زمونږ معلومات له هغی اندازی نه زیات کړی دی چه چینیانو ورکړی دی او په ځینو ځایو کښی ډیر دقیق جزئیات ورکوی: پروفیسر (هرزفلد) دغه ډول مسکوکات په دوو برخو ویشلی دی لومړی د ساسانی شاهی کورنی د شهزادگانو مسکوکات دی چه د بلخ او مرو د نائب السلطنه په عنوان ئی سکه وهلی ده.

او د (کوشان د پادشاهانو پاچا) عنوان ئی د ځان د پاره ټاکلی دی. دوهم ډله مسکوکات دی چه د ولایاتو د حکمرانانو له خوا په راوروسته زمانه کښی ضرب شوی او د ځان د پاره ئی د (کوشان پاچا) عنوان خوښ کړی دی دمخه د چینی منابعو له مخی وویل شول چه لوی کوشانیان د رژوان ژوانیانو) له خوا د باختر نه وایستل شول (مارتن) وائی چه د باختر نه دکوشانیانو تلل ددوی د مسکو د نری لگښت ضربید ود زمانی نه پخوا ندی شوی،

او د (ژوانژوان) د حملې نه وروسته ډېر احتمال لري چې د باختر نه د ساسانیانو د حاکمیت نفوذ لرې شوی دی؛

لکه چې پخپله د ساسانیانو تاریخ هم تر یو حده پورې په دغو مشکلاتو اقرار کوي.

«هرزفلد» د دغو مسئلو په باب کښې پخپلو کتنو او مطالعاتو کښې ایلي چې:

لومړی تړلګی سکو د ۲۳۰ نه د ۲۸٤ مسیحي کال تر شاوخوا پورې دوام درلود هغه وخت چې ساسانیانو سکستان (سیستان) و نیو د نیابت السلطنت مرکز ئې دغه ولایت ته ولېږداوه.

او دوهم تړلګی مسکوکات له دغه تاریخ نه د دوهم شاپور د سلطنت د دورې تر کومه کال پورې (۲۷ـ ۳۰۹ ب م) دوام کړی دی:

امیانوس مارسیانوس Ammianus Marcellinus وائي چې د دوهم شاپور تقریبا د ۳۵۰ او د ۳۵۸ مسیحي کالو تر منځ د شرقي سرحدو په جنګونو کښې مصروف او بوخت و، او کوشانیان د ده د مخالفینو په جمله کښې یاد شوي دي (هرزفلد) دا هم وائي چې د کوشانو ساساني سکو ضرب بېلو د دغو جنګو تر آخره پورې دوام کړی دی. (مارتن) ۳۵۸ مسیحي کال چې د دوهم شاپور د شرقي جنګونو ختمېدل پکښې شوی دی له باختر نه د کوشانیانو د تللو کال بولي چې د (کیدارا) د سلطنت په دوره کښې دغه کار شوی دی (۱)

په مسکوکاتو کښې د پاچا د صورت د سمت معنی: سکه پېژندونکو په دقیقو کتنو او

مطالعاتو سره څرګنده کړې ده چې په مسکوکاتو کښې د پاچا د صورت د نمایش په تیره بیا د هغه د کتنې (نګاه) د سمت څرګندوالی خاصه معنی لري او هغه شی چې په دغې دورې پورې اړه لري داسې شی دی چې اصل ئې باید د اشکاني یا ارساسي کورنۍ د پادشاهانو د زمانې په عادتونو کښې و ګورو.

(۱) موسیو کرل په ۱۹۳۳ کال کښې د مرنجان له غونډۍ څخه د دوهم شاپور ۳۸٤ سکې او د دوهم اردشیر ۲٤ سکې او د دریم شاپور ۱۱ سکې موندلي دي:

ACKU

پروفیسر هرزفلد لیکی چه (۱) (په کینه خو ا دمخ بنودنه او نما یش په اول ارساس او په نولو مربوط شهزاده گانو پوری مخصوص وو چه د میراث دلاری ئی دسکې دضرب لوحق در لو داو دهغوی مربوطی حصکی دامپراطوری جز لا یتجزی وی، په بنی طرف باندی دمخ نمایش داستقلال دحاصلولو نښه وه ، او د غه ډ غه گا روو چه ساسانیانو داشکانیانو دجغ دلیری کولو نه وروسته عملی کړ .)

«هرزفلد» دغه هم وائی چه دار ساسی کورنی مخالفینو داول ار دشیر تر زما نې پوری او پخپله ار دشیر دپنځم ارتبانو سره د ده د مخالفت په زمانه کښی مخ پامقابل سکې ضرب کړی دی ددغه پروفیسر د لیکنو څخه داسی معلو میږی چه ساسانیانو دغه رویه تعقیب کړی ده او پادشاهانو ئی چه دتیول خاوندان هم وو، مخ بنی خواته سکه ضربوله، دتیول خا وند انو شهزا د گا نو هم د هغوی تعقیب وکړ ، او هغو کسا نو چه د مخالفت د لاری به مخکښی رانلل او یائی استقلال حاصلاوه خپل صورت به ئی مخ په مقابل یا مخ کینې خواته ضر باوه .

که چیری دکیداری کورنی مسکوکات ددغو کتنوا و تحقیقا تو سره تطبیق کړو نو دغه لاندی نظر یې ور ځنی په لاس راځی او داسې معلومیږی چه (کیدارا) په اولو وختو کښی لهساسانیانو څخه دتیول خاوندو او وروسته بیا مستقل شو ، د(پیرو piro) پهو ٠ت کښی چه معمو لادی د(کیدارا) زوی او په گندهارا کښی دهغه جا نشین بولی ساسانیانو دوهم ځل بیاخپل تیول په هغه باندی کښینا و ، ځکه چه ده اود (ورهران Waruharan) جانشین یابهرام دوار و په مسکو کاتو باندی خپل صورتو نه مخ بنی خوانه ضرب کړی دی . هر کله چه دمسکو کانو ایکنو هم له بر هنی څخه په پهلوی د ( پیرو ) په زمانه کښی تغیر کړی دی . دغه هم پاسنی نظر یه تقویه کوی او په گند هارا کښی دساسانیا نو په نفوذ با ندی شهادت ور کوی :

دچینی منابعو او دمسکو کاتو دشهادت له مخی معلو میږی چه ( کید ارا ) د ځلور می

---

(۱) د ۱۹۲۰ کال دکلکتی د۳۸ نمبر ي کوشانی او ساسانی مسکوکاتو یادداشتو نو ته دی مراجعه وشی :

Memoiron Koshano Sassanian Coinslby·professor Ernost Herzfeld

مسیحي پېړۍ په پېنیمائي کښې داوی شهرت څښتن ؤ ، سر بېره په دې مسکوکات شهادت ورکوي چه ده په یوه زمانه کې ساساني دوهم شاهپور ته باج ورکاوه ، ور وسته تر هغه ئې خپل استقلال او خپلواکي په لاس راوړه او په دغو پېښو آوازه او دهغو صحت دځینو معاصرو مؤرخینو دلیکنو او دهغې کتیبې له مخې و اضح کېږي چه پروفیسر (هرزفلد) په پرسه پولیس کښې کشف کړې ده . په دغه لحاظ دمؤ رخینو له نقطې نظره څخه دغه موضوع لاندې تر کتنې لاندې نیسو او تر غور او څېړنې لاندې ئې راوړو :

° • °

دامیانوس مارسلي نوس د څلورمې پېړۍ د حالاتو ته د مؤرخینو ځینې اشارې :

امیانوس مارسلي نوس ( Ammianus Marcellinus ) د روم د عسکرو یو منصبدار ؤ چه دما وراء النهر په څمکو کښې د دوهم ساساني شاهپور په ضد (۳۰۹-۳۸۰ ب م) جنګېده وائي چه دغه باچا د ۳۵۰ او ۳۸۵ مسیحي کالو تر منځ د شرقي سرحداتو د قبائلو په جنګونو کښې بوخت ؤ چه مهمې او مقتدرې قبیلې ئې خیو نییان Ghionitae او ایوزنییان Euseni وو . د دغو تحقیقاتو له مخې چه د دغو قبیلو په باب کښې ئې کړې دي ایکي چه : په اصل مضمون کښې اشتباه شوې ده او (ایوزني) په اصل کښې (کوزني Chseni) ؤ چه مقصود ترې دکوشانیانو دی همدغه رنګه خیو نییان (۱) هم دکوچنیو کوشانیانو قبیله ده چه دکابل په شاؤ خوا کښې اوسیدل او مشهور سردار ئې (ګرومباتس Crumbates) نومیده دوهم شاهپور په ۳۵۸ کښې زموږ د مملکت د قبائلو سره صلح وکړه او د روم سره ئې جګړه شروع کړه . په ۳۵۹ کښې ئې په بین النهرین حمله وروړه او د رومیانو جنګي کلا ( امیدا Amida ) ئې چه د (دیاربکر) نه مقصد دی کلا بنده کړه ، او په دغه محاصره ، او کلا بندۍ کښې دده دخوا نیوه بېمنانو یو دله او ټولنه یعنې کوزنییان یا کوشانیان دخپل سردار ( ګرومباتس ) په مشرۍ د رومیانو په جنګ او د (امیدا) دکلا په محاصره کښې دهغه سره یو ځای او شریک وو . که څه هم د (امیانوس مارسلي نوس) دمتن همدغه برخه دېره خرابه

(۱) خیو نی دکوچنیو کوشانیانو او یفتلیانو نه مقصد دی .

ACKU

شوی ده بیاهم په هغو مطالعاتو سره چه (مارکوارت Marquart) په ایرانشهر ۳۶مخ پنځمه نوټ کښی کړی دی (کوزنی) یا کوشانی بللی او دهغوی د عسکرو ټولگی دکلا ددیوالونه دباندی محاصره شوی ښکاره کوی (۱)

دپرسه پولیس لیکنه: پروفیسر هرزفلد په پرسه پولیس کښی یوه لیکنه موندلې ده چه د دوهم شاپور د سلطنت ۴۷ کال سنه وربانـدی لیکل شوې ده چه د ۳۵۶ مسیحی سنې سره برابره او موافقه ده: دغه کتیبه د کابل داوی قاضی (سلوك) نامی لهخوا لیکل شوې ده او په هغې کښی دعا کوی چه شاپور په سلامتی سره کابل ته بیرته راشی. که چیری ددغی لیکنی متن د (امیانوس مارسالی نوس) دوینا سره چه وائی «دوهم شاپور د ۵۷ - ۳۵۶ کال ژمی پخپلو سرحدی لری ځا یو کښی دخیونیانو او ایوزنیانو دځمکی په غاړو کښی تیر کړی دی) تطبیق شی داسی معلومیږی چه دشاپور او دکابل دکوشانیانو ترمنځ جگړه په ۳۵۶ م کال کښی بولی؛ او کابل په دغه وخت کښی ددوهم شاپور په لاس کښی وؤ. او له دغه ځای نه دگندهارا، جلال آباد، هډې، او پېښور او دنورو په ضد چه دکیدارا په قبضه کښی و وجنگیده (۲) له دغه ځای نه ښه معلومیږی چه دکابل - کاپیسا - کندهار اعلاقې د ۳۵۶ مسیحی کال نه پخوا د (کیداری) کوزنیو په لاس ورغلی وی:

سرجان مارشال د دوهم شاپور څو سکې په ټاکزیلا کښی موندلی دی چه په اصل کښی دمرو په ښار کښی ضرب شوی دی. د (مارتن) دنظریې له مخې دغو مسکوکاتو دکوچنیو کوشانیانو په زمانه کښی په باختر کښی هم رواج درلود او په هند باندی دهغوی دهجوم سره دسند په حوزه کښی خپرې شوی دی په څینو نورو مسکوکاتو کښی چه پروفیسر (هرزفلد) ئی خیونیانو ته منسوبوی یو ډلی نیم تنه تصویر مخ ښی خواته ښکاره کوی چه ددوهم شاپور خولی ډنی په سر کړې ده او د (ورهران Varahran پنځم (بهرام)

(۱) - له دغه کوشانی نه مقصد کوچنی کیداری کوشانیان دی؛

(۲) بایددغه وویل شی چه په ۱۹۳۳ کال کښی دمرنجان له غونډی نه د دوهم شاپور دسپینو زرو (۳۴۸) سکې موندل شوې دی.

ACKU

دمسکوکانو سره چې په مروکښې ضرب شوي دي، ډېر شباهت لري. او احتمال لري چې پخپله دغه هم په مروکښې ضرب شوي وي. هر کله چې دسکې دصورت سمت ښکاره کوي چې خيزنيانو ساسانيانو ته باج ورکاوه، پروفيسر (هرزفلد) هغوي د ٣٥٨ مسيحي کال دصلحې نه وروسته زماني ته منسوبوي - هر کله چې د (کيدارا) يو ډول سکه د (گندهارا) ضرب هم ددغو پاسنيو سکو سره مشابه ده نو (مارتن) دغه هم هغه عصر ته منسوبوي او نتيجه ورځني اخلي او وائي چې (ايوزني) يا (کوزني) چې (اميانوس) دروم جنرال يادکړي دي دوېږ کوشانيانو يوه څانگه وه: مشرئې (کيدارا) ؤ، او پر گندهارا باندې د هغوي پرغل اوتهاجم بايد د ٣٥٦ مسيحي کال نه پخوا شوي وي. دغه تهاجم ئې د بلخ نه دخزر دبحيرې خواته دځينو نورو قبيلو معاصر جنبشونه دد وهم شاپور دشرقي جنگونو مهم علت ؤ، او له دې جهته بايد په هند باندې دکيدارا د پرغل تاريخ د (٣٥٠ - ٣٤٨) په شا ؤخوا کښې او دوهم شاپور ته دهغه دتابعيت تاريخ د ٣٥٨ مسيحي کال په شا ؤخوا کښې وبلل شي:

فوستس بيزانتي Fauosstos Byzantum : يوارمني مؤرخ چې ده ته معمولا

---

(فوستس بيزانتي) وائي دتاريخ يو کتاب ليکلي دي چې د ٣٢٠ نه تر ٣٨٥ کال پورې واقعات پکښې نوشته شوي دي، او دهغو له مطالعې نه دافغانستان دتاريخي گذار شاتو په باب کښې تاريخي مطالب په لاس راځي دغه مؤرخ په پنځم کتاب او ووم او ٣٧ فصل کښې دهغو جنگونو په باب کښې بحث کوي چې دکوشانيانو او ساسانيانو ترمنځ د ٣٦٧ او ٣٦٨ مسيحي کلونو په شا ؤخوا کښې پېښ شوي دي. ددغه ارمني مؤرخ دليکنو نه داسې معلومېږي چې متهاجمين کوشانيان وو، او دوه واري ئې ساسانيانو ته سختې ماتې ورکړي دي په دغه تفصيل سره چې اول ځل ئې دهغوی لښکرې پېخي محو او تباه کړې، او دوهم ځل دوهم شاپور مجبور شو چې دجنگ له ميدان نه وتښتي (١) دمخه مو د مسکوکاتو دکتنې له مخې معلومه کړه (کيدارا) وروسته تر دې چې يوه دوره متابعت ئې د ساسانيانو وکړ مخالفت ته لاس ورته کړ او خپله خپلواکي ئې حاصله کړه، ارمني مؤرخ ښکاره

---

(١) دبنگال دشاهي آسياتي انجمن دژورنال د ١٩٣٧ کال د دوهم نمبرد دريم چاپ ٣٢ مخ:

ACKU

هغه تائيد وی ؛ او (مارتن) ددې مهمې پېښې تاریخ ٣٦٧ ـ ٣٦٨ مسيحي کال بولي ،
هغه بل شی چه ددغه تاریخ تائید کوی د ادی چه کننگهم دکید ارا دسکی ددوهمی
نمرې دتیپ په کيڼ مخ کښې ٢٣٩ سنه ښو دلی او هغه دکنیشکا په زمانی پوری
مربوطه گڼی ، که چېری دده و ینا رشتیاو صحیحه وی ، او د(استن کنو) په نظریه
دسلطنت په تخت باندی دکنیشکا جلوس په ١٢٨ یا ١٢٩ مسیحی کښې حقیقت ولری له
١٢٨ یا ١٢٩ نه سر بېره په ٢٣٩ باندی ٣٦٧ یا ٣٦٨ کال یعنی پوره هغه کال په لاس
راځی چه (مارتن) دساسانیانو له سلطې څخه د(کیدارا) دخپلواکۍ د حاصولو
دپاره ټاکلی دی :

نتیجې : د رومن او ازمنی او دنورو کلاسیکی مؤرخینو دشهادت ، دمسکوکاتو ،
او دچینی منابعو د مطالعې او کتنې څخه مقصد چه دمخه تر دې ئې تفصیلات تېر شول
دا ؤ چه دکوشنیو کوشانیانو ، او یادکیداریانو مسئله دبیلو بیلو ارخونو څخه وکتل شی
او وروسته بیـــاد ټولو کتنو له ترکیب څخه څو اساسی کرښې په لاس راوړو :

دا معلومه خبره ده چه د افغانستان په پخوانی تاریخ کښې د لویو کوشانیانو
له دورې څخه وروسته واقعات ډېر تیاره او مجهول شوی او په دې پسې او څلورمه
مسیحی پېړۍ کښې حالات ډېر گډ وډ او مشکل کېږی ، او ددې دورې تاریخ
دبل هر عصر نه زیات تجسس ، پلټنه ، تفحص او تحقیق غواړی چه دخبرې سر معلوم شی
او څوکرښې چه لیکل کېږی باید په دغه ډول وې چه حتی المقدور دحقیقت سره
موافقې وی : په هر حال هرکله چه تر اوسه پوری په داسې مسئلو کښې هغه هم په
مسلسل صورت لاس ته ندی ورغلی شوی داوسنیو منابعو او معلوماتو نه که څه هم لنډ او
مختصر دی استفاده کوو او د قدم اخلاو هیله لرو چه دهغو په تعقیب دنورو بښنائیو
په اثر نوی گامونه واخستل شی :

ژوان ژوان او له باختر نه دکوشانیانو ایستل : لکه چه د (وی wei) دشاهی کورنۍ

---

په کالیزه «سالنامه» (وی شیو) کښې ویل شوی دی او دخپلو کتنو او مطالعاتو په اول کښې
موږ دغې بحث وکړ داسې معلومېږی چه لوی کوشانیان دهندوکش په دواړو خواؤ کې
دخپل عظمت او جلال ددورې دطی کولو نه وروسته په خپل وارد مرکزی آسیا دیو ې

قبایلي له خوا چه ژوان زوانیانو ډېری ترتهدید لاندې راغلل او ددغی قبایلی دیرځاو او تهاجمو نو له کبله په تنګ شوی او په اذیت کښی وو، تر هغه وخته پورې چه د کوشانیانو حکومت او قوه په آریانا کښی قائمه او ټینګه وه دژون ژون یانو تهدید اتو څه اهمیت نه درلود مګر هر کله چه دکوشانی قوا وو دتنقل مرکز د هند د فتوحاتو سره کرار کرار داندوس نه هغی خوا ته نقل شو ژون ژونیان بیا له شک او شبهې نه زړور شول او لکه چه دغه موږ په چینی مأخذ کښی و کتل خپلی حملې ئې شوا ری مکرری او بیا بیا وکړي تردې چه په آخر کښی مؤثر ېشوې او دباختر کوشانیان په دوو برخوو یشل شول : یوه برخه لمر او پړېزي خوا ته دخزر دبحیرې دسواحلو خواته روانه شوه او بله د له دخپل پاچا (کیدارا) سره چه د چینی کا لیزی (سا لنا مې) په شهادت یو غښتلی او زړور سړی ؤ دهندوکش دجنوب خوا ته را کښته شوه پور. ، معلومه نه ده چه ولی دباختر کوشانیانو دوی برخی شوی دی .

ځینی علت داسی لیکی هر کاله چه دباختر کوشانیانو په یوا ځینی ځان دغه قدرت او طاقت په ځان کښی و نه لید چه باختر وساتی او حفاظت ئی وکړی نو دخزر دسواحلو او هندوکش د جنوب خواته روان شول چه د د غو ځایو کوشانیان د ځان سره ملګری کړی او ددښمن دتهدید په مقابل کښی ترتیبات ونیسی .

دهندوکش دجنوب ځانګه یا کیدار یان - که څه هم (کیدارا) دیو دسړی نوم او سړی هم

---

هغه شهزاده یا امیر دی چه دهندوکش دجنوب خواته دلویو کوشانیانو دیو پېولی او ټولګی دپیځایه کیدو په وخت کښی ئی په هغوی آمریت دراود بیا هم مؤرخینو داسی ویلی دی چه دکوشانیانو دغی ډلی او ټولګی ته دهندوکش د جنوب خواته دهغوی دحرکت له ور ځی څخه (کیداریان) وائی ؛ نو کیداری هم دهغو پا دشاها نو د سلا لې نوم دی چه دکوشانیانو په دغه څانګه پاندی ئی باچائی کړی ده ، او هم دباختر دکوشانیانو دهغی ټولګی عمومی نوم دی چه هغو ته کوچنی کوشانیان هم وائی .

په باختر کښی دساسانیانو سره دکیداریانو مقابله : که څه هم دهغو اشاراتو له مخې چه

---

شوی دی دساسانیانو سره دکیداریانو روابط چندانی واضح او روښانه نه دی ، خو بیا هم

ACKU

ژر څنګ په وخت ځینې مهمې ټکي ښکاره کوو: دمخه د داو یو کوشانیانو دستو وطنو ځانو
په جمله کښې و ویل چه دساساني سلطنت پیدا کېدل هم په دغه کار کښې بې دخل نه ؤ ،
هر کله چه دساسانیانو عظمت دکوشانیانو دضعف په وخت کښې و دساسانیانو تر کوم ځای
پورې چه لاسه کېدل دآریانا په خاورو کښې د مستقیم او غیر مستقیم لاس وهلو نه
ځان و نه ژغوره او برله بسې مساعدې موقع ته په انتظار کښې وو چه منځکښې لاړ شي . له
بلې خوا که چېرې دهغوی دشهزادګانو دلقب کېښودلو ته شر یفانې مراسمو ته نظر وشي
لیدل کېږي چه مدام ئې دکوشاني امپراطورۍ دسرحد وزرته دحرص او طمعې سترګې
پټې کړې وې او دآریانا دځینو غربي برخو پاره ئې لکه آریانا سیستان مارجیان، ارخوارزم
چه کم کم ئې په لاس راوړې وې یو حکومت تشکیل کړ او دهغه حکمران ئې
(دخراسان حکمران او دکوشانیانو پاچا یا کوشاني لوی پاچا باله) دغه حکومت او حتی
په دغه ځای کښې حکمراني دساسانیانو په نظر کښې ډېره مهمه وه او دهغو شهزادګانو
چه یوه ورځ په ساساني شهنشاهي تخت باندې کېناستل خاصخا به ئې د خپلې شهزادګۍ
په دوره کښې دخراسان حکومت لیدلی وی ، لکه چه په ساساني پادشاهانو کښې اول
شاهپور ، اول هرمزد ، اول بهرام ، دوم بهرام دخپلې شهزادګۍ په وخت کښې
دغه عهده تېره کړې وه (۱) او دریم بهرام او دریم هرمزد په سیستان کښې حکومت
درلود ، اوس راځو دې ته چه آیا ساسانیان تر هغه وخته پورې چه کېداریان په باختر کښې وو
دغې سیمې او ملک ته راورسېدلی شول او که نه؟ دغه مسئله په دغه دقت سره چه
مونږ په نظر کښې نیولې ده تراوسه پورې په واضح ډول کتل شوې او مطالعه شوې نه ده
ځکه کوم مهم شی چه د دغه کار دپاره ضرور دی له باختر نه دکېداریانو دوتلو صحیحه
نېټه ده چه تراوسه پورې واضحه معلومه نه ده او هغه په اټکلي ډول د ۲۲۱ او ۴۰۹ مسیحي
تر منځ بولي .

پدې کښې شك نشته چه ساسانیانو دکوشاني انحطاط په دوره کښې دکوشاني امپراطورۍ

---

(۱) دساسانیانو په زمانه کښې ایران دکریستن سن دتالیف فرانسوي متن (۲۲۲ مخ) دې
وکتل شي.

دغربي او شمال غربي برخې په شاو خوا کښې چه (پر اخښیانې موندلې وه) داول شاهپور له زمانې نه تر دوهم بهرامپور پورې د هغوی حکمرانان په خراسان کښې د (اوې کوشانشاه) په لقب یادېدل مګر داسې معلومېږي چه په هغه زمانه کښې چه کیداریان په باختر کښې موجود و دغې سیمې ته نه وو رسېدلي :

باید داو وېل شي چه مدققینو تراوسه پورې کیداریانو په تیره بیا د هغوی د ترقۍ او سلطنت دوره په پنځمه مسیحي پېړۍ کښې بلله. هغه نوې نظریه چه په چینې منابعو او مسکوکاتو د کلاسیکي مؤرخینو په شهادت تکیه کوي په دغه باب کښې ده چه کیداریانو په پنځمه پېړۍ کښې نه بلکه په څلورمه پېړۍ کښې سلطنت کړی دی داو مړ ی د نظریې سره سم (ګریشمن ستن) (په ساساني عصر کښې ایران) د کتاب په ۲۸۷ مخ کښې لیکي چه (فیروز د خپل سلطنت په اوائلو کښې کیداریان د مالیې ور کولو ته مجبور کړی وو (کیداران) (۱) د دغه قوم پاچا د مالیې له ور کولو نه منع را وړه او جګړه ونښتله وائي چه د فارس پاچا کړ شش و کړ چه د (کنګاس King Khas) د کیداراد زوی سره صلح او د کنګاس د خور سره از دواج وکړي مګر دده نقشه سرته و نه رسیدله او پښه اد ئي منظور نه شو او جګړې دوام و موند، په دغه وخت کښې فیروز د بلې نقشې د جوړولو په فکر کښې شو او د بې زانس (شرقي روم) امپراطورۍ ئې د کوشانیانو خطر ته ملتفته کړه او دغه حکومت ته ئې ولیکل : (ددې د پاره چه د دغو بربري قومو د لاسه ارمنستان او د قفقاز دري خلاصې او بیغمه شي، او د شرقي روم دولت د هغوی د یرغلاو او چپاو و نو څخه محفوظ پاتې شي نو ماته پیسې راولېږیء چه کیدار یان شاته و وهم او مغلوب ئې کړم، مګر د شرقي روم دامپراطورۍ له خوا ورته کوم جواب و نه رسید، سره ددې ئې کیداریانو ته کامله ماتې ور کړه او هغوی ئې د کنګاس په مشرۍ د هندو کش له شمال نه په کندهار کښې محدود کړل هرکله چه فیروز د (٤٨٤ - ٤٥٩) کلونو په منځ کښې پاچائي کړې ده. او کیداراد نوی نظریې له مخې د څلورمې پېړۍ په دوهمه نیمايي کښې حکومت کاوه، ښیي له هره حیثه و اقعت سره

(۱) د هندو کش د شمال کوشاني و روستي پاچا .

ACKU

کوی او دساسانیانو دتجاوز صورت او دهندوکش له شمال نه جنوب ته دکیدار یانو دراکښته کیدو علت ښکاره کیږی :

له باختر نه دخزر دبحیری دسواحلو او دهندوکش د جنوب خوا ته د کوشانیانو د وتلو ښکاره علت هغه ډیری حملې او فشارونه بولی چه دمرکزی آسیاد قبائلو او انژوانیانو له خوا اورباندی راتلل :

له بلې خوا لکه چه دمسکوکاتو له کتنې نه واضحه کیږی کوچنی کوشانیان پواځی ددوهم شاهپور په زمانه کښی چه دساسانیانو دېره ترقی وه په موقتی دول ددغه دولت تابع شول او وروسته بیا خپله خپلواکی ئی بیرته په لاس راوړه ، داهم یو واضح دلیل دی چه ساسانیانو په اول کښی دکیدار یانو مخلوبولو دپاره کوشش وکړ مګر دد وهم شاپور دسلطنت تر زمانی پوری (۳۰۹-۳۷۹) په دغه کار و فق نه شول ، او وروسته بیا موقتاً په کابل کښی ئی هم نفوذو موند.

کوشانی غربی څانګه او دساسانیانو سره مقابله : دمخه مو وویل چه له باختر نه دوتاو نه وروسته یوه تولګی کوشانیان دغرب خوا ته دخزر دبحیری دسواحلو په طرف روان شول لکه چه معلومیږی دوی دجنوبی څانګی یعنی دکیدار یانو په شان بی کاره او آرام پاتی نه شول او دوروسته ذکر شوی څانګی په شان دساسانی امراو او پادشاهانو سره په جنګونو جګړه بوخت وو. (کریستن سن) لیکی چه (۱) (پنځم بهرام) دشمال دبربری قومونو سره چه عربی او فارسی منابع ئی بیله تشخیص نه ترک بولی جنګ کړی دی. دغه قومونه خامخا دغه (خیونیان Chionites) دی چه په اصل کښی دوی ذهنیانو څخه یوه څانګه شمیری او ددوی ځینی عناصر ددوهم شاهپور په عسکرو کښې وو مګر دهغوی ددوستی په قول باندی باور او اعتماد نه ؤ . دغه قوم په دغه وخت کښې عموماً د(مروې) په ناوو کښې او سیدل او دشاهپور دمرګ نه وروسته خراسان ته لاړل او دایرانیانو مهم دښمنان شول. پنځم بهرام پخپله دهغوی په مقابل کښی لښکر وایست او خپل ورور (نرسه) ئی پخپل غیاب کښی نائب السلطنه مقرر کړ او په جنګ کښې بریالی او فاتح شو :

---

(۱) دساسانیانو په زمانه کښی ایران دکتاب ۲۷۵ مخ دغه کتاب په فرانسوی ژبه دکریستن سن تالیف دی :

ACKU

دمخه د کریستین سن له ژبې نه معلومیږي چه، (عربي او فارسي منابع بیله تشخیص نه دغه قوم ته ترك وایي) یعني که چیري تشخیص وشي ترکان تدی پاکه خپو نیان دي او خپونی دهغو تحتیتانو له مخې چه شوي دي همدغه کوچني کوشاني او یفتلي کوشانو او یفتلي عناصر دي چه په بل پسې سلطنت ته رسیدلي دي، نو دچیني منابعو صحت واضح معلومیږي چه ځینې خانگي له باختر نه دغرب خوا ته تللي او په مرو، خوارزم او دخزر دبحیرې په سواحلو کښې خپاره شوي وو او دشمال له خوا ئې ساساني امپراطوري تهدیدوله او دساسانیانو سره ئې دښمني کړله.

دهندوکش په جنوب کښې دکوچنیو کوشانیانو سلطنت: دچیني منابعو نه معلومیږي چه

---

هر کله زړه ور کیدار ادخپلو لښکرو سره دهندوکش جنوب ته راکښته شو دگندهارا پنځه شمالي ایالتونه دده تابع شول) دغه جمله که څه هم لنډه او کوچنۍ ده خو یو مفصل عنوان دی چه دیو اوږدې فصل شرحه پکښې ده ولې دلته کیدار اله باختر نه دهندوکش جنوب ته راکښته کیږي داسي معلومیږي چه دڅو سره مخامخ شوي ندي، ددې مسئلې علت ښکاره دی چه دلوبو کوشانیانو له سقوط او دامپراطورۍ دنظام دخرابیدو نه وروسته دیو مقتدر سلطنت په عوض کښې په هره څنډه او غاړه کښې دملوك الطوائفي حکومتونه پیدا شوي وو او له دې جملې نه دباختر دکوشانیانو تړلګي په شمال کښې او دکابل دکوشانیانو تړلګي په جنوب کښې ډیر اهمیت درلود. له باختر نه کابل ته دخپلو لښکرو سره دکیدارا راتګ کومه حمله او تهاجم نه و چه په منځ کښې جنګونه شوي او یا مقابله وشي بلکه یوه (تنه) اردوه یا خوانه او چه سره یو ځای کیدل، یعني دشمال کوشانیان د جنوب د کوشانیانو سره یو ځای کیدل له دې جهته له باختر څخه د کابل عملاً قوي تنه د کیدارا دراتګ په وخت کښې کوم جنګ پیښ نه شو او دهندوکش جنوبي نقاطو - کاپیسا، کابل - ګندهارا، پختیا ئې ایو واحد سلطنت تشکیل کړ - دکیداري سلطنت یا دکوچنیو کوشانیانو دحکومت دقلمرو لمن دغرب له خوا نه تر بامیانو او دشرق له خوا نه تر اندوس پورې خپره وه شمال ئې دهندوکش په جنوبي لمنو او جنوبي خطه ئې په جنوبي کوهستانو سره ملګل کیده ځینې ذدغه سلطنت دقلمرو جنوبي حد تر (بنو Banu) پورې هم مخ په وړاندې بیائي

داسې ښکاره کېږي چه د دغه حکومت مرکز په اول وخت کښې (کاپیسي) ؤ او وروسته بیا د مرکزي آسیا د ځینو هغو قبیلو د تهدید په واسطه چه هویت ئې ښوروه معلوم نه دی پېښور ته ایږدول شوی دی :

د کوچنیو کوشانیانو د سلطنت مؤسس : د وړو کوشانیانو د سلطنت مؤسس یو داسې سړی دی چه په ټولو منابعو کښې (کیدارا) په نامه یاد شوی دی اصلاً پښتانه دی د باختر د اوبو کوشاني وروستیو پادشاهانو په جمله کې حسابېږي.

هر کله چه د ده نوم په مسکوکاتو او نورو منابعو کښې ډېر ایډل کېږي او په نورو ډېرو ځایو کښې هم یاد شوی او قوي احتمال کېږي چه په دغه نوم څو تنو یا څه ناڅه دوو تنو په ټاکلو او مشخصو زمانو کښې سلطنت کړی وي. سربیره په دې (کیداري) د ځوی د سلطنتي کورنۍ نوم هم شوی ؤ. پخپله (کیدارا) له باختره د وتلو له وخته تر هغې زمانې پورې چه د سلطنت نیونې (مقر) ئې په پېښور کښې نیوه ډېر له پسې یاداو ذکر شوی دی :

مسکوکات : د (کیدارا) او د نورو کوچنیو کوشاني پادشاهانو مسکوکات عموماً د سپینو زرو او نازکو وو او ځو مسي سکې ئې هم په (بنو) کښې موندل شوي دي مګر د هغو تحقیقاتو له مخې چه په دغه باب کښې شوي دي دومره معلومه شوې ده چه د سپینو زرو سکې په پادشاهانو پورې مخصوصې وې. او مسي سکې د ولایاتو د حکمرانانو له خوا ضربېدلې او په دوی پورې مربوطې وې چه له دې څخه به وروسته بحث وکړو. او پخپله د (کیدارا) د سکو شرحه په دغه ډول ده:

د سپینو زرو سکه :

د سکې مخ: د پاچا نیمه تنه په نیم مخ ضرب شوې ده چه فیته ئې د سر نه تاوه کړې ده چه آخرنی سر ئې د سر ترشا متحرك دی او د هغه برج د سر د کنګرې په شکل تاج لري چه درې دنداني ئې د دوهم شاهپور د مسکوکاتو په شان معلومېږي د تاج په مرکزي دنداني باندې د نوې میاشتې او کړې شکل لیدل کېږي ده د سر وېښتان شاته له خټه راوتلي او ږیره نه لري. په غوږ کښې ئې ګوشواره اچولي ده په برهمي رسم الخط سره لیکل شوې دی.

(کیدارا کوشانی پاچا)

دسکې ترشا: یوه آتشکده لیدل کېږي چه لاندې او پاسې برخه ئې دریې مرتبې لري اودبلنې په منځ کښې آتشکدې ده داور په لمبو باندې د هر مزد نیمه تنه په نیم مڅې مخ لیدل کېږي دانش کدې په دواړو خواؤ کښې مخ داور خو اته دوه تنه ساتونکي لیدل کېږي چه تر ریئې پلاس کښې دی

دسپینو زرو بل دول سکه:

دسکې په مخ باندې: دپاچا نیمه تنه مخ په مقابل لیدل کېږي هغه فیته چه دپاچاهۍ نښه ده دسر نه ئې تاوه کړې ده سر ونه ئې دده په اوږو باندې مواج دی تاج ئې په سر کړی دی چه له دریو برخونه مرکب دی مرکزي برخه ئې پنځه وزرونه او اطرافي برخې ئې هره یوه دري دري وزرونه لري.

تاج ئې په کره ئې اومواجو بند ونو خائسته شوی دی: ویښتان ئې داور میږ په دواړو خواؤ کې لیدل کېږي. زیره نه لري غوږو الۍ او غاړه کې (گلوبند) لري دده په اوږو باندې دسرږمو نځ کړي ویښتان لیدل کېږي په برهمي رسم الخط لیکل شوي دي چه: (کیدارا کوشان شاه)

دکیداري اوساساني تر منځ جگړې: په مسکو کانو کښې دصورت دښو دنې او نمایش دقانون له مخې وې اوکه د (امیده Amida) دښار په کلا بندۍ کښې درومنیا نوسره دجنگ په وخت کښې د دوهم شاه پور دعسکرو په قطار کښې د (خیونی یا کوشانی سپاپانو دحضور له مخې اوکه دځینو ارمني مؤرخینو دشهادت له مخې اوکه دپرسه پولیس دلیکنو له مخې وي معلومېږي چه (کیدارا) یا کیدار یان یو وخت دساسانیانو تابع او مطیع وو: مگر پوره معلومه نه ده چه په کوم وخت او په کوم ځای کښې آیا په اول کښې چه کیدار یان په باختر کښې وو دساسانیانو متابعت او اطاعت ئې کاوه؛ یا هغه وخت چه د هند وکش په جنوب کښې دگند هارا دریې ته نوی راغلي وو؛ که څه هم ځینې مؤرخین په کیدار یانو باندې ددوی تسلط ته اشاره کوي مگر زیاتره قرینې په دې باندې دلالت کوي چه په کیدار یانو باندې دغه موقتي تسلط به دکابل په دره کښې پیدا شوی وي. اودغه شم په هغه وخت کښې وو چه کیدار یان نوی دغه سمت او خواته راغلي وو؛

(امیا نوس مارسلی نوس) وائي چه: دوهم شاه پور له ۳۵۰ نه تر ۳۵۸ کال پورې اته کاله دکوشانیانو په ضد د شرقي سرحدو په جنګ کښې بوخت ؤ، دیر احتمال کیږي چه دغه سلسله جنګونه چه ذکر کړلونه ئې وغوښتل په هغه زمانه کښې وې چه کیداریان له باختر نه راوتلي او دکابل په دره او ګندهارا کښې میشت کیدل او ځای په ځای پر بوتل. او ساسانیانو دهغوی د دغه بې ځای کید ونه استفاده وکړه او نه ئې غوښتل چه موقع ورکړي چه کیداریان یعني د باختر کوشانیان د هند وکش د جنوب دکوشانیانو سره یو ځای شي او د دوی له یوکیدلو او اتحاد څخه د ساسانیانو د دولت په ضد یوه دیره مخوفه قوه جوړه شي. ساسانیان په دغه موضوع باندې ښه پوه شوي وو. مګر کوشانیانو هم له جنګ ؤ جګړې او د ښمنۍ نه لاس نه اخست او دغه د جنګ ؤ جدال حالت کامله اته کاله دوام وکړ، خو هر کله چه کیداریانو له باختر نه بې ځایه شوي او لا تر دغه وخته پورې ئې د هند وکش په جنوب کښې د خپلو قوا ؤ رانو او اوته وخت او فرصت نه ؤ پیدا کړی نو د ساسانیانو تابع او مطیع شول او د ساسانیانو نفوذ تر کابله پورې خپور شو او ساساني پاچا د دې د پاره چه یو د هغوی عسکري قوا او ی ضعیفې او بل د هغوی له رشادت نه کار واخلي نو د هغوی څخه یو تولګی ئې د خپلو غربي دښمنانو رومیانو په ضد استعمال کړ او دغه هماغه دامیدی دکلا د محاصرې او کلابندۍ پیښه ده چه کوشاني ګرومباتس او دده لښکري دهغې د دیوا لو په شا ؤ خوا کښې ایدل شوي دي:

دلوی سلطنت تشکیل او د خپلواکۍ حاصلول: د مسکو کاتو او د چیني منا بعو د شهادت

او په تیره بیا دارمني مؤرخ بیزانتي نوستس د واضحو او د قیقو وینا وله مخې واضحه معلومیږي چه کیداراو کیداري کوشاني دولت د همیشه د پاره د ساسانیانو تابع او مطیع پاتې نشول او تر دغه وخته پورې لا د ساسانیانو سره د جنګ او الوګولو څخه (۹) کاله نه و تیر شوي چه د ساسانیانو تول احتیاطونه بر هم شول او کړ چنیو کوشانیانو د خپل پاچا او ملي مشر کیدارا په مشرۍ د ازادۍ د جګړې د پاره ملاو تړله او د ساساني سلطې په ضد ئې په جدي او کلکو اقداماتو لاس پورې کړ:

هغه جنبش او جګړې چه کیداریانو د ساسانیانو په ضد روانې کړې وې کوم کوچنی او جزئي شی نه و او هغه یو کلک ګوزار او مهلکه ضربه شمیرل کیدلی شي چه په نتیجه کښې ئې

په لمړ ختيز ه خوا کښې له آريانا څخه د هغوی د سلطې لمنځ ته له شوه او په لمړ اويديزه خوا کښې ئې د ارمنستان ډېری برخې له ساساني دولت نه جلا شوی او په روميانو پورې وتړل شوی ځکه هغه وخت چه په آريانا کښې د آزادئ غوښتنې هنگامه توده شوه ساسانيان ورا ر خطا شول او ددی د پاره چه د آريانا جنگي مسئله ته ډېره توجه وکړی شي د روميا نو سره ئې صلح وکړه او روميانو ته ئې امتيازات ورنل.

په هر حال د مسکو کاتو او ارمني (فوستس) دليکو په شهادت په ۳۶۷–۳۶۸ کال کښې د ساساني دوهم شاپور په ضد د خپلواکئ غوښتني جگړه شروع شوه له هغوځ نه ئې انوخته چه د نيکمرغه د غه ارمني مؤرخ ئې ورکوي واضحه معلوميږي چه ددی جنگ محرکان او مسبب کوشاني کيداريان وه او حمله او چپاو نه هم د دوی له خوا شروع شوی دی او د غه پخپله په دی باندی دلالت کوی چه د غه جنگ د آزادئ جنگ او هغه جنبش دی چه د ساساني دوهم شاه پور د ساطې دليری کولو دپاره شوی دی.

دارمني مؤرخ دوينا له مخې په دغه جنگ کښې کاميابي د آريانا د کيداري دولت په نصيب شوی دی او ساساني دوهم شاهپور دوه واری سخته ماتې خوړلې ده: يو ځل دده دلښکر وځخه يو لښکر بيخي محو او تباه شو او دوهم ځلی ساساني لښکری تر دې اندازې پورې وار خطا او بې همې شوې چه دوهم شاهپور د خپل ځان د نجات دپاره مجبور شو چه د جنگ له ميدان نه وتښتي په دغه ترتيب کوچنی کوشانيان چه تقريباً لس کاله پخوا د مرکزی آسيا دقبائلو ژوان ژوانيانو او نور و د هرج ومرج او تهديداتو په واسطه ضعيف شول او کم وزيات د ساسانيانو د مستقيمې او غير مستقيمې سلطې لاندی واقع شوي وو پخپله پخوانۍ آرزو بريالي او موفق شول او په ۳۶۷ يا ۳۶۸ کال کښې ئې خپله خپلواکي او د دوو دآزادئ او استقلال حاصل کړ او د هندوکش په جنوب کښې ئې د آزاد سلطنت په تشکيلولو لاس پورې کړ چه د هغه مود هغه حدا و حدو د بيان کړل.

کيداري آزاد سلطنت که څه هم يو قوي حکومت و مگر بيا هم قلمرو ئې محدود و په غرب او شمال غرب کښې د ساسانيانو نفوذ پراختيا درلوده مگر د آريانا په شمال او شمال شرق کښې د هفتليانو پيداکيدل او ظهور او د دوی مقتدر سلطنت چه په راتلونکی فصل کښې به

ورځنۍ بحث وکړ و نه یوازې د آریانا په خاوره کښې د ماسیانو د تر شاکیدو او باعث و گرځید بلکه د هغوی به هیوا د کښې ئې د هغوی په سیاسی موجودیت کښې هم درز پیدا کړ.

دیفتلیانو ظهور او د کیدار ی دولت ختمیدل: د هغه و ختو په کښو په آریانا کښې د چینی

---

منابعو د کتنی په وخت کښې رلیدل چه (کی ـ نو ـ لو) یعنی (کیدارا) خپل زوی په (فو ـ او ـ شا) یعنی پیښور کښې په خپل ځای مقرر کړ او په خپله لمر لویدیزې خواته روان شو چه د هماله را ووړو نکی قوم په مقابل کښې فعالیت وکړی.

د (ما ـ توان ـ لین) دائرة المعارف د (ر ـ وزانو) ترجمه د غه حمله راووړونکی قوم (ژوان ـ ژوان) بللی دی او هوی شیوه چه (اسپخت Specht) تر جمه کړی دی هغوی (هـ و انگ نو) معرفی کوی او ربتیا داده چه: (ژوان ژوان) او هیو انگ نو په مرکزی آسیا کښې د قومو نو د پار پدلو او جنبش اسباب شوی دی او د هیو انگ نو یانو په د غه وخت کښې د خزراو او رال د بحیر ی د شمالی علاقو څخه د آسیا د غرب او دار و پا د خاو ر و خوا ته خپار ه [illegible] شوی و وا و هغه قوم چه د آمو د شمالی برخو څخه تخارستان او باختر ته راغلی دی یفتلیان دی چه د گندهارا د کیدار ی کو چنی سلطنت په ځای ئې د هندوکش په دواړو خواو کښې یو مقتدر دولت جوړ کړ او د ساسانیانو سلطه ئې له منځه وایستله.

د غه هغه مطالب دی چه په راتلونکی فصل کښې به و رځنی مفصل بحث وکړ و په د غه ځای کښې یوازې د کیداریانو سره د پیښو دارتباط په لحاظ دیوې پښتنی خانگې یا یوې قبیلې د میشت کیدلو او استقرار څخه لنډ بیان کوو د غه خانگه (زابلی) بلله کیږی.

زابلی خانگه او د هغې د مسکوکاتو شهادت: په راتلونکی فصل کښې به چه دیفتلیانو

---

دپاره و قف شوی دی د د غه قوم د موجودیت او د بیاو بیاو پخوانیو نومونو او آریانا ته د دوی د راتگ د صورت په باب کښې مفصل بحث وکړو د لته د کیداریانو د سلطنت د سقوط له موضوع سره د ارتباط په لحاظ چه تر بحث لاندی مسئله ده د دوی قوی غښتلی خانگی یا قبیلې په باره کښې بحث کوو چه: (زاولی) یا (زابلی) په نامه د غزنی په شا وخوا کښې او د غزنی او قندهار تر منځ ځمکو کښې او سیدله؛ او د غه علاقه د دوی په نامه زابل او زابلستان

ACKU

سره مشهوره شوه، بايد وويل شي چه په آريانا كښي ديفتاليانو د پيداكېدو او ظهور په وخت كښي ساسانيانو له خپل قدرت او دكيداريانو له ضعف نه استفاده وكړه او پر له پسې ئې زمونږ د مملكت په بياوبيا و ولاياتو باندې د چپاوو او حملو په شكل كښي و او وخت او محيط داسې غوښتل چه د هندوكش په شمال او جنوب كښي ديفتلي او كيداري كوچنيو سلطنتو په ځاى يو مقتدر او قوي سلطنت او دولت جوړ شي چه د قوا و په يو والي او وحدت د ساسانيانو سره مقابله وكړي. په همدغه اساس كيداري كوچنۍ دولت ديفتلي زاو ليانو په واسطه د ګندهارا له علاقې څخه ليري شو لكه چه (مارتن) وائي دغه قبيلوى نوم په مسكوكاتو كښي په (يوناني او كوشاني) ليكنه د (زوبل zebol) په شكل راغلى دى، په برهمي رسم الخط كښي (جابولا Jabula) او «جاپوولا» (Jeuvla) او «جابيوولة» ( Jabuvlah) بلل شوى دى د (تورامانا) په ليكنه په (كيورا Kyural) كښي هم د (جاپوولا $Jauvl_a$) په صورت راغلى دى، او هر كله چه په زابلي پخوانيو مسكوكاتو كښي دقت وشي معلومېږي چه دوى د خاورې په يوه برخه او هم د هند سرحدونو ته رسيدلي او ميشت او مستقر شوي وو:

بايد داو ويل شي چه (مسن) د هغې د (لوى توپ) څخه د يفتليانو ډېر مسكوكات د ساسانيانو د مسكوكاتو سره ګډ موندلي دي، د هغو كتنو او مطالعاتو له مخې چه د (آريانا انتي كوا) په (۳۹۹-۳۹۶ مخ كښي) په دغه باب كښي شوي دي كه څه هم ډېرې سكې ئې د پنځمې پېړۍ د دوهمې نيمائي ته منسوبېږي خو زياتره ساساني مسكوكات ئې د څلورمې پېړۍ په وروستيو كلونو پورې مربوط دي او په دغه قوي دليل سره ويلى شو چه ديفتلي مسكوكاتو زياته برخه هم چه په دغه ځاى كښي پيدا شوي ده په همدغې دورې پورې مربوطه ده زياتره يفتلي مسكوكات چه د هغې په لوى تپ كښي پيدا شوي دي پلن او نازك دي او د پاچا سر د تاج په قوه نقش شوى دى. زياتره مسكوكات ئې د (ګرېك او كوشان) په رسم الخط نوشته لري چه يا يو ځاى دي يا په برهمي رسم الخط يوناني مضمون ورسره هم ليدل كېږي.

داكتر هاين ريش جونكر (Dr. Hemrich-Junkar) په څېړنو دغو يوناني او كوشاني ليكنو كښي لوستي دي چه زابلي مسكوكات په بلخ كښي ضرب شوي دي، او هر كله چه

ACKU

په باختر کښې ضرب شوي مسکوکات يو اځې په يوناني او کوشاني رسم الخط نو شته لري نو معلوميږي چه هغه مسکوکات چه يوازې په يو رسم الخط نوشته لري د هندوکش په جنوب کښې ضرب شوي دي ؛ لکه چه ددې نظريې په تائيد بيخي په هماغه برهمي نوشته يوه تخته په جلا جلا حروفو له پيښور نه کشف شوې ده .
له باې خوا پيښور ته د يفتليانو رسيدل د ٤٠٠ کلونو نه پسخوا د چيني زائر (فاهيين) په وينا او هم تصديق کيږي ، ځکه چه دى وائي ديفتليانو څخه يو باچا پخوا له دې سعيه وکړه چه ، د بودا د گدائي کشکول يوسي خو ديو ناڅا پي پيښو له کبله نا کام شو . د هغه مو دکيدار ادمسکوکاتو په باب کښې و ليدل چه په کينه خرابانديدا تشکدې داور په وړانگو باندې د هرمز د تصوير ليدل کيږي ، د غه مسئله د خاور مې پيړ يې له اختصاصاتو څخه ده په ځينو زابلي مسکوکاتو کښې چه په هغه کښې کشف شوي دي کټ مټ ( عين ) هماغه حالت او کيفيت ليدل کيږي .

يو ه بله زابلي سکه چه د پنځم بهرام د مرو د ضرب شوو مسکوکاتو سره ډير مشابهت لري بايد په مرو کښې ضرب شوې وي او بايد چه تاريخ ئې د خلورمې پيړ ې ته منسوب شي ځکه چه د څلورم بهرام د مسکوکاتو له مخې تقليد شوي دي .

له دغو دقيقو کتنو او مطالعاتو او د مسکوکاتو له استشهاد نه لنډ مقصد دادى چه د څلورمې پيړ ې د ختميدو نه پخوا يفتليانو د باختر ، مرو ، او د تخارستان شمالي برخې په لاس راوړې او د هندوکش په شمال مرو ، او بلخ او په جنوب کښې ئې سکه ضرب کړې ده او حتى تر پيښوره پورې که څه هم دلو مړ ي د حملې په صورت هم وي رسيدلي دي او د هندوکش په جنوب کښې د هماغو تخارستاني يفتليانو او په تيره بيا د هغوى د زابلي قبائلو د ظهور او پيدا کيدو او د کابل او غزني په شاؤ خوا کښې او د مشرقي دولايت په بيا و بيا او ځايو کښې د هغوى د اوسيدو او ځاى په ځاى کيدو او په اثر کيدارى دولت خاتمه مونده ده :

هغه وخت چه ( زابلي ) قبائل د هندوکش له غره څخه را ښکته کيدل ( کيدار ا ) د ځان د پاره خطرات وليدل او سلطنت نه ئي لاس واخست او خپل زوى ئي چه چينيانو ئي نوم

ACKU

نه اخلی او ځینی هغه (کنګاس) بولی او په مسکوکاتو کښی د (پیرو Piro) په نامه یاد شوی دی (۱) پخپل ځای په پېښور کښی په پاچائی مقرر کړ او پخپله د خپلو لښکرو سره د دفاع د پاره کابل ته راغی چه کاپیسا ته لاړ شی او د هند وکش د درو په خوله کښی دیفتلی زابلی قبائلو د راتګ مخه ونیسی ، مګر په دغه خپل مقصد بریالی او کامیاب نه شو او زابلی قبائلو خپل پرمخ تګ ته پسی دوام ورکړ .

کنګاس Kung Khas : د کیدار ایو زوی چه ځینی منابع ئی یادوی کنګهاس نومیده

په تیره بیاله دې څخه هغه وخت بحث کوی چه پلار ئی لا په باختر کښی وُ ، ئ کریستن سن هم ده پلار (کیدار ا) د هندوکش د شمال ورو ستی کوشانی پاچا بولی او وائی چه کوشانیان د کیدار اد همدغه زوی تر مشری لاندی راښکته شول مګر په مسکوکاتو کښی په دغه نوم د کیدار یانو څخه څوک لیدل شوی ندی :

پیرو Piro : په دی کښی څه شك او شبهه نشته چه کیدار ایو زوی یا زامن در لو دل

چه د دقیقو منابعو د نشتوالی په واسطه د هغوی (زامنو) نوم او نښانو اضحه معلوم ندی ، ځینی منابع لکه چه ړمو لیدل بی د نوم دذکر کولو نه هغه د یوزوی په باب کښی وائی چه کیدار اد سلطنت د خوشی کولو په وخت کښی خپل یو زوی پخپل ځای په پېښور کښی پا چا اعلان کړی وُ . د کیدار اد سلطنت د پریښودلو او په تخت باندی د ده د زوی د کښیناستلو تاریخ د ملاقتینو له خوا (۳۷۵-۳۸۰ مسیحی کلونو ته) منسوب شوی دی ، لکه چه د مسکوکاتو له شباهت نه معلومیږی د کیدار ازوی چه له هغه نه وروسته پاچا شوی دی (پیرو Piro) نومیده دده د مسکوکاتو نمونه په دغه دول ده :

دسپینو زرو سکی :

دسکی په مخ باندی : د پاچا نیم تنه تصویر چه مخ په مقابل لیدل کیږی او په سر باندی فیته

(پاچائی نښه) لری ، او سرو نه ئی په اوږو باندی غږ نچه غوندچه یعنی مواج دی ، یو تاج په سر لری چه دقیق دوه ښکرو نه ښئی او کینی خواته ار په مخ کښی ئی پنځه وزرو نه لیدل کیږی او

(۱) ځینی موٌرخین «کنګاس» له باختر نه د کیدار ا در اښکته کیدو په وخت کښی د ده سره یو ځای ذکر کوی ، احتمال لری چه کنګاس او پیرو دوه ورو نه وی

ACKU

وو اچو نيتو هغه بنائسته کړي دي ، داور ميز په دواړو خواوو کښې گڼ وېښتان او نرۍ نرۍ بروتان لري او دږيرۍ ئې هم وېښتو کښې ئې ملغارې څو رندې او جړاو دي ، غوږ والۍ او گلوبند ئې په غاړه دي او سر ئې زمونځ کړی دی ، په برهمي رسم الخط کښې کيڼې خواته (پاچا) او ښې خواته پيروز Piroza ليکل شوي ده

دسکې تر شا : يوه آتشکده ليدل کيږي چه بنسټ ئې دري درجې او ورتبې لري ، داور دلمبو دپاسه مخ ښې خواته د هرمز دنيم تنه هيکل ليدل کيږي ، دآتشکدې په دواړو خواوو کښې مخ اوړ خواته دوه تنه ساتونکي ولاړ دي چه تورې ئې په لاس کښې دي .

ديوې بلې سکې په مخ باندې په برهمي رسم الخط ښې خواته د(شاهي) کلمه او کيڼې خواته (پرو) Proz نوشته شوي دي .

دساسانيانو نوې مداخله : هغه وخت چه يفتلي زابلي قبائل دکابل ددرې څخه راته ښکته شول او دهغوی دتشويش په اثر کيدار اپاچاهي پريښوده او دده زوی (پيرو) په تخت باندې کښيناست ساسانيانو بيا له موقع نه استفاده وکړه او په لاس وهلو او تيري او تجاوز باندې ئې لاس پورې کړ ، په رښتيا چه دکوچنيو کوشانيانو دپاره ډيره نازکه موقع وه ځکه چه ساسانيانو پر له پسې هغوی تهديدول او گواښونه ئې ورته کول او يفتليان مجبور وو چه دساسانيانو سره دمقابلې دپاره دهندوکش دجنوب محلي کوچنيو سلطنتونو ته خاتمه ورکړي ، په هرحال اردشير په تيري او تجاوز لاس پورې کړ ، او تر يوځايه پورې مخکښې راغلل او وروسته تر هغه دريم شاپور ډير زر ډير ځايونه ونيول او (پيرو) ئې مجبور کړ چه دتيول نشين په ډول په گندهارا باندې حکومت وکړي په دغه ډول دکابل په دره کښې دساسانيانو نفوذ ټينګ شو دغه وضعيت په دغه ځای کښې دکوشاني ورهرانيا دبهرام ترزمانې پورې چه دپيرو په ځای ناست و ، او په ځينو نورو ځايو کښې لکه باميان دځينو محلي ورو امراوو په زمانه کښې دوام وکړ : ځينو مدققينو دغه امراد(ساساني کوشانو) په عنوان بللي دي او بيله ځينو مسکوکاتو نه نورې نښې ورځنې نه دي پاتې ، موسيو هاکن د(ښکاري پاچا) تصوير چه دباميانو دکرکې په دره کښې پيدا شوی دی او په پنځمه پيړۍ کښې دباميانو دمحلي امراوو نه يو تن بلل کيږي ددغو امراوو په ډله کښې حسابوي . په هرحال دکابل په دره او گندهارا باندې دساسانيانو سلطه ډيره موده پاتې نه شوه ځکه چه يفتليانو نه يوازې دآريانا څخه دساسانيانو لاسلطې نه خلاصه کړه بلکه

ساساني پادشاهانو او ددولت ارکانو ته ئې سختې او مهلکې صدمې ورسولې.

**ورهران یا بهرام Varahran** : دمسکوکاتو نه داسې معلومیږي چه له پیرو نه وروسته یو بل پاچا د ورهران په نامه پاچاشوی دی.

**جامې** : ددمدغه جلد داتم فصل د ۳۲۲ مخ په شاؤخوا کښې مو د لویو کوشانیانو دجامو او لباس په باب کښې بیان وکړ او وعده مو کړې وه چه په کیداري فصل کښې به د لباس دبدلون او تغیر په باب کښې به بیابحث وشي جامې دلویو کوشانیانو دسلطنت په دریو پیړیو کښې سره ددې چه د پیرو او د بلوتو کړانو څخه بسه چیر ریډ لږې نسبتاً ارتې او پراخې او دتز ئینا تو نه خالي وې اوګانې لږ ې لیدل کیدلې په باختر او کابل کښې دساسانیانو موقتې نفوذ او دد وې چپاو ونږ دکیدار یانو دزماني اودهنوی نه دو روسته عصر په کالیو او لباس نو کښې تغیر و نه پیدا کړل چه آثاروئې یو څه موده دشپږمې او اوومې پیړۍ پورې دوام وکړ ٠او مخصوص او ممیزه خطوط ئې داوو چه کالي واړ په او اریسې تنګ ګ شول اوګانې د پړی شوې د پروفیسر (هرزفلد) د نظر بې له مخې دد ریمې پیړۍ په ساساني جامو دهنی زمانې نه دوروسته جامو سره فرق دراود په بل عبارت هغه شې چه ددریمې پیړۍ نه وروسته په ساسانیانو کښې معمول او رواج شو هغه ته(د ساساني دوهمې دورې عادي کالي وائي ) (۱) مو نږ هم ددې یونوم ریو مسیحي پیړ یو کالي دلویو کوشانیانو په زمانه کښې و کتل .هغه تاثیر چه ساساني کالیو دکیداري کوچنیو کوشانیانو دزمانې اودهنوی نه دوروسته زمانې په کالیو باندې کړی دی همدغه ددوهمې دورې (مد) دی چه ( ګرده لمن ) د هغو له ممیزاتو څخه ده پروفیسر ( هرزفلد ) دغه عقیده لري چه ساسانیانو د لمنې ښکلې د څنګو له دوارو خواوڅخه رابله وهې او لمن په مقابله برخه کښې ګرد شکل پیدا کاوه پروفیسر هاکن وائي چه اصلاً به لمن ګرده ځکه ول (برش) کیدله چه عسکر په تیره بیاسو ارکار آزادانه حرکت وکړی شي او دغه دول ځکښت د ۳۰۹ او ۳۸۸ کلو نو تر منځ یعنې په څوله څلورمه پیړۍ کښې معمول ؤ :په دغه وخت کښې دنسترو نو په خو او باندې به ئې ملغلرې ټکو هلې

(۱) دخیرخانې دغانښې دپخوانیو او عتیقه آثارو ۱۱ مخ ـ دغه کتاب دژ.هاکن تالیف دی

او مرصع او جړاو کړی سینه بند او کمربند به استعمالیدل دپرو قیصرها کن په نظر به هغه مجسمه چه په افغانستان کښې دهغې زمانې دکالو (لباس) تغیر او بدلون او د خاورمې پېړۍ دمعمولو جامو نمونه ښکاره کولی شی د (سوریا) دخیر خانې د غاښې د لمر درب النوعی هیکل او هغه مجسمې دی چه له دغه معبد نه کشف شوی دی، په دغه وخت کښې هم یوه اوږده چپن معموله وه چه دسینې او گیډې په حد کښې چپه وه د توکر قاتونه په خفیف دول دجامې په ښکتنیو برخو کښې زیات لیدل کیدل دچپنو غوږې او طرفونه به ئې په یو قطار او یا دوو قطارو نو غتو او کوچنیو ملغلرو سره ښائسته کول کمربند به ئې د وې تسمې درلودې چه یوه به ئې ښکته اچول کیده او په هغې کښې به ئې یو لنډ خنجر او داسې توره ځوړند وله چه اوږده وني (دسته) به ئې درلوده په خاورمه پېړۍ کښې او دهغې نه پس او روسته پېړیو کښې نارینه و به گلوبند او غاړه کۍ استعمالوله او ملغلرې او قیمتی تیږې به ئې پکښې پیېلې او هغه به ئې پکښې نصبولې ددغې زمانې شلوار ونه پراخ وو، موزو ډیر رواج درلود او دهغو سره به ئې ماسیرگانې په ښپو کولې چه په پوندو کښې به دقیقې په شان بندونو سره تړل کیدلې.

ترکوم ځای پورې چه دپادشاهانو په تاج او دخیرخانې دغاښې دلمر درب النوعی په خولۍ کښې تحقیق شوی دی پادشاهانو او امیرانو به داسې تاج په سر کیښود چه په پنځو پا ښیز و گلانو سره ښائسته شوی او په نیم دائرو کښې به ښکولی او ږدیږو

په دی کښې شك او شبهه نشته چه هغه کالی چه مونږ ئې بیا ذکر زیاتره په نجباو و پورې مخصوص وو عام کالی هم د هغو له مخې قیاسیدلای شی په هغه صورت کښې چه دملغلرو، جواهرانو او گانو او وسلو نه خالی وې.

# یوولسم فصل

## یفتلیان

دیفتلیانو نه پخوا دآریانا عمومي حالات : دخلورمې میلادي پېړۍ په آخرو وختو او دپنځمې پېړۍ په اوایلو یو وختو کې په داسې حال کښې چه دآریانا دلویو کوشانیانو دمقتدرې امپراطورۍ تدریجي سقوط بحراني مرحلې ته رسېدلې وه په فارس کښې ساساني دولت مخ په ترقۍ روان وه ، او په هند کښې دگوپتا کورنۍ موجودیت پیدا کړی وه ، گوپتایانو هند دکوشاني حکمرانانو او محلي امراو واک سلطې نه خلاص کړی و او د هند په خاوره کښې دخپل سلطنت په پراخولو او دخپل موجودیت د بنسټ په تقویه کولو بوخت وو مگر ساسانیانو چه له څرمو دې پرا یسته خپل دترقۍ مراحل وهلي او طی کړي وو او دآریانا په المرلو یدیز وولایاتو باندې ئې په تیر بو پیل کړی وه مرکزي مقتدر دولت د نشتوالي او د محلي حکمرانانو له ضعف څخه استفاده وکړه او له پخوانه زیات ئې په تجاوز و لاس پورې کړ ، په داسې بحراني وخت کښې داو یو کوشانیانو اولادې ډېټ و وړکو ټولگیو په ډول دهندوکش په شمال او جنوب کښې په باختر او کابل کښې محلي امارتونه درلودل چه ناڅاپه دساسانیانو زیات تعرضونه شروع شول او لښکرې یې بلخ ته تر نژدې شاؤ خوا پورې ورسیدلې . «کیدارا» دباختر دکوشانیانو رئیس یاددوزوې (کنـگاس) چه دوهم کیدارا په نامه هم یادشوی دی سمدستي داسې فیصله وکړه چه دکابل دکوشانیانو سره گډشي او دغربي تجاوز و لښکرو په مقابل کښې یوه قوي قوه تشکیل کړي ، سره ددې چه ساسانیان ددې تلار ېې په منځ وړ او عواقبو پوه شوی او د پر کوشش ئې وکړ چه داسې مقصد ئې حاصل نشي مگر ... ددې باختري کیداري رئیسان په داسې حال کښې چه دساساني قواؤ سره په جگړه بوخت وو دکابل دکوشانیانو سره یوځای شول ؛ او لـکه چه سنجرلی ئې وه دهندوکش جنوب په تېره بیا مرکزي او لمر ختیزې برخې ئې دپر دیو له سلطې نه تر هغې زمانې پورې وساتلې تر څو چه په آریانا کښې یفتلي مقتدر دولت پیدا شو .

يفتلي په دغه نوم مشهوره دي مسمى كيدو وجه: (يعنې يفتلياڼو ته ولې يفتليان وائي) يفتليان

هغه كسان دي چه د ٣٨٥ او د ٤٢٠ كلو نو تر منځ په باختر كښې پيدا شول او په آريانا كښې د يو مقتدر دولت د تشكيلو او د پاره ئې گامونه اخستل دغه قوم د تر لو نه لوېرې چينياڼو او د دوى د معلوماتو له مخې بيزانتياڼو، فارسياڼو، او د تولونه وروستى هندياڼو او عربو او پيژ اندلو او هر يو په خپله لهجه او ژبه هغوى (يفتليان) په يو نوم مشهوره مسمى كړي دي چه كه چيرې په دقت وشي د هغو د تولو ريښه يو شي دي.

چيني منابعو د پښخمې مسيحى پيرى نه پخوا دغه قوم د (هو Hcal) يا هو اتون Hcantun) په نامه (١) او د سلطنت د جوړولو نه وروسته د (يتا Yeta) يا (اپتا Epta) په نامه پيژندلى دى او حتى په دقيق صورت هم ويلى شو چه د چين د كانتون په ايالات كښې د (يپتات Yiptat) په نامه او په كوريا كښې د (يوپتل Yoptal) په نامه مشهور و. (٢)

د بيزانس ليكوالو يفتليان په خپله د دوى په لهجه او رسم الخط په بيلو بيلو صورتونو د (افتهالى توى) (او تهالى توى) (نفتهالى توى) او د (ابدلوى) په نومونو پيژندل مګر د خاورينې كلمې د شكل په باب كښې د بريطانيكا دائرة المعارف داهم وائي چه يو مستقل كوشش دي چه د اصلي نوم صورت بنيي، او معرفي كوي چه احتمالاً (اپتل Aptal) يا (هپتل Haptal) وي، د (ن) حرف دد ريمى كلمې په اول كښې يو ه بنكاره اشتباه ده (٣) د بيزانس منابعو په ځينو ځايو كښې دغه نومونه د (ليكوى)، (او نوى) (خو نوى) په نومونو هم يادكړي دي. د چين او بيزانس نه وروسته فارسياڼو ته وار رسيږي او دوى يفتليان (هيطل) بللي دي عربو دغه كلمه له دوى نه اخستې او دغين (هيطل) په صورت يا په (ب) سره د (ى) په بدلون سره ئې (هبطل) ضبط كړي او دعربي ژبې په اصولو ئې دهغې جمع (هياطله) يا (هباطله) جوړه كړي ده، او په آخر كښې د هند د سانسكريت وروستيو منابعو دوى د (سيتاالونا) يا د (شوتههونا) په تركيب نوم سره ياد كړي دي چه (سيتا) او (شونا) د (سپين) په معنى ده او د (اونا)

(١) د بريطانيكا دائرة المعارف څوارلسم چاپ اتم جلد ٦٤٦ مخ.

(٢) زركاله تاتار دپار كرتا ليف ١٢٤ مخ.

(٣) د بريطانيكا دائرة المعارف ٦٤٦ مخ.

یا (هونا) معنی (خارجی) ده، او مرکب مفهوم او معنی ئې (خارجی سپین پوست) کیږی. (و نست سمیت) لیکی چه د (هون) یا (دونا) اصطلاح چه د سانسکریت په وروستیو ادبیاتو کښې راغلی ده د شمال غرب د خارجیانو د ټاکلو دپاره په ډیر مبهم مفهوم استعمال شوې ده لیکه چه په همدغه رویه په پخوانیو زمانه کښې د (یاوانا) کلمه او وس د (ولایتی) کلمه استعمالیږی[1] (۱) دغه اصطلاح دژبې پوستو هنیانو د اصل مفهوم سره جزئی ربط هم نلری، او په دائرة المعارفو او معتبرو مأخذو کښې د (هن) د کلمې په واضح کیدلو سره دغه مطلب ثابتیږی لکه چه د مثال په ډول د بریطانیکا دائرة المعارف او د نولسمې پیړۍ لاروس هر یو د (هن) ماده جلا جلا خستې او په پای کښې ئې یفتلیانو ته کومه اشاره نده کړې (۲)

داوو په عمومې صورت هغه نومونه چه چین، بیزانس، فارس، عربو، او هندیفتلیانو ته ورکړی دی. دغو نومونو په عمومی ډول دیلاو بیلو مدققینو توجه جلب کړې او ځینو ئې ښه څېړنه کړی دی چه په هغو نومونو کښې یو ئې ترجیح ورکړی، او ځینو سعیه کړیده چه له دغو نومونو څخه د نوم اصلی صورت راوکاږی د بریطانیکا دائرة المعارف د دغه نوم اصل د (ایتل) یا (هیتل) سره یو شه مشابه بللی دی که چیری له یوې خوا د بیزانس او نورو لیکوالو د چینی او یونانی ژبو له خصوصیاتو څخه صرف نظر و شی او له بلې خوا د کلمې د سر (الف، ی، ه) او د هغې د منځ (پ، ف، ت) د بدلولو موضوع په نظر کښې و نیول شی لیدل کیږی چه د بریطانیکا د دائرة المعارف قضاوت صحیح دی. سر بیره پردې د افغانستان په دوو محلی ژبو کښې د دغه قوم اصلی نوم (ایتل) یا (هیتل) لغوی مفهوم هم لری ځکه چه په پښتو کښې (اتل) د پهلوان په معنی او په پارسی کښې (هیتال) د (قوی او زړه ور سړی) په معنی دی، او دغو معناګانو ته طبری هم اشاره کړې ده. نو له دی کبله ویلی شو چه د دغه قوم اصلی نوم

---

(۱) دارلی هستری اف انډیا ۳۳۹ مخ.

(۲) د بریطانیکا په دائرة المعارف کښې په ١٤ جلد په ۵۰۹ او ۵۱۰ مخ کښې او د نولسمې پیړۍ لاروس د دریم جلد په ۱۰۹٤ مخ کښې د هن ماده دې وکتل شی.

ACKU

(اپتل)ؤاو داسانی دپاره (افتل) او بیا (یفتل) شوی دی او ترنن ورځی پوری په افغانستان کښی دځای په مفهوم (یفتل) او دیفتل داو سید و نکو په لحاظ (یفتلی) معمول او موجود دی یفتلی نژاد: څرنګه چه دیو چیانو یا کوشانیانو دعرق او نژاد موضوع ترڅو موده پوری تیاره وه او په دغه باب کښی نظریات متضاد وو ، دیفتلیانو نژاد هم تر یوی زمانی پوری یو طرفه و اضح شوی نه ؤ مګر د ډیرو تحقیقاتو له کبله یو طرف په قطعی ډول ثابت شو چه یو چیان یا کوشانیان دهند و ارو پائی سیتی کتلی څخه دی او له پاسی خوا زیاتر و مدققینو دغه مطلب ته ترجیح ورکړه چه یفتلیان هم یو چی یا کوشانی څانګه ده . له دی کبله دیوی یو چی یا کوشانی څانګی له حیثه یفتلیان هم دهندو ار و پائی کورنی جز حسابیږی او کیدلی شی چه دیو چیانو یا کوشانیانو په شان دوی دهندو ارو پائی (سیتی) یا (تخاری) کتلی جز و بلل شی : دځینو محققینو نظریی چه آثار ئی په لاس کښی دی په دغه ډول دی.

(۱) پروکپ : پروکپ دبیزانس یو مؤرخ چه د میلادی پنځمی پیړی په آخر و وختو کښی ئی ژوند وون کړی او په ٥٦٢ مسیحی کال کښی مړ شوی دی او د(جوستن) دجنګونو او دساسانیانو او یفتلیانو دجنګونو په باب کښی ئی آثار لیکلی دی هغه لومړی سړی دی چه دیفتلیانو مدنی ژوندون او دپوستکی سپینوالی دهغه نورو چه څانته را ګرځولی او دوی له هو نیانو یادژیړ پوستو بربریانو څخه چه په اروپا باندی ئی چپاو و نه کړی دی جلا او متمائز شمیری . (کریستن سن) ددغی نظر یی څخه داسی تفسیر کوی . (هجوم راوړونکی هفتالیتیان چه دوی ته سپین هن هم وائی احتمالاً حقیقی هونیان نه و وځکه چه دپروکپ دعقیدی له مخی دپوستکی د سپینوالی او مدنی ژوندون په واسطه له نورو هنی قومو نو څخه جلا او متما ئز وو)(۱)

(۲) پارکر: انګلیسی پارکر چه دمرکزی آسیا او چین دبیاو بیاو قومو په جلا کولو کښی ئی ډیر تحقیقات کړی دی پخپل کتاب کښی چه (زرکاله تاتار) نومیږی په هیڅ یو ځای کښی یفتلیان د(هیوانګ نو یانو) یادژیړ پوستو هنیانو او دمغلی او ترکی قبائلو سره ګډاو مخلوط کړی ندی ، او دوی په واضح صورت دیو چی قبائلو څخه یوه څانګه شمیری .

---

(۱) ـ دساسانیانو په عصر کښی ایران د کتاب ۲۸۸ مخ

ACKU

په هغو مختلفو هوارو کښې ده د نظر یا تومتن چه پخپل منځکښې اتر کښې ئې دیفتلیانو په باب کښې بحث کړی دی په دغه ډول دی .

د(ئي تات Yi-tat)یا(یه تات Yeh-tata)تر عنوان لاندې: د مانچوی دکوزنیو تار یخ د اسې ښکاره کوي چه ننني افغانستان د پنځمې پیړۍ د ها فتهاله Fphthalit او هافتهالیتو پخوانی یوچیانو و . (۱)

دیوچی یا افتالیت تر عنوان لاندې: هیوانګ نو یان دیلی مدهشی قوي سره دغه رنګه دچین سره و جنګیدل. دغه مدهشه قوم کوچی قوم ؤ چه دچینیانو په نزد په یوچی نوم مشهور ؤ، او دا وړ دوجنګونو نه وروسته د(کانو) داتات نیمه غربی برخه ددوی په لاس ورغله. (۲)

دفاهین تر عنوان لاندې: دغه سړی بایدو ویل شي هغه وخت چه فاهین په پینځه ور کښې ؤ د کنیشکا لوډ نور و نغنتا لیتیا نو دیبر یا د ګارونه ئې په دغه ځای کښې کشف کړل . (۳)

د(یتا Ye-ta یا نئی تات Yi tat)تر عنوان لاندې: داسې معلومیږی چه د توبا Toba سیاست (٤) په دغه ډول ؤ چه ددې مانع شي چه (ژوان ژوانیان )او هفتا لیتیان د(توخون Tukuhun)سره مراوده پیدا کړی او دیا دولی له طرز څخه داسې معلومیږی چه (په دغه وخت کښې چینیانو هفتالیتیانو ته(یتات Ye-tat) یا(ایتاـ Ypta )په کانتون کښې ( یپد تات Yeh-tat)او په کوریا کښې ورته ( یوپ تل Yep-tal)ویل د پامیر یفتلیا ن نه وو بلکه هغه کوچنی تو لګی ؤ چه چینیانو به کوچنی یوچیا ن بالل(٥).

دکی پل تر عنوان لاندې: دباختر وروستی یونانی پاچا (هلیوکلس) په دغه وخت کښې مړ شوا و پاتیانو او یوچیانو سلطنت پخپل منځ کښې سره تقسیم کړ، وروسته ئې کزشو و کرار کرار د خپلې امپراطورۍ لمن ترپامیر، کشمیر او پنجاب پورې خپره کړه او دکوچیانو اواطرافیانو (بادیه نشینو) عادتونه ئې پرېښودل او ژر ئې یو مقتدر دولت تشکیل کړ چه

---

(۱) دزرکاله تاتار ۲۱ مخ.　(۲) دزرکاله تاتار اتم مخ.

(۳) دزرکاله تاتار ۶۹ مخ .　(٤) دچین سلطنتی کورنۍ ده.

(٥) دزرکاله تاتار ۱۲٤ مخ.

ACKU

په غرب کښې د هیطل ، ویدهل Vidhal ، ابدل ، افتالیت یا هفتالیت دامپراطوری په نامه مشهور شو . اروپائي ، فارسي او چیني لیکوال تر ل د دغا مقصد په تائید کښې کامله سره متفق دي . په رښتیا چه د دا نچو د شاهي کورنیو مؤرخین بیان کوي چه نننی افغانستان د نننجمي پیړی (افتهاه) ؤ ، او (افتها) پخواني یوچي دي . (١)

٣ـ سر پرسي سایکس : د فارس د تاریخ مؤلف یفتلیان د یوچي قوم له جملې څخه شمیري ، دی د افغانستان د تاریخ په اول جلد کښې د افتالیتیانو یاد سپینو هنیانو دا صلیت تر عنوان لاندې او د فارس د تاریخ په اومړي جلد کښې د سپینو هنیانو دراتګ تر عنوان لاندې خپل نظریات داسې لیکي : د چین سالنامې یو نژته خبر را کوي چه دا و یوچیانو څخه یوه څانګه په هـ ، وHea یا هراتونHi a.tun سره مشهوره ده او په اصل کښې ئې د چین د ستر دیوال په شمال کښې استوګنه درلوده او د ژوان ژوانیانو یادهغو کسانو تابع وو چه ورو سته بیا په اروپا کښې د(اواریانو) په نامه مشهور شول (دوا) کرار کرار یوه قوي قبیله وګرځیدله او دخپلې شاهي کورنۍ د نوم په اثر ئې ځان (یه تها ) Ye.tha وباله او له دغه ځای نه دافتالیت اصطلاح پیدا شوه او دد غی اصطلاح اطلاق د یونانیانو له خوا په هغوی باندې کیده ، فارسیانو به نوی ته هیطل او بیزانتیانو به نوی ته (سپین هن) ویل ددغې مسئلې په باب کښې پروکوپس procopuis ویلي دي چه په هنیانو کښې دوی یوازې هغه قوم و چه سپین پوستکي ئې درلود ژبه ئې هم هندواروپائي ژبه وه ، افتالیتیان له ختن نه د غرب خواته د ٤٢٥ په شاوخوا کښې وخوځیدل او یوه داسې امپراطوري ئې تشکیله کړه چه له ننني چیني ترکستان نه دفارس تر سرحدو پورې له دیرشو نه زیاتو ایالتونو مشتمله وه چه دافغانستان ولایتونو ورځنی نمایندګي کولي شي (٢)

ده مدغې موضوع په باب کښې دفارس د تاریخ په اومړي جلد کښې داسې لیکي : پخواله دې دیوچیانو په باب کښې وویل شول چه نوي په ١٦٣ ق م کال کښې ساکیان وایستل او د تارم

---

(١) د زرکاله تاتار ١٣٩ مخ .

(٢) دافغانستان د تاریخ لومړی جلد ١٣٤ مخ :

ACKU

په حوزه کښې ئې د هغوی ځای ونیو په ۱۲۰ ق م کال کښې یوچیانو ساکیان له باختر نه وایستل او هغه ځای ئې هم ونیو او خپل مرکزئې خونسله په دغه ځای کښې و تاکه په ۱۶۳ ق م کښې د هغوی له قبائلو څخه یوی قبیلې چه کوی شوانگ نومیده له نورو قبائلو د ځان تابع کړل او یو داسې ملت ئې تشکیل کړ چه د رومیانو په نزد به کوشان سره مشهور شول انتونی Antony دغه قوم ته یو سفیر واستاوه او کوشانی رئیسان د اگوست د سلطنت په زمانه کښې روم ته لاړل د هغوی قواوی په تدریج سره ضعیفه شوی او په پای کښې یو قوم د هغوی ځای ونیو چه چینیانو ورته یتا Yetha او کلاسیکی لیکوالو ورته نتالیت یا سپین هن او فارسیانو ورته (هیطل) ویلی دی داسی معلومیږی چه دغه نوم په دغو دریو اړو صورتونو کښې له (یتای لیتو) (Ye-tai-li-to) د کلمې څخه چه د رئیس په معنی دی مشتق شوی وی. نوی راغلی خلک او کوشانیان که څه هم له یوی قولنی څخه حسابیږی مگر له دغه وروسته ذکر شوی قوم نه چه دوی ئې د باندې وشړل جلا او متمایز و. دغه توی قبیله له اکسوس نه د ٤۲٥ کال په شاوخوا کښې تیره شوه او د فارسی مورخینو دلیکنو له مخې د دوی د چپاوو نو خبر لوی اغتشاشونه پیدا کړل (۱)

(٤) کریستن سن : کریستن سن دنمارکی مدقق (دساسانیانو په زمانه کښې ایران) په کتاب کښې طبعاً له هغو جنگونو څخه چه د ساسانیانو او یفتلیانو په منځ کښې شوی دی منصل بحث کوی چه په خپل ځای کښې به ور څخه استفاده وکړو، هغه څه چه د یفتلیانو د نژاد په باب کښې لیکی په دغه ډول دی چه دوی حقیقی هن نه و لکه چه وائی : سره ددی فیروز کیداریان کامله مضمحل کړل او د کنگاس سره ئې گندهار ته مهاجرت وکړ په دغه منځ کښې یو بل قوم چه هفتالیت نومیږی او د چین د کانسو Kan-su له ایالت نه راغلی و د تخارستان په شاوخوا ئې یو باندې چه کیداریانو هغه خوشې کړی و هجوم راوړ. هفتالیتیان چه دوی ته سپین هن هم وایی غالباً حقیقی او رښتیانی هن نه و ځکه چه د ترکیب د عقیدې له مخې د پوستکی د سپینوالی او مدنی ژوند په لحاظ د هنی له نورو قومونه جلا وو (۲)

---

(۱) دفارس دتاریخ داومړی جلد ٤۳۳. مخ

(۲) دساسانیانو په عصر کښې ایران دفرانسوی متن ۲۸۸ مخ

(٥) ونسنت سميت : انګليسي ونسنت سميت د اسکندر د فتوحاتو او د هند د پخوانی تاريخ دکتاب او د (اکسفورډ هستري آف انډيا) دکتاب مولف يغتليان د نژاد په لحاظ له ژيړ پوستو هنيانو څخه جلا او متمايز شميري ، او د هند په پخوانی تاريخ کښی په دغه باب کښی داسی نظريه وړاندی کوی : په آسيا کښی د هنيانو ساطې د يو ه مود ه د وام وکړ هغه ځانګي چه د آکسوس په دره کښی ميشت او ځای په ځای شوی غالباً د نژاد په لحاظ جلا وی ځکه چه د افتاليت يا (سپين هن) په نامه ياد شوی دی دوی په تدريج سره د فارسيانو مقاومت مات کړ او په فيروز باندی غالب شول او دغه سړی په ٤٨٤ کال کښی ووژل شو له دغو سپينو هنيانو څخه يوی برخی د کابل د کوشانيانو په سلطنت او له دغه ځا يه په هند باندی حمله وکړه . (١)

٥ ٥ ٥

(٦) بارتولد : بارتولد يو روسی محقق دی چه د توران د ځايو او د مرکزی او منځنی آسيا او د باختر د تاريخ په برخه کښی د لوار پيژند ګلوی کښی مصيب نظريات لری يفتليان له (يوچيانو) يا (تخاريانو) څخه يو شاخ بولی چه دغه دواړه يو شی دی :

دغه محقق په دغه باب کښی د ايران په تاريخی جغرافيا کښی وائی چه : (له پنځمی پيړی څخه د سپينو هونيانو يا يفتليانو طله په نامه د يو قوم سلطنت او سيا د ت شروع کيږی او دغه طايفه د زياتو روايانو په عقيده له (يواچژی يانو) او يا (تخاريانو) څخه يوه څانګه او شاخ و . (٢)

٥ ٥ ٥

په هغه صورت کښی چه دغه نظريات تلفيق او خلاصه شی داسی نتيجه په لاس راځی چه (کريستن سن) او (سرپرسيسا يکس) د (پروکپ) د نظرياتو په اساس يفتليان هغه قوم بولی چه سپين پوستکی او منځنی ژوندئی درلوداو ژبه ئی له هند وارو پائی څخه وه او په دغو دلائلو د حقيقی هنيانو يا ژيړ پوستو هنيانو جز نه شميرل کيږی ، د ونسنت سميت نظر په هم هغه دول د ه

(١) دارلی هستری آف انډيا ٣٣٤ مخ

(٢) دايران د تاريخی جغرافيا ٦٥ مخ

ACKU

چه یفتلیان د نژاد په لحاظ له هنیانو نه جلا وو «پار کړ» او سربېره پر سیسا یکسی یفتلیان دیو چیانو یوه څانګه شمیري او په پای کښې ئې تولد دیرو مدققو پوهانو د عقیدې له مخې هغوی دیو چي تخاري کتلي جز بولي د دغو نظریاتو په اساس متها جم او جګړه مار یفتلیان هغه قوم و چه سپین پوست او مدني ژوند او هند و اروپائي ژبه ئې درلوده او دیو چي یا کوشاني تخاري کتلي څخه یو ښاخ و، او هرکله چه دیو چیانو (هیوانګ نو یانو) سره د جنګونو نه وروسته د چین (دکانسو) له ایالات نه د اسیا د غرب خوا ته مهاجرت وکړ په مرکزي آسیا کښې د وه ښاخو نه شول چه یو د (تهایو چي) یاد (او یو یو چیانو) په نامه کرارکرار د تاژم، سرد ریا او دآمو سیند حوزې ته او په آخر کښې باختر ته راغی او د خپلې یوې قبیلې په نامه ئې چه کوي شوانګ نومیده په آریانا کښې کوشاني امارات، دولت او امپراطوري جوړه کړه.

او بل ښاخ د کوچنیو یو چیانو په نامه یو څه موده په مرکزي آسیا کښې د تبت د غرو نو په شاوخوا کښې پاتې شو چه په وروسته تاریخ کښې ئې د خپلو پخوانیو خلکو (متقدمینو) لارونیو له او یفتلیان دیو چیو چي تخاري څانګې په حیث له همدغو کوچنیو یوچیانو نه متصدي چه د ۳۸۵ او ۴۲۰ تر منځ کالو نو کښې د اکسوس حوزې او باختر ته ورسیدل، یفتلیان د کوشانیانو په شان له باختر نه کرارکرار د هندوکش په دیارو خوا کښې سره تیت شول او د کوشانیانو په شان ئې په آریانا کښې یو مقتدر دولت او امپراطوري تشکیل کړه مګر دومره چه د کوشاني امپراطورۍ عمر اوږد او د یفتلیانو د سلطنت نوره ناوه. څرنګه چه د کوشاني ستري امپراطورۍ د ختمیدو نه وروسته محلي امراء نژادي عناصر او د هغوی نوم و نشان د افغانستان بیلو بیلو برخو کښې پاتې شول یفتلیان هم د خپلې امپراطورۍ له سقوط او د ساسانیانو او ترکانو له خوا د هغې له تجزیې نه وروسته بیخي له منځه ونه تلل د دوی محلي امیران په کاپیسا، غرجستان، تخارستان جوزجان، بادغیس، بامیانو او په تیره بیا په بدخشان کښې پاتې شول. لکه چه په بدخشان کښې د اوسني فیض آباد په شمال کښې یو لوی کلي د (یفتل) په نامه اوس هم موجود دی، او اوسیدونکي ئې د پخوانیو یفتلیانو له اولادې څخه شمیرل کیږي.

---

۱ د ایران د تاریخ جغرافیا ۶۵ مخ.

په آریانا کښې د یفتلي دولت تشکیل: لکه چه و لیدل شو یفتلیان د ۳۸۰ او ۴۲۰ کالو نو

په شانو خوا کښې د آریانا په شمال کښې د آمو سیند د ښي غاړې په ناو وکښې پیدا شوي او د کوشانو د حوزې په بیرې برخې ئې و نیولې. څرنګه چه لوی کوشانیان په لومړي قدم پیریه کښې (تاهیا) یعنی باختر ته راغلل یفتلیان هم د ۴۲۰ او ۴۲۵ کالو نو په منځ کښې د جیحون له ښي غاړې څخه راتیر شول او په (تاهیا) یعنی باختر کښې میشت او ځای په ځای پر یوتل. څرنګه چه د باختر په برخو کښې د ستر و یو چیانو د سلطنت لومړي وختونه تیاره دي او یو څه مو د د دوی د پنځو قبیلو رئیسانو رئیس په حیث د هندوکش د شمال په بیلو بیلو علاقو باندې آمریت درلود تر دې چه د (کوی شوانګ) قبیلې په څلورو نورو قبیلو باندې حاکمیت پیدا او غالبه شوه او قواؤ ئې تمرکز و موند او د وضعیت ئې او رهم یې څرګنده او واضح شوه او د وروسته ذکر شوې قبیلې رئیس د کوشانی سلطنت بنسټ کیښود او کوشانی ملت ، دولت او امپراطورۍ میدان ته راووتله. په باختر کښې د یفتلیانو د وضعیت لومړي وختونه له دې نه هم د پر مبهم او تیاره دي خو تر کوم ځای پورې چه له واقعاتو نه معلومیږي ویلی شو چه د دوی قبیلو مشرانو هم په وختو کښې هر یو په یوه علاقه باندې نفوذ درلود تر دې چه یوې قبیلې ئې چه (ینا) یا (ایتل) نومیدله نورې قبیلې د ځان تابع کړې او د دغې قبیلې مشر د (ایتالیتو) په لقب چه معنی ئې رئیس او پاچا شو او یفتلي ملت ، دولت او امپراطوري ئې جوړه کړه او خارجي وجود او شهرت ئې پیدا کړ او تر دې ... رو کلونو پورې خارجي منابعو یفتلي پادشاهان په عامه د (ایتالینو) یا د (افتالیتو نوس) په عام لقب یاد کړي دي.

هغه وخت چه د لومړي قدم په پیریه کښې په اول لیما ئې کښې د (کوی شوانګ) قبیلې په باختر کښې د سلطنت په جوړولو بیل کاوه د هندوکش په جنوب کښې د یونان او باختري پادشاهانو او لا دې په کاپیسا کښې م علی اثار تو نه در لودل چه زړ له منځه و تلل، او د لمر لویدیزې خوا نه غربي پارتیانو د ننه په آریانا کښې تیري او تجاوز کړی ؤ چه اسکثي پادشاهانو هغوی شاته وهل. هغه وخت چه یفتلیانو په باختر او تخارستان کښې د سلطنت د تشکیل بنسټ کیښود، د هندوکش په جنوب کښې کیداری کوشانیانو یو کوچنی سلطنت درلود. او د لمر پریوا نه خوا نه ساسانیانو له خپل اقتدار نه کار و اخست او د دوی

ACKU

خطر بلخ ته تر نژدې شاؤخوا لځايو پورې حس کېده. يوالحې هغه کوچنی فرق چه په منځ کښې موجود ؤ داؤ چه غربي پارتيان ئې دا ساسانيانو دکوشاني سلطنت د پيدا کېدو نه پخوا اشاته وو هل او دهندوي نژدې په پارتيا کښې کم او محدود کړي ؤ، او کوشانيان دآريانا دخاورې ديو کوچني برخه سمدستي دهندوکش جنوب ته متوجه شول. او ديفتلي د ولت دپيدا کېدو په زمانه کښې دساسانيانو خطر سمدستي او دهغه دفع کول دخاورې ديو کوچني په نسبت ډېر ضروري شمېرل کېده .

په دغه ترتيب دخارجي حملې ددفع کول او په لحاظ دهندوکش دجنوب دکښېدارې کوچني دولت مقصد او دتخارستان او باختر ديفتلي دولت مقصد يوشي ؤ. په دغه اساس ديفتلي او مړي پاچا اقدامات چه هيڅ مأخذ ده نوم ندی ليکلی او دلته لکه چه ذکر شول هغه د(ايتاليتو) يا (افتاليتوس) د رئيس په لقب يادوو ، دوو نظريو ته متوجه شول ، يو هدا وه چه دآريانا په شمال شرقي برخو کښې په سغديانا او باختر او دبدخشان په برخو کښې په هغو منطقو کښې دخپل دولت بنسټ ټينګ کړي چه دهغه وخت په مفهوم په پوره کلمه هغه تخارستان بللی شو. او بله دا وه چه دساسانيانو دخطر ددفع کولو دپاره سمدستي تيارې ونيسي .

ايتاليتو يا يفتلي رئيس چه د بيزانس ليکوال ودپوهانې ژبې په اصول هغه «افتاليتوس» بللی دی دڅلورمې پېړۍ په آخرو وختو او دپنځمې پېړۍ په لومړيو وختو کښې د٤٢٥ م کال په شاوخوا کښې په تخارستان کښې شاهي تاج په سر کېښود، دا يتاليتو دسلطنت په دوره کښې ديفتلي دولت ټينګ ژبه تخارستان، باختر او سغديانا کښې د آمو د سيند په دواړو غاړو کښې خپور شو او حتی ددغه سيند په شمال کښې د مرو تر شاوخوا او هم رسېدلی و.

# د آریانا یفتلي دولت او ساسانیان

لکه چه د کیدار یانو په فصل کښي بیان شول دا وبو کوشانیانو د کورنۍ او ساسانی دستو ځ په زمانه کښي دوا سو دوا د سلطنت د ختمیدو په وخت د ۲۲۰ مسیحي په شاو خوا کښي په اردشیر بابکان سره د ساسانیانو سلطنت په ۲۲۴ م میحي کښي شروع شو ساسانیانو له خپل اقتد ار او د او و کوشانیانو د دولت له سقوط څخه استفاده و کړه او دا ول شاپور له زمانی څخه ئي په لمر اوید یز خراسان باندی چپاو ونه وکړل ، وروسته تر دی چه ځینی فتوحات ئي وکړل د خراسان په نیو لو بر خو کښي ئي د ( کوشانشاه ) په عنوان امیران مقرر ول چه د کوشانی دولت په نسبت پخپله د هغوی سیاست معرفی کوی د دوهم شاهپور پا زمانه کښي «۳۰۹-۳۷۹» د آریانا په خاور و کښي د هغوی تیری او تجاو زونه زیات شول او یو و زمانه د شاپور نفوذ د کابل تر شاو خوا پوری حس کیده ، مگر داوبو کوشانیانو او لا دی که په کابل کښي و و او که په باختر کښي د هغوی سره مدام مقابله او مقاومت درلود د غو کوشانیانو باختر ی څانګی چه په تاریخ کښي زیاتره د کیدار یانو په نامه مشهوری دی د ساسانیا و د دیر فشار په اثر چه د بلخ شاو خواته رسیدلي و ، داسی فیصله و کړه چه د کابل د کوشانیانو سره یو ځای شی او به ګډه د لمر لویدیز متجاوز سره مقابله و کړی .

د کابل کیدار یانو او ساسانیانو پخپل منځ کښي سره دیر جنګونه وکړل چه نتیجې ئي بو طرفه معلومی نه دی او هر کله چه په آخره کښي خپل مرکز په پیښور کښي تا کی نو احتمال لری چه د بلخ . کابل د خط په غرب کښي تقریباً د مملکت په نیمه غربی بر خه کښي د ساسانیا نو نفوذ خپور شوی وی یفتلیان د داسی وضعیت سره مخامخ شول .

افتالیټ او بهرام گور : یفتلي دولت د ۴۲۵ په شاو خوا کښي د آریانا په شمال شرقی

---

منطقه کښي منځ ته راغی او د لته و ترتیبا تو د نیولو نه وروسته ئي دو مره قوت پیدا کړ چه د ساساني دولت سره مقابل واقع شی ، تر د غو وخت پوری د یفتلیانو او ساسانیانو تر منځ جنګونو په هر دول او په هره منطقه کښي چه و وکه د آموسیند په جنوب کښي و وا وکه په شمال کښي محلی شکل درلود . او جدی مرحله ئي د بهرام گور د سلطنت په زمانه کښي شروع شوه .

ACKU

بهرام گور چه د سلطنت له ابتدا څخه (۴۲۱ م) د یفتلي تهاجم د خطر څخه ډ ګاو ه او له بلې خوا نې د ارمنستان په مسئله باندې د بیزانس له دولت سره مخالفت در لوده او د شرقي روم له دولت سره ئې لنډه جګړه شروع کړه او د دغه تړون په کولو سره ئې چه په ارمنستان باندې د ساسانیانو قبضه ئې بیزندله د غرب له خوا خیال زړه جمع کړ چه په دې له تووه لمر ختیزې خواته متوجه شي (افتالیتو) یفتلي پاچاچه له بده مرغه هیڅ بوه أخذ ده شخصي نوم ندي اخیستی ایطبری ئې هغه بواځې د (خاقان) په لقب یاد کړي دی ددوه نیمو لکو عسکرو په مشرۍ له باختر نه د غرب خوا ته روان شو او په هغه لومړي جنبش کې چه یفتلیانو د ساسانیانو په ضد ادیو دولت په حیث وکړ د مارجیانه تر حوزې پورې د ساسانیانو د ځدي متاومت سره مخامخ نه شول. بهرام ګور څرنګه چه له بحراني حالاتو نه خبر شو خپل ورور ه نرسه Narse ئې د نائب السلطنه په حیث په خپل ځای مقرر کړ، او په خپله د لښکرو سره د مقابلې دپاره ورووت : او ددا مرو په شاوخوا جلګو کښې د واړه لښکري سره مخامخ شوي په دغه جنګ کښې چه د یفتلي دولت او ساسانیانو تر منځ لومړۍ زوروره او سخته جګړه بلل شو بهرام ګور غالب او بریالی شو او یفتلي عسکر په شا لاړل او یفتلي پاچاهم د بهرام ګور له خوا ووژل شو ، او د هغه تاج بهرام په آذربایجان کښې د شیز د ښار آذر گشنسپ په آتشکده کې ته ورکړ (۱) طبري د دې پېښې بیان داسې لیکي : د ترکو خاقان ، یعنی «یفتلي خاقان» د دوه نیمو لکو عسکرو سره د بهرام ګور په ضد پوره ته شو بهرام په دغه وخت کښې په عیش او عشرت او تفریح بوخت او د ملت افرادو هغه منع کړ ، ددې په ځای چه متنبه او بیدار شي په دغه کار کښې زیات مشغول شو مګر په عین زمان کښې ئې د لښکرو په برابرو لو پیل وکړ او خپل ورور (نرسي) ئې نائب السلطنه مقرر کړ او په خپله د عبادت د مراسمو د اجرا کولو دپاره د (آذربایجان) آتشکدې ته روان شو د ټول ملت دغه حال د بهرام ګور د ضعف دلیل وباله او په دې راضي شول چه د (یفتلي

---

(۱) د پخوانې فارس او ایراني مدنیت ) د (کلمان هارت) د تالیف ۱۶۵ مخ - د آسیا تاریخ د اول جلد د (رونه ګروسه) د تالیف ۹۳ مخ د (ساسانیانو په زمانه کښې ایران) د فرانسوي متن د (ګرېستن سن) د تالیف ۲۷۵ مخ.

خاقان) اطاعت او متابعت قبول کړی او هغه ته خراج ورکړی دغه خاقان هم دمات له راپې
نه خبر شو او د فارس د ممالکت او لښکرو په ضد دیر غل او حملې کولو اراده ئې صادر وله نه
وګرځید بهرام چه په فارس باندی د (یفتلیانو) د حملې دنه کولو نه خبر شو له فرصت نه
ئې استفاده وکړه او د هیاطله وو په لښکرو باندی ئې سخت یرغل او هجوم وکړ خاقان هغوی
و نیول او وی وژل د دوی د لښکرو نه یوه برخه و وژل شوه او ځینې پټ او و تښتیدل
او یو شمیر کسان د بهرام تر سلطې لاندی و رغلل په دغه جګړه کښې ډیر عسکری او از ماوزیات
غنیمتونه او ولجې د بهرام په لاس ورغلې او په دغه جمله کښې د دغه خاقان یو تاج وُ چه
په قیمتی جواهراتو جړ او او ښکلی شوی وُ او بهرام هغه د آذربایجان آتشکدی ته ورکړ (۱):
مهرپور او دوهم یزدګرد: کله چه هم یفتلی دولت د بهرام ګور د حملې په واسطه سخته

ماتې وکړه او یفتلی لښکری د مرغاب له مجری څخه باختر او تخارستان ته په شالا رپې او
ساسانیان بیا تر باختره پوری مخکښې راغلل مګر دغه ماتې د یفتلی دولت د نظامی قوا وُ
ډیر قوی کیدو باعث شوه او په دارمنستان کښې د ډیر انس د دولت او ساسانیانو تر منځ بیا
جنګونو چه د مسیحیو نو د وژل کیدو په اثر پیښ شوی وو د آریانا د یفتلی دولت و اکمنو ته
ښه وقع ور کړه چه د مافاته تلافی وکړی او بیا د ساسانیانو د مقابلې او شاته وهلو د پاره تیار
او حاضر شی: د بهرام ګور زوی (دوهم یزدګرد) چه په ٤٣٨ کښې په تخت باندی کیناست
دخپل پلار په شان دلمر لویدیزی خوا نه د رومیانو او دلمرختیزی خوا نه د آریانا د یفتلی
دولت د حملو د خطر سره مخامخ شو. له بده مرغه د منابعو د چوپ والی او د څه نه ویلو په
واسطه بیا په واضح او قطعی ډول و یلی نه شو چه هغه ... پاچا چه د جګړې د پاره تیار شوی وُ
څه نومیده، آیا دوژل شوی پاچا زوی وُ او که بل څوک. ... د بدخشي ناظم د تذکری
یو قلمی ... خلاصه لا تر اوسه پوری چاپ شوی نه دی او په جناب شاه عبدالله خان بدخشي
پوری اړه لری د دغه پاچا د (مهرپور) په نامه یادوی چه د (مهراکولا) نه په غیر بل پاچا دی.
د پیښو د ګذار شاتو نه واضحه معلومیږی چه د آریانا یفتلی دولت د (مهرپور) په زمانه کښې
ډیر قوی شوی وُ. کله چه هم د یفتلیانو او ساسانیانو د دوهم جنګ د پیښیدو د صورت او ځای

(۲) تاریخ الامم والملوك دوهم جلد د مصر د چاپ ۷۸ - ۷۹ - ۸۰ مخ.

په باب کښې دلو مړ ی جنګ په شان جزئیات په لاس نه دی راغلی مګر سره له دې نو ل منابع په دې متفق دی چه دوهم یزدګرد ماتې وکړه او په شالاړ . (کلمان هارت ) او (ارتور کریستن سن) د ګوشانیانو) او (کیدار یانو ) سره ددوهم یزدګرد له جنګ څخه بحث کوی چه په دغه زمانه کښې له دغو دواړو څخه مقصد (یفتلیان) دی . لو مړ ی سړ ی وائی : (په هغه زمانه کی چه ساسانیان په ارمنستان کښې دزورراستر یزم د دین دغلبې دپاره دنقشې په جوړ ولو بوخت وو په هغه ځای کښې انقلاب پیدا شو ، په دغه وخت کښې یزدګرد دکوشانیانو له خوا نوې ماتې خوړلې وه ) (۱)

(ګریستن سن) د دغې زمانې د پېښو په باب کښې داسې لیکی چه : (د مسیحی روحانیو نو جواب یزدګرد ته ورسید د ارمنی سترې کور نۍ مشرانئې وغوښتل او بندیان ئې کړل ، دوی پخوا له دې نه په خپل خدای قسم کړ ی و چه په خپل دین ټینګ پاتې شی ، او هر هغه چه د پاچا له خوا ورباندې مقرر او تحمیل شی هغه و زغمی او په غاړه ئې واخلی په دغه وخت کښې یزدګرد دکوشانیانو یعنی دهغو بربری قومو په ضد په جګړه بوخت و چه : دکوشانیانو په پخوانی هیواد کښې ئې ځای نیولی و ، یزدګرد دارمنی رئیسانو او مشرانو افتخاری عنوانونه او جایدادونه هغوی ته بیرته ور کول او خو تنه ئې ور څخه دیر غمال په دول وساتل او او هسو ه تنه مغانیان ئې د مغان د رئیس تر نظارت لاندې ارمنستان ته ور لیږ ل چه خلک دزوراستری په دین راواړوی . سره ددې یزدګرد چو ل دعلاقې دهنیانو پاچاته چه دګرګان په شمال کښې و ، ماتې ورکړه او دهغوی ځمکې ئې ونیولې او په هغه ځای کښې ئې د( یزدګرد شهرستان ) ودان او جوړ کړ او دسرحد په شاو خوا کښې چه دبر بریانو له خوا ورباندې چپاو ونه کیدل څو کلونه کښیناست ، و روسته بیا هغه وخت چه د «هنی» یاد « خیونی » کیداری نامو قبائلو چپاو ونه او حملې په لمرختیز ه خوا کښې د طالقانو په علاقه کښې پیل اشو ی هغه ئې و سلې اخستلو ته مجبو ر کړ (۲) «ر و نه ګروسه» په دغه باب کښې د اسې وائی چه : «دفارس پاچا دوهم یزدګرد (٤٥٦ - ٣٨٤) وغوښتل چه د یفتلیانو دحملو او چپاوونو مخه ونیسی او خاتمه ورکړ ی مګر دهغوی له خوا مغلوب شو (۳) همدانی عبدالله رازی په خپل کتاب کښې

---

(۱) د پخوانی فارسی او ایرانی مدنیت دکتاب دفرانسوی کلمان هارت د تالیف ۱٥۷ مخ .

(۲) دساسانیانو په زمانه کښې ایران دکتاب ۲۸۲ مخ

(۳) د آسیا تاریخ داول جلد ۹٤ مخ

ACKU

چه دایران اثتار یخ نو یز ی وائی چه: «ددغی الهی گولی د ختمیدو نه وروسته یزدگرد د هیتا طایفه و لوپیه د دفع کولو لاس پوری کړ او په اول کښی ئی پر هغو تنگ وکړ مگر کوم وخت چه له جیحون نه پوریووت او تیرشو هیا طله روی قوی زړه دراود په مقابله ئی شروع وکړه او هغه ته ئی سخته ماتی ورکړه او مجبور شو چه دخپل هیواد سرحدته بیرته راوگرځی ، ددی پیښی نه وروسته څه دیره موده تیره نه شوه چه یزدگر دمړ شو ، لنده داچه ددغو توالو مأخذو له مخی داسی نتیجه په لاس راتلی شی چه یفتلی دولت د «مهرپور» د سلطنت په زمانه کښی په ساسانیانو باندی له حملی نه وزگار او فارغ شوی ندی تر تل به ئی دیز دگرد دزړه د پریشانی اونشویشی اسباب برابرول ، او دیوی زمانی جنگونو او الوگولونه وروسته آخر ئی دطالقانو په شاوخوا کی کښی چه دمرغاب دحوزی له طالقانو څخه مقصد دی دوهم یزدگرد ته ماتی ورکړه او دباختر هغه برخی ځمکی ئی چه بهرام گور نیولی وی بیرته په لاس راوړی ، او دغه کامیابی دمهرپور دسلطنت په زمانه کښی دآریانا د یفتلی دولت په نصیب شوه .

آخشنور: د ٤٢٥ مسیحی سنی نه وروسته یعنی دآریانا دیفتلی دولت له تشکیل نه

---

وروسته د ٤٥٧ تر شاوخوا پوری چه ددوهم یزدگرد دمرگ کال دی ومولیدل چه دآریانا یفتلی دولت او پادشاهان ئی (افتالیتو) او (مهرپور) دبهرام گورا و دوهم یزدگرد سره په جنگونو بوخت وو ـ او دهغی فتحی په نتیجه کښی چه په دوهم جنگ کښی دیفتلی دولت په نصیب شوه تواوی ئی تقویه شوی ، پوره معلومه نه ده چه دغه وضعیت د (مهرپور) تر سلطنت لاندی ترکوم وخت پوری دوام وکړ هغه شی چه معلی شوی دی دادی چه د ٤٦٠ مسیحی کال له شاوخوا څخه راوروسته یو مقتدر پاچا دآریانا په تخت کیناست چه هغه (آخشنور) ؤ.

داخشنور دکلمی لفظی معنی (له گوهرونه دکی) ده ، او فارسی او عربی کتاب په یوه نقطه کښی دکلمی آخره (ر) په (ز) بدله کړی او دکلمی دسر الف ئی دیو وروستی حرف نه دمخه وړی دی او دهغی نه ئی (خشنواز) جوړ کړی دی چه په ځینو مأخذو کښی داخشنور دنوم په ځای یاد هغه مرا دف استعمال شوی دی.

اخشنور یو پوه ، بصیر ، لیری نظر کوونکی او فعال سړی ؤ او دیفتلي پښتنو پاچاهانو په نسبت ئي ډېره پوره او پراخ نظر سره د آریانا او دگاونډیو هیوادو داخلي حالات تر نظر لاندې ساتل او ددې د زماني د ټولو دعمومیانو له مخې معلومېږي چه دده اداري ، نظامي او سیاسي اقدامات دیوې سنجول شوي نقشې په اساس شوي دي چه تفصیل او بیان به ئي کرار کرار وګورو . اخشنور د آریانا دخه او ري دیو کولو نقشه دخپل جلوس له ابتدائه په نظر کښې در اوده مګر هر کله چه په دغه مطالب پوره پوه شوي ؤ چه تر څو سا سانیان د وسائل په زور کا ماه مضمحل او پوره ماتې ونه کړي له خپلو متجاوزو حملو نه بهلاس وانه خلي . و روسته تر دې چه داخلي چارو ته ئي یو څه لږه توجه وکړه دهغوی دماتولو او مضمحل کولو دپاره ئي تیاري وکړه دپاچاهانو سره ئي په جګړو او دترونو په کولو لاس پوري کړ چه بیان به ئي وروسته راشي .

د آریانا یفتلي دولت لکه چه دمملکت دتاریخ په زیاترو پښتوالیو او نورو نورو کښې لیدل کېږي داخشنور په زمانه کښې ئي دآب وهوا په لحاظ دوه مرکزونه درلودل چه یو دژمي ؤ او بل ددوبي او اوړي چه اوړي ئي د باختر دبلخ په ښار کښې او دوهم ئي دبدخشان په یو ښار کښې چه نوم ئي واضح او معلوم ندی ، اخشنور او د یفتلي دولت واکمنو عموماً دوبي دمملکت په سرو او یخو ځایو کښې او ژمي به ئي په تودو او ګرمو ناطو کښې تیراوه ، او هر کله چه دمملکت پاچا او دقوم مشرانو او نجبا وو به په سلطنتي لوړو ماڼیو او مجللو ودانیو کښې استوګنه کوله نو دیو ځای نه بل ځای ته دهغوی لیږ دیال څه مشکلات نه درلودل .

اخشنور او ساساني فیروز : دوهم یزدګرد لکه چه وایلئ شول دعمر تر آخره

پوري دیفتلیانو له تهدید اتو او حملو څخه کړ او آرام کښیناست تر څو چه په ٤٥٧م کال کښې مړ شو ، دده زامن دریم هرمز د او فیروز هر یو دخپل پلار دسلطنت مدعي او طلبګار شو . که څه هم دریم هرمز دمشرو رورد فیروز دلیري والي څخه چه واڅي په (ري) کښې ؤ استفاده وکړه او پاچائي اعلان ئي وکړ مګر ورور ئي راضي او قانع

نه شو اوهٔوه کاله وروسته په ٤٥٩ کال کښې دهغان او مشرانو په مرسته پیا چاڼي تسه ورسید هغه وخت چه ساساني شهزادګانو دخپل پلار په تخت ؤ تاج باندي جګړه در اوده په آریانا کښې یوبوه او مقتدر یفتلي پاچا سلطنت کاوه او نوی دځینو داخلي اصلاحاتو دسرته رسولو څخه خلاص شوی ؤ (۱) په دغه وخت کښې دیفتلي دولت نفوذ تیر شوی او له غربي طالقانو څخه باد غیس او هرات ته هم رسیدلی ؤ .

داخشنوراوفیروزلومړی جنګ : داخشنور اوفیروز اول جنګ چه د یفتلي

---

دولت اوساسانیانو دریم جنګ دی له دوو پخوانیوجنګونو څخه په مراتبو ډیرسخت ؤ ، او دیفتلي دولت نفوذ په دغه وخت کښې دهریرو دتر حوزي پوري خپور شوی ؤ .

دیراحتمال لري چه دغه جنګ په هغو سرحدي دښتو کښې شوی وی چه دافغانستان اوفارس ترمنځ واقع دی . دځینو ماخذو له مخې دغه دول هم معلومیږي چه یفتلیانو له ځینو جنګي تګبیرو یعني خدعو نه هم کار اخستی وی لکه چه دکوم یفتلي وزیر یا د یو جاسوس قصه کوي ساساني عسکر ئي په لویو دښتو کښې سرګردان اوورک کړل په هرحال هغه څه چه دشرق او غرب دمؤرخینو او واقعه لیکونکو په نزد مسلم دی دادی چه دهغه لوی جنګ په نتیجه کښې چه داخشنور اوفیروز ترمنځ وشو ساساني لښکر وسخته ماتې وکړه اود دوی پاچا اود پاچا زوی (قباد) ئي د ځینو ساساني مشرانو سره چه په دغه جمله کښې ځیني ښځې او دفیروز لور هم وه بندیانو نیول یفتلي پاچا (اخشنور) ساساني پاچا (فیروز) او دجنګ نور بندیان دځان سره رامخکښې کړل او په فاتحانه دول او بریالي دخپل مملکت مرکزته بیرته راغی :

دفیروز عهداو تړون : اخشنور دخپل مغلوب دښمن سره ډیر مړدانه اوښه وضعیت
...................................

---

(۱) ځیني ماخذونه وائي هرکله چه ساساني شهزادګان پخپل منځ کښې سره مخالف شول فیروز دآریانادولت ته داخشنور په نزد پناه ور وړه اود ده له خوا د غربي طالقانو دولایت نائب الحکومه مقرر شو مګر فارس ته بیرته لاړ او داخشنور پخلاف ئي په جګړه لاس پوري کړ . ګریستن سن دغه مطالب چه طبري بیان کړي دي افسانه بولي او وائي چه یفتلیانو ته دقباد د تسلیمیدو دپیښي له مخې جوړه شوي ده :

وکړاو دفارس پاچااو دشاهی کورنۍ ټولي غړی او ساساني مشرانو ته ئې په ډېره عزت او احترام سره مسائل، ددې دپاره چه دغه فتحه شخصي فتح نه بلکه دساساني فارس په مملکت باندې دآریانادمملکت فتح او غلبه وګڼله شي دفیروز دپاره ئې دمذاکراتو او خبرو اترو لاره پرانستلې پرېښوده، فیروز دآریانادیفتلي دولت سره دله مخا لفت نه دټولو ښېګڼو او عهدا و قسم ئې وکړ چه که چیرې و بښل شي او صحيح او سلامت خپل مملکت او تاج و تخت ته ورسیږي ددوی او مملکتو له سرحدی تا کلي خط او کرښې څخه به تیرې او تجاوز و نه کړې او دجنګ د تاوان او باج په عنوان به یوه اندازه پیسې دآریانادولت ته ورکړی او دپیسو رسیدلو تر وخته پورې به خپل زوی (قباد) دیرغمل په ډول په یفتلي دربار کښې پرېږدي. په دغه ترتیب تړون وشو او فیروز دآریاناد دولت په اجازه خپل وطن ته لاړ او قباد دوه کاله داخشنور په دربار کښې دیرغمل په ډول پاتې شو تر څو چه پیسې را ورسیدلې بیا آزاد شو. طبری هم دغه ډول تفصیل او بیان کوی چه دهغې مفاهمې او تړون له کبله چه ددوا ړو خواوو تر منځ وشو داخشنور په امر د سرحدی خط په یو تا کلي ځای کښې په شپږ و میاشتو کښې د تیږو یو منار ودرول شوا و فیروز د دغه منار نه لاندې داخشنور او یفتلي مشرانو او ساساني بندیانو په مخکښې عهداو تړون وکړ. (۱)

وروسته تردې چه دفیروز لښکر و په هغه دښته کښې چه احتمالاً به داوط دښته وی لاره ورکه کړه او د عسکرو افسرا نو هغه ته مشوره ورکړه چه باید اخشنور ته پوسری واستول شي او عذر ورځنی وغوا ړی، طبری داسی لیکی چه: (۲) (فیروز و ویل چه ښه خبره ده، نو استاذی ئې ورولیږ ه او پخپله ګناه قائل شو، عذر او بښنه ئې وغو ښتله. خوشنواز یااخشنور فیروز ملامت کړ او داسی ئې وویل چه ماله تاسره دومره نیکی وکړه او هر کله چه ماته راغلی تاته می رتبه او ماموریت او عسکر درکړل او پخپله مرسته می ته دې درجې ته ورسولې چه پخپل ورور دی غالب او بریالی شوی او ملك او جایداددی ورځنی واخست خوز ماحق دی و نه پیژ انده او زما احسان دې

---

(۱) په ساساني عصر کښې ایران دفرانسوی متن ۲۸۹ ـ ۲۸۸ مخ :

(۲) ـ دطبری دتاریخ ددریم جلد ۳۰۷ مخ چه دابوعلی محمدبن محمد البلعمی ترجمه او دکانپور دنولکشور چاپ دی.

ACKU

په ستــرګــو کښې و نه نړيد ، او په ما باندې دې عسکرو يرغل او چپاو وکړ ، او ځو تنه له مانه و تښتيدل او ته غره شول او زما حرمت او عزت ته دې سپك و کتل تر دې چه خدای راته په لاس را کړې او هغه شخص چه ته ئې دغې د ښتې ته راو ستلې ، زه هم هغه سړی نه پيژنم چه څوك وو مګر هغه ملائکه وه چه خدای پاك هغه له آسمان څخه راو ليږ له چه تا پخپله ګناه و نيسي ، زما د نعمت په نه قدرۍ او زما د حرمت او عزت په نه پيژندلو سره ننو رڅ چه پخپله ګناه قائل شوې نو ته مې و بښلې او اجازه مې درکړه چه خپل وطن ،

او - او لا د ته بيرته لاړ شې پدې شرط چه له ما سره عهد او تړون وکړې او قسم وخورې چه بيا به هيڅکله زما سره جنګ او جګړه و نکړې او لښکر را باندې و نه ليږې او زما د هيڅ يو دښمن سره ملګرتيا او مرسته و نه کړې نه په پيسو او نه په وسله . او زما د پاد شاهۍ او ستا د پادشاهۍ تر منځ به مناره جوړه کړه چه زما او ستا تر منځ حد و تا کل شي او ته مې هغې منارې ته بو تلې او قسم دې وکړ چه هيڅکله به نه ته او نه به دې عسکر پدې خوا راځي او که چيرې دې و فائي عذر وکړې نو خدای تعالی دې تا خر کړې او د خدای تعالی او د هغه د رسول په لعنت اخته شي . او دهغه استاذي ئې په ښه شان سره بيرته و استاوه او هغه ته ئې د ودې دا و طعام وغــو ښت او ورو ائې ستاوه او له هغو شيانو څخه چه په دغه ځای کښې پيدا کيدل لکه سنور ، آس ، او لوښي ئې سوغات ورو ليږل او وې ويل چه په همدغه ځای کښې او سه چه يې چه زه څوك وكاږم چه هغه مناره وړ باندې تمامه كړم او تا هغه ځای ته بو ځم او قسم در کړم او عهد او تړون در سره وكړم د ښير وز استاذي چه ورو رسيد او سوغاتونه ئې وركړل د يروړ باند خوشاله شو لكه چه ددهځان او عسكر ئې ور ښلي وی نو د قسم اجابت او قدر دانی ئې وکړه ، او خښنو از امر وكړ چه له هغه غره نه تيږې راوړې او دځا(چاه) په سر يوه مناره جوړه کړې چه دتل د پاره وي او شپږ مياشتې ئې په دغه د ښته کښې تيرې کړې او هغه مناره ئې تمامه کړه او فيروز د هغو ليږو عسکرو سره چه ورسره وو شپږ مياشتې په هغه ځای کښې پاتې شو ، هر کله چه مناره تمامه شوه خښنو ا ز حاکم او دبيران او د عسـکر وا فسران او د رعيت مشران هغه ځای ته و استول او د هياطله وو او تخارستان بو ها نئې تول و ليږل چه د دغې منارې سره ئې دخلکو په مخ کښې فيروز ته قسم ورکړ لکه چه او ل مو وويل ، نو

عهدنامه ئې ولیکله او هغه ټول خلک ئې چه په هغه ځای کښې حاضر وو شاهدان کړل او خپل عهدونه ئې په دغه عهدنامه کې شامل کړل نو خشنوار فیروز ته ډیر څه ور کړل او خوشاله ئې واستاوه مګر سخ ئې ور سره ونه کړ او نه ئې ور سره وکتل او فیروز بیرته رخصت شو او لاړ)

**دا خشنوار او فیروز دوهم جنګ:** هر کله چه فیروز آزاد شو او خپل تخت ته بیرته لاړ فقط تر دوو کالو نو پورې چه د جنګ تیاري ئې ورولېږه او خپل زوی قباد ئې د یفتلي دولت له یرغمالۍ نه آزاد او خلاص کړ پخپل قول، عهد او تړون باندې وفادار پاتې شو نو هغه وخت چه زوی ئې فارس ته بیرته ورسید دغه عهد، تړون او قسم ئې مات کړ او له هغو سرحداتو څخه چه په تړون کښې ټاکل شوي وو د تیري او تجاوز او د جنګ د پاره ئې لښکر تیار او حاضر کړ.

ګریستن سن په دغه باب کښې لیکي چه : (څو ورځې وروسته فیروز د (سپهبد بهرام) په مخالفت بیا د یفتلي پاچا په ضد جګړه شروع کړه په خپل دغه اقدام کښې د ډیر ونا وړو اوضاعو او بدبختیو سره مخامخ شو په ۴۸۴ کښې هغه ایراني عسکر چه صحرائي ځمکو ته ورغلي وو د دښمن د لاسه کامله بوپناه او محو شول پخپله فیروز هم ووژل شو او د ده مړي او لاښ ئې ونه موند ځینې عربي او فارسي مورخین وائي چه فیروز او ځینې ملګري ئې په هغه خندک کښې ولوېدل چه یفتلیانو پاچا کیندلی و دغه قضیه صحیحه وي او که نه ډیره پخوانۍ ده ځکه چه (لزار دو فارپ (Lazaare:lopharp) معاصر مولف په دغه باب کښې اشاره کړې ده د فیروز یوه لور د یفتلي پاچا په لاس ور غله چه هغه ئې پخپل حرم کښې وساتله په دغه وخت کښې یفتلیان ایراني امپراطورۍ ته داخل شول او څو ولایتونه ئې د مرالرود او هرات د ښارونو سره بیرته ونیول او په ایرانیانو باندې ئې کالني باج کیښود) (۱)

شرقي او غربي مختلف ماخذونه په داسې عبارتونو سره چه په جزئیاتو کښې کم و زیات توپیر او فرق لري د ساساني فیروز قول او عهد ماتول او دا خشنوار او فیروز دوهم جنګ او د ساسانیانو بیخي ماتې او د دوی د پاچا وژل کیدل بیانوي چه د هري یوه په بیا جلا جلا بیانولو

(۱) د فارس تاریخ لومړی چلد د (سر پرسي ساکس) د تالیف ۴۳۶ مخ

ACKU

سره موضوع تکرار یږی (۱)

دساساني فارس محکومیت : دساساني قوا او دسختی ماتی او دفیروز دوژل کیدونه

وروسته طبعاً فارس په ډیره پریشانۍ اخته شو دساساني عسکرو ښه او لوی ټولګی مغلوب او تیت و پرک شول ، عسکري افسران څه د دوهم فیروز سره ووژل شول او څه بندیان شول دساساني دولت بنسټ و نړید ، پاچائی چه ووژل شو ساسانیان بی سره او بی مشره شول او مرکزی دولت له منځه و وت په دغه وخت کښی ساساني مشران او داعتبار او رسوخ خاوندان دوه تنه وو چه یو ئی ( زرمهر ) او بل ئی (شاپور) نو میده او سری چه په اصل کښی شیرازی او جنرال و ډیر اعتبار ئی درلود.

هغه وخت چه ساساني عسکر دیفتلیانو په جنګ کښی مات او مغلوب او فیروز ووژل شو دغه دوه تنه دار منیتان په جنګونو بوخت وو په دغه ترتیب دساسانیانو مرکز (مداین) خالی عمومی حالات ډیر خراب او تیت و پرک ، عام افکار پریشان او دزردشتی مغان او ټولنی روحیات دومره ځپلی شوی او صدمه ورسیدلی وه چه دکوم دولت په تشکیل ئی اطمینان او اعتبار نه درلود. (ګر یستن سن) دساسانیانو پریشان و فلاکت ناك حالات داسی بیان او تمثیلوی . حالات ډیر مشکل شوی وو ، یران دیفتلی پادشاهانو له خوا محکوم شوی او په یو محقر دولت تبدیل شوی وو لکه فارسی جنرال چه د(نخوارغ) یعنی دحکمران حیثیت او عنوان ئی درلود په داسی حال کښی چه دار منیانو سره په خبرو اترو او مذاکره بوخت و ( واهان Vahan )ته داسی و یلی وو

هغه یعنی فیروز ستر او خپلو اك سلطنت دیفتلیانو په لاس ورکړ او دفارس مملکت به و نه کړی شی چه د داسی سختی غلامی کښی له غاړی نه لیری کړی نظامی افسران

(۱) دومره بایدو و یل شی چه دڅینو هغو روایاتو له مخی چه طبری او محمد عوفی په جوامع الحکایات کښی بیان کړی دی او دڅینو غربی ماخذو په متن او پاورقیو کښی ورته اشاره شوی ده داسی معلومیږی چه فیروز دآریانا او فارس ددو لتو سرحدی خط دتیږی دخر ابړو لو دپاره چه دهغی داحترام دپاره عهد او تړون شوی و مخ دمخه عسکر و ایستل او پخپله وروسته ورپسی ؛ وانشو حتی بوائی چه پنځوس پیلان او دری سوه تنه دغه سرحدی مینار دحمل و نقل په اجرا کولو مامور شوی وو ؛

ACKU

ازاو پا چادیری او پوره پیسی نه دراودی چه خپلو عسکرو ته تنخا او معاش ورکړی ؛ (۱) په داسی فرصت کښی چه فارس تول محکوم او بی دفاع ؤ اخشنورد یفتلی فاتح پاچا د مروت او ځوان مردی په هغه روح چه د بهرام گور داو لادی او دهغه په ځای ناستوکسانو صره ئی په مکرر او عملی او نظری دول سره ښکاره کړی وبیاهما غه روبه دساسانیانو سره وکړه اخشنورکولی شول چه په داسی مساعد فرصت کښی تول فارس زیروزبرکړی او تول له خاوره ئی ونیسی مگر داسی کار یی ونه کړ بو ا ځی دآریانا هغه ځمکی ئی بیرته واخستلی چه ساسانیانو له څو مودی نه وربانلدی تعرضونه کړی وو او دهغه کالنی خراج اخستلو ته ئی انتظار در او دچه فیروز په ځان ایښی او منلی و.

اخشنور او دآریانا دځمکو یو والی : دساسانیانو دقطعی ماتی او دفیروز دو ژل کیدو نه

ورو سته دهغو جنگونو موضوع له منځه ووتله چه دیفتلی دولت دتشکیل له ابتد اڅخه ئی دد غی کورنی د پادشاهانو توجه لمر لویدیزی خوا نه گرځولی وه اخشنورچه دخپل جلوس له اول نه د مملکت دخاوری دیوکولو په فکر کښی و. او په همدغه اساس ئی دتولونه لومړی ساسانیانو دآریانا دقلمرو له حدودو څخه دباندی وایستل او دهندوکش دجنوب ولایاتو ته متوجه شو دکیدار یانو د ضعف په اثر ساسانی نفوذ یو څه موده دکابل تر شاو خوا پوری حس کیده مگر په هغه دول چه جزئیات ئی سمدستی معلوم ندی او عدو مما دیفتلی پادشاهانو فتوحات پکښی دیر دخل لری دهغوی نفوذ په هغه ترتیب چه دهندوکش له شمالی برخو نه لیری شو له جنوبی نقاطو څخه ورک شو او کیدار یانو د ٤٧٥ کال ترشاو خوا کلونو پوری له پیښور نه گندهارا او کابل ته خپل نفوذ خپراوه اخشنورد آریانا دخاوری دیوکو لو په نامه دهندوکش په جنوب کښی خپل سلطنتی نفوذ خپور کړ او کیداری وروستی محلی امراچه احتمالا به د (پیرو) او (ورهران) اولاده وی دآریانا دشرقی غرو په لږ وځایو کښی پټ شول او دهندوکش په جنوب کښی دیفتلی دولت نفوذ کرار کرار دکاپیسا، کابل، زابل او پختیا په علاقو کښی خپور شو تر دی چه د ٤٧٥ کال په شاوخوا کښی په گندهارا کښی پیدا شو او دهندوکش په جنو بد غرب کښی دهیرمند او سیستان په حوزه کښی کرار کرار دساسانیانو له نفوذ نه خلاص شول او دیفتلی مرکزی دولت له خوا په

گاپیسا ،بامیانو ،زابل ،او دار اگو زی په حوزه اونو ر و ځایو کښې حکمرا نا ن ا و نا ئب الحکومه گان مقرر شول او یفتلي قبائل په ز یاته اندازه دهندوکش د جنوب، په نا و وکښې میشت او ځای په ځای پر یو تل :

دهندوکش په جنوب کښې د زابلی قبیلی پیدا کیدل اوا و سیدل :

---

دپه زره پوری مسئلو څخه یوه مسئله چه دهندوکش په جنوب کښې د اخشنور دسلطنت په ز مانه کښې دیفتلي دولت دتنو د په خپریدلو او ټینګیدلو پو ری اړه او ارتباط اری دز اولی قبیلي موضوع ده چه داوسنی غزني په شاوخوا کښې او سیدل او دهغوی دا ستوګنې ځای او وطن ددوی په نامه ( زاول ) یا ( زابل ) او (زا بلستان) سره داسی شهرت وموند چه په ز رګاله وو ده کښې دافغانستان ادبیاتو هغه هیر نه کړ بلکه دغه ځای ئی دنامتو پهلوانانو د روزنې ځای شمېر لی دی ـ زا بلیان دیفتلي قبائلو یوه ډېره مهمه قبیله وه (۱) چه دهند وکش په جنوب کښې ئی دغز نی په شاوخوا کښې یو ه پراخه سیمه نیولی وه او پدی .کښې څه شك او شبه نشته چه د دوی مشر انو حتی د اخشنور دز ما مداری په ز مانه کښې ملکی او نظامی لو ر لو ر منصبونه نیولی وو ، هغه پادشاهان چه داخشنور له مرګه نه وروسته دهندوکش په جنوبی علاقو کښې یعنی په دقیق او جامع مفهوم په دغه وخت کښې په زابلستان کښې پاچائی ته رسیدلی وو لکه (تورا مانا ) او ( مهرا کولا ) او داسی نور (۲) دغه نول له همدغې زابلي جګړه ماری قبیلي

---

(۱) دمستر مار تن مقاله تر ۳٤۲ نمبر لاندی د ( کیدارااو کوچنیو کوشانیانو مسکوکات ) تر عنوان لاندی دز ابلی ایشیاتك سو سایټی آف بنګال دمجلی د ۳۸ ـ ۱۹۳۷ دمسکوکاتو په ضمیمه کښې د ې ۳۵ مخ و کتـل شی :

(۲) بی له دغو د و کسانو نه څینی نور هم دز ابلی قبیلي او دیفتلي نور و قبائلو نه سلطنت او امارت ته رسیدلي دی چه کرا ر کرار مسکوکات به ئی نو مو نه وا ضح او څرګند کړ ی :

ښخه وولکه چه (تورا مانا) د (کیوراKyura) په لیکنه کښې ښکاره ځان واضحه (جیوو له) ښکاري دي او دغه کلمه لکه چه وینو ئې د (زابل) او (زابلي) اسم او صفت له اشکالو څخه یو شکل دی ځکه چه مستر مارتن په دغه باب کښې لیکلي: (دسپینو هنیانو مهمه ځانګه ترکوم ځای پوری چه واقعات ئې دهند سره ارتباط پیدا کوی زابلي) قبیله ده چه له نوم څخه ئې دکابل په جنوب کښې د زابلستان ولایت منځ ته راغلی دی.

دغه قبیلوی نوم په مسکوکاتو باندی دکوشان د زمانې په یونانی رسم الخط (زوبل) په برهمي رسم الخط کښې (جبو له Jabula) (جیوو له Jaüvla) (او (جبوو له Jabuvlah) د (توراماڼا) په لیکنه کښې په (کیوره) نوم ځای کښې (جیوو له Jaüvla) یاد شوی دی ، او د زابلي پخوانیو مسکوکاتو له کتنې څخه داسې معلومیږی چه دوی دڅلور می مسیحی پیړی په آخرو وختو کښې دهند په سر حد و کښې اوسیدلي دي:

نو ددغو مراتبو په یادولو سره په قطعی صورت ثابته ده چه یفتلی مهمه قبیله زاولیان یا زابلیان په زابلستان کښې تیت وپرك او ځای په ځای پر یوتل او دهند فتوحات چه دآریانا دیفتلیانو د تاریخ یو بل مهم بحث دی دد وی د مشرانو له خوا شروع او عملی کیږی او پخپل ځای کښې به ورڅخه بحث وکړو :

قبا د داخشنور په حمایه کښې : لکه چه وویل شول دساسانیانو دسختې ماتې او

---

دفیروز دوژل کیدو نه وروسته په فارس کښې دیره پریشاني او ګډوډی پیدا شوی وه په داسې دوره کښې چه دساسانیانو دپاره دبدبختۍ او فلاکت دوره وه دآریانا دیفتلي دولت داخشنوردتدبیر ، سیاست او فتوحاتو په سیوری کښې خپل دترقۍ او پرمخ تګ مراحل طی کول : دهغو ولایاتو ادار ې چه دساسانیانو له سلطې څخه خلاص شوی وو ددولت توجه ځانته را ګرځوله (زرمهر) او (شاهپور) ساساني جنرالان چه د فیروز له وژل کیدو نه خبر شول دار منستان سره له جګړې نه ئې لاس و اخست او جګړه ئې بس کره او دنوی پاچا دټاکلو دپاره «اسیز فون» (مدائن) ته راغلل فیروز څو زامن درلو دل چه له هغو ی نه دریو تنو (بلاش) (قباد) او (زاره) په تیره بیادغو دوو روستیو کسانو دسلطنت د تخت ادعا کوله دغو دوو تنو جنرالانو دتو صیې او طر فدارۍ له کبله

(بلاش) دقباد مشر ورور په پاچائی انتخاب شو، قباد چه په دغه وخت کښی په (ری) یاد (گلگرد Guilguird) په محبس کښی ؤ ځان حقدار گاڼه. اودوررپاچائی ئی ونه منله، او هرکله چه دخوانۍ په زمانه کښی دخپل پلار (فیروز) دالمری عمامتی کولو نه وروسته چه د اخشنور په مقابل کښی ئی وکړه د آریانا په یفتلی دربار کښی ئی دیرغمل په ډول دوه کاله تیر کړل او دیفتلی دولت له قوت، مروت او ښو نیتونو نه خبر ؤ دخپلی ښځی په مرسته له دغه زندان څخه وتښتید او داخشنور دربار ته ئی پناه یوړه او ځان ئی دده ترحمایې او سیوری لاندې راورست او د خپل حق داخستلو دپاره ئی لهده نه مرسته وغوښتله اخشنور په خوښۍ سره دهغه استقبال وکړ او خپله لور ئی چه دقباد خور زوره (خواهرزاده) کیدله هغه ته ورکړه او ډیر عزت ئی ورکړ او خرمو ده ئی دلمرلویدیز تالقان حکمرانه تر ورکړ، هرکاله چه دمالی قدر له کبله دیوی خوا یفتلی دولت ته دباج خراج ورکولو موضوع دساسانیانو دپاره مشکله شوی وه او خلک هم د بلاش نه خوښ او خوشاله نه و، او دیفتلی دولت طرفداری او رضایت دقباد په خوا ؤ. نو دغلو دوو کالو نه وروسته بلاش له سلطنت او دپاچائی نه خلع او وایستل شو او قباد داخشنور په مرسته او طرفدارۍ د فارس په تخت باندی کیناست قباد چه فارس ته بیرته لاړ (زرمهر) ئی چه ډیر اقتدار ئی مونده او دهغه درقیب جنرال (شاهپور) په واسطه وواژه او د هغو نجباوو او روحانیونو نفوذ دکمولو دپاره ئی چه دبلاش سره ئی مرسته کړی وه د (مزدك) نظریات تقویه کړل او دنجباوو امتیازات ئی له منځه وایستل او په ښځو، ځمکو او شتمنۍ او دارائی کښې ئی عمومی مساوات او گډون اعلام کړ. په نتیجه کښې زردشتی روحانیونو او مخانو له هغه نه رگرځیدل او هغه ئی معزول کړ او په زندان کښې ئی واچاوه او دده ورور (زمیاسپ) ئی دهغه په ځای په تخت باندی کښېناوه.

څینو نورو منابعو دآ یارنا یفتلی دولت ته دقباد دپناه وړلو او له هغه نه د مرستی غوښتلو موضوع څه قدر ې څندولی او پېښې داسې بیانوی چه: (دفارس د حالاتو دتیت ؤ پرك او پریشان کیدلو نه وروسته لومړی (بلاش) د (زرمهر) په مرسته پاچائی ته ورسیږی او څاور کاله وروسته هغه دپاچائی نه خلع او (قباد) پاچا کیږی، او دی هم د مزدکی دین او آئین او رغورم دمناو په اثر معزول کیږی او (زمیاسپ) ئی په ځای کښېني. په دغه وخت کښې قباد مصلحت په دی کښی وکوت چه په آریانا کښې اخشنور ته پناه ورووړی او دخپل تخت و تاج دبیرته اخستلو دپاره له یفتلی دولت نه مرسته وغواړی.

ACKU

اخشنور په خوښۍ او خوشحالی سره دغه هرکلی او حمایه کوی او دیفتلی دولت د نظامی مرستی له کبله قباد ژر تر ژره پخپل مقصد بر یالی او کامیابیږی ، او بیا هم د ی چه دده او د( زمیاسپ ) تر منځ کوم جنګ او جګړه پیښه شی و ر و رئی تسلیم او تابع کیږ ی او قباد بیا په ٤٩٨ـ ٤٩٩ کا ل کښې د فارس په تخت باندی کښېنی .)

په هرحال دپیښو ر و مبی و الی او و ر و ستی والی هرڅنګه چه و ی د ګذار شا تو اساس هماغه دی چه ساسانی دولت دفیر و ز د و ژ ل کیدو نه و ر و سته د آر یانا دیفتلی د و لت د و سلو او نظر یاتو محکوم او تابع ؤ او دساسانی شهز اده ګانوتر منځ جنګ ؤ جګړه په پای کښې داخشنو ر په غو ښتنه او حمایه او طر فداری هم قباد په ګټه خلا صه شو ه . خو هرکله چه یفتلی دو لت ته دخراج او باج و ر کولو موضوع خنډ پدلی او تال پاتې و ه قباد ډیر ژر د ر وم له امپر اطو ر (اناستار Anastare ) څخه پو ر و غوښت ، هغه په دغه امید چه دخراج په نه ور کولو سره به بیا ساسانیان او یفتلی دولت و جنګیږ ی او ز ه به له دغه فر صت نه استفاده وکړم ، نو قباد ته ئی دپور له و رکولو څخه انکار و ک ، او قباد په (٥٠٢) کښې هغه ته دجنګ اعلان و رکړ ، او ار منستان او بین النهر ین ته د ننه شو او ، تو د ر و پو لیس) یعنی او سنی ارض ر و م او د( آمده) کلا یعنی دیار بکر ئی کلا بند کړل (٥٠٣ د ) هرکله چه دبیزانس سره دفارس دجنګ په سبب دخراج ورکول نور هم پسی تال او وځنډ پدل نو اخشنو ر په سا سا نیا نو با ند ی باره حمله و ر و ړ ه . ر و منیا ن تقو یـه شو ل او (آ مده) او (ئصیبی) ئی کلابند کړ ل. قباد د ړ و لو وتو اؤ په منځ کښې ا یسار ش و بیا ئی دآ ریانا یفتلی دو ل ت ته داطا عت غا ړ ه کیښو دله او دعمر تر آ خره پو ر ی ئی د آ ریانا یفتلی دو لت ته باج و ر کاو ه . (پر و کپ) و ائی چه : (دفارس په لمر خیز و بر خو باندی دیفتلیانو تساط دو ه کاله پاتی شو و ر و سته بیا قباد په ز یاته انداز ه مقتدر شو او ځان ئی د هغو ی له نفو ذ خلاص کړ . مګر (ګر یستن سن ) د خپل کتاب چه (دساسانیانو په عصر کښې ایر ان) نو میږ ی د ٢٩٢ مخ په پاو ر قۍ کښې و ائی چه : (پر و ګپ) د بلاش دځلو رکاله سلطنت نه خبر نه دی په حقیقت کښې ساسانی ایر ان دا و ل خ ـ رو دجا و س تر ز مانی پور ی یفتلیانو ته باج و رکاو ه ، ځکه چه د بلاش ، قباد او دلو مړ ی خسر و د پینو ز ر و سکې په لا س ر اغلی دی چه لیکنی او نو شتی ئی په ( کو شانو یفتلي ) الفبا سر مضر ب شوی دی . او (مارکوارت ) په ایرانشهر کښې

په (٦٢-٢١) مخ کښې دا مسې نظر په وړکو ی چه دغه مسکوکات خاص یفتلي پادشاهانو ته د باج د وړکو او د پاره ضرب شوي وو. )

اخشنور او د آریانا یفتلي امپراطوري: د هغو جز ئیاتو له مخې چه بیان ئې تر دغه ځای

---

پورې وشو په ښه شان سره قضاوت او حکم کولی شو چه یفتلي پاچا ( اخشنور ) تر کومې اندازې پورې پوښتر او پوه او بصیر او تر کومې اندازې پورې یو مدبر، مقتدر، او پیاوړی پاچاؤ، دی بیشکه د آریانا بوښتر یفتلي پاچاؤ. او دده د اساسي او سنجول شوو نقشو له کبله یفتلي کوچنۍ دولت چه ساسانیانو به په اول کښې څه اهمیت نه ورکاوه او ستر ګه به ئې ور ځنې نه سوځیدله کرار کرار پوښتر او قوي دولت شو او دده د نظامي او سیاسي فتوحاتو په اثر ساسانی فارس قدم په قدم شاته ووهل شو، او محکوم، مطیع، تابع او باج ورکوونکی شو، او په آخره کښې ئې دیو تحت الحمایه کوچني دولت شکل پیدا کړ.

اخشنور له ٤٦٠ نه د پنځمې مسیحي پیړۍ تر لومړیو کلونو پورې تقریباً نیمه پیړۍ پاچائي وکړه او په دغه اوږده دوره کښې ئې فیروز - بلاش - قباد - ژمیاسپ، ساساني پادشاهان او شهزادګان د خپلو تجاوز کارانه نظریاتو په کیفر او فلاکتو باندې تنبیه کړل اخشنور په هغه زمانه کښې چه د فاتح امپراطور په حیث ئې کامل اقتدار په لاس کښې ؤ، او ساساني فارس ییخي پاچا، عسکر، خزانې او شتمنۍ نه دراوده عملاً ثابته کړه چه د ساساني پادشاهانو سره ئې شخصي عناد نه درلود او د هغوی په شان دنورو په هیوادو باندې ئې تعرض او تجاوز نه کاوه. اخشنور دخپلې تورې، سیاسي منطق او د معقول تدبیر په سیوري کښې لمر لویدیز متجاوزین د آریانا له خاورې نه د باندې وایستل او دخپل هیواد حدود ئې د تیزو د منارو په درولو سره دترونو او معاهدو په اساس وټاکل او له هغو نه ئې تیری او تجاوز ونه کړ، او دترونو او معاهدو د بې احترامۍ او نارواجسارتو د زیان په نامه ئې چه دیوې سلسلې جنګونو باعث ګرځیدل د ساسانیانو دولت د کالني خراج په ورکوو او محکوم کړ.

اخشنور د آریانا له خاورې نه د ساسانیانو تر ایستلو نه وروسته د ساساني کوچنیو شهزادګانو سره مهرباني او لطف کاوه او په سیاسي خپلو یو سره ئې غوښتل چه هغوی

ACKU

پهڅان پورې پیوسته وساتي او ددهٔ سیاست داسې تقاضا نه کوله چه ساسانیان دې بیخي له منځه وړي او محو دې شي . لکه چه عملاً موږ ګټله چه فیروز ته ئې اجازه ورکړه چه خپل تخت ته بېرته لاړ شي . او قبادئې په خپله مرسته او حمایه د فارس په شاهي تخت باندې کښېناوه . اخشنور دساسانیانو په ضد دجنګ دجریان په وخت کښې د آریانا دخاورې دېرو کوو په لاره کښې ډېرز حمتونه وا یستل او دد وو جنګونو ترمنځ فا صله کښې ئې د آریانا دولایاتو داخلي اصلاحاتو ته توجه او پاملرنه وکړه ، دمملکت په ځینو ځایو کښې ئې عسکري چوڼۍ او قشلې جوړې کړې وې چه دهغې جملې نه بادغیس او بامیانو دوه نظامي مرکزونه مشهور دي ، اخشنور دخپل سلطنت په اوږده دوره کښې د آریانا یفتلي دولت په یفتلي امپراطورۍ تبدیل کړ . د غه یفتلي امپراطورۍ د ( سونګ یون ) په شهادت په ( ٤٠ ) ایالتونو مشتمله وه چه د ( و نسنت سمیت ) په نظر په داوړ یزې خزانه د فارس له سرحد و نه ختیزې خواته د چین او ختن تر سرحد و پورې ئې پر اختیا درلوده (١)

اخشنور د آریانا یفتلي شهنشاه دپنځمې میلادي پېړۍ په اوږدو کښې مرشوا و مقتدره امپراطورۍ ئې خپلې اولادې ته پرېښوده .

---

(١) دایران شهر (٦١-٦٢) مخ دساسانیانو په عصر کښې ایران دکتاب د ٢٩٢ مخ پاورقي دغه کتاب دکریستن سن تالیف دی .

# دآریانا یفتلي دولت او هندي گو پتا

په د مخنیو مخو نوکښی موتر دغو عنوانو نو لاندی اخښنو راو دآر یا نا دخا وري یوو الی او دهندو کش په جنوب کښی دزابلی قبایو پیداکیدل او میشت کیدل بیان کړل چه اخښنو ر یفتلی مقتدر پاچاهی ددی چه دساسانیانو په جنګو نوکښی اخته و له هغوفر صتو نه چه دجنګو نو تر منځ فاصلو کښی پیداکیدل استفاده وکړه او دآریانادخاو رو د یوو الی په باب کښی یی خپلی نظریی په کراو کرار عملی کړی او زابلی قبیله چه په یفتلی قبیلو کښی مهمه قبیله وه دده دزمامداری په زمانه کښی دهندو کش په جنوب کښی خپره او تیت پر که شوه او په تیره بیاداو سنی غزنی په شاو خو اکښی یه زابل او زابلستان کښی میشت او پر یو تل ، په هغه بیان سره چه وشو کیداری محلی امرا چه دساسانیانو دفشار په اثر ئی خپل مرکز لمرختیزی گندهارا ته پیښور ښارته نقل کړی او لیږ دوای وله منځه و وتل او کوشا نی ر ئیسانو ز یاتر و جګو ځایو ته پناه یووړه .

دهندو کش په جنوب کښی د زابلیانو میشت کیدل او دهغو ی شجاعت او قوت ددی باعث شو ی و چه دهندو کش دجنوب دعلاقی زیاتره حکومتونه او نایب الحکومگی دو ی ته و سپارل شی او دمخه موو ویل چه دیفتلی دولت نږ و دده ٧٥٤ کال په شاو خو اکښی په گندهارا کښی پیداشو له دغه تاریخ نه راو رو سته یفتلیان له هندی گو پتایانو سره گاو ندی او سرحد شریک شول او دهغوی په تاریخ کی نو ی باب پرانیستل شو چه دهند پاچاو ر ه کښی یو سلسله جنګو نه او فتوحات ذی دآریانا یفتلی دولت څرنګه چه ساسانیان ئی لویدیځ ی خو اته مات او مضمحل کړل هندی گو پتایان ئی هم لمر ختیز ی خو اته مات او په شاو رټل او په هغه بیان سره چه پس له دی به ر اشی په هند کښی تر ایر ی ځا یو پو ر ی مخ پ ه وړ اندی لا ړل .

- دهندی گوپتایانو دولت : ددی فصل په او ل مخ کښی مو وویل چه په آریانا کښی دیفتلی دو لت دپیداکیدو په وخت کښی لمر لویدیځ ه خو اکښی ساسانیان مقتدر شوی ز و ار خپل نفوذئی دهندو کش په د و اړو خو او کښی خپور کړی و او په ختیزه خو اکښی دگو پتا دو لت دځاوری پیړ یه په او له ربعه کښی میدان ته راووت دگو پتا کورنی دهند دو همه

ACKU

مای تاریخی شاهی کورنۍ د چه د موریایانو نه وروسته په مگده کښې پیدا شوه او د لیکانې او کوشانی کوچنیو پادشاهانو ځینې آثار ئې له منځه لیرې کړل او په هغه ځای کښې ئې امپراطوري تشکیل کړه. دګوپتا دکورنۍ موسس د موریا دکورنۍ د مشر سلسله په شان چندراګوپتا یا سندراګوپتا نومیده چه شخصیت او د سلطنت لومړی وختونه ئې بیخي نا معلوم او په نیاره کښې دی او د ۳۲۰ او ۳۳۰ مسیحي کلونو په منځ کښې سلطنت ئې کړی دی ده نه وروسته ده زوی (سمودراګوپتا) په تخت باندې کیناست او ده ند په بیاو بیاو برخو کښې ئې فتوحات وکړل او دو نسبت سمیت په نظر په دجمنا او چیل سیند دده املر او پدیز سر حد ؤ او د دغه سیند ډلهر او بدیز و برخو د کوشانی کوچنیو امراو و سره ئې سیاسي دوستانه روابط در اودل، وروسته بیا دوهم (چندراګوپتا) او ده نه وروسته لومړی (دکوما راګوپتا) او بیا ده زوی (سکانداګوپتا) د ٤٥٥ په شاو خوا کلونو کښې په تخت باندې کښېناست او دغه وه ناسی دوره ده چه اخشنو ریفتلی امپراطور په آریانا کښې په پر قدرت او د بدبی سره پاچائی کوله ځینې مدققین په دغه نظریه دی چه یفتلیان لومړی ځل د ګوپتا دقاهوو په سرحد و کښې د لومړی (کوماراګوپتا) د زمامداری په زمانه کښې پیدا شوی دی او ځینې مورخین داسی نظریه لری چه دغه پیښه ده نه د زوی (سکنداګوپتا) د سلطنت په زمانه کښې شوی ده هغه څه چه حقیقت ته نژدی دی دادی چه یفتلی زابلی قبیله وروسته تر دی چه د هندوکش په جنوبکښې میشت او پر بوتله د هند په خاوره بې په حملو لاس پورې کړ، چه زیاتره دغه حملې محلي وی تر دی، چه تورامانا خپلی اوږی او جدی حملې شروع کړې.

تورامانا: هغه اومړی سړی چه د هند خواته دیفتلیانو د حملو او فتوحاتو د پیښو په لړکې شهرت لری تورامانا دی چه په هند کښې دیفتلیانو دځینو حملو دکیدو د تاریخ له مخی دی په اوږو وختو کې جنرال یا نایب الحکومه یا امیر بللی شو چه داخشنور له خوا دزابلی قبیلې د مشرانو او رئیسانو له جملې نه انتخاب شوی او د هند خواته په ځینو اقداماتو یې لاس پورې کړی دی او وروسته بیا د آریانا په تخت باندې د خپل جلوس په زمانه کښې یې دګوپتا په قلمرو کښې دفتوحاتو لمن پراخه کړې ده. دغه نظریه تر زیاتې

انداز ی پور ی د(سکاندا گوپتا) په ضد ډیرا حملې هم تابیدو ی که څه هم د دغو جنګونو کیفیت او جزئیات یې معلوم نه دی مګر دومره ویلی شو چه د ینتلیا نو حملو دګوپتا پاچا (سکاندا ګوپتا) لمر دلویدیزی خوا نه ډیرو ارخطا او پریشان کړ ی و لکه چه هر ی خوا ته په تیره بیاد خپل قلمرو په لمر لویدیزو غاړو کښې یې ساتونکی یعنې محافظین مقرر کړ ی او شپه او ورځ یې فکر کاوه چه کوم منصبدار د لمر لویدیزو سرحدو د ساتاو دپاره مقرر کړ ی چه په آخره کښې یې (پرناداتا Parnadatta) وټاکه (۱) و نسنت سمیت وا یی چه د(سکانداګوپتا) دسلطنت په آخرو وختو کښې دده دطلا یی مسکوکاتو اندازه (عیار) له (۱۰۸) نخودو څخه ۷۲ نخودو ته کمه شوه او دغه دهغو خرځو نتیجه وه چه د ینتلیانو مقابلو او جنګونو غوښتل او دهغو له کبله دګوپتا ددولت خزانې خالې شوې او اقتصادي حالات خراب شوي وو (۲) په هر حال د ۵۰۰ مسیحي کال تر شاو خوا بورې د هند په خاوره د ینتلیانو حملې دومره ډیر ې موثرې او قوې نه وې تر دې چه تورامانا دیفتلي پاچا په حیث په جدی اقدامانو لاس پورې کړ او په نتیجه کښې دګوپتا دامپراطورۍ بنسټ د ساسانې امپراطورۍ په شان خراب او برهم شو او هندي امپراطورۍ هم په محلي امیرا نو باندې له شوه او د هند داو نیو لار هم پرانیستل شوه.

دتورامانا نو مېږه در یو لیکنو (کتیبو) کښې یادشوی دی چه په بیلو بیلو ځایو کښې دده په فتو حاتو باندي شهادت ورکوی دغه لیکنې په دغو ځایو کښې دي:

الف په (ایران Eran) دسګر Sagar علاقه کښې دده دپاچایي اول کال ته اشاره کوی (ت) دکوراKurra سالت رینج Salt Range لیکنه ده چه په هغې کښې (مهاراجا تورامانا ساها جاولا) باللی شوی دی ساهاجاولا (دپاچالقب دی او جا و لاقبیلوي قوم دی او اکه چه مو لیدل په کرار کرار د (ز اول) او (ز ابل) کلمه ورځنی منځ ته را غله نو ددوهمې لیکنې له مخې تورامانا (تورامانا مهاراجا زابلی پاچا) باللی شو او پر دغه ترتیب هیڅ شبه

---

(۱) دهند دتاریخ سلسله له کنیشکا څخه د مسلمانانو ترچپاو و پورې دو اله دوپوسن دتالیف ۵۵ مخ

(۲) دارلي هستري آف انډیا ۳۲۸ مخ.

نه‌پاتی کیږی چه دیفتلی ز ابلی قوی قبیلی ځکه چه دهندوکش په جنوب کښی خپره شوی وه یو مسلسله پادشاهان او امیران سلطنت ته رسیدلی دی چه لوړی پاچائی داګړی د تورامانا بالی شودو همه لیکنه بل اهمیت هم لری ځکه چه دوالهدو پوسن دنظر یی له مخی دعه متصد هم ورځنی معلومیږی چه د ۵۰۰م په شاوخوا کښی د تورامانا د پادشاهی په لوړی کال کښی دهان یاو ښنو DhanyaVisnu د (ماتری ویشنو Matri Visnu) ورور چه دګوپتایانو تابع و دیفتلیانو په تسلطابانادی ئې اقرار کړی دی. (۱)

دریمه کتیبه په ګوالیار نومی ځای کښی موجوده ده چه دتورامانا د زوی (می هیرا کولا) دسلطنت ۱۵ کال سنه لری او دد غو کتیبو له مخی ویلی شو چه د هند د فتوحاتو جلدی مرحلی د تورامانا په سلطنت کښی د ۵۰۰م کال په شاوخوا کښی شروع شوی او ډیری کامیابی ئې ګټلی دی. د (ساکالا) نومی ځای یعنی (سیالکوټ) نظامی مرکزیی ګرځاوه او له دغه ځای نه ئې دهند ترزړه (مرکز) پوری خپلوفتوحاتو ته پراختیاورکړه. (ونسنت سمیت) وائی چه: ددغو چپاو و نوا و حملوکو ونکو مشر چه بیاله شلک او شیږی نه ئې خوکاله دوام وکړ، بوسیری و چه (تورامانا) نومیداو د ۵۰۰ عیسوی نه پخوانی د (مالوادپاچا) په حیث دهند په مرکز کښی حاکمیت درلود. ده دهند آ د اپو په اصولو شاهی عنوان (مهاراجا) په ځان کینبوداو (بهانو ګوپتا Bhanu gupta) او (ولابی Valabhi) پاچانو نیوشوز ادګا نوار محلی امیرانو هغه تهباج ورکاوه. هغه وخت چه تورامانا د ۵۰۲م په شاوخوا کښی مړ شو پاهندی متصر فاتو او نیولو ځایو کښی ده تنونه ډیر ټینګ شوی و چه دهغه د زوی (می هیرا کولا) په لاس ترزئی دده د هندی متصرفاتو مرکز (ساکاله) یعنی په پنجاب کښی اوسنی (سیالکوټ) و.

می هیرا کولا: د (تورامانا) نه وروسته دده زوی (می هیرا کولا) دپاچائی په تخت

کښیناست ده دخپل پلار مفتوحه او نړولی ځمکی وساتلی او په ځینو نورو اقداماتو ئې لاس پوری کړ، او دهند په خاورو کښی ئې دیفتلیانو فتوحاتو ته پراختیاورکړه. ځینو دده نوم ځخه (مهر ګل) تعبیر کړی دی او د (امر ګل-ګل آفتاب) نی ترجمه کړی دی. ځینو نورو

(۱) دهندسلالی او تاریخ له کنیشکا نه دمسلمانانو ترچپاو وپوری.

دغه‌نوم په دسانسکریت شکل ور کړی‌دی ، او (مې هیراکولا) ئې (د لمر نسل) یا د لمر کورنۍ ترجمه کړی ده . په دغه ترتیب ئې (مې هیرا) «لمر» او (کولا) ئې (کورنۍ) ترجمه کړی ده. ځینو هم له‌دغه‌نوم نه (مها کولا) جوړ کړی دی چه (مها] (ستر) او (کولا) (کورنۍ) معنی لری چه مرکب مفهوم ئې (ستره کورنۍ) کېږی.

په‌هر حال دیفتلی پاچانو لفظی معنی هرڅه چه وی وی به ، په دې کښې شك او شبهه نشته چه دخپل پلار (تورامانا) نه‌وروسته په‌تخت باندی ناست دی او د«سا کالا» دپنجاب د(سیالکوټ) له ښار څخه چه دیفتلی دولت دهند ی‌متصرفاتو مرکز ؤ دهند په‌خاوره کی دخپل پلار دفتو حاتو لمن پراخه کړی ده . د، کشمیر و نیو او (د انیاو پشنو) تر کلند ی (نارمادا) چه دجمنا دسیندشاؤ خوا منطقی وی اود . . د په‌شاؤ خوا کښې دده دپلار (تورامانا) تابع شوی وی دپخوا په‌شان تابع او مطیع باتی شوې . دهند په خاوره کښې د(مې هیراکولا) دجنګو نواو پرمختګونو جزئیات په لاس کښې نشته یو (کسماس Cosmas) نومی راهب د٥٤٧ دمسیحی کال په‌شا ؤ خوا کښې یو کتاب لیکلی او په هغه کښې ئې له یفتلی پاچاهانو څخه یو پاچاد (ګولاس) (Gollas) په‌نامه یاد کړی او بحث ئې و رباندی کړی دی ، او دهند پاچائی بولی او وائی چه ددو وزرو جنګی پیلانو او ددیرو سپرو نظامو تو او ؤ په ملاتړ او پشتیبانۍ دخراج داخستلو په باب خپله تقاضا تحمیله کړې وه ځینی مدققین (ګولاس) هغه پاچا چه دودزره جنګی پیلان ئې در لودل هماغه (مې هیراکولا) بولی (ونسنت‌سمیت) په‌یقینی د ل دغه (ګولاس) (مې هیراکولا) ګڼی (١) همدغه مدقق دبلخ پخوانی ښارد (مې هیراکولا) بل‌پای تخت او بامیان‌لو بادغیس د یفتلیانو نظامی مرکز و نه شمیری ، او وائی چه هند په دغه وخت کښې دهفتلیانو (یفتلیانو) دیو ولایت حیثیت در لود (٢) سره ددی چه د قیق معلومات په‌لاس کښې نشته دومره و یلی شو چه دآریانا دیفتلی دولت نفوذ چه په (تورامانا) سره تر پنجاب پورې رسیدلی ؤ دده د زوی (مې هیراکولا) په

(١) دارلی هستری آف انډیا ٣٦ ٣ مخ.

(٢) دارلی هستری آف انډیا ٣٥ ٣ مخ.

ACKU

زمانه‌کښې دهند په‌ز یاتره ځایو کښې خپور شوا و دېفتلي پاچاز ور ور وا و مدهغو ترضعی تو اوّ دگو پتا دامپراطورۍ بنسټ او دهغې د امپراطورانو متماو مت بېځي ما ت کړ او دگوپتاامپراطورۍ ئې په یو څو محلي امار تونو تبد یله کړه ،او د دغه پاچا پېشرفت په‌هند کښې یو فوق العاده هرج و مرج پید ا کړ:

(مي هیرا کولا) په‌هند کښې په‌ډېر شدت او حدت سره پا چا ئې کړې ده او ځینو هندي منابعو دده دلو یو فتحو نه‌په‌وحشت نا کو وینو تو یو او په‌مرګ ونو بله تعبیر کړی دی پوره معلومه‌نه‌ده‌چه (مي هیرا کولا) ترکوم کال پوري په‌هند کښې پاچا ئې کړې ده ، او په دغه ځای کښې دیفتلیانو نفوذ ترنګه پای ته‌رسید لی دی:

ترکوم ځای پوري چه د ځینو لیکنو (کتیبو) له مخې معلو میږي وروسته تردې چه دگوپتاامپراطورۍ خرابه او ورانه شوه ځینو شهزاده ګانو په‌بیلو بیلو ځا یو کښې د محلي امیرانو شکل پیدا کړ چه‌ځینې د (مي هیرا کولا) تابع او ځینې ورسره په‌مخالفت او جنګ کښې وو او د ۱۰ ۵ م سیجي کلو نه‌وروسته‌دغه‌جنګو نه‌سخت او زوروشول اود ۲ ٤ ٥ کال تر شاوخوا پوري ئې دوام کړی دی.

د (یو دګو پتا) نه وروسته چه ددې کورنۍ اوسلالي وروستی امپراطوروّ هغه لو مړی‌سړی چه په‌یو جنګ کښې ئې (مي هیرا کولا) ته‌ماتي ورکړه (بهانا ګو پتا) دی چه دامپراطورۍ‌له‌انقاب ئې نه دېرلوداو دبنګال دمحلي امیرانو جز شمیرل کیږي .دی دیو بل امیرسره چه (ګوپاراجا) نو میده اوښائي چه‌دده تابع و په ۵۱۰ کال کښې متحد او متفق شو او په یو جنګ کښې ئې کامیابي وګټله ، دغه کیفیتو نه‌او واقعات چه‌د (اوان) په‌کتیبه کښې ثبت دي ځینو مدققینو دیفتلیانو او مړۍ ماتي تعبیرکړې ده (۱) او بیله‌شکه او شبهې نه یو محلي جنګ او محلي ماتې وه‌چه په هند کې د (مي هیر اکولا) په سلطه او نفوذ باندې ئې تاثیرو کړ او له دېنه وروسته دیرکاونه ئې هم په هند کښې نفوذ ،آ مریت او سلطنت دراود ،او له‌پخوانه زیات ئې په هند یانو باندې سختې او تنګسیا ر اوستله او

---

(۱) دهند کورنۍ «سلالي » اوتاریخ له کنیشکا څخه د مسلمانانو دچپا و وتر زما نې پوري د (واله د و پوسن ) دتا لیف ۶۲ مخ .

تر فشار لاندې ئې ونیول تر دې چه دهند بومې شهزاده ګانو د مرکزي هند د راجا (یاسودهارمن) تر ریاست لاندې د (مې هیرا کولا) په ضد اتحادیه جوړه کړه او د ٥٢٨ مسیحي کال په شا وخوا کښې ئې هغه ته سخته ماتې ورکړه (١) یاسودهارمن هغه لومړي سړی دی چه په هند کښې دیفتلیانو د نفوذ د لیرې کولو په مسئله کښې ئې مهم رول لوبولی دی. (والهدو پوسن) هغه د (مانداسور Mandasor) د تابه واو محلي امرا وو له کورنۍ څخه بولي او وائي چه یفتلیانو ته په ماتې ورکولو فخر کوي. (٢)

(کاند راګومن) بودائي مؤلف چه دژوندانه تاریخ ئې په صحیح صورت معلوم ندی دیفتلیانو ماتې دهغه سړي په لاس بولي چه (جا پتا Japta) نومید او دغه سړی نه په یقیني صورت بلکه د احتمال له مخې هماغه (یاسودهارمن) بولي د دچین زائر (هیوان تسنګ) چه تقریباد (مې هیرا کولا) نه سل کاله وروسته هند ته ورغلی دی د (مې هیرا کولا) او دهندي محلي امراو وسره دده دجنګونو په باب کښې دهندیانو له خولې نه قصې اوریدلې دي چه زیاتره ئې دافسانې حکم لري دی د (مګدی) د بودائي مذهب پاچا (بالا دیتیا) څخه او د «مې هیرا کولا» له ظلم او تعدي ګانو او د هندي امیر له ویرې ویرې او له ویرې او دار څخه په غرونو کښې دهغه د پټید و او ضعف څخه بحث کوي، او په آخره کښې قصه په داسې ډول تماموي چه ډیر خلک جمع شوي او «مې هیرا کولا» نیسي: او دمګدې دپاچا دمور، دشفاعت په اثر «بالادیتیا» هغه بښي: او هغه رخت «مې هیرا کولا» د کشمیر د پاچا په نزد پناه وروړي او له خوموډي نه وروسته دهغه تخت وتاج اشغا لوي:

هندي داستانو نه او کتیبې له دې نه زیات په هند کښې د (مې هیرا کولا) د حکومت او پاچائي ددورې دپیښو په باب کښې معلومات ورکولی نه شي: هغه څه چه د هغوی

---

(١) دار لي هستري آف اند یا ونسنت سمیت ٢٣٧ مخ:

(٢) دهندکورنۍ (سلالې) او تاریخ له کنیشکا نه د مسلمانانو دحملو وتر زماني پورې د کتاب ٦٣ مخ.

ACKU

داغراق آمیزو او مبالغه ناکو عباراتو او لهجو څخه مملو میزې چه د یفتلي دولت نفوذ بورا او په بوتا کالی تا ریخ د هند له خاورو څخه لیرې شوي نه دي او زیاتره هغه جنګونه چه د مخه موورته اشاره وکړه محلي جنګونه وو چه د ګوپتا دامپراطورۍ د جنوبي دوو رکونو نی کیدو نه وروسته دبیاو بیاو ځایومحلي امراؤ پخپله ګته شروع کړي او وچه تقریباً دیرش کاله (د ۵۱۰ کال له شاوخوا نه د ۵۴۲ کال تر حدودو) پورې نی دوام کړی دی چه موتر هغه هم دیفتلي دولت د ملك نیولو داقد اماتو جز بولو . په دغه دوره کښې دآریانا دیفتلي دولت نفوذ د پخوا په شان د اخشنور دعظمت ددورې په شان تینګ پاتی ؤ او (می هیراکولا) پاچا زیاتره د هند د محلي امراؤ په آرامولو بوخت و هر کله چه د هند د محلي امراؤ منفرداً ناکامه اقدامات تو نتیجه ورنه کړه نو د ۵۳۰ کال په شاوخوا کښې او په وروسته کالونو کښې د هند راجا ګانو سره متفق شول او په ګډه نی د(می هیراکولا) سره مقابله وکړه او په نتیجه کښې دآریانا دیفتلي دولت نفوذ د هند له مرکز څخه کراز کراز لیرې شو او په آخره کښې له هغه ځای نه بیخي خلاص شو او د کشمیر په علاقې پورې خاص شو. او (می هیراکولا) لکه چه (ونسنت سمیت) نظریه ورکوی احتمالاً د (۵۴۲) په شاؤخوا کښې د چین د زائر (هیوان ـ تسنګ) نه یوه پیړۍ پخوا مړ شوی دی. که څه هم دیفتلي دولت سیاسی سلطه د(می هیراکولا) په مرګ سره له هند څخه خلاصه شوه مګر طائفي ئی داندوس (سند) نه هغې خوانه پاتې شوې لکه چه زیاتره محققین راچپو تیان دیفتلي اولاده بولي:

دیفتلي دولت دقدرت سقوط او دملوك الطوائفي د دورې شروع کیدل:

---

نږدې ملکان: د(می هیراکولا) وفات او په هند کښې د یفتلي دولت دنفوذ ختمیدل

---

دآریانا دیفتلي دولت دعظمت دسقوط مقدمه شمیرل کیږي . د(می هیراکولا) دوفات کیدو په زمانه کښې دآریانا ترا ځاوره دیفتلي حکمرانانو په لاس کښې وه چه ځینو ئی دامارت شکل درلود او ځینو پیړۍ نی دوام کړی دی : دهندوکش په جنوب کښې په تیره بیا د(زابل) په علاقه کښې لکه چه مو ولیدل یفتلي (زاولي) قوی قبیلې او ددوی رئیسانو دېر نفوذ درلود سربیره په دې په څو نورو مهمو ځایو کښې لکه کاپیسا ـ بامیان ـ جاغوری

بادغيس، غرجستان او بدخشان چه ځينې ئې ديفتليانو نظامي مركزونه او اډې وې؛ عسكري افسران او رئيسان مقرر وو: په دغه بحراني دوره كښې چه څرنگوالي ئې بيخي تياره او نامعلوم دى د كيدارى كوشانيانو (كوچنيو كوشانيانو) او لا ده چه څو موده پخوانۍ دافغانستان د لمر ختيزو كوهستانو نو جگو ځايو ته پناه وړي وه، دكاپيسا او دهغى شاوخوا نا وو ته راشكته شوه او د زابلي رئيسانو په مرسته د هندوكش په جنوب او دافغانستان په ځينو نورو مركزي برخو كښې ئې د محلي امارتونو په تشكيل لاس پورى كړ:

دغه رنگه په ځينو نورو ځايو كښې چه دمخه و ويل شول يفتلي مشرانو يا دكوشانو يفتلي رئيسانو د يو شمير محلي امارتونو په تشكيل او شروع وكړه چه دهغو موجوديت په يو شمير مسكوكاتو سره ثابتيږى، او په هغو سكو كښې ډيره څيړنه او زياته مطالعه په چه عموماً يفتليانو، ذيكي ملكانو، دباميانو شيرانو دغرجستان شاريانو او نورو ته ئې نسبت كيږى، د دوى څخه د ځينو نومونه په تدريج سره واضح او څرگند كړى. لكه چه په دې وروستيو زمانو كښې د زيږ كوهستان په صدق آباد كښې ديفتليانو د سپينو زرو يوه او يه سكه دكوشانو ساسانى دطلائى ، حد بولو يو مسكوكاتو په نمونه پيداشوې د چه تر اوسه پورى په هيڅ يو كتلاك كښې ليدل شوې نده . دغه رنگه دكابل له بريكوټ (دهمزنگ) نه هم دسپينو زرو يو ديفتلي سكه په لاس راغلې ده، همدغه شان دغزني دعلاقي له هغه ځاى نه چه يفتلي زاولي قبيله پكښې اوسيدله او تمركز ئې پكښې درلود، دغوربند دفندقستان له بودائي معبد څخه ځينې سكې پيدا شوې دي، سربيره په مسكوكاتو دفندقستان له معبد څخه (دپاچا او ملكې) مجسمې او دباميانو دككرك د دري له بودائي معبد څخه دنقاري پاچا تصوير په لاس راغلى دى چه هغه نو لِ بايد په دغه ځاى كښې ديفتلي فصل له ختميدو نه پخوا ځاى او بيان كړو. څكه چه ديفتليانو د ترقى له دورې نه وروسته يعنى د ٥٥٠ م كال له شاؤ خوا نه وروسته له افغانستان څخه د چينى زائر (هيوان - تسنگ) د تيريدلو تر وخته پورى (٦٣٢ م) همدغه يفتلي يا (كوشانو يفتلي) محلي امراو و د هندوكش د شمال او جنوب په بيلو بيلو ځايو كښې پاچا ئي او سلطنت درلود او د چينى زائر د تيريدلو په وخت كښې ډير مهم ئې دكاپيسا سلطنت و چه په ديارلسم فصل كښې به ورځنې بحث وكړو:

دافغانستان په شمال او جنوب کښې یوشمیر مسکوکات پیدا شوی او پیدا کیږی چه مدققینو هغه د (نیکی) یا (نیکی ملکا) او (تگین شاهی) دنو لګیو په نامه یادلی دی (۱) دتګین شاهی مسکوکات معمولاً په او وم مسیحی پیړ ته او په وروسته زمانی پوری اړه لری اوسربیره په دی هرکاله چه دوی د نیکی نر لګی مسکوکاتو په مخ باندی بیاضه رب و هلی دی ځرګند. او واضحه ده چه وروسته ذکرشوی نر لګی له هغونورو نه روښی او پخوانی دی او دغه موضوع په نورو رکتنو او مطالعاتو سره تائید کیږی معمولاً دسوالیه علامی په استعمال سره د(نیکی ملکا) مسکوکات دکابل دسیمی د۵ یا ۶ پیړی په کوشانی پادشاهانو پوری اړه لری او نسبت ئی ورته کیږی دغه هغه وخت دی چه کوشانی حتی دکیدا ری کوچنیو کوشانیانو ئی پادشاهان له منځه وتلی او یفتلی دولت هم دخپلی ترقی او عروج دوره تیره کړی ده له لهبلی خوا هر کله چه لږ وروسته یعنی دشپږمی پیړی په وروسته وختو کی دغرجستان له شاریانو څخه دیوتن شومسی سکی (۲) دفندقستان له بوداتی معبدنه کشف شوی دی غالب ګمان دا دی چه (نیکیان) یفتلی یا کوشانو یفتلی محلی امراوی چه دهندوکش دشمال او جنوب په ځینو ځایو کی ئی امارتونه درلودل اوغزنی؛ جاغوری، بامیان او کاپیسا دلمرختیز هندوکش په جنوب کښې دهغوی مهم مرکزونه وو. موسیوهاکن دبامیانو د باستانی پیژندلو دنو و تجسساتو دکتاب په ۶۲ مخ کښې دوه مسی سکی تصویر کړی دی چه له غزنی نه پیدا شوی دی او هغه د (نیکی تیپ) په قطار کښې حسابوی د دغو مسکوکاتو دتصویر له څیړلو څخه د دغه پروفیسر مقصد دبامیانو د باستانی آثار و په کتلو او مطالعاتو کښې د(ښکاری یا چا) دتاج او دهغه تاج سره ددغو مسکوکاتو دپا د شاهانو د تاج مقائسه ده چه د بوداتی معمول نه خلاف ئی

(۱) دبنګال دآسیائی انجمن دمجلی د۱۹۳۶ کال دد وهم جلد په دریمه سلسله کښې دمارتن په قلم د ۳۲۸ نمبر مقالی ۴۵ نمبر مسکوکاتو ضمیمی ته دی مراجعه وشی؛

(۲) دستر هند دانجمن دمجلی د۱۹۴۰ کال دجولائی په ګڼه کښې دموسیوهاکن مقالی ته دی مراجعه وشی؛

په سرلري چه تصويرونه ئې دککرک او با مياڼو په دره کښې ليدل کيږي (١) د دغو کتنواو څېړنو د نتيجې ذکر کول هم په دغه ځاى کښې بې فائده نه دي ځکه چه دپروفيسرهاکن په عقيده د باميانو او غزني محلي اميرانو په دغو ختو کې (٥ - او ٦م پيړيه) داسې تاجونه درلودل چه دري مياشتې او دري کرې ئې درلودلې. که څه هم دغزني ددغو مسکوڅخه يوه سکه يوه مياشت او يوه کره لري او په نورو کښې دوې مياشتې او دوې کرې ليدل کيږي. خو هر کله چه د پادشاه د صورت دوه ربعې معلوميږي دريمه مياشت او دريمه کره د دغه پروفيسر په عقيده پټه پاتې شوې ده. دککرک د دري د ښکارې پاچا او د باميانو د بودا په تاج کښې چه بنائي دغه پاچا په بودائي جامه کښې ښکاره کړى (٢) دري مياشتې او دري کرې واضحه ليدل کيږي. او د موسيو هاکن په عقيده د دغه اميرا و دغزني داميرانو ترمنځ چه دغه مسکوکات ئې ضرب کړي دي خامخا خپلوي يه تعلقات موجود وو. بايد داو ويل شي چه موسيو هاکن دککرک د دري ښکاري پاچا دکوشانو ساساني اميرانو په ډله کښې بولي چه په بل عبارت دکيدار يکو چنيو کوشانيانو له پادشاهانو څخه يو تن دى چه يوه زمانه دساسانيانو ترنفوذ لاندې راغلي و او په دغه ترتيب ددغه تصوير نقش پنځمي پيړۍ ته منسوبوي دغه کار هغه څه مانع نه دى چه د مخه ووويل مګر دغزني مسکوکات او هغه پادشاهان چه په دغو سکو باندې نقش دي ديفتلي مسکوکاتو او پادشاهانو سره ډېر شباهت لري او (دکوشانو يفتلي) د نومونو د ترکيب ضرورت محسوس کيږي د پاچاو ملکي مجسمې چه د غرجستان د پادشاهانو نه ديو پاچا نه مسي مسکوکاتو او دخسرو پرويز د يوې سکې سره ٦٢٧ - ٥٩٠ دغور بند دفندقستان له معبد څخه پيدا شوي دي خو سر نه لري دوي خامخا د هغه کوشانو يفتلي ګډي او مخلوطي کورنۍ څخه دي چه ډېر وروسته ليچر نو کښې ئې ځاى په ځاى محلي امارتونه او حکومتونه تشکيل او قايم کړي وو او په داسې حال کښې چه تو کيو يانو (لويديزو ترکانو) او ساسانيانو هر يو له شما ل

---

(١) دککرک ددرې دښکارې پاچا تصوير دکابل موزيم ته راوړل شوى دى.

(٢) دککرک ددرې ښکارې پاچا په داسې حال کښې معلوميږي چه خپله ليندۍ بو دانه وړاندې کړې او پخپله ئې له ښکار نه توبه کړې او لاس ئې اخستى دى.

ACKU

او غرب ته په تهدیداتو او مداخلو کښې کوشش نه کول. د وی د هندو کش دلو را وسته دیوال په سیمه کښې دخپلو رعیتو په روزنه او سرپرستۍ بوخت و؛ و تر دې چه هیوان تسنگ په ۶۲۲م کال کښې ز موږ مملکت ته راغی او ځای په ځای د دوی دڅو ندانه دقیقې تیاو گانې رسم کوي چه ځای په ځای په پراتاونکو فصلونو کښې له هغو څخه پرده لیرې کړه او بحث به ورڅخه وکړو.

**د ترکو او ساسانیانو ملگرتیا او اتحاد:** په هغه ده ره کښې چه په آریانا کښې د یفتلیانو سقوط شروع او ملوک الطوائفیو دیو واحد سلطنت ځای نیو ه او اشغالا وه د آریانا له سرحداتو نه دباندې یو دو اقعه پیښه شوه چه تفصیل به ئې په راتاونکی فصل کښې راشي، دغه پیښه د ترکو او ساسانیانو اتحاد او یو کیدل دي چه د لته په لنډه صورت ور ته اشاره کوو او دهغې په اثر په آریانا کښې د یفتلیانو د وضعیت بحرانی دوره لا پسې وخیه او خطرنا که شوه او د دوی د مقاومت د ماتیدو او د پردیو خلکو د لاسوهنو او مداخلې سبب وگرځید.

توکیو یان یا غربي ترکان چه د راتاونکي فصل موږ د دوی د پاره وقف کړی دی د یو سري په واسطه چه (استامی) نومیداو د ه ته (سن یابگو) وائي د تومن خان نه وروسته د یو ئ پراخې اولوی امپراطورۍ په تشکیل او بریالی شول چه د باکاش د سیند له شاو خوا څخه د پامیر تر گاو ناو یو ځای پورې ئې پر اختیاد رلو ده، او اومړی ځل تر کانو او د دوی د امپراطورۍ د آریانا د شمال شرقي سرحدو سره تماس پیدا کړ (استامی) د امپراطورۍ په پخوانی پراخوالي چه تشکیله کړې ئې وه قناعت ونه کړ او د دغه یان او باختر ته لوته ئې اقدام وکړ؛ مگر بیائي هم په یو اځي ځان په اقداماتو لاس پورې نه کړ او ساساني خسروانو شیروان یې خپلې مرستې او ملگرتیا ته راو باله.

ساسانیانو چه د آریانا د یفتلي دولت د پیاړ اکیدو او ظهور په واسطه خپل عظمت د لاسه ورکړی او محکوم او باج ورکوونکي شوي و د ترکانو ظهور او د دوی همکاری او مرسته ئې د یفتلي دولت په غورځولو کښې په خوښۍ سره ومنله: ساسانی پاچا (قباد) چه د یفتلي دولت

ACKU

پەمر ستەدفار س پەتخت باندی ناستو در ی ز امی در لو دل : ( کلو س ، ز م ، او خسر و ) هر کلەچەکلوس دمز دکی دین پیر و ۋنو پلا ر او و ر و نەئی لەدەمخەخو ابدی او متنـفرو و تر دی چە قباددر و م لەامپر اطو ر یە (جو ستن ) نە غوبنتی و و چە ددەزوی او ددە پەمحای ناست خسر و و پیژ نی لکەچە پە ٥٣٠ کبنی قباد دخپل مر گ پە وخت کبنی خپل خلیفـە خسر و انوشیر وانو تا کە پە دغە تر تیب دآ موسیند پە شمالی خار و کبنی دتر کانو دپیدا کیدو پە زمانە کبنی خسر و پە ساسانی تخث باندی ناستو او ددە او استامی پە ملگر تیا او اتحاد پە ٥٦٦ کا ل دآر یانا یفتلی دولت سقو ط وکر ، تر کانو دخەمو دی دپار ە پە شمالی بر خو لا س پیدا کر ، او ساسانیانو پە محینو لمر لو یدیز و بر خو کبنی نفو ذو موندا و دهندو کش پە جنو ب کـبنی دکو شان او یفتلی ر ئیسانو خپل وضعیت تینگ او تقو یە کر او یو مقـتدر ە پاچائـی ا و محلی اما ر تو نە ئی تشکیل کر ل چە لە هغو څخە بە پە ر اتلو نکو فصلو نو کبنی بحث وکر و .

# دولسم فصل

## په تخارستان باندی د توکیویا نو (ترکا نو) تسلط

دترکو دکلمي معني او دهغوی اصلیت : ترکان یا دهغه نوم له مخې چه چینیانو ور باندی ایښی دی «توکیو» یا «تیوکیو» (۱) داسنایانو (۲) اخلاف دهیوانګ نویانو یو څانګه (۳) وه چه په التایی او وایر قلیچ نومی منطقه کښې ئی استوګنه ذر لوده. په ۴۳۴ مسیحی سنه کښې د (توباTob‌a) ددریمی امپراطوری د چپاو په اثر داسناپنځه سوه کورنۍ د یو بل قوم دقلمرو دحمکو خواته چه دغه قوم (ژوانژوان) نومیداو په منګولیا کښې و. لاړې او دهغه قوم تابع شوی او دهغه غره له مخې چه دخود په شکل و او دهغه په شاو خواکښې او سیدلی د (ترکو) په نامه مشهور ې شوی لکه چه اوس هم د ترکی ژبې په ځینو لهجو کښې (خود) ته (دیورکو Durko) وائی دفرانسوی پلیو په نظر په د توکیو چینی کلمه د (تیورکیوت Turkut) د اوسنۍ کلمې دجمع صورت دی چه په مغولي کښې د (تیورك) کلمه قوی معنی لری. دغه اسنایان چه د ترکو په نامه مسمی شول د (مرپر سیسایکس) دفارس د تاریخ د مولف دلیکنې سره سم (٤) یوځه موده د ژوانژوانیانو مطیع او تابع پاتی شول او په تیره بیا دفلز اتو کار و نه لکه آهنګری، مسګری او داسی نور کارونه ئی په هغوی کښې اجرا کول تر دی چه ددوی د نورو همنژادانو د ر انګ او ددوی د تولو دجمع کیدو په اثر قوی شول او ځان ئی هم دژوانژوانیانو دقوی سره برابرو ګاڼه او ددوی رئیس دور و مننه ذکر شوی ستری او لویی قبیلی (ژوانژوان) له خوانینو څخه نجلی ور غو ښته او خو دغه غوښتنه ئی و نه منل شوه په نتیجه کښې خبره جنګ ته ور سیده او ژوانژوانیان مضمحل او وځپل شول.

پر سیسایکس لیکی چه ددغی متابای په اثر ژوانژوانیان داسی مغلوب او مضمحل

---

(۱) TuChueh یا TouKieu

(۲) Assena

(۳) دز ر کاله تاتار تاریخ د F.H.Parkers تالیف او دآسیا زړه یا مرکز ۹ ۲ مخ دی وکتل شی :

(٤) ٤٥٤ مخ دی و لیدل شی :

شول چه نور ئې نوم وانه وریدل شو، (رونه گروسه) لیکي چه د ترکو خاقان (تومن Tou-men) په ۵۵۲ کال کښې د ژوانژوانیانو په ضد پورته شول او هغوی ئې مغلوب او مجبور کړل چه لمر لویدیځې خواته وتښتي لکه چه د امپاله طبیعي سرحد داورال له غرو څخه واوښتل او د لمرختیځې اروپا په ځمکو کښې میشت شول او د (اواریانو Avares) په نامه ئې له هنگري څخه په بیزانس باندې په چپاو ولاس پورې کړ ترڅو چه په ۶۹۶ کښې د فرانسې د امپراطور (شارل ماني) له خوا شاته ووهل شول دغه مورخ د څپل شرق اقصی د تاریخ د کتاب د لومړي جلد په ۲۵۳ مخ کښې لیکي (امکان لري چه د اروپا د اوارقبایل «اصلي اواریان» نه وي او مسئله تر اوسه پورې حل شوې نه ده...) په هر حال هرکله چه ژوان ژوانیان له دې کبله چه له موضوع نه خارج دي د دوی سره څه کار نه لرو چه د ترکانو په مقابل کې د دوی د ماتې نه وروسته څه شول، او همدومره چه (پارکر) لیکي چه (ژوان ژوانیان) د ترکانو سره د مقابلې په اثر داسې و څپل شول چه نور ئې نوم وا نه وریدلې شو کفایت کوي لیرې لمر لویدیځې (غرب اقصی) خواته د ژوانژوانیانو تیښتې د ترکانو د پاره میدان خالي پریښود او دوی کړارکړار لمر لویدیځې خواته ور اغلل او د تارم له سیمې نه د سر دریا و آمو سیندسیمې ته ورسیدل او داسې ځمکې ته ورغلل چه د تاریخ د شروع کیدو له ابتدا څخه حتی له هغه نه پخوا د آریائي قبائلو د استوگنې ځای ؤ، د آریانا د یفتلي دولت په شمالي ولایت سغدیان کښې ترکان د یفتلیانو د سرحدي مقاومت سره مخامخ شول او د دغو مقاومتو د کمولو نه وروسته او مړي ځل په ۵۱۰ مسیحي کښې تقریبا د شپږمې پیړۍ په منځ کښې د اکسوس د سیند (آموسیند) په شاوخوا کښې د (ترکو) نوم واوریدل شو (بومن) د ترکانو لومړی خاقان چه په چیني لهجه د (تومن) په نامه ډیر شهرت لري یو ډیره لویه امپراطوري چه له منگولیا نه د اورال تر غرونو پورې ئې پراختیا درلوده اداره کوله، او ددې زمانه د (توکیو یانو) او مړي رونښا نه زمانه ده. دی په ۵۵۲ مسیحي کال کښې مړ شوی دی، او ددې مرگ د دوو جلا جلا سلطنتو د تشکیلیدو د پاره لاره برابره کړه.

د توکیو د امپراطورۍ توټه توټه (تجزیه) کیدل: د خاقان د بومن وفات قهرآ او جبرآ

---

د توکیو امپراطوري توټه توټه کړه ددې نه وروسته د توکیو یانو امپراطوري په دې علت چه لمن ئې په فوق العاده صورت پراخه شوې وه، او بل په دغه سبب چه (تالوپین-Talopniəu) یا

ACKU

(دالوبیان Da-lo-bian) چه ددوی له نجباوو څخه یو تن دی په خانۍ ونه ټاکل شو او په قهر شو ددوی په منځ کښې جدائي او نفاق زیات شو او پراخه امپراطوری ئی په دوو برخوو ویشل شوه: یوه دلمر ختیځ و توکیوبانو امپراطوری چه (موهان Mouhan) یا (موګان) د (تومن) زوی په ۵۵۳ کال دخپل پلار له مرګ نه وروسته په منګولیا کښې دمغی بنسټ کیښود: او بله دلمر لویدیځ و توکیویانو امپراطوری چه د (تومن) کشروروور (ایستامی) په ۵۵۲ مسیحی کال کښې تاسیس کړی وه او د (ایرتیج Irtych) (ایمیل Imil) علاقی او د (یلدوز Youldouz) او (ایلی Illi) اود (تچو Tchou) او د (تالاس Talas) سیمی یکښی شاملی وې دلمرختیزو توکیویانو خانانو ځانونه د (خاقان) په لقب، اودلمر لویدیزو توکیویانو خانانو ځان د (یبغو) په عنوان یاله.

دتوکیویانو ددغودوو امپراطوریو په منځ کښې هغه څه چه په دغه فصل کښې موبیان کړل او سرۍ کاروورمرو ولار ولمر لویدیز توکیویان دی چه ددوی د سرحداتو غربی لمن ختن، کاشغر او سر دریاب انیول او په آریانا کښې دیفتلی دولت سره نژدي او سرحد شریك شول.

غربی یاجنوبی توکیویان: ایستامی چه د (سن یبغو Sinyabou) وائی د توکیو دامپراطوری د موسس ورور هغه لومړی سړی دی چه د (تومن) او ددهٔ د اطوری د تجزیه کیدو نه وروسته د (ماناس Manas)، (ایلی Illi) تچو Tchou) (تارم Tarim) منطقی یعنی د (بلکاش Balkach) له سیند نه د پامیر تر علاقی پوری سیمی ئی تر خپل نفوذ او آمریت لاندی وساتلی او د غربی ترکانو سلطنت ئی تشکیل کړ، د غه پراخ سلطنت لکه چه د هغه له نوم څخه معلومیږی په هغو نورو قبائلو مشتمل و چه د الټائي د جنوب غرب خواته پراته وو او د (ایلی) کاشغر، بلکاش، او د (ارال Aral) د منطقی خلك وو، او د دوی دنفوذ د سرحد د شمال شرق له خوانه ئی د آریانا د یفتلی دولت له قلمرو سره تماس پیدا کړ.

په دغه ترتیب د غربی ترکانو سلطنت له یوی خوا د چین د ولایت د ایلی حوزه او له بلی خوا (سمیرتچی Semiretchi) او نننی سر دریاب انیولی وه. د غه ستر سلطنت د هغه موقعیت په لحاظ چه په دغه وخت کښې ئی نیولی و سره ددی چه له یوی خوا ئی د چین سره اوله

بلي خوا کې د ساسانیانو او د شرقي روم له دولت سره سیاسي عادي روابط درلودل، هر کله چه یو دېر اوږد او پراخ قلمرو ئې درلود او اداري تشکیلات ئې هم اساسي او ټینګ نه وو او سره له دې هر کله چه تر له تازې دغه وخت او د دغو منطقو د ترکانو له مهمو خویونو او عاداتو څخه ؤ. نو هر ې خواته د بې امنیتۍ او لوټ او چپاو و نو مظاهر لیدل کېدل.

د جنوب غرب خواته د لمر او یدېز و تر کانو زیاتې تیرۍ او تجاوزونه :

او د آریانا د یفتلي دولت د تجزیه کېدو نقشه : د ا یستامی، د دغې پراخې پاد شاهۍ سره سره پ دمخه ذکر شو و څمکو باندې چه دخپل ورور د تر کانو د لوی خاقان (تومن) له خوا ورته په میراث رسید لی و ې قناعت و نه کړ او په دې فکر کښې شو چه د نه په آریانا باندې هم تیری او تجاوز و نه و کړی او سغد یان او باختر هم د یفتلیانو د لاسه و اخلی او په خپلو نیو لو ځایو باندې ئې زیات کړ ی.

که څه هم لکه چه په یو ولسم فصل کښې وایل ل شو ل د آریانا یفتلي د ولت د ٥٥٠ م کا ل نه وروسته مخ په سقوط ر و ان شو ا و هند ی نیو لی ځمکې ا و د هندو کش جنو بي برخې د دو ی د لا سه و تلې وې او خاص باختر او سغدیانو ر ته پاتې وو ، بیا هم ایستامی یا لکه چه ر ېعنیا نو دی د (سن یابګو) یا (سنجیبو ل Sindjibu) یا (سازېو ل) د لقبو نو له مخې یاله (١) په یو اځې ځان د یفتلیانو سره مقابله و نه کړه ، بلکه غو ښتل ئې چه له پهلوی ریاست نه کار و اخلي او د آریانا د یفتلي دولت ځمکې د خپل او ساسانیانو په منځ کښې تقسیم او و و یشي :

هر کله چه د آریانا د یفتلي دولت او د فارس د ساسانیانو تر منځ د دېرو کلو نو دښمني موجوده وه او ساسا نی فارس دېر له پسې ماتې خوړ لې او په اثر دېر کاو نه یفتلي دولت ته باج و ر کـاو ه نو خسرو انو شیروان د تر کو د خاقان بلنه په خوښۍ سره و منله او په ٥٦٦ مسیحي کال کښې د ساساني پاچا او د تر کو د یبغو (ایستامی) تر منځ د یفتلیانو په ضد تړو نامه معاهده وشوه او د دواړو د حملې له کبله یفتلي دو لت و ځپل شو او په نتیجه کښې ترکانو او ساسانیانو د آریانا یوه برخه د اسې په خپل منځ کښې و و یشله چه لومړی د ولی د سرد ریا او آمو دریا تر منځ منطقې

(١) طبري دی د سنجبو په نامه یاد کړ ی دی او د غه کلمه د یبغو (Yabghou) د ترکي لقب له مخې منځ ته را غلې ده.

یعنی ماوراءالنهر (سغدیان) د تاشکند او سمرقند او د نورو ښارونو سره یو ځای او د هری او باختر ولایتونه، ساسانیانو ته پریښودل او خسرو انوشیروان هم ډېر زر د مملکت په لمر لویدیځ او برخو د هندوکش د شمال په منطقو کښې تر باختره پورې او د دغه غره له جنوبی برخو څخه درونۍ او هوتۍ تر شاو خوا او پورې (۱) نفوذ پیدا کړ. نه دا چه د ترکانو او ساسانیانو د اتحاد په اثر د هندوکش په شمال کښې د یفتلیانو قدرت هم خراب او تیت و پرک شو او د بدخشان، غرجستان، وجیرستان، بادغیس، بامیانو او د نورو ځایو په کوهستانی سختو او مشکلو نقاطو کښې ټولګی ټولګی خپاره او تیت و پرک شول سغدیان او ځینی شمال شرقی منطقی د شپږمی پیړۍ په دوهمه نیمائی کښې د ترکانو په لاس ورغلی او ساسانیانو بلخ ته له نژدې شا و خوا څخه د پار تیاتر سرحدا تو پورې زیات نژدې د مملکت شمال غربی منطقی ونیولی: هغه نوی وضعیت چه د هندوکش په شمال کښې پیدا شو یعنی د ترکو او ساسانی اتحاد او د آریانا د یفتلی دولت تجزیه کیدل دیر ډیر دوام پاتی نه شول او ترکان دیر قوی او د مه لودی تازه نفس دښمن په شان د ساسانیانو په مقابل کښې پورته شول او د دوی د اتحاد دوستی او ګډون نقشه وړانه شوه او په رقابت، دښمنی او مخالفت بدله شوه.

هر کله چه د غربی ترکانو دامپراطوری سرحداتو د یفتلی دولت د محل کیدو او ضمحل کیدو او د ساسانیانو له تجاوز نه ورو سته له یوی خوا د فارس د دولت د مفتو حه ځمکو سره او له بلی خوا د چین سره تماس درلود او د نو د تجارت له نقطی نظره څخه ئی فوق العاده مساعد او ښه موقعیت پیدا کړی و او ترکانو غوښتل چه په مرکزی آسیا کښې له خپل وضعیت او موقعیت څخه استفاده وکړی او د لیری شرق او لمر لویدیځ ی دنیا ټول تجارت په لاس کښې ونیسی.

هر کله چه د قافلو د تګ او راتګ لاره یعنی د وریښمو لاره د مدیترانې له سواحلو څخه تر چین پورې د دوی د قلمرو په یوه اویه برخه کښې تیریدله او د چین له سرحدو څخه تر قسطنطنیې پورې د (تو ئن هوانګ) کوتچه، کاشغر او د بلخ د لاری د چین ټول وریښمین توکران ای خالص وریښم په بیزانس یا د شرقی روم په دولت خرخیدل په دغه ترتیب د هغه وبش

---

(۱) رونی او هو تی هغه کلی دی چه د بامیانو د غرب په سل کیلو متری کښې واقع او په هغو کښې د نوشیروان د لوری په نامه دیوالی تصویر و نه موندل شوی دی.

ACKU

له مخې چه ترکانو او ساسانیانو کړې وُ دغه لوی لاره دباختر او ورو سته د آریانا دحکمکو هغې برخې ته داخلیږد له چه په دغه وخت کښې دساسانیانو په لاس ورغلې وه نوله دغې لارې دتجارتي ترانزیت نیمې گټې او منافع ساسانیانو ته په لاس ورتللې دغربي ترکانو یبغو (استامي) هرکله چه دغې مسئلې ته ماتفت شو نو دساسانیانو سره ئې دنوو خبرو اترو دروازه پرانستله او (مانیاك Maniak) نومي سړي ئې چه په اصل کښې دسغدیان له خلکو څخه و دنما ینده په ډول خسرو انوشیروان ته ولیږه او دهغه نه ئې وغوښتل چه په ساساني نیولې او متصرفه قلمرو او په ځپله خاوره ئې ترکانو ته دترانزیت آزادحق ورکړي شي او ددوی له تجارتي ما لونو څخه گمرکي محصولات وانه خلي چه ترکي سوداگر مستقیماً قسطنطنیې او دبحرالروم دسواحلو نورو ښارونو ته ورسیدلې شي او تولې تجارتي گټې او منافع ددوی په لاس ورشي مگر هرکله چه ساسانیانو دغو مسائلو ته توجه کړې وه او دیرکلو نه ئې د لیرې شرق او دبحرالروم دسواحلو دتجارت له انحصار څخه گټې او استفادې کړې وې نو د ترکانو دیبغو په پیشنهاد ئې څه پروا ونه کړه او هغه ئې و نه مانه او ردئې کړ:

مانیاك سغدي استاذي چه دساسانیانو نظریه ئې یبغوته ورسوله دایستامي وضعیت بدل شو او دبلې نقشې په فکر کښې شو او دبیزانس یعنې دشرقي روم ددولت سره ئې ددوستۍ او مراودې لاره پرانستله دترکو خاقان څرنگه چه دساسانیانو سره متحد شوی و او دآریانا یفتلي دولت ئې مضمحل کړ دیوی لوی نقشې په فکر کښې شو او غوښتل یې چه د غه محل دبیزانس له دولت سره اتحاد پیداکړي او ساساني امپراطوري پخپل منځ کښې سره تقسیم کړي (رونه گروسه) داسیادتاریخ مولف دیو (کاهن Cahun) نومي له خولې نه ایکي چه (۱) خاقان دبیزانس له دولت سره درو ابطو دقائمولو په فکر کې شو - دغه التائي برېر غوښتل چه دهغه وخت دوه متمدني امپراطورۍ یعنې چین او روم سره متحداو متفق کړي او پخپله دخپلو ترکانو سره د هغوی تر منځ واسطه شي او هرکله چه دچین او قسطنطنیې ترمنځ امنیت قایم او ټینگ شو پخپله ددریم گړي سړي په شان منصفانه وضعیت ونیسي او له دوار و

---

(۱) داسیا تاریخ دکتاب ددوهم جلد ۲۱۲ مخ دغه کتاب دفرانسوي رو نه گروسه تالیف دی

څواو وڅخه ده راز نی په ساتاو استفاده وکړی دغه هغه لو یه نقشه وه چه ا یستا مي جوړه کړه او اولادې یې هیڅکله هغه هیره نه کړه..

د لو یو یزو ترکانو خاقان ا یستا مي د د غې نظر یې د عملی کو لو د پاره څه ل سیاسی نماینده (مانیلك) چه څو مود ه پخوا ئې ساسانی انو شیروان ته لیږ لی و د و لګا قفقاز د کښتنی سیمې دلاری د دو هم جو ستن دربار ته و استاوه سر بیره د تجارتي تړون په کولو باندې په ار و پاکښی د (اواریانو) په ضد او په آسیاکښی د ساسانیانو په خلاف ئې د (ترکو او بی ز انس) د حربی اتحاد پیشنهاد و کړ هر کله چه او ریان او ساسانیان دو اړه د شرقی روم د دولت پخوانی دښمنان و و دو هم جوستن زمرخس Zemarchos نو می سړی په ٥٦٨ م کښی د سفیر په حیث د ترکو خاقان ته و لیږ ه چه د پیشنهاد شوو مسئلو په با ب کښی مذاکره او خبری اتری وکړي دغه سفیر د کریمه Crime او داورال دلاری مرکزی آسیا ته ورسید او د (آق تاغ) دغره په لمن کښی چه د تیان شان د سلسلی څخه یوه څانګه او ښاخ دی او دغه سلسله د (ایلی) په منطقه کښی د کوچی شمال ته واقع ده او د ایستامی ذدو بی او اوری داستو ګنی ځای و د ترکی یبغو دربار ته ورغی ځینی و ائی هر کله چه د قسطنطنیی دربار هغه ته پوره اقتدار نه و ور کړی نو د تړون د کولو صلاحیت او واك ئې نه در لو د او ځینی نور داسې لیکی چه: هر کله د ترکی یبغو مقصد د ساسانیانو په ضد سمدستی جنګ و او بی ز انس پدغه وخت کښی په افریقا کښی د دو هم جوستن د جنګونو په اسطه ستړی او ستو مانه شوی و نو د بل جنګ د پاره ئې وخت او موقع مساعده نه ګڼله او نه ئې غوښتل چه ځان په نوی جنجال اخته کړی نو د ترکو او بی ز انس د تړون مسئله و ځنډ ید له خو د دوستی رابطه ئې و ر ځ په ور ځ پسی ټینګید له (رونه ګروسه) په چینی امپراطوری نومی کتاب کښی (١) و ائی چه د ترکی یبغو (ایستامی) او د شرقی روم د نماینده (زمرخس) ترمنځ په (٥٦٨) کښی تړون وشو، په هر حال که چیری فرضا په دغه وخت کښی د ترکو یانو او شرقی روم ترمنځ تړون او معاهده نه وی شوی خو بیائی هم دوستانه روابط ټینګیدل تردی چه دواړه خواوې د ساسانیانو سره جګړی ته برابری او تیاری شوې. بی ز انس د ساسانیانو

(١) دامپیر دستپ ١٢٩ مخ

سره په جنګ پیل وکړ چه له (٥٧٢ نه تر ٥٩١) پورې نژدې شل کاله دوام وکړ.
او (ایستامي) یو بل استاذی (نماینده) چه (انانخاست AnanKast) نومېده قسطنطنیې ته واستاوه، او له هغې خوانه هم پرله پسې لوېدیزو ترکیو ته سفیران راتلل چه د (ایوتي خیوس - Eutychios) (والنتي نوس Valentinos) (هرودین Herodien) او دسیلسي (پول paul) په نومونو مشهور دي. په ٥٧٦ کال کښې د شرقي روم امپراطور (د وهم تیبر Tibere II) بیا (والنتي نوس) غربي ترکیا ته واستاوه. په دغه وخت کښې ترکي یبغو (ایستامي) مړ شوی و او زوی ئې (تاردو Tardou) (٥٧٦-٦٠٣) په تخت باندې ناست و. تاردو خان د هغه تړون د کېدو په واسطه چه د (بي زانس) او (آواریانو Avars) تر منځ شوی و د شرقي روم د دولت د نماینده سره هرکلی و نه کړ او په آخره کښې د (ترکو او بي زانس) د اتحاد نقشه او د ساساني امپراطورۍ په تجزیه کولو او برخې برخې کولو کښې د دوی موافقه عملي نه شوه. تاردو خان په یوا ځې ځان بې د کوم بل دولت له مرستې یعنې بې د (بي زانس) له کومک نه د ساسانیانو سره په جنګ لاس پورې کړ او باختر ئې هم د هغوی له قبضې نه خلاص کړ؛ او په دغه ترتیب ترکیو یا ئې (ترکي) عناصرو او د دوی نفوذ او حاکمیت د اکسوس (آمو دریا) له سبې غاړو څخه د هغه پکښېنو غاړو، باختر او تخارستان کښې خپور شو، او ساسانیان او لوېدیزې خواته په شاه لاړل او یوازې د آریانا د غربي ولایاتو څېښې سرحدي غاړې د هغوی په لاس کې پاتې شوې (١)
دآریاناعمومي حالات: لکه چه د مخه وویل شول د لوېدیزو ترکانو امپراطورۍ چه
د خپل موسس (ایستامي) د سلطنت په زمانه کښې د کوتچې له شاوخوا څخه تر اکسوس پورې رسېدلې وه، د ده د زوی (تاردو خان) په وخت کښې د دغه سیند د جنوب خواته هم خپره شوه او باختر ئې د ساسانیانو د لاسه وایست او په ټول تخارستان کښې ئې نفوذ خپور شو، باید داهم وویل شي چه په تخارستان کښې د ترکي امیرانو د تسلط په لوم‌ړیو کلونو کښې (٥٨٠م په شاوخوا کښې) د آریانا وضعیت د سیاسي ویش او تنظیماتو په لحاظ ډېر تیت و پرک او خراب و، په داسې حال کښې چه د لوېدیزو ترکانو د خانانو

( ١ ) د چمني امپراطورۍ ١٢٩ مخ د غه اثر د (رونه ګروسه) تالیف دی.

نفوذ او حاکمیت په تخارستان کښې خپور شو د هندوکش په جنوب کښې (کوشانی یفتلی) ګانو او مختلفو عناصرو وار وار سلطنتونه درلودل چه یو ئې یکښې مرکزی د ولت شمیرل کیده او هغه د کاپیسا سلطنت ؤ چه ژر ئې اقتدار او قوت ومونداو لوی شو . او لکه چه په دیار لسم فصل کښې به وګورو د هغه د نفوذ لمن کرار کرار د کاپیساله سیمی څخه نوری ځا یوته خپره او پراخه شوه ، او د هندوکش تو له جنوبی برخه ئې و نیوله . داووومی مسیحی پیړی په دوهمه ربع کښې د چینی زائر (هیوان-تسنګ) د تیریدلو په وخت کښې هم د غه د کپسا پیسا سلطنت دلمرختیزې خوانه تر تاکزیلا پوری رسیده ، او د جنوب خواته د سلیما ن د غرونو تو ل ښنا خونه او دننی و زیرستان علاقی د هغه جزوی . او لکه چه وروسته به یاد شی د عربو د حملو سره د ښتا یاې له مخې معلومیږی دا ز ومې مسیحي پیړ ی د په منځنیو وختو کښې لویدیزی خواته د دغه سلطنت لمن د هیر مند تر د لتا او د سیستان د هامون تر شاؤخوا پوری خپره وه ، او دغه مطالب به په راتلونکی فصل کښې بیا ن شی .

د ترکا نو د اداری د ولاو نوعیت : که څه هم د تخارستا ن په بیلو

---

بیلو برخو کښې د تو کیو یانو (ترکانو ) داوسید لو او میشت کیدلو دلو مړ یو وختو د پیښو په باب کښې ز مو ږ معلومات فعلی الحال کا فی او د رضائیت و ړ نه د ی ، او په پراخه پسی د ور ت مربوطې پیښې تحلیل کو لی نه شو ، خو سره ددې هم هغه شی چه چینی زائر (هیو ان تسنګ) په ۶۳۰ مسیحی کال کښې د خپل مسافرت او ر اتګ په و خت کښې لیدلی کتلی او لیکلی ئې دی په دغه باب کښې نسبتاښه ر و ښنائی اچوی .

تو کیو یانو د آ ریا نا په شمال شرقی برخو کښې یعنی په تخارستان او د باختر د خاوری په یوه برخه کښې اداری نفوذ درلود ، او ددوی د خانانو داستو ګنې مرکز د قند وز ښار ؤ ، چه په اصلی او محلی لهجه ورته ( کهن دژ) و یل کیدل او دغه تر اداری ( تیول ) لاندی یوی سلسلی نو رو کو چنیو خا نانو د تخار ستان په درو کښې حکومتونه کول ( تاردوشاد) نو می خان چه په قندوز کښې ئې امارت در لود د ترکو د ییغو (تو نګ ) زوی او د طو ر فان خان زوم ؤ او تخارستان ئې د تیول په دو ل

ACKU

ده ته ورکړی ؤ ، په بل عبارت داموسیند جنوبی څمکی په مستقیم صورت ئلمر لویدیز و
ترکانو د امپراطورۍ د یلد وزد خان نشینو جز نه وې ځکه چه ددوی دیر جنوبی
سرحدونه د (اوسپنې دروازی) یعنی دا کسوس دسیند دښی غاړ و خط ته رسیدل ځکه
که چیری دلندن دچاپ د (چین اطلس) د ۳۵ مخ نقشی ته نظر وشی د دغه وضعیت په
ښه شان معلومیږی او دچینی زائر (هیوان - تسنګ) لیکنی هم دغه حالت
تائیدوی .

تخارستان : لکه چه په اوم فصل په دوهمه برخه په ۱۳۹ مخ کښې هم د
د(تخاری) تر عنوان لاندی بیان وکړ د(تخار) کلمه د(سیتی) قومونو څخه د یو قوم
له نوم څخه منځ ته راغلی ده اساساً دغه نوم دخلورمی قم پیړۍ د څخه تر اتمی مسیحی
پیړۍ پورې خارجی وجود درلود او د آریانا په شمال غربی څنډه کښې دسیتی قومو
څخه د یو شاخ (تخار وا) له او سیدلو ځای په ځای کیدلو ته و روسته دغه برخه په مخصوص
ډول دهغوی په نوم مسمی شوه او د تخارستان کلمه په منځنیو پیړیو کښې په زیاته اندازه
استعمال شوې ده لکه چه په د منځنیو پانګو کښې ولیدل شول لمر لویدیز توکیویان پخپلو
فتوحاتو سره دغرب او جنوب غرب خوا ته مخکښې راغلل او د آریانا د یفتلی
دولت ده ضمحل کیدو او دچپاور او رونکو ساسانیانو د شاته وهلو نه وروسته دشپږمی
مسیحی پیړۍ په دوهمه نیمائی کښې تخارستان ته ورسیدل دهغه وخت د تخارستان
جغرافیائی مفهوم د باختر له کلمی څخه ډیر جامع ؤ او دهندو کش په شمال کښې
دبامیر له لمنو څخه نیولی د قطغن او بدخشان او مزار شریف ولایت او حتی دمیمنی علاقه
هم را نیوله او دا کسوس (اموسیند) په شمال کښې سغدیا ن یکښی شامل ؤ چینی (هیوان
تسنګ) چه د توکیو یانو (ترکانو) دسلطی په زمانه کښې ز مونږ مملکت ته راغلی دی
د آریانا دغه برخه ئی د (تو - هو - لو) (To-ho-Lo) په نامه بللی ده او پراختیائی له شمال
نه جنوب ته یو زر «لی» (۱) او د لمر ختیز ې خوا نه لمر لویدیز طرف ته دری زره

(۱) لی دچینی مسافی واحد دی او ز دوالی ئی د پنځوسو متر و سره برابر دی.

(لی) لیکلی ده، دی لیکی چه : هر کله ددغه خای شاهی کورنی له منخه ولاړلی او مختلف رئیسان دهغه په هره خناوه کښی حکومت کوی او عموماً هغه ترل د توکیو یا نو (ترکانو) تابع او مطیع دی په بل عبارت په تخارستان کښی په هغه پراخ جغرافیائی مفهوم چه وو بل شوی وو دول ملوك الطوائفی پیدا شوی وی چه هر خان پخپله کوچنی علاقه کښی حاکم و او دوی ټول دقندوز دمرکز خان تابع وو ، او دغه خان به پخپل وار د توکیو (ترکانو) دیبغوله خوا مقرر یده .

دتخارستان مرکز قندوز ـ ترکانو دخپلی موقتی سلطانی په دوره کښی تخارستان دملوك الطوائفی او دهغو خان نشینو په دول اداره کاوه چه شمیرئی د(هیوان ـ تسنګ) دلیکنو له مخی ۲۷ خان نشینو ته رسید . او ددغو ټولو مرکز دقندوز ښار وو که څه هم بلخ د (نوـ دو) په نامه او د (راجاګریه) یعنی (دشاهی کوچنی ښار) په صفت یادشوی دی مګر دمعبدو د شهرت او دعلما وو او روحانیونو دډیروالی په لحاظ ئی ډیر اهمیت دراود مګر دتخارستان اداری مرکز په دغه وخت کښی دقندوز ښار وو هغه شی چه قندوز ته ئی په تخارستان کښی مرکزیت ورکړی و دهغه جغرافیائی مهم موقعیت و چه تقریباً ددغی علاقی په منځ کښی واقع شوی و : په دی کښی شك نشته چه قندوز د دینی موسسو او دعلم او فضل د خاوندانو د شمیر او د نورو حیاتی مسئلو په لحاظ بلخ ته رسیدلی نه شو ، مګر جغرافیائی او اداری موقعیت ئی دترکی خانانو په نزد چه په تخارستان باندی حاکمان وو ډیر اهمیت در لود ، قندوز دباختر له ښارونو او دقطغن او بدخشان له آوارو ځایو څخه تقریباً په یو دغا صله کی پروت و یوه لاره ئی دپامیر دلاره خوالی ته او بله لاره ئی دلو یدیز باختر آباد و علاقو ته رسیدله لکه چه اوس هم دحضرت امام دلاری نه یوه لاره برابره دقندوز نه آموسیند ته تللی ده او زمونږ دډیرو مهمو پخوانیو ښارونو څخه دیو ښار (قلعه زال) ډیری مهمی خرابی دهغی په غاړه پرتی دی.)

ACKU

او باې لارېدقندوز او ، رودخانې دمجرې په اوږدو کښې دتخارستان مرکز دپل خمرې او ددوشي دخولې په حدودو کښې دهندوکش دشمالي لمنو دکږليچو نوسره نښلاوه ، او دغه هغه نقطه ده چه څه ناڅه دهندوکش دجنوب دو هاوېې لارې د شمالي لارېسره پيوسته کيداې : هغه تجارتي اوکاروانې لويه لاره چه دتاکز يلاله بنار څخه را غلې او دپشکلاوانې (چارصده) او پاروشاپورا «پېښور» اود گندهارادعلاقې او لمپاکا «لغمان» څخه کاپيسا ته راتله ، او يوه لاره چه دار اکوزې له سيمې څخه دارغنداو دپاسنۍ مجرې په اوږدو کښې په وجيرستان يعنې دجاغورې او د «خواداد» يعنې دوردگوخوات ، ارغندۍ او دپغمان دلمنې دلارېاوسنې کوهدامن او کوهستان ته رسيدله ؛ دغورېند دري او چهار درې او کوشان او اندرابو ددرې دلارې د دوشي ته تلله ، همدغه رنګه داوسنۍ بنکارې درې دلارې (۱) دشبر دغاښې نه دتيريدلو نه وروسته بيا دهندوکش دجنوب ديوې مشهورې لارې يو بناخ ددوشي او کيله ګی په شاوخوا کښې دقندوز له مجرې سره پيوسته کيدله ، او دقندوز درود خانې مجرې يو طبيعي خط و چه کاروانو به دهغه په اوږدو کښې جنوبي لارې ته تر قندوز پورې دوام ورکاوه لکه چه اوس هم که څه هم له هغه ځای نه وروسته چه (علی آباد) نوميږې سرك بيرته دخان آباد خواته راګرځي يو بل بناخ برابر دقندوز طرف ته هم ځي . (هيوان تسنګك) پخپلو يادداشتو نوکښې قندوز د (هو ـ Hwoh) په نامه يادکړې دی او دغه (هو) بنار نه بلکه هغه قلمرودی چه خپل مرکز ئې درلود او دغه دی مو نږ په دغه باب کښې ددهغين يادداشتو په ترجمه لاندې پيل کوو (۲) دغه قلمرو هم د (تو ـ هو ـ لو) د حکمو يعنې (تخارستان) جزدی دقلمرو داحاطې او پزدوالي ئې دری سوه لي اودمرکز احاطه ئې لس لي ده

---

(۱) په دې کښې شپه نشته چه بنکارې دره په دغو نووختو کښې مو ترانو رته تګ او راتګ کوی مګر لکه چه څوکاله پخوا مې دکابل مجله په يوه ګڼه کښې ليکلي او بيان مې کړی دی دغه دره په تولو منځنيو پيړيو کښې دقافلو دتګ او راتګ لاره وه ، لکه چه د پخوانيو کلاګانو موجودوالي په تيره بيا دسرخشلك دبنار خرابې ددی نظريې تائيدکوی :

(۲) (دغ. بي يادداشتو) دلومړې جلد (۲۸۷ ـ ۲۸۸) مخونو ته دې مراجعه وشي ـ دغه يادداشتونه د (بيل) تاليف دی :

ACKU

حکمفرما پکښې نشته او مملکت د ترکانو تابع دی ځکه ئې اوږه جلګه ده او د کښت و کرد پاره ورډه او ډېری غلې او حاصل ورکړی د پېیونی او بوټی پکښې شنه کېږی ګلان او قسم قسم مېوی پکښې په فوق العاده اندازه زیاتی دی آب وهوائې نرمه، ملائمه او په زړه پوری ده، خلک ئې امانت کاراو ساده دی نارینه ئې طبعا چست وچالاک دی، ورېښمي جامې اغوندی، د دین او دیانت په لحاظ زیاتره خلک ئې دبودائي مذهب پیروان دی، او ځینې ئې هم برهمنی دی په دغه ځای کښې لس (سانګاراما) یعنی (بودائی معبدونه) او څوسوه روحانیون موجود دی چه د نجات د (کوچنی لاری) او (ستری او لوبې لاری) په قوانینو کې چه دغه دواړه د بودائي دین لاری دی معلومات لری او په دواړو مسلکونو عمل او تګ کوی پاچاه ئې ترکیو (ترکانو) د قبیلې څخه دی او د (اوسپنې دروازی) د جنوب په لوری او کوچنیو امارتونو او دروباندی حکومت کوی او د مرغانو په شان ځای بدلوی اوټل په یو ښار کښې نه اوسیږی (۲)

تارد و شاداوزوئي: په ۶۳۰ م کښې د چینی زائر (هیوانګ تسنګ) د راتګ په وخت په قندوز کښې د یبغو (تونګ) مشرزوی چه (تاردو شاد TarduChad) نومیداه وګه او حکومت کاوه او ټول تخارستان ددهٔ تر امر لاندی ؤ. «تاردو شاد» په عین زمان کښې چه دیلدوزاي تاشکند دخان مشرزوی ؤ د (کاوشانګ Kao-Chang) دخان یعنی (طورفان) سره ئې هم خپلوی دراوده او دهٔ زوم ؤ. ددغه چینی زائر د یادداشتونو له مخې معلومیږی چه (تاردو شاد) بومنور او بادیانت او مېلمه پالونکی سړی ؤ، او که چیری په دغه وخت کښې دده دوژل کیدو دردناکه پیښه نه وه شوې نو امکان ئې در لودچه دزائر سره ئې ډېره مهربانی کړې وای. دده د رانګ په وخت کښې د (قندوز ملکه) یالکه چه ترکانو به ویل (طورفانی خاتون) نرې مړه شوې وه او (تاردوشاد) بله نوې ښځه کړې وه. نوې ښځې دلومړی ښځې د یو شهزاده سره دوستی وتړله او د قندوز دخان په ضد ئې په توطئو لاس پورې کړ.

(۱) دچینی زائر ورستی رجمله له معنی دکه ده او ښکاره کوی چه ترکی خانان چه په تخارستان کښې ئې تسلط موندلی وحتی مرکزی خان ئې تل په یو ځای کښې نه واو د آسونو په سپرلی به دباد په شان دیو ځای نه بل ځای ته تلل، او دادغه وخت او زمان دسوار کارو ترکانو دژوندانه دمیزا تو څخه وو.

او هغه ته ئې زړه ورکړل او خپل عاشق ئې په تخت باندې کښېنا وه. نوې خان دخپل پلار (تاردوشاد) په شان یو دیندار او مبلغ او نکی سړی ؤ، او دچینې زائر سره ئې مینه او محبت او مهربانې وکړه، او هغه ئې په ډیر عزت او احترام سره وساته، او هغه ئې و باله چه دشاهی کوچنی ښار «پو ـ هو» (بلخ) دکتلو دپاره لاړ شي او هغه ځای وګوري. او د هغه ځای دپوهانو او علماوو سره مرکه او خبرې اترې وکړي، چینې زائر دقندوز دترکي خان له هرکلي او ښه نیت څخه خوښ شو او دهغه بلنه ئې ومنله او دبلخ دشاهي کوچني ښار د لیدلو دپاره لاړ، او ددغه ښار دعلماوو سره په کتلو په تیره بیا د(ناوا ویهارا) (نوبهار) دمعبدو دپوهانو د سرحلقې او مشر په لیدلو سره چه نوم ئې (پراجنا کارا ـ prajnaKara) ؤ ډیر خوشحاله شو:

دتخارستان خان نشینې: دمغه وویل چه توکیو یا نو(ترکانو) دخپلې سلطې په

---

دوره کښې تخارستان دمتمرکزې ملوك الطوائفې په ډول اداره کاوه، او د اطرافو خانانو تولو د قندوز دمرکزی خان اطاعت کاوه. د(هیوان ـ تسنګ) دیادداشتو دبیانا له مخې ویلی شو چه تخارستان عموماً په(۲۷) خان نشینو ویشل شوی ؤ چه مشهورې ئې په دغه ډول دی:

(۱) کیو ـ می ـ تو ـ Kui-mi-to ـ یا (کومیدا ـ Kumida) چه د( دروازاو روشان) له منطقې نه مقصد دی، او بطلیموس له دغه تاریخ نه پخوا پخپله جغرافیا کښې هغه (کومیدی Komedai) بللی ده. دغه خان نشینی دپامیر دغرونو په لمنو کښې واقع وه او د جنوب خوا ئې د(شي ـ کي ـ نی) Shi-Ki-ni دقلمرو یعنی (شغنان) سره تماس درلود.

(۲) پو ـ تو ـ شنګ ـ نا (po-to-chang-na) چه له دې څخه ئې په بدخشان سره تعبیر کړی دی. چینی زائر ددغه ځای دقلمرو احاطه دوه زره لی لیکلې ده او دده دتیرید لو په وخت کښې ددغه ځای خلك بودائي وو:

(۳) شي ـ کي ـ نی (Shi-Ki..ni) دشغنان غرنی او کوهستانی سختې او مشکلې ځمکې وې: ددغه ځای دځمکې پراخوالی دوه زره لی او دمرکز احاطه ئې پنځه پاشپږ لی وه.

(٤) آ ن ـ تا ـ لو ـ پو (An-ta-lo-po [آنتالوپو] یا اند راب، د هغه وخت دتخارستان په خان نشینو کښې ئې ډیره پراختیا درلوده ځکه چه ددغه ځای احاطه ئې درې زره لي،

او دمرکز احاطه ئې ۱۴ یا ۱۵ لي لیکلي ده دچیني زائر درا تګ په وخت کښې دغه ځاي دری بودائي معبدونه او ۴۰ ـ ۵۰ تنه علماء درلودل او په دغه ځاي کښې اوسیدل.

[۵] پو ـ هو [po-ho] پو هر دباختر له علاقې نه مقصد دی چه په هغه وخت کښې ئې مساحه ډیره محدوده شوې وه او دلمر ختیز نه لویدیز ته [۸۰۰ لي او له شمال نه جنوب ته [۴۰۰] لي اوږ دوالی ئې درلود] سره له دې مرکز ئې دبلخ ښار د[راجاګریهه Rajagriha په نامه یعني [شاهي کوچني ښار] بلل کیده او شل لي احاطه ئې درلوده سلو ته نږدې معبد ونه پکښې ودانه وه، او دری زره راهبان پکښې اوسیدل او تول د (هنیا یا نا) د طریقې یاد نجات دکوچنۍ لارې پیروان وو. سره ددې چه پدغه وخت کښې دبلخ او باختر اهمیت دساسانیانو او ترکانو دجنګو نو او هغوی سره دیفتلي دولت دمقابلې په اثر ډیر کم شوی و او ترکانو دتخارستان دادار ه کولو دپاره مرکز قندوز ته ولیږ داوه خو سره له دې دبلخ شاهي کوچني ښار دعلما و فضلا مرکز او مذهبي کانون شمیرل کیده لکه چه دقندوز ترکي خان له هیو ان تسنګ نه وغوښتل چه دبلخ ښار وګوري او سره له دې چه دهغه دمسافرت دلارې څخه چپ دی خو ددغه ځای دمعبدو او علماو څخه دی نا کتلی تیر نشي نو په نتیجه کښې چیني زائر په بلخ کښې د آریانا دبودائي ستر عالم (پراجناکارا) سره وکتل او په جنوبي آریانا کښې خپل پاتي مسافرت ئې دهغه په ملګرتیا سره پای ته ورساوه.

سربیره پدغو خان نشینو چه یادی شوی څیني نوري هم لکه کرزی تو (Kwohsi-to) (خوست) منګ کن Mung-Kin (منجان) (هی ـ مو تا ـ لو Hi-mo-to.lo) (در ایم) او داسې نوري هم دچیني زائر په یاد داښتو کښې یادې شوي دي او له تولو نه ئې معلومیږي چه لوی او واړه خانان دتخارستان په بیاو بیاو درو او ناو وکښې تیت و پرک شوي وو.

دچین دسوی او تانګ دکورنیو پیداکیدل:

دتو کیو یانو (ترکانو) ضعف او تجزیه کیدل: هغه وخت چه دلمر ختیز و او لویدیز و

تو کیو یانو دوو امپراطوریو چه دلوم ړی مرکز په (اورخون OrKhon او دد وهمی مرکز د(ایسیک قول Issiq-Koul) او تالاس Talas) په شاو خوا کښې و، دخپل تسلط او قبضې

لمن په آسیا کښې له منچوریا نه تر آریانا پورې خپره کړې وه، په چین کښې محیني او ضاع پیدا شول او یو ه داسې قوه تشکیل شوه چه کرار کرار په شرق او غرب کښې ئې د ترکیو یا نو قدرت کم کړ دغه نوې وضعیت د چین د سوې او تانګ د کورنیو پیدا کیدل او د چین دیووالي او وحدت ته وبه کیدل وو، په ۵۷۷ مسیحي کښې هغه دولت له منځه لاړ چه د مانچو بربریانو د توبا Tobas په نامه تشکیل کړې و او په شمالي چین کښې د سوې کورنۍ روی کار شوه او لوی عسکري دولت منځ ته راغی چه جنوبي چین ئې په ځان پورې و تاړه، د دې کورنۍ له پادشاهانو څخه دوه تنه مشهور دي چه یو ئې (یانګ. کین Yang-Kien) و چه په ۵۸۸ کښې پاچائي ته رسیدلی دی او بل ئې (یانګ. تی Yang-ti) و چه د (۶۰۵ - ۶۱۷) کلونو تر منځ ئې حکومت کاوه په هغه زمانه کښې، چه په چین کښې د سوې کورنۍ پیدا شوه شرقي او غربي ترکیو یان د رقابت په اثر تر یوې اندازې پورې یو د بله څخه لیرې شوې وو، د مخه مو د دې فصل په لومړیو پاڼو کښې و ویل چه لمر ختیز و ترکیو یانو د خاقان مجلل عنوان د ځان د پاره نیولی او تاکلی و، او لویدیز و ترکیو یانو چه د دوی د لاسه نا ستو او هتر ر و حکمرانانو او خپلوانو د تسلط او نفو ذ لمن زموږ تر مملکت پورې رسیدلې وه ځان ته (دیبغو) لقب غوره کړې و او کرار کرار رقابت د هغوې په کار کښې در زو اچاوه او (تاردو) لویدیزو ترکیو یانو یبغو د (ایستامي) زوی د ۵۸۲ او ۵۸٤ کلونو په منځکښې د شرقي ترکانو سره له اتفاق څخه ځان وژغوره او د هغه د خاقان لوړ عنوان په ځان باندې کیښود.

په دغه فرصت کښې له یوې خوا په چین کښې د سوې دولت تشکیل شواو له بلې خوا تاردو مړ شو او لویدیز ترکان په خپل منځکښې په دوو برخو وویشل شول (شه کوي Che-Kcuei) د (تاردو) نمسی په غربي برخو کښې حکمران شو چه تاشکند ئې مرکز و، او تچو لو Tchou-lo) بل خان د ځان د پاره د (ایلي Illi) په غاړه مرکز و تاکه او د لویدیزو ترکانو امپراطورۍ په نورو محکو کښې خپل نفوذ ټینګ کړ (یانګ تي) د چین د سوې د کورنۍ دوهم امپراطور چه په اصل کښې د ترکیو یانو د مضمحل کو لو په فکر کښې و د هغوی له جداني څخه کار واخست او د تاشکند د خان سره ئې د ایلي د خان په ضد مرسته وکړه او د وروستنه ذکر شوی نقطې خان (چو لو) د چین دربار ته پناه یووړه او د چین تیو لئي په ځان قبول کړ په دغه

ACKU

ترتیب سوی یانو دچین پخوانی د(هانیانو دعصر) سیاست و نیو اوده رکزی آسیاتر کی خانان ئی یو دبل په ذریعه دخان تابع کړل لکه چه و ړ و رسته بیا په ۶۰۹ کښی د(حامی Hami )او (تورفان Tourfan ) خان نشینی ړ دغه تابع شوی او دچین نو د سوی دعصر په ختمیدو سره سنگیانگ ته و رسیدا و له بلی خو انی داو یدیزو ترکانو خاقانان دخان تابع او مطیع کړل چه تفصیل ئی زمو نږ له مرام نه خارج دی.

په کوریا کښی (۶۱۲-۶۱۴م) دچین دسوی دکورنۍ او ږده جنگو نه او دخلکو ناراضائی دانقلاب سبب شواو په نتیجه کښی هیه لی Hie-li د خپلو طرفدارانو سره دچین دچارو واگی په لاس کښی ونیولی او په ۶۲۶ کی د (تانگ ) کورنۍ د وی کار شوه.

هغه اله گوله (هرج ؤ مرج) چه په چین کښی دسلطنتی کورنۍ دبدلون ار تشیږ په وخت کښی پیښه شوه بل ځل بیا ترکانو ته موقع په لاس ور غله چه په تعرض پیل وکړی او لومړی دلمرختیز و ترکانو خاقان هیه لی Hie-li دغه کار ته اقدام وکړاو دچین په پایتخت (سی نگن فو ( Si-NgFou) باندی ئی حمله وکړه.

(لی شومن Li-Che-min (دتانگ دکورنۍ دمیسس زوی چه دتی تسانگ Tai-tsong) دامپراطور په نامه شهرت لری دغه تابع خانان بو په بل پسی دغه په ضدو لمسول تر دی چه په ۶۳۰ کښی ئی چینی جنرال (لی تسنگ Li-tsüng) د دریو زرو تنو عسکرو سره دغه په ضد ولیږ ه او نیمه پیر ی ئی دشرقی ترکانو مله منځه ورک کړاو شرقی او مرکزی مغلستان دچین ایالتونه شول او دتانگ امپراطور دترکی در بار دآدابو په آهنگ د (تین خان) (TienKhan) (اسمانی خان) لقب په ځان کیښو د.

دچین امپراطور دشرقی ترکانو دکار دفیصله کیدو نه وروسته داو یدیزو ترکانو خوا ته متوجه شود وی په دغه وخت کښی بیاقوت مو ندلی واو هغه ځایونه ئی بیر ته له دوی نه و اخستل چه د سوی کورنۍ په مرکزی اسیا او سنگیانگ کښی له هغوی نه نیولی وو او دتر بگتی Tarpagatai مناس Manas) ایلی Illi) ولایتونه؛ ما وراء النهر دهغوی په لاس کښی و واو دهغوی دو مرکزونه یو په اق تاغ دکو تنجی په شمال کښی او بل په تاشکند کښی و (شه کوی) خان چه ژ می ئی په وروسته ذکرشوی ښار کښی او دوبی او اوری ئې

دېرلي مرکزي يلدوز Youlduuz په شاو خوا کښې تېر او ه د ۶۱۱ او ۶۱۸ کلونو په منځ کښې دخپل نفوذ او تسلط لمن له التائي څخه د خزر تر بحيرې او د هندوکش تر غرونو پورې خپره کړې وه دده ورور او دده په ځاى ناست بيغو (تونګ) د ۶۱۸ او ۶۳۰ تر منځ خپل قدرت زيات کړ او سربيره د تارم پر سيمه تخارستان او باختر ئې زمونږ په مملکت کې د پخوا په شان پخپل لاس کښې درلود او چيني زائر (هيوانګ تسنګ) په ۶۳۰ کال کښې چه زمونږ د مملکت خواته راته د خه ئې د دايسيک تول په ياد (ګرم سيند) په غاړه کښې په کامل اقتدار وليدلى او دده زوى (تاردو شاد) چه د مخه مو يادکړ دا ريانا په شمال تخارستان کښې حکومت درلود او قندوز ئې دخپلې خان نشينۍ مرکز ګرځولى ؤ.

لکه چه (رونه ګروسه) ليکي د هيوانتسنګ له تيريدلو نه وروسته دلويديزو ترکانو د مقتدرې امپراطورۍ اساس او بنسټ خراب شو او د بخلاش BalKach او د تربغتي دخلکو د انقلاب په اثر د غه ترکي خان (تونګ) ووژل شو او دده مربوط ترکان بيا په دوو قبيلو او ترلګيوو ويشل شول چه په چيني نومونو (نوشه پى Nou-che-pi) او (تولو Tou-lou) زيات و نوم شهرت لري ، دوروسته ذکر شوې قبيلې (تولو) دخانانو څخه يو خان چه د خپلې قبيلې په نامه (تو-لو) سره مشهور دې د دوو ترکي قبيلو په يو کولو کښې کوشش وکړ او د ۶۴۲ په شاو خوا کښې ئې په زاور مچي) حمله وکړه خو دچين د تانګ امپراطور (تې تسانګ) چه د مخه مو دده دجلوس او ځينو اقداماتو په باب کښې بيان وکړ هغه ته موقع ورنه کړه او د (نوشه پى) قبيلې ئې د هغه په ضد ولاړولو او بيرته ئې کړه او ترکي خان (تولو) باختر ته پناه راوړه او د ۶۵۰ کال نه وروسته دده په باب کښې هيڅ معلومات په لاس کښې نشته (۱)

دچين امپراطور (تې تسانګ) د غرب خواته پخپله نقشه او پرمخ تګ سره ګام په ګام غربي ترکان ضعيف کړل او پر له پسې مخ په وړاندې تلل او په ۶۴۰ کښې ئې تورفان پخپلې امپراطورۍ پورې وتاړه په ۶۴۸ کې کوتچه او قره جار ئې تابع کړل او د ۶۴۹ په شاوخوا کې چه دده د وفات د کال دى د چين د تانګ باندې د دولت نفوذ د پامير په شاوخوا کښې کاشغر او حتى ماوراء النهر ته خپور شوى ؤ. په ۶۵۰ کال کښې دچين د تانګ د کورنۍ دوهم

(۱) د رونه ګروسه د تاليف (چيني علمى ز از امپراطورۍ) دکتاب ۱۴۲-۱۴۳ پاڼې

ACKU

امپراطور (کاوتسونګ Kao-tsong) په تخت باندې کښېناست که څه هم د غه امپراطوردا امپراطورۍ د ادارې چارو په نسبت د حرم د خلکو د ژوند و ن په چارو زیات مصروف ؤ سره له دې دده نه دپخوانی امپراطور سیاست دچین ددولت له خوا تعقیب شو، دده په زمانه کښې ددې کورنۍ دبل امپراطور په عصر کښې چه (منګ هوانګ) نومېد او دده دسلطنت ور وستی کال د۷۵۶ کال سره تماس لري تر دغه وخته پورې لا دتوکیو د خانانو څخه یو خان چه دبو دائي دیانت پیرو ؤ په تندوز کښې حکمراني کوله او چینی ماخذ دغه خان د(شه، لی، مانګ، کیالو Che-li-mang-Kia-lo) په نامه بللی دی(رونه ګروسه) دده د نوم سانسکریتی شکل (سری منګلا Sri-mngala) لیکلی دی او نوشته کوی چه ده دکوهستانی امراو وڅخه دیو امیر دتبتیانو دحلیف په مقابل کښې دچین له امپراطور (کااوسن چه Kao-sientcha) څخه مرسته وغوښته (۱) دغه هغه وخت دی چه سربیره په عربو باندې تبتیان هم دچین دتانګیا نوسره مقابل شوی دی او ښائي چه د هندوکش ددرې دمحلی کوهستانی امراوو څخه یو تن دتوکیو دخان دمحوکولو دپاره دتبتیانو سره ملګرې او متفق شوی وی. په هر حال دغه ترکی خان هغه وروستی خان دی چه نوم ئې په چینی تاریخي ماخذ کښې یاد شوی دی.

دقندوز همدغه وروستی ترکی امراچه دعربو دجنرال قتیبه له خوا دتخارستان دنیول کېدو ترزمانې پورې ئې په تخارستان کښې آمریت دراود څېنو مدققینو دمسکوکاتو له مخې دتګین شاهي یاتجن شاهي په لقب یاد کړی دی او ددوی له خانانو څخه یو خان په ګند هارا کښې هم امارت جوړ کړی ؤ .

ACKU

---

(۱) د (رونه ګروسه) دتالیف امپر دستپ ۱۷۰ مخ.

# دیار لسم فصل

# کوشانو یفتلي کورنۍ او سلالي

## رتبیل شاهان

په دولسم فصل کښې وکتل شول چه دا وومې مسیحي پېړۍ په اوله نیمائي کښې دهندوکش شمالي سیمې دهفتو ترکي خانانو په لاس دمتمرکزې ملوك الطوائفۍ په دول اداره کېدلې چه د لمر اوېدېز و توکیو یانو د ( یبغو گانو ) له خوا مقرر یدل د(هیوان تسنگ) دسر په سترگو دایدنو کتنو او یادداشتو او دمسکوکاتو دشهادت او دځینو مطالبو له مخې معلومېږي چه دترکي خانانو دنفوذ لمن چه په تخارستان کښې ئې موقتي سلطه او قبضه موندلې وه دهندوکش په سرونو سره محدوده شوې وه او په جنوب کښې ئې نفوذ پیدا نه کړی شو، بیا دیر مبهم او محدود دصورت او په ځینو ځایو او مواقعو کښې چه څرنگوالی ئې نامعلوم دی.

په دې کښې شك او شبه نشته چه دالې کړلې په یوه دوره کښې چه د توکیو خانانو په شمال او ساسانیانو په غرب کښې تسلط موندلی ؤ دغربو دهلو د او تازه دمو لښکرو ساسانیان او دچین دتانگیانو مقتدرو قوا ؤ توکیویان له غرب او شرق نه متزلزل او پریشان کړي وو ، دهندوکش په جنوب کښې محلي حکومتونه دمحلي امراوو په لاس کښې وو او (هیوان ـ تسنگ) د خپل تگ او راتگ په لاره کښې په بامیانو او کاپیسا او دجاغوري په شاؤخوا کښې د امراوو څخه بحث کوی او دده له یادداشتونو څخه داسې معلومېږي چه دکاپیسا پادشاهان ترکان نه وو لکه چه هغه ئې دتوکیو دهغو امراوو په خلاف چه په دغه وخت کښې ئې په تخارستان کښې نفوذ درلود ( کشاتریه) بللي دي او کشاتریه دمحلي نظامي نجباوو طبقې ته وائي چه په کامله قوه او قدرت ئې د هندوکش په جنوب کښې پادشاهي درلوده او (کاپیسي) دهندوکش دجنوب پای تخت او اداري او سیاسي مرکز شمېرل کېده دهندوکش دشمال او جنوب اداري دول او نوعیت تقریباً یو رنگه او سره مشابه ؤ په شمال تنها رمستان کښې ترکي خانان د قندوز د مرکزي خان نه

گرد چاپېره راټول شوي وو ، او د هندوکش په جنوب کښې کوشاني او کوشانو يفتلي شهزادګان او امراد (کشاتریه) د کورنۍ يعنې د کاپيسا د محلي جګړه مارو نجبا وو د ډېرې کورنۍ نه ګرچاپېره جمع شوي وو ، او د کاپيسا دولت داو ومې پېړۍ له اوله وختو نه دا تمې پېړۍ تر وروستيو وختو پورې ډېر اقتدار درلود او په پراخ قلمرو باندې ئې حکومت کاوه چه حدود به ئې و تاکل شي ، او د هغه پوښتنې محلي جز او غير جزءا راموجود وو چه د خاورې د دفاع او خارجي حملو په مقابل کښې ئې د کاپيسا له مرکزي دولت سره اتحاد او اتفاق درلود او د دغو مطالبو جزئيات به کرار کرار په دغه فصل کښې بيان کړو.

کوشانو يفتلي عنصر : پوله هغو مهمو شيانو څخه چه د هندوکش د جنوب د امارتو په باب کښې عموماً او د کابل او کاپيسا د سلطنتو په باب کښې خصوصاً بايد ووېل شي د دغو سلطنتي کورنيو د اصليت د تکلو مسئله ده . د افغانستان تاريخ د تير و فصلونو په تيره بيا د لسم او يوولسم فصل يعنې (د کيدار يانو او يفتليانو د فصلونو) د کتلو څخه معلومېږي چه څرنګه د کوچنيو کيداري کوشانيانو او يفتليانو نژادي بقاياوو د هندوکش په دوړو خواوو او زياتره د هغه په جنوب کښې پاتې شول . په هغو اقداماتو سره چه يفتليانو د ډېر قوي دولت د تشکيل په لاره کښې وکړل د کيداري کوشانيانو اولادې ئې د سياست او مملکت دارۍ له ميدان نه وايستله او د دوي او د دغو سرو نوته ئې پناه وړ وړه . دغه رنګه په څېله يفتليان ډېر وې دوري اقتدار او د ساسانيانو او ګوپتايانو په ضد د فتوحاتو نه ورو ستنه مضمحل شول او مقتدر دولت ئې د هندوکش په شمال ، جنوب او مرکز کښې په محلي او کوچنيو امارتو نو بدل شو . په هغه وخت کښې چه توکيو يانو (ترکانو) په تخارستان غلبه موندلې وه (کوشاني او يفتلي) عنصر سره ګډاو خلط شوي و او د هندوکش د جنوب او مرکز په زياتره ځايو کښې د قوم مشرۍ او نفوذ د دوي په لاس کښې و او د مملکت په غاړو او څنډو کښې د هغوي د موجوديت آثار او دوام درلود تر کوم ځاي پورې چه له شواهدو نه معلومېږي يفتليانو د ترکيو زورو ستم ترډېره چه د ترکانو او ساسانيانو د ګامو حملو په مقابل کښې ئې خپل اداري مرکزيت د لاسه ورکړ د مملکت کوهستانو او سختو او مشکلو نقاطو ته لکه بدخشان ، بادغيس ، غرجستان ، باميان ، وجيرستان ، مالستان ،

ACKU

دسمت شمالي کوهستانو، دغزني او دګرديز شاوخوا کوهستانو ته پناه يوړه، او له دغو ديرينو ځالو څخه ئې وخت په وخت سر اوچت کړ لکه چه په (صدق آباد) کښې د شمالي ريزه کوهستان څخه پدې وروستيو کښې دهغوی يوه لويه هديره او د ځينو پادشاهانو مسکوکات چه تر اوسه پورې تاريخ دهغوی نوم ونښان معلوم کړی ندی کشف شول. دهندوکش په جنوب کښې کاپيسا او کابل (۱) او زابل زياتره ديفتليانو او کوشانيانو ديفتلي عنصر داستوګنې ځای ؤ.

لکه چه په يفتلي فصل (يوولسم فصل) کښې وويل شول د (زابل) کلمه چه په اسلامي دورو کښې ئې لږې جغرافيائي او عرقي مفهوم پيدا کړ او په حماسي او رزمي داستانو کښې داخله شوه اصلاً يفتلي کلمه وه چه اصل ئې د يفتلي شاهانو د مسکوکاتو په شهادت (زوبل) ؤ (۲) او (زابل) شوی دی، (زابل) يا (زاول) په اصل کښې د يوې يفتلي قبيلې نوم ؤ چه دغزني او جاغوري په شاوخوا کښې ميشت شوي وه او دغه ځای ددوی په نامه (زابل) سره مسمی شو او جغرافيائي مفهوم ئې د زماني په تير په لړ تر قندهار او حتی ترسيستان پورې پراختيا ومونده که چيرې دافغانستان په تاريخ کښې دقت وشي نو به اوومه، اتمه، نهمه او لسمه پيړۍ کښې دمملکت په غاړو او څنډو کښې ديو محلي امرا پيدا شوي دي چه ځينې ئې چيني مآخذونو، او ځينې غربي منابعو او ځينې دسانسکريت او حتی فارسي کتابونو او بعضي مسکوکاتو او ځينې ديوالي رنګه تصويرونو زيات ؤ کم معرفي کړي دي او له ځينو څخه ئې جسمي هم په لاس راغلي دي دغه امرا، پادشاهان، او کورنۍ عموماً دعرق په لحاظ يا يفتلي يا کوشانو يفتلي ګډ او مخلوط وو او هر کس او هرې منبع په خپل ګمان دوی په کشاتريه، رتبيل شاه، تګين ترو کشه، خيونی، ترک او په داسې نورو سره ياد کړي دي او الي ګړلي (هرج، مرج) ئې پيدا کړی دی حال دا چه دوی ټول زمونږ په نزد دځرګند او واضح دي يو دا چه زياتره دغو کورنيو دخپل نسب سلسله کوشاني کورنۍ په تيره بيا کنيشکا ته منسوبوله.

---

(۱) له دغه مزنګک څخه هم ديفتليانو مسکوکات او خاورين لوښي په لاس راغلي دي.

MemoirsofTheArchaeologicalSurveyofIndiaNo22 (۲)

او بل داچه يفتلي بقاياو، په کاپيسا-باميانو-زابل، بادغيس، غرجستان او جيرستان او په نورو ځايو کښې قرار ګاوي، دغو ټبرو ځايونه (تمرکزګاهونه او امارتونه) دراودل، نو ددغو ټبرو روستيو مطالعه او استنادونو يلي شو چه داو ومي مسيحي پيړۍ نه وروسته هغه محلي اميران چه د آريانا په شاوخوا کښې سلطنت ته رسيدلي دي دهغو کورنيو له جملې څخه دي چه په کاپيسا او کابل کښې دسلطنت دمرکزي هسته او دمملکت اداره دهغوی په لاس کښې وه او عموماً دکوشانو يفتلي ګډ عنصر څخه وو او دغرجستان شاريانو دباميا نو او نورو ځايو شيران يا يفتلي يادکوشانو يفتلي له ګډ عنصر څخه شميرل کيدلی شي.

لکه چه دهمدغه فصل په آخره کښې به وګورو په دې کښې شک نشته چه دشمالي برخو په شان دهندوکش په جنوب کښې هم سره دکاپيسا مرکزي سلطنت دشته والي دهغه يو شمير جزاو غير جزء محلي امراهم وجود درلود.

او ځای ته او په يو وخت کښې دهرزانو سياح. او مورخ يادونې څخه دبو راتګ او دخرابو معبدو او استوپو څخه دهغوی دمسکوکاتو کشفيدل ددې سبب شوي دي چه نېپسکي ملکان، ترکي شاهي، رتبيليان، تروګشه يان، شاربان، شيران، غورشاريان او داسې نور داووهمي مسيحي پيړۍ نه راو روسته زياتره دهندوکش په جنوب او مرکزي برخو کښې دپخواني افغانستان دتاريخ جز ثبت شي مګر دغه شاهي کورنيو او محلي اميران دعرق له مخې عموما يادکوچنيو کوشانيانو بقايا ياد يفتليانو يادکوشانو يفتلي ګډ عنصر بقايادي په هرحال دکاپيسا مرکزي سلطنت چه دغه فصل دهغه دبحث دپاره قائل شوی دی ياخو نګه چه چيني زائر (هيوان تسنګ) يادکړی دی (کشاتريه) او يالکه چه عربو لقب ورکړی دی رتبيل شاهان بولو، په دې کښې شک نشته چه عربو دآريانا او يابيز وسرحدونه ته رسيدلو له زمانې څخه داووهمي مسيحي پيړۍ له نيمائي د ۲۳ هجري کال څخه ۲۵۸ هجري په ۸۷۹ مسيحي کال کښې ديعقوب ليث صفاري په لاس دکابل دفتح کيدو ترزمانې او له هغې نه وروسته له دوو پيړيو نه زياته موده دې رتبيل کلمه په مختلفو صورتونو استعمال کړې ده. او دعربي ماخذ په تعقيب ئې په فارسي منابعو کښې هم لاره موندلې ده.

سره له دې بايد وويل شي چه دغه نوم اصلا هندو ئي دی او ياد (رتن پاله) نخاص نوم له مخې

ACKU

او یا د اسم عام (رای) یعنی (پاچا) او (پاله) دیوی کورنۍ د نوم له ترکیب څخه میدان ته راوتلی دی نو دغه لقب د لغوی او مذهبی مفهوم په لحاظ اصلاً باید د کابل د برهمن شاهی یا نوی‌ـا دهندو شاهی یانو په باب کښی په راتلونکی فصل کښی استعمال شی. خو هرکله چه د عربی منابعو یا د او تذکره هغه په ډیر عمومی صورت علم گرځولی دی د کاپیسا کشاتریه گانا و د دوی او لاده د رتبیل شاهانو په لقب یادو او د کابل برهمن شاهی یان کابلی رایان بولو.

دکاپیسا دسلطنت حدود: دکاپیسا تاریخی سابقه او جغرافیائی مفهوم ئی د اسی مطالب دی چه دافغانستان په تاریخ کښی ورته اشاری شوی او لکه چه په اتم فصل کښی مو د کنیشکا د پایتختو په باب کښی بیان وکړ د کاپیسی (بگرام) ښار په هغه زمانه کښی هم مرکزیت دراود او حتی له هغی نه پخوا یونانو باختری خپلواکو پادشاهانو د باختر د خوشی کیدو او تخلیې نه وروسته د هندوکش په جنوب په دغه ځای کښی مرکز غوره کړی و.

که څه هم کاپیسا د جغرافیائی او تاریخی مفهوم په لحاظ دکوهستان او کوهدامن حوزه را تیرو له مگر په هغه زمانه کښی چه د هغی په کتنه او څیړنه بوخت یو اداری پراختیا د هغی مفهوم پراخ او خپور کړی او د کاپیسا سلطنت د هندوکش په جنوب کښی پراخه سیمه پیدا کړی وه چه مربوطی علاقی او حدود ئی د (هیوانگ ـ تسنگ) دیادداشتو او پخپلو سترگو د کتنو او د عربو د فتوحاتو د سره دهغوی د پاد شاهانو د مقابلی له مخی معلومیږی.

(هیوان ـ تسنگ) په ۶۳۲ کال کاپیسا ته دهغه درانگ په وخت کښی وائی چه پاچا (کشا تریه) یعنی د نظامی نجباو له طبقی څخه دی او نژدی لس امارتونه دده ترادارې لاندی دی؛ او دده د یاد داشتو د متن له مخی چه لاندی ئی بیانوو د کاپیسا د سلطنت ځینی مربوطی علاقی څرگندیږی.

(۱) ـ لان پو (لغمان): (... هرکله چه له څو پیړیو نه را ایسته شاهی کورنۍ له منځه لاړه او زیسا نو د اقتدار موندلو د پاره یو د بل امتیازته غاړه نه کیښو دله او په آخره نتیجه کښی

(لان يو ) دكاپيسا تابع اوباجگذا رهشو ه ...(۱)

(۲)ـنگارهارا(ننگرهار)(... خپل حاكم نه لري ؛حكمران ئي او د ده تر لاس لاندي مامورين له كاپيسا نه ورځي ....)(۲)

(۳) ـگندهارا(دېكتني كابل علاقهتر پېښو ره پوري) (... شاهي كورنۍ له منځه تللي او سلطنت دكاپيسا دنمايندگانو له خوا اداره كېږي ... (۳)

(٤)ـتاشا شيلو (تاكسيلا)(... پخوا دغه علاقه دكاپيسا د سلطنت تابع وه ، مگر په آخره كښې دكشمير تابع شوه او هغه تهيه ئي باج وركاوه ...)(٤)له دغو يادداشتونه دوه شيان پسته پوره وضاحت معلومېږي : يوداچه ختيزي خوا ته دكاپيسا دسلطنت لمن په يوه زمانه كښې تر (تاكسيلا) يعني د اټك وس د ختيز طرف نه هغې خوا سواحلو ته او وروستهبيادد غهسيند ترېنې غاړو پوري خپره شوې؛ دكاپيسا دسلطنتنو رحدو دپه نورو خواووكښې هم ددغه زائر دگرځېدلو او د ده د ياد داشتو له مخې ښه معلومېږي ځكهچه چيني زائر (٤٠) كاله ورو سته لههنده بېرته راستون شو او ددغه سلطنت دختيزو ، او شمالي او جنوبي غاړو نه گرچاپېره وگرځېد او كاپيسا تهبېرته راغى اوددغه مقصددخرگند و او دپاره پهدغوسيمو كښې دد غه زائر دگرځېدلو او تنگ‌او راتنگ لاره او خط تعقيبوو :

هيوان‌ـتسنگ له هند څخهدكاپيسا دپاچاغوښتنې داستوگنې ځاي (اوند)تهدبېرتهراتگ په وخت كښې هر كله چه پاچا په دغه ځاي كښې حاضرو نو دپا چا حضورته ورغى او په شاهي موكب كښې له(اوند )څخه (لمپاكا )يعني لغمان تهراغى او دد غې لاري په وهلوا وقطع كولو كښې ئي يو ه مياشت تېره كړه .

وروسته تر هغه مخ په جنوب روان‌شواو د پنځلسو ورځو مسافرت نه وروسته

(۱) دغربي عالم د يادداشتو د پروفيسر بيل دترجمې ۹۰ مخ
(۲) « « « « « « « « ۹۱ مخ
(۳) « « « « « « « « ۹ مخ
(٤) « « « « « « « « ۱۲۶ مخ

د (پانانا panana) (فالانا Ealana) ته ورمېند چه هغه (وارنو varnu) یا (وارناوا varnava) نومي سیمه ده چه (پا ني نی) یاده کړی ده .

هرکله چه د(فالانا) دعلاقې احاطه ئې څلورزره (لی) لیکلی ده او دمد ققینو دنظریې سره سم بیله‌شك اوشبهې نه دوزیرستان سیمې، دګومل دره، او معاونان ئې لکه د (زوب، Zhob) او(کندار Kandar) درې او داسې نورې ئې رانیولې هرکله چه د غه چینی زائر د جنوب غرب خواته دوه زره (لی) فاصله قطع کړې موسیو فوشه‌داسې نظریه لري چه چینی زائر د جنوب خواته تردیر : اسمعیل خان پورې مخ په وړاندې تللی دی او د هغه‌سترغرنه چه هغه ئې د(توبه کاکړ) دغره سلسله تاکلې ده او دترنك دسترې درې نه د تېرېد لو نه وروسته چه احتمالاً د غاجیو دکلات له شاؤ خوا نه د (تساـ کیوـ تچه Tsao - Ku-Tcha) د علاقې سره د اخـلـه شوه چه هغه ئې په بل نوم د (جاګود ه Jaguda) سیمه بللې ده او داوسنی جاغوری نه مقصد دی، وروسته بیاد چپل تنګ د خط په سر بوه علاقه :(فاـلی ـشی ـ سا ـ تانګ ـنا) په‌نامه‌یادوی چه (فوشه) هغه (وریجستاناـsthana-Vriji یعنې هغه‌شی بولی چه‌په‌بخوانیوانګلیسی نقشو کښې (یو جارستان Ujaristan) تثبیت شوی او له هغه‌نه‌مقصد (وجیرستان) دی او دغرجستان په‌جنوب شرقي څنده‌بانډې په‌اوی اوعمومي مفهوم سره په‌هزاره‌جاتو بانډې مشتمل دی : (هیوان‌ـتسنګ) دغه‌علاقه‌په‌جلا پاچا پورې مربوطه‌بولی چه‌دهغه نه‌بېوروسته بحث وکړو وروسته‌تر هغه (پنځه‌سوه لی) یعنې تقریباً (١٦٥) کیلومتره دشمال خواته او د(ناوور) ددښتې دلارې او دډرو دکږ کیږچنو او مشکلو لارو ، او د(خواد)( Khavad) یعنې د(خوات) اومیدان او د پغمان دیبلك تورت دګردنې دلارې دکاپیسا سیمې ته‌ر سیږي. او س د دغه دقیق حرکت دخط له‌مخې چه‌تقریباً دکاپیسا دسلطنت په‌شاؤ خوا غاړو کښې شوی دی وا ضحه‌وبلې شو چه د کاپیسا ددولت حدود دجنوب خواته دکرمې دره، دوزیرستان وارنا ـاو دیره اسمعیل خان رانیول. پاتې کیږي لویدیز او جنوب غربي حد ودئې .په دغو برخوکښې که‌څه‌هم دغه چینی زائر دغاجیو دکلات او دجاغوری او ناور ددښتې ،ور دګوـمیدان او پغمان له‌شاؤ خوا او څخه تېرېږي او دهزاره‌جاتو په ختیزه‌څنډه کې دیوبل محلي امارت څخه‌بحث کوي مګر ده

ACKU

د تیرید لوله تاریخ څخه یو کال وروسته له کاپیسانه د بیرته تګ په وخت کښې یعنې په ۶۴۵ مسیحي کال چه ۲۳ هجري سنه ده د آریانا په لویدیز و سرحدو د سیستان په شاؤ خوا کښې د عربو حملې شروع کیږی او د رتبیل شاهانو د مقابلې نه څرګندیږی چه د هندوکش په جنوب کښې د کاپیسا د سلطنت حدود و د هیرمند او سیستان تر سیمو پوری پراخ شوی و.

کشاتریه پاچایان رتبیل شاهان: په هغه زمانه کښې چه د تو کیو (ترکو) خانانو د هندوکش په شمالي برخو تخارستان کښې حکومت درلود د هندوکش په جنوب کښې د کاپیسا مرکزی سلطنت د هغه پاچا په لاس کښې ؤ چه چینې زائر (هیوان-تسنګ) هغه کشاتریه یعنی د نظامی جګړه مارو نجباو له طبقې څخه بللی او په داسی حال کښې چه د هغه د شخصیت او د سلطنت د قدرت تعریف کوی داسی لیکی چه: (پاچا د کشاتریه له طبقې څخه او یو هوښیار — پوه، پیاوړی، زړه ور، او د عزم خاوند دی، او په لسو ګاونډیو ایالتو باندې امارتونو باندې حکومت لری او د خپل ملت سره ډیره علاقه مندی او مینه او محبت ښکاره کوی. د بودائی دین پابند دی: هر کال د بودا طلائی مجسمه د اتلسو فټو په لوړ والی جوړ وی او د نجات هغه مجلس ته خلک رابولی چه د (موکشامها پاریشاد) په نامه جوړیږی او مسکینانو، غریبانو، کونډو ښځو، او هغو کسانو ته چه ښځی نی مړی شوی وی صدقه او خیرات ورکوی.(۱)

رونه ګروسه د آسیا د تاریخ مؤلف په دغه باره کښې لیکی: رکه څه هم په دغه وخت کی د کاپیسا پاچا د امپراطوری خاوند نه ؤ، خو په پراخ او ستر ملک او قلمرو باندې ئی حکومت درلود. او سربیره پر خپلو مخصوصو ورثی میراثی محکو باندې د لامپاکا (لغمان) ننګارهارا (ننګرهار) او د ګندهارا محکی چه شاهی او محلی کورنی په منځه تللی وی تر ولی په کاپیسا پوری تړل شوی وی. او دغه دول د پاچا اقتدار د اندوس تر سوا حلو پوری رسیدلی. لکه چه هیوان-تسنګ وائی پاچا یو خاوړی او زړه ور سړی ؤ چه د ده له طاقت او قوت نه ګاونډی ملکونه لرزیدل او په لسو امارتونو باندې ئی حکومت درلود.

---

(۱) د هیوان-تسنګ د خاطراتو د لومړی ټوک د استانیسلاس ژولین د فرانسوی ترجمی (۴۱) مخ،

ACKU

هر کله چه دکابل دامیر په شان په (۱۷) پېړۍ کښې دکاپیسا پاچا دآسیاد تجارت لارې په لاس کښې درلودلې نو ددغه دوستۍ نه ستر تولوا کان محتاج وو .)

هیوان - تسنګ دهندوکش له جنوب څخه د تیر یدلو په وخت کښې لکه چه مو لیدل په ځو ځایو کښې دشاهي اومحلي کورنیو له منځه تللو او په کاپیسا پورې دهغوی ارتباط او تابعوالي ته ښرګندې اشارې کړي دي . او د (لان پولغمان) په باب کښې وائي چه څو پېړۍ مخ ښوا شاهي کورنۍ له منځه تللې ده که څېړې په دغه باب کښې له دقت وشي نو معلومېږي چه هغه شاهي کورنۍ چه څو پېړۍ مخ ښوائي په دغو علاقو باندي پاچائي کوله هماغه سترکوشانیان وو ، که څه هم په هغوی پسې کیدار یان (کوچني کوشانیان) او یفتلیان راغلل او لاړل او دغه ورو ستنۍ ذکر شوي قوم (یفتلیانو) پرستر سلطنت هم میدان تنګ او ایست ، خو هر کله چه ډېره موده ئې دوام ونه کړ . دهندوکش په دواړو خواوو کې ډیر ې ملوك الطوائفي پیداشوی تر دې چه په پای کښې د کاپیسا سلطنت لږ و ډیر لیری او نژدې علاقې ترمرکزي اداري لاندې راوستلې او دکاپیسا کشاتر یه بېرته ومقتدر لوی سلطنت جوړ کړ چه چینی زائر د په چاد شخصیت او ددهٔ ددولت دقدرت له صفت او ستاینې نه ځان و نشو ژغورلی .

هغه پاچا چه (هیوان - تسنګ) په خپل و اتګ او تګ کښې یعنې د ۶۳۲ او ۶۴۴ مسیحي کلونو تر منځ کشاتر یه (یعنی دنظامي نجبلو وله طبقې څخه) بللی دی عربي مولفینو ورو سته تر هغه دنهمې مسیحي پیړۍ تر آخر و وختو پورې د (رتبیل ، رانت بیل ، زنبیل او زبیل) په نومونو یادکړی دی چه تول دیو نوم مختلف ضبطونه دي چه صحیح صورت ئې (رتبیل) دی . که څه هم د (رتبیل) کلمه ئې په بیلو بیلو صورتونو تحلیل او تجزیه کړی ده . خو بیاهم واقعي ترکیب او مفهوم ئې ښکاره نه دی . پوالحی دو مره معلومیږي چه دغه نوم دکوم تاکلي پاچا خاص نوم نه دی بلکه احتمالاً یو لقب دی او په عربي او فارسي مأخذو کښې دیو ې سلسلې دغو پادشاهانو په باب کښې استعمال شوی دی چه د هغوی داستوګنې ځای لومړی کاپیسی او ورو سته کابل و .

دکاپیسا کشاتر یه یار تبیل شاهان دچیني زائر ینو او عربي مورخینو په شهادت زړه ور او غښتلي شجاع کسان وو ، او دملت او رعایاو سره ئې ډیره مینه او محبت درلود ، او زیاتره دبودائي دین معتقد وو ، په هغه زمانه کښې چه توکیویانو (ترکانو) په شمالي برخو تخارستان کښې قدرت او تسلط مونډلی وو ، دوی دهندوکش په جنوب کښې یو مقتدر سلطنت جوړ کړی و .

ACKU

چه لمن ئې لکه چه اېډل شوه. له تاکزېلا او اوند (ویهند) یعنې داندوس (سند) د سیند له دواړو غاړو څخه د زرنج تر ښار او د سیستان دهامون تر سواحلو پورې ئې پراختیا درلوده او د دوی نظامي قدرت د عربو د ستر واو دېرو لښکرو سره د مقابلې نه ثابتېږي او د دې بیان او شرحه به د افغانستان د تاریخ د سلسلې په دریم ټوک کښې وګورئ.

په دې کښې شبهه نشته چه د دغه پراخ قلمرو کښې نور محلي امارتونه موجود وو چه د هیوان تسنګ یادداشتونه د هغو بیان کوي همدغه ډول له هغو حدودو نه د باندې چه بیان شول په تېره بیا د هزاره جاتو په مرکزي کوهستانو په هغو ځایو کښې چه د لارو نه لیرې وو نور محلي امیران په بامیانو د غرجستان په بیاوبیلو ځایو کښې (په اوسني مفهوم هزاره جات) او غور او د زمینداور په غرونو او نورو ځایو کښې موجود وو. چه د مراو داتو د عادي لارو څخه کناره توب او غرنیوالي هغوی ته یو ډول محلي آزادي ورکړې وه سره له دې که چیرې د هندوکش په تول جنوبي سیمو کښې د رتبیل شاهانو جامع او پراخ نفوذ او د زرنج او بست له شاؤ خوا څخه تیولې تر کابل او کاپیسې پورې د جنګ په میدانو کښې پخپله د هغوی حضور په نظر کښې ونیول شي نو په ښه شان معلومېږي چه د کاپیسا مرکزي دولت د افغانستان د نیمې جنوبي برخې سیاسي او اداري مقتدره او مرکزي هسته وه او جزامراوو د ممالکت د دفاع او د پردیو د حملو د دفع کولو په عمومي مسئلو کښې د دغه مرکزي دولت سره همکاري او ملګرتیا درلوده.

کاپیسې او ـ اوند (ویهند): د هندوکش په جنوب په تېره بیا د آریانا په ختیځو برخو کښې د آب و هوا اختلاف او توپیر چه سړې او تودې سیمې لکه کاپیسا او ګندهارا یو د بل نژدې واقع شوي دي د افغانستان د تاریخ په زیاتو دورو کښې د دې سبب شوی دی چه دولت دې دوه پای تختونه ولري د دوبي (اوړي) او د ژمي پای تختونه لکه چه د کوشان د ستر امپراطور (کنیشکا) د زمامدارۍ په دوره کښې دغه رویه معموله وه. حتی په هغه زمانه کښې دد غو دوو پای تختو تر منځ یو دریم مرکز هم ؤ چه امپراطور به ځینې وختونه د منې (خزان) موسم په دغه ځای کښې تېراوه، په هغه وخت کښې د اوړي پای تخت همدغه د کاپیسې ښار او د ژمي مرکز د پارو شاپورا (پېښور) ښار ؤ، لکه چه د اتم فصل په ۲۳۳ مخ او په وروسته مخونو کښې د دغو دوو مرکزو په باب کښې تفصیلات ورکړې شوي دي.

ACKU

.داوومې مسیحي پیړۍ په اوله نیمائی کښې دکاپیسا د (کشاتریه) دسلطنت په زمانه کښې دغه پخوانی عادت لامعمول ؤ او پاچا به اوړی په کاپیسی (بگرام) کښې دکاپیسا په سمسوره او آباده سیمه کښې دپنجشیر دمست سیند تر خنګ تیر اوه اوژمی به د (پېښور) په ځای په (اوند - Una - یا -(اوده بهانده - Udabadhan) داوسنی اټك په شاو خوا کښې اوسیده ځکه چه (هیوان تسنګ) په ۶۳۲ کال کښې دراتګ په وخت کښې ددغه پاچا سره په کاپیسی کښې او خوارلس کاله وروسته هغه وخت چه له هندخه بیر ته را ستو نشو ددغه پاچا سره دژمی په مرکز د (اوند) په ښار کښې وکتل او په دواړو ښارو نو کښې دشاهی مهر بانۍ له فیضه نه مستفید شو .(۱)

دهنلو کش دجنوبی خوانو رسحلی امیران: تر ... لهمخه ددې فصل په دوو ، دریو ځایو

کښې موبیان کړ ی دی . چه دهندو کش په جنـوبی خواکښې پر ته دکاپیسا لهمهم او مرکزی سلطنت څخه ، بوشمیر نور کوړنی امیرانو ، چه ځینی یې دکاپیسا ددولت تابع وو ، او ځینی یې د هغه جـزا او تـا بـع نـه وو . د اموهم و یلی دی چه دکید ا ر ی کـ وچـنـیـو کـنـو شـا نـیـا نـو د حـکـو مـت لـه ویـجـا ړیـد و او انحلال او ډیفتالی مرکزی دولت دعظمت او ترقی له سقوط څخه وروسته دهغوی مشران او قبیلې دهندو کش دغره دسلسلې په جنوبی او شمالی خوا و کښې په غرنیوا و سختو او ایسارو ځایو کښې هری خوا او هری ګوښې ته سره تیت و پرك شول او کوړنی اما رتونه یې جوړ او تشکیل کړل . دغه کیفیت په (۷) او (۸) او (۹) پیړ یو کښې یعنی دهغو الو ګو او په پیړ یو کښې دوام درلود چه په یوه برخه کښې ئې دهیواد په شمال او لو یدیزه خوا کښې موقتاً توکیو یانو او ساسانیانو سلطه و موندله او په بله خوا کښې چینیانو نفوذ پیدا کړ او تر یو ی اندازې ئې دکاپیسا تر خو او شا بوری خپل اداری کنترول قائم او خپور کړی ؤ ، او له بلې خوا عربو فتوحات او یرغلو نه شروع کړی وو . او دمملکت په سختو غرنیو ځایو کښې دکو رنیو امار تو دتشکیل او جوړ یدو بو علت همدغه ډېر دیومداخلې وی

او دکوشانو یفتالی عنصر په تیره بیا یفتلیان او نورمحلی زړو ر او جګړن مشران میدان ته

---

(۱) له تاکز یلا نه تر بلخ پورې دهندپخوانی لار ې کتاب نه دې مراجعه وشی دغه کتاب د (فوشې) تالیف دی.

را وو تل او کورنۍ امارتونه ئې جوړ کړل ؛ چه ځينو ئې په ځينو سيمو کښې لکه په غرجستان او باميانو او نورو ځايو کښې دغربو دغو حاتو ترو ختوپورې خارجي وجود درلود. مونږ پوره باور لرو چه مختلفو تاريخي مأخذو نو يوائې ددغو امارتونو د يوې برخې وجودته ځينې اشارتونه کړې دي او تر اوسه پورې لا دهغوی ذدير وموجوديت نه دی ځرګند : دپاچاهانو نومونه او پدهغوی پورې مربوطې کارنامې خولا په ځای پريږده چه هيڅ معلومې ندي يوازې کوم شی چه وخت په وخت له يوې خوا او بلې خوا دهغوی څرك راته لګوی ، هغه مسکوکات دي چه دهغو په استناد اولاړ بندونه په وروو. ورو . دغه تياره ليری کيږی : د(۷)پيړۍ په نيمائي کښې دکاپيسا «کشاتريه»پاچا او کورنۍ په زمانه کښې هيوا ن ـ تسنګ ـ د هند وکش په جنوبي خوا کښې دخپل تګ اومسافرت پسه لاره کښې دوه نورکورنۍ امارتونه يادکړی دی. چه يو په باميانو کښې بل دغرجستان په جنوب شرقي ګوښه يعني اوسنی هزاره جات کښې

دباميانو شير : مونږ پوهيږو چه اصطخری (دڅلورمې هجري پيړۍ په اوله نيمائي

---

دلسمي ميلادي پيړۍ په اواو وختو کښې) او طبري له نومړي څخه تقريباً نيمه پيړۍ پخوا دواړو دباميانو کورنی اميران دباميانو شير په نامه يادکړی دی .

که څه هم مونږ اوس داوومې پيړۍ دپيښو بيان کوو خو سره له دې هرکله چه دانومونه او القاب له اسلام څخه په پخوا دوړ وپورې مربوط دي نو ځکه او قرينې پردې باندې دلالت کوی چه ددغی مشهورې دری محلی اميرانو يوه نيمه يادو دپيړۍ په پخوا هم دغه لقب درلود . لنډه داچه په دې کښې هيڅ شك نشته چه داوومې مسيحي پيړۍ په اوله نيمائي کښې او حتی پخواتر هغه په پنځمه پيړۍ کښې او تر هغې وروسته پيړيو کښې په باميانو کښې خپل کورنی امارت او کورنی اميران موجود وو ، ځکه چه چينی زائرينو پردغه ليار باندې دتيرېدو په وخت کښې هر يو دغه امرته اشارتونه کړی دی ، تر دې چه اسلامي ، ؤرخينواوجغرافيه ليکونکو ته ورسيدلي دي بيانو هغوی په دې باب کښې ليکنې کړی دی.

«مې - يو - کې» يعنی «دغربی مملکتو ياد ګارونه» اودهوان ـ تسنګ دژوندانه کتاب چه دهغه دېو مريد له خوا چه «شامن هوئی لی» Shaman H wu ili نوميدليکل شوی دی دواړو کتابو دباميانو داميرا وله هيوان ـ تسنګ سره دهغه دملاقات بيان کړی دی.

دغه دوار ه کتابونه په يوه لهجه وائي : چه دباميانو پاچا دفاو ن داسناد(هيوان - تسنگ) مخې ته ووت او هغه ئې خپلې پاچاهي مانۍ ته رباله . چه د ميلمه پالنې او مذهبي تمار فاتو څخه ګڼه واخلي . او چيني زائر بونو ي ورځې او يا پنځه ورځې په هغه ځای کښې اقامت او استوګنه وکړه .

دهغه بيان له مخې چه تومورې زائر کړی دی : هر ګند يز ی چه پايتخت او يالګه چه دی و ائي دباميانو پاچائي ښار ، دپولا دی دري په خوا ه کښې په داسې ورل پروت ؤ چه يوه برخه ئې ددري دلمن په پرينو ديو الو کښې دخمځو په توګه وداني شوي وه ، او بله برخه ئې دننه په دره کښې ترهغه ځايه پورې رسيدلې وه چه او س ده پر سيدعلي يخ سوزاو دده دوړو ر دز يارتونو دباغونو لمنې ئې نيولې دی . لکه چه هيوان تسنګ ليدلې دی ، دباميا و دشير محلي امارت په زړه او ومه پير ه کښې برقرار او دوام ئې درلود او له ده څخه ور وسته په (۷۲۷) مسيحي کال کښې بوبل زائر چه «هوي تچه او Houei- Tcheao» نوميده سي - يو » يعنې دکابلستان له لارې څخه له اروه ، وروسته مسافرت څخه ور وسته «فان - ين Fan-Yin يعنې باميانو ته راغلې دی . او لکه چه دی ليکي په دې وخت کښې بوتن «هو Hou» نومی يعنې بوتن محلي آرياني تاجک په دغې مشهوره دره کښې حکومت کاوه ، په دغه وخت کښې دا امير دکوم بل مملکت تر اثر او حمايې لاندې نه ؤ ، او پلې نظام او ډيرې لښکرې او ډېره قوي رسالهٔ ئې درلوده . (۱)

بايد و و يل شي چه په ۱۹۳۰ کال دباميانو دکيکرك د درې په يو معبد کښې د معبد د ديو الي رنګه تصويرونو په منځ کښې دپاچايو تصوير پيدا شوی دی چه اوس هغه تصوير دکابل په موزه کښې دباميانو په خونه کښې شته او پروفيسر هاکن هغه د «ښکاري پاچا» په لقب ياد کړی دی . همداشان دباميانو د۵۳ متر ی بت په رواق کښې بو لوي رنګه بودائي تصوير شته ، چه د معمول او رواج په خلاف پاچا ئې تاج پي پرسر وا پا چاهي جامې ئې اغوستې دی ، دغه دواړه تصويرونه دباميانو په يوتن شيرپوزي امارې ، او

(۱) دباميانو (آثار عتيقه بودائي باميان ) ۸٦ مخ ، دغه اثر د مدام او موسيو ګرد ار او هاکن تاليف او دکهزاد ترجمه ده .

پاددغي مشهورې درې دوه تنه اميران شوي . اوکوم څيزچه پهدغوډ وونصوير و نو کښي مشترك ليدل کيږي هغه دهغوي تاج دی چه اسهدرېيسوميا شتهو او دريوکرو ځخه مرکب او جوړ شوی دی او موسيوهاکن په غزني کښي يوه مسکوکه مرندلي ده چه دهغي سکې ضرب کوونکې همدا ډول تاج لري (١) موسيوهاکن د اشي عقيده ښکاره کوي چه داتاج دباميانو او غزني دعلاقې پهکورني اميرانو پورې مخصوص دی او شك نشته چه دغه پروفيسر ددغهتصوير نقاشي پنځمې مسيحي پېړۍ ته منسوب بولي او دغه پاچا دکوشانو ساساني پاچاهانو په دلهکښي يعنې دکو چنيو کيداري کوشانيانو په دلهکښي شميري چهپا هر وقت د ډول دساسانيانو تر اثر لاندې راغلي وو دا امر ښکاره کوي چه دباميانو دشيرانو دکورني اميرانو سلسلهتر پنځمې مسيحي پېړۍ پورې وراندې ځي او دساسانيانو نه وروسته چه دکيداريانو په فصل کښي او څهوروسته لې بيان شوی دی ځي داسې ښي دی چه لهدغو پرځو او دآريانا لهنورو برخو څخه وروسته پورته شوي دي او دباميانو شيرانکه چه د (٧) پيړۍ په اوايلو اود (٨) پيړۍ په اوايلو کښي چينې او کورياني زائرين دهغوي په باب کښي معلومات راکوي ډېر ديوتر اثر لاندې نه وو . او دصفاريانو دسلطنت ترزماني پورې ئې ذهندوکش او بابا په زړه او مرکز کښي خپل کورني ننوذاو سلطه او امارت بې شکهساتلي دی . (٢)

دغرجستانشار : غرجستان او دهغهشار انهم لکهباميان او د هغه د شيرانو پهنه شان پهاسلامي (عربي او فارسي) ماخذونو کښي شهرت لري او داسې ښکاريږي چه دباميانو پهڅير پهغرجستان کښي هم يوې سلسلې محلي اميرانو پاچاهي کړي ده او هغوي بهئې دشار

(١) دنو موړي ښکارې پاچاتصوير چه داوسپني پهسر د رسمپا دول دفرانسې دحفريانو دهيئت دغړي موسيوکرل پهقلم جوړ شوی دی دباميانو دکتاب دفارسي ترجمې د کابل چاپ دمقدمې په ١٢ او ١٣ مخونو کښي دي وکتل شي .

(٢) اصطخري (المسالك و الممالك ' په ٢٨٠ مخ کښي وائي چه د باميانو هند وانو داسې عقيدهلرله چه دباميانو پاچاتر دغهوختهپورې دپاچاهي مستحق نشي کيداي ترڅو چه دکابل لهپاچا سره پيمان او موافقه ونکړي او هغهدباميانو دپاچاپاچاهي ونهمني .

ACKU

په نامه یادل خو هر کله چه غرجستان یو عام او خاص جغرافیائي مفهوم لري نو بیغتلي قبیاوېه ځینو نو روسیه و کې هم استو گنه کړې ده او دغو ځایو د دوی په نامه شهرت موندلی دی او په هغو علاقو کښې د دوی محلي امیرانو سلطنتونه درلودل، نو په دې باب کښې په اټنه ډول مره دځینو مطالبو بیان کوم: په دې کښې شک نشته چه دعربو جغرافیه لیکو نکو هغه سیمه چه د بادغیس لمرخیاته خواته یعني د بادغیس او سرپل په منځ کښې پرته ده او د مرغاب (رود آب مرو رود) مشهور رسیند د هغې زیاته برخه اوبه کوي د «غرج الشار» په نامه بللې ده دا نوم له دوو کلمو غرج او شار څخه مرکب او جوړ شوی دی او دعربو مورخین په دې اتفاق لري چه شار د دغې علاقې د محلي پاچاهانو لقب و او غرج ئې چه (دغرخ یا غرژ) (غرش) په شکل هم راغلی دی په دوه ډوله بیان کړی دی یو دا چه دیو خاصي قبیلې او قوم نوم دی (۱) بل دا چه په محلي او دد غه ځای په لهجه او ژبه د غر نوم دی لکه چه مقدسي هم دغه نظریه لري په دې حال دا دواړه مفهومونه دغور او دقت وړ دی

اوس د دې لفظ (غر) د کلمې په باب کښې بحث کوو چه په پښتو کښې غر د کوه په معنا دی او د ملک الغرج او ملک الجبال لفظونه: (غرو نوشار او دغرو نو پاچا) په معنا دي چه لومړنی لفظ د عربو د یوهانو له خوا د غرجستان د شارانو په باب کښې او دوهم لفظ د غور د پاچاهانو د پاره استعمال شوی دی -دافغانستان په تاریخي جغرافیه کښې غرجستان خاص او عام مفهوم لري چه لومړنی یې ټینې او محدود دی او دوهم یې [illegible] او مبهم او غیر محدود دی. خاص غرجستان د غور د شمالي خوا او د هرات د شرقي خوا او د اند خوی د لویدیزې خوا تر منځ پروت و او پر دوو برخو ویشل شوی دی چه یوه ته ئې (پنج صده) بولي او بله برخه ئې (چهار صده) او ټولو ته ئې نه صده وائي (پنج صده) دقیاق، لغرا، سرتون، کودیانو او دیولن تاغ په ښارونو مشتمله ده او چهار صده د مرغاب، مامنج، بلاخر او خفکث له ښارونو څخه عبارت دی د تاریخ لیکوال (۹) دری او سنیه نهصده او خاص تاریخي غرجستان دی او د «غرج» د کلمې شرح او بیان د قوم او یوي

(۱) دا نظریه صحیحه ده چه غرځ د قوم نوم دی ځکه چه د ښیانو کلمه له غرځ څخه راغلې ده یعنی د غرځ د ښاپلې ځای

قبیلې د یو خاص قوم په معنا یو ه اندازه مشکل کار دی ځکه چه دقیقه اللغه او انسان پېژندنې له حیثه ژور تحقیقات او څېړنه غواړي د (غرج) (او خارج) (او خاج) او (ورج) او (وجیر) دکلماتو په باب کښې باید ژور ژور څېړنې وشي ځکه چه موسیو (فوشه) د غرجستان معادل (وریجستان) Vrijisthana موندلی دی او وائي چه دا کلمه د (یوجارستان Ujaristan) په شکل په پخوانیو انګلیسي متنو کښې د غرجستان په جنوب شرقي څنډه د (جاغوري) په خواؤ شا کښې استعمال شوی ده چه په عام مفهوم ټول هزاره جات ته شامله ده خو ښه به داوي چه د غه (وریجستان) هغه تاریخي (وجیرستان) و بلل شي چه پراوسني پرجاغوري او دهغې پرخواؤ شا ئي اطلاق کېده د غرجستان او وجیرستان جغرافیائي نومونه له دوو برخو څخه مرکب دي (غرج) او (ستان) او (وجیر) او (ستان) او دا (ستان) کلمه هغه د سانسکریت «ستهانه» اسم ظرف دی چه د افغانستان په محلي لهجو کښې د (ستهان) په شکل هم شته او راغلې ده نو څرګندېږي چه د (غرج) او (ورج) یا (وجیر) کلمې یا هرهغه صحیح تلفظ چه لري ئې د قوم او وطن یعني قوم او یا دقوم د نوا وطایفو نومونه دي، او غالب ګمان دا دی چه دا خالص عنعنوي له پښتنو قبیلو څخه عبارت دي ځکه چه د ختیځو غرونو څانګو او ښاخو په شاؤ د افغانستان په غرونو او ناوو کښې هر چا خواته لکه په بدخشان، بامیانو، غزني، کاپیسا او په مرکزي کوهستانو کښې تیت و پرک شوي دي او د دغو وقبیلو او سیدنې د ځای په توګه د وو ځایو د غرجستان او وجیرستان په نوم پر نوشهرت موندلی دی لکه چه دهغو یو بلې مشهور ې قبیلې چه (زوالي) نومېږده د غزني په خوا او شا کښې استوګنه غوره کړې ده او دغه سیمې د زوال او (زابل) او (زابلستان) په شکلونو زموږ په تاریخي جغرافیائي اعلامو او زموږ په رزمي ادبیاتو کښې زیات شهرت لري. موږ پوهېږو چه غرجستان او غزني چه د پخلیانو نظامي مرکزونه وو، په همدغه شان سره دمالستان و جیرستان یعني دجاغوري غرونه هم وو لکه چه دیخلیا چاهانو او اهیرانو مذکورات سربېره پر نورو ځایو په دغو ځایو کښې زیات پیدا شوي او پیداکېږي، له دې څخه ښه

کښي نه غور را او ژوږه څېړنه وشي په دغو ځايو کښي د دمخه يا د وښو يفتلي قبيلو د اولاد ې نښې خو را ښې څرګندې او ښلو مېيږي چه آيا د شکل، څيرې ، جامو ، ژوند انه او دوروخوبونو له مخې دا وسنی جاغوري او مالستان خلك له خپلو نورو ګاونډيانو سره د تو پير لري؟ په همدغه شان دغرڅستانو سيد و نکي او د غزني د شاوخوا ځايوا وسيد ونکي. هو! داشته چه د بدخشان په يفتل کښي پاتي يفتلي خلك نسبتا سچه پاته دي او په نورو ځايو کښي لږ زيات د برله نورو ګاونډيو طايفو سره ګډ او مخلوط شوي دي

اوس چه تر يوې اندازې پورې د غرڅ او غرڅستان معنا له تاريخي او جغرافيائي نقطې نظر څخه بيان شوه نو په ( ٧ ) پېړيو کښي د آرياناد کورنيو او محلي پاچاهانو په دله ارتقار کښي د هغوی د ( شارانو ) په باب کښي هم لنډ بيان کوو. مونږ اول په هېږو چه د يفتليانو موضوع هغه وخت چه په آريانا کښي دوی پوره ستره امپراطوري د راوده د هغوی د پاچاهانو د مراتبو او د هغوی دنومو د تعين او تشخيص له نقطې نظره څخه د بره تياره ده. د دوی د کورنيو پاچاهانو او يا له کوچنيو کيداري کوشانيانو د بقايا وو سره د دوی د ګډ و اميرانو احوال خولاصه کوو. په دې کې شك نشته چه يفتليانو د هغه تفصيل او بيان په قرار چه په هغوی پورې مربوط فصل کښي موکړ په افغانستان کښي ئې يوه خوراقوي او ستره امپراطوري جوړه کړې وه او ددوی دامپراتورۍ له سقوط څخه وروسته هم د هغوی قبيلوا و مشرانو د هيواد نه په غرنيو ځايو کښي خپلو نظامي مرکزو ته پناه وړې وه او په پېړيو پېړيو کورني حکومتونه د دوی او د کوشانو يفتلي ګډو عناصرو په لاس کښي وو. د يفتليانو د عصر ( دامپراطورۍ د دورې ) او د غرڅستان د شارانو (د کورنيو حکومتو د دورې) آثار او نخښې په افغانستان کښي ډېرې دي لکه سيکي لنوښي کتيبې او کوپړيې او نورشيان، لکه چه ( په دې نژدې وختونو کې دريزه کوهستان د صدق آباد د يفتليانو له هديرې څخه لوښي او کتيبې کشف او پيدا شوې دي) خو له بده مرغه په اصولي او علمي ډول سره ئې مطالعه شوې نه ده هغې برخې ته

چه د (موسیو گروشمن) تر کتنې او مطالعې لاندې دي نوري کيندنې او حفريات به دغه ځای کي تر سره شي او نور نوي شيان به پيدا کړي .

لنډه دا چه چيني زائر هيوان تسنگ د (زربجستان) يا و جير ستان په سيمه کښې د جاغوري په شاوخوا کښې چه هغه ئې «جگود Jaguda» بللې ده يادونه کړي . او داسي ښکاري چه د غزني او د مقر ترمنځ کي ده او وايو دغې په شمالي خوا کي د (فولي شي ساتانگ نا Fo-li-Shi-Si-tang-na ) په منطقه کښې چه يا باد غږوي لمنو کښې ئې د هلمند د سيند او د کابل د سيند سرچيني هم را نيولې دي او پاچاهان کوي چه ځيني ئې هغه تر کيو (ترک) بللي دي او موسيو فوشه هغه تر کيو ـ يا (يفتلي) بولي ، او هر کله چه غربي ترکيو يان په دغه مهال کښې د هندوکش په جنوبي خوا وکي په نفوذ څښتنان شوي وو . هم ګمان داسي کيږي چه دغه محلي پاچاهان يا يفتلي او يا کوشاني يفتلي وو . او کيداي شي چه هغه په عامه معنا د غرجستان له ښارانو څخه يو ښار و بالل شي لکه چه په ٦ . او ٧ م . پيړۍ کښې د غرجستان په مختلفو ښارانو پوري مربوطې سيکې په غزني او د بگرام دخر ابو په پاسني برخه او د قندقستان په معبد او کابل (د همز نگث) او در بزه کوهستان په صندق آباد او نورو ځايو کښې پيدا شوي او کشف شوي دي او دغه ځاي هغه سيمې دي چه د هغې علاقې په شاوخوا کښې پرتې دي چه هيوان تسنگ ياد کړي ده او ځرگند يږي چه په ٧ مسيحي پيړۍ کښې د خاص غرجستان ښارانو په شان نور و چيري ، زاولي ، يفتلي قبيلو هم ځيل کورني او محلي اميران درلودل ، چه را تلونکي کيندنې او حفريات او څيړني په دغو ي د موجوديت او هستي په لمخ نه پر ده پورته کړي .

تگين پاچاهان : د دولسم فصل په پاي کښې مو اشاره کړې ده چه هغو ترکيو يانو چه پر تخارستان باندي ئې پاچاهي کوله ، د چين د تانگيانو دير غلو نواو فشار له کبله ځپله قوه او قدرت په ورورو ، ورو له لاسه ورکړ او سر له ځان محدود او محلي نفوذ او اعتبار چه درلود ځيني داستي پيړۍ په اولو وختو نوکښې د تانگيانو د کورني تابع شول ، او په همدغه زمانه کښې د هغوي د يو د ولې (يبغو) هر د (شه لي مانگث کيالو) يا (سري منگله) په نامه ياد کړي دي چه هغه هم له دغه تاريخ څخه پر وسته په تخارستان کښې د هغوي موجوديت او شته والي نامعلوم او مبهم دي ځکه چه هغه هم په (٧١٢ م) کښې د عربو د جنرال قتيبه له

څو ادافغانستان دغه ولایت فتح او نیو او تر وخته پوری دتچین یا تګین محلی امیران په قندوز کښی وو، او ګمان کیږی چه چینی دتانګیانو دغشار او بر غلونو په وخت کښی دغو طالعی ځینی خانان او مشران دهندوکش جنوب ته راوړو ته پناه وړی وی او دا ښې پیر څه تر دوهمی نیمائی پوری بی په ګندهار اکښی کوچنی او محلی امارتو نه تشکیل کړی وی. هغه څوك چه په دغو شاؤ خوا کښی د (تهله ـ تهله تی او تګین) په نومونو او القابو دځینو ترکی امیرانو په وجود دشاهدی ورکوی (ووکو نـګ Wo-Kuong ورو ستنی چینی زائر دی چه له هیوان ـ تسنګ څخه ۱۳۰ کاله وروسته د ۷۵۱ او ۷۶۹ کالو نو په منځ کښی زموږ هیواد ته مسافرت کړی او دهند لهلیاری یو الحی تر ګندهار اپوری راغلی دی، زموږ دی هغه مهال چه ګندهار ته راغی نار و غه شو او خپل ځان ئی یو بودائی راهب ته وروپه کړ، او ابتاه (مجبور) شو چه څو میاشتی ده په ګندهار اکښی پاتی شی. نوموړی وائی چه دنو بودائی آبداتو په جوړو او او دبودائی معبدو نو په مرمت کاری پی بانډی باچا او ملکه او وزیران ئی بوخت وو، او دا کاردو دانیو او عمرانانو او دبودائی معبدونو او آثارو دساتنی له حیثه یو ره اهمیت لری. او څرګندوی چه حتی دانمی مسیحی پیړی پی په منځنیو وختو نو کښی تقریباً یوه پیړی وروسته له هغه چه دافغانستان په لویدیز و برخو کښی د اسلام مقدس دین په نشراو خپریدو پیل کړی ؤ دافغانستان په لمرختیز و برخو کښی لا دبودائی معبدونو رمت کاری او حتی ودانول جاری وو، او دهمدی نظر یی په استناد موږ په یو و لسم فصل کی دګر یکو بو دیك د صنعت د دوام په بیان کښی ویلی دی چه: دفندقستان (غوربند) دهیکلی تراشی په آثار چه دا وومی مسیحی پیړی په محصول دی، نه بنا ئي چه دبو دائی صنعت وروستی شو اهد وبلل شی، ځکه چه په داتمه پیړی په کښی هم صنعتګران په کار بوخت وو، او دا کار یعنی په هره برخه کی دهیکل تراشاو د صنعت تمامیدل دا سلام دنوی د ین درارسید لو په تا ریخ پوری تر لی دی، او ګند هارا چه د زابلی محمود داود جیپال تر وخته پوری پر خپو پخوانیو دینونو پاتی وه. د هیوا دد مرکزی برخو په نسبت ئي زیات وخت د راود، او شك نشته چه د تګین شاها نو په نا مه هم ز موږ په لاس کښی ځینی سکی شته.

ډاکټر لارډ Dr. Lord له هغو څخه خاو پښت دانی دهند وکښی په شمالی خوا ؤ کښی

موند لې دی. او ګننګهم نژدې ۲۰ یا ۳۰ داني نوري په‌کابل کښې لاس ته راوړي دي، هرکله چه د د غو مسکوکاتو زیاته برخه د هند، وکښې په شمال لې برخه وکښې لاس ته راغلې ده نو زیات ګمان داسې کیږي چه دغه سیکې به د تګین پاچاهانو په هغو امیرانو پورې مربوطې وي چه د عربو د لښکرو له‌خوا د تخارستان د فتح کولو تر وروسته پورې د هغوی د حکومت مرکز د قند وزنبار ؤ او د هغو ی ځینې سیکې د هند وکش جنوبي خواوو ته د تلو راتلو مراودو له کبله را خپرې شوې دي په هر حال تر اوسه لا د تګین داتمې پیرۍ په دوهمه نیمائي کښې یو کوچنی محلي حکومت په کند ر هار اکښې د راود، چه ځه زمانه‌ کا پیسا تر نفوذ لاندې ؤ او ځه موده‌ دکاپیسا د پاچاهانو په‌شان د چین دتا نکیا نو تر اثر لاندې و.

ځینې نور محلي پاچاهان: پیله هغو محلي پاچاهانو نه چه بیان شول، د هند وکش په مرکزاو جنوب کښې ځینې نور کوچنی حکومتونه هم وو. چه دعرق او نسب له‌مخې عموماً دکوچنیو کیدارې کوشانیانو ځوځات ؤ او یاد یفتلیانو اولاده وه، او یاد هغوی له ګډ او مخلوط عنصر ځخه وو، اود ۷-۸ پیړیو په‌زمانو کې او را وروسته ئې په مختلفو ځایو لکه په زابل، سکاوند (لوګر) زمین‌داور، غور او نورو ځایو کښې پاچاهي کړې دي، او د دغو رخینو دغیرو مستقیمو اشارا تو او دمسکوکاتو دموندلو له مخې دهغوی وجود او شته والی ښکاره او ځرګند شوی دی. جرمني داکتر (هاینریش‌جونکر Dr. HaiñrichJunker په «یفتلي لینګنو) نومې رسالہ کښې د ځینو مسکوکاتو بیان کړی دی چه د (یفتلیانو، نیکي یا نواو تګین شاهانو) له مسکوکاتو سره شباهت لري او «یونانو کوشاني» او برهمن رسم الخط په هغو کښې استعمال شوی دی. داکتر «جونکر» ددغو سکو په‌ ریخ باندې د افغانستان د ځینو ځایو — نومونه لکه (داور) (روشنان) (زابلستان) (فرزان) او (سکاوند) یاد کړي دي چه له هغې جملې ځخه دری ځایه لکه «زمین داور» او زابلستان (غزني او دهغه شاوخوا) او سکاوند (لوګر) چه تراوسه پورې لا هم (د سکاوند پا سجاوند په نامه په‌لوګر کښې یو کلی شته) معلوم او ځرګند دي. دغه

ACKU

مسکوکات بیی شکه په دغو ځایو کښی ضرب شوی دی او بی شکه هر ځمله بزی چه په دغو ځایو کښی محلی امیران موجود وو چه د کاپیسا د دولت تر اثر لاندی وو.
مذهبی ژوندون او رهبان: چینی زائرین چه په آریانا او هند کښی د هغوی د مسافرتو مقصد او مرام د معبد و نو او د روحانیونو سره لیدنی او د مذهبی کتابو او آثارو کتنی وی چه هر یوه پخپل وار په تیره هیوان تسنګ چه د (۶۳۰ نه تر ۶۴۴ م د ۱۴ کالو په فاصله) د ۷ پیړیی په اول نیمائی کښی پخپلو تلو او راتلو کښی زموږ د مملکت د مختلفو ځایو نه تیر شوی دی تر ټولو زیات او په ډیر غور د مذهبی ژوندون او د رهبانانو او روحانیونو د ټولنی د ژوند انه د طرز او حالی او د معابد او د سنګهرامو او استوپو د کیفیتو څخه بحث کړی. چه د دغو او نورو د معلوماتو د ترکیب او تحلیل سره سم په دی ځای کی د هغو د خلاصه بیان بی ځایه نه دی بلکه زیات ګټور او ضروری دی.

سره له دی چه د اوومی پیړیی په اوله نیمائی کښی په تخارستان کښی د تو کیو یانو (ترکانو) د سلطنت له کبله زموږ د مملکت د سیاسی تشکیلاتو له نقطی نظره څخه د همنظ و کشش په څه ډول که په منځ کښی په دوو برخو ویشل شوی و او په د غردو وبرخو او په نورو باقی منطقو کی بر ته د قندوز او کاپیسا له د وو سیاسی مرکزو څخه زیات محلی امیران موجود وو. سره له دی د مملکت په نیمه لمر ختیزه خوا کښی (د بلخ ـ قندهار (د خط په نسبت) چه هیوان تسنګ هلته تیر شوی دی، د هیواد په شمالی او جنوبی سیمو کښی بودائی دین عمومیت درلود چه زیاتره خلک د تخارستان او با ختر څخه نیولی تر بامیانو پوری د نجات د کوچنیی لاری (هنایانا) پیروان وو او په کاپیسا او په لمر ختیزو سیمو کښی د (مهایانا) د لویی طریقی او د (هنایانا) د کوچنیی طریقی پیروانو بیل تر څنګ ژوند کاوه او له کاپیسا څخه وروسته د هیواد په شرقی او غربی او جنوبی برخو کښی لمر پرسته برهمنانو و شیوائیانو هم درلودل کیدل.

سره د دی چه له دوو مذهبو یعنی بودائیزم څخه را ایسته د مانیانو د مداخلی

ACKU

او د هغوی سره د کیدار یانو (کوشانیانو) او یفتلیانو د بقا باوې په اثر د آریانا په اکثرو برخو کښې د پیره هو ده‌جگړی او منازعی روانی وې، او په‌پای کښې ئې مذهبي حيات په تیره بیا هغه مذهب ژوندانه ته چه بیخي له جنګ او وینو تویولو سره مخالف ؤ صدمه او زیان ورساوه او زیات معبدونه او استوپې زیانمنې او ویجاړې شوې خو سره له هغه لا هم زموږ د پخوانیو ښارونو په شا ؤخوا کښې د کوښ د ژرقسندوز) بلخ او بامیانو او کاپیسی او ننګرهار او په شاوخوا کښې بېد لوړ او باشکوه معبدونه موجود وو، او په هره «سنگهرمه» هر معبد کښې په سوو راهبانو ژوند کاوه. او د دغو راهبانو په‌جمله کې د برښه او متبحر عالمان پیدا کېدل. هیوان تسنګ د خپل راتګ په وخت کښې د ځینو ځایو معبدونو او د غو ځایو متمایله روحانیون شمیرلی او یادکړی دی، چه‌د یو تی نظر بې‌بحیث د زیاتو معلوماتو دپاره په لاندی د ول مو نږ هغه بیانوو:

قندوز: (١٠) بودائي معبدونه او څو سوه راهبان او روحانیون.

بلخ: (١٠٠) بودائي معبدونه او (٣٠٠) راهبان او روحانیون

بامیان: (١٠٠) بودائي معبدونه او (١٠٠٠) یا څو زره راهبان او روحانیون.

کاپیسا: (١٠٠) بودائي معبدونه او (٦٠٠٠) راهبان او روحانیون:

کاپیسا (١٠) شیوائي معبدونه او (١٠٠٠) شیوائي او برهمني راهبان:

لغمان (١٠) بودائي معبدونه او څو سوه روحانیون او څو شای برهمني او شیوائي معبدونه.

ننګرهار: د معبدو او روحانیونو شمیر ئې نه دی معلوم:

ګندهارا (١٠٠٠) بودائي معبدونه. او (١٠٠) برهمني معبدونه.

د ادې سره نیمګړی احصائیه چه په هغې کښې یوازې څو ستر ښارونه او څو منطقې شاملې دی، ښيي چه داو ومی مسیحی پیړی کښې زمانه کښې لامذهبي حيات او د آریانا تولنې څه شان ترقي درلوده، او څومره ډول ډول بودائي، برهمني او شیوائي معبدونه آبادو. په دی کښې شک نشته چه دا معبدونه او په هغوی پوری مربوطې اسنوپې د مملکتو د مختلفو پاچاهانو، ملکو، وزیرانو، اعیانو او سوداګرانو له‌خوا جوړې شوې دی او هر بودائي خانه نرم او نبیان او شهرت او قیمتداره او ماتونه او

او يادګار ونه دراودل ، چه د مملکت خلک او مملکت نه د باندې دا ير و ځايونه
زائرين به ورته راتلل او د هيواد دعا ئې اورو، منبع ګڼله کيده، ځکه چه سر بيره
پر دې چه زائرينو به په دغه مسافرت کښې پيسې لګولې د هغوي دا يدلو د پاره به ئې دم
جلا جلا پيسې او طلا ئې سکې ور کولې . د د غو معبد و نو له جملې څخه په بلخ کې
پښځوانيه او نوی ويهار ايعنې نا و اويهار «نو بهار» او په کاپيسا کښې د شالو کيه معبد
يا د چينې پر غه او معبد (چه موقعيت ئې د پهلوان د غره په شما لی لمن د شتر ک په پوزه
کښې د ريزه کو هستان په مقا بل د بګرام په شرقي برخه کښې تما کما شوی او
حفريات پکښې شوي دي) د شابهار معبد ، د کنيشګا معبد (د چار ي کار و غربي خواته په توپ
دره کښې وو ، او د هغه اوره او ستره استوپه اوس لا هم شته ) در اهو لا معبد ( د کا فر
قـلـعـه پـه نـوم مـشـهـور دغـه مـوقـعـيـت د بـګـرام پـه جـنـوب
شرق کښې د بـار يک آب پـه څنګ کې تا کلی دی) د ملکی معبدا و په هډه کښې
ارغونی او باستانی معبدونه چه د اشوکا او کنيشکا په عصر کښې جوړ شوي وو ، په پای
کښې په پيښور کښې د کنيشکا په خور الو معبد چه ۴۰۰ قدمه لوړ و ، زيات مشهور و .

هر کله چه د بودائي معما رۍ داصول او د ا تقا ضاوه چه مـجلل معبد و نه
او خور او پړي او پړی استوپې جوړې شي او سر بيره پر دې د ر وحا يو نو د ځا طره
د يا د و نې د پا ره ئې برجونه هم جوړول د بنار ونو په شاوخوا کې ملـ هبی آبادی
شمال کښې يوه د ا سـی استوپه وه چه ۲۰۰ قدمه جـګوالی ئې در لو د د بلخ
له هرې خوا څخه اوږی لوړی ښکا ره کيدې د (نو بهار ) د معبد په د (پښځوانی و بهارا )
په شمال غرب کښې د بنار دو فات شوو پوهانو په ياد ئې (۷۰۰) برجونه جوړ کړي وو .
چه هيوا ن تسنګ هغه تو ل پخپله ستر ګو ليد لي دي (۱) د کا پيسا سا و معبد و نو
هر يو خپلې استوپې در لې چه څينې ئې سل او څينې ئې دوه سوه قدمه لوړې وې . په هډه
او د هغې په شاو خوا کښې د اشوکا پا چا د معبد و نو استوپو د ری سوه پو ته جګوالی
در لود او په پای کښې هغه معبد چه کنيشکا د خپل دژمی د پايتخت په څنګ کښې د پيښور
په شاو خوا کښې جوړ کړی وو څلور سوه قدمه لوړ و الی در لود ، د پښـ وانی افغا نستا ن

(۱) د غربی عالم د بودائي خاطر اتو د معبد د بيل د ترجمې ۴۳ مخ .

ACKU

په معبد وکښې له باخ څخه نیولی تر بېګرام (بار و شاپور ا . پورتې دانې و دابع موجود وو ، چه بودا پالو نیکو په نظر کښې نې زیات قدر او قیمت لاره ، او ټول د بودا ساکیا مونی او د ستوپو و خانقاوو او پخوانیو پاچاهانو یادګارونه وو ، په عمومی ډول په هر لوی ښار پورې مربوط معبد و نوکښې دری دری قیمتی او ستر یادګارونه محفوظ پاتی وو ، چه هیوان تسنګ هغو ټولو لیدلی او یاد کړی دی د باخ د نوبهار په معبد کښې د ری لاندینی څیز و نه لیدلی دی :

(۱) د بوداد پسر یمنځلو لو لښی چه له سرو زرو او قیمتی د بورو څخه جوړ شوی ؤ
(۲) د بودا غابښ .
(۳) د بودا اجاړو چه لاستی ئې په جواهرو جړ او ډېر ښایسته شوی ؤ (۱)
د بامیانو په معبد و نوکښې په بوطلائی صندوق کښې دلاندینی و دایع او امانتونه محفوظ وو :

(۱) د بودایو غابښ :
(۲) د یو پخوانی پاچا غابښ چه «د طلائی عرادې دپاچا» په لقب مشهور ؤ
(۳) د او سپنې یو کچکول او د یوستر پوهاند راهب کوڅو چه د غه راهب (ساناکا واسا) SanaKavasa نومېده ، دغه کوڅو (پلان) له نهو تر لسو ټوټو څخه جوړ شوی ؤ (۲)
د کاپیسی (بګرام) په ښاؤ خوا معبد و نوکښې دالاندې دری څیزونه موجود وو :
(۱) د بوداد هلکتوب غابښ :
(۲) د بودا «تا تا ګا تا Tathagata د سر د کو پړی یوه پارچه ټوټه :
(۳) د بودا (تاتاګا تا) د سرو ویښتان
د هډی په معبدو نوکښې د بودا «تا تاګاتا» Tathagata
ډېر یادګارونه په لاندی ډول موجود وو :

(۱) د او یدیز و هیواد و دیادګار و د (بیل) د ترجمې ٤٤ مخ دې وکتل شي .
(۲) د لویدیز و هیوا د و دیاد ګار و د بیل د ترجمې ٥٢ او ٥٣ مخ دې وکتل شي .

( ۱ ) د بودا دانانا ګاتاد کرکری، توته او د سترګی د کاسی هډوکی.

( ۲ ) د نوموړی بودا دارا هغه کسوځو (پلان) چه د ژبړې پښې په لاندې تو څخه جوړ شوی ؤ.

(۳) د نوموړی بودا د لاس لکړه (امسا) چه اصلاً د صندلو له لرګی څخه جوړه شوی وه او داو سپنی کړی ئی او حلقی ئي لرلی. (۳)

دمخه مو د دې بحث په سر کښې د ځینو سترو ښارو او مشهورو سیمو ذکر او هیینو او روحانیونو شمیر یاد کړ او وموليدل چه په هغو کښې اوی اوی علما او پوهان موجود وو او س غواړو چه په دغه ځای کښې لږ غور وکړو او ځینی هغه پوهان او نامتو علماء یاد کړو چه په اوومه پیړی کښې په افغانستان کښې موجود وو او چینی زائر هیوان ـ تسنګ د خپل راتګ په وخت کښې د مملکت په مختلفو معبدو کښې هغوی لیدلی او له هغوی سره ئي خبري اتري او مناظري کړی دي.

د هند وکش په شمالی خواپه قندوز کښې چه په هغه وخت کښې د تخارستان د خان نشین او مرکز ؤ یو عالم ژوند کاوه چه «دهرمه سینا Dharmasina» نومید چه هغه بیله خپل مملکت څخه په هند کښې هم مطالعی کړی وی او د ده د شهرت آوازه د پامیر د شرق څخه هغی خواته د سنکیانګ په مختلفو ځایو کښې داسی خپره شوی وه چه دغه عالم ئی «فا-تسیانګ Fa- Tsiang یعنی د مذهبی قوانینو استاد» باله او د کاشغر او ختن علما په دې عقیده وو چه هیڅ سړی له ده سره مناظره نشوه کولای.

د بلخ د ناو او بهار (نوبهار) په مشهور معبد کښې د ستر و پوهانو له ډلی څخه یو «پراجنا کارا prajnaKara» ؤ چه د (هینا یانا) د لیاری یاد نجات د کوچنی لیاری د راهبینو او پوهانو مشر او سر حلقه ؤ او په افغانستان کښې له چینی زائر سره دې د هغه مسافرت په مهال کښې له بلخ څخه تر کاپیسا پوری ملګری کړی وه.

د نوبهار په نه معبد کښې بیله دغه پوهانده څخه د ور عالمان هم موجود وو چه یو «دهرمه پریا Dharmapriya» او بل «دهرمه کره CharamKara» نومیدل چه دهغه

---

(۳) د لو بلد یز د مملکتو د یادګار د بیل د ترجمی ۹۵ مخ ته دې مراجعه وشي.

عصر د پیاوړو او ماهرو علماو وله جملې څخه ګڼل کېدل او د بلخ مذهبي او علمي اشخاصو او ټولنو به دوی ته د احترام او عزت په سترګه کتل.

په دغه زمانه کښې په باميانو کښې هم دوه ستر راهبان د ژوند کاوه چې يو ئې «آريا داسه Aryadasa» او بل ئې «آرياسنا Aryasena» نوميده او دواړو په مذهبي فلسفه او حکمت او ديني قوانينو کښې زيات شهرت درلود.

کله چې د ساطنت په پايتخت کاپيسي (بګرام) کښې په دغه زمانه کښې خورا متوعلما او ژوندل کاوه چې يو ئې «منوجنا ګوشه Manojnaghosha» بل ئې «آرياورمه Arya Varma» او دريم ئې «ګڼو بهدره Gunabhadara» نوميده هر کله چې کاپيسا د غه عصر پاچاهانو د سترې بودائي طريقې مهايانى (ئې ډير ډ نو ئې له چين زاير څخه و شوښتل چه د دغې طريقې د مربوطو معابدو څخه په يو معبد کښې را غونډ شي او د کاپيسي له علماو سره مناظره وکړي نو په پای کښې د کاپيسا د غو دريو تنو عالمانو او هغو ان ـ تسنګ په منځ کښې بحث او مناظره پنځه ورځې او ږده شوه او د دغې مناظرې په بهال کښې پاچا او بلخي عالم «پراجنا کا را» هم حاضر و (۱)

په دې ترتيب سره د دې مبحث خوا معلوميږي چه په اووم مسيحي پيړۍ کښې د افغانستان مذهبي ژوندون او د عالمانو او پوهانو جا معې په کرمانه ډيره چوړه او ښه رونق لاسايل او هغه معبد ونه چې د يوې برخې شمير ئې ذکر شوی دی پخپل تنا سب هر يو د پوهنې او مذهبي مقا و و کانون ګڼل کېده او په هر معبد کښې جلا جلا له څو تنو څخه نيولې تر څو سوو کسيز و تر اګيو پورې را هيسو ژوند کاوه او د مذهبي آثارو او د فلسفي او اخلاقي کتا بو نو په ليکلو او ترجمه په بوخت وو د افغانستان علماوو او پوهانو د بودائي فلسفې په تحول او په آسيائي هيوا دو نو کښې د هغې په خپرولو او نشر ولو کښې مهمه برخه لرله چې په ا تم فصل کې له ۲۷۷ مخ نو څخه تر

(۱) په اوومه پيړۍ کښې د افغانستان د علماؤ او را هبانو په باب کښې د ې د هيوان تسنګ د ژوندانه کتاب چې د (شمان دوئی لی) تاليف او د بيل ترجمه ده او په لندن کښې چاپ شوی دی د قناد وز ، بلخ ، کاپيسا او د باميانو برخې د ې وکتل شي

ACKU

۲،۳۰ مخو نو پورې په دغه هوارو کښې ځينې څيزونه ليکل شوي دي دغه معبدونه مجسمې او هيکلونه علماء کتلي دي اما نني او ورد يې آثار هر يو په خپل نوبت د مملکت د شهرت اسباب شوي دي او له ګاونډيو مملکتو او حتى د چين او د لري شرق له لرې لرې ځايو څخه به ئې پوهان او زائرين جلبول او د دغو ستر و علما و ؤ تبحر او د پوهې درجې د آريانا يا د پخواني افغانستان مقام د آسيا په صحنه کښې زيات غوره او لوړ کړی ؤ

د آريانا په اوږدو پېړو سرحدونو کښې:

## د عرب دور او مرکزي برغلونو ظهور

د اوومې ميلادي پېړۍ په اوله نيمائي کښې چه د هندوکښ په شمالي خوا کښې د نوکېو (ترکو) خاندانو او د هندوکښ په جنوبي خوا کښې د کاپيسا د کښاتريه کورني سلطنت دراوده وو د اسلام د مقدس دين بيرغ پورته کړي او د ساساني امپراطوري ارکان ئې د نړولو وند او قادسيه په نوم ميدانو کښې له منځه لرې کړل او د ساسانيانو وروستني پاچا (يزد ګرد) د هخامنشي د وروستني پاچا غوندې د مرو په شان د شرق خوا ته وتښتيد او د غو سيمو ته ئې چه خراسان ته پناه يوړه سي او ۳۱ هجري کال (د ۶۵۲ مطابق) په مرو کښې ووژل شو.

لکه چه په دمخني فصل او په دغه فصل کښې مو وليدل د شپږمې مسيحي پېړۍ د لايتنا څخه آريانا اداري او سياسي اوضاع له نقطې نظر څخه پرده وو پر څو ويشلې شوې وه چه په هري يوې پوري يو شمير امرا او خان نشني مربوطې او نورو امرا وو هم له دغو د وسيا سي حوزو د نفوذ نه دبا ندې وه ـ و دلارا و دو هم مرکزونه په شمالي کښې قندوز او په جنوب د کاپيسې ښار ؤ.

عرب د ساسانيانو او وله اضمحلال څخه وروسته زر د مملکت د غربي سرحدو په مقابل په نوي ځايونو کښې پر يو تل چه يو ئې د نيشاپور د ښار په شمال کې او بل ئې د کرمان د ښار په جنوبي کښې ؤ او په دغو تقسمات کښې د سوق الجيشي له نطقې نظر څخه ځينې مقاصد پټ وو چه د نيشاپور له خطه څخه د هرات او بلخ له لارې د تخارستان پر خان نشينو با ندې حمله وکړي او د جنوب له جبهې څخه

د زرنج او بست او رخد له لارې پر کابل او کاپیسا باندې یرغل وکړی او د مملکت له مرکزي غزني سیمې او منځنۍ سختې غرنۍ برخې نه تېرېدلو په وخت کې ونړول شي او په خپله ورو ورو تسلیم شي

په هر حال د دغو واقعاتو شرح به داسې څېرو چه د دریم ټوک په اول کښې به را شي او په دغه ځای کښې همدومره وایو چه د آریانا په لویدیزو سرحدو (سیستان) کې په ۲۳ هجري کال کې چه میلادي سنه ٦٤٥ وه د عربو د لښکرو اومړی محل تماس له آریانا څخه چین ته د هیوان تسنګ له تللو څخه پوره یو کال وروسته پېښ شوی دی څو کاله وروسته یعنې د ۳۲ او ۳۳ هجري (٦٥٣-٦٥٤ مسیحي) په شاوخوا کښې د عربو لښکرو زموږ د مملکت د لویدیزو سرحدو په مقابل کښې د خزر د بحیرې د جنوب له غاړو څخه د فارس د خلیج تر ساحلو پورې د سوق الجیشي ځایونه ونیول او په نیشاپور او کرمان کښې یې تل چه د کلي نقشې سره سم په دریو خطونو (نیشاپور هرات بلخ د تخارستان خواته او د (زرنج بست رخد) له لارې د کابل او کاپیسې خواته او د (قصدار او قندابیل او بیضا له لار د ملتان خواته ورانده شي ولاړ شي او په دریو کښې به دغو خطونو باندې د دوی د حرکت او تاوار د هغې سختې مدافعې شرحه چه په د غعاو زده موکښې د افغانستان تاریخ د محلي امیرانو له خوا اشوي ده یو اوږد مبحث دی چه بیان به یې د افغانستان

د سلسلې د دریم ټوک په اومړي فصل کښې وګورو:

د چین مداخلت: د توکرویانو (غربي ترکانو) پیدا کیدل او د افغانستان په شمالي

خوا او (تخارستان) کښې موقتي سلطه او چین د مملکت سره د هغوی تصادم او نتیجه له یوې خوا او له بلې خوا ورسته د هیواد غربي سرحداتو باندې د عربو د لښکرو د یرغلونو څرګندېدل له بلې خوا زمینه مساعده کړه چه په ۷ پیړی کښې یو بل عامل د افغانستان په تاریخ کښې مداخله وکړی چه هغه د چین او د تانګ د کورنۍ د سیاسي او نظامي او اداري تشبثاتو او لاس وهلو عبارت دی.

تر دې له مخه د دوولسم فصل په آخر کښې بیان وې دی چه د (سوي) او تانګ د دکورنیو له ظهور راو په چین کښې د ملي وحدت او د نظامي روحې

له تقویې او کډکیلو ښځه‌ورو سته او له توکیو یانو ( ترکانو ) سره دد غود وو کورنیو رقابت چین په‌دې قادر کړ چه ورځ، ورو رودایلې حوزې ښځه په تارم کښې او له دغه ځای نه د سر دریاب او آمو دریاب په حوزه او دپامیر په شاوخوا کښې نفو ذاو سلطه پیداکړي

کاپیسا ددولت او د چین دتانګیانو ترمنځ ددوستۍ روابطه او بیاد افغانستان په شمالی او جنوبی برخو کښې دچین دمملکت مداخله یوداسې کار دی چه دآریانا او چین ترمنځ پخوا نیو روابطو ته له‌اشارې ښځه ورو سته به ئې بیان کړم

ددې جلد په اتم فصل کښې څرګند شوی دی چه دآریانا دچین هیواداو چین ته پخوانی افغانستان مملکت ښه پېژانده په دغه ځای کښې مونږ نه غواړو چه ددغو دوو زړو آسیائی مملکتونو په‌یوله‌بله پېژندلو او ارتباط کښې بحث او څیړنه وکړو ځکه دایوه ځانته موضوع ده بلکه یوازې د سیاسی تعلقاتو له نقطې نظره ښځه وایو چه دافغانستان اوی کوشانیان د چین له (هانیانو) سره معاصر وو که‌څه هم «دکوشانو هان» تعلقات د جګړې او جنګ له لارې شروع شول خود کنیشکا دربار ته دچینی یرغمل او له رانلو ښځه ورو سته ددوی په‌منځ کښې ددوستۍ روابط او تجارتی مراو دو ډیره اوږده زمانه دوام دولود دکوشانو او هان عصر دآریانا او چین دپاره لویې تاریخی دوری وې له‌هغه ښځه ورو سته په دواړو مملکتو کښې اوضاع تغیر وموند په چین کښې ما پـــخـــوا بربریـــانـــو او پـــه افـــغـــا نستـــا ن کښـــې ساسا نیـــا نو هجوم راوړ او له کامیابۍ او فاکامۍ سره مخامخ شول تردې حده چه توکیوبانو (ترکانو) موقتاً دهیواد په شمالی برخو (تخارستان) باندې قبضه وکړه او مسلط شول او دسوی او تانګ له کورنیو سره ددوی جګړو د چین د تانګ د کورنۍ نفوذ زموږ ممالکت ته قدم په قدم رانژدې کړ دکاپیسا دولت چه د هغه دموجودیت او قدرت او د هند وکښې په ټوله جنوبی خوا کښې دهغه د نفوذ د حوزې بیان او شرح موو کړه د ترکانو او ساسانیانو دمداخله دالی ګولی اوژاو ومی پیری دملوك الطوائفی په‌اوضاع او حالاتو کښې په‌دې عصر کښې یوازې دآریانا حسابې او غښتلی د ولت شمیرل کیږی دغه دولت چه چینی زائر هیوان تسنګ دهغه د قوت او قدرت شاهد دی بیاهم داوضاع دکړکیچن

و الی او په شمالي خواوو کښې د توکیانو د سلطې او په شمال غرب کښې د ساسانیانو د تهذیب و د ممالکت په غربي سرحدونو کښې د بل نوي عامل د پیدا کیدو له کبله چه عرب وو د لشکرو د هجوم څرگندیدل وو هجیږ، چه د دې ډېرو مختلفو عواملو په مقابل کښې یو غښتلی دوست او متحد او حتی ملاتړ د ځان له پاره پیدا کړي چه هغه له چین او د تانگیانو له زوروری ورتیه څخه عبارت ؤ.

له بلې خوا د چین د تانگ د کورنۍ امپراطوران د تبتیانو او ختیزې خوا ته د عربو د ورځ په ورځ زیاتیدونکي پرمختگ او پېشرفت سره د مقابلې د پاره هم غوښتل چه دوست او تحت الحمایگي ولري د تانگ د و هم امپراطور ـ تي ـ تسانگ چه د لویدیز و توکیو یانو د پیاوړو خانانو ... دغه امپراطور د مړ بوطو پېښو په برخه کې بیان کړه ورو ورو خپل نفوذ او حاکمیت د غرب خوا ته خپور کړ، د ختن، کاشغر، او یارکند او سمرقند خانانو په (٦٣٠ ــ او ٦٣٥) کلونو کښې او د تورفان او کوتچې خانان د ٦٤٠ ــ او ٦٤٨ کلونو ترمنځ د هغه تابع شول او باج ورکوونکي ئې ورته ومنل، او هر کله چه تخارستان په دغه وخت کښې د هغو کسانو له خوا اداره کیده چه د لویدیځو توکیویانو له خوا مقرر او ټاکل شوي وو په پورتنۍ جمله کې حساب شو.

د هندوکش په جنوب کښې د کاپیسا د کشاتریه د دولت او د چین د تانگیانو په منځ کښې روابط د دواړو خواوو په غوښتنه او د دوستانه تعارفاتو او د متقابلو هدیو د لیږلو لارې شروع شول ، لکه چه د کاپیسا کشاتریه پاچا د هیوان ــ تسنگ په قول شو ښه شکلي اسونه د تي ـ تسانگ امپراطور د پاره ولیږل او د هغه له خوا هم ځینې هدیې او نماینده ورا ولیږل شول خو د چین د تانگیانو قدرت او لوړوالی په ټوله مرکزي آسیا کښې او په اریانا کښې د اوضاعو دورځ په ورځ خرابیدو په اثر د کاپیسا دولت دې ته تیار شو چه له چین څخه حمایته وغواړي دا کار په غالب گمان له ٦٤٢ څخه وروسته شوی دی ځکه چه رونه گروسه لیکي چه (په پورتني کال کې گندهارا د تي ـ تسانگ امپراطور ـ تیول ومانه (١) د آریانا

(١) د تاریخ آسیا د رونه گروسه د تالیف د دوهم ټوک ٢٢٥ مخ.

وضعیت له دغه وخت ورو وسته داتمي پیړۍ تر منځنیو وختو پورې په لاندې ډول تصویر کیدای شي ، دهند وکش په شمال کښې دغربي تو کیو یانو او لا دئ او پاتي کسانو حکومت لاره ، لکه چه چیني منابعو دقندوز بدهه پرست محلي امیر د(شه - لي - ما نسګ کیا - تو Che- limang- Kia-to ) په نامه او - (په سانسکریت کښې د سري مسنګله — Crimangala په نامه یاد کړې دی د هند وکش په جنوب کښې د کاپیسا کوشانو بقتلی محلي امیرانو (دعربي منابعو رتبیل شاهانو) له کاپیسی څخه دهندو کش دجنوب په ټوله سیمه کښې سلطنت دراود له ختیزې او او ید یزې خواته دوو خارجي قواوو ، دمداخلې پښې راالوزدې کړې وې او دغې مداخلې دوه مختلف رنګونه دراودل ، یعني دغرب له خوا څخه عربو داسلام دمقد س دین دخپرو لو په غرض له ډیر ولښکر وسره پر دوو لاروشمال خواته دنیشاپور هرات او بلخ له لار او دجنوب خواته د زرنج رخداو کابل له لیارې وړاندې راتلل ، او دچین تانګیانو دشال شرق له خوا څخه دکاپیسا او قندوز پر دوو محلي سلطنتو باندې خپل کنترول خپور کړی ؤ او دحمایې په نوم ئې بې دلښکرو اونظامي کومکو له لیږ لو نه یوازې دفرمانو او حکمنامو په لیږ لو سره نومړي محلي پاچاهان مقابا بلې دپاره تشویق کول او دادګیر نه ئې ورکوله .

دمخه مو په تیرشوي فصل کښې و لیدل چه دتو کیو یانو او دچین دتانګیانو رقابت آمیزه او جنګجو یا نه روابط په څه ډول دي نه ور سیدل چه دچین دتانګیانو دد ولت سلطه دپاامیرا ودآ موسیند په شا ؤ خوا کښې قائمه شي د دې مبحث د

په اول کښې مو اشاره وکړه چه دقندز او ګند هار امحلي امیرانو د چین حمایه قبوله کړه دچین دمقتدر امپراتور «تې - تسانګ» له مړینې څخه وروسته (٦٤٩م) د تانګ دکورنۍ دد وو نفر ونورو امپراطورانو نومونه دافغانستان ددغه عصر په تاریخ کښې دزیاد و نی وړ دی ، چه یو ئې (کاو - تسو نګ Kan-tsong ) او بل ئې «هیوان - تسنګ Hieuentsong » نومیدل او داو ورستنی ئې په تاریخ کښې زیا ت د « منګ هوا نګ Ming-Houanng په نوم یعني د « مشهور امپراطور » په نامه شهرت لري دتانګ د کورنۍ دغو دوو امپراطورانو ، یو د (٦٥٠-٦٨٣م) ترمنځ او هغه بل ئې د(٧٥٦-٧٨٢م) کلونو

ACKU

تر منځ فاصله کښې دچین پرتخت یوه ملکه کښیناستلې او سلطنت ئې کړی دی او لکه چه
چه ددغو دوو امپراطورانو دپاچاهۍ له تاریخ او کاوونو څخه څرګند یږی سم داوومی
پیړۍ له نیمائی څخه داتمی پیړۍ تر منځنیو وختونو پورې سلطنت کړی دی او داهغه
دوره ده چه وړاندې مو ورته اشاره وکړه او د چین هغه نفوذ چه لاندې به دهغه
څخه رنګ و الی بیان وکړو هغه نفوذ دی چه دقندوز او کاپیسا پر محلی امیرانو باندې خپور
شوی ؤ. او چه په دې دوو آخرنیو فصلوکښې تر دغه ځایه پورې څرګنده د چین دمداخلې
علتونه بیان شوی دی نو دهغو بیا بیانولو ته حاجت نشته او چه دتخارستان په دننه او دباندې
حلقو او ولایت کښې دوه روستیو ترکیو بانو قدرت دچین مقتدرامپراطورتي (تسانګ)
کوچنی او ضعیف کړی ؤ نوئې هرو مرو دهغوی د حمایې منلو ته زړه ورکړ او
دعربو دلښکرو تدریجی وړاندې راتلو د کاپیسا امیران دې ته مائل او مجبور کړ چه
له چین څخه خپله حمایه و غواړی او خپل ځانونه د تانګ تر حمایې لاندې راولی
خو لکه چه وسیو فوشه وائی دچین دې مداخلې او حمائي پوره د «فتری شکل» درلود او
پرته له نامه څخه عملاً کومه نتیجه له هغه څخه منځ کښې نه وه شک نشته چه چینی
دفتر دارانو داکسوس اوانسد و من ( د آمو سیند او سند ) .
تر منځ د ۱٦ علاقو او د ځینو نورو کوچنیو سیمو نومونه ثبت کړی دی او د آریانا له
دا علاقی ئی دخپلې تحت الحمایی جز ګڼلی خو دهغو نظارت عمای شکل نه درلود د چین
د تانګ دامپراطورانو نفوذ اتهالی اجراوه چه فرمانونه او تقررنامی وخت په
وخت صادرې کړی لکه چه امپراطور ( کاوتسونګ) په(٦٥٠) (٦٥٦)او (٦٥٨) کاونو
کښې د سمرقند بخارا فرغانې اوکند هارا د محلی امیرانو په نوم په ترتیب سره دغسی
فرمانونه اونور صادر کړی دی منګ هوانګ چه ددغی کورنۍ بل امپراطور دی او
وړاندې مو دهغه نوم یاد کړ چه په آریانا کښې دعربو د فتوحاتو د خپریدو په وخت
کښې ئې یو مخصوص سیاست غوره کړی ؤ او سره له دې چه دعربو له وړاندې تلو
او سیادت سره ئې مبالی او رقابت درلود نه ئې غوښتل چه د چین لښکری عملاً د جګړې
او مجادلې ډګرته راولی بلکه په دې پسې ؤ چه دافغانستان ددغه وخت محلی امیران

ACKU

د جنګ او جګړې د پاره تشویق او ترغیب کړی او دفرما نونو او لیکنو په ذریعه به ئې د هغوی داد ګیرنه کوله لکه چه په ۷۰۵ – او ۷۲۰ – او ۷٤٥ کالونو کښې ئې د کاپیسا د محلي امیرانو د پاره فرمانونه او مکتوبونه را لیږلي دي د قند وزلرکي خانانو چه په پای کښې د عربو د قتیبه نومي جنرال له خوا مضمحل شول په ۷۸۱ = او ۷۲۷ کښې له د غه امپراطور سره مکاتبه کړې ده او په تیره بیا هغه ایکټ چه په د غه وروستني تاریخ صادر شوی دی پر تخارستان باندې د عربو د قواو او تسلط ثابتوی :

البته په دې کښې هم شک نشته چه د افغانستان محلي امیرانو د چین د دربار نه له تمایل ښځه او د هغه دولت د حمایې له منلو څخه بیله دې نه بله هیله نه درلوده چه په پای کښې د عربو لویې اشکرې د چین د ستر مملکت له لښکرو سره په مقابله کښې و اچوی او دوا ړه پر خپله ګډه کړ چنې او کمزوری کړي خو چینیا نو تر هغه وخته پورې چه د پامیر د شرق په خوا او شاکښې د دوی متصرفه خاوروته خطر نه ؤ پیښ شوی د غه کارته ئې تن نه کیښود د کاپیسا ر تبیل شاهانو بې له دې چه د چین د کومک په انتظار لاس تر زنی کښېني په مجاد له بې لاس پورې کړ او لکه چه مونږ نول پوهیږو د عربو دلښکرو سره د هیواد په مختلفو ځایو کښې خونړۍ کاکړ وجنګیدل او دېره اوږد ه زمانه ئې خپله هستی او خپل دولت او هیواد وساتل تر څو چه د ۷۹۳ په شاوخوا کښې دد وی د پاچاهی مرکز کاپیسی په اخرنی وار د عربو د لښکرو لاس ته ورغی او له دې او نه وروسته بیخې وران شو . او په دغو وختونو کښې د چین د نظری حمایې او مداخلې نوم بیخې نه و پاتې :

د کاپیسې ورومتنی ورځې : د افغانستان د تاریخ په دې نوکټ کښې په مختلفو نصاونو او

مخلفو ځایو کښې له کاپیسا او کاپیسې څخه بحث شوی دی (٦٣-٤-٢٣ مخونه) عمومی مقصد داد ی چه د کاپیسا مرکز کاپیسی چه د هغه خرابې او بقایا په بګرام (د کابل د شمال په ٦٠ کیلو متری) کښې تعین شوی دی د ولایت د مرکز او د هندوکش د جنوب د محلي امارتونو د مرکز په حیث او د آریانا د امپراطورۍ د سلطنت د پای تخت په حیث ئې د پخوانی افغانستان په سیاسی ، اداری ، تجارتی ، مدنی او نورو برخو کښې تاریخ کښې ستر رول

لوی لی دی او د همدې کت له پخوانیو او هغو ښارونو څخه یو ښار بلل کېده (...) چه
هغه آثار او شواهد چه په دې څو روستیو کلو کښې په دې پخوانی ښار کښې کشف
شوي او کشف کېږي داسې یو داسې شاهددي چه د هغه د تمام اهمیت او د هغه د ودانیو عظمت
ثابتوي

دبګرام او د پهلوان دغره په مقابل کښې د پنجشیر د سیند په کیڼه غاړه کښې د ریزه
کوهستان په (صدق آباد) کښې د یفتلي مسکوکاتو کشف او په قندقستان (غوربند) او د
کابل په دهمزنګ کښې د غرڅستان د ښارانو د مسي سکو کشف او په تیره بیا په دې سلسله
کښې په پخپله دبګرام له خرابو څخه د سکو را پیدا کېدل داسې څرګندوي چه د کاپیسا په
حوزه خصوصا د کاپیسا په ښار کښې یفتلیانو مرکزیت لاره او په ۶۳۲ کښې هغه وخت
چه هیوان تسنګ دلته راغی د کوشانو یفتلي پاچا کشاتریه لا په دغه ځای کښې استوګنه او
حکمراني لرله او په ۶۴۴ کښې هغه وخت چه دی بیرته هند څخه راغی دی لا پاچا او پایتخت
ئي په کاپیسي کښې برقرار ؤ.

د آریانا غربي سرحد و نو ته د عربو د لښکرو د راتلو په وخت کښې او د سیستان
و دا نو ځایو ته لکه زرنج، زالق او کرکویه او نورو ته د هغوی د راتلو په وخت کښې
د کاپیسا د پاچا هانو یا رتبیل شاهانو مرکز د کاپیسي ښار ؤ: خو هر کله چه د دوی
د سوق الجیشي نقشي دا غوښتل چه په سرحدي ځایو کښې له عربو سره مقابله وکړي
او د هغوی قوا وې په غرونو او درو کښې محو کړي نو رتبیل شاهانو داوسني کابل په غرونو
کښې د یفتلیانو د زمانې له استحکاماتو څخه استفاده کوله او هغه ئي ترمیم هم کړل
او د هلمند او ارغنداو په حوزه کښې له جنګ او جګړو څخه وروسته په پای کښې
د کابل او خورد کابل په غربي شاو خوا کښې یو څه خونړۍ جګړې وشوې:

لکه چه د چیني زائرینو له سفرنامو له مخې څرګندیږي داوومې پیړۍ
دد وهمې نیمائې په اولو ختو نو کښې د عربو دیر غلو نو تر د یکېدو لا کاپیسانه
د تلو را تلو لارنه وه بنده کړې نو له دغه کبله داوومي مسیحي پیړۍ په دو همه نیمائي
او داتمې مسیحي پیړۍ د جریان په وختو کښې چیني منابع او له کاپیسا څخه او عربي ماخذونو

دکابل ښخه بحث کړی دی او ددغه کار علت دادی چه چینیانو دکاپیسا ( کی پن) له دولت ښخه دحمایې له کبله دغه کلمه زیاتره پخپلو دفترو کښې ثبته کړی او دیره ئی تکرار و له او عربو په هغه متا و مت او متا بلی سره چه دکابل په کلاو استحکامو کښې ئی کړی ده له د غه ځای ښخه زیاتې خبری کو لی . په هرحال په ۷۵۱ - او ۷٦۹ کاو نوکښې چه (و وکونګ Wou-Kong ) بل چینی زائر ګند ها را ته را غی کا پیسې لاخپل مرکزیت له لاسه نه ؤ ورکړی او د ی مسئلې د فو شه د نظر ېی له مخې تر ۱۷٦ هجری کال (۳-۷۹۲م ( پوری دوام کړ ی د ی او دا هغه موقع ده چه ابراهیم بن جبل د خراسان د والی دفضل بن یحیی په امر د (غورروند ) یعنی د غور بند د رې له لاری پر کاپیسا با ند ی حمله راوړه او د بنار بودائی ملهبی آ بد ات وران شول او له هغه وروسته بیا د کاپیسا نوم بیله یو وار ښخه نه د ی یاد شوی چه هغه هم په مال الهند کښې د البیرونی له خوا د( کاپیش ) په ډول راغلی دی . په دې تر تیب سره اولی قرینی په عمومې ډول پر دې با ند ی د لالت کوی چه دائمی پیړ یه په اخرو و ختونو او د نهمی پیړ یه په اولو وختونو کښې دهند وکښې د جنوب د سلطنت مرکز له کا پیسې ښخه کابل ته نقل شوی دی او د انتقال د موضوع علت او د هغه انتقال کوونکی به په آینده فصل کښې و ګرز و .

# څوارلسم فصل

## کابلی رایان

## یا کابل برهمن شاهان

په دې فصل کښې چه د( کرونو لوژی ) د تاریخي مراتبو له نقطې نظره څخه کيداى شي چه هغه د آريانا پخوانى افغانستان دتاريخ وروستنی فصل و بال شي سمدستي د وه څيزونه نظرجلبوی، يود (شاه ) کلمه او دهغې مترادف (راى) بل څيز د ( کابل) نوم چه يوه زمانه پايتخت ؤ او بياد ځينو واقعاتو د پيښيد وله کبله چه و به ئی گورو دهغه ځاى داناك پرغاره د« و يهند » ښار نيولی دی. په بل عبارت هر کله چه دپا : شاهانو دکارناوو او ددې فصل دمربو طو واقعاتو په بيان کښې دشاهاو شاهی او کابل او ويهند کلمى زياتى راځى نوغواړو چه په اول کښې دشاهاو شاهی او کابل په شاو خوا کښې لږڅه بيا ن وکړو .

دکابل شاهی يا کابلشاهان : دلسم فصل په آخر کښې د کيد اری کوشانی دمسکوکاتو

---

د بيانو لږ په وخت کښې مو ذکر کړی دی چه د کوچنيو کوشانيانو دسلالی مؤسس کيدارا د خپلو مسکوکاتو پرمخ خپل ځان په برهمی رسم الخط« کيدارا کوشا نشاه» ليکلی دی ، چه له هغه ځخه په واضح ډول دهغه کوشانی والی څرگند يږی ، خوزمو نږ زيات مقصد د(شاه)په کلمه کښې دی او معلوميږی چه څه ناڅه د مسيحي څلور مې پيړی له د غو او اوو څتونو څخه وروسته د هند وکش د جنوب محلی پاچاهان په تيره هغه پاچاهان چه دکابل په دره کښې ئی مرکزيت د راود، د نژاد او عقيدی له حيثه هرڅوك چه ور ، «دشاه» يا «شاهی » يا(شا هيا)په لقب ياد شوی دی؛ لکه ( رتبيل شاه) (ترکی شاه) «هند وشاهی » «برهمن شاهی» او هند وشاهيان او نور ، چه دغه ټول د(کابلشاه)تر عنوان لاندی راتلای شی . البيرونی برهمنيان يا هغه هندوان چه د نهمی مسيحی پيړی له منځنيو وختو نو څخه د يو ولسمی مسيحی پيړی تر اوومړی ځلور مې (ربع) پوری ئی دافغانستان په لمرختيځو برخو کښې پاچاهی کړی دی او هغه سلاله ا وکوړ نی ئی چه له د وی څخه پخوا ئی له کابل څخه دهند وکش

ACKU

پر جنوبي برخو باندي حکومت کاوه د(شاهي) یا(شاهیا) په لقب یاد ه کړی ده او د وئی د (کابل شاهیا) هم بللی دی ، او په خپله اصطلاح ئی هغوی پر د وو ترکی او هندی یا برهمنی برخو ویشلی دی(۱) د کشمیر مورخ او شاعر (کلهڼه) پخپل اثر کښی چه «راجا ترا نګینی» نومیږی او له الهند البیرونی څخه تقریباً ( ۱۱۸ ) کاله وروسته لیکل شوی دی — هند وشاهي یا برهمن شاهیان ئی عام له دی چه دهغوی مرکز په کابل کښی ؤ او که دافغانستان په ختیزو برخو کی د اټک په شاؤخوا په «ویهند» کښی ؤ چه د کا پیسا د کشاتر یه د ژمی مرکز ؤ په (شاهي) لقب یاد کړی دی : په همدغه ډول بلاذری هم یو ځل بی له دی چه دکابل د پاچا نوم یاد کړی هغه ئی ( دکابلشاه) په لقب بللی دی او په همدغه ترتیب سره د(رای )(او رایان ) (ملک )او (ملکا) کلمی چه د جمع او مفرد په شکل دافغانستان په محلی پراکریتونو کښی د شاه او شاهانو په معنادی دهند وکش د جنوب د پادشاهانو په مسکوکاتو او القابو کښی استعمالید لی . ددغو ملاحظاتو له مخی دومره قدرویلی کیدای شی چه دهندوکش د جنوب پاچائی کورنی او محلی امیران چه دلومړنیو پایتختونو په تدریج سره کاپیسا او کابل او ویهند وو ، او د وهمی دولی پایتختونه د غه ځایونه اویا په نورو ځایو کښی لکه په ګند هارا ، بامیانو ، وجیرستان ، ګردیز ، غور او زمین د اور او نورو ځایو کښی وو ، ټول د(شاه) او په شاهی لقب یاد شوی دی نو ځر نګه چه په پای کښی بیان کوو ، دهندوکش د ټول جنوب دمرکزی پاچاهی مرکز (کابل)شوی ؤ ، (دکابل شاهی ګانی )یا(کابلشاهان) هغه عنوان او لقبونه دی چه د ټولو ؤ رخینوله خوا په تلفظ کی په لږ تغیر سره استعمال شوی دی ، او د غه عنوان او لقب د ( څلورمی مسیحی پیړی په اولو ورځو نو کی) دکیدار الزمانی څخه په ویهند کی دکابل دبرهمن شاهی ګانو داو لادی دپاچاهی تر پایه(د ۱۱ مسیحی پیړی تر اولی ربعی ) تقریبا اوه پیړی دکابل دسیمی شاهی کورنی او کورنی امیران دهند وکش په جنوب کښی سره پیوست او متصل ساتلی دی :

---

(۱) دالبیرونی زاخو یا دساشو دترجمی لسم مخ :

ACKU

او په کیدار یانو پسی، دکاپیسا کشاتریه یان او نیکی ملکااو یفتلیا ن او کوشانو یفتلیان او رتبیلیان او ترو کشه یان او زابلی یان او تجینیان یاتگینیان او بر همنیان او هندوان تول په دغه دله او دغه سلسله کښی راځی

رای پاله: په دیار لسم فصل کښی مو بیان وکړ چه عربی او فارسی منابعو له هغه وخته څخه چه دمملکت غربی سرحداتو ته دعربو لښکری راورسیدی او دزرنج، رخد او دکابل خزاته راتلی، د رتبیل کلمه داسم او صفت په دول استعمال کړی ده. ني روبی دکابلی برهمن شاهی گانو دپاچاهی دپای ته رسید لوتر وخته پوری (د۱۱ مسیحی پیړی تر اولی ربعی) دوام درلود. لکه چه په هغه ځای کښی مو اشاره وکړه دا کلمه یا دخاص هندوئی نوم «رتن پاله» له مخی او یا د دو وعاموکلمو (رای) او (پاله) له ترکیب څخه منځ ته راغلی ده. او هر کله چه غالب گمان داسی کیږی چه دالقب به د دو واخرنیو نومونو له ترکیب څخه تشکیل او عام شوی وی او دهغه ربط له مخی چه زیاتره ئی ددی فصل له مطالعا تو سره لری په لنډ ول سره ئی بیان کوو:

لکه چه د۳ او ۴ هجری پیړیو دفارسی او سانسکریت مأخذونه او دغزنی ددربار مؤرخین لکه محمد عوفی او محمد الجبار العتبی بیان کوی کابلی برهمن شاهان او یا هندوشاهان ئی د (رای) په لقب یادول او دهغو ملکه به ئی (رانی) بلله (۱) دا دوه لقبونه په عمومی ډول د هندوا و یا برهمن شاهانو:

او دهغوی دښځو په باب کښی استعمالیدل په حقیقت کښی دادوې کلمی په اصل کښی دگوم پاچا او کومی ملکی مخصوص لقب او عنوان نه و بلکه ددغه عصر په بوپرا کریت کښی ئی (رای) او (رانیه) پاچا او ملکی ته ویل:

په دی کلمو کښی دسانسکریت پخوانی ریشه (راجان) داخله ده په دې کی شک نشته چه دغه القاب ددغو وختونو، دهندو یا برهمن شاهانو په مورد کښی په عام ډول راغلی دی

(۱) جوامع الحکایات او لوامع الروایات دکابل دموزی قلمی نسخه دهغی ځینی برخی په (انشنت اندیا) کښی دوهم ټوك د (القوت) ترجمه دانشنت انډیا د رهم ټوك د بمبئی تاریخ انگلیسی ترجمه دی وکتل شی چه الیوت ترجمه کړي ده؛

ACKU

څو د کابل د هند وشاهي پاچاهانو او د هغوی د اولادې دوېهند د هندو شاهي پاچاهانو په مورد کښې تاریخي سابقه لري او پوره تطبیق کېږي داد وې کلمې نه یواځې په نثر کښې راغلې دي، بلکه دافغانستان په فارسي نظم او سانسکریت کښې هم استعمال شوی دی، او دوره غوره مثالونه يې يو دملك الجبال سلطان علاءالدين جهانسوز شعر دی او بل هم د کشمیر د.ۋ رخ او شاعر «کلهڼه» اشعار دي. دمخه مو په ویدي عصر کښې ددې دوو کلمو اریا ئي ریښې ته اشاره وکړه، او دهغو په باب کښې بیان کوو چه دافغانستان د لویو کوشانیانو ددوهمې کورنۍ مۋ سس کنیشکا په خپلو ځینو مسکوکاتو کښې په یوناني رسم الخط خپل ځان (راونانوراو) (۱) یعنې د (پاچاهانو پاچا) بللی او لیکلی دی داژ به دلهجو مدققینو دایرانی کورنۍ لهژ بو څخه بللی ده په دې ځای کښې هم په څرگند ډول لیدل کېږي چه (راو) یعني پاچا او (راو نانوراو) یعنې (شهنشاه) په دوهمه مسیحي پېړۍ کښې رواج درلود، او ورو ،ورو ، دخو نورو پېړیو د تیریدو په زمانه کښې دکلمې وروستنې (و) په (ي) بدل شوی دی او (رای) دکابل او ویهند دبرهمن شاهي پاچانو او هند وشاهي پانو دپاره او له هغو سره دمعاصرو نورو هندوانو پاچاهانو دپاره په هندوستان کښې استعمال شوی دی او څرنگه چه د(رای) په کلمه کښې دویدي سانسکریت پخوانۍ ریښه شته په هغه شان په دیرو نورو آریائي لهجو کښې هم تر اوسه پورې له منځه نه ده تللی (۲):

بله کلمه چه لنډ بیان غواړي د «پاله» کلمه ده، تر یوې اندازې پورې چه دکابل د برهمن یا هندو ئي او د هغوی د اولادې د و یهند درا یا نو د مسکوکاتو له مخې څرگندیږي ددوی نومونه په عمومي ډول د «پال» او (دیوه) په دوو کلموتمامېږي او پای ته رسیږي چه اوله ئي (پاله) او دوهمه ئي (دیوه) هم تلفظ کړې ده، مدققینو «پال» یا «پاله» دهند واو له کورنیو څخه دیوې کورنۍ نوم بللی دی او حتی انگلیسي

---

(۱) ځینو هغه (شااو نانو شااو) هم بللی دی:

(۲) لکه چه په ایټالوي کښې پاچا ته (ر ې) او په فرانسوي کښې (روا) وائي

(۳) دهند دشمال غرب دشاهي کورنیو دکتاب ۹۷ مخ. دغه کتاب د (رای تالیف دی:

«الیوت» وائی چه دغی په ښکاره ګیډ واو ظهور سره دغه وخت ته پاچاهی کورنۍ کښی تغیر راغی (۳) که د (رتبیل) کلمه سره له هغه عمومیته چه مخصوصاً عربی منابعو استعمال کړی ده پخپل ذات کښی یو نوم او یا یو خاص اسم ګڼل کیدای او پائی دلغوی مفهوم له مخی کومه توجیه ارلای، نو هرو مرو به د سانسکریت په مأخذ کښی راغلی وای، خو دادول نوم او لقب دسانکریت په ماخذ کښی نه دی ضبط شوی. نو له دغه کبله ویل کیدای شی چه عربو دارو یدلو له لاری هغه لهٔ نورو کلمو څخه جوړه کړی ده او غالب ګمان داسی کیږی. چه د «رای» او (پاله) دکورنۍ د عمومی لقب له ترکیب (رای پاله) څخه به ئی رتبیل جوړ کړی وی:

په هر حال هر کله چه دا کلمه په عربی او فارسی ماخذونو کښی دآریانا غربی سرحد وته (د زرنج – رخد – کابل خط) دعربو دلښکرو درا تلو له وخته څخه استعمال شوی ده نو موږ دافغانستان په تاریخ کښی د کابل له برهمن شاهی یا نو څخه د کاپیسا دکوشانو یفتلیانو دجلا کولو دپاره، لومړنی کورنی دکابل (برهمن شاهی یان) د (کابلی رایانو) په نامه او دوهمه دله (کوشانو یفتلیان) د (رتبیل شاهانو) په لقب یادوو، او دوی نول د (کابلشاهانو) په نامه هم مشهور دی:

له کاپیسی څخه کابل ته د پایتخت نقل کول: په دې کښی شک نشته چه «کوبها»

د کابل دسیند ویدی نوم په آریائی سرودو (ریګ وید) کښی (۱) راغلی دی په هم دغه توګه د کابل ناوه د آوستائی شپاړسو قطعو اعلی محکی په جمله کښی په اوومه مرحله کښی د (ویکرته) په نامه راغلی ده او ځینی پوهان هغه (بګرد) چه بطلیموس ذکر کړی ده دکابل دسیند په پورتنۍ برخه کښی له همغی اوستائی (ویکرته) څخه بیره خاطره بولی دآریائی او مرنیو اصلی متونو څخه تیر به پنځمه قرم پیړۍ کښی (هرودوت) د (کسپاتیروس) له ښار څخه بحث کوی چه ځینی هغه کابل بولی: (اورتسپنه) (کارورا) او (کابورا) هغه نومونه دی چه په دوهمه مسیحی پیړۍ کښی بطلیموس پخپله جغرافیه کښی استعمال کړی دی او مدققین دری واړه نومونه

(۱) په پنځم اولسم ترك کښی؟

دکابل دښار او دهغه د بالاحصار نوموونه بولي، دغه جغرافیه لیکونکی دبار و پامیر اد په ولایت کښي د «بولیتي» یا «کابولیتي» نا مو خلکو څخه بحث کوي، چه له هغوی څخه مقصد د کابل د ښار خلک دي.

له دغو بیاناتو نه څرګندیږي چه د کابل سیند، د کابل ناوه او حتی په دې ناوه کې بدیا د پروودانو ځایونو په پخوانیو زمانو کې وجود لاره چه د هغوی د مراتبو تاکل جلا مطالعې او بحث غواړي. د بودائي آبادانو له منځی لکه د چکړي منار او سره منار، او هغه لوئي استوپې چه د چکړي په کلي کې شته دي او د پنجه شاه او د علی اباد د لمنې او خزانې د غونډۍ او د خواجه صفا او د خواجه روښنائي او د مرنجان د غونډۍ او د نورو بودائي معابدو د خرابو او کنډوالو له منځې څرګندیږي چه دلویو کوشانیانو په زمانه کې د کابل د شاؤخوا غرني حصار معبدونه درلودل او د هغو په شاؤخوا کښې د غرونو په لمنو کې کلي موجود وو. په هر حال د هغې سابقې له منځې چه دغه جغرافیائي تاریخي نوموونه او وداني ئي لري، په زړه کې دوه سوالونه پیدا کیږي: یو داچه دغه کابل یا هغه کابلونه چه د غو نوموونو په مقابل کې راځي په صحیح ډول سره په کوم ځای پایه کوموځایو کې وو؟ دوهم داچه دهندوکش په جنوب کی د آریا نامهم ښار چه له دوهمې قرم پیړۍ نه د اتمې مسیحی پیړۍ تر پایه پورې بوز رګالله د پخوانی افغانستان پایتخت ګڼل کیده شپیته کیلو متره د شمال خواته بللې دي د کاپیسا په حوزه کې پروت او د کاپیسی په نوم ئي شهرت درلود او د چه داوسنی بګرام خرابې له هغه څخه نمایندګي کوي، نه اوسنی کابل له کاپیسی څخه. کابل ته د پایتخت نقل کیدل یو لوی په او مهمه او په زړه پورې مسئله ده چه سره د لازمو معلوماتو د نه لرلو ښائي چه د هغه په باب کښې ترڅه وسه ښه غور او دقت وشي

په ۶۳۲ -- او ۶۴۴م کلو کې هغه وخت چه چینی زایر هیوان – تسنګ دلته تګ او راتګ کاوه کاپیسی پایتخت و او دغه زایر په هغه ښار کې له پادشاه سره ولیدل او کابل ته بیخي رانه غی. خود سیستان د تاریخ د شهادت له مخې (عبد الله بن ابي بکره

ACKU

په ۱۵ هجري کال (د ۶۷۳م په مطابق) سیستان ته راغلی ؤ او په بست او رخد او کابل کښې ئې له (ژنبیل) سره جګړې وکړې او په پای کښې ئې په دوو زرو درهمو له هغه سره سوله وکړه (۱).

که څه هم په تاریخ او کال او مأخذ کښې ښه ژوره کتنه وشي، لیدل کیږي چه داوومې پیړۍ په د وهمه نیمائي او د اتمې پیړۍ په زمانه کښې چینې منابع دکاپیسې له بنار څخه او عربي او فارسي منابع له کابل څخه بحث او خبرې کوي له هیوان ـ تسنګ نه وروسته، وروستنی چیني زایرین ز مونږ هیواد ته راغلي دي او لا ئې کولای شول چه دباختر او کاپیسا له لارې هند ته ولاړ شي دوه تنه دي: چه یو ئې (وانګ هیوان ـ تسو) Wang-Huan-tso ؤ چه دنماینده ګۍ حیثیت ئې هم لاره بل ئې (هیوا ن ـ تچاو) Hiuan-Tchao Ta-Che ؤ چه د وهم ځل ئې هند ته د مسافرت عزم لاړه رومبنی سرې په ۶۰ـ۶۵۹ کالو کښې سفر کړی او دوهم سرې په ۵ـ۶۶٤ کالو کښې سفر کړی دی د وی ز مونږ د مملکت دباختر او کاپیسا له لارې تیر شوی او هند ته لاړل خو په دې مینځ کې دعربو دلښکرو پرغلونو دوی ته له دې لارې دبیرته ګ مجال ور نه کړ لکه چه لومړی شخص د نیپال له لارې خپل هیواد ته لاړ او دوهم ئې بیخي ونه شو کولای چه خپل وطن ته بیرته لاړ شي. ځکه چه دنیپال لاره (تبتیانو) نیولې وه او دکاپیسا لاره (تا شیانو Taehe) یعنی عربو نیولې وه او تګ او را تګ په د غو لارو ګرانشوی و، په نتیجه کې (هیوان ـ تچاو) دغه چیني زایر په مرکزي هند کې پاتې او په هغه ځای کې مړ شو.

فرشته لیکي چه عربو په ۴٤ هجري کال (٦٦٤م) په کابل باندې حمله وکړه، بنائي چه لږ څه به وروسته شوې وي، ځکه چه په دغه کال لادبودائي سیاحینو او د چیني نماینده ګانو تګ و راتګ دکابل په سیمو کې جاري و، له بلې خوا هرکله هغه کال چه (وانګ ـ هیو ان ـ تسو) یکښې دنیپال له لارې خپل وطن ته لاړ او هغه کال چه هیوان ـ تچاو، غو ښتل چه دکا پیسا یا نیپال له لارې بیرته لاړ شي او بریالی نه شو

(۱) د سیستان تاریخ (۹۱) مخ

نه دی معلوم ، خو دسیستان دتاریخ له مخې څرګندېږي چه په ۵۱ هجري (۶۷۳م) کال کښي عبدالله بن ابی بکره کابل ته ورسید ، نو تر یوی اندازی ویلای شو چه له ۶۶۵ څخه تر ۶۷۳ پوری سره له دی چه دمملکت په غربی برخو کښي دعربو پر غلو نو او جګړو دوام درلود ـ لا د کابل سیمی نسبتاً آرامی وې او سره دهغی حملی چه په ۶۷۳ کښي وشوه عبدالله بن ابی بکره له رتبیل شاه سره صلحه وکړه ، یعنی د کاپیسا او کابل سلطنت نه ؤ خراب شوی او په خپل حال پاته ؤ.

په دی کښي شک نشته لکه چه عربی او فارسی مأخذ و نه وائی له پورتنی تاریخ څخه وروسته دکاپیسا دپاچاهانو او رتبیل شاهانو او دعربو د رالیږل شوو لښکرو تر منځ چه معمولاً د سیستان او خاص خراسان د والیانو له خوا لیږل کیدې داوی خلافت په تول دوره کښي لښکر کښی او جګړې جاری وې ، او رتبیل شاهان او ایان له زرنج او رخد څخه نیولې تر کابل او کاپیسا پوری په هر ځای کښي به پخپله د جګړو په ډګرو نو کښي حاضر وو ، او دکابل سیمی لا د هغوی په لاس کښي وې چه د ۷۵۱ ـ او ۷۶۹ په منځ کښي بیایو بل چینی زایر چه ووکونګ Wou-Kong، نومید ګندهارا ته راغلی ، او له یوه محلی ترکی نژاد ده امیر سره ئې وکتل چه بی له شکه د کاپیسا او د کابل دپاچهانو تابع ؤ ، نو دوری وروستنی چینی زایر دی چه زمونږ مملکت ته راغلی دی او له ده نه وروسته داتمې پیړۍ په زمانه کښي کوم زائرین چه هند ته به را تلل او بیابه بیر ته چین ته تلل هغوی به د بحر له لاری څخه تګ و راتګ کاوه.

هغه وروستنی سخته حمله چه پر کاپیسی باندی کیږی بوه داسی حمله ده چه دخراسان دوالی فضل بن یحیی (۱) په امر دابراهیم بن جبل له خوا په (۱۷۶) هجری کال د (۳ـ۷۹۲م مطابق ) د غوروند Ghurwand یعنی د اوسنی (غوربند) له لاری د کاپیسا پر شمالی برخو باندی شوې ده او دیعقوبی دشاهدی له مخی څرګندیږی چه په دغه حمله کښي د( کاپیسی ـ بګرام) پاچاهی ښار او لیری او نیږدې بود ائې آبدات او مخصوصاً دشابهار مستر او معروف معبد یعنی هغه (شاهی معبد) چه چینی زائرینو هیوان ـ تسنګ

---

(۱) نوموړی دعباسی خلیفه هارون الرشید له خوا والی مقرر شوی ؤ.

او (وانګ هیوان ـ تسونګ) او د (وو کونګ) هغه ته اشاره کړې ده او بې له شکه هغه معبد چه دوی یادکړی دی دهغه د پخوانی پاچا معبد و، تول وران او نړول شوی دی: ده و سیو نوشه د نظریې له مخې څرګند یږی چه ددغه مهلک ضرر بت په اثر دکاپیسی ښار خپل اهمیت او مرکزیت له لاسه ورکړی دی او دپاچا هانو پایتخت له جنوب خواته دیو لږ غونډ بو او غرونو شاته کابل ته نقل شوی دی.

وړاندې مو وویل چه چینی زائرینو په تیره هیوان ـ تسنګ چه یو میاشت نی کاپیسی ته نژدې دشاه وکيې په معبد (دچینی یرغمل و معبد) کښی تیره کړې ده او د هغه یادداښتو نه په پوره غور او دقت سره لیکل شوی دی له کابل څخه څه ذکر او بیان نه دی کړی خو دده دمقطار انو داچړ بو الی او نه یادونه ددې دلیل نشی کیدای چه کابل دده په عصر او دده د تګ له تاریخ څخه پخوا او باوړ و سته خارجي وجو د نه لاره ځکه چه دشیوه کیو او سها کو: کمر یو، چکړ ی او د ګل ذری بو دائی بقایا او ـ بتی د مرنـجان دغو نډ ی د پنجه شاه، خـو ا جه صـفا، خو اجه روشنا ئـی او د خـزا نی د غو نـډ ی د (چنداو لو د هزاره وو د کلا دپاسه) او دسلام د غو نډ ی او دسخی او علی آباد د لمنو دبو دائی معبدو نو بقایا حکم کوی چه په دغه تولو سیمه کښی غرو نو په پوزو او غو نډ یو کښی بـو دا ئـی مـعـبـد و نـه او استـو پـې او شیـوائی هـنـد و ئـی بتخانې او دلمر پرستی برهمنی معبدو نه وجو د وو او حتی دشیوه کیو په یوه استو په کښی دلو بو کوشا نیانو دسلالی د دو هم پاچا ویما کدفیز س دمسکو کا تو کشف یدل ښکاره کوی چه د مسیحی دوهمی پیړ یې په اوله نیمائی کښی دغه استو په ودانه وه او له بلې خوا دچکړ ی دمناری د و دانی دوول او سبک له مخې (۱) څرګندیږی چه په دوهمه (م)

---

(۱) د (چګړ ی) دکلمې اصل (چکړ ه) ؤ چکړه هغه چرغه یا چرخ دی او له هغه څخه مقصد هغه مراده ده چه دبو دائی قانو ن فارقه علامه او نښه ده د د غې منا ر ی دپاسه داعلامه وضع شوی وه چه نن هم نی په تیر یاد سره لو یدلی او له منځه تللی ده ګمان کیږ ی چه دغه مناره به نژ ائر ینو دلا ر ښو دنی دپاره جوړه شوی وی چه هغو کسانو ته لا ر ښو و نه و کړ ی چه له ننګرهار څخه به بو دائی کابل ته راتلل.

ACKU

پیژندل کېږي دلوېږو کوشانیانو په عصر کښې په ودانه شوې وي، نو په دې کښې شک نشته چه څه نا څه دلوېږو کوشانیانو په زمانه کښې دکابل په خوا او شا کښې بودائي مذهبي عمرانات او ودانۍ جوړې او څرګندې شوې دي او د هغو په شا و خوا کښې کلي منځ ته راغلي او جوړ شوي دي که څه هم په هغه پراخه سیمه کښې بودائي آبدات چه مخکښې ذکر شوه دکابل دغرني حصار په پوزو کښې تپت و پرک پراته وو مګر دپخواني کابل یا څه نا څه د(بودائي کابل) آبادي داوسني کابل په ځای کښې نه بلکه (۷-۸) کیلو متر داوسني کابل دجنوب شرق خواته دکمري او چکري په شا و خوا کښې پرته وه او دخوردکابل تسمیه په خپله ښيي چه کوچنی او پخواني کابل (خوردکابل) په همدغو ځایو کښې پروت و، موسیو فوشه داسې نظر په ورکوي چه بودائي او هندوئي کابل دلوګرد سیند په غاړه پروت و نه دکابل داوسني سیند په غاړه هر کله چه دکابل برهمن شاهانو د تاج پوښۍ مراسم دکابل په یو معبد کښې اجراء کېدل نو دغه معبد هم غالباً دلوګرد سیند په حوزه کښې و او احتمال لري چه یعقوب لیث صفاري هم د همدغه مشهور معبد نه بتان لاسته راوړي او بغداد ته یې لېږلي وي او تر دې وخته پورې دغه مخصوص مذهبي غسل چه رابهي شکه(Abhishka) یې ورته ویل دلوګر سیند په اوبو کښې کېده، موږ ته ټول پوهېږو چه دلوګر سیند ارکښیوه کیوه هند کیو، ساګواود کمري او شا او خوا ځایونه تر اوسه پورې هم د کابل دهندوانو په نزد مذهبي اهمیت لري او اوس هم د کابل هندوان د خپل ویساک اختر په همدغو ځایو کښې تېروي او د لوګر د سیند په اوبو کښې غسلونه کوي او ځانونه پریمینځي. د بلې خوا نه د لومړیو اسلامي مبلغینو اقامت او استوګنه او دحضرات تمیم او جبیر رضی الله تعالی عنهما دشهادت په شپه کښې د بې پروائي او غفلت په حال کښې په شهادت ای ځای نحین کښې څرګندوي چه دکابل د هغه وخت آبادي دلوګرد سیند په سیمه کښې پرته وه لکه چه بل نو لکلوه او قصې هم د زنبورک شاه تخت او د خلکو ټولنې او اجتماع د جبهې په لمنو کښې او دکابلي لوړ قامته او قوي پهلوانان مثلاً هرات په همدې حوزه او د همدې ځای د غرونو په لمنو او غونډ یو کښې شنې - تر څو چه وروروکابل دلوګرد حوزې نه دکابل د اوسني سیند تر حوزې پورې را ختلی و موند له.

که چیرې د پایتخت انتقال د کاپیسې نه کابل ته د غزنویانو او مسلمانانو له خوا اجراء کیده نو ددې کار توجیه به مود پاتنت او عقائدو ته منسوب ولای مگر هر کله چه د غه کار د شاهی پانو او یا د کابل شاهانو له پلوه شوی دی بنائی چه دبلې زاوېې نه هم وربانډې دقت وشي په دې کښې محه شك نشته چه په دغه امر کښې تر یوې اندازې دفاعی او نظامی کتنې هم د خالت لری محکه چه کاپیسې ( بگرام ) په یوه لویه حوزه کښې لکه کاپیسا او په یوه پراخه او آواره جلگه کښې پرته ده چه د مختلفو د رواو څلو رو خواؤ نه ورباندې لاره خلاصه ده همدغه وجه وه چه هغې حملې ته مواشاره وکره چه د غوربند د دری نه واقع شوه حال د اچه کابل په یوه تنګه دره کښې پروت دی او په آسانۍ سره ئی دفاع کیدله او د تیرلو نه بیه دا خبره ده څنګه چه (پادرگسپانی) وائی داوسنی کابل د یوا لو نه چه د شیردروازی او په آسمائی غرونو باندی واقع دی یفتلیانو د عصر نه یعنی د پنځمې مسیحي پیړۍ د نه راپه دې خوا موجود دی (۱) په هر صورت سره ددی چه صریح او دقیق معلومات موجود ندی خو قراین او واقعات په غیر مستقیم صورت په دی باندې دلالت کوی چه دکاپیسې نه شیوائی او بودائی کابل ته دپایتخت انتقال د برهمن شاهانو یا دکابل دهند و شاهانو دکورنیو او سلالو سره د (۷۹۳ مسیحي کال په شاؤ خوا کښې د مسیحي (۸) قرن په ورو ستیو و ختو کښې شوی وی او په دې محای کښې دنظامی ملاحظاتو په څنګ کښې مذهبی ملاحظات هم محای نیسي محکه چه دکاپیسا او کابل برهمنو او هندوانو ته د لوگر د سیند حوزه معتبره

---

( ۱ ) دپادرگسپانی مقاله دې په فرانسوی او انګلیسی ژبه دافغانستان دمجلې په دوهمه شماره کښې وکتله شي د یفتلیانو د لـه خوا دکابـل دغرونو په سر دد یوالونو تعمیر په باره کښې ددغه نظریه حقیقت ته نژدې ښکاریږی محکه چه یفتلیا نو جنگی او نظامی خلک وو او دغزنی او کابل په اطرافو کښې ئی نظامی اډې درلودې او د هغوی مسکوکات دد همرنگ نه لاس ته راغلی دی څنګه چه قصی در تبیل شاهانو لاس دد غود یوالونو په تعمیر کښې شاماوی نو ویلی شو چه دوی به پکښې تر میمات کړی وی او پادرگسپانی هم په دې مورد کښې موافقت لری.

ACKU

او مهمه وه په دې کښې شك نشته چه کابل په یو ځل د کاپیسې ځای نه دی نیولی او دغه رنګه کابل په هغه وخت کښې چه کاپیسې د پایتخت حیثیت درلود خپل موجودیت ساتلی ؤ .
په هم دې صورت سره پس له دینه چه کابل پایتخت شو کاپیسه موجوده وه لکه چه د اسلامی دورو مسکوکات د کوفی کتیبو سره چه په هغه ځای کښې لاس ته راغلی دد ی نظریې تائیدکوی په هر صورت کابل تر دیرو ختو پوری د برهمن شاهانو پایتخت نه ؤ او د صفاریکورنۍ تر فشار لاندې یو واریپا د هند وانو د شیوائی کابل شاهانو مرکز د دغه ځای نه د اټک پر غاړه ( ویهند ) ته نقل شو ، او په جلاځای کې به ورباندې بحث وکړو .

<u>ترکی شاهی او برهمن شاهی</u> : چینی ، عربی ، دسانسکریت او فارسی منابع و هغه کورنۍ چه د کوشانو یفتلی د عرق نه دا و وه -ی مسیحی پیړۍ د لومړیو ختونه وروسته د هندوکش د جنوب په بیلو بیلو علاقو کښې پاچائی او سلطنت ته رسید لی دی په بیلو بیلو نو مو نوا و جلا جلا القـا بو یـا د ی کـړی دی چه دیو ولسم فصل په آخره کښې ئې په لنډ صورت او په ۱۳ فصل کښې دمحلي امیرانو به قطار کښې ئې به مفصل دول بیان وشو او په ځینو نورو ځایو کښې هم دغو مطلبو نو ته اشارې وشوې هغه عنوانو نه او القاب چه مختلفو مدرکو نو ز مو نږ د مملکت د تاریخ دد ریو پیړیو پاد شاهانو ، امرا او کورنیو ته مخصوصاً د هندوکش دجنوب سیمو ته ورکړی دی هر یو د خپل محلی مفهوم سره داحترام وړ دی مګر یو شی ز مو نږ له نظر څخه پټ نشی پاتی کید لی او هغه دادی چه د غه کورنۍ او سلالې د آئین ؤ مذهب او عقید ې په لحاظ هرڅه چه وې مګر د عرق په لحاظ د کوشانو یفتلی عنصر نه مخلوطې وې او دکشانو یفتلی ـ رتبیل ، ترك ، ترو کشه ، برهمن او هندو اصطلاحات هغه شیان دی چه سره ډ ډی چه محلی او محدود مفهوم لری او هغه هم زیا تره د اجتما عی او مذهبی تقسیما تو او طبقا تو په لحاظ دیر مجدا ئی او تفرقه پیدا کولی نشی حقیقت دادی چه د کوشانی او یفتلی سلطنت له سقوط او هرې خواته ددوی در ئیسانو د تیتؤ پرك کیدو نه وروسته دافغانستان په بیلو بیلو برخو او ضمناً د هندوکش

ACKU

په مرکزي او جنوبي علاقو کښي د هغوی د اولادې محلي امارتونو دوام درلود. هغه پادشاهان چه له کابل او کاپیسي څخه د هندوکش په تېرولو جنوبي برخه کښې ئې تر هغه وخته پوري سلطنت کړی دی چه کابل د یعقوب لیث صفاري له خوا فتح شو. تر اول د عرق په لحاظ (کوشانی یفتلي) وو، طبیعي خبره ده چه په داسي پراخو سیمو کښې چه د اندوس د سوا حلو نه د هامون تر سند پوري ئې پراختیا درلوده هغه محلي امیران چه د غه دولت جزو و او هغه امرا چه د دغه دولت جز نه وو د پرزیات دي چه د چین سیلانیا نو او مسکوکاتو په څېړنو ځایو کې د هغوی موجودیت څرگند کړی دی لکه چه په تېر فصل کې مو د هغوی څخه د څېړنو په باره کښي بحث وکړ. د (کشاتریه) صفت چه د (هیوان تسنگ) له خوا او ورمي مسیحي پیړیه په اوومه پیړیه نیمائي کښې د کاپیسا د پاچا په باره کښي استعمال شوی د (کشاتریه) طبقي یعني نظامي نجبا و ته اشاره ده چه د خلکو د اجتماعي طبقو یوه طبقه ده. د (رتبیل) نوم او تسمیه چه د عربي او فارسي منابعو له خوا استعمال شوی ده د برهمني و هندوئي نومونو او القابو په څېړلو شهادت ورکوي او کله چه د بیرونیو راغلي په همدغو منابعو کښي د انکار وشي نو باید چه هغه تولو پادشاهانو امراو او کورنیو ته رتبیل او یارتبیل شاهانو ویل شي چه د اوومي پیړیه نه د لسمي پیړیه تر اواخو پوري ئې په دغو سیمو کښې سلطنت او امارت کړی دی.

پاتي شو تجن او یا تگین چه څېړونکي یا د (ترینو) او مسکوکاتو په څېړونو سیمو کښي لکه قندوز، گندهارا او کاپیسا کښي د هغوی موجودیت ته اشاره کوي ده او زیاتره ئې د تېکیا نو یعني درکیداري و زوستیو کوشانیانو د اولادي) د مسکوکاتو په نسبه تقلید او د هغو له منځه سکه وهلي ده مد قتینو بوا ځي دوی د توکیوا ولادي بللي او په نتیجه کې ئې ترک شمېرلي.

هر کله چه چینیان او عرب له هغو نژادي ممیزاتو نه خبر نه وو چه په هغو وختو کښي د هندوکش په جنوب کښي غالب وو نو د هندوکش جنوبي کورنیو ئې په مبهمو تعبیراتو سره یاد ي کړي دي چه د صحت جنبه ئې آني او محلي ده او لیکنو ئې ظاهراً حتي په خپله د خراسان (افغانستان) مؤرخین په اشتباه کښي اچولي دي نو د د غو اصطلاحاتو په باره کي باید ډېر دقت وشي او هغو ر ښتیاني مفهوم و انتقال شي څکه چه هر یو نسبت

ACKU

وخت او مکان ته ځلا ځلا معنی ورکوي، مونږ پوهېږو چه استاد ابوریحان بیروني دکابل شاهیان په دوو برخو وېشلي دي یعني (ترکي شاهي) او (برهمن شاهي) او کوم ځای چه د پادشاهانو دشمېر او حتی دهغو د نومونو له مخې چه هغوی په هم دغه جمله کې حساب کړي دي لکه کنیک یعني (کنیشکا) او په دغه باره کې پخپل د هغه د وینا نه چه د خپل نسب سلسله (کنیشکا) ته رسوي د اسې حکم کولای شو چه نوموړی د ستر کنیشکا له زمانې نه چه د اوبوکو شانیانو د دوهمې کورنۍ مؤسس دی، دکابل د برهمني راجاانو ترظهوره پورې چه (تقریباً اوه سوه کاله کېږي) دپخوانی افغانستان ټولې کورنۍ او پادشاهان او محلي امیران پخپله (ترکي شاهي) کورنۍ کې حساب کړي دي او د ایوه داسې اشتباه ده چه نوري توضیح ته ئې هیڅ ضرورت نشته یوازې د(برهاتگین) د نوم له مخې چه په آخره کې ئې د(تگین) کلمه لیدل کېږي دومره امکان او احتمال پیدا کېږي چه البیروني یاد کړي ترکي شاهي هغه تگین شاهي وي چه په اصل کې دتوکیو (ترکانو) اولاده وه. او لکه چه وموليکل او وزباندې پوه یودوې د قند وز د محلي امراؤ اخرینی جزبلل کیږي او په تخارستان کې د دوی د نفوذ ساحه محدوده وه او چیني (ووکونګ) داسې ییلادی پیرې کمپه د وهمه نیمائی کې ددوی یوخان یاامیر په ګندهارا کې هم ښود لی دی. دد وی سکې د هند وکش په شمالي او جنوبي برخو کښې پیدا شوي دي. په دغه صورت احتمال لري چه (لکه تورمان)(۱) دګندهارا د تګین یانو ورو ستي پاچا یوه زمانه خپل نفوذ له ګندهارانه کاپیسا ته هم خپور کړی وي او باني اصلاً خپل مرکز دلته تا کلی وي تر دی چه برهمني وزیر (کلر) د خلکو دنارضائي نه کارا خستی او (لکه تورمان) ئې معزول کړ او په دغه صورت ئې د برهمن شاهیانو یادکابلي راجاانو سلسله په اقتدار راوسته. بیله دې صورت نه البیروني یاد کړي ترکي شاهیان لکه چه دمخه مو وویل بله کومه توجیه نلري او د هغوی نه مراد کوشنیو کوشانیانو یاد کوشانو یفتلي او لادی پاد شاهان دي چه په دغه وخت کښې دهند وکش

---

(۱) باید وویل شي چه دغه نوم یفتلي او د یفتلي پاچا دنوم (تورامانا) سره شباهت لري

په جنوبی برخوکښې د هغوی نفو ذ او اقتدار یو منلی کار دی او هیڅ راز تر دید نلری
دکابل دبرهمن شاهانود کورنۍ مؤسس: لکه چه د مخه وویل شول او هغه

روښنا ئی چه د بیلو بیلو اصطلاحاتو په باب تېښی واچول شوه نو په د غه باره کی
دنو لونه لومړی د ابوریحان بیرونی لیکنوته مراجعه کوو. دغزنی دد ربار
مؤرخ د(ترکی شاهی)لومړی پاچا (برهاتگین) اوآخرنی ئی (لکه تورمان)ښودلی
دی. او وائی چه دلکه تورمان پاچا وزیر (کلر) چه برهمنی ؤ یو ه پټه خزانه
موندلی وه او د غه ثروت د هغه د نفو ذ او قدرت د پراختیا سبب شو. له بلې
خوانه هرکله چه (تورمان) د خلکو سره بد ه رویه کوله نو خلک و ر څخه
خواشینی او خپه شول او تل ئی (کلر) وزیر ته شکا یتونه کول د غه برهمنی وزیر دخپل
.شخصی نفوذ او اقتدار او د خلکو له خواشینۍ نه استفاده وکړه او (لکه تورمان) ئې
بندی کړ او په خپله په شاهی تخت باندی کښیناست دکشمیر مشهور مورخ او شاعر (کلهنه)
چه دده کتاب «را جاتر انگینی» (دپادشاهانو رودخانه) نومیږی او دکشمیر دپادشاهانو
او د ځینو هند وشا هیانو او د وی تر منځ دروابطو او تعلقاتو په باب کښی دسانسکریت
یو یوا ځینی معتبر مأخذ بلل کیږی او لکه چه ابوریحان بیرونی ویلی دی د هند و
شاهیانو دکورنۍ موسس د (کلر) په نامه نه پیژنی، بلکه یو بل سړی چه (للیه Lalaya)
نومیږی ددی کورنۍ موسس بولی.

هغه اشکال چه دد غو د وونومونو (کلر او للیه) یو دبله په تطبیق کی شته دیر دی.
په دی کښې شك نشته چه البیرونی او کلهنه د وارو دد ی لویی پیښی او د خپلو د غو
ذ کر کړو پادشاهانو د جلوس په باره کښې کوم تاریخ اوسنه نه د ه ذکر کړی مگر
هرکله چه للیه دکشمیر دپا چا (سنکره ورمن Sankaravarman) (۸۸۳-۹۰۲م)
معا صر ؤ او دپیښو له مخې څرگند یږی چه دکشمیر د یو بل پاچا (گو پاله ورمن) په
زمانه (۹۰۲-۹۰٤م) کی مړ شوی دی (۱) نو کولی شو چه دده د پاچاهی کال نه د نهمی

(۱) د هند د شمال غرب د شا هی کورنیو تاریخ د کتاب ۷۵ مخ دی وکتل شی
د غه کتاب د (ری) تا لیف دی

ACKU

مسیحی پیړۍ په آخر کی او دلسمی پیړۍ په شروع کښې و تا کو او دغه سنه او تاریخ له ترکی شاهیو نه دکابل بر همنی شاهیانو ته دسلطنت دانتقال دپاره ناوخته دی : څېړونو مدققینو لکه کننګهم او پروفیسور ( سیبو لد ) کو ښښ کړی دی چه دغه دوه مؤسسین چه دغو ذو و مورخینو یادکړی دی سره تطبیق کړی اودغه دواړه یو سړی معرفی کړی لکه پروفیسر سیبو لد چه وائی ددواړو مؤرخینو په منځ کی دغه اختلاف دعربی حروفو درسم الخط نه پیداشوی دی که داسی نه وی نو (کلر) همادغه (للی) او یا) للیه) دی چه غلطلیکل شوی اوغلط لوستل شوی دی ددغو مراتبو له یادولو نه وروسته باید و ویل شی چه دغه نظریه ضعیفه ده او (کلر) او (للیه) یو سړی ندی او دترکی شاهانو نه دکابل برهمن شاهانو ته د سلطنت نقلید ل دو مره ند ی ځنډیدلی دمو سیو فوشه نظر یه داده چه دغه لو یه پیښه د یعقوب لیث صفاری د جاو سن نه او مړی طبعاً دهغه له خوا دکابل د فتحی نه پخوا شوی ده(جاوسن په ٦١ ـم د کابل فتح په (٨٧١م، کښې)

د مخه موکاپیسی ته دور وستی ضر بت رسید ل او د ۷۹۳ کال په شا وُ خوا کښې له کاپیسی نه کابل ته دپایتخت نقلیدل یادکړل. او په بل بحث کی مو په غالب گمان او دقرائنو په شهادت ددغه انتقا ل نسبت برهمن شاها نو ته وکړ ، نو او س د غه دی وایو چه دبر همن شاهانو کور نۍ د اتمی پیړۍ په آخره کی سلطنت ته ورسیدله او خپل پای تخت ئی دکا پیسی نه چه البیرونی ورته یوځل (کاپیش) ویلی دی کا بل هغه کابل ته نقل کړ چه د لوگر د سیند په غاړه دسا کو ، کمریو ـ او چکریو په سیمه کښی پروت وُ دکلکتی دپوهنتون دتاریخ پروفیسر (رای) د(کلر) او (للیه) د پو والی په باب کی دڅېړونو مدققینو دنظریاتو دیادو لوسره یو بله تعبیر هم ناولی دی چه هغه دوه برهمنی بادشاهان سره بیلوی : د دغه مؤرخ تعبیر داسی دی چه دکشمیر مؤرخ (کلهنه) دبرهمن شاهانو دسلسلی مؤسس ( للیه ) له هغه و خت نه پېژنی چه دهغوی مرکز دکابل نه (ویهند) ته نقل شو او دالبیرونی دلیکنو نه داسی څرګند یږی چه ( کلر ) په کاپیسا او یا په کابل کښی د(لکه تورمان) نه د پاچائی مقام نیولی وی.

دغه تعبير ته که دقت وکړو له هره حيثه صحيح او حسابي معلومېږي او د سنې او تاريخ او د پېښو او تاريخي ګذارشاتو سره پوره موافقه لري.

ځکه چه څو کاله پخوا مي د کابلي (راپانو) په رساله کي (١) و ليکل د کشمير او غزني د مؤرخينو د نظره پاتو سره سم و يلي شو چه (کلر) د کابل د برهمن شاهانو د کورني مؤسس برهمني وزير دی او (الپه) له هغو پادشاهانو څخه دی چه د کابل نه و پهند ته د شاهي مرکز د نقايد و نه وروسته سلطنت ته رسيد لی دی او يا په و پهند کښي د هغوی د کورنۍ مؤسس دی.

د دغو مطالبو په رڼا کي چه تر دغه ځای پوري بيان شول ويلي شو چه هر کله (رتبيل شاهان) د (کشاتريه يعني د هندوکش د جنوب د شو اليه و له طبقي څخه وو) څېل وزيران ئي معمولاً د برهمني طبقي نه چه زيات تره ئي د د پوان، قلم او دفتر سره سروکار درلود انتخابول او په د غه ترتيب سره د کاپيسا د کوشانو يفتلي د کورنۍ له وروستي پاچا (لګه تورمان) نه آخرني سلطنت د برهمن وزير (کلر) په واسطه داتمي مسيحي پېړۍ په اوومه پيړۍ وختو کښي د برهمن شاهانو کورنۍ ته نقل شو.

آيا د کابل د برهمن شاهيو مؤسس څو کاله سلطنت وکړ عمر ئي څرنګه تېر شو دا هغه پوښتني دي چه او س ئي نشو کولي چه صريح جواب ور ته ووايو ځکه چه هيڅ يو ی مشخصي او معلومي منبع په دغه باره کي څه نه دي ويلي.

په دې کښي څه شک نشته چه د کوشانو يفتلي د بوده پرستانو څخه د کابل د شيوائي برهمنيانو طبقي ته د سلطنت نقليده يو مهم کار دی او په آخره کي د کابل او کاپيسا په بوده پرستانو يا ندی د برهمني جامعي اهميت ثابتوی او له کاپيسي نه کابل هغه کابل ته چه د او ګر د سيند په غاړه د شيوه کيو ، کمر يو او د چکړ يو په شاوخوا کښي پروت ؤ ، د پای تخت په نقليدو کي دا مراو و او د ددر بار د خلکو د دين او عقيدې تغير بي دخله نه دی ځکه چه وروسته تر دې به د برهمن شاهانو د کورنۍ د نورو غړو د ياد و نې په وخت کي به وګورو د دوی د ريم پاچا (کملو) يا (کملو) نوميد صغاري کورنۍ

(١) دغه رساله د آريانا د مجلې د دريم کال په ٦-٧-٨ ګڼو کښي چاپ شوې ده .

ACKU

ددوهم پاچا عمرو لیث سره معاصر و. د کلمونه پخوا د کابل د برهمن شاهانو دکورنۍ نه دوه تنه پاچاهی ته رسیدلي دي چه یو ئې (سامند) یا (سامنته دیوا) نومیده او بل ئې (کلر) و چه ددې سلسلې مؤسس بلل کیږي. هرکله چه یعقوب لیث صفاري تر کابل پورې رسیدلی او دکابل په شاؤخوا کښې ئې دکابل شاهانو سره جنګونه کړي دي او یو معبد ئې خراب کړ او د معبد مجسمې ئې بغداد ته واستولې او نژدې ئې تلس کاله ئې پاچاهي کړې ده. د (۲٤۷ نه تر ۲٦٥ هجري پورې - مسیحي سنه ئې د ۸٦۱ نه تر ۸۷۹ پورې کیږي) نو احتمال لري چه د (سامند) یا (سامنته دیوا) دکابل د برهمن شاهانو سره او ددې کورنۍ د مؤسس (کلر) سره په یوه زمانه کښې ژوندون کړی وي. که څه هم په دغه ځای کښې د (کلر) او (سامنته دیوا) دجلوس سنه او تاریخ او پاچاهۍ څه دوروسته ذکر شوی برهمني کابلشاه د ماماداری دوره معلومه وای نو دغه اشکال به لري شوی او مسئله به پوره حل شوې وای خو سره دهغه هم کابو چه د (سامنته دیوا) څخه لا مخته راغلی دی دده د جلوس او سلطنت د دورې تاریخ په باره کښې دقیق معلومات وجود نه لري. نو سمدلاسه په دغه موضوع کښې له هغه نه پوره یاته اندازه چه ویل شوي نظریه نشو ورکولای او هرکله چه د ترکلمو سره د عمرو لیث صفاري د مقابلې په اساس د (سامنته دیوا) سره یعقوب لیث خامخا مقابل او معاصر بلل کیږي نو د (سامنته دیوا) په زمانه کښې د صفاري کورنۍ د مؤسس له خوا د کابل د فتح کیدو یادونه کوو. او د موسیو نوشه د عقیدې له مخې کابل د یعقوب لیث صفاري د فتح نه پخوا د کاپیسې ځای د پاچاهۍ تخت په حیث نیولی و د پاچاهۍ تخت د نقلولو نسبت که چه دمخه مو هم ورته اشاره وکړه د برهمن شاهانو د کورنۍ مؤسس یعنې (کلر) ته کولای شو.

سري سامنته دیوا: البیروني دکابل د برهمن شاهانو د سلسلې دوهم پاچا (سامند) (Samand) بولي

مدققینو په هغو مسکوکاتو کې چه زیاته برخه ئې په افغانستان کې او څینې ئې د هند په شمال کښې پیدا شوي دي دیو هغه پاچا مسکوکات موندلي دي چه په یو مخ باندې ئې ورنوم د (سامنته دیوا) په صورت او په بل مخ ابا ندې ئې دیو غوبي او سوار کار شکل نقش شوی دی (۱). هرکله

(۱) ورسنت سمیت وائي چه دده د سکې په مخ باندې دزمري او پیل شکلونه نقش شوي دي.

چه :(دیوا)یا( دیوی )کلمه چه ددی کورنۍ نوم دی ددغه نوم له آخرنه حذف شی نو (سامنته)او یا(سامنت)پاتی کېږی چه په (د)سره د(ت )په بدلیدلو دواړه یوشی او یو نوم دی او په دې وجه مدققین دغه مسکوکات دهندوکش دجنوب دبرهمنی دوهم کابلشاه (سامند) سکې بولی او هرکله چه دده مسکوکات زیاتره په افغانستان کی او ځینی ئی د هند په شمال کښی پیداشوی دی نو په واضح صورت معلومیږی چه دده دسلطنت قلمرو اوسیمی تر یوې زیاتی اندازی پورې دجنوب شرقی افغانستان خاوره او د هند شمالی شاؤخواوی بلل کیدلې (سرهانری الیوت) د(سامنته) کلمه په جگړه مار- غښتلی سوارکار - او سپه سالار سره ترجمه کړی ده او ډیر احتمال لری چه د (سامنته) په کلمه کښی دغه معناگانی دبرهمنی کابلشاه د القاب نه نمایندگی وکړی مخصوصاً د(سپه سالار او یا (سپهبد )لقب ډیر اهمیت لری - ځکه چه وسیو فرشه دا سې نظریه لری چه یعقوب لیث صفاری ( سپهبد ) یا نظامی سالار په کابل کښی بندی او وروسته بیا ئی مسلمان کړ (۱) او دغه کار دصفاریانو دسلسلی مؤسس او مشر او (سامنته دیوا )کابلی برهمن شاه سره معاصر گڼوی.

په هرصورت (سری سامنته دیوا )په هغه ترتیب سره چه ابوریحان بیرونی د( کلر) دجانشینانو دیا دولو په باب کښی مراعات کړی دی - د برهمن شاهانو د کورنۍ دوهم ( رای) دی.

سامنته دیوا- یعقوب لیث او دکابل فتح : د هغو مطالعاتو په راسطه چه تردغه ځای پورې و شول دغه مسئله داحتمال نه تیره شوی او یقین ته رسیدلی ده چه دبرهمنی سلسلی دوهم کابلشاه (سامنته دیوا) دصفاری کورنۍ دمؤسس یعقوب لیث سره معاصرؤ.

د یعقوب لیث له خوادکابل فتح او د(شیوانی یا بودائی په غالب گمان د شیوائی ) معبد خرابیدل له هغه مو بینو څخه دی چه باید دغه واقعه دابراهیم بن جبل له خوا دکاپیسی

(۱) دفوشی نظریه دښکننیو ځمکو دفتح ترعنوان لاندی دبلخ نه ترتاکز یلاپورې دهند پخوانی لیارې دکتاب ددوهم جلدد ۲٤ مخ نه وروسته دې وکتله شی.

ACKU

له فتحي او د (شابهار) د بودائي معبد خرابيدلو سره مقارنه شي او بايد و وايو څرنګه چه هغه مهالکه ضربه د کابل پيسي نه کابلشاهانو د پايتخت د لېږ ديدلو سبب شو، بل دوهم ضربت د کابل د پايتخت موقعيت متزلزل کړ او بل و ار بيائي بو بل ځای ته د کابل نه د پايتخت د نقليدو موضوع منځ ته راوړه، لکه چه د غه مطلب به وروسته و ګورو چه څرنګه (کلمو) د کابل د بز همنيانو د ريم پاچا په موقتي دول خپل پايتخت د کابل نه ګرديز ته و لېږداوه، او له هغه ځای د کابل د بر همني پاد شاهانو پای تخت (ويهند) ته نقل شو.

د افغانستان اسلامي مؤرخين لکه عبد الحی ضحاک ګرديزی او محمد عوفي په جوامع الحکايات کښي او مري مؤرخ په لنډ صورت او محمد عوفي په مفصل دول د يعقوب ليث صفاري سره د کابل د رتبيل شاه د جنګ نه ذکر کوي، که څه هم د جنګ د پېښيدو ميدان د دوی د ليکنو نه پوره نه معلوميږي خود و مره واضح کيږي چه په بست رخداو زابل کښي جنګ ندی شوی بلکه د غزني نه د کابل خواته په سيمو کې جنګ واقع شوی دی، او هر کله چه د صفاري کورنۍ د مؤسس له خوانه د کابل فتح يو مؤثق او باوري امر دی نو بې له شکه و يلای شو چه جنګ د کابل په نژدې شاوخوا کښي واقع شوی دی (د جنګ ميدان د پايتخت نه لري نه ؤ ځکه چه رتبيل شاه پر تخت روان باندی د محاربې د ګرته بيول شوی دی) (سر، اچ هايو) د هند په تاريخ کښي د رتبيل شاه او يعقوب ليث د جنګ د حکايت د انګليسي ترجمي په متن کښي، کابل شاه د (روسل) په نامه ذکر کړی دی مګر د جامع الحکايات په قلمي نسخه کښي چه د کابل په موزه کښي موجوده ده د کابل شيوائي پادشاه د رتبيل په مشهور لقب ياد شوی دی او د غه دنوم يالقب اختلاف د (رتبيل) د کلمې د فارسي رسم الخط د ليکني د صورت څخه پيداشوی دی چه د رتبيل کلمه په بل دول اړول شوی ده په هر حال د غه (روسل) يا (رتبيل) په غالب ګمان سره هغه (سامنت) يا (سامند) بر همني کابلشاه دی چه سربيره د شاهي مقام په د رلود او د (سپهبد) يا (سپه سالار) په لقب هم ياد شوی دی، د غه دی عين د غه تاريخي مهمه پيښه چه او مري ځل يو اسلامي پاد شاه د افغانستان د يو شيوائي بر همني پاد شاه سره د عقيدې د اختلاف په اثر مقابله کوی څرنګه چه په جوامع الحکايات کښي ليکل شوی ده نقل کوو:

وائی چه یعقوب لیث ته خاوند تعالی بواوی همت ور کړی ؤ چه خپل ځان ئی
د ذلت او خوارۍ نه لوړ مقام او دولت ته ورساوه او د پر خطر و نه ئی دفع کړل ترڅو چه
د ممالکو خاوند شو او ځرنګه چه (صالح نصر) د خپل ځوی نه و تښتیدا او د رتبیل سره
یو ځای شو هغه ئی پورته کړ چه لښکری باید راټولی کړی او د یعقوب مدافعې ته وو ځی
رتبیل وویل چه څنګه باید وکړی ؟ هغوی وویل چه باید جهاد ته اقدام وکړی که څه هم
د هغه لښکری لږی دی لیکن د حق تعالی پر فضل اعتماد په کار دی او په هر راز خدعه
او مکر چه کیږی خصم باید مقهور کړی شی د جنګ نه بایدسری په شا لاړ نه شی .
یعقوب لښکر او غوښت لږ ور تنو سپر و نه زیات نه و او د رتبیل مقابل ته روان شول.
څنګه چه بست ته ورسید ل په دوی با ندی مسخری کید ی چه په دومره لښکر سره
د رتبیل په مقابل کښی جنګ کول غوار ی نو یعقوب تدبیر او حیلی ته متوجه شو او د خپلو
معتمدانو نه ئی دوه تنه رتبیل ته واستول او خپلو قاصدانو ته ئی وویل چه رتبیل ته د د ه له خوا
د غه پیغام ورسوی چه زه غوار م چه ستا په خدمت کښی شامل شم او تا ته ځان وسپارم
او زه دومره پوهیږم چه ما ته ستا په مقابل کښی د مقاومت مجال نشته او که زه علانیه
و وایم چه زه د رتبیل د خدمت د پاره ځم د غه لښکر نور زما متابعت نکوی او کولای شی
چه ما او زما اتباع ټول ژوندی نوز . د غه جماعت ته وایم چه زه جنګ کوم تر
څو چه دوی له ما سره هوا فقت وکړی او هغه وخت چه زه ستا خدمت ته ورسیږم
دوی به بالضرور ربیا له ما سره هاته هوا فقت وکړی د یعقوب رسولان رتبیل ته
ورسید ل او رسا لت ئی ادا کړ رتبیل له د غه خبری سره هوا فقت وکړ ځکه چه
د یعقوب د لاسه په رنځ اخته ؤ او هر وخت ئی د رتبیل په یو ولایت با ندی حمله کو له
او کاله به ئی د ده د ولایت ته کړه برخه نیوله نو په دې وجه ئی د یعقوب رسولان
خوشحا له بیرته وا ستول او پیغا مونه ئی وا ستول چه دیری ښی وعدی او
امیدواری مې پکښی وی یعقوب چه خپل رسولان رتبیل ته واستول خپل لښکر ته ئی وویلی
چه د جاسوسی د پاره ئی لیږ ی او په دې کښی ئی غرض دا و چه د هغوی زړونه هات نشی
څنګه چه لښکری سره مقا بلې شوی رتبیل صالح نصر بیرته راو غوښت او ورته ئی

ACKU

ووېل چه د ښمن تا بع شوی محا ربه باید ونشی درتبیل قاعده وه چه په خپل آس پا ندی به کښېنا ست یو ناڅګی خلکو به ئی تخت پهاوږو باندی واخست او رتبیل به بیا پر تخت با ندی کښېناسته ځنګه چه صفونه جوړ شول اورتبیل پرتخت کښېنا ست نو لښکرته ئی امرو کړ چه دتخت پرد واړو خواو صفونه وو هی یعقوب د دریوزرو تورزنوا وخونخوارو مېړ ونوسره د دوا ړو صفونو په مینځ کښی ننوو ت او غشی ئی د آسونو ښا نه مخی خوانهوایستل اوترڅپنو لاندی ئی زرتی آغوستی وی او توری ئی وچلولی او مخکه ئی د د ښمنا نو په وینوسره کړه کله چه درتبیل سروکوټ نومخ پهتیښتهاومانی شول په هغه ورځ یو عظیم قتل وشو او د فتحی نا وی د نقا ب نه مخ څرګند کړ او یعقوب په پوره فتح بیرته روان شو بله ورځ ئی ښېږ زره سپاره ګنار سیستان ته وا ستول او شپېته (مقدم) ئی پهشپیتوخرو باندی سپا ره کړل او دوژل شوو خلکو غوږونه ئی د هغوی په غا ړوکی داړلونو په ځیروا چول او بست ته ئی ولیږل او دا سی خزانی او ما لونه ئی ومو ندل چه پخپله هغه هم د هغو له اد را ك نه عا جز پا تی شو او صا لح نصر له دی جګړی نه وتښتید ا ود زا بلستا ن د ملګ شا ؤ خوا ته ورغی او نوکران ور څخه بیل شول او د یعقوب سره یو ځا ی شو ل . ا و هر کله چه یعقوب د مصالحو له ورکولو نه خلاص شو د زا بلستا ن ملګ ته ئی یو سړ ی ولیږه او صا لح نصر ئی را وغوښت صالح ورته واستول شو او د یعقوب له خوا نه بندی شو چه په همد غه بند کی ئی کا ر تمام شو ، او هغه مکا فا ت چه د بست خلکو ورسره کړی و یعقوب د هغو ی سره هما غسی وکړل ، او هغه دا سی وو چه امرئی وکړ چه په هغو ی با ند ی .... کیښو دل شی لکه چه په یهو دیا نو با ندی ... ، ا و هغه فتح چه دیعقوب په نصیب شوه د ټګی او مکر نتیجه وه والسلام (۱) د دغه حکا یت نه دد ی مبهمی او تیاره دوری په باره کی ځینی مطالب لاس ته راځی چه بحث پکښی بیځایه ند ی .

(۱) داسی څرګند یږ ی چه کا بلی را یان په تیرو بیاپه دوی کښی ( سامنته دیوا ) یو مقتدر پا چا ؤ او د صفا ریا نو په نسبت ئی د یر جاه ؤ جلال طا قت او قوت درلو د ، لکه چه

---

(۱) دکابل موزی دجوا مع الحکایات دقلمی نسخی د ۱٦۰-۱٦۱ مخو نو نقل

ACKU

د بست د ښار خلکو په دې خبره خندل چه یعقوب په زرو تنو سپرو او د ربو زرو زرزنو میړونو سره جګړه کوي او د یعقوب د کامیابي علت هم حربي خدعه ښودل شوې ده:

(٢) د د غه حکایت له مخې داسې ثابتیږي چه د هلمند د ناوې او سیند و نګو د کابل دراجانو سره علاقه او رابطه درلوده او د رتبیل شاهانو او برهمن شاهانو نفوذ د سیستان د ښارونو تر غاړې پورې رسیدلی وو ځکه چه د بست د ښار خلکو څرنګه چه د یعقوب په مقابل کې د کابلشاه طرفداري کوله نو یعقوب ایښت صفاري د کابل د فتحې نه د بیرته ګرځنه وروسته د بست په خلکو باندې زیاته مالیه کیښوده:

(٣) کابلي راجان په اسونو او زیاتره په تخت روان باندې ګرځیدل چه عموماً به فراشانو ګرځول وه.

(٤) که څه هم په دغه حکایت کښې کوم اشاره نه ده شوې مګر د نورو منابعو نه معلومیږي چه یعقوب لیث ته د کابل له فتح نه وروسته یو څه بتان په لاس ورغلل او بغداد ته ئې واستول او هر کله چه د (راجانو) رسمي مذهب شیوائي وو نو دیر احتمال لري چه نوموړي مجسمې ئې د کابل د کوم شیوائي معبد نه لاس ته راوړې وي لکه چه عمرو لیث د سکاوند شیوائي بت خانه ورانه کړه. له بلې خوا په دې هم پوهیږو چه د کابل شیوائي (راجانو) په دغه ښار کې په یوه بت خانه کې د تاج پوشۍ مراسم اجرا کول او د کابل ښار په دغه لحاظ د دوی په نزد یو متبرک مقام ګڼل کید. ﻫ آیا د غه بت خانه چیرته وه د شیوه کیو د کلي د نوم له مخې چه د کابل د جنوب په ۹ کیلو متري کې پروت دی - په زیاتو احتمالاتو ویلی شو چه دغه بت خانه په همد غه ځای کښې وه:

له کابل نه پرېښود ته د پای تخت ایږد یدل: څرنګه چه مونږ د لویو کوشانیانو په

---

فصل کښې د (٢٣٣) مخ نه په وروسته پاڼو کې بیان وکړ د دیرو پای تختونو عادت درلودل په تیره بیا داوړي او ژمي په موسم پوداسې کار دی چه د آریانا په تاریخ او سلطنتي دربارو کښې دیره او زده سابقه لري دغه عادت داوږمي پیرۍ د تر نیمائي پورې دوام درلود او تر هغه وخته پورې چه کاپیسي لاسقوط نه وو کړی، د افغانستان د پخوانیو پادشاهانو

داوړی پایتخت ؤ او د هغه په مقابل کی دوهمی پایتخت کله په پارو شاپور ! ( پیښور ) او کله په ( اوده بها نده ) یا ( ویهند ) او یا په ( لوند ) کښی ؤ چه اتك ته په نږدی شاؤخوا کښی پروت ؤ لکه هغه وخت چه ( هیوان — تسنګ ) په ٦٣٢ م کی کاپیسا ته راغی د ( کشاتریه ) پاچاهی په کاپیسی کی وکتل : او هغه وخت چه په ( ٦٤٤ م ) کی یوځل بیا دهند څخه آریانا ته راغی د هغه غه پاچاهی د هغه دوهمی په پایتخت یعنی په ( اوند ) کی وکتل او د هغه سره یوځای کاپیسی ته راغی . د دغو مطالبو په باب کی مود ( کاپیسی - اوند ) تر عنوان لاندی د ( ۱۳ ) فصل د ( ٥١٢ ) مخ نه وروسته شرحه ورکړی ده . د کاپیسی نه کابل ته او د کابل نه ( ویهند ) ته د پای تخت نقلیدل یود اسی کار دی چه پیښی مخصوصا مذهبی - سیاسی او نظامی مجبوریتونه پکښی لاس لری او هغه څه چه په کاپیسی . او کابل پوری ئی ارتباط درلود د دغه فصل په ابتدا کښی و لیکل شول . که څه هم د کاپیسی نه کابل ته د پایتخت د انتقال صحیح تاریخ معلوم ندی خو سره له دی و یلی شو چه د غه انتقال د ( ۷۹۳ ) کال نه وروسته دا نمی پیړی په وروستیو وختو او یا د ( ۹ ) مسیحی پیړی په آوائلو کښی شوی دی ، او دغه وضعیت د ( سامنته دیوا ) د سلطنت تر آخره پوری او تر هغه وخته پوری چه کابل د یعقوب لیث صفاری له خوا فتح شو یعنی تر ( ۸۷۱ ) م کاله پوری دوام درلود . سره له دی څرنګه چه کاپیسی د مرکزیت د ختمیدو نه وروسته د خپل ښار یتوب څخه بیګانه شوه زیتونه د اسلامی پیړیو په اوایلو وختو کی دلاسه ونه ایستل او د دی مطلب شاهد هم په هغه ځای کی د مسکوکاتو او د کوفی کتیبو پیدا کیدل دی . کابل هم د یعقوب لیث صفاری د فتحی او ویهند ته د برهمن شاهی د پایتخت دانتقال نه وروسته آباد پاتی شو او لا پسی آبادیده .

آیا ( سامنته دیوا ) د صفاری کورنی د مؤسس د فتحی نه وروسته څه ونه کړ . ځینی وائی چه د صفاری پادشاه له خوا بندی او مسلمان شو او ځینی وائی چه وتښتید او ګردیز ته ئی پناه یووړه لکه چه په هم دغه لحاظ تر یوی اندازی پوری دغه امر هم تر بحث لاندی دی چه د کابل د فتحی نه وروسته و قتاً څو موده د برهمن شاها نو مرکز ګردیز ؤ او د عمرو لیث صفاری د زیات فشار او د سکاوند ( لوګر ) د معبد د فتحی په اثر پایتخت په آخره کی

ACKU

څه قدر لری یعنی داتک په غاړه ( ویهند) ته ورپل شوی دی، په هرصورت پدی کښې هیڅ شك نشته چه دکابلي ( رایانو ) یا دبرهمنی کاباشاهانو پایتخت په اولو وختو کښې او تقریباً دنیم قرن نه زیات وخت په کابل کښې ؤ او دغه هما غه کابل دی چه دهغه موقعیت، ودمخه دلوگردسیند په غاړه دشیوه کیو، کمربو او چکربو په مټ اؤخوا کښې تعین کړی ؤ .

ددی فصل په ابتداء کښې موله کاپیسی نه کابل ته دپایتخت دانتقال په مبحث کښې اشاره وکړه چه دبرهمنی وزیر (کلر) پاچا شاه کیدو او هم مذهبی عقاید و په دغه کار کښې سهم او دخالت درلود . یو دهغو مهمو مطالبو نه چه دکابلی برهمن شاهانو په وخت کښې دکابل مرکزیت تائیدوی په دغه ښار کښې ددی سلسلې دپادشاهانو دتاج پوشی مراسم دی چه دپایتخت په یوا وی برهمنی شیوائی معبد کښې اجراکیدل او په نتیجه کښې کابل د عقید و په لحاظ دهغوی په نزد یومقدس مقام پیدا کړی ؤ او دهغه ماخذ په استناد چه وروسته ئی ذکر کوو حتی په هغه وخت کښې چه کابل خپل مرکزیت دلاسه ورکړی ؤ او پای تخت ( ویهند ) ته نقل شوی ؤ ، بیا هم دبرهمن شا هانو دتاج پوشی مراسم په کابل کښې اجراکیدل . داکټر (ساشو) دالهندالبیرونی دانگلیسی ترجمې ددو هم جلد په(۳۹٤) مخ کښې دکابل په باب کښې دخپلو یاد داشتوپه ترڅ کښې لیکی چه :

دکابل دښار یخ جزئیات چه دلته ورته اشاره وشوه بی د بلا ذری دلیکنو نه دنورو منابعو نه په لاس نه راځی دبنی امیه او دخلفا وو په زمانه کښې کابل او سجستان په دیرزړورتوب سره دمسلمانانو په مقابل کښې وجنگیدل په څینو کاو نوکی دغه ځایونه تابع شوی او حتی چه باج ئی هم ورکاوه مگر کابل نورو وختونه د(پا له ) دکورنی دبرهمنی پاهندوانو دپاد شاها نو په لاس کښې ؤ په هغه وخت کښې چه دعباسی خلیفه مامون له خوا کابل فتح شو او دخپلې امپراطورۍ دقلمرو جزئی وگرځاوه نو یو مسلمان حکمران ئی کابل ته مقرر کړ. مگر دهغوا نو پاچا به هم د مسلمان حکمران په څنگ کښې حاضرؤ، دغه دول یوشریك حکومت په خوارزم کښې هم

معمول ؤ ، (د۹۵۷ - ۹۵۰ مسیحی) کالونو په شا و خوا کښې د کابل خلک مسلمانان شوي وو ، مگر په شا و خوا کې ئې هندوانو ژوند کاوه څرنگه چه د (ه‌وهن زلرن) دکورنۍ پاچاهانو په (پروس) د (کونیسبرگ) په ښارکې دپاچائي تاج په سرکېښود ، کابل هم داسې یو ښار ؤ چه برهمنی یا دهندوانو راجانو د تاج پوشۍ مراسم پکښې اجرا کېدل .

(رنجیت ستیرام پندت) د (راجاترا نگینی) مترجم دخپلې ترجمې په اوومه ضمیمه کښې دگندهارا (۱) ترعنوان لاندې دپاکتور (ساشو) لیکنه نقل کړې او دغه جمله وربانده زیاته کړې چه دهندوانو شاهي کورنۍ حتی په هغه وخت کښې چه په کابل کې ئې استوگنه هم نه درلوده او خپل مرکز ئې (او دابهاندي Udabhanda) یعنی (ویهند) ته ولېږداوه بیائې هم دکابل په ښار کښې تاج پوشي کوله .

دپورته بیاناتو نه واضحه څرگندېږي چه دکابلي راجانو اصلي او لومړنی پای تخت دکابل ښار ؤ .

او دغه ښار په شیوائي ، برهمني او دهندوانو په نورو کښې یو متبرک مقام درلود او برهمني او شیوائي کابلشاهانو دپایتخت دانتقال نه وروسته هم تر هغه وخته پورې چه امکان ئې درلود دکابل په معبدکښې اغلباً په یوه شیوائي بتکده کښې ئې دتاج پوشۍ مراسم اجراء کول . آیا یعقوب لیث دکابل دفتح کولو نه وروسته هغه بتان چه بغداد ته ئې ولېږلي وو دهمدغه معبد نه په لاس راوړي وو ؟ او که دنورو معبدو نه چه مخکښې مو دکابل په اطرافو کې دهغو دموجودیت په باره کې اشاره وکړه ؟ ظاهراً داسې حکم کېږي چه دغه بتان دهمدې معبد نه چه موقعیت ئې په زیاتر و احتمالاتو سره کابل ته نژدې په شیوه‌کیو کښې تعین کوو په لاس راوړل شوي دي او محتملاً دکابل دراجانو دتاج پوشۍ مراسم هم په همغې بتکده کښې اجراء کېدل. په هر صورت څرنگه چه رنجیت ستیرام پندت وائي دکابل (راجانو) پس له دینه چه پایتخت دکابل نه ویهند ته ولېږدول شو هم په خپل لومړني مرکز کښې تاج پوشي کوله

---

(۱) د(رنجیت ستیرام پندت) له خوا د(راجاترانگیني) دانگلیسي ترجمې (۶۱۹ مخ)

ACKU

مه کي چيري دغه مراسم تل په هغه بومعبد کښې چه ذکر شو اجرا کيدل نو په دغه صورت کښي زيات احتمال د ادی چه دکابل د فتحې نه وروسته د يعقوب ليث صفاري له خوا نه دغه بتکده بيخي ورانه شوې نه وه او مقام او اهميت ئي هماغسې پاتې و .

په هر حال برهمني کابلشاهانو د(٨٧٩م) کال نه وروسته ورو ورو دنيمي دائري په صورت خپل ځانونه جنوب ، جنوب شرق او لمر خاته خواته وايستل او يو څه موده ئي په گرديز کښې مقاومت وکړ او پس له هغه لمر خاته خو النعمان ته ولاړل او په آخره کښې ئي خپل مرکز دسند په غاړه ( او د ابها ند ه ( يعني او هند يا ويهند Ohind ) (ويهند Waihind) ته داندوس «سند » په غاړه پسې مروا حالو کښې دکابل پاي تخت پاچا شاهانو دژمي پايتخت ته منتقل کړ او س هم ددې ښار خرابې د اټک نه (٥٠) ميله پورته پرتې دی (١) طبعاً په دغه وخت کښې دافغانستان داسلامي کورنيو لکه دصفاريانو ، سامانيانو او غزنويانو د فتوحاتو په اثر دمملکت ځمکې په تدريج سره دغير اسلامي کورني له اداري نه ووتلې او دکابلي برهمن شاهانو او ددوی د اولادې د نفوذ دايره وارپه وار محدوديده له چه وروسته به و ربانډې لنډ بحث وکړو .

کملو يا کلمو : دالبيروني د ترتيب له مخې دکابل دريم برهمني پادشاه (کملو) نوميده

چه ( کلمو ) هم ورته وائي محمد عوفي چه د عمرو ليث صفاري معاصر ؤ په خپل جوامع الحکايات کښې دغه پادشاه د کلمو «په نامه او دهندوستان د «رای» په صفت يادکړی دی ؛ دزابلستان دکوتوال «فردغان» له خوا د «سکاوند» دفتح کيدو په باب کښې ئي يوه په زړه پوري قصه ليکلې ده چه متن ئي دلته نقل کوو : داسي وائي چه عمرو ليث د زابلستان کوتوالي (فردغان )ته ورکړه او د څلورو زرو سپرو سره ئي هغې خواته ولیږه او په هغه وخت کښې دهند واتوالي معبد سکاوند ؤ ؛ دهندوستان په آخرني برخه کښې دبتانو په زيارت سره ئي هغه ځای متبرک گاڼه او فردغان چه زابلستان ته ورسيد خپل لښکر ئي

(١) د راجا ترانگيني د کتاب په ترجمه کښې د رنجيت ستيرام پنډت د پاد داشتو په (١٧١) مخ کښې

ACKU

وایت او سکاوند ئې فتح کړه بتان ئې ژول مات کړل او بت پرستان ئې مضمحل کړل او ما تې ئې ورکړه ځینې غنایم ئې خپلو لښکرو ته ورکړل او نور ئې عمرو لیث ته ور لیږل او یو ه فتح نا مه ئې ولیکله او دغه ئې مرسته وغوښتله او دسکاوند دفتح کیسې او خبر کلمو ته چه دهندوستان (رای) ؤ ورسید او ډیر بیحده لښکر ئې راټول کړ او مخ په زابلستان روان شو فردعان چه دهندو لښکرو درارسیدلو آوازه واوریده له خوا ئې هند وان ئې پیدا کړل چه هند وستان ته ولاړل او دکلمو لښکرگاه ته ئې ځانو نه ورسول او وئې ویل چه (فردعان) هرکله چه سکاوند فتح کړ نو سم دلاسه ئې دولایت اطرافو ته سړی واستول او لښکری ئې وغوښتل او په دې پوه شو چه هندوان به خامخا ورته پیغام واستوی او اوس دمسلمانانو دومره لښکر هلته راټول شوی دی چه مځکه وربانندې تنگی کوی ، مر بیره پر دی دعمرو لیث لښکر هم دکمک دپاره ورته راروان دی او هغوی عزم کړی دی چه تاسی ټول په قتل ورسوی (رای کلمو) چه داخبره واوریده ځای په ځای پاتې شو او په لښکر کښې ئې ځنډ پیښ کړ په دې وخت کښې فردعان ته دخراسان نه کمک ورسید چه نور هندوانو ته دغه قدرت نشته چه دهغوی په مقابل کښې مقاومت وکړی او په دې لطیف ژوند ونی خپل مرادته ورسیږی (۱).

دغه قصه ډیر اهمیت لری او په څو نکتو باندې رڼا اچوی:

اول: دتاوانه ښه واضح څرگندیږی چه کامو یا کملو دکابل در ایانو در یم پادشاه دعمرو لیث صفاری معاصر ؤ (۲۸۷ - ۲۶۵ هجری کال چه د ۹۰۰ - ۸۷۹ م کال سره مطابق دی.

دوهم: دکابلشاه پایتخت په دغه وخت کښې نه په کابل او نه په گردیز کښې ؤ بلکه ویهند ته انتقال ورکړ شوی ؤ ، او هرکله چه د برهمن شاهانو د سلطنت دا ثر په دغه وخت کښې د سند نه هغې خوا ختیزو ځمکو ته تر بوحده پوری خپره وه محمد عوفی په خپل جوامع الحکایات کښې هغه ( دهندوستان رای) په لقب یاد کړی دی:

---

(۱) دجوامع الحکایات قلمی نسخه د کابل په موزه کښې.

دریم : زابلستان دغزنی او کابل علاقه چه د یعقوب لیث په وخت کښی فتح شوی وه دافغانی صفاری سلطنت جزء وه او دهمدی له امله عمر و لیث مردغان د دغو ځایو په کوتوالی او حکمرانۍ واستاوه :

څلورم : سکا و ندیعنی لوګراو دافغانستان نوری پاتی شرقی او جنوبی برخی لا تر دغو وختو پوری د برهمن شاهانو د دولت د قلمرو جز شمیرل کیدلی لکه چه دسکاوند فتح دمدعا شاهد دی.

پنځم : په دغه وخت کښی د برهمن شاهانو دولت نومره قوی ؤ چه د صفاریانو دولت دهغه دمخاو بو لواو ماتی خوړلو د پاره له حربی چاو نه کار اخست :

شپږم : دهندوانو د یره لویه بتکده چه د هندوستان دهندوانو د دینی آمالو مرجع هم ګڼل کیدله دلوګر په سکاوندکښی موجوده وه او ځرګند یږی چه ولی تر اوسه پوری هم لوګراو دلوګر سیند دکابل دهندوانو په نظر کښی د پراهمیت لری :

بهیمه یابهیمه پاله ، ددی سلسلی څلورم پادشاه چه البیرونی ئی نوم یاد وی (بهیمه) دی. چه هغه ته (بهیمه پاله) هم ویل کیږی او په مسکوکاتو کښی د ( بهیمه دیوی ) په نامه ایکل شویدی. لکه چه «اچ · سی ، رای» وائی ددغه پاچا دسپینو زرو مسکوکات عموماً دکابلستان نه لاس ته راغلی دی: «۱»

دغه پاچا د «ویشنو» د پاره دکشمیر «مانانندي» ته نژدی یو مجلل معبد جوړ کړی ؤ په دغه ځای کښی دویشنو د مرمری هیکل یو سر چه دګردیزنه لاس ته راغلی او اوس دکابل په موزه کی محفوظ پروت دی ، هم دیادولوو ړدی. ددغه پاچا دسلطنت عصر د«۹۰۸ او ۹۵۰م» سنی سره مصادف او برابر دی .

جیپال : د«بهیمه» نه وروسته دیوبل پاچا نوم هم اخستل کیږی چه « ایشتپیا ل» نومید مګر ددغه پاچا شخصیت عموماً مجهول دی ؛ دالبیرونی په شهادت د«بهیمه» نه وروسته «جیپال را ی» پاچا کیږی ، او دی هغه پاچادی چه دغزنویانو جنګونو ته دهغه دمتقد مینو نه زیات شهرت ورکړیدی . تر دغه ځای پوری موولیدل چه کابل

---

«۱» دهند دشمال غرب تاریخی سلاو ددغه پروفیسر تألیف ته دی مراجعه وشی.

د یعقوب بن لیث په عصر کښې او اوګرد هغه دوروڼو «عمرو لیث» او «کلمږ» د سلطنت په زمانه کې فتح شول ، او زابل او کابل د څو مودې دپاره د صفاریانو د دولت له خوا اداره کیدل ـ د هندو کش په جنوب کښې د سامانیانو د نفوذ د خپریدلو په اثر د کابل دره یو څو موده د سامانی دولت جزهم ګرځیدلې وه مګر د غه نفوذ دومره دوام ونه کړ او نه دومره محسوس شو . د «۲۲۲» هجری «۹۳۳» عیسوی کال په شاوخوا کښې یعنې په هغه زمان کښې چه د سامانیانو د دولت قوت مخ په سقوط او ضعیف روان ؤ د قاضی منهاج السراج جوزجانی د بیناله مخې یو والی چه «ابو بکر لاویک» نومیده په زابلستان او غزنی کښې حکومت کاوه :

وروسته تر هغه په «۹۳۳م» کال کې الپتګین د غزنی ښار د ابو بکر لاویک نه ونیو . او په نتیجه کښې د برهمن شاهانو سره یوه سلسله جګړونه شروع شول چه غزنوی به پې قدم په قدم د ګردیز او لغمان د لاری نه ختیزی خواته شاته وهل . په پایانو کښې جیپال یا جیپاله هغه څوک دی چه د ال ناصر د کورنۍ د موسسینو د جګړونو سره مخامخ شوی او مقابلې ئې ورسره کړی دی . فرشته ددې او ددې د سلطنت د قلمرو په باب کښې ځینې معلومات ورکوی چه وروسته به ورځنې بحث وکړو .

له ویهند څخه بهندی ته د پایتخت لیږدول : له دکاپیسی نه کابل او له کابل نه ویهند ته او وروسته بیا له ویهند نه بهتندی ته د برهمنی کابل شاهانو او د شیواڼی هندوانو د پایتخت لیږدیدل په ګردیز او لغمان کی د لاری په سر بیله وقتی قرارګاوی نه یو په زړه پوری کار دی د چه د اسلام د مقدس دین د خپریدلو پر اختیا او د افغانستان د اسلامی کورنیو یعنی د لویدیځی خوا نه د صفاری کورنۍ او د شمال نه د سامانیانو او په پای کی د مرزنه د غزنویانو د فتوحاتو سیر په هغه یعنی «انتقال» کې په تیره بیا وروسته تر دې چه کابل پایتخت کیږی اوی لاس او پوره د خالت لری . تر هغه وخته پوری چه کابل شاهان د عربو د قواؤ سره مخامخ وو په جنګ او مقابله په فتح او ماتې ، په دفاع او تعرض په صلح او موافقه او د جزیې په ورکولو او د انتقام په اخستلو سره ئې له دوو پیړیو نه زیاته موده څپله هستی او موجودیت وساته . مګر پس له دی نه چه په نیمائی د مملکت او سیدونکی ځلیک مسلمانان شول او د اسلامی خراسانی سلطنتونو په قلمرو کښې د مملکت دیلو بیـ او

ACKU

برخو ذشا ملو لودپاره ئی کوښښونه وکړل ، نوکابلی رایانومقاومت و نشو کړی او لکه چه وموليدل کابل دوروستی ځل دپاره په «۸۷۱م» کښی دصفاري يعقوب ليث له خوا فتح شو . اوشاؤخوا اطرافئی لکه ،لوګر، دده د ورور «عمرو ليث» پهزمانه کی فتح شول او دشمال لهخوا نهدسامانيانو نفوذ دهندوکش لهسلسلې نه را تیرشو[۱] او دکابل شاؤخوا ځايونه راورسيد او پهدغه ترتيبدکابلشاهانو نفوذ په ختيزو برخو او پهځينو جنوبی سيمو کی محدود شو . ترهغهوخته پوری چهو پهند دکابلشاهانو ددولت مرکزو ، نسبتاً پهښه شان سره ئی دخپل قلمرو دهغو برخوادارهاوکنټرول کولی شو چه دلمغان اوسند لويديزی خواته پرتی وی . او هرکله چه دصفاريانو اوسامانيانو مرکز دآريانا په آخرنۍ لويديزهاو شمالی برخه کښی واقع و ، نوکابلشاهانو پهوروستيو ختيز ، برخه کی په خپلو ادارې چارو باندی پام اومراقبت کولی شو . مګرپه غزنی کی دآل ناصر دکورنۍ پيدا کيدلو او د مملکت هغو برخوته دخراسان د اسلامی سلطنت دمرکزپه نزدی کيدلو چه لاتردغه وخته پوری دبرهمني شيوائی او بودائی دين پيروان وو . د «رايان» د دولت په اوکانو کی يو بل او وروستی تزلزل پيدا شو : جيپال دددی د پاره چه د الپتګين او سبکتګين د حملو څخه آرام پساتی شی د خپل د ولت مرکزئی دآتک او سند په غاړه له ويهند نه د ( بهټنډي) محکمی کلاته د ستلج د سيند ختيزی خواته ولیږداوه ، د فرشتی د بياناتوله مخی د جيپال ددولت قلمرو او د حکومت ساحه ئی په اوږد والی له سرهند نهترلغمانه پوری او په سورا وعرض د کشمير د سلطنت نه ترملتانه پوری پراخه وه په دغه ترتيب سره څرنګه چه د کابلی رايانو مرکزلمرختيزی خواته لیږدول کیږی د دوی د نفوذ د ثقل مرکزاو د قلمروحدود ئی زيا تره د پنجاب اوسند په ځمکو مشتمل وو .

رايانا وغزنويان : د کابلی رايانو د کورنۍ او سلسلی تعقيب ترهغه وخته

---

پوری چه د پښتوانی افغانستان د تاريخ جز شميرل کيږی داسی ايجابوی چه په دغه فصل او په دغه ځای کی د جيپال د سلطنت په عصرپوری ځينو هغو مربوطو

جنگونو ته اشاره وکړو چه د نوموړي (رای) او د آل ناصر د کورنۍ د مؤسسينو په مينځ کښې شوي دي : په دې کښې شک نشته چه دغه موضوع د افغانستان د تاريخ د دورې په دريم جلد کې د غزنويانو په مخصوص فصل کې په مفصل صورت سره بيان شوې ده :

پخواله دې نه په زابل او کابل کښې د صفاريانو فتوحاتو ته او بيا د هند و کښ په جنوب کې د سامانيانو د نفوذ خپرېدلو ته مو اشاره وکړه او ومو ويل چه دغه نفوذ د کابل په شاؤخوا کې دومره قوي نه ؤ — الپتگين په هغه جنګ کې چه د ۳۵۱ هجري کال د لومړي خور (ربيع الاول) په نيمائي د (۹۶۲ م د اپريل په مياشت) کې پېښ شو د سامانی منصور د سلطنت په زمانه کې د کابل او زابل والي «ابوبکرلاويک» ته ماتې ورکړه . که څه هم په دغه وخت د آل ناصر سلطنت په غزني کې جوړ شوی نه ؤ مګر سره له دې سبکتګين د الپتګين د ژنرال په حيث د جيپال د «راى» سره په جګړه لاس پورې کړ ؛ ويلی شو چه د جيپال سره د غزنويانو جنګونه څخه چه سبکتګين د «۳۶۶ هجري کال د برات «شعبان» په ۲۷ د جمعې په ورځ چه د «۹۷۷ م کال د اپريل ۲۱ تاريخ دی » د غزني په تخت باندې کښېنا ست سختې او جدي مرحلې ته ورسېدل. په پنجاب کښې برهمن شاهي يا د جيپال د دولت قوي شوی ؤ او لغمان لا تر دغه وخته پورې د برهمن شاهي د دولت جز شمېرل کېده د جيپال «راى» چه پخپل مخ کښې ئې خطر ليده نو د را تلونکو مدهشو پيښو د مخې نيولو د پاره ئې عزم او اقدام وکړ او د غزني د فتحې په فکر کښې شو ، او د يو لښکر و سره روان شو : «عتبى» د «يمينى» په تاريخ کښې د دې موضوع په باب کښې مفصله شرحه ورکوي . او دغه جنګونه په تفصيل سره ذکر کوي «۱» او داسې ښکاره کېږي چه جيپال د خپلو لښکرو سره غزني ته د روانېدلو په حال کښې ؤ او سبکتګين د غزني نه د لغمان خواته را خوځېدلی ؤ. دواړه لښکرې په هغه ځای کې سره مخامخ شوې چه «عتبى» ورته «غوزک» ويلی دی : «اليوت» وائي چه ا لبيروني بو غر

---

«۱» د هند د تاريخ دوهم جلد د اليوت تاليف

د «غوزک» یا (غورک) په نامه بللې دی چه د کابل سیندئی په بیخ کې تېرېږي (۱) غالب گمان دادی چه دغه «غوزک» یا «غورک» به هغه ځای وي چه اوس د «تنګګ غارو» په نامه یادیږي او د لغمان او جلال آباد لارې ورباندې سېږي دي، د هند و انو او برهمنیانو په جنګ کې ئې ماتې وکړه او جیپال د صلحې پیشنهاد وکړ، سبکتګین د صلح مناو ته حاضر ؤ مګر محمود د مخالفت کاوه او غوښتل ئې چه جیپال تعقیب شي، په آخره کې د صلحې په مناو کې سره موافقه راغله جیپال وعده وکړه، چه یو ملیون روپۍ او پنځوس پیلان ورکړي او سرحدي ځایونه خوشې کړي، خو هر کله چه خپله وعده ئې ترسره نه کړه نو دوهم ځل بیا جنګ شروع شو، سبکتګین لغمان ته داخل شو او ډېر کلي او کلاګانې ئې ونیولې، او د هغه ځای بت خانه ئې ورانه کړه، جیپال د هند د نورو راجاګانو نه مرسته وغوښتله او د یو لک تنو سپرو او پلیو سره د غزني د نیولو په قصد راروان شو مګر بیا ئې د سبکتګین په مقابل کې ماتې وکړه او د لغمان او پېښور په منځ کې علاقې د غزني په دولت پورې وتړلی شوې.

پس له دې نه چه محمود د غزني په تخت باندې کښېناست او په ۳۸۹ هجري کال «۹۹۹م» کښې د بغداد د خلافت له خوا د خپلواک پاچا په حیث وپېژندل شو، نو د هند د نیولو او د برهمني راجا نو سره د جنګ د کولو په فکر کښې شو پاچا د ۳۹۱ هجري کال د کوچني اختر «شوال» په میاشت د «۱۰۰۱م کال په سپتمبر کښې» د پنځلس زرو سپرو عسکرو او د یو زیات شمېر داوطلبانو سره د جیپال د راې سره د جنګ په قصد روان شو او پېښور ته نزدې ورسید، جیپال د دولس زرو سپرو او دېرشو زرو پلیو عسکرو او د دریو سوو پیلانو سره مقابلې ته راووت او صفونه ئې جوړ کړل په هغه جنګ کې چه د «۳۹۲» هجري کال د امامانو «محرم» د میاشتې په اتم د «۱۰۰۱م د نوامبر په شلمه» شروع شو هندوانو ډېره سخته ماتې وکړه او ډېر زیات غنیمتونه د غزني د لښکر و لاس ته ورغلل

«۱» د هند تاریخ د دوهم جلد د الیوټ د تالیف شلم مخ

جیپال د خپلو پنځوسو تنو زامنو او نمسو سره بندی شو ، بیا صالح وشو ، او جیپا ل وعده وکړه چه ۲۵ زره دینا ره او پنځوس پیلان پا چا ته و رکړی او یو زوی او یو نمسی یی دیرغمل په ډول دځان سره وساتی او پخپله جیپا ل ئی خو شی کړ چه خپل ځای ته بیرته لاړ شی .

د دی فتحی په اثر د برهمن شاها نو مرکز «ویهند» د محمود ز ابلی په لاس فتح شو او پس له دینه چه د بر همنی کاباشاهانو آ خرنی مقاومت هم ضعیف او مات شو په هندکی د خراسان د اسلامی تهذ یب ثقافت ددین د نشریدو او د فتوحاتو لاره خلاصه او پرانستل شوه ، جیپال ددیرغم او غصی نه نور نه غو ښتل چه ژوندی پاتی شی نو په ۳۹۳ هجری « ۳ – ۱۰۰۲ م » کال کښی ئی خپل ځان په او رکښی واچاوه «۱» ددی کورنیء نور پادشاهان : لکه چه موو کتل د جیپال د سلطنت تر آ خری دوری

---

پوری برهمنی کا بلشا هانو او یا کا بلی راپانو د ا فغا نستا ن په شر قی برخه کښی حا کمیت ، نفوذ او بتکدی درلو د لی او تر دی ز ما نی پو ری د هغوی د سلطنت مرکز یعنی د « ویهند » ښار د آ ریا نا په قلمرو کښی د ا خل ؤ . جیپا ل له یوی خوانه د خپل سلطنت مرکز د ستاج په غاړه د « بهتنډ ې »کلا تـه و لیږ د اوه او له بلی خوا د د اسی ما تی سره مخا مخ شو چه په نتیجه کښی د ا فغا نستان شرقی برخی دهغه دحاکمیت او قلمرو نه ووتلې او دغزنویانو د سلطنت جز وگرځید لی . په دی پیښی سره وضعیت دتاریخ اوجغرافیی له نقطی نظره څخه یوغا حش تغیر وکړ یعنی دافغانستان له خاوز ې نه د(راپانو) دسیاسی قلمر و نفوذ او مرکز تو ل شو او د هغه ځای غزنوی دولت ونیو چه شرح ئی دخراسان یا افغانستان دتاریخ په دریم جلدکښی یو مجال ، ستر او ځلاندفصل لری په دی تر تیب سره هرکله چه د برهمن شاهانو نوره ا ولاده زموږ د مملکت له تاریخی چوکا ټ نه وځی او دهند د تاریخ جزءگرځی په نو رو (راپانو) پوری مر بوطی پیښی خلاصه کوو .

---

«۱» د سلطا ن محمود حیات او وا قعا ت د داکتر ناظم تالیف ، د هند تاریخ د الپوت تالیف د یمینی د تاریخ په برخه کی دې وکتل شی .

دجیپال درای نه وروسته ځوی ئې (انندہ پال) د(۱۰۰۱-۲) مسیحي کال په شاوخوا کښې دهغه پر ځای کښیناست در ایانو ددولت حدود په دې وخت کښې د جنوب خواته تر (ملتانه) پورې رسیدلي وو او دجیلم په غربي سواحلوکې د (بیره Bhera منطقه چه را جانشینه وه ددې دولت جزء وه ؛ ددغه ځای راجا (بجی رای Bijairay) دجیپال دسلطنت او عمر دفاجعه ناك ختمیدو نه استفاده وکړه او د باج له ورکولو نه ئې انکار وکړ محمود غزنوي چه دبرهمن شاهي ددولت ارکان دجیپال په دوهم جنګ کښې متزلزل کړي وو دهغه نه د باج او خراج د ترسیدلو له امله دپیښور نه د(بهیره) دفتح کولو په قصد وخوځید او دغه محکمه کلائې فتح کړه پس له دینه ملتان دغزني دفاتح توجه ځانته جلب کړه او د آنندہ پاله) نه ئې وغوښتل چه دخپلو عسکرو مره دهغه دخاورې له حدودو نه تیر شي او د ملتان خواته ولاړ شي د رای دمخالفت په نتیجه کښې ، دهغه او دمحمود په مینځ کښې جنګ پیښ شو ، (رای) مغلوب شو او کشمیر ته ئې پناه ویوړه ( آنندہ پال ) څو کاله نور هم د سلطان محمود د سلطنت په عصر کښې ژوندی ؤ او د(۱۰۱۳) مسیحی کال په شاوخوا کښې مړشو. په هغه وخت کښې چه آ نندہ پاله په بحران او مشکلاتو اخته شوی ؤ یو بل (رای) چه (سوخه پاله) نومیده هم ذکر کوي خو هغه څوك چه پس له (آ نندہ پاله) نه په شاهي تخت کښیناست دهغه ځوی (تری لوکنه پاله) ؤ چه البیروني ئې هم یادوي دغه پادشاه هم دسلطان محمود زابلي غزنوي سره یوه سلسله جنګونه کړيدي چه شرح ئې دعتبي او کلهنه دلیکنو دیمیني او د(راجاتر انګیني) له تاریخ نه لاسته راځي دهغوی دمشهورو جنګونو نه یو هغه جنګ دی چه د(توهي Tohi) دسیند یعني داوسنیو پنځو سیندو په غاړه پیښ شو د(تری لوکنه پاله) په ماتي خوړلو سره دبرهمن شاهانو قدرت متزلزل شو ، ددوی آخرني (رای) دابوریحان بیروني په شهادت (بهیمه پاله) نومید چه په (۱۰۲۶) مسیحي کال کښې وژل شو ، دکشمیر مؤرخ او شاعر (کلهنه) ددوی دځینو شهزادګانو لکه (رودرا پاله) او (ویدا پاله) او دنورو نومو نه ذکر کوي مګر دوی ټول بې تخت او تاج شهزادګان دي چه دناچارۍ نه ئې کشمیر ته پناه وړې ده او دهغو په سیورې کښې ئې څه موده ژوندون کړیدی ؛

دین او معتقدات : په دغه تفصیل چه په تیر فصل کښی د مذهبی ژوند ون او رهبانانو ترغېږ لاندې و رکړ شو د چینی زایر «هیوان - تسنګ» د کتنو او شهادت له مخې څرګندېږي چه په «۷» مسیحی پیړۍ کښی د هغه د تګ او راتګ په وخت کښی که په شمال کی وو او که د هندو کش په جنوب کښی په بودائی معبد و او په دوو بودائی طریقو باندې سر بوره - بت خانی او د نورو مذاهبو پیروان هم موجود وو، او د هندوکش په جنوبی بیلو بیلو مناطقو کښی د هغوی شته والی او موجودیت ښه محسوس سیږه لکه چه په کاپیسا کښی د «ارونا» پر غره باندې دیوی «سونا» نومی رب النوع او د داسی خلکو په باره کښی بحث کوی چه بدنو ته ئې نیم لوڅ وو . او په ځانونو باندې به ئې ایری مږلې او د سر د کوپړیو له هډوکو نه ئې زنا رونه ارول او د ګنډ هارا په مینځ کښی د کر ء مار Karamar په غونډۍ باندې «ممکن دی چه د کنړ د غو نډیو نه یو ه غونډۍ وی» د «بهیماد وی Bhimadevi» د « ایشوارا Içvara » د بتخی له معبد نه او د غو نډۍ نه لاندې د « مهیشوارا Maheçvara » د معبد نه بحث کوی او بیا د هند نه د بیرته راتګ په وخت کښی د کاپیسا نه د «تسوکوته» علاقې یعنی زابلستان ته د (سونا) د پرستش انتقال یادوی . شک نشته چه د «۷» مسیحی پیړۍ په اوائلو کښی سره له دې چه یفتلیانو د بودائی مذهب سره مخالفت کاوه د دغه دیانت بیا هم د اسلام د مقدس دین تر انتشاره پورې د افغانستان په جنوبی او شرقی برخو کښی دوام درلود او د تناسب له حیثه د شرقی آریانا زیات شمیر خلک بودائی وو .

هیوان تسنګ د هغو امراؤ او پادشاهانو سره چه کتلی ئې دی تول بودائیان وو تردی چه د سلطنت چارې د هندو انو یا د کابلی برهمنیانو لاس ته ورسیدلې په دغه لحاظ د دی فصل په تقاضا ، غواړو چه حتی الامکان د ځینو نورو مذاهبو مخصوصاً د شیوائی او برهمنیانو د لمر پرستیو د مظاهرو او د هغوی د ځینو بتخانو په باره کښی وغږیږو او هر کله چه د غو عقایدو په آریانا کښی پخوا نۍ سابقه او ریښې درلودې نو د هغو د قدامت مراتب په مختصر صورت سره بیا نوو :

مهیشوارا او مهیشوی : د قبل التاریخ د هغو تحقیقاتو له مخې چه د آریانا په جنوب شرق کښی د سند په حوزه ، د افغانستان په شمال ، د اکسوس په میمه

او د آسیا په غربي برخو کښې شوېدې داسې ځرګندېږي چه په اوله غربي او مرکزي آسیا کښې د دیوي جوړې مذکر او مؤنث رب النوع موجودیت چه جنسي ارتباط ئې هم درلود او «سکتیزم» ورته وائي مشهور ؤ او په هر ځای کښې دغه جوړه په رازراز نومونو سره یادېده (۱) دغه رب النوع په آریانا او هند کښې د سانسکریت په ژبه کښې «مهشوارا» یادېده چه موسیو فوشه ورته «د غره لوی بادار» وائي او ربة النوع ته به «مهشوری» ویل کېدل چه د «لویې مور» نیا» یا «د طبیعت مور» او یا د «الاهه مور» په تعبیراتو ئې ورځنۍ ترجمه کړېده او هیکلونه ئې له پخوا څخه په اندوس په ناوه کې و او که داکسوس په ناوه کې کشف شوېدې.

د لرغون پېژندنې او جغرافیائي په شهادت سربېره ـ ریګوید او مخصوصاً اوستا داو بو او د حاصلخیزي او فراوانۍ د ربة النوع په باب کې چه حتی د اکسوس (د آمو سیند) د ربة النوع تعبیر هم ورځنۍ شوی دی د «سورا آنا هیتا اردو» په نامه متصل صحبتونه کړېدي او دهغې د شکل، قیافې، لباس او ګاڼو په باب کسې ئې بحث کړېدی لکه چه د کوشانیانو تر عصر او زماني پورې په باختر کښې د آمو د سیند د مجرا په غاړه کښې د «آناهیتا» معبد موجود ؤ.

په دې ځای کښې زمونږ مهم مقصد د غرونو ژنی ربة النوع «مهشوارا» ده چه موسیو فوشه د هغې په باره کښې داسې لیکي:

مهشوارا په اصل کښې د مځکې د حاصلخیزي د رب النوع د پخوانیو جوړو څخه یو محلي شکل دی چه مؤنث جفت ئې د آسیا او هند په جلګه ئې برخو کښې او مذکر ئې د بام دنیا او د افغانستان د غرونو په لوړو څوکو کې د پر عمومیت او شهرت درلود. په ابتداء کښې دغه د بو ښکاري سړي په شکل ښودل کېده چه د غرونو د ځنګلونو څخه راوتلی او یو خطرناك کمان ئې پراوږو باندې درلود.

«۱» په مصر کښې د «ایزیس» و «دوزوس» په فنیقیه کښې د «اشتاروت» و «تاموس» په کوچنۍ آسیا کې د «کیبل و اتیس» او په یونان کښې د «راه و روس» په نامه یادېده.

د غه رب النوع به کله د همالیې د ېی هغې نجاب ییږه او کله به د غرنیو ر هپانماو مشر هال کیده او د رقص په حالت کښې به تې مسته او سرشار ، تصویر وله هغه مد ققین چه د موهنجو دیرو د مدنیت د آثارو او د سند د ناری په قبل التاریخ کښې اختصاص لری لکه سرجان مارشل په دی فکر کښی دی چه د غه «نارینه جفت» د شیوا ئی آئین او لنی په او پخوانی یه نمونه ده او ددی مذکوری په اثر ورته «پر توشیوا» یعنی «اولنۍ شیوا» هم وائی ، موسیو فوشه لکه چه مونږ د مخه وویل داسی نظر یه لری چه «مهشوارا» د غرونو لوی بادار د رجلیت او مردانګۍ د قوت ښکاره کوونکی او قوی رب النوع یعنی په اصل کښې د افغانستان د جګو غرونو دیره قدیمی محلی رب النوع ده چه دیو قوی ښکاری په شکل د غرونو په څوکو کښې به ګرځیده او مدام به د هغی ځای د غرونو په څوکو کښې تصور کیده او د هغه ښځه چه ده «مهشوی» به اکثراً په آوارو میدانو کښې او د هند پر مځکه او سیده او اختصاص ئی و رپوری درلود له همدی جهته دی چه د «مهشوارا» معبدونه د غرونو په څوکو کښې او د «مهشوی» بتخانی د غرونو په لمنو ، ناوو او جلګو کښې جوړ پدلی :

فوشه په داسی حال کی چه د شمالی غرونو نه هندته د برهمنی ارباب انواعو څخه دیوی رب النوعی د ننوتنه کیدو په باب کی دیوبل مولف (وا یتنی whitney) نظریه وړاندی کوی داسی عقیده ښکاره کوی چه د امکان نه لری نه ده چه آریائی خلکو د افغانستان غرونوته د راتګ په وخت کی د غه رب النوع پیژند له او غوره کړی او هندته پخپل هیا جرت سره د هند خلکوته معرفی کړی وی . فوشه ددی نظریی په تائید مثالونه راوړی چه په تاریخی دورو کښې په لومړی د مسیحی پیړی د کښی کوشانیانو او په (۵) مسیحی قرن کښې یفتلیانو پخوا له دینه چه هند ته ورسیږی د افغانستان په خاوره او زیاتره د هند و کش په جنوب کښې د شیوائی مذهب پیروان شول په بل عبارت کوشانی «ویما کدفیزس» او یفتلی «می هیرا کولا» د افغانستان په خاوره کښې د غه دیانت قبول کړ ، ویما کدفیزس پخپلو مسکو کاتو کښې ځای د مهشوارا پیرو ښودلی دی او د «مهی هیرا کولا» و په باره کښې د راجاتر انګینی » په شهادت د ګندهارا خلکو د غه سړی د شیوائی مذهب پیرو او ،

دیوړدالي مذهب نه مخالف گڼل کېږي. د فرانسي دغه عالم په دغه باره کښې خپلو مطالعاتو ته دوام ورکوی او وائی چه ددی رب النوع لومړنی حقیقي تصویر و ته په تا گلی تاریخ سره د جنوبي افغانستان په خاوره کښې منځ ته راغلی او پیداشوی دی نه په هند کښې او شیوا سره دخپلو ممیزه علامو چه دری ښاخونه « Tri-cule » دی په داسی حال کښې چه پخپل غوائی باندی ئی تکیه کړی ده د کوشانی پادشاه « واسو دیوا » په مسکو کانو باندی نقش شوی دی او دغه تصویر دآخرنیو کوشانیانو تر دوری او دساسانی نفوذ تر خپریدو پوری په کوشانو ساساني مسکو کانو باندی پاتی دی د کنیشکا او هوویشکا په مسکو کانو باندی دو هانا Vahana « نومی رب النوع لیدله کیږی چه برعکس دری صورته او څلور بازوگان لری او نوری نښی لکه تیر او کمند، رسۍ « ددښمن او نورو حیوانانو دنیولو دپاره » ، « تالنده » Vajta « څرخ » Cakra « او « گرز Goda ) دهغی دجنگی قدرت علایم دی . او هغه لوښی چه پخپل ښی لاس کښې ئی نیسی دهغی دښه کار و نو نښه ده . سربیره پر دی « دمار یو Damaru » یعنی کوچنی ډول هم لری چه د شیاطینو « کانان Can » دپریانو « یوجی نی Yogini » او دجادو گرانو « ډا کینی Dakini » دلیکرو د گرمولو دپاره ورنه کار اخستل کیده .

په پای کښې دهغې د ښکنځلو لاسونو نه دیو لاس لاندی یو « غرنی » وز هم لیدله کیږی چه تاو راتاو شوی ښکر و نه ئی دښکار دپاره ښه تحفه ده او په هغو سره به ئی پخوا معبدونه خائسته کول او حتی اوس هم په ځینو ځایو کښې دغه پخوانی رسم په مقبرو او زیارتونو کی لیدل کیږی په وروسته زمانه کښې به ئی دغه غرنی رب النوع د « او شو Cesho » په نامه یادوله او دغه نه معلومیږی چه دغه نوم پخپله د رب النوعی نوم دی او که دهغې دغوائی نوم ؤ .

دیفتلی « می هرا کولا » په مسکو کانو کښې یوائحې غوائی نقش شوی او « جیاتو وریشا » Jayatuvars » یعنی « ژوند دیوری غوائی » جمله ورباندی لیکل شویده :

تر ددی ټولو بیاناتو نه داسی معلومیږی چه مهشوار اچه په « شیوای روف » سره هم تعبیر ورځنی کیدلی شی دقبل التاریخ له زمانو څخه دافغانستان په غرونو کښې پخپل اولنی او قدیم رنگ معروف ؤ او دا عبادت مو سیو فوشه نظر په ده موتر په دی یوه یو چه یونانی

ACKU

موږ ر ځينو په هغه وخت کښي چه د اسکندر لښکر ی آريانا افغانستان ته راغلي دافغانستان په غرونوکي د (ديونيزوس دشراب او مستي دربالنوع ) او دهغي دپيروانو وجود په باب کي بحثونه کړي او داسي تصور ئي کاوه چه شرق ته داسکندر دراتلونه مخکښي ديونيزوس په دغو ځايو نوکښي فتوحات کړي وو . دوی په حقيقت کښي ددغه مهشوارا معبدونه يا په بل عبارت د هندوکش محلي ديونيزوس دافغانستان په غرونوکښي ليدلي واو دنيسا يالمپاکا ، نګارا هارا او دکاپيسا په ښکلاونا کستانو او کلیوکښي دهغي در قص او شراب څکلو په مجالسوکښي شامل شوی دی او دخپلو او لمپي پهلوانانو سره مشابه مراسم ئي ليدلي دی . نو هغه څه چه (اراتوستنس ) ئي په (۳)ق م پيړي کښي دديونيزوس په باره کښي وائي په حقيقت کښي دافغانستان دپخواني شيوائي آئين په موجوديت باندي شهادت ورکوی (۱) دا بايد وويل شي چه د(ايوکراتيدس) او د(انتيال کيداس) پر مسکوکاتو باندي ديو راز (زوس) هيکل پر تخت باندي ناست نقش شوی دی . يوی خواته ئي د غره څوکه او بلي خواته ئي ديو پيل نيمه تنه ليدل کيږي او په هم دغه کاپيسا کښي يوه څوکه د(پيلو سارا) يعني [دپيل سرغر] په نامه باله کيده هيوان تسنګ چيني زاير هغه وخت چه کاپيسا ته راغي د[ ارونا ] دغره په څوکه يوی رب النوع ته چه[سونا] نوميده اشاره کوی او وايي چه د [سونا] معبدي دجنوب خواته [تسوکوته ] نومي علاقي ته نقل کړيدی . د غه اشارتونه هم په خپل ځای کي څرګندوی چه د[مهشوارا] يعني[د پخواني شيوائي آئين عبادت او پرستش سره دخپلو تحولاتو ] دقبل التاريخ له اعصارو نه تر[ ۷ ] مسيحي پيړۍ پوری او له هغه وختنه راوروسته داسلام دمقدس دين دخپريدلو تر وخته پوری زياتره دافغانستان په جنوبي برخوکښي پر له پسي او منسلا معمول او مروج ؤ او وروسته تر دی چه يفتليانو دبودائي دين سره جدی مخالفتونه شروع کړل او حتی دبودائي دين پوزيات شمير سنګه رمي يي هم وراني کړی ، شيوائي ديانت زيات عموميت

---

(۱) د[مهشوارا] په نسبت دامطلبونه دموسيوفوشه دنوی اثرنه چه ددتا کزيلا او باغ په مينځ کښي قديمي لاری ، په نامه يادیږی اخيستل شوی دی : .

پیدا کړل او دتګاو ننګراو او د لغمان له سیمو نه دلنګا کشف (۱) دغه نظریات دبلې جنبې نه تائیدوي په دغه باره کې دمسکوکاتو شهادت یو قطعي امر دی او ثابتوي چه آخرني کوشانیان او یفتلیان اوکوشانو یفتلي امراز پاتره دشیواني دیانت پیروان وو او د دغه مذهب دپیروانو شمیر په هغو قرنونو کښې چه د اسلامي مقدس دین شروع کیدو ته نژدې کیږي دهندوکش په جنوبي درو کښې واریه وار زیاتیده او دیر لوی لوی معبدونه ئې درلودل چه دهغو په باره کښې به وروسته خبرې وکړو.

دلمر عبادت: دافغانستان په مملکت کې چه و یدي مدنیت او آریائي عناصر پرستي ئې لیدلې ده دلمر عبادت او پرستش ډیره اوږده سابقه لري، ددې تاریخ په اول جلد کښې دعنایدو تر عنوان لاندې په (۱٤۱ مخ کې او دهغه نه وروسته) دویدي عصر د معتقداتو دبیان په ضمن کښې مو دطبیعي قواو او مظاهرو په جمله کښې چه د آریائیانو په نزدیې درب النوع شکل غوره کړی ؤ وویل چه لمر په رازرازنومونو یادیده لکه سوریا سلوتیار، پوشان، میترا او رودرا) او وروسته له دینه په هغه مو قع کښې چه د (میترا) یعنې دلمر درب النوعي ده یر تر عنوان لاندې دلوړی تو ک د (۳۱۲) مخ داوستائي عناصرو د معتقداتو او دطبیعي عناصرو دد حالت بیان مو مفصلا وکړ چه بیا یې څه ذکر ته حاجت نشته (دغه دو هم توك د ٤٥٤ مخ په شاؤخوا کښې) دکنیشکا پر مسکوکاتو باندې دلمر درب النوعي دنوم او تصویر ضرب بیدل ښکاره کوي چه داو یو کوشانیا نو په عصر کښې هم دلمر پرستش په افغانستان کښې دوام درلود او دخیر خانې په کوتل کښې دبرهمني له پرستي دمعبدو دبقایاو سره دد غې رب النوع دمرمري هیکل کشف او مړی و ار دمنابعو او مسکوکاتو شهادت عملاً تائید کړ.

په دې کښې شک نشته چه بودائي دیانت دافغانستان په نیمه شرقي برخه کښې که دهندوکش په شمال کښې و واو که په جنوب د دوهمې ق مېلر قمه نه راایسته دنهم مسیحي قرن ترشاوخوا پورې د زرو کاو نو نه ډیره موده دوام وکړ مګر داوستائي دیانت بقایا وی له منځه و نه وتلې او کرار کرار دثقل مرکز ئې دسیستان او هیرمند په ښکتنی

(۱) دنذکیر د آلې تجسم.

حوزه کښې د آریانا جنوب غربي خوا ته ور ول شوي او فرو غات ئې په لري او نژدې ځایو کښې دوام وکړ پروفیسر هاکن پخپل دخیرخانې دکوتل دلرغون پېژندنې د پاڼو په کتاب کښې چه په ۹۳۶ کال په پاریس کښې چاپ شوې دی او موضوع ئې هم دخیرخانې دکوتل په ختیزو لمنو کې دلمر دربالنوعي (سوریا) دمعبد کتنه ده ـ د موسیو کومونت E-Cumont دنظریې د ذکر نه وروسته چه په ختیځ ختیزه د نیا کې دلمر عبادت عمومیت درلود لیکي چه دلمر او اور عبادت چه د(زوراستري) د آئین بقایادي دېره مو ده په سیستان کې خپور او مروج و او قدم په قدم ددغه دروازې ته ورسید بلکه دهند په داخلي سیمو کښې هم خپور شو لکه چه دېرو شواهد وله مخې څرګند یږي دلمر پرستې دین دګوپتاخ کورنۍ د امپراطورانو په عصر کښې دهند په مختلفو نقاطو کښې موجود ؤ او دچېن ګرځندوی ديو انتسنګ دخپل مسافرت په وخت کښې دلمرپرستې مشهور معبد ونه په ( قوج ) او ملتان کښې ليدلې دی د[بهاوشیاپورانه] له مخې څرګندیږي چه دلمر عبادت په ( ساکه دوېپا ) یعنی سیستان کښې زیات رواج درلود او ځینې ؤبدان ئې د ( بهو جګه ) او ( ماګه ) په نو مو نو سره ذکر شویدی [۱] :

لکه چه وروسته به دخیرخانې دکوتل دمعبد په باره کښې وګورو د لمر عبادت پخپل نوی تحول سره دسیستان څخه دهندوکش په جنوبي برخو کښې قدم په قدم دهیرمند او ارغنداو دېرې حوزې دلیار و نه چه طبیعي او تاریخي لارې دی د زمینداور او رخدنه ناحیه په ناحیه ارزګان ، وجیرستان ، مالستان: زابلستان او کابلستان ته ورسید او په هندکښې خپور شوی دی او دخاورې مسیحي پېړۍ نه وروسته په دغو ټولو نقاطو کښې موجود و او دافغانستان ددغو ځایو ځینې خلک د (سوریا) پیروان وو چه هغوی ته امر پرست بر همنیان ویلای شو :

باید وویل شي چه یو شمېر مسکوکات هم موجود دي چه په ډېره واضحه لهجه

---

(۱) دتجسسات عتیقه شناسی در کوتل خیرخانه دکتاب د(۳۱) مخ دریمه پاورقي دې وکتل شي :

په افغانستان کښې او حتی په هغو ځایو کې چه د لمر پرستۍ معبدونه په کښې و دان وو.
د لمر د عبادت په رواج او خپریدلو باندې رڼا غورځوي، د دې مسکوکاتو زیاته برخه
د (نیکي ملکانو) یادګیدارۍ وړ وکوشانیانو داولادې د مسکوکاتو له مخې تثلید شویده او
ډیره برخه ئې په یفتلي امراؤ اویا کوشانو یفتلي امراؤ پورې اړه لري چه د جنوبي
مرکزي او غربي افغانستان په بیلو بیلو برخو کښې ئې محلي امارتونه درلودل او دا کتر
(هانریش جونکر) دیفتلي مسکوکاتو په قطار کښې د غه مسکوکات مطالعه کړیدي او په دې
باره کښې ئې په ۱۹۳٤ کښې د برلین په ښار کښې یو کتاب چاپ کړیدی څنګه چه یفتلیان
د بودائي دین نه مخالف وو نو ژر له ږېر پرستۍ او شیوائي ته واوښتل او د پخوانی افغانستان
د غو دوو او محلي مذهبونو د هغوی په واسطه ډیر رواج او عمومیت پیدا کړ:
په دغو مسکوکاتو کښې د لمر رب النوعه د نیم تنه هیکل په شکل نقش شوی دی.
چه ترښا دو روسته ئې شغلی پوړ ته شویدی د دا کتر جونکر مطالعات له دې جهته
ګټور او دقیق دي چه دځینو دغو سکو په مخ باندې ئې دځینو مختلفو ځایونو نومونه هم
لوستلي دي او د مستر مارتن په عقیده د غه ځایونه هغه نقاط دي چه د لمر پرستۍ معابد
په کښې آباد شوي وو د غه ځایونه په لاندني ډول دي: (۱) داور (زمیند اور) (۲)
روشنان چه د سوالیې د علامې سره ئې د هغه نه د هیرمن په غاړه (رودبار) سره تعبیر کړی دی
(۳) زابلستان (٤) فرزان چه د سوالیې په علامه ئې هغه (فیروز) بللی دي چه د هیرمند په غاړه
کښې او ربې ذکر کړیدی. (۵) سکاوند چه د غزني او کابل په مینځ کښې ئې ښو دلی دی او
او مونږ هم په لوګر کښې یو کلي د سکاوند په نامه شته دی. او ورسته به هغه و خت چه
د لمر پرستۍ له بتخانو نه بحث وکړو د دغو ځینو نقاطو په باب کې به یو وار بیا خبرې
وکړو او وبه ګورو چه واقعاً په هغو ځایو کښې چه دیقین په صورت سره تعین شویدی
ډیر مهمې لمر پرستۍ معبد ونه موجود وو:
نو د هغه تفصیل له مخې چه تر دغه ځای پورې وړکړی شو په وضاحت سره
ښکاره ګېنږي چه شیوائي او د لمر پرستۍ پیروان د خپلو قدیمو مرا تبو په تیر ولو سره
هم په افغانستان مخصوصاً د هندوکش په جنوبي برخو کښې موجود وو، او د بودائي
دیانت سره د یفتلیانو د مخالفت نه وروسته شیوائي او د لمر پرستۍ اولني او د هغوی

ACKU

معبدونه او بتخانی او پیروان ئی دیر شول او اوس سمدلاسه تر هغه ځایه پوری چه معلومات لرو دځینو دغو معبدو او بتخانو په باب ؤخو اکښی یو لنډ بیان کوو :

داروناٰ دغره معبد او دکاپیسا شیوائیان : هیوان ـ تسنگ چینی زایر په کاپیسی کی دخپلی یوی میاشتنی استوگنی په وخت کښی دښار دنوسیلو نکو شیوا ئیانو او د «سونا» پاشونا» دمعبدونه خبری کوی : سره ددی چه کښاتریة پادشاه چه دهغه استقبال ته وتلیؤ بودائیؤ خو بیاهم دښار په خلکو کښی دنجات دلو بی اوکوچنی لاری په بودائی پیروانو سربیره دیرشیوائیان ئی هم لیدلی دی : دی وائی چه په کابل کښی بس شیوائی معبدونه او تقریباً ددغه مذهب زرتنه پیروان اوسیږی. له دغو کسانو نه ځینی لوڅ دی او ځینو خپل ځانونه په ایرو سره لړلی دی او دهډوکو یو زنار په لاس کښی لری او دغه زنار له سرنه هم تاووی : «۱»

د«اروناٰ» دغره دمعبد په باره کښی چه په لرغونو زمانو کښی د«مهشوارا» دغرو نو دژنی معبد دهغه په لوړه څوکه کښی موجود ؤ لیکی : د «سی پوتوفا لاس «۲» دښار جنوب ته د «۳۰» لی» په فاصله یوغر دی چه «اولونو O-lu-no» یعنی ارو ناو رته وائی او څوکی ئی دیری جگی او ناوونه او دری ئی دیری ژوری او تیاره دی. نو «شونا» دغه ځای خوښی کړ او د«تسو کوتچه یاتسوکوته» په علاقه یعنی زابلستان کښی د«شونا گیر Sunagir» لوړغر ته تللی دی :

دسکا وند بت خانه یادسوناغر معبد : دهیوانتسنگ «سی یوکی» یادغربی ملکونو خاطرات، دمحمد عوفی جوامع الحکایات او دمسکوکاتو موجودیت او تذکر دری موثق او لوی منابع دی چه دسکا وند دبت خانی یاد «سوناغر» دعبادت خانی او دلمر دعبادت په باب ؤخوا کښی مونږ ته کافی معلومات را کوی دمخه مو داروناٰ دغره له څوکی نه په دیره جنوبی سیمه کی د«سونا گیر» غره ته دسونایا د«مهشوارا» دانتقال خبر د هیوان تسنگ دخولی نه نقل کړ :

«۱» دغربی ممالکو دیادداشتو (۵۵) مخ دبیل تالیف دې وکتل شی .

(۲) ددی ښار موقعیت تراوسه پوری تعین شوی نه دی،

اغلب گمان دادی چه دلوگر دسکاوند بت خانه دسوناغر شبوانی معبدوی؛ سربیره پردی چه د سکاوند او لوگر منطقه دکاپیسا په جنوب کښې پرته ده ، د هیوان تسنگ یادداشتونه او مخصوصاً دمحمد عوفي تذکرات دغه نظریه په ډېر ښه صورت سره تائیدوي «۱»

سکاوند ، سجاوند یاشجاوند، یاشگاوند داوسني لوگر دي او یادا چه په لوگر کښې یوه علاقه ده چه داوگرنوم دیونانی جغرافیه لیکونکی بطلیموس په آثارو کښې په دوهم مسیحی قرن کښې ( لوکرنا ) ذکر شوېدی .

مگر د عربي مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو په لیکو کښې (سجاوند ) او (سجاوندیان) ډېر شهرت لري . د ښاغلي خلیل الله ( خلیلي) په شهادت د ت یوکلي د سجاوند په نامه اوس هم په لوگر کښې موجود دی . د دغه د مأخذ په نا ئید ( ۲ ) مونږ ویلی شوچه سکاوند په اصل کښې یوآباد ښار و چه مستحکمی کلا گانې ئې درلودلې او ټول اطراف ئې شنه او سمسور وو .

په حدود العالم کښې ذکر دی چه « استاخ او سکاوند په غزني کښې د «نهاوی» دغره په لمن کښې دوه واړه ښارونه دي چه ډېر سمسور او کښت او کرېکښې زیات وو «۳»

---

(۱) مستر مارتن په خپله (۲۲۸)لمبر مقاله کښې چه د انجمن شاهی آسیائی بنگال دمجلې د ۱۹۳۶ کال ددوهم جلد په دریمه سلسله کښې ئې خپره کړېده په زمین داور کې د جبل الزور دلمر دعبادت دغه معبد بولي چه هیوان . تسنگ د(تسو- کوته) په علاقه یعنې زابلستان کښې ښودلی دی که څه هم هیوان تسنگ په خپله زمین داور ته ندی تللی او زمینداور دکاپیسا په جنوب کښې ندی او دزور دغره معبد هم په اصل کښې دلمر پرستنې معبد دی نو دغه اشتباه یوه صریحه اشتباه ده.

«۲» د خلیل الله خان مقاله د « سجاوند چېرته دی او سجاوندیان څوك وو» ترعنوان لاندې چه د آریانا دمجلې داول کال په څلورمه شماره کښې نشره شویده .

«۳» حدود العالم «۶٤» مخ د طهران طبع غزني په خپله اویه معنی سره د غه ځای احتواه کوي د غزني توابع په ښه توگه واقعي مفهوم ادا کولی شي :

هرکله چه د سکاوند جغرافیائی موقعیت زمونږ په نزد واضح او معین دی له دینه زیات ورباندی خبری نکوو د کاپیسا نه د «سوناغر» د غره په لمنه کی د بری جنوبی علاقی ته د «سونا» د عبادت د انتقال موضوع ترکتنی او بحث لاندی نیسو ،

هیوان تسنگ هغه وخت چه د هند نه بیرته راغی پس له دینه چه د افغانستان په شرقی او جنوبی علاقو کښی وگرځید د «تسو - کوتچه» «تسوکوته» یا راخی علاقی ته رسیږی چه هغی ته ئی زابلستان ویلی دی ؛

دغه تسوکوته چه چینی زائر یا ده کړی ده «۷ زره لی» احاطه درلوده او د مقر، جاغوری، مالستان، وردگ او گردیز په منځ کښی چه تقریباً غزنی به ئی په منځ کښی وی پروت وسیعه علاقه نیولی وه چه لوگر او سکاوند ئی هم جز شمیرل کیږی دغه چینی زایر د دغه ځای له غرونو، درو، د اوبو او هوا دیخوالی، د واوره او برف کوچونو، میوو او گلانو د پروالی، د دیرلدرلوونو او زراعت او د ژبی او لیک د صورت د اختلافاتو نه د نورو علاقو سره بحث کړی چه دلته ورسره زیات کارنلرو او پروا ځینی

یوی مختلفی عقیدی او دین ته توجه کوو چه دخلکو په مینځ کښی ئی لیدلی او په دی باره کښی داسی وائی :.... په دغه ځای کی څو سوه بودائی معبدونه او زرتنه راهبان موجود دی چه دنجات د یوی لاری پیروان دی، موجوده پادشاه پخپله عقیده کښی راسخ او محکم دی او خپل ټول وختونه ئی د مذهبی چارو د انجام د پاره وقف کړیدی، یو پوه سړی دی او د تحصیل او دخپلی پوهی د زیاتولو سره دیره مینه او علاقه لری - په دغه ځای کښی تقریباً لس استوپی دی چه د آشوکا پادشاه د ودانیو یادگارونه دی او نوری دیری برهمنی بتخانی موجودی دی چه په دغو بتخانو کی د مختلفو مذاهبو پیروان یوځای ژوند کوی برهمنیان دیر دی او دوی زیات د «شونا» عبادت کوی د دغه «دوا» آئین د «ارونا» دغره کاپیسانه دلته رسیدلی او د دغه ځای په جنوبی برخو کښی د «سونه گیر» «سوناغر» په غره کښی دهغه معبد آبادشوی دی. څرنگه چه د عقیدی له مخی د هغه نه څه وغیاړی خپل

مراد ته رسیږی او که څوك ورته بد ووائی په بد بختی اخته کیږی لوپه دی نسبت محلی خلك او د لری ځا یو نوا وسیدونکی تول ورته د احترام په سترګه ګوری او بی باکه او شریف خلك د هغه پیروان دی، شهزادګان او نجبا، محلی خلك او د نورو ملکونو بیګانه خلك هرکال د زیارت کولو د پاره په همین وخت د لنه را ځی او سره او سپین زر، جواهر او اهلی حیوانات ورکړی پسونه او اسونه او نور ورته تقدیموی؛ برهمنیان د ریاضت په اصولو نفسانی خواهشات پخپل بدن کښی وژنی او روح ته اوج او ترقی ورکوی او په دی ترتیب سره ځینی فورمولونه لاس ته راوړی چه د هغو په واسطه په ا لامو او دردو نوباندی تسلط پیدا کوی او مریضانو ته صحت ورکوی ::: (۱)

هغه برخه چه په بودائی دیانت پوری مربوطه ده البته چه پخپل ځای کښی مهمه او قیمتی ده مګر هغه معلومات چه شیوانی برهمنیان او د ننه په مملکت کی اردبانډی د سوناغر د معبد داهمیت په باب کی ئی را کوی چه مونږ هغه ته د مکاوند بت خانه وایو ډیر زیات اهمیت لری.

د مخه مو ولیدل چه حدود العالم د سکاوند موقعیت :(نهاوه) د غره په لمن کښی ټاکی په اغلب ګمان سره د غه غر هماغه د «سوناګیر» غر دی او هر کله چه د چین زایر د «تسو - کوته» د علاقی ژبه د نورو ګاونډیو علاقو د ژبی نه مختلفه ښودلی ده نو داسی ګمان کیږی چه د هغه د «سونا ګیر» کلمه د دو واسمو نو نه مرکبه وی یو «سونا» در ب النوع نوم او بل «د غر» کلمه چه په پښتو او زمږی کښی چه مخصو صاً د لوګر په علاقه کښی مروجه وه د «غره» په معنی ده او معلومیږی چه د غه غر د سونا د معبد او یادشیوانی بتخانی په نامه چه د هغه په لمن کښی پرته وه د «سونا غره» په نامه شهرت پیداکړی وو. دهیوان - تسنګ دیاد کړی «سوناغر» له معبد نه د سکاوند په بتخانه د تعبیر یو علت د محمد عوفی د جوامع الحکایات لیکنی دی چه د هیوان - تسنګ نه شپږ سوه

---

(۱) د غربی ممالکو د یادګار ونو یعنی د (سی یو - ګی) د کتاب د اووم ټوك (۲۸٤ — ۲۸۵) مخ دی وکتل شی . د غه کتاب د بیل ترجمه ده .

کاله وروسته دسکاوند له‌مشهورو بتخانو نه په داسی الفاظو او کلماتو خبری کوی چه‌ګوندی دهیوان تسنګ چینی زائر دیاداشتونو ترجمه ده. اصلی واقعه‌چه دسکاوند فتح او دهغه دبتخانی خرابیدل دی‌چه عمرولیث او دکابلی رای کلمو په عصر کښی واقع شویده چه دموجوده فصل یوه برخه ده لکه چه وائی: «په هغه وخت کښی دهندوانو لوی معبد «سکاوند» ؤ او دهندوستان په آخرنی برخه‌کی خلکو هم ددغه ځای دبتانو په زیارت سره تبرك کاوه» دجوامع الحکایات د مؤلف دشهادت په قرار دصفاری عمرولیث او کملوبا کاموډبرهمن شاهیانو دد ریم پادشاه تر عصره پوری یعنی دنهم مسیحی قرن تر آخره پوری دغه معبد آبادؤ او د«فردعان» دزابلستان دکوتوال له خوانه چه دعمرو لیث د حضورنه دځلورو زرو سپرو لښکرو سره ددغه ځای دفتحی دپاره مامور شوی ؤ وران شو لکه چه په‌دی باره‌کی وائی:: «فردعان چه ځنګه زابلستان ته ورسید لښکرئی وایست او سکاوند ئی فتح کړ، بتان ئی مات کړل او بت پرستان ئی ذلیل کړل او ځینی غنیمتونه ئی خپل لښکرته او نور ئی عمرولیث ته‌ولیږل ...» لوګر او دلوګر سیند چه‌تر اوسه پوری دکابل دهندوانو په‌نزد اهمیت لری او د«ویساك» په اختر کښی اوس هم دکابل هندوان خپل مذهبی «ابهی شکه» غسلونه‌دسا کو او شیوکیو په اطرافو کښی دد غه‌سیند په اوبو کښی کوی، دشیوکی نوم چه په هغه‌کښی د «شیوا» کلمه داخله‌ده ځرګند وی‌چه په اکثرو احتمالاتو سره په دی ځای کښی شیوائی جامعه متمرکزه وه او محتملاً کومه‌شیوائی بتخانه هم دلته موجوده وه په هرصورت په دغوځایو کی دکابل دهندوانو دویساك داختر مراسم هغه خاطری دی چه دلوګر دسیند په غاړه دشیوائی بتخانو دشکوه او آبادی‌نه دزمانو نه پاتی‌دی او حتماً دشیوائی کابل او دلوګر دسکاوند دمعروفی بتخانی په مینځ کښی دداخلی او خارجی ګرځندویو تګ او راتګ ددغه سیندسیمه دهغه‌په ترله مجری کښی آباده او معموره ګرځولی وه.

شیوکی او اوندکی او شیوائی معبد: په‌هغه فصل کښی چه دشیوائیانو او دلمرپرستو برهمنیانو ځخه پکښی بحث کیږی او په کابل کی دبرهمنیانو او شیوائیانو او دسبا سی او

مذهبي مرکزيت نه يکښي خبرې کيږي او په دغه ښار کي دکابلي رايانو ځپو دنا شيه نه صحبت کيږي طبعاً دشيو کيو او اندکيو نومونه چه اوس دکابلو په خبر - دکابل په جنوب او جنوب غرب کښي د۶ او ۹ کيلومترو په فاصله پراته دي راپه يادېږي ، څرګنده ده چه ددغو دو وکابليو په نومو نوکښي د«شيوا» او «اندرا» نومونه دخيل دي او شيوکي او اندکي د «شيوا دځاى» او د «اندرا دځاى» معني ورکوي او د دې توضيح نه وا ضح څرګند يږي چه په شيوکيو کښي دشيوا کومه بت خانه او په اندکيو کښي د «اندرا» او برهما کومه بت خانه موجوده وه ځکه چه دغه دوه د برهمني ارباب انواعو څخه شمېرل کيږي، د غه امر دلته توضيح ته ځکه ضرورت نلري چه دغه دوه کلي اوس هم دکابل دهندوانو په نزد خاطري لري او د وساك په وخت کښي دساکو اوشيوکيو خواته دهندوی تګ اوراتګ اوحتی د لوګر دسپند په اوبو کي دهندوي (ابي شکه) دغسل مراسم اجرا کيږي :

هر کله چه کابلي رايانو يعني شيوائي برهمن شاهانو د کابل په ښار کښي دتاج پوشيه مراسم اجراء کول ، او دغه ښار دهندوي په نزد يو مقدس مقام ګڼل کيده نو حتماً په دې باندې حکم کولاى شو چه دخير خانې د کوتل دلمر د مشهور معبد په شان ( مشوارا ) کومه شيوائي مشهوره بت خانه دکابل په اطرافو کښي هم موجوده وه او محتملا دغه بت خانه په شيوه کيو کي جوړه شوې وه ، ځکه چه د کابلشاه د(سامنته ديوا) سره ديمتوب ليث صفاري دجنګ په وخت کښي مونظريه ښکاره کړه چه په غالب ګمان هنه بتان چه د صفار يانو د کورنۍ مؤسس لاس ته راوړي او بغدادته ئې ليږلي وو د کرم شيوائي معبد نه اخيستل شوي وو چه د کابل دشيوائيانو او رايانو په نزد لي رسمي مقام درلود چه په دې صورت کي يو وار بيا دشيوکو شيوا ئي بت خانه په خاطر کښي ګرځي . خوشك نشته چه دشيوکيو او اندکيو په شاؤ خوا کښي دغو ندېو په سر د پخوانيو معبدو خرابې ونښې ډيرې دي او دساکو په شاؤ خوا کښي په يو معبد کي دزرا نسي دحفرياتو هيئت هم حفريات کړيدي مګر دتحقيق لمن ځکه چه لا زموږ مسه دې برخه کښي هغسې پراخته نه ونده او هغه څه چه ريل شويدي محض

ACKU

دتومونو د کتنو او دفولکلور د ذهنیت او دمحلی توپو گرافیو دمشاهداتو په اساس دی.

دخیرخانی د کوتل دبرهمنی لمر پرستی معبد: د مخه تردی مو دافغانستان پخوانیو پیدی او اوسنانی زمانو کی دلمر د رب النوع د پخوانیو نومونو سابقه او اهمیت او دمشخص او جلا دین دتشکل او پیداکیدو تر زمانی پوری دهغه تدریجی تحول بیان کړ.

هر کله چه د(سوریا) معبدیا د خیرخانی د کوتل د لمر پرستی معبد لو مړنی برهمنی معبددی چه د کابل په شا وخوا کښی کشف شویدی او دمرمرو داعلی دبری نه پخپله درب النوع او دهغی دمصاحبینو ډیری ښکلی او د توجه وړ مجسمی لاس ته راغلی دی او پروفیسر هاکن دفرانسوی لرغون پیژندنی دهیئت دعلمی نشراتو په سلسله کښی یو مخصوصه رساله په دی باره کښی نشره کړیده نو لازم دی چه دغی موضوع ته ډیر توجه وکړو او د دغی رسالی مهم مطلبونه دلته ذکر کړو:

دمعبد موقعیت: د(سوریا) دمعبد خرابی د کابل دشمال غرب په «۱۲» کیلو متری کښی دهغه غره دخوکی په ختیزه لمن کښی پرتی دی چه دغه غر په لویدیز او ختیز خط پروت او د هغه بل غر سره نښتی دی چه د(هزاره بغل) دغره په نامه یادیږی او دیوی هغی گردنی شمالی څوکه تشکیلوی چه د خیرخانی کوتل د کابل او کاپیسا دموجوده لاری په سر پروت لاره پکښی پرانستلی ده. معبد او ملحقات ئی په هغه څوکه او پروزه باندی چه ذکر شوه د وزیر آباد د جلگی خوا ته واقع وو او دبامونو او برندو نه ئی دجنوب او جنوب شرق او ختیز ی خواته دچناری او چکری دغرونو ترخط پوری پراخ افق ښکاریدل او حتی دچکری دغره دمنار دخوکی په یوه غوخه شوی برخه کښی چه په هغی باندی «دهرمه چکره» Dharma Cakra یعنی دبودائی دین فارقه علامی چه دیو څرخ نه عبارت و نظر جلباوه او بیخه ئی دشیوه کیو داستوپو دگنبدو دجنوب خواته هم معلومیده:

دمعبد شکل، پلان او مکشوفه آثار: دموسیو کرل او موسیو باکه دفرانسی دحفریاتو دهیئت دغړو د تحقیقاتو نه داسی څرگندیږی چه د «سوریا» معبد په حقیقت کښی دیو بل هغه پخوانی معبد پرخرابو باندی ودان شوی و چه دامو غټو خښتو نه جوړ شوی

ACKU

اونوعیت ئې معلوم نه شو یعنې هغه وخت چه د «سوریا» معبد جوړیده د پښځوانیو دانیو کندی او ژوری ئې د تیږو، خاورو او خښتو نه ډکې کړې او بیا ئې ورباندې د لمر پرستۍ د بت خانې تادو کینبو د دغې دهیئت دمهندس «وسیو کرل» په نظریه د «سوریا» نوی معبد دری مربعې خونې درلودلې چه هرې یوې جلا جلا دروازه او مدخل دراود چه خلک په آرامۍ سره خپل مذهبې مراسم ادا کړی شی:

دغو حجرو هرې یوې ځانته د تیږو یوه کرسۍ درلوده چه د سلیټ د تیږو د تختو نه جوړې شوې دې او په هره کرسۍ باندې په دبرېنو تختو کې دری دری سوری ایستل شوی او چه په ترتیب سره د هر سوری په مینځ کښې یو هیکل نصب شوی و او په دې صورت سره د معبد په دریو او حجرو کښې (۹) مجسمې نصب شوې وې. «وسیو کرل» ددې ځای نه دیوې مجسمې پښې او دیوه تخته «رکو» و نکې سری هیکل پیدا کړا او په آخره کښې ئې ددوو حجرو تر منځ د دهلیز نه مینځه د «سوریا» دلمر درب النوع دیر ښکلی هیکل د مغه د مصاحبینو سره کشف کړ. سربیره په دې په دغه ځای کښې دوه مسی سکې د نیکی ملاک د تیپ نه چه د «۵ او ۶م» پیړی دوړ و کوشانیانو په او لا دې پورې ارتباط لری هم پیدا شوی دی باید و ویل شي چه د خیرخانې د کوتل د «سوریا» معبد خپلې او یدیږی او ښتېزی خوا ته نور ملحقات هم درلودل او د شرق خواته دیوې عباد تخانې آثار په یوه آزاده دوا کښې تشخیص شول.

د شکل او پلان له نقطې نظره څخه او هم په دریو مربعو حجرو باندې د معبد د تقسیم له مخې د خیرخانې د غابنی د «سوریا» د معبد او دهغه د شیوائي معبد تر منځ دیر مشابهتونه موجود دی چه په سنه «۱۹۲۰» کښې اله آباد ته نژدی په «بهیومارا Bhumara» کښې کشف شوی دی او په شپږمه پیړۍ کې د گوپتا د عصر د عمرانا تو په جمله کښې محسوبیږی:

<u>د سوریا هیکل</u>: په دې کښې شک نشته چه هغه دیر مهم هیکل چه د خیرخانې د معبد نوعیت ئې څرگند کړ د «سوریا» د لمر درب النوع مرمری مجسمه ده چه ددې او ددې د مصاحبینو د جزئیاتو تعریف تر هغه حده پورې چه دلته ضرور دی د خیرخانې د کوتل

ACKU

د عتیقه آثارو دکتاب نه چه دپروفیسر هاکن تألیف دی دلته نقل کړو:

دلمر رب النوع په اروپائي طرز ناسته ده یعنی پښې ئې بوه دباې نه لیري دي لاسونه ئې له بنده نه مات شوي دي اوپه ورنو نوباندې ئې تکیه کړي دي پښې اوورنونه ئې د طبیعي اندازې نه د برواړه په نظر راځي د مجسمې سر د ټول بدن نه پنځمه برخه دي عیناً په همدې تناسب په «۱۹۲٤» کښې سرای خواجه ته نژدې له پایتاوې نه یوه بوداني مجسمه پیدا شوې ده چه دیونانې هیکل تراشانو د اصولو سره د بر مغایرت لري ځکه چه د(پولي کلت) دمد رسې په اساس باید سر د جسم اوقد داوږدوالي اوومه برخه وي او د(اې سب) د نظریاتو په قرار سر باید د جسم د طول اتمه برخه وي نو په دې اساس سر ه د (سوریا) دهیکل سر ډیر لوی جوړ شوی دی دلمر د رب النوع په څیره کښې عجب ممیزات لیدل کیږي
د هغې وروځې دومره، کږې او منحنی دي چه وچولی ته ئې یو مثلث شکل ورکړی دی ستر ګې ئې بادامي: پوزه ئې لږ ه پیته، زنه ئې جګه او مجعد او اوږده ویښتان ئې دو چلې له منځه دو اړو خواوو ته تقسیم شویدي:
سوریا یو تاج لري چه د مثلثاتو او دنیلوفرو دنیم وازو ګلانو او د مرغارو د قطارونه جوړ شوی دی او یو بې ګریوانه یلان ئې اغوستی دی چه ګرده لمن لري او په لاسونو او اوږو باندې ئې یو شال پروت دی چه څنډې ئې دسوریا دزنګنونو په منځ کښې پرتې دي او دیلان لمن ئې پټه کړیده رب النوع غاړکۍ او حمایل لري چه هر یو ئې په مرغارو او غټو جواهرو سره ښکلي شوې ده:

دسوریا په پښو کښې جګې او نازکې موزې دي چه پوندې نلري چه په نورو پښو کښې به په پښو کېدلې او اوس هم دغه راز موزې په افغانستان او مرکزی اسیا کښې معمولې دي:

دسوریا مصاحبین: دخیر خانی دکوتل دلمر دروزونکی هیکل په دواړو خواؤ کښې

---

دهغه دوه تنه معاونان لیدل کیږي دښې لاس معاون ئې ګڼ او ډیر ویښتان او ګڼه ږیره لري او دسر ویښتان ئې دسیتی خلکو دویښتانو په شان جوړ کړي دي چه په افغانستان کښې په ... نزت شمیر موجود دي او دهغې مجسمو یو زیات شمیر موږ ته معرفی کړي دي خو لیدئی

مخروطي شکله او دهغه ديلان دګريوان څخه دي پهسينهباندي ديوې حلقې په واسطه وصل او محکمې شوي دي. په ښي لاس کښې ئې يو نښې قلم او په کيڼ لاس کښې ئې يوه پا نه يا ورقه ليدله کېږي:

د کيڼ لاس معاون ئې يو سړي دی چه زيره نلري: د ده کالي او د هغه بل معاون کالي څه فرق نلري يوا ځې په خولی کې تو پير شته چه د ده خولی په د اسې طرز جوړه شوي ده چه غوږونه ئې پټکښې پټيږي کيڼ لاس ئې پر يو ګرد او مله ورسپر با ندي تکيه لري او په ښي لاس کښې ئې يوه لنډه نيزه نيولې ده:

د سوريا عراده: تر ځغې صحنې نه لاندې چه د لمر رب النوع او معاونين ئې پکښې ليدل کېږي د رب النوع عراده او يا د ا چه وا ضح و وا يو اسونه او عراده چاوونکې ئې ليدل کيږي. اسونه ښي او چپ لورې ته په خيز کښې دي: د څرمنو او د ارګيوزينونه چه تو شکچې وربا ندې پر تې دي او په ځا مکو ګنډل شويدي د اسونو په شا باندي ليدل کيږي او يو عراده وان چه د پګړيه غو ندې يو خولی ئې پرسرا يښې او په يوه او ږده قمچينه آسونه وهي

د ادبې ما خذ سره د سوريا د هيکل دجزئيا تو موا فقه: د سوريا مرمري هيکل

چه د خيرخانې د کوتل د بر همنې معبد نهپيداشوي دی د مذهبې متو نو سره کاملا موافقت لري: دوه مهم مأ خذونه (آمشوبه د اګمه Amsubhedgama او (براتسمهيته Brhatsamhita ) دواړه متفق دي چه د لمر رب النوع با يد دهند د شمال په طرز ملبس او په لاسو نوکښې ئې د نيلو فرو دوه ګلان وی او لاسونه ئې دومره جګ وی چه داوږو د جګوالي سره برابروی. که څه هم دخيرخانی

د کوتل د سوريا لاسونه د بندونه مات شوي دي خو سره د دې دلاسونو جګوالې ئې واضح ښکارګندوي چه لاسونه ئې دمذهبي داد بي متنو په مطابق تراوږو پوري جګ وو:

د خيرخانې د کوتل د لمر د رب النوع مصاحبين څوك دي ؟ د خير خا نې

ACKU

دکوتل د رب النوع د هیکل، د مهمو موضوعاتو نه یوه موضوع دهغې دمصاحبینو اویا معاونینو کتنه ده چه سم دهغه بیان سره چه د مخه وشو ذ دغی رب النوعی ښی اوچپ خوا ته لیدل کیږی ، د هغو مطالعاتو په اثر چه موسیو هاکن ددی رب النوعی د ښودنی او نمایش په پخوانیو صحنو کښی کړیدی لکه د ( بوده گایا Bodhgaya ) په صحنه کښی چه ( په اول قم قرن پوری مربوطه ده) او د (ماتورا) په صحنه کی چه(په مسیحی اول قرن پوری مربوطه ده) ددغو دوو تنونه کوم اثر نشته بلکه د دوی په ځای په لومړی صحنه کښی لیندی او کمان او ونکی ښځی لیدلی کیږی او په دوهمه صحنه کښی یوازی ( سوریا ) ښودل شوی ده. د غه رنګه د سلیټ د تیږی په مدال باندی چه په ۱۹۲٤ کښی د جلال آباد د شاوخوا نه (۱) پروفیسر هرز فیلد Herzfeld لاس ته راوړی دی دلمر رب النوع یوازی د هغی په عرادی باندی ښودل شوی وه . په دی باندی هم باید یوه شوچه د سوریا د معاونینو موجودیت یوازی د خیر خانی د کوتل په معبد پوری منحصر ندی بلکه کتبت د هغی په شان یوه صحنه د اله آباد په شاوخوا کښی د ( بهیومارا ) د لمر پرستی له معبد نه کشفه شویده چه په شپږم قرن پوری ئی مربوطه کښی او د ( ماستیا پورانا Mastya-Purana ) مذهبی مأخذ ښکاره کوی چه دسوریا ښی لاس ته باید ( د اندا Danda) او چپ لاس ته ئی (پنګالا pingala ) د هند د شمال د طرز په کالیو کښی حاضروی . په دغه اساس پروفیسر هاکن عقیده لری هر کله چه د هند پخوانی آیدات د غه معاونان نه لری نو یلی شوچه دغه معاونین یوازی په ( ٥ ) مسیحی قرن کښی د کابل په علاقه کښی د سوریا شاوخوا حضور ته مجاز شو یدی او ددغو معاونینو مبدأ باید په غرب کښی ولټول شی نه په هند کښی ، د هند د شمال د برخو کالی چه په هندی مأخذ کښی ذکر شوی دی وروورودهند په وروسته صحنو کښی له مینځه تللی دی مخصوصاً

---

(۱) نوموړی مدال اوس په پاریس کی د ګیمی په موزه کښی موجود دی.

ACKU

د ساسا نیا نو موزی اوکالي څرګندوي چه د لمر دغه دول رب النوع د افغانستان نه هند ته لار پید اکړې او هلته معمول شوی د ، لکه چه مستر (ونترنیتس) د (بها ویشا پورا نا) په اساس د هند دا د بیا تو په تاریخ کښې لیکي اومو سیو ها کن په هغه بانندی اتکا کوي، د اورا ولمر د عبادات زورا ستري مظاهر د سیستان نه په تدریج سره هند ته نژدې شوی او د ګوپتاد کورنۍ دسلطنت په عصر کښې په هندکښې ډیر رواج شوی وو ، په دغه ترتیب د هند د پخوا نی لمر پرستۍ نه پرته چه ا بد ا ت ئی په (بوده ګا یا) او (ما تورا) کښې لید ل کیږي امر پرستی او د لمر د رب النوع سوریا نما یش دکا بل په طرز په «پنځمه مسیحی پیړۍ» کښې په هند کښې خپور شوی دی چینی ګرځند وی هیوان ـ تسنګ وائی د لمر عبادت د ګوپتا یانو نه وروسته د هغوی د جا نشینا نو یعنی د «وردهنه Vardhana» د امپرا طورانو په وخت کښې په هند کښې ډیره ترقي وکړه او لکه چه پخپله ده په قنوج کی د «هرشه ورد هنه» دحکومت په وخت کښې د لمر د رب النوعی معبد او دشیوا «مهشوارا» بت خا نه څنګ په څنګ سره لید لی دی چه په هر یو کښې به زرتنه را هبا ن او روحا نیون موجود وو، سربیره په دی نوموړی په ماتا ن کی دلمر د رب النوع دسرو زرو دیوی مجسمی یادونه او بحث کوی چه په جوا هرا تو جرا و او ښکلې کړی شوی وه او د پرزیاتی سیلا نیان او سیاحان ئی دغه ښار ته جلبو ل[1].

د هغه مو وکتل چه په هند کښې د سوریا په شا وخوا کښې د معاونینو موجو دیت یو نوی شی دی چه د شپږ می مسیحی پیړۍ نه وروسته معمول شویدی، نو پروفیسر ها کن د غربی پوهانو د تحقیقا تو په اساس د معاونینو مبدأ په غرب کښې بنیی او د هغوی نه د سهأ را وما بنام د ستورو په ممیزه شخصیت سره تعبیر کوی چه د آسیا په لویدیز ملکو نو کې او په «یونانو شرقی» داستانو نو او تصو را تو کښې ئی په مختلفو نومو نو شهر ت پیدا کړیدی چه لنډیبان ئی په لاندې دول لیکو. موسیو فرناندشاپوتیه لیکی چه د (ادس Edesse) (۱) دښار خلکو به چه د لمر عبادت به ئی

---

(۱) اوس دشمالي بین النهرین دقدیمو ښارو نو څخه دی .

کاوه. درب النوع په اطرافو کښې ازیزوس Azlzos (دسهار ستوري) او مونیموس Monimos (دماښام ستوري) ته ځای ورکاوه. دغه دوه ستوري په یونانو شرقي تصوراتو کښې د فوسفورس phosphoros او هسپروس Hesperos په نوموذکر شوي دي او په یوناني ښکلو نوکي دغه دواړه غبرګوني مشهور ورونه دي چه یو ته کستور Castor او بل ته پولوکس Pollux وبل کیدل ترڅو چه (افار: تیدApharetides) کستور په

قتل ورساوه او پولیوکس یوازې پاتې شو او له زوس نه ئې وغوښتل چه دهغه دورور نه بیل نه وي او زوس په اول کښې داسې حکم وکړ چه یوه ورځ په آسمان کښې او بله ورځ په مځکه کښې راپیداشي او ددې د پاره چه یوازې نه وي بیائې داسې حکم وکړ چه دوه ورځې پسته دواړه یوځای یو وار په آسمان کښې او بیا یو وار په مځکه کښې ځانونه وښيء دطبیعت دمظاهرو سره ددې ښکلو اسطوري تطبیق دادي چه یو دسهار

ستوری او بل دماښام ستوري دي چه په ختیزو ادبیاتو او د استانو کي او ددې جملې نه په افغانستان کښې هم شاعران ورسره سروکار لري نو په دې اساس سره دخیرخانې د کوتل دسوریا دښې لاس منشي چه نسبتاً پوستکي ئې تور ښودل شوي دي د ماښام ستوري او نظامي زلمي چه د کیڼ لاس پلوته ئې دي د سهار د ستوري او شفق نه نمایندګي کوي دغه دواړه ستوري چه په مجموعې دول سره (دیوسکور Dioscuros) بلل کیږي دیونانو باختري پادشاه (ایوکراتیدس) په مسکو کاتو کښې د دوو تنو سوار کارو په شکل ښودل شوي دي لکه چه ددې پادشاه دمسکو کاتو په تصویر کښې چه په دغه اثر کښې چاپ شوي دي هم لیدل کیږي. هرکله چه سوریا د لمر پرستۍ په آئین او دین کښې د کائناتو مبداء تصورکیده. او دښو او بدو اعمالو نظارت ئې کاوه نو زیره لرونکې مصاحب ئې په قلم سره دخلکو اعمال په کتاب کښې ثبتول نو په دې ترتیب سره ویښو چه دیوناني اساطیرو ارباب انواع چه ددغه جلدد (٨٦) مخ په شاوخوا پاڼو کې مودهغو دځېر یدلو څخه ذکر وکړ یو وار بیاد افغانستان په خاوره کې دآریانې لمرپرستې درب النوع سوریا سره مخلوط شوي او ددغو دري واړو یعنې دلمر او د سهار او ماښام دستورو له یوځای کیدو نه ددغه مملکت دلمر پرستۍ په پخواني

ACKU

دیانت کی یونوی شکل او موجودیت پیدا کیږی چه له (٥قرن) نه وروسته ئې په هند کښې انتشار موندلی دی او لکه چه دمخه مو اشاره وکړه اله آباد ته نژدی د (٦م پیړۍ) دبهیومارا دسوریا معبداو هیکل کټ مټ د خیر خانې د کوتل د سوریا د معبد نقل دی.

دزور معبد: پخوامو وویل داکتر (هاین ریش جونکر) په مسکو کاتو کښې

---

چه د لمر د رب النوع هیکل وربانډی نقش شویدی دبیلو بیلو محالاتو د نومو نو په لړ کښې ئې د(داور) نوم هم یاد کړی دی چه د هیرمند دمجری په غاړه بانډی دزمینداور دعلاقی نه مقصددی بلاذری وائی: (په هغه وخت کښې چه عبدالرحمن بن سمره په(٣٣)ه (٦٥٣ م) کال کښې د( الداور) یعنی زمینداور په ولایت کښې داخل شو ددښمن سره( دجبل الزور)په بر خه کښې مقابل شو او د ښمنان سمد لاسه ورته تسلیم شول څنګه چه ابن سمره د زور معبد ته ننووت یو د سرو زرو هیکل ئې ولید چه سترګی ئې دیاقوتو نه وی او د مجسمې لاسونه ئې پر یکړل او سترګی ئې وړغنې و ایستلی او دهغه ځای حکمرانانه ئې وویل چه طلا او جواهرات واخله زما مقصدبوا ځی دا وو چه تاسو ته وښیم چه د غه هیکل د آزار او کوملک هیڅ راز قوت نلری)هغه مسکو کات چه د لمر درب النوع صورت وربانډی نقش شویدی او په هغو کی د(داور) کلمه ضرب شویده خامخا د دغه معبد او هیکل سره رابطه لری چه عبدالرحمن بن سمره په ٣٣هجری کال کښې په زمینداور کښې لیدلی دی او په همدغه اساس سره مدققینو دلمر پرستی یو معبد دهلمند په منځنی سیمه کښې دزمینداور په جبل الزور کښې ښودلی دی. باید وویل شی چه دچین زائر هیوانتسنګ په همدغه کال کی دملتان دلمر پرستی یو معبد کښې دلمر درب النوع دسرو زرو مجسمه لیدلی ده چه په جواهراتو سره ښکلی شوی وه او د مجسمې دشهرت او د غه ښار ته د ډیرو سیاحانو اوزائرینو دجلبولو نه ئې هم بحث کړی دی. هغه څه چه دغه زائر په ملتان کښې لیدلی دی او هغه څه چه ابن سمره په جبل الزور کښې لیدلی دی دواړه کټ مټ یوه رب النوعه ده چه دواړه دسرو زرو نه جوړی شوی او په جواهراتو او قیمتی تیږو سره ښکلی شویدی، دمخه مو دخیر خانې د کوتل دسوریا معبد اله آباد ته

ACKU

نژدی دبهیومارا دلمر پرستی دمعبدسره مقایسه کړاوسی نو وینو چه د زمیندار ر دجبل‌الزور دلمرد رب‌النوع عین‌هیکل دملتان پهیو معبد کښی موجوددی اوپه یو بل لحاظ هم تثبیت کیږی چه‌په افغانستان کی دلمر پرستی‌او دلمر درب النوع د نمایشاتو طرز د(۵) مسیحی پیړی نه وروسته په شرقی خاوروحتی د هند تر مینځه پوری خومره تاثیر کړیدی.

د کابل دبرهمن‌شاهانو مسکوکات : دافغانستان پخوانی مسکوکات څرنگه چه دافغانستان‌او دهند(یونانو باختری ؛ دلویو کوشانیانو او کیداریانو او د نوررو خپلواکو پادشاهانو) دتاریخی لویو کوږ نیو دڅرګندیدو موجب‌وګرځیدل‌او دآسیا ددی‌څنډی دتاریخ‌خالی ځایونه‌ئی ډك‌کړیدی د( کابلی‌راجانو)پادشیوانی برهمنی کابلشاهانو په‌باره کښی ئی‌هم همدغه‌کار کړیدی اودډیر اهمیت وړدی که څه هم د کابلی برهمن شاهانو د مسکوکاتو په باب کښی زمونږ معلومات محدود دی خو سره له دی یوه لنډه یادونه کووه د کابلی برهمن شاهانو مسکوکات زیاتره دافغانستان د جنوب شرقی برخونه یعنی دهغوی دسلطنت دنفوذدقلمرونه پیداشوی‌او پیدا کیږی . هرکله چه هغوی‌په سند او پنجاب کښی هم سلطنت درلود اوپه آخرودورو کی اناك ته نژدی (ویهند) د هغوی مرکز ګرځیدلی وو (۱) نو دپنجاب نه‌هم دهغوی مسکوکات لاس‌ته‌ر اغلی دی ، خودااول‌ځل دپاره‌او په‌زیاته اندازه دختیز هندوکش په جنوبی خاورو کښی ددوی مسکوکات دفن مدققینوته معرفی‌شویدی .

دغه‌مسکوکات دمستر سمیث له‌خوا دهنددکاټلاګ دموزیم د مسکوکاتو په کتلاك‌کښی د ( اول جلد په ۲۴۳ مخ کی)کتل شوی او سره ددی‌چه دموضوع پرابهام باندی تر اوسه پوری اعتراف لری‌په هغو تولوکښی ئی‌دری نمونی تشخیص کړی‌دی .

(۱) البته پس له څومودی‌نه ئې خپل مرکز د(ویهند) نه‌شرقی خوا ته‌د(بهتنډی) تینګی‌کلاته ولیږداوه اودا کار دچیپال له‌خوا شویدی.

ACKU

(۱) هغه نمونې چه دغوائي اوسوار کار شکل ور باندې نقش شوی دی.
(۲) هغه نمونې چه دپيل او زمري شکلونه وربانديې ليدل کيږي
(۳) هغه نمونې چه دزمري او طاؤس تصويرونه پکښې ليدل کيږي.

ددوهمې نمونې مسکوکات چه دپيل او زمري شکلونه لري په دريوتنو پاد شاهانو پورې اړه لري چه دهغوی نومونه په لاندې ډول دي:

سري سامنته ديو Sri-Samantadeval سري پدامه Sri-Podama اوسري و اکه دو Srivakka-deval څنګه چه مو دبرهمني پادشاهانو په لړ کښې ذکر کړل سري سامنته ديوا ددې کورنۍ دوهم پادشاه دی چه البيروني ورته (سامند) وائي مسکوکات ئې په مسواو سپينو زرو کښې ضرب کړی دي او يو زيات شمير ئې کشف شويدی. او دوه تنه نور ئې عالباً دکابلي راپانو داولادې جزء بلل کيږي چه په پنجاب کښې ئې سلطنت کړيدی (دسامنته ديوا) دسکې په تصوير کښې چه دلته موچاپ کړيدی پادشاه په آس باندې سپور دی او يوه بيرغ لرونکې نيزه په لاس کښې لري او دده دسکې په بل مخ کښې غوائی ليدل کيږي چه هما غـه د(ناندی) غويي دی او ددې کورنۍ شيوائي مذهب تائيدوي. دمستر ونسنت سميت دتحقيقاتو له مخې په مسکوکاتو باندې د(کمره Kamara) او بهيمه ديو Bhimadeval نومونه هم لوستل کيږي، دغه مسکوکات (رای کملو) او (رای بهيم) يا (رای بهميه) ته منسوبوی او لکه چه مو د کابل دبرهمني شاهانو په فهرست کښې شرح ورکړه (کلمو يا کملو) دبرهمني کابلشاهانو دريم پاد شاه او (بهميه) ددې کورنۍ بل (رای) دی او پـه دغه طريقه هغه پادشاهان چه ددې کورنۍ نه داالبيروني له خوا ياد شويدي مسکوکات هم دهغوی په وجود شهادت ورکوی. بايد په دې پوه شو چه دکابلي شيوائي راپانو دمسکوکاتو شکلونه چه په يو مخ کې ئې پادشاه په آس باندې سور او په بل مخ ئې دشيوائي مذهب نښه دناندی غويي ولاړ دی چه زنګونه ئې په مځکه لګولي دي. دمملکت دځينو اسلامي کورنيو په تيره بيادغورشاهانو له خوائي هم تقليد شويدی او د سوار کار او غوائي شکل په تدريج سره دعربي رسم الخط دنوشتو په کښ ليکلو نوکې ورو

ACKU

ورو تغییر کړی تر دی چه په آخر کښی بیخی له مینځه تللی دی.

نظامی قوه او د جنګ د تعبیی اصول: هغه وروستی خبری چه د دی فصل په پای کښی د کابلی رایانو یاد برهمنی کابلشاهانو په باره کښی ئی مونږ کوو د هغوی د نظامی قوی تخمین او تربوی اندازی پوری د عربی چپاوراوو رونکو عسکرو په ضد د هغوی د جنګ د تعبیی د اصولو تعین دی. او هر کله چه د غی قوی او د غی تعبیی دوه پیړی د یو داسی لوی او ستر لښکر سره چه د مذهب په راسخو روحیاتو مجهز وو مقابله کړیده نو لازم دی چه په دغه باب کی څو کرښی کښه هم د تخمین په اساس ولیکو: په دی کښی هیڅ شك نشته چه د مهاجمینو سره جنګ او مقابله او د خاوری او مملکت نه دفاع ټول د افغانستان د اوسید ونکو یوه لویه ممیزه وه او د دا او دغه ممیزه هغه وخت ښه ښرګنده شویده چه د مملکت د خارجی مهاجمینو د لویو قوتونو سره مقابل شوی دی، د پخوانی افغانستان په تاریخ کښی د یر مثالونه شته چه د هغی جملی نه دوه ئی د لویدیزی آسیا او د مدیترانی د سواحلو نه نشته کړی دی او د آسیا په غربی خاوره کښی د فتوحاتو نه وروسته زمونږ مملکت ته راورسیدلی دی دغه مسئله د دقت او توجه وړ ده چه یونانیانو د هخامنشی دا مپراطوری ارکان د ګرانیك او ګوګامل په دوو جنګونو کښی و پاشل خو کامله څلور کاله د آریانا په غرونو کښی پاتی شول، عیناً په همدغه ترتیب سره عربو د نهاوند او قادسیی په جنګونو کښی د ساسانیانو سلطنت تیت وپرك کړ او زمونږ د مملکت سرحداتو ته نژدی ورسیدل مګر پس له دوو پیړیو څخه بیا هم د افغانستان خاوره تر له فتح نه شوه تر دی چه په خپله د مملکت اسلامی کورنی میدان ته راووتلی او پخوانی کورنی او د هغوی پخوانی مذهبونه ئی ورو ورو له مینځه ایسته کړل.

دګرانیك او ګوګامل، نهاوند او قادسیی جنګونه ښیئی چه د هخامنشیانو او ساسانیانو قوه څرنګه وه او د افغانستان د هغه وخت د مقاومت قوتونو په مقابل کښی ئی څه مفهوم درلود باید و ویل شی چه د آریانا په لویدیزو سرحدا تو کښی د عربو د قواؤ د پیدا کېدو په وخت کښی د افغانستان مملکت د ساسانیانو تو کیو ثیانو (ترکانو) د تجاوز په اثر او په آخر کښی په تخارستان کښی د ترکانو د موقتی

ACKU

سلطنی د خپر ید و په اثر او د چین د تا ثیرکیا نو د مداخلی په وجه یو د ول
دملوک الطوائفی شکل درلود چه دکاپیسا سلطنت او قایم مقام ئی یعنی دکابلی رایانو
سلطنت یو اخی دمملکت حسابیږی دولت شمیرل کیږد چه خپل نفوذ ئې دهندوکشن
په ټو لهجنوبی منطقه کښې دسیستان دهامون نه دسند ترغاړی پوری محفوظ ساتلی ؤ
او اصلاً ولی مدا فعه په یوه منظم پلان ، نقشه او سوقیاتو سره یو اخې دمملکت دهماغی
نیمی جنوبی برخی نه کیدله او دهندوکش په شمالی برخه کی زیاتره دقوم رئیسا نو
زعیمانو ، شرانو ، سرکردگا نو هر یو یخپل حساب او دوطن دوستی دا حسا ساتو په
اثر مقا بلې او جنگونه کول . نو په دی صورت سره هرکله چه دهندوکش جنوب تول
دریانو یا کابلشاهانو او یا په عربی مآخذکی دپادشو رتبیل شاهانو په لاس کښی ؤ
او دجنگ قوه دکاپیسی او کابل نه دهامون تر سواحلو پوری دپادشاه او واحد قوماندان
له خوا اداره کیده نو دغه قوه او دغه دتعبیی اصول دتخمین له مخی بیانیدلای شی
کابلی رایان جنگی او جنگ آزموده زماهداران و او دشاهی مقام نه علاوه عموماً
دسپه سالاری عهده هم ددوی په غاړه وه لکه چه دمخه مود (سامنته دیوا) په باره کښی
و لیدل چه دهغه نوم په لغوی صورت سره په جنگی ، جگړه مار ـ په رشید سوارکار
او سپه سالار سره هم ترجمه شوی دی او ددغه (رای) او دنورو مسکوکات له دغو
صفتو نو نه په ښه توگه نما یندگی کوی ځکه چه (رای) در شیدسوار کار په صورت په
داسی حال کی چه خود ، زره او (چارآ ینه) ئی اغوستی ده او یو نیزه ئی هم په لاس
کی نیولی ده په مسکوکاتو باندی نقش شوی دی ، او په همدغه ډول سره نورو (رایانو )
هم ځانو نه په وسلو او سمبال او پخپلو اسونو باندی ځانو نه ښو دلی دی . دوه سوه کلنی جنگی
پینی لکه چه عربی ماخذ بیان کړی دی خرگندوی چه رایان به د (سپهبد) او (سپه سالار) په
حرثه په جنگو نو کښی شامیدل او په مخامخ دجنگ په لیری جبهو او میدانو کښی دخپلو

لښکر و قيادت او مشرتوب کاوه (لکه چه درهاوون) په غاړه او د هلمند په دلنا په زرنج — بست . رخدا و دلاري په سر په نورو برخو کښي د کابل تر ديوالو پوري د هغوی نوم و نه ياد شوی دی او په دغو ټولو ميدانو کښي د عربو د جنرالانو او قوماندانانو سره محاربې شوي دي او په زياترو وختو کښي به ايرانو د خپلو ورونو ـ زوهانو ـ خپلوانو او منسوبينو سره په جنګونو کښي ګډون کاوه ـ د ايرانو سره د عربو د جنګونو د ګذارشاتو له مخي د کابلي بز همنشاهانو نظامي سياست او جنګي تکتيک تر يوی اندازی پوري ښه څرګند يږي . سره د دی چه عربي قواوی مهاجمي وي ايرانيان به د هغوی په انتظار د مملکت په مرکز کښي نه کښيناستل بلکه آخرني سرحدي نقطي ته به ورتلل او هلته به ئي د ياد جګړي انتظار کاوه ـ په دی کښي شک نشته چه دوی به د مملکت د جغرافيائي وضعيت او طبيعي مشکلاتو نه د پر کار اخست ، هر کله چه د هندوکش د جنوب په يوه برخه کښي د سيستان له هامون څخه تر رخد پوري آوار دی او ور وسته تر هغه تر زابل پوري نيم اوار او نيم غرني او پس له هغه تر کابل پوري کوهستانونه او تنګي ګانۍ زياتيږي ـ ايرانو به د خپل مملکت د لويديزو برخو په آوارو محاذو کښي دفاع او مقابله کوله که چيري کامياب نه شوه او که نه نو بيرته به په شا راتلل او د غزني او کابل تر منځ په غرنيو محاذو کښي به ئي خونړي چپاو و نه کول لکه چه په ۷۹ هجری (۷۰۱ م) کال هغه وخت چه عبيدالله د حجاج په ټينګ امر جنګ ته روان شو دغه قضيه پيښه شوه او د عربو لښکر د کابل د لويديز په ۱۸ فرسخي تنګيو کښي په داسي مضيقه کښي ايسار شول چه د بيرته په شا تګ د لاري د حاصلولو په مقابل کښي داو ولګول و پيوورکولو ته حاضر شول .

دغي ماتي خليفه عبدالملک مروان او حجاج د خراسان امير دي ته مجبور کړ چه د بصري او کوفي له ښو ځوانانو څخه شل شل زره تنه د خپل بهتر اردواو عسکرو د تشکيل د پاره و ټاکي چه د دير ښکيلوب په وجه به جيش الطواويس يعني (د طاؤسانو عسکر) بال کيدل. د سيستان د تاريخ د خاوند د ليکني له مخي د يولك او شلو زرو تنو نه څلويښت زره تنه جنګي افراد انتخاب کړل چه په دير ښه وسله او آلاتو او په تازي اسونو سمبال وو د عمر بن عطاء عطارد بن عمير التميمي تر مشری د او د عبدالرحمن بن محمد الاشعث الکندي

ACKU

دسیستان والي په مشرۍ د کابلشاه د قواوو په ضد ولیږل .

رایانو د دغه ښکلي لښکر سره په سختو مقابلو پیل وکړ، که څه هم د مملکت ځینې لویدیزې برخې د عربو لاس ته ورغلې مگر زیات او وړاندې ئې خپلو فتوحاتو ته دوام ورنکړی شو او دریدل او نور اقدامات ئې راتلونکي کال ته تال کړل، او که څېړې په دغه باره کښې د ابن اثیر لیکنې تصدیق شي هغه ماتې چه دمخه مو یاده کړه په دغه جنگ کښې د عربو په نصیب شوې ده .

هرکله چه د عربو او کابلشاهانو د جنگونو بیان په دریم ټوک کښې په خپل مربوط فصل کښې په مفصل ډول راغلی، دلته د دغو دوو مثالونو له ذکرکولو نه مقصد یوازې د رایانو د ستر و قواوو ښودل دي، او د هغو له مخې معلومېږي چه برهمني کابلشاهانو دومره طاقت او قوت درلود چه د عربو د لویو قواوو د پرله پسې حملو سره مقابله وکړي او د هغوی مخه و نیسي او ماتې ورکړي .

د خاوېښتو زرو سپرو د مقابلې د پاره څه ناڅه خلویښت زره سپاره په کار و او چه د جبهې په خطونو کښې سره مخامخ شي مگر خامخا په شا ته محاذونو کښې نورې قواوې پرتې وې .
په هر حال لکه چه تاریخ څرگندوي د عربو قواوې که هر څومره مجهزې او محتشمې وې تر هغه وخته پورې چه په خپله د مملکت د اولادې ښه په منځ ته رانه غله او ملک الدنیا یعقوب لیث صفاري د مسلمانو زامنو د لګی سره په جگړه کښې شامل نشو کابلشاهان پوره او کامل مضمحل نشول، او حتی لکه چه وموليدل د صفاري پادشاهانو په کامیابیو کښې هم نظامي حیلو د قواوو په نسبت ډیر لاس درلود .

هغه وخت چه یعقوب لیث د دریو زرو سپرو سره د رایانو سره د جگړې په نیت له بست نه راو وانیده بستیانو ورپورې خندل او استهزاء ئې کوله چه په دومره لږه قوه څرنگه د کابلشاه جنگ ته ځي .

لکه چه د کابل د فتح کولو او نیولو نه وروسته د دې خندا او مسخرو په وجه په بستیانو باندې ئې ډیره مالیه کیښوده — دغه خبره ښکاره کوي چه کابلي رایانو ډیره قوه درلوده .
دغه راز په لوګر کښې د عمر لیث صفاري او کملو رای د جنگونو له پیښو نه معلومېږي چه

د زابلستان کوټوال (فردغان) د خپلو څلور و زرو عسکرو سره ځان په خطر کښې و لید او د سکاوند فتح زیاتره له دې جهته وه چه میسره شوی وه چه مقابل طرف ئې د نورو دیرو قواؤ په رانګ تهدید اوه :

سره د دې چه د جیپال په زمانه کښې د لغمان او ملتان تر منځ د رایانو د قلمرو د څخه پیله یو بې ځایه نه نو ږ نه و پاتې خو سره د دې رای یو ځل یو لک سپاره او پلی لو بل وار ۱۲ زره سپاره او دیرش زره پلی او دری سوه پیلان د سبکتګین او زابلي محمود په مقابل کښې حاضر کړل، او د دغه ابن قام (شمیر) له مخې د برهمني کابلشاهانو د نظامي قواؤ په باره کښې په وضاحت سره نظر په قائمیدلی شی :

په هر حال د عربو د قواؤ سره د رایانو د دوه سوه کلنو جنګونو او د کابل د شاهانو د مقابلې داوه، ګونو مراتبو څخه معلومیږی چه د عربو ستر او محتشم لښکرو دوه و پیړیو د تیریدلو نه وروسته هم زمونږ د مملکت غرنی ځایونه پوره مونه نیولی شول او کابلشاهان د سیستان له هامون څخه نیولی تر سند پوری په هر ځای کښې سخت و جنګیدل، کله به عربی قواوې غالبه شوې او کله به د کابلشاه قواوې بریالۍ کیدلې، کله به دوی باج ورکړ او کله به هغوی خپل ژوند په سرو زرو واخست، څو واری مفاهمې وشوې، څو واری عهد ؤ تړون وشو- هوښیار خوشحاله دیو لاس نه بل ته ورغی، او تر هغې زمانې پوری د جنګونو سرنوشت یو طرفه فیصله نه شو چه پخپله د مملکت قوی اولاد د اسلام حقه قوانین او فرمائشات چه د دوی د دیانت غوښتونکو او آزادو روحیاتو سره پوره موافقت درلود . و نه منل او د مجاهدو عسکرو په حیث ئې د کلمته الله د اعتلا د پاره د مجاهدت میدان ته راو نه وتل - او چه دغه مقدس دین او فرمائشات ئې چه ومنل بیا نو له دوی سره مقابلې ته ګټه نه درلوده او د اسلام د مقدس دین ځلاندوی انګو د دغه مملکت د خلکو زړونه او د هندوکش لویږی لوړی څوکې روښانه کړې دي :

(پای)

PROPERTY OF ACKU
00032563



## دمحترمو همکارانو نومونه

هغه محترم ليکوال چه دافغانستان دپخوانی تاريخ دد غه دوهم ټوك په ښتو کولو کښی ئی برخه اخستی ده دغه دی :

۱- ښاغلی محمديونس (مراد) دکتاب داول نه تر (اومړی ارساس ) پوری.

۲- ښاغلی پاينده محمد ( زهير ) مرحوم د لومړی ( ارماس) نه د (پا کورس- يا- پا کورا) دعنوان تر آخره پوری.

۳- ښاغلی قيام الدين (خادم) داتم فصل څخه د (کنيشکا د امپراطوری دپراختيا) دعنوان ترآخره پوری .

۴- ښاغلی (جلالی ) دکنيشکا امپراطوری(په هندکښی ) له عنوان څخه (په هندکښی دکنيشکا دملکی نيو لو دخاطراتو دوام ) دعنوان ترآخره پوری .

۵- ښاغلی محمد ابراهيم (ثابت ) د( جامعه او تهذيب ) له عنوان څخه دکوشانيانو (دلباس) دعنوان ترآخره پوری .

۶ - ښاغلی نعمت الله (معروف ) دنهم فصل څخه د(۶او۷ پيړی داو د هيکل تراشی او روستی نمونی ) دعنوان ترآخره پوری

۷ - ښاغلی (رښتين) د(افغانستان په بيلو بيلو ځايو کښی دگريکوبوديك د مدرسی تطبيق) له عنوان څخه ترلسم فصل پوری

۸ - ښاغلی محمد يونس ( مراد ) د (لو يو کوشانيانو دانحطاط شروع کيدل) له عنوان څخه د ( کاپيسی او اوند(و يهند)ترعنوانه پوری

۹ - ښاغلی (ثابت) د(هندوکش دجنوبی خوا نوره محلی اميران ) له عنوان څخه د(کاپيسی نه کابل ته دپای تخت نقل کول ) دعنوان ترآخره پوری

۱۰ ـ ښاغلی عبدالباقی ( باغو انيوال) د(ترکی شاهی او برهمن شاهی) له عنوان څخه دکتاب ترآخره پوری .



ACKU